


جنرال لیاخوفسکي

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې
د جوړېدو د دویمې کلیزې په ویاړ

# د افغان میړانه او غمیزه

ژباړن
محب الرحمٰن



ددې کتاب لیکوال تورن جنرال الکساندر اناتولیویچ لیاخوفسکي اوږده کلونه د شوروي اتحاد دوسله والو پوځونو په ستردرستیز کې دنده سرته رسوله. نوموړی دشوروي پوځونو په وروستي پړاوکې ، په افغانستان کې دشوروي اتحاد ددفاع وزارت داوپراتیفي ډلې دمشر ستر جنرال و. ای. وارینیکوف، چې په حقیقت کې دافغانستان جمهوریت د وسله وال پوځ دسرقوماندان نجیب الله سلاکارو، دسریاور په توګه چارې پرمخ بیولې.

دغې دندې له لیکوال سره مرسته وکړه چې دافغانستان دپېښو له ان تیاره ګوټونو اودپردې ترشا له پټولوبو اورازونونه خبر او پرهغو رڼا واچوي.

ACKU

# دافغان میرانه اوغمیزه

PROPERTY OF ACKU

لیکوال
الکساندر لیاخوفسکي

ژباړن
محب الرحمن

PROPERTY OF ARIC Established 1989

۱۳۷۸ل

فروشگاه کتاب الازهر
مؤسسه نشر و پخش کتب فارسی
دهکی نعلبندی بازار قصه خوانی
پشاور پاکستان- تلفن :2564414
E-mail: alazhar@psh.paknet.com.pk

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00008830 1

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

*کتاب پېژندنه :*

| | | |
|---|---|---|
| دکتاب نوم | : | دافغان مېرانه اوغمېزه |
| ليکوال | : | الکساندر لياخوفسکي |
| ژباړن | : | محب الرحمن |
| خپرندوی | : | دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه-جرمني |
| دخپرونو لړ | : | (۱۲) |
| کمپوز | : | بابړي کمپوزنګ سنټر- محمدنادرهاشمي |
| دچاپ شمېر | : | ۱۰۰۰ ټوکه |
| دچاپ نېټه | : | ۱۳۷۸ ل / ۲۰۰۰ م کال |

دچاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي

بيه

په افغانستان کې : ( ) افغانۍ
په پاکستان کې : (۷۰) روپۍ
په نورو هېوادو کې : ( ) ډالره اويادهغوانډول .

# نیولیک

سرلیک | مخ


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| لومړنی خبري | ۱ |
| دژباړونکي سریزه | ۳ |
| *لومړی پارکی: | |
| دغویي (ثور) کودتا یا دافغانستان دغمیزې پیلامه | ٦ |
| دپاچاظاهرخان رانسکورول | ۱۵ |
| دا.خ.د. گ.کې داختلافاتو ژورتیا | ۵۳ |
| * دویم پارکی: | |
| افغانستان ته دپوځونو دلیږلو په باب ستونزمنه پرېکړه | ٦۳ |
| دا.خ.د. گ.دعمومي منشي ن.م. تره کي وژنه | ۱۱۷ |
| ل . برژنف دوگړنی، واکمنی، دژغورلو پرېکړه کړي | ۱٤۱ |
| ځانگړې ډلې د ح.امین راپرځولو ته تیاری نیسي | ۱۸۹ |
| *درېیم پارکی : | |
| هغه جگړه چې تصور یې هم نه شوکېدای | ۲۰۳ |
| دتاج بېگ پرمانۍ یرغل | ۲۱۳ |
| ب. کارمل د ا.د.ج. واکمنی، ته رسېږي | ۲۲۹ |
| لومړی جگړه اولومړي زیانونه | ۲٦۹ |
| *څلورم پارکی: | |
| دافغاني مخالفینو سازمانونه ، مشران او انډیوالان | ۲۹۵ |
| دیاغیانو وسله وال کېدل. . . . | ۳۳۳ |
| *پنځم پارکی: | |
| له لوړو ژورو ډکه لار | ۳٤۸ |

اندروپوف ته څه کول په کار وو؟ ۳٦۰
گرباچوف پر نجیب الله او دولتي امنیت.... ۳۷٦
*شپږم پارکی:
ملي روغه جوړه که د ا.خ.د.گ. چل ول ۳۸٦
د «نویو گوندونو» او «څواکونو» جوړېدل ۳۹۵
*اووم پارکی:
شوروي پوځونه بېرته خپل هېواد ته کډه باروي ٤۰۱
د افغانستان په خاوره کې انقلاب ضدځواکونه ٤۰۸
د افغانستان د حالاتو په باب... ٤۲۵
*اتم پارکی:
له افغانستان سره مخه ښه! ٤۳۱
د «پنجشېر له زمري(!)» سره جگړه ٤۵۲
له احمدشاه سره د خبرنې ور پوښتنې ٤۷۱
*نهم پارکی:
شورویان ووتل، خو مجاهدین په جگړې نه مړېږي ٤۷٦
د شهنواز تني بغاوت ٤۷۸
د «پنجشېرزمري(!)» پر کابل ور دانگي ٤۹۸
*لسم پارکی: ۵۰۱
*د پایلیزې پر ځای
اسلامپنسټ پالنه منځنۍ اسیا ته «راځپېږي» ۵۰۳
* نښلونې:
لومړۍ نښلونه ۵۱۲
اوومه نښلونه ۵۱۳
دولسمه نښلونه ۵۱۷



ACKU

# لومړنۍ خبرې

د افغانستان دشل کلنې غميزې دبېلابېلو اړخونو دراسپړلو لپاره ، تراوسه پورې د افغاني ليکوالو او دنړۍ دځينو څېړونکيو او د پېښو دبرخه والو له خوا يو شمېر آثار کښل شوي دي ، په دغه لړ کې دهغو روسي ليکوالو خاطرات اوارزونې هم دپاملرنې وړ دي چې زموږ پرګران هېواد - افغانستان يې ديرغل په دوران کې ، يرغليزې دندې ترسره کړې دي . دغه آثار ، سره له دې چې ښايي د « روسي » موخو په پام کې ساتلو سره کښل شوي وي ، خو زموږ لپاره يې لوستل او خپلو هېوادوالو ته يې د هېواد په ملي ژبه وړاندې کول يو ګټور کار دی .

تر اوسه پورې دجنرال ګروموف « سرې لښکرې - په افغانستان کې » او دجنرال مايوروف « په افغانستان کې رښتيا څه تېرېدل؟ » په نومونو ، دوه مهم کتابونه په پښتو ژباړل شوي چې وروستی دايې دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې له خوا څه موده مخکې چاپ شو . دغه دواړه آثار نوميالي ژورناليست ، ليکوال او ژباړن ښاغلي ډاکتر داود جنبش له روسي ژبې څخه پښتو کړي دي . ياد شوي آثار دافغانستان دشلکلن تاريخ دځينو څنډو په روښانولو کې خپل ځای لري . دادی دخوشحالۍ خبره ده چې ددغې لړۍ د دريم کتاب دچاپ او خپراوي وياړ هم زموږ دټولنې په برخه کېږي.

« دافغان ميړانه او غميزه » دجنرال الکساندر لياخوفسکی دهغه کتاب نوم

دی چې د ټولنې دهڅاند غړي او ګران دوست ښاغلي محب الرحمن له خوا له روسي څخه په پښتو ژباړل شوی دی . په دغه اثر کې ، پر افغانستان د روسانو د سره پوځ د یرغل ډېر پټ اسناد او خاطرات راغلي او خوندي شوي دي . په زړه پورې خبره داده چې په دغه کتاب کې د یرغل د پیلامې هغه ټول پټ اسناد هم رابرسېره شوي دي چې د جنرال ګروموف لاس هم یا نه دی ور رسېدلی او یا خو هغه په خپل کتاب « سرې لښکرې – په افغانستان کې » د هغو له راوړلو ډډه کړې ده .

په دې توګه نو د دغو آثارو او د یو لړ نورو داسې مهمو آثارو او خاطراتو د خپراوي په بهیر کې ، د یرغل پر بنسټیزو موخو ، بنسټیزو ګامونو او دافغانستان د غمیزې پر ژورو او پټو اړخونو رڼا اچول کېدای شي.

د ګران محب الرحمن دې کور ودان وي چې د داسې مهم اثر پر ژباړه یې خپلې ډېرې شپې رڼې کړې دي او په دې ډول یې د هېواد د شل کلن تاریخ ډېر پټ څېرکي او ناڅرګند رازونه د لومړي ځل لپاره راڅرګند کړي دي .

« دافغانستان د کلتوري ودې ټولنه » له دوو هېواد پالو افغان ډاکترانو هریو ښاغلي ډاکتر حبیب ضمیري او ښاغلي ډاکتر اکرم ملکزي څخه مننه کوي. ښاغلي ډاکتر ضمیري د کتاب د چاپ لپاره څلور سوه مارکه او ښاغلي ډاکتر ملکزي پنځه سوه مارکه مرسته کړې ده . پاتې لګښت یې د ټولنې د غړیو له ونډې برابر شوی دی .

د کتاب د چاپ په برخه کې د ښاغلي پوهنیار محمد اسمعیل یون له هلو ځلو هم ډېره ډېره مننه کوو .

په درناوي

دافغانستان د کلتوري ودې ټولنه

جرمني – د کولن ښار

۱۹۹۹ ع د ډسمبر شلمه

۱۳۷۸ل د لیندۍ ۲۹



ACKU

# دژبارن سریزه

گرانو لوستونکو!

پام موو ي چې « د افغان له مړاني او غمیزې »نه دافغانستان دنیواک د پېر ( دوران) دلوړ پوړي شوروي جنرال ښاغلي لیاخوفسکي مو خه ( هدف ) زموږ جګړه ځپلی او مړنی افغان نه ،بلکې هغه شوروي سرتېری او افسر دی چې د شوروي پوځي تولګیو به اډانه کې یې په افغانستان کې جګړه ماره دنده سرته رسولې ده.

دغه ویی ( کلیمه ) یانې « افغان » چې په حقیقت کې یې مانا افغانستان دی، دژب - کلتور پوهنیزې ښکارندې ( پدیدې ) په توګه د هماغو اتیایمو کلونو په ترخ کې د « دښمن » ، « شوروي » او ځینو نورو ویونو په څېر روسي ژبې ته ورلیږدېدلی او له هماغه وخت نه را په دېخوا دشوروي اتحاد او روسیې د ډله ییزو رسنیو په خپرونو او نورو لیکنو او کتابونو کې کارول کیږي.

که څه هم د کتاب دنوم سمه او کره ژباړه « دافغانستان مړانه او غمیزه » ده ، ځکه « افغان» دافغانستان دنوم لنډه شوې بڼه ده چې دشوروي د پېر پوځیانو، شاعرانو او ژورنالیستانو په همدې مانا کارولې او کاروي یې ،خو څرنګه چې ښاغلي داود جنبش څو کاله تر مخه له لندن نه په خپرېدونکې



ACKU

« ډيوه » مجله کې دهمدې کتاب دځينو برخو د پېژندنې ( معرفي ) په باب په يوې مقالې کې ( ۱۹۹۵ ع د دسمبر گڼه ) دکتاب نوم « دافغان مېړانه او غميزه » ژباړلی و ، نوما يې هم همدا بڼه غوره وگڼله او دهغه له بدلولو نه مې ډډه وکړه ، له بله پلوه ما په لوی لاس ونه غوښتل دغه نوم واړوم ، ځکه له هغه څخه دليکوال موخه هر څوک او هرڅه چې وه وي دې ، لږ تر لږه په دې توگه خو يې زموږ يو ويی خپلې ژبې ته ورلېږدولی او هغه هم له داسې يوه ځلانده او ژوندي تاريخي انځور لکه مېړانې او غميزې سره .

خو هغه څه چې « زموږ » دافغان په مېړانې او غميزې پورې اړه لري ، نو مېړانې يې نه يوازې خپل خلک او هېواد له شوروي نيواکه ( اشغاله ) وژغوره ، بلکې دنړۍ دلږ ترلږه نورو لسگونو هېوادونو او وگړو په بڼه هم راغله او دهغوی له خپلواکه کېدو سره يې کارنده مرسته وکړه . خو غميزه .... غميزه او وينلو به يې هغه ده تر ننه هم ښه په زور کې ده او دلنډون او پای يې له بده مرغه څه روڼ څرک او پته نه لگېږي .

هو ، زموږ افغان ټينگاو ( مقاومت ) او مېړانې له يوې لسيزې نه په لږ وخت کې وکولای شول هېواد د « سره ښکېلاک » له ناتاره وژغوري ، خو دادی له لسيزی نه زيات مهال تېرېږي چې دوينو ويالې موشاړې او ورځ يې وچ نه شو ، بلکې دهېواد پر لمن او پړوني مو د « تورو سپين ښکېلاک » سيوري منگولې ښخې کړې او دغه بهير بوږنونکې بڼه غوره کړې ده .

زه نه غواړم « دافغان مېړانې او غميزې » په باب په اوږدو ( تفصيل ) سره خبرې وکړم ، دا کار پخپله درنو لوستونکو او ځانگيزو څېړونکو ته ورپرېږدم . غواړم ددغه کتاب دمنځپانگې ( محتوا ) په اړه دومره ووايم چې هغه دوړاندې شويو لاسوندونو ( اسنادو ) او واقعيتونو له پلوه خورا بډايه او شتمنه ده او دليکوال لېږو ډېر پلويز ( طرف لرونکی ) دريځ او ځينی تېروتنې او نيمگړتياوې يې په هيڅ ډول تولېز ( عمومي ) ارزښت نه راکموي .

هو ، ستاسو په مخکې پرته ژباړه به هم ښايي يو شمېر کمزورۍ او

ACKU

نیمگړ تیاوې ولري چې له لوستونکو او کره کتونکو یې د ښېښنې ترڅنګ د سمون او ټیکاو په برخه کې دارزښتمنو سلامشورو هیله لرم ، باید ووایم چې ما تروسه وسه هڅه کړې چې دکتاب داهمیت او په هغه کې دوړاندې شویو لاسوندونو دارزښت له په پام کې نیولو سره د ژباړې امانت زیانمن نه کړم او دغه راز « پر عربي - دري پښتو » دګڼ شمېر ویونو ( کلیمو ) له ژباړې نه ډډه وکړم .

دغه راز باید یادونه وکړم چې ما کتاب کټ مټ او په بشپړه توګه نه دی ژباړلی ، بلکې د ژباړې په بهیر کې مې داړونده پاڼکي او لاسوند داهمیت له په پام کې نیولو سره دغورچاڼ له بنې نه کار اخیستی دی . دساري په توګه کله چې دیوې غونډلی ( جملې ) یا پاراګراف ژباړه راته اړینه نه بریښېده ، نو د {...} له نښې نه مې ګټه اخیستې او چېرته چې دزیاتونې اړتیا وه ، بیا مې نو د { } نښه کارولې . دغه راز مې په ژباړه کې د « ل . » او « ژ . » لنډیزونه په وار سره دلیکوال او ژباړونکي لپاره کارولي دي.

په پای کې غواړم له ګرانو دوستانو داود جنبش نه چې د.ا. لیاخوفسکي کتاب یې د ژباړې لپاره زما په واک کې راکړ او ګران زرین انځور نه دهغه د « ... او ربښتیا ، ژباړه دې څنګه کړه ؟ » له ټینګار نه دزړه له کومې مننه وکړم . دغه راز ټولو هغو دوستانو او مینه والو ته هم کور ودانی وایم چې ددې کتاب دچاپ اوخپرولو په برخه کې یې په یو ډول نه یو ډول مرسته کړې ده.

په درنښت

محب

د ۱۳۷۸ کال دلیندی ۷ مه ( ۲۸/۱۱/۱۹۹۹ )

جرمني - « کلی »

# لومړۍ پړاو گۍ

## دغويي (ثور) کودتا يا د افغانستان

## دغميزې پيلامه

### د ۱۳۵۷ ل کال دغويي زړه بوږنوونکې مياشت

کله چې د ۱۹۷۸ کال داپريل پر ۲۷ مه ( د ۱۳۵۷ ل کال دغويي پر ۷مه) په افغانستان کې دافسرانو ديوې ډلې تر مشرۍ لاندې يوه پوځي کودتا وشوه، خو تر هغې وروسته ټولې نړۍ ته جار وغږول شو چې دايو انقلاب دی او هغه هم سوسيالستي انقلاب، له دې سره جوخت په افغانستان کې هغه دثور انقلاب، خو په شوروي اتحاد کې د اپريل انقلاب په نوم ونومول شو.

په دې کې شک نه شته چې کله چې دغه « انقلاب» دشوروي مشرتابه د

خوښی وړ نه‌وای گرځېدلی او امریکایانو له هماغه پیل نه دهغه په وړاندې منفي غبرگون نه‌وای څرگند کړی او هغه یې په‌سیمه کې دشوروي اتحاد د دریځ د پیاوړي کېدو په‌توگه نه‌وای ارزولی ، نو ښایي په‌نړۍ کې به‌ډېرو لږو خلکو له دغې کودتا سره مینه‌ښودلې وای .

دامریکا دبهرنیو چارو د وزیر هغه‌مهالني سلاکار هارلډ ساوندرس په‌دې اړه په‌خپل یوه پټ یادښت کې داسې هیښونه‌کوله : « موږ ته په‌کار ده‌چې د {افغانستان ،ژ .} په‌نوي مشرتابه کې دملت پالنې ( ناسیونالیزم) او کمونیزم گډو له له‌پامه‌ونه‌غورځوو او دغه‌راز دشوروي اتحاد تنگې غېږې ته د رژیم د ورډیکه کېدو چې هغه هېواد یې‌سخت لېوال دی مخه‌ونیسو . له‌بله‌پلوه په‌افغانستان کې مخالف توکي ( عناصر) به‌هم په‌موږ پسې دړگۍ گرځوي چې داخبره ځانته‌معلومه کړي‌چې آیا موږ له‌دغه‌رژیم سره‌یوازې په‌پټه خوله خوښاوی ( تفاهم) کوو او که‌کمونیستي‌واک‌منو ... پاکستان ، ایران ، سعودي‌عربستان او په‌سیمه کې‌زموږ نور اندېوالان دغه‌پېښه په‌ډاگه یوه شوروي کودتا بولي ... »

ACKU

# خلق او پرچم

که‌څه‌هم چې د افغانستان دملي گډې ( متحدې) جبهې نوښتگره ډله دلیکوال ن . م . تره کي ، دولتي کار کوونکوب . کارمل او ش . م دوست ،افسر م . ا . خیبر . م . ط . بدخشي اونورو په‌گډون آن په ۱۹۶۳ ( ۱۳٤۱ لېږدیز لمریز ( ل . ل . ) کې جوړه شوې‌وه ،خو دافغانستان خلق دیموکراتیک گوند (ا . خ . د . گ . ) دشوروي اتحاد د کمونیست گوند په‌څرگنده مرسته د ۱۹٦۵ کال دجنورۍ پر لومړۍ نېټه ( ۱۳٤۳ د مرغومي ۱۱ مه ) دبنسټ اېښودونکې کنگرې په‌ترڅ کې چې دلیکوال نور محمد تره کي په‌کور کې په پټه توگه جوړه شوې‌وه منځته راغی ، په‌همدې وخت کې دگوند تشکیلاتي جوړښت ،موخې

او دندې وړاندې او د ا . خ . د . ګ . مرکزي کمېټه هم وټاکل شوه .

## معلومات

د ا . خ .د ګ . په لومړي پلینوم کې چې دکنګرې ټولو استازو په کې ګډون درلود نور محمد تره کی (۱) دګوند د عمومي منشي او ببرک کارمل دمرکزي کمیټې دمنشي په توګه وټاکل شول .

دغه راز د ا . خ . د . ګ . مرکـــزي کمـــیټه هم داوو اصلي غړو ( ن . م . تره کی ، ب . کـارمل ،س . م . کشتـمند ( سلطانعلی ،ژ . ) ،ص . م . زیري ،غ . د . پنجشیري ،م . ط . بدخشي . ش . شاهپور ( شهپر ،ژ . ) اوڅلورو نوماندو ( علي البدلو) غړو ( شاه ولي ، ک . میـثـاق ،م . ځدراڼ او ع . و . صافي ) په غړیتوب جوړه شوه .

( افغاني سرچینه ، لەدري نەژباړه ، ۱۹۶۵ (۱۳۴۳ ل.ل. ) کال ) .

---

(۱) نورمحمد تره کی پر ۱۹۱۷ ( ۱۲۹۶ ل .ل . ) کال دغزني ولایت په یوې مالدارې کورنی کې زېږېدلی او په ختېه دغلزیو دقبیلې تره کی پښتون دی. هغه آن دخپلې ځوانی له کلونو نه را په دېخوا لەانقلابي هاندو هڅې (مبارزې) او دکارګر پاړکي لەایډیولوژی سره مینه درلوده .

د ۱۹۵۳ - ۱۹۶۵ ( ۱۳۳۲-۱۳۴۴ ل . ل . ) کلونو په ترڅ کې یې پر ټولنیزې - سیاسي کارنده بوختیا برسېره « دبنګ مسافري » ، « سپین » او «څېره » په نوم یو لړ ادبي اثار ولیکل او دغه راز یې د «ویښ زلمیانو » دسیاسي ډلی په جوړولو کې چې دافغاني ټولنې دولسواکه (دیموکراتیزه) کولو لپاره یې هاندو هڅه کوله هم ونډه درلوده . د ا . خ . د . ګ . تر جوړېدو وروسته ګوند خورا اوږده کلونه دتره کی تر مشرۍ لاندې دافغـاني ټولنې دبېلابېلو پوړونو (قشـرونو) تر منځ او داردو په لیکو کې په کـارنده کـارو زیار بوخت و . هغـه یو پوست او ایډیالیست مزاجه سړی و ».

دبنسټ ایښودونکې کنګرې له پرېکړې سره سم د ا . خ . د . ګ کړنلاره د ۱۹۶۶ کال په اپریل کې دګوند دمرکزي خپرني اورګان « خلق » په لومړیو دووګڼو کې خپره شوه چې په هغې کې « د ا . خ . د . ګ . تر مشرۍ لاندې دفیوډالي ضد ، امپریالیستي ضد او ملي خلقي دیموکراتیک انقلاب د بري لپاره په هاندو هڅه کې دټولو پرمختیا غوښتونکو ، هیواد پالو او ملي ځواکونو یو موټی کېدل ، په هېواد کې دسیاسي واک تر لاسه کول ، دزیار ایستونکو د دولت جوړول ، دهېواد د وروسته پاتې والي له منځه وړل او دهغه د پر مختیا او ودې لپاره دټولنیزو بدلونونو پلي کول اټکل شوي وو ».

ددغې کړنلارې وروستی موخه « دافغاني ټولنې له ملي شرایطو سره سم د مارکسیزم - لینیزم دټولو انقلابي قانونولیو د نوښتګرې پلې کونې پر بنسټ دسوسیالستي ټولنې جوړول » ټاکل شوي وو . پر همدې ۱۹۶۵ (۱۳۴۳) کال وه چې په افغانستان کې یو شمېر نور سیاسي سازمانونه هم ( لکه ماویستي « شعله جاوید » ، ډېر سخت لوړتیا غوښتونکی « افغان ملت » او د اسلامي ډلو } په ګډون یو لړ نور ) جوړ او له زمکې لاندې حالت نه را بهر شول.

په دې ترڅ کې د ا . خ . د . ګ . بنسټیزه هم د ۱۹۶۷ کال په پسرلي کې په پټه توګه خپره شوه چې په هغې کې دتشکیلاتي جوړښت بنسټونه ، دګوند دکارندتیا ( فعالیت ) آرونه ( اصول ) او دګوند دغړو حقونه او مکلفیتونه ټاکل شوي وو او دغه راز د ا . خ . د . ګ . یکې « دزیار ایستونکو پاړکو (طبقو) دمخکښ او دکارګر پاړکې د سیاسي جوړښت د لوړې بڼې په توګه اعلان شوی و . »

ګوند چې د پاچا او داود دواکمنۍ د نیم ښکاره او پټو شرایطو په کلونو کې یې هاندو هڅه ( مبارزه ) کوله په خورا خوځنده سیاسي کارندتیا بوخت و . دهغه تر مشرۍ لاندې به په پر له پسې توګه کار بندۍ ( اعتصابونه ) ، غونډې ، دمخالفت لاریونونه (مارشونه) او دزیار کښانو ډاګوالۍ ( مظاهرې ) جوړېدې او د ورته منځپانګې ( محتوا ) درلودونکي کتابونه به چاپ او خپرېدل . برسېره

پر دې ګوند د پارلماني هاندو هڅو له لارو چارو نه هم ګټه اخیستله . په همدې لړ کې وه چې ګوند د ۱۹٦٥ کال په مني کې په پارلماني ټاکنو کې ونډه واخیسته او خپل څلورتنه استازي ، ب . کارمل . ن . ا . نور ، ا . راتب زاد او فیضان الحق یې ولسي جرګې ته وټاکل .

آخوا په همدې وخت کې له مسکو سره دا اندېښنه پیدا شوه چې د ګوندي جوړښت او دهغه دودې بهیر ولې دومره ورو او یخ پر مخ روان دی . ددې کار لامل دا وموندل شو چې د ګوندي غړو تیوریکه کچه ټیټه او د ا . خ . د . ګ . په مشرانو کې دلوري ورکولو تجربه کمزورې ده . البته ددولتي چارواکو او همدا شان د ډېرو کینو او سخت دریځو اسلامي ډلو لکه « مسلمانو ورونو » ( اخوان المسلمینو ) او نورو مخالفت هم هغه مهال دګوند پر کارندتیا ناوړه اغېزه ښندله. پردې برسېره پخپله د ا . خ . د . ګ . هم کیڼ راډیکالیزم ته ټاکلې هڅه اوکړون درلود . له همدې کبله دشوروي اتحاد سیاسي مشرتابه د ګوند مشرانو ته سلا مشوره ورکوله چې له بېړې نه باید ډډه وکړي ، دکمونستي لیدونو ، الواکونو ( نظریو ) او شعارونو په وړاندې کولو کې دې بېړه نه کوي او له پرګنو سره د کار په بهیر کې دې هم تر ډېره ځایه دګوند پر تولیزی ( عمومي ) دیموکراتیکې ځانګړتیا باندې ټینګار کوي . خو نه هم پخپله ن . م . تره کي او نه هم د هغه ملګرو دې کار ته اړونده پاملرنه کوله . ( د یادونې وړ ده چې د ا . خ . د . ګ . عمومي منشي د ۱۹٦٥ کال په پای کې په نارسمي توګه په مسکو کې و او هلته یې دشوروي اتحاد دکمونست ګوند دمرکزي کمیټې له چارواکیو ر . ا . اولیانوفسکي او ن . ن . سیموننکو سره وکتل . نوموړو هغه ته لارښوونه وکړه چې دګوند دنه چمتووالي او دغړو دشمېر دلږوالي له کبله دې دحکومت درانسکورولو چاره دیوې مهمې دندې په توګه دهغه په وړاندې نه ایښودل کېږي . )

خو د ا . خ . د . ګ . له جوړېدو نه لا دو مره وخت نه وتېر چې د ن . م . تره کي او ب . کارمل تر منځ دشخصي سیالۍ له کبله دهغه په مشرتابه کې دمشرۍ

په سر جګړه او هاندوهڅه پیل شوه. کارمل چې دغه مهال پارلمان ته دوکیل په توګه ټاکل شوی و له دې امله خوابدی و چې هغه ته ولې په ګوند کې یوازې دویم لمبر رول ورکول کېږي. برسېره پر دې { دهغوی } ترمنځ دیولړ نورو تاکتیکي مسالو پر سر هم اختلافونه پراته وو. دساري په توګه ب. کارمل او د ا. خ. د. ګ. په مرکزي کمېټې کې دهغه ملګرو دهاندوهڅې دښکاره بنو پر چټکتیا ټینګار کاوه اود روښانتیایي کارندتیا پلویان وو. هغوی هڅه کوله چې دخلکو سوکالي اوهوساینه باید له کلتوري ارزښتونو سره دهغوی د روږدې کېدنې، د زده کړې، دکچی دلوړیدو اوداسې نورو لارو چارو نه تر لاسه شي. ددې ترڅنګه هغوی دانقلابي منځپانګې درلودونکو شپه پاڼو ( شبنامو ) او نورو اثارو دخپرولو مخالف و او { دهاندوهڅی، ژ. } تر تولو اغېزمنه لار یې په غونډو او ډاګوالو کې دګوندي مشرانو ویناګانې ګڼلې خو ن. م. تره کي بیا پټو هاندوهڅو ته د بشپړې ورتېرېدنې، د کمونیست ګوند داعلانولو اوداړتیا په وخت کې په جلا وطنۍ کې دګوند دمرکزي کمېټې دجوړولو پلوي کوله. هغه پر دې باور وچې دپاچاهي واکمنۍ په شرایطو کې دیوه مخالف سازمان دمشرانو ویناوې بې له ځنډه د هغوی دزنداني کېدو سبب ګرځي.

په ګوند کې دنوو غړو دمنلو په اړه ب. کارمل ورانديز کاوه چې په دې برخه کې دې دغوښتونکو ( کاندیدانو ) پاړکیزه (طبقاتي) تړلتیا په پام کې نه نیول کېږي، بلکې دهغوی لیدونو او دکارلهوالتیا ته دې پاملرنه کېږي. د ب. کارمل د داشان دریځ لامل څرګند و او هغه داشرافیت له استازو او آن دپاچاهي کورنۍ له ځینو غړو سره دهغه په اړیکو او ړدې توب کې نغښتی و. برسېره پردې نوموړي پخپل وخت کې دسردار محمد داؤد په مشرۍ د « پښتونستان اتحاد » دسازمان کلک پلوی و او له همدې امله یې دلومړي وزیر د دفتر مدیر {شاه} محمد دوست او د دولت نور لوړ رتبه کارکوونکي هم د ا. خ. د. ګ کې دغړیتوب لپاره وروپېژندل. خو ن. م. تره کی له دې کار سره مخالف و او څرګندوله یې چې د ا. خ. د. ګ ته دشتمنو پاړکو او پاچاهي کورنۍ داستازو

په ورننوتو سره په گوند کې دغړیتوب پاړکيز آر ( طبقاتي اصل ) له منځه ځي او په پای کې هغه خپل باور له لاسه ورکوي . البته پردې برسېره { دهغوی ترمنځ } ځینې نور اختلافونه هم وو چې دهغو ټولو پایله دگوند په مشرتابه کې بېلوالی ( انشعاب ) شو . دغه اختلافونه هغه وخت خپلې لوړې څوکې ته ورسېدل چې ن. م تره کی وړاندیز وکړ چې کارمل د پاچا له زوم سردار عبدالولي سره د اړیکو له امله باید له گوند نه وایستل شي . ددې کار غبرگون دا شو چې ب . کارمل دې له خپلو نورو ملگرو سره د ۱۹٦٦ کال په مني کې له مرکزي کمېټې نه ووځي او د « پرچم » په نوم دې ځانته بله ټپله ( فرکسیون ) جوړه کړي چې په رسمي توگه یې د « ا . خ . د . گ . دټولو زیارایستونکو مخکښ » نوم غوره کړ . د ن.م . تره کی پلویان د « ا . خ . د . گ . دټولو کارگرانو مخکښ » په نوم ونومول شول چې په افغاني ټولنه کې د « خلق » { او خلقیانو } په نوم یادېدل.

که څه هم چې دغو ډلو په خبرو کې دا . خ . د . گ . دلومړۍ کنگرې له خوا اعلان شوې موخې ، دندې ، کړنلاره او بنسټیزه منل ، خو په حقیقت کې دا دخپلو بېلو لاربښوونکو اورگانونو ، خپرونو او غړیتوب دشرایطو درلودونکي دوه جلا گوندونه وو. دیادونې وړ ده چې دمرکزي کمېټې نور دری غړي - د. پنجشیري ، ش ، شهپر او س . کشتمند او دغه راز دا . خ . د . گ . دمرکزي کمېټې نوماند غړي ع . ح . شرعي ، س . لایق ، ب . شفیعي ، و . صافي او ن . ا . -نور ( پنجوایي ) هم دهماغه کال په مني کې له ب .کارمل سره یوځای له گوند نه ووتل .

په لومړي سر کې داسې بربښېده چې ددغه بېلتون بنسټ بنایي په تیوریکي اختلافونو کې نغښتی وي . ځکه چې پرچم د « گډې جبهې » یانې واک ته تر رسېدو پورې له نورو ځواکونو سره له لنډ مهالو اتحادونو او جوړ جاړي ( کومیرامایز ) نه د ډډې نه کولو پلوی و . هغه پردې اند مخکې تر دې چې ټولنه بدلونونو ته پخه او چمتو شي ، خلکو ته باید پوهه او ربښتیا ور ولېږدول شي . خو خلقیانو بیا پخپل وار دا ډول همکاري ردوله او دچا خبره نه

پخلاکېدونکي سوسيالستي انقلاب ته يې پښې اړم کړې وې ( چې دا کار له خوب وخيال پرته بل څه نه و ) .

خو لکه چې څرنګه وښوده د دغو اختلافونو رېښې ريښتيا په تيوري کې نه ، بلکې په دوديزو « کلتوري سرچينو » کې ښخې وې؛ داسې چې دا ټول ګرد سره قامي ، توکميز ( اتنيکي ) ، ټولنيز ، پاړکيز او ملي اختلافونه وو . دغه راز داد « کابليانو » او کليوالو ( اطرافيانو ) ترمنځ تېنګه دوه اړخيزه بې باوري ، يو پر بل شکونه ، دېبلابېلو لاربښوونکو او مشرانو پلو او دهمدغو مشرانو ترمنځ د واک پرسر جګړه وه .

خو شوروي اتحاد هغه وخت پر دې ليدو چې خلقيان د خپل ټولنيز جوړښت له مخې تر ډېره ځايه د ټولنې دبېوزلو ، نيمه کارګرو او زيارايستونکو پوړونو ( قشرونو ) يانې روڼاندو ، ټيټ رتبه کارکوونکو ، کوچيانو ، هټيوالو ، کسبګرو ، بزګرو ، پوځيانو او نورو کورنيو له منځ نه را ولاړ شوي او په تېره بيا دکليوالو سيمو اوسېدونکي او ډېر شمېر يې پښتانه دي . که څه هم چې دپرچميانو په پرتله يې د بسياتوب کچه ټيټه وه خو ډېر خوځنده او کارنده وو ، له خلکو او دټولنې له ديموکراتيکو پوړونو سره يې نږدې اړيکي درلودل . دهغوی په منځ کې د دولتي لاستون ( دستګاه ) او ښوونيزو ( تعليمي ) موسسو دټيټې کچې او دغه راز د دولتي سکتور دانجينري - تخنيکي ادارو دکارکوونکو او دټيټ پوړيزو ( په تېره دهوايي او هوايي ساتنې ( مدافعې ) دپوځ او ټانک ټولګيو ) د افسرانو شمېر دليدلو وړ و . خو له دې ټولو سره سره نه پر له پسې والي ( عدم پيګيري ) ، سخت دريځتوب ( اکتېريميزم ) او کيڼ اړخ ته کږون ددغې ډلې بېلوونکې ځانګړنې وې . هغوی تل ځانونه ريښتيني انقلابيان او پرچميان يې دپانګوالی دګټو ساتونکي ګڼل .

خو پرچميانو بيا تر ډېره ځايه د ښتمنو کورنيو استازي او ګڼ شمېر يې روښانفکران اولوستوال وو ، له همدې امله وه چې د اردو ديوه جنرال زوی ببرک کارمل دهغوی مشر شو . که څه هم چې ددغې ډلې زيات شمېر غړي په ختيځ

پښتانه وو ،خو دنورو قامونو استازو هم په کې غړيتوب درلود . دوی ترډېره ځايه ښاريان او په تېره دکابل او هغه ته دڅېرمه سيمو اوسېدونکي وو . لکه چې هغه وخت په افغانستان کې دود و د ټولنې دشتمنو پوړونو استازو به په لويديز ( د امريکا په متحدو ايالتونو ، دالمان په فدرالي جمهوريت او نورو دولتونو ) کې زده ،ېږې ترسره کولې { چې يو شمېر پرچميان هم په دې ډله کې راتلل ،ژ . } . دغه راز د هغوی ډېر شمېر د پلازمېنې په امتياز لرونکو لېسو او کابل پوهنتون کې هم پر زده کړو بوخت وو . برسېره پر دې ددغه اړخ ( جناح) يو شمېر استازي هغه مهال په شوروي اتحاد کې هم پر زده کړو لگيا وو او دمسکو په ځينو انستيتونو کې يې آن يو لړ گوندي کړی هم درلودې .

هو ، پرچميانو له سياسي پلوه ترډېره ځايه منځلاري وو او که څه هم چې ځانونه يې انقلابيان او له تيوريکي پلوه تکړه او وتلي کسان بلل ، خو په حقيقت کې { له خلقيانو سره يې } دا ډول ښېلونه او توپير بيخي تړانده (شرطي) او پرتليز ( نسبي ) و .

ديادونې وړ ده چې د ا . خ . د . گ . د سازماني ښلوالي له امله چې له لسو کالونه يې زيات دوام وکړ دافغانستان ټول انقلابي غورځنگ ته ډېر زيان ورسېده . د ا . خ . د . گ . دواړو ډلو دخپل جوړښت له هماغه پيل نه په پرگنو کې يو له بل نه جلا کارنده سياسي کار پرمخ بيوه . خو له پرچميانو سره په توپير چې د ديموکراتيکو روښانفکرانو او هېواد پالونکو افسرانو په منځ کې په کار لگيا وو ، خلقيان هغه مهال په پرگنو او ډېر والي پسې ستومانه وو او د وگړو تر ټولو نيستمن او بې سرواخه کسان ( لومين پرولتاريا ) به يې په خپلې خوا پورې نيول . خو له دې ټولو سره سره دشوروي اتحاد دکمونيست گوند دمرکزي کمېټې گڼ شمېر غړو د ن . م . تره کي ملاتړ کاوه . له همدې امله وه چې دا وياړمو کلونو په پيل کې د « زنده گی نوين » په نوم د هغه يو اثر هم په شوروي اتحاد کې چاپ او افغانستان ته ولېږل شو .

# دپاچا ظاهر خان (۱) رانسکورول

که څه هم پر چمیانو دغه مهال په هېواد کې دواک د ترلاسه کولو لپاره پر هڅه او هاند بوخت وو ، خو د محمد داؤد له پلویانو سره یې هم یو تړون لاسلیک کړی و . په همدې ترڅ کې وه چې جنرال محمد داؤد د ۱۹۷۳ کال د جولای پر ۱۷ ( ۱۳۵۲ کال د چنګاښ پر ۲۶ مه ) له کمونیستو افسرانو ( ع . قادر ، ا . وطنجار ، او س . ګلابزوی ) نه په بریالی ګټې اخیستنې او د پرچم دوتلو غړو په مرسته دوینې له تویولو پرته کودتا وکړه ، پاچا ظاهر خان یې له واکه ګوښه ، پاچاهي رژیم یې ړنګ او ځان یې {دهېواد} ولس مشر ( جمهور رئیس ) اعلان کړ .

د ا . خ .د. ګ . دواړو ډلو دکودتا پر سبا دخپلو مرکزي کمېټو اعلامیې خپرې کړې او په هغو کې د پاچاهي رژیم درانسکورېدو دهرکلي ترڅنګه دګوند له غړو نه غوښتل شوي وو چې دجمهوري نظام ملاتړ وکړي.

په همدې وخت کې دجمهوریت مرکزي کمېټه دنوي رژیم دسیاسي اورګان په توګه اعلان شوه چې ۱۱ تنو په کې غړیتوب درلود . له دغو کسانو نه ۹ تنه مسلکي پوځیان وو .

---

(۱) محمد ظاهر خان دافغانستان وروستنی پاچا و . نوموړی ترهغې وروسته چې د «افغان ځوانانو » سازمان اړوند سخت دریځو یې پلار ( نادر خان) وواژه د ۱۹۳۳ کال په نومبر کې د ۱۹ کلنی ( ؟ژ. ) په منګ ( عمر ) پر تخت کېناست.

خو دافغاني دود له مخې ظاهر خان هغه مهال دواکمنی لپاره لا ډېر ځوان و. له همدې امله په راوروسته شلو کلونو کې دهېواد واګې عملاً دهغه دترونو په لاس کې وې . خوتر هغه وروسته نوموړي وکولای شول چې ځان دیوه پوه او ریښتین لید ( واقعبین ) سیاستوال په توګه راڅرګند کړي .

واک ته دسردار محمد داود تر رسېدو وروسته ظاهر خان دافغانستان پرېښودلو ته اړ شو او دادی خو را اوږده کلونه کېږي چې په اروپا { ایټالیا} کې ژوند کوي.

دمرکزي کمېټې پاتې څلور تنه د ا. خ. د. گ. غړي وو (چې ۳ تنه يې پرچميان او يوتن يې خلقي (؟) و. دمحمد داود کودتا له هماغه پيل نه د ډېرو افغانانو لپاره دمنلو او هرکلي وړ وگرځېده او هغه يې په پاچاهي کورنۍ کې دواک پرسر هانداو هڅه (مبارزه) وگڼله. له همدې امله هيڅا هم دنوي رژيم پر خلاف پر کومو غوڅو هلوځلو لاس پورې نه کړ. ولس مشرم. داود پر څوکۍ تر کېناستو وروسته سملاسي د ا. خ. د. گ. مشرانو ته ډاډ ورکړ چې دهغه نوی حکومت به ټولنيز سمونونه (ريفورمونه) او دهېواد دنوي کولو کړنلاره پلې کوي او له شوروي اتحاد سره به ډېر نږدې اړيکي پالي. خو څرنگه چې م. داود ته د پرچميانو له خوا وړاندې شوې لارې چارې او ليدونه پردي ښکارېدل. نو هغو ته يې چندان غوږ هم نه ايښودهاو دهېواد له ملي گټو سره يې سم گامونه اوچتول. سربېره پردې، هغه په ډېرې بېړې غوښتل چې له دې شان همکارو نه ډېر ژر ځان وژغوري. له همدې امله هغه د ډېرو هوښيارو تدبيرونو پر بنسټ د پرچم د ډلې خپل پخواني انډيوالان له سياسي پلوه بې ارزښته څوکيو ته راکوز او تر ۱۹۷٦ کال خويې دخپلو نږدې سلاکارانو چاپېريال د پرچميانو له شته والي نه (هغه کسان چې ده ته څرگند وو) گرد سره پاک کړ. په دې توگه نو هغه افسران چې له ده سره يې په کودتا کې مرسته کړې وه پروچ ډاگ پاتې شول. خو د م. داود دا ډول چلند په وروسته کې پخپله دهغه لپاره ډېر گران پرېوت.

دبهرني سياست په ډگر کې نوموړي دلويديځ او ختيځ تر منځ له شتو اختلافونو نه په گټې اخيستنې سره تلل شوې او د برابر واټن تگلاره پر مخ بيوله، او سره له دې چې دډله ييز امنيت په اړه يې دشوروي له پلانه ملاتړ څرگند کړ، خو له دې سره جوخت يې د افغان - شوروي د دوديزو اړيکو راتنگولو (محدودولو) او له امريکا، ايران، پاکستان، هند، مصر، سعودي عربستان او نورو سره داړيکو پراختيا ته مخه کړه. د سي آی اې يوه لوړ پوړي کارکوونکي دهغه په باب څه ښه ويلي: «کله به چې داود خپل

امریکایي سګرټ په شوروي اورلګید لګاوه نو له دې کار نه به یې ډېر خوند اخیسته ».

داقتصادي سیاست په ډګر کې م. داود د یو لړ سترو پروژو د جوړولو (لکه داوسپنې پټلیو د جوړولو ، د یورانیمو له زېرمو نه دګټې اخیستلو او داسې نورو) لپاره زیاتو پیسو ته اړتیا درلوده ، خو هېواد یې دغه لګښتونه نه شو پوره کولی. هماغه وچې ځینو هېوادونو هغه ته دمرستې لاس ورکړ، خو دخپلو مرستو او پیسو په بدل کې یې له م. داود نه دکینو ځواکونو د ځپلو غوښتنه وکړه. له همدې امله وه چې نوموړي له سعودي عربستان نه تر راستنېدو وروسته د دیموکراتیک غورځنګ په ځپلو پسې را واخیسته. له دې سره جوخت دګوند په مهمو کسانو پسې ښار پیل او پر یو شمېر خپرونو بندیز ولګول شو. سربېره پر دې پخپله د ا. خ. د. ګ. په لیکو کې هم ځینو لمسوونکو توکو (عناصرو) خپلې هڅې او هلې ځلې پیل کړې.

په همدې وخت کې خلقیانو د نورغړو د راخپلولو (جذبولو) په موخه خپل کوښښونه لا پسې چټک کړل او هماغه مهال یې هم له خپلو سیالو ډلو نه درې ځلې زیات غړي درلودل. داردو دننه دهغوی بریالیتوبونو چې دچارو واګې یې د ح. امین په لاس کې وې ځانګړې ارزښت درلود.

له بله پلوه له واک نه لرې کړای شوېو پرچمیانو هم د ۱۹۷۵ کال په اګست کې له خلقیانو سره د بیا یوکېدو په لاره کې کلک ګامونه پورته کړل. ددې کار پایله داشوه چې دا. خ. د. ګ. د دواړو ډلو استازي دې یو دبل پر خلاف له دښمنۍ نه ډکې څرګندې کار ندتیا (فعالیت) دمخنیوي او دهمکارۍ لپاره دوړ شرطونو د منځته راوړلو په برخه کې یوه خوښاوي (موافقې) ته ورسېږي.

## په افغانستان کې داسلامي سازمانونو جوړېدل

په ساده خو پراخه توګه داسې ګومان کېږي چې دافغانستان یاغي او سرغړونکی غورځنګ ګنې د ۱۹۷۸ په اپریل (۱۳۵۷ کال په غویي) کې د م.

داود له رانسکوربدو وروسته منځته راغی . خو په‌رښتیا دغه غورځنگ له دې‌نه‌لا ډېرپخوا آن‌د پنځوسمو کلونو په‌منځ‌کې یانې دا . خ . د . گ . له جوړېدو سره‌نږدې په‌یوه وخت کې منځته راغلی دی . دا هغه وخت و چې اسلامي بنسټ پالونکو د‌کینې‌دیموکراتیک غورځنگ دپیاوړي کېدو په وړاندې د یوه غبرگون په‌توگه دخپلو سازمانونو په‌جوړولو لاس‌پورې کړ او دهغو له‌لارې یې داسلام دلومړنیو بنسټونو دبیا راژوندي کولو ، « له‌نوو فرقو او اغېزو نه‌دهغه دپاکولو » اوپه هېواد کې د دیني دولت دټینگولو لپاره هلې ځلې پیل کړې . په‌دې‌ترڅ کې د شپېتمو کلونو په منځ کې دکابل پوهنتون دشرعیاتو پوهنځی داسلامي پتې کارندیتا پر یوه مهم مرکز واوښت .

همدغه مهال وچې دنوموړي‌پوهنځي د پاسوال ( ریس) غ . م . نیازي ترمشرۍ لاندې یوه‌اسلامي ډله جوړه شوه‌او یو شمېر محصلینو او استادانو یې غړیتوب تر لاسه کړ ، له‌دې سره‌جوخت دپوهنتون دانجینري په‌پوهنځي کې هم یوه ورته‌ډله منځته راغله چې گلبدین حکمتیار ، سیف‌الدین نصرت یار او حبیب‌الرحمن یې تر ټولو پېژندل شوي مشران وو . دهمدغو کسانو په نوښت وه چې په‌کابل پوهنتون کې د ټولو اسلامي ډلو د هلوځلو دیو کولو هڅه پیل او په‌پای کې پر ۱۹٤۹ کال په‌کابل کې دشرعیاتو پوهنځي دیوه اغیزمن ( متنفذ ) پروفیسر اودمسلمانو ورونو سازمان دیوه مشر برهان‌الدین رباني په‌کور کې دیوې پټې غونډې په ترڅ کې د « ځوانو مسلمانانو » په‌نوم لومړنی افغاني بنسټ‌پال اسلامي سازمان منځته راغی . ددغه سازمان په سرکې یوه‌لوړه ( عالي) شورا وه چې په‌هغې کې د ډلې بنسټ ایښودونکو غ . م . نیازي ، ب . رباني ، م . توانا ، ع . ر . سیاف او گ . حکمتیار غړیتوب درلود . {ددغې ډلې} دپوځي څانگې کار گ . حکمتیار او س. نصرت یار پر مخ بیوه . « ځوانو مسلمانانو » د « مسلمانو ورونو » داسلامي رادیکال سازمان دیوه گوزاریز ځواک په‌توگه دخپل پیدایښت له هماغه پیل نه‌دیوې سخت دریځي ( افراطي) ډلې په‌څېره کې‌ځان راڅرگند کړ . ددغې‌ډلې غړو د

ديموکراتانو په منځ کې د درز اچولو او يو دبل په وړاندې د نه زغم اوکرکې دراپارولو لپاره له هيڅ ډول هلوځلو نه ډډه نه کوله . خو واک ته د جنرال محمدداود (۱) (« سورسردار ») تر رسېدو وروسته دځوانو مسلمانانو په سازمان کې يو لړ اختلافونه را منځته او له هغه سره سم د ډلې دځوانو مشرانو کړی (له هغې ډلې نه گ . حکمتيار) د م. داود درانسکورولو او د ديني دولت دجوړولو لپاره دبې ځنډه وسله وال پاڅون غوښتنه رامنځته کړه .

---

(۱) محمد داود پر ۱۹۰۹ کال په کابل کې زېږېدلی او دپاچا ظاهر خان دتره زوی دی. نوموړی په فرانسه کې دمنځنيو زده کړو له ترلاسه کولو وروسته دافغانستان په اردو کې پر چوپړ ، بوخت شو . پر ۱۹۳۲ کال فرقه مشر او پر ۱۹۳۸ دمرکزي ځواکونو (قوای مرکز) قوماندان شو. هغه دبريد جنرالی رتبه درلوده . م داود پر ۱۹٤٦ کال د شاه محمود په کابينه کې دملي دفاع د وزير په توگه وټاکل شو . خو شاه محمود پر ۱۹٤۸ کال د پاچا له خوښې سره سم د لومړي وزير ځوکی ته د ډېر ځواکمن نوماند په توگه داود له خپلې کابينې نه وايست او په دې بريالی شو چې نوموړی په فرانسه کې دسفير په توگه وټاکي . خو داود هم پر ۱۹۵۰ کال افغانستان ته له راستنيدو وروسته له ځوکی نه دشاه محمود د گوښه کولو لپاره کارنده هاندوهڅې پيل کړې . هماغه وو چې شاه محمود پر ۱۹۵۳ استعفا وکړه او م. داود لومړی وزير شو . دلومړي وزير پر ځوکی دخپل لس نيم کلن کار په ترڅ کې داود دافغانستان دکورني او بهرني سياست په پلي کولو کې پر پاچا غوڅه اغېزه درلوده . نوموړي دکورني سياست په ډگر کې دهېواد د اقتصادي ودې کړنلاره په مخکې نيولې وه . دهغه په وخت کې دشوروي اتحاد ، امريکا او فدرالي المان په مرسته ډېر شمېر صنعتي پروژې جوړې او دبرېښنا د ستيشنونو ، څړوبولو دسيستمونو ، هوايي ډگرونو او لارو دجوړولو کار پيل شو . م . داود څو ځلې شوروي اتحاد ته سفر کړی او دهغه په نوښت دافغاني اردو دسمبالولو لپاره دشوروي وسلو او تخنيک لېږدول پيل او دملي وسله وال پوځ دروزنې او چمتووالي په کار کې مرستې ترسره شوې . دهمدې کار له امله پر داود دپاچا په گډون { له هرې خوانه } زور او فشار زيات او په پای کې نوموړی د ۱۹٦۳ کال په مارچ کې له دندې نه گوښه کېدو ته اړ شو . داخبره ددې سبب شوه چې دپاچا او داود تر منځ دې اړيکې خړې پړې او له تاوتريخوالي نه ډک شي. داود د خپلو شخصي ځانگړتياوو له مخې د لوړې دولتي پوهې درلودونکی ، دوېلاړ (ارادې) ښتن ، غوڅ او واکمن سړی و .

ACKU

هماغه وچې دګلبدین حکمتیار پلویانو د ۱۹۷۵ کال په جون کې دپاکستان دولس مشر ذوالفقار علي بوتو په مرسته په پنجشیر او دهېواد په یو شمېر نورو ولایتونو کې دیاغیتوب هڅې پیل کړې. خو حکومتي ځواکونو وکړای شول چې د افغاني مخالفینو د اسرغړاوی په اسانۍ سره وتکوي. په پای کې «ځوان مسلمانان» ګرد سره غیب وغارت شول. داسې چې څو تنه یې پانسي اویو شمېر یې یا زنداني او یا هم بهر او په تېره پاکستان خاورې ته و تښتېدل. تر هغې وروسته بنسټ پالونکو په پاکستان کې تاکلې ازادۍ تر لاسه او له پاکستاني څارګرو (استخباراتو) سره یې نږدې همکاري پیل کړه. البته پخپله دهغه هېواد څارګر هم د م. داود د رژیم پر خلاف دهاندوهڅې لپاره په افغانستان کې دڅارګرۍ دپراخولو په موخه له دغو بنسټ پالو سره د ټینګې همکارۍ او اړیکو لېوال وو.

په همدې وخت کې دضیاالحق اداري یو بل ګام هم مخ په وړاندې کېښود او پخپله خاوره کې یې یو لړ ادې او دافغاني مخالفینو دروزنې مرکزونه جوړ کړل او په دې توګه بنسټ پالونکي دپاکستاني څارګرو پر یوې اسانې وسیلې واوښتل.

## په افغانستان کې د ۱۹۷۸ کال د اپریل د ۲۷ مې (۱۳۵۷ دغویي د ۷ مې) نېټې پېښه څنګه منځته راغله؟

دامریکا دبهرنیو چارو وزیر کسینجر پر ۱۹۷۶ کال افغانستان ته دخپل سفر په ترځ کې د داود له نوښتونو نه خپل ملاتړ څرګند کړ. دغه راز دایران پاچا هم دلسو کلونو لپاره د دوو ملیاردو ډالرو په ارزښت د ارزانه پور دورکړې وړاندیز وکړ او سم له لاسه یې څلور سوه ملیونه ډالر افغان حکومت ته ورکړل. خو له لویدیځ سره د داود له لوبې او په سیمه کې دحالاتو د پرمختګ له

راتلونکي نه دشوروي اتحاد له اندېښنې سره سره هغه هېواد بيا هم دپخوا په شان له افغانستان نه خپل ملاتړ ته دوام ورکاوه. خو دشوروي اتحاد کمونيست گوند له دې سره جوخت د ک. پ. ای. { دهند کمونيست گوند، ژ.} او (پاکستان دملي عوامي گوند له لارې د م. داود د راپرځولو دلومړي گام په توگه د ا. خ. د. گ. د يووالي لپاره هم خپل کوښښونه پيل کړل.

دخلق او پرچم مشرانو د ۱۹۷۷ کال دجون دمياشتې د يووالي له کنفرانس نه وروسته چې په جلال آباد کې جوړ شوی و « د ا. خ. د. گ. دیووالي په باب اعلاميه » لاسليک او تر هغې وروسته يې ډېر ژر دمرکزي کمېټې گډه غونډه جوړه کړه. له هماغه وخت نه را په دېخوا وه چې د ا. خ. د. گ. يووالی په جوليز (شکلی) ډول بيا را ژوندی او نور محمد تره کی دگوند د عمومي منشي په توگه وټاکل شو.

## معلومات

د يو والي په کنفرانس کې د ا. خ. د. گ. دمرکزي کمېټې نوی ترکيب له ۳۰ غړو او دسياسي بيورو دا له ۱۰ غړو نه جوړ شوی و. د ا. خ. د. گ. دمرکزي کمېټې په سياسي بيورو کې ن. م. تره کی، ب. کارمل، غ. د. پنجشيري، ک. ميثاق، شاه ولي، نور احمد نور، بارق شفيعي، سليمان لايق، س. ع. کشتمند، ص. م. زيري (له هر اړخ نه پنځو پنځو تنو) غړيتوب ترلاسه کړ.

{ په کنفرانس کې } د ح. امين دشخصيت په باب چې د دواړو ډلو گڼ شمېر غړو وورباندې باور نه درلود سختې اوستوغې خبرې اترې وشوې. آن تر دې چې دخلقيانو يوې برخې او نړدې ټولو پرچميانو د ا. خ. د. گ. دمرکزي کمېټې په سياسي بيورو کې دهغه له ټاکنې سره کلک مخالفت ثرگند کړ.

پر ۱۹۷۸ (۱۳۵۷) کال دافغاني سرچينې له خوا په دې باب خورا ډېر معلومات وړاندې شوي دي. (له دري نه ژباړه).

دهمدې غونډې په بهير کې ح . امين او س . هاشمي په امريکا کې داستوګنې {زده کړې} پروخت لهسي ای ای سره داړيکو په درلودلو تورن شول . خبره آن دې پولې ته ورسېده چې دنوموړو له خوا لهدغې اداري نه دپيسو دترلاسه کولو په باب يو لړ لاسوندونه ( سندونه ) هم غونډې ته وړاندې شول . خو ح.امين وکولی شول چې لهدغو تورونو نهځان سپين کړي . نوموړي څرګنده کړه چې هغه لهسي آی ای سره هسې لوبه کوله ، ځکه ده بايد په امريکا کې خپله زده کړه پايته رسولې وای او سربېره پر دې هلته يې دژوند لپاره پيسو ته هم اړتيا درلوده . ( ددغې غونډې لنډ رپوټ تر ډېره وخته د شوروي اتحاد دکمونيست ګوند په مرکزي کمېټې کې له ر . ا . اوليانوفسکي سره خونديو ) .

لکه چې د وروستيو کلونو پېښو وښوده ، دګوند يووالی .هيڅکله هم بشپړ نهو . د ساري په توګه د دواړو اړخونو پوځي سازمانونه بېل بېل او تر ډېره ځايه يو لهبل نه پټ وو . دپټ پاتې کېدو لهامله داسې يو سيستم جوړ شوی وچې دګوند غړو يوازې دخپلې « درې کسيزې » يا « پنځه کسيزې » غونډې (حوزې) ملګري پېژندل او بس . دغه راز ګڼ شمېر ګوندي افسران يوازې د ۱۹۷۸ ( ۱۳۵۷ ) په اوړي کې دګډو ګوندي سازمانونو د جوړېدو په وخت کې پر دې پوه شول چې هغوی تر دې وخته ديوه ګوند په بېلو بېلو ډلو پورې اړه درلوده .

ديادونې وړ ده چې دپوځيانو تر منځ دکار په بهير کې دافغانستان پرخلق ديموکراتيک ګوند سربېره « دافغانستان دکمونيستانوګډې ( متحدې ) جبهې » ( ا . ک . ګ . ج يا جمکا ) په نوم يوه بل خپلواک پټ سازمان هم مهم رول لوباوه . دغه ډله پر ۱۹۷٤ کال د ډګروال ع . قادر له خوا چې لهواک نه دافغانستان د پاچا په لرې کولو کې يې کار ندهونده درلوده ، په اردو کې جوړه شوه . نوموړي سازمان لهفکري پلوه دا . خ . د . ګ . تهډېره نږدې و ، خو ديوې بلې دولتي کودتا پر کولو يې بيخي زيات ټينګار کاوه . دا . خ . د . ګ . تر يووالي وروسته دا . ک . ګ . ج . مشر تابه هم لهګوند سره ديو ځای کېدو

په موخه دهغه له مشرانو سره يو ل خبري اترې تر سره کړې ، څه موده پس دهغوی دغه غوښتنه ومنل شوه ( خو دګوند له خوا ورانديز شوي شرطونه د ا. ک. ګ. ج. په طبعه چندان برابر نه وو ).

بايد ووايم چې م. داود د ۱۹۷۳ کال د جولای ( ۱۳۵۲ د چنګاښ ) له کودتا نه وروسته دري حکومتي ضد چلوتی ( دسيسې ) يو پر بل پسې کشف او وځپلې . دغه پېښې تولې دهماغه کال له اګست نه تر دسمبر پورې منځته راغلې . البته دا . خ . د . ګ . هغه مهال په دغو پېښو کې ګډون نه درلود ، او هغه د پا چا پلوه کسانو کار و . له همدې امله وه چې ددغو پېښو په پايله کې تر ډېره ځايه د پاچا يو شمېر پلويان لکه پخوانی لومړی وزير ، دکشف پاسوال ، دري جنرالان او يو شمېر وکيلان او پوځيان په سزا ورسېدل . ددې تر څنګه دا . خ . د . ګ . يووالي اود کينو ځواکونو پياوړتيا هم دافغانستان واکمنو ته دګواښ زنګ وشرنګاوه . له همدې امله وه چې په حکومت او اردو کې دننبي اړخه ډلو استازو هر کال پرم . داود زور اچاوه چې ديموکراتيک ځواکونه او په لومړي سرکې دې دا . خ . د . ګ . وځپي او دافغان شوروي اړيکي دې هم ګرد سره پرې کړي.

په همدې وخت کې وه چې دا . خ . د . ګ . مشرانو هم دداود درانسکورولو لپاره يوې کودتا ته چمتو والی پيل کړ . دګوند د يوشمېر غړو په وينا په پام کې وه چې کودتا د ۱۹۷۸ کال په اګست ( ۱۳۵۷ کال په زمري) کې ترسره شوې وای ( ب . کارمل هم دغه مهال دخلکو دسراسري کاربندی اندوفکر په سرکې چورلاوه ) ، خو خلقيانو داپريل ( وري) په مياشت کې دپرچم دپېژندل شوي ايډيولوګ م . ا . خيبر د وژنې په پايله کې په کابل کې له منځته راغلو ښو شرطونو نه په ګټې اخيستنې سره دغويې په مياشت کې کودتا وکړه .

مير اکبر خيبر پخپل وخت کې د پوليسو اکاډيمی يو آزاد خياله ( ليبرال مزاجه ، ل . ) قوماندان ( ؟ ) و او آن دپاچا په وخت کې دب . کارمل له خوا ګوند ته وربښکل ( جذب ) شوی و ، چې دا کار دخلقيانو دسختې غوسې او بوږنېدنې

وړوگرځېد . دهغه گونگوسي له امله چې د م . خيبر دوژلو امر گنې دکورنيو چارو وزير عبدالقدير نورستاني ورکړې په لسگونو زرو افغانانو دهغه دښخولو مراسم پر يوه حکومتي ضد لاريون واړول چې بيا د پوليسو له خوا خوراور شو.

ديوې بلې اوازې له مخې م . خيبر گواکې د ح . امين په لارښوونه د س .د . ترون او عالميارانو له خوا ووژل شو ، ځکه چې د پرچم له لوري په اردو کې د ا.خ . د . گ . دکار لارښوونه دخيبر له خوا تر سره کېده {او په دې توگه نو دگوند له يو والي نه وروسته } ح . امين په دې برخه کې دهغه مرستيال پاتې کېده ، نو څرنگه چې امين هغه مهال مشرۍ ته درسېدو پر هڅو بوخت و نو له همدې امله يې د خپل دغه سيال چاره هم وکړه . له همدې پېښې نه وروسته دعالميارانو له ډلې نه يوه ( عارف ) سزا وليده او بل د ح . امين په حکومت کې د پلان جوړولو د وزير په توگه وټاکل شو . له پورتنۍ آوازې نه په ډاگه کېږي چې دا گنې ح . امين وچې په خپلو کړنو سره يې دم . داود د له منځه وړلو زمينه برابره کړه . او که څه هم ته دا ننبه رښتيا وي چې امين رښتيا هم له سي آی اې سره همکاري درلوده او دهغې اداري په لارښوونه يې چلند کاوه ، بيا نو دا خبره بيخي جوتېږي چې څوک په رښتيا په افغانستان کې د پوځي کودتا تر سره کوونکی و او له هغې وروسته چا په منځني ختيځ کې په يوې سيمه ييزې شخړې کې دشوروي اتحاد د ښکېلولو په اړه ستراتيژيک عمليات تر سره کړل . خو داسې ښکاري چې دا ټول هسې يو گونگوسی اويوازې يو گومان دی اوبس .

خو پخپله په افغانستان کې د ١٩٧٨ داپريل ( ١٣٥٧ کال غويي ) دکودتا مخامخ گډون کوونکي بيا دکابل دهغه وخت د پېښو بهير په بېلو بېلو ډولونو بيانوي. ددغو ټکلونو له غور چاڼولو وروسته سړی کولی شي چې دهغه مهال د پېښو انځور په دې ډول وړاندې کړي:

لومړی دا چې دخيبر دښخېدلو له مراسمو لږ وروسته حکومت د ديموکراتيکو ځواکونو په ټکولو او سزا ورکولو پيل وکړ.

دغه راز دشوروي ښارگرۍ دځينو رپوټونو له مخې دامريکا سفير د –

-ایلیوټ چې موده پس یې په افغانستان کې د چوپړ وخت پایته رسېده داپریل پر ۲۴ مه ( دغويي پر ٤ مه ) په کابل کې د مرکزي پوځ ډلې په درستیزوالۍ کې له م. داود سره یوه پټه لیدنه کتنه وکړه . ډ . ایلیوټ دکتنې په ترڅ دکینو ځواکونو پر خلاف د یو لړ غوڅو گامونو د پورته کولو په اړه د م . داود د قانع کولو تر څنگه ټینگار کاوه چې له اساسي قانون نه د سر غړونې په تور دې د ن.م تره کي ، ب. کارمل ، ح. امین ، غ. د. پنجـــشیري ، ع. و. ساپي اود ا . خ.د. گ . د یوشمېر نورو مشرانو د نیولو په باب لاربښوونه وکړي. هماغه و چې د م . داود له لاربښوونې سره سم دغه کسان د اپریل د ۲٦ مې ( غـويي د شپږمې) پر شپه ونیول شول . یوازې امین وکړای شول چې په لومړۍ ډله کې له نیول کېدو نه ځان بچ کړي . که څه هم چې پولیس داپریل د ۲۵ مې پر ۲٦ مې (دغويي ( ٥ مې پر ٦ مې ) شپې دحفیظ الله امین کورته ورغلل اوآن دهغه کور یې هم ولټاوه ، خو امین یې د یو لړ نامعلومو دلیلونو له مخې ونه نیوه او هغه یې یوازې په کور کې نظربند کړ او کورېې تر څارنې لاندې ونیو.

په همدې ترڅ کې ح . امین آن وکړای شول چې خپل زوی عبدالرحمن د حالاتو د روښانولو لپاره د ن . م . تره کي کورته ور ولېږي ، خو تره کی دهغه له ورتگ نه لا پخوا نیول شوی و . دا کار د دې سبب شو چې ح . امین پر خپلو ملگرو د پوځي گام د اوچتولو غږ وکړي . په همدې موخه نومړي د ف . م . فقیر ( هغه وخت د کابل ښاروالۍ کارکونکی و ) او س . م . گلابزوی ( هغـه مهال دافغانستان دهوایي او هوایي ساتنې پوځ ورو کي ضابط و ) له لارې په اردو کې خپلو خلقي ملگرو ته د راتلونکو گامونو په باب نخچه او پلان هم ور ولېږه . (پخپله ح . امین ایله ( ۱۳۵۷ کال دغويي د ٦ مې نېټې پر ماښام له خپله کوره زندان ته ولېږدول شو ) . داپریل پر ۲٦ مه ( دغويي پر ٦ مـه ) دهیواد دگوټ گوټ په پوځي ټولگیو کې د کمونیستانو دهځو دټکولو په ویاړ د خوښۍ اوخوشحالۍ جشنونه جوړ شوي وو . په دې ترڅ کې دافغانستان د دفاع دوزیر م.ح . رسولي ( غ.ح . رسولي ، ژ. ) په امر د پوځیانو لپاره پرتمین ماښامي او

کنسرتونه هم جوړ شوی وو.

خو خلقیانو له دې کار نه په ګټې اخیستنې سره خپل وار را تر مخه او کودتا ته یې چمتووالی پیل کړ. هماغه وچې داپریل پر ۲۷ مه (د غویي پر ۷ مه) دسهار پر شپږو بجو ژوبڼ ته څېرمه دهوایي اوهوایي ساتنې پوځ د مسوول سیدمحمد ګلابزوی، دڅلورم زغروال پوځ دمسوول اسدالله پیام، دتوغندیو دلوا د مسوول علي شاه پیمان او دکوماندو د ۳۲ غونډ دمسوول محمد دوست په ګډون دپوځي کودتا دسمون (انسجام) ډله غونډه جوړه شوه. په غونډه کې پرېکړه وشوه چې باید ټول دسهار تر اتو بجو د هوایي اوهوایي ساتنې پوځ اوپلوځواکونو د کارونو دسمون لپاره په خپلو خپلو ټولګیو کې بشپړ چمتووالی ولري.

همدلته وچې «سید محمد» دورځې دنوم او «میګ - ۲۱» یې دځواب په توګه غوره شول.

دا مهال د ا. خ. د. ګ. غړو محمد رفیع د لوا د درستیز وال او محمد اسلم وطنجار او شېر جان مزدور یار دکنډک مشرانو په توګه په څلورم زغروال پوځ کې دنده سرته رسوله.

نوموړو دسهار پر اوو بجو پرېکړه وکړه چې ټانکونه باید ژر ته چمتو او هغه دکابل پر خوا وروماړش کړي. م. رفیع په لوا کې پاتې شو چې هملته ځای پر ځای دهغو یوشمېر پوځیانو ټینګاو (مقاومت) وځپي چې د ټاکلو دندو دترسره کولو په لاره کې یې خنډونه پېښول.

دلوا افسران پردې بریالي شول چې خپل ټاکلی پلان پلي کړي. داسې چې په لومړي سر کې هغوی وکړای شول چې ټانکونو ته د مهماتو دترلاسه کولو په پلمې خپل لوا مشر وغولوي او وروسته یې بیا ټانکونه دجمهوري ریاست دماڼۍ «ارګ» په لور وخوځول. جګړن اسلم وطنجار د ددې لپاره چې دخپل کنډک ټانکونو ته زیاته پوځي زېرمه تر لاسه کړي، نو له چل ول او ټګۍ برګۍ نه یې کار واخیست. هغه دسهار پر نهو بجو دلوامشر {دفتر} ته ورغی او

نوموړي يې وواژه ،ځکه چې هغه د م . داود له باوري او ډېرو فادارو ملګرو څخه و . څرنګه چې په پلازمېنه کې حالت ناکراره و نو وطنجار له خپل مشر جنرال نه د هغه د کنډک هر و لسو ټانکونو ته د شپږو ګوليو د ورکولو د اجازې هيله وکړه ، او پلمه يې داوه چې که چېرې اړتيا رامنځته شي نو کنډک به يې ګواکې سم له لاسه دم . داود مرستې ته ور ودانګي .کله چې د مهماتو د ترلاسه کولو اجازه واخيستل شوه نو ا. وطنجار « د مهماتو په استعلام کې د لاسوهنی له لارې » ديوه صفر (.) په زياتولو سره { د شپېتو پر ځای ،ژ.} (٦٠٠) ګولۍ له زېرمتون نه واخيستې چې په همدغو ګوليو بيا د جمهوري رياست ماڼۍ وايشتل شوه .

ټانکونه د سهار ديوولسو بجو په شاوخوا کې د کابل پر خوا وروخوځېدل .له پلان سره سم د ټانکونو عملو ته لاندې دندې سپارل شوې وې : فتح ته ويل شوي و چې بايد د پښتونستان په څلور لارې کې ځای پر ځای شي چې له هغه ځای نه به له يوې خوا په جنګي کلاکې د داود ګارډ ولې او له بلې خوا به بانک او مرکزي پوستون ( پوسته خانه ) کنترولوي . ا. وطنجار بايد د دفاع وزارت ودانۍ تر مخه ډګر ته ځان ورسوي اوش . مزدوريار ته ويل شوي و چې هغه بايد د محمد داود او د هغه د ورور کورونه او دغه راز د فرانسې او ترکيې سفارتونه تر څارنې لاندې ونيسي.

د ټانک ټولي د قوماندان جګتورن محمد عمر په مشرۍ د څلورم زغروال پوځ لومړۍ ډله د اپريل داوه ويشتمې ( د غويي داومې) پر ماسپښين د جمهوري رياست ماڼۍ د لويې دروازې خولې نه وروړسېده . په همدې وخت کې په ماڼۍ کې دم . داود په مشرۍ د کابينې غونډه روانه وه . { داود خان ته ، ژ.} ډېر ژر د ټانکونو د راتګ خبر ورکړ شو . داود د دفاع وزير رسولي او د جمهوري رياست د ساتندويه ټولګي قوماندان جګړن ضيا ته امر وکړ چې حالت روښانه کړي . د ضيا د دې پوښتنې په ځواب کې چې ټانکونه ولې دلته راغلي ، عمر ځواب ورکړ چې هغه لوا مشر د جمهوري رياست ماڼۍ ته د ساتنې

ACKU

لپاره رالیږلي دي. په همدې ترڅ کې عمر ته امروشو چې بېرته لوا ته ستون شي. خود مانۍ له لویې دروازې نه په څنګزني کېدو سره نوموړي ټانکونه څېرمې کوڅې ته ورتاو کړل او هملته تم شو. شپبه لانه وه تېره چې دڅلورم پوغ نور ځواکونه هم دې ځای ته راورسېدل او دجمهوري ریاست مانۍ، نوره ببخې پر ټانکونو کلابنده شوه. افسرانو هریوه م. ا. وطنجار، س. د. ټرون، نظرمحمد، ش. مزدوریار او احمد جان د دغو ځواکونو مشري پر غاړه درلوده. وطنجار د غرمې پردولسو بجو دجمهوري ریاست پر مانۍ دلومړي ډز امر وکړ. ورپسې نورو ټانکونو هم ډزې پیل کړې. فتح له سویل اړخه یانې دپښتونستان له څلورلارې اومزدوریار له لویدیزې خوا پر ګارډ او دم. داود اومحمد نعیم پر کورونو ډزې او برید پیل کړ. م. ا. وطنجار د دفاع وزارت پر مانۍ ډزو ته زور ورکړ. دهوایي او هوایي ساتنې دپوغ پیلوټان لاتر مخه له سنجول شوي پلان سره سم دکابل او بګرام په هوایي ډګرونو کې لاربښوونې ته سترګې په لارو وو. م. داود دکابینې غونډه هماغه شان نیمګړې بس کړه او وزیرانو ته یې مخ ورواړاوه: «هرڅوک چې غواړي خپل ځان وژغوري کولی شي چې له مانۍ نه ووځي».

د ډزو له پیل کېدو سره سم د دفاع وزیر رسولي او دکورنیو چارو وزیر نورستاني دمانۍ دشا دروازې له لارې خپلو وزارتونو ته ځانونه ورسول اوهڅه یې وکړه چې دراپاڅېدلیو (قیام کوونکو) په وړاندې د ټینګاو لاربښوونه وکړي. پاتې وزیرانو دمانۍ دننه په شاهي جومات کې ځانونه پټ کړل. باید وویل شي چې دم. داود مانۍ (د ظاهر خان پخوانی استوګنځی) د یوې کلا (حصار) په بڼه جوړه شوې چې دټانک ضد پر ډبرو اوس مهالو (عصري) وسیلو سمبال وه اوددوه زره پوځیانو له خوا چې ټ - ٥٤ ټانکونه یې هم درلودل ساتل کېده. له همدې امله نو راپاڅېدلیو ته دومره اسانه هم نه وه چې دمانۍ منځ ته ورننوزي. دجمهوري ریاست پر مانۍ دټانکونو د برید خبر ډېر ژر په ښار کې خپور شو او نورو پوځي ټولګیو اوښار ګوټو ته یې هم لمنه ورغځېده، له همدې سره جوخت

دخلقیانو پلویانو هم هرچېر ته دوسلو اوادارې دتر لاسه کولو هڅې پیل کړې.
له همدې امله وه چې داپریل د ۲۷ مې ( دغویي د ۷ مې ) ترماښامه دکوماندو یوه برخه هم له څلورم زغروال پوځ سره یوځای شوه. ددغو هڅو په پای کې د اوومې او اتمې فرقو او دتوپچي داته اتیایم غونډ ځینې ډلې ډلګی (جزوتامونه) چې ددفاع د وزیر رسولي په امر یې ټینګاو کاوه له پښو وغورځول شوې.
خودښار په بېلو بېلو برخو اوغاړو پیڅکو کې خونړیو جګړو زور واخیست. په همدې وخت کې دخواجه رواش په لاره کې چې دهوایي او هوایي ساتنې دپوځ قرارګاه هلته پرته وه، حالاتو ډېره کړکېچنه بڼه غوره کړه. خوهلته دټانکیستانو له رسېدو سره سم هغوی ډېر ژر نوښت په خپل لاس کې ونیوه.
دبرید په بهیر کې دهوایي پوځ ځواکونو هم ډېر ښه رول سرته ورساوه، دساري په توګه دبګرام دهوایي ډګر دنیولو عملیات ګوند ته دوفادارو پیلوټانو په مرسته په بریالۍ توګه ترسره شول او ډېر ژر جګړه ییزې الوتکې هوا ته پورته شوې. په پای کې لومړي بریدمن مصطفی دماښام پر اوه نیمو بجو د ا.خ. د. ګ. مشران په یوې ښاري ودانۍ کې له بند نه را خوشې کړل. په دې وخت کې دراډیو له لارې د « ملي اتڼ » اوځینې نورې ملي نغمې چې په دوديزه توګه د واک دبدلېدو پر وخت خپرېږي، غږېدلې.
وروسته دانقلاب د بري خبر تیا خپره شوه. له دې نه لږه شېبه پس دافغانستان دهوایي پوځ الوتکو پرجمهوري مانۍ چې م. داود له خپلو خپلوانو او هغه ته له وفادارو ساتونکو سره یوځای د راپاڅېدلیو په وړاندې خپل ټینګاو ته هماغلته دوام ورکاوه، ګوزارونه پیل کړل. م. داود ته د ډزو دبندولو او تسلمېدلو په باب پر له پسې وړاندیزونه تول یو پر بل پسې بې ځوابه پاتې شول او دمانۍ ساتونکو هماغه شان ټینګاو ته دوام ورکاوه.
په پای کې ماښام مهال وچې دکوماندو یوې ډلې د م. داود استوګنځي ته ځان ور ورساوه او له هغه نه یې دوسلې داېښودلو غوښتنه وکړه. د ولس مشر دپوښتنې په ځواب کې چې: « انقلاب چا وکړ ؟ » دنوموړې ډلې قوماندان

لومړي بريدمن امام الدين ځواب ورکړ : چې« دا . خ . د . گ . دانقلاب مشري په غاړه لري » . له همدې سره سم داود پر امام الدين د تومانچې ډزو کړ او نوموړی يې ټپي کړ . خو ددوه اړخيزو ډزو په ترڅ کې م . داود او دهغه د کورنۍ ټول غړي ووژل شول.

په پای کې د جمهوري گارډ ټينگاو هم داپريل د ۲۸ مې ( غويي د ۸ مې ) تر سهاره ټانکيستانو ، پيلوټانو او کوماندويانو په مرسته وځپل شو او د هېواد دچارو واگې دافغانستان خلق ديموکراتيک گوندلاس ته ورغلې .

په دې اړه يوه بله آوازه هم شته چې دفلسفي پوهنو ډاکټر او داحتياط تورنجنرال کيم مکيدونو ويچ ځاگولوف يې وړاندې کوونکی دی . دنوموړي په وينا : غوښتل مې يوه بله گڼنه ( فرضيه ) وړاندې کړم چې زياتول يې يوازې د ژورې پلټنې او شننې ( تحليل ) له لارې شونی دی . خبره په دې کې ده چې زه د ۱۹۷۸ کال د اپريل ( ۱۳۵۷ کال دغويي ) په پېښو کې دا . خ . د . گ . دلاربښوونکي رول دليدپلوی نه يم .

دافغانستان دسياسي ژوند دوروستيو لسو ، پنځلسو کلونو پېښو له ډېرو مهمو گډون کوونکو سره شخصي خبرو اترو زه په دې باوري کړی يم چې په دغو پېښو { دغويي په کودتا ، ژ . } کې بنسټيز رول دعبدالقادر په مشرۍ د افغانستان دکمونيستانو گډې جبهې په نوم پټ سياسي سازمان لوبولی دی .

ديادونې وړ ده چې نوموړی پر ۱۹۷۳ ( ۱۳۵۲ ) کال له پاچاهي ضد کودتا نه وروسته دهوايي ځواک د قوماندان له څوکۍ نه گوښه کړای شوی و . ديو لړ شمېرنو له مخې نوموړي سازمان ۶۰۰ غړي او دوه زره مينه وال درلودل . په اردو کې دخلق او پرچم د ډلو داستازو د کار داهميت په نه ردولو سره ، زه بيا هم پردې باوريم چې دافغانستان په اردو کې دا . ک . گ . ج . رول غوښ او بنسټيز و . څرنگه چې دا . ک . گ . ج . مشر ع . قادر د ۱۳۵۲ کال په پاچاهي ضد کودتا کې ټاکونکی رول لوبولی او وروسته بيا د م . داود له خوا له خپلې دندې څخه لرې کړای شوی و ، نو له همدې امله د اردو په چاپېريال کې له

ډېرې زياتې پېژندنې برخمن و .

دغه زرورتيا ، دالوتنې لوړ مهارت او دّاردو له افسرانو سره پراخواړيکو دا . ک . گ . ج له پېژند گلوۍ سره ډېره مرسته کړې وه .

زه فکر نه کوم چې د ع .قادر او په اردو کې په کار بوختو دا . خ . د . گ . ډېلو تر منځ به نږدې اړيکې ټينگ وو . ځکه ع . قادر دخپل قاميت له مخې ( هغه چار ايماقي و ) نه يوازې په اردو ، بلکې په « خلق » کې هم د پښتنو د « ميشتوالی » په وړاندې ناوړه غبرگون ښوده او دغه راز يې پر « پرچم » باندې هم چې د ۱۳۵۲ کال له کودتا وروسته يې له م . داود سره « گډه ژبه » موندلې وه ځانگړی شک درلود . چې دې کار بې له شکه په دې لاره کې خنډونه جوړول . که پر پور تنيو تېکو د ع . قادر داسې ځانگړتياوې لکه دوينې گرموالی (احساساتي توب ) ، سرزوري او سرتمبگي ور زياتې کړو بيانو بيخي په ډاگه کېږي چې نوموړی خدايزده که د « خلق » او « پرچم » د استازو لپاره وړ شخصيت ( فيگور ) و .

برسېره پر دې ددې پېښو ترپيله { دغويې پر اومه ، ژ . } دا . خ . د . گ . تر ټولو پېژندل شوي مشران په زندان کې وو . له همدې امله نا شاپي نه وه چې د م . داود د راپرځولو پر وخت د پوځي انقلابي شورا مشري د ع . قادر په غاړه وه چې له م . ا . وطنجار سره يو ځای يې د راډيو له لارې خلکو ته وينا وکړه .

يوازې تر هغې وروسته چې دا . خ . د . گ . مشران د راپاځېدليو پوځيانو له خوا له زندان نه راوايستل شول ، نو شورا خپل ټول مرکزي واک هغوی ته ور ولېږداوه . بايد ثرگنده کړم چې ع . قادر له ماسره په خبرو کې ( زه دغه سړی ښه پېژنم ) خپل دغه کار تېروتنه وگڼله ، ځکه دهغه په اند دا . خ . د . گ . چې ډلو ټپلو او فرکسيونونو داړلی او زېښلی و ددې ډول تاريخي دندې سرته رسولو ته يې سم چمتو والی نه درلود .

د پېښو د وروستيو پر مختياوو په پام کې لرلو سره { ويلی شم چې } حق ربښتيا هم د ع . قادر پر خوا و . » خو د ک ، م . ځاگولوف پورتنی ليد او اټکل د

ا . خ . د . گ . د دواړو ډلو غړو ته دمنلو وړ نه دي.

د پایلیزې په توگه باید څرگنده کړم چې کودتا عملاً دهمغو کسانو له خوا ترسره شوه ، چې م ، داود یې هم دواک پرگدۍ کېنولی و . هو ، دکابل او دهېواد نورو ولایتونو خلکو واک ته د ا .خ.د. گ. رسېدل بېکاره وماڼه ، خو په حقیقت کې د دې کار مانا د م . داود د رانسکورېدو په وړاندې دهغوی یو ډول غبرگون و . نه دافغانستان خلق دیموکراتیک گوند نه ملاتړ .

داسې دې چې ټول انسانان ، په تېره هغه چې ښوونځي وي د نېکمرغه راتلونکې هیله په زړه کې پالي او څرنگه چې د ا .خ.د. گ. هم له کودتا نه وروسته دنیاومندۍ او آزادۍ ټولنې دجوړولو ژمنه وکړه ، نو خلکو خپلې هیلې څه ناڅه په هغه پورې وتړلې ، خو دگوند ژمنې او شعارونه هماغسې دتشو اعلامیو په بڼه پاتې شول او پخپله د بدلون راوستونکو برخلیک له نورو ټولو هغو ډېر غم لړلی او ویرژلی راوخوت .

# ولې دا هرڅه داسې پېښ شول ؟

په کابل کې دشوروي اتحاد استازو او دغه راز زموږ ځارگرۍ ته د ۱۳۵۷ کال دغویي د ۷ مې پوځي کودتا « دشنه آسمان د بېړک په څېر » وه ځکه د ا . خ. د . گ . مشرانو د داود د رانسکورولو په باب خپل پلانونه له شوروي لوري څخه پټ ول او دا لاڅه چې په دې اړه یې له هغو سره آن مشوره هم نه وه کړې ، ځکه چې دوی په دې باور وچې مسکو به گڼې د دوی نیتونو ته منفي ځواب و وایي .

په شوروي اتحاد کې څېړونکو په افغانستان کې د ۱۳۵۷ کال دغویي دمیاشتې پېښې له پاسه نه ترسره شوې یوه پوځي کودتا گڼله چې داردو او کوچنۍ پانگوالۍ دیوې برخې له خوا یې ملاتړ کېده . خو له دې سره سره شوروي مشرانو واک ته د ا ،خ . د . گ . درسېدلو خبر په یو ډول ځانگړې

ميني سره واوريده او له همدې امله يو شمېر لويديزو كار پوهانو دم . داود لرې كېدل دشوروي ښارگرى په لاسونو تر سره شوى كار وباله ، هغوى په دې اړوند تل د ب . كارمل يوې جملې ته چې له يوه هندي ژورناليست سره په خبرو كې يې له خولې را وتلې وه يانې : « روسيې غوښتل چې دلته بايد يو انقلاب وشي » گوته نيسي . خبره چې هر ښنگه وه ، وه به ، خو شوروي اتحاد د ا . خ . د . گ . له رژيم سره له هماغو لومړيو ورځو نه هر اړخيزه مرسته او ملاتړ پيل كړ . دا لړۍ په داسې حال كې روانه وه چې له كودتا نه وروسته پېښو وښوده چې په هېواد كې عملاً د ا . خ . د . گ . اوكه سپينه وويل شي دهغه دمشرانو دزور واكى ( ديكتاتورى ) دټينگېدو تگ لاره پلې كېږي . د ا . خ . د . گ . په مشرانو كې تكړه سياستوالانو او دولتي شخصيتونو در ك نه درلود . هغوى د اقتصادي بدلونونو اودولتي ادارې په برخه كې تجربه او اړونده پوهه نه درلوده.

په هېواد كې دواك په ترلاسه كولو سره هغوى فكر كاوه چې كيسه گټې نوره خلاصه ده . خو خبره داسې نه ده . ځكه مهم او ارزښتناك كارونه او چارې تل دواك له ترلاسه كولو نه وروسته پيلېږي . له بله پلوه د ا . خ . د . گ . غړي آن پردې هم نه پوهېدل چې دوى ته له په لاس ورغلي واك سره ښنگه چلند وكړي ؟ كله چې واك دم . داود په لاس كې و ، دوى ته هرڅه اسان برېښېدل . خو پر واكمن رژيم نيوكې كول ، دغونډو جوړول ، احتجاجونه كول او لاريونونه جوړول يوه خبره ده ، خو دتولنې بدلون اوله اقتصادي پلوه دهېواد وده او ښېرازه كول بيخي بل كار دى . له همدې امله وه چې د ا . خ . د . گ . دمشرانو نه وړتيا په افغانستان كې دپېښو پر راتلونكې پر مختيا باندې ناوړه اغېزه وښندله .

برسيره پردې دهغوى عملي كارندتيا هم تر ډېره ځايه اداري او ايډيالوژيكه شوې بڼه درلوده او دشخصي ، ملي پالنې ( ناسيوناليستي ) او قامي گټو په رڼا كې پلې كېدله . دا چې پر افغانستان داسې سختې ورځې تېرې شوې او ستر مادي زيانونه يې وگالل داټول تر ډېره ځايه د ا . خ . د . گ . دمشرتابه له خوا دپلې كېدونكې ستراتيژۍ او سياست پايله وه . بې له شكه يو لړ نور

فکتورونه او لاملونه هم وو چې دهېواد پر پېښو يې تاکلې اغيزه درلوده، خو هغه ټول په دويمه کچه کې راځي.

نوې جوړې شوې پوځي انقلابي شورا د ۱۳۵۷ کال دغويي پر ۱۰ مه لومړی لمبر فرمان راوايست . په هغه کې راغلي وو چې نوموړې شورا خپل واک انقلابي شورا ته چې په افغانستان کې د دولتي واکمنی دتر ټولو لوړ ارگان په توگه اعلانېږي ، سپاري او پخپله هم دهغې په جوړښت ( ترکيب) کې ورگډېږي . دغه راز د افغانستان نوم هم دافغانستان پر ديموکراتيک جمهوريت (ا.د .ج.) واړول شو . ن. تره کی د دولت مشر او لومړی وزير ب. کارمل په گوند اودولت کې دهغه دمرستيال او ح. امين دلومړي وزير دلومړي مرستيال او دبهرنيو چارو دوزير په توگه وټاکل شول . که څه هم د ا.د.ج.د وزيرانو په نوې کابينه کې دخلق او پرچم داستازو ترمنځ انډول ساتل شوی و ، خو حفيظ الله امين دخلق په ډله کې د خپلو استازو افسرانو له لارې په اردو کې ريښتيني واک په خپل لاس کې نيولی و .

دا.د . ج . دانقلابي شورا دلومړيو فرمانونو له مخې حکومت او قضايي اورگانونه جوړ اونوي واليان او دپوځ ډلو ( قول اردوگانو ) او فرقو قوماندان وټاکل شول . دافغانستان درې رنگه دولتي بيرغ تقريباً د شوروي دا په څېر سور او نښان يې هم بدل کړای شو . دکابل په پوځي ټولگيو کې دغويي د اومې دوسله وال پاڅون هر کلی په ټوليزه توگه تود و .

له کودتا نه وروسته يو شمېر پوځيان د واليانو او ولسوالانو په توگه وټاکل شول . دغه راز دانقلابي شورا له خوا په جوړ شوي حکومت کې هم درېو مسلکي پوځيانو ( جگړن . ا . وطنجار دلومړي وزير دمرستيال او دمخابراتو دوزير ، ډگرمن ع . قادر د دفاع د وزير ، اوجگړن م . رفيع د ټوليزو ښېگڼو (فوايد عامې ) د وزير په توگه او په انقلابي شورا کې پنځو پوځيانو غړيتوب ترلاسه کړ .

دمې پر نهمه « دانقلابي دندو بنستيزې کرښې » په نوم د ا.خ.د.گ

تګلاره خپره شوه ،چې په هغې کې دټولنیزو - اقتصادي بنسټیزو بدلونونو دراوستلو ، دځمکوالۍ ( فیوډالیزم ) اوله هغې نه ترمخه اړیکو دله منځه وړلو ، دظلم او زبېښناک دټولو بڼو دورکولو ، دټولنیز ژوند د دیموکراتیزه کولو ، دملي ستم اوتوپیر دجرړو د ایستلو ، دښځو د حقوقو دبرابرۍ ، دهېواد په اقتصاد کې د دولتي سکټور دپیاوړي کولو ، دوګړو دژوند د کچې دلوړولو ، دبې سوادۍ دله منځه وړلو ، پر بیو د ولکې دټینګولو اوپر اقتصاد ،سیاست ، کلتور اوایډیو لوژۍ باندې دامپریالیزم او نوي ښکېلاک داغېزې دورکولو اټکل شوی و .

دبهرني سیاست په ډګر کې دناپېیلتوب دسوله خوښوونکي سیاست پالل ، مثبت ناپیلیتوب ، دټولیزې بې وسلې کولو لپاره هاندوهڅه ، دملي ، آزادۍ بښونکو غورځنګونو ملاتړ او د افغانستان له ټولو ګاونډیو هېوادونو سره د دوستۍ ، ښه ګاونډیوتوب اوهمکارۍ ټینګول اعلان شول. په دې برخه کې دستر شمالي ګاونډي په توګه له شوروي اتحاد سره ددودیزو دوستانه اړیکو پیاوړي کولو ته چې دافغانستان خلکو ورته ښه نیت درلود ،لومړیتوب ورکول کېده .

خو په اسانۍ سره د م . داود درژیم راپرځولو دا .خ . د . ګ . په مشرانو کې د بري غرور اوپرځان باور را وپاراوه ، داسې چې د ډول ډول خیالي بریو له امله دهغوی له یو شمېر نه بیخي ځانونه ورک او دځان د ارزښت او لویۍ حس ورسره پیدا شو. آن تر دې چې د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند له پلاوو (هیئتونو ) سره دکتنې پر وخت به یې هم له ځانه تاکلی غرور ښکاره کاوه او له نورو شوروي استازو سره خوچلند له دې نه هم بتر ( بدتر) و . هغوی تل د « ثور انقلاب » په باب خبرې کولې ،له دې سره سره هغوی د افغانستان ځانګړتیاوې ، کورني سیاسي ځواکونه ، نړیوال لا ملونه ( فکتورونه) اودغه راز دخپل هېواد دودونه او دیني ارزښتونه هیڅ په پام کې نه نیول.

له بل پلوه څرنګه چې پرهېواد په دودیزه توګه درانیانو واکمني درلوده ،نو

دهغوی پرځای په غلزي قبیلې پورې داړوند نور محمد تره کي او دهغه دځای ناستونکي ح . امین واکمن کېدو یو بله کلکه ستونزه رامنځته کړه .

خوځرنګه چې ن . م . تره کی او د هغه ملګري داعلان شویو « چارو » پر پلي کېدو باډمن نه وو ، نو له همدې امله یې خپله توله ډډه پر شوروي اتحاد ولګوله اوپه دې کار کې خپل مراد ته هم ورسېدل .

دا . خ . د . ګ . مشرتابه دشوروي اتحاد پر کمونیست ګوند باندې پرتکیې سره وکړای شول چې خپل ویلاړ ( اراده ) یو څو ورځې پر خلکو وتپي او په افغانستان کې پر وېرې او زور باندې ولاړ خپل چارې ( توتالینار ) او ځانواکی (او توریتار ) رژیم ټینګ کړي . خو دهغوی دا شان زور واکي دخلکو د کلک غبرګون سبب شوه او له همدې امله وه چې ټینګاوډېر ژر سر راپورته کړ . دا کار له دې امله هم پېښېدونکی وچې دا . خ . د . ګ . له خوا پلې کېدونکې کړنلاره نه وګړنۍ وه اونه ولسواکیزه ( دیمواکراتیکه ) .

باید پردې تکي هم سترګې پټې نه شي چې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت دپوځي او ګوندي شخصیتونو په منځ کې (چې پوځي پاڅون یې پیل کړی و ) د داسې کسانو شمېر هم لږ نه و چې پر اعلان شویو ارمانونو یې دزړه له کومې باور درلود اودخپلو خلکو د سوکالۍ او نېکمرغۍ لپاره هر ډول بلهارۍ ( قربانۍ ) ته چمتو وو . دا داسې کسان وو چې ځان ته په شا اړولو سره یې دهېواد سوکالۍ ته دخپل ټول ژوند د ځانګړي کولو هیله درلوده او په بدل کې یې دهېڅ ډول شخصي اوناوړه ګټو اند وخیال په سرکې نه پاله . داسې کسان هم وو چې آن دخپلو پلرونو ، ورونو اوخپلوانو پرخلاف یې هم هاندو هڅه ... کوله ، خو لکه څرنګه چې په تاریخ کې په وار وار پېښ شوي { دغوبي} انقلاب هم تر هر څه له مخه ، لومړی پخپله خپل زېږونکي چې له نورو سره یې واک نه وېشه اودغه راز هغه بې ګناه کسان چې برخلیک داویو دګرځوني په څېر په دغو پېښو کې راونغاړل ، له ستوني تېر کړل . داعلان شویو موخو پلې کېدل ربښتیني نه شول او ولس دڅویم ځل لپاره خپلو هیلو او امیدونو وغولاوه .



ACKU

## « هغوی تول دخپل سیستم بچوړي وو »

لەبدە مرغە پەدغە پړاو کې لەافغانستان سرە دشوروي اتحاد د مرستو اودغە راز د دیپلوماتانواو گوندي ،اقتصادي اوپوځي سلاکارانو دکار پەبرخە کې‌هم دافغانستان دپېښو د ارزولو پەخبر یولړ تاکلې نیمگړتیا وې اوتېروتنې پرتې وې.

دغویي لەانقلاب نە سم لەلاسە وروستە دافغاني مشرتابە پەغوښتنە دشوروي اتحاد بېلو بېلو کارپوهانو د ا . د . خ . گ . پە مرکزي کمېټې ، وزارتونو اونورو اورگانونو کې دسلاکارانو پەتوگە دغەهېواد تەراتگ پېل کړ. البتە ددغەکار موخە یوەوە اوهغەلە هرڅەلە مخە د کړنلاریزو لاسوندونو (اسنادو) پە جوړولو ،دهېواد د ټولنیزې اقتصادي ودې پەپلانیزە کولو او د ځمکې سمونونو ( اصلاحاتو ) دسیاست پەپلي کولو کې دهر اړخیزو مرستو سر تەرسول وو . دلتە باید داټکی هم ووایم چې دافغان - شوروي پوځي همکاري آن لە ١٩٥٦ (١٣٣٥) کال څخە را پەدې‌خوا پەپرلەپسې توگە روانە وە . د ١٩٧٨ کال پەمې کې د دواړو حکومتونو تر منځ دپوځي سلاکارانو پەباب یوتړون لاسلیک شو چې دهغەلەمخې دنوموړو دریځ لەسادە مشورە ورکوونکو نە پر سلاکارانو اوښت او پەدندو او شمېر کې یې هم ډیروالی راغی چې یوازې پەاردو کې یې شمېر څلور ځلە ( ٤٠٠ تنو تە ) زیات شو.

پەبیړنۍ توگە دسلاکارانو د ډلو د جوړېدو لەاملە دهغوی پەلیکوکې داسې کسان‌هم‌ورگډ شول چې پخوایې دافغانستان پەباب‌هیڅ ډول‌معلومات هم‌نەدرلوډل اوداسلام پەباب خو یې معلومات بیخي تت او پیکەوو اود افغاني ټولنې دحالت پەبارەکې‌ورتە یوازې سرکب‌معلومات ورکړل‌شوي وو. هو دغە کسان تول دخپل سیستم بچوړي‌وو اولەځانگړو ارمانونو اوخیالونو سرە ( چې ډېر ځلې یې دافغانستان لەحالت سرە هیڅ اړخ نەلگاوە ) روزل‌شوي‌وو.

دهغوی ډېر شمېر دلومړي ځل لپاره له پردیو روحیاتو ، تولنیز جوړښت ، دودونو ، اندونو او رواجونو سره مخامخ شوي وو . ځکه یې نو آن په ډېرو اسانو شیبو کې هم لاره ورکوله او تېروتنې یې کولې .

له همدې امله گوندي سلاکاروانو تل هڅه کوله چې په بلدولارو لاړ شي خو افغانانو ته یې دهغې لارې وړاندیز کاوه چې تر ډېره ځایه آن پخپله په شوروي اتحاد کې بې باوره شوې وه . هغوی هغه مهال افغانان دې ته هڅول چې په بشپړه توگه دشوروي اتحاد دکمونیست گوند تجربې کاپي او په کلکه هغه پلې کړي .

خو هر ولس خپله لار لري او دهغه دنه پېژندنې پر وخت سړی هیڅ هم نه شي کولی . لکه چې راتلونکو پېښو وښوده ددغو سلاکارانو نه دافغانانو په روحیاتو اونه هم دهغوی په مزاج اونیتونو سرخلاص شو .

خوزما په اند چا په دې کار پسې اصلاً چندان سر هم نه گرځاوه . آن ختیز پوهانو هم د افغانستان مسالې یوازې په خپلو چاپېر یالونو کې څېړلي او ارزولي . دهغوی لیدو نه اولاربښوونې د دندو مخامخ سر ته رسوونکو ته بیدو (تقریباً) نه وو رسېدلي . گوندې سلاکارانو هڅه کوله دکار له خپلو بڼو او لارو چارو ( میتودونو ) نه گټه واخلي چې په دې توگه به یې خبره تر داسې چټیاتو رسوله لکه دسوسیالستي کار دسیالۍ لړۍ ، د ل . ای . بریژنف د « کوچنۍ ځمکه » او « پاڅون » ( رستاخیز ) دکتابونو لوستل اونور . سربېره پردې پوځي سلاکاران هم د ا . د . ج . دوسله وال پوځ دجوړولو په برخه کې له یو لړ ستونزو سره لاس وگرېوان وو .

په دغه پړاو کې دشوروي سلاکارانو له خوا د جوړو شویو گڼ شمېر لاسوندونو په او ملیکونو ( طرحو ) کې دشوروي اتحاد د کمونیست گوند د کارندتیا بېلگو ، بڼو او لارو چارو ته د ا .خ . د. گ . د ورنړدې کولو اغېزه نغښتې وه .

دساري په توگه د ا .خ .د . گ . تگلارې ( اساسامې ) چې د شوروي اتحاد دگوندي سلاکارانو په گډون جوړه شوې وه دگوند غړي مکلفول چې

« دسوسیالیستي تولنې دجوړولو لپاره کلکه هاندوهڅه وکړي ». دڅمکې اوبزګرو دمسالې په برخه کې لاربښوونو هم [ افغاني] واکمنۍ ته یوازې دکلیوالو اونورو تر ټولو خوارې اونیستمنې برخې دګټو پرلورې لوری ورکاوه . خوزه داسې ګنیم (فکرکوم) چې یوازې دهغوی پر غاړه ددې پېښو دپېړ ورا چول به لویه بې‌نیاوي (بې انصافي) وي . څکه نوموړو دهغه مهال له‌رسمي کړنلارې سره سم چلند کاوه او دکاربنسټ یې په‌حقیقت کې له‌مرکز نه‌دافغانستان دپېښو په‌باب دخپل وخت پرهغو رسمي لیدونو اولاربښوونو ولاړ و چې ډېر ځلې یې وچه ( انتزاعی) اوآن ضدو نقیض بڼه درلوده .

هودڅنډ وڅوړ ( رکود ) دپېراو له ځانګړنو سره سم دګڼ شمېر ګوندي سلاکارانو رپوټونو له‌واقعیت سره چندان اړخ نه‌لګاوه .دبیلګې په‌توګه په هغو کې به ډېر ځلې داسې ویل کېدل : « په‌وروستیو وختونو کې دڅمکې او اوبو دسمونونو دبڼه کېدلو اوبشپړېدلو لپاره یولړ تدبیرونه ترلاس لاندې نیول شوي دی . پرانقلابي واکمنۍ ،د ا. خ. د. ګ. او ..... باندې دخلکو دباور د زیاتېدو بهیر په‌چټکې سره پرمخ درومي اوپر مارکیستي – لینیستي آرونو (اصولو) د ا . خ. د. ګ. دجوړولو لپاره هم‌ور شرطونه‌او شونتیاوې منځته راغلي دي ». ( مسکو ته په‌افغانستان کې دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد د سفیر ف. تابییف او ګوندي سلاکارانو د ډلې دمشر ګ. لومونو سوف له‌خوا له‌ورکړ شوي رپوټ‌نه ) . البته یولړنورې آرینې (اصولي) اوربنتینې څېړنې هم‌وې خوهغه بیخي دګوتو په شمار وې.

ډېر ځلې به‌داسې هم کېدل چې دسلاکارانو دکمبنت له‌امله به‌ځینو نورو شوروي استازو د افغانانو پرځای کار کاوه اودهغوی یو لړ ځانګړې دندې به‌یې سرته رسولې. د ا. خ. د. ګ. یوه پېژندل‌شوي چارواکي یوه ورځ راته په دې اړه په‌ملنډه‌داسې وویل : « دوزیرانو شورا غونډه به‌پیل شوه . ټول به‌دمېز تر شا کېناستو . هروزیر به له‌خپل مشاور سره‌رانووت . غونډه به‌روانه وه ، خبرو اترو به‌زور واخیست ، مشاورین به‌ورو ورو میز ته‌را نږدې کېدل اوله‌هغې

سره سم به زموږ {وزیران ،ژ.} له مېز نه لرې کېدل چې په پای کې به یوازې نګه مشاورین دمیز تر شا پاتې شول او یو له بل سره به په ناندر یو اخته شول. البته {له دې امله} دپښتو شوي زیان اندازه خورا ډېره وه او ګڼ شمېر افغانان او په دې ډله کې آن دمشرتابه غړي چې پر شوروي استازو به یې دچارو باور کړی و پخپله پر ډلپالې کارندتیا اودواک پر سر پر هاندوهڅې بوخت شول».

( د یادونې وړ ده چې آن یوه شوروي نل غځوونکي هم دکابل پولي تخنیک په انستیتوت کې دمشاور په توګه دنده سرته رسوله ) .

## « دټولنې بیا جوړونه » که دتره کي تېروتنې

څرنګه چې کرنه د افغانستان داقتصاد تر ټولو مهمه برخه ګڼل کېده ، نو له همدې امله دځمکې سمونونو د ا . خ . د . ګ . له خوا په وړاندې شوېو ټولنیزو – اقتصادي بنسټیزو بدلونونو کې ځانګړی ځای درلود. داکار یوازې په ملي اقتصاد کې دکرنې د سکټور درول له امله ( په ۲۲۷۵۰ کلیو کې په سلو کې له ۸۷ نه زیاتو وګړو ژوند کاوه او پر سرې سرملي وټه ( عاید ) کې یې ونډه ۵۶ په سلو کې وه ) نه ، بلکې دبې ځمکې اولږ ځمکې بزګرانو تر منځ له رژیم نه دپراخه ټولنیز ملاتړ دترلاسه کولو لپاره هم ارزښتناک و . خو دځمکې سمونونو نه یوازې په اقتصاد کې اټکل شوي بدلونونه چټک نه شو کړای ، بلکې د اقتصاد شته سیستم یې ویجاړ ، دخوراکي موادوستونزه یې راولاړه او بې نیاوې یې را منځته کړه او دغه راز د یاغیانو د غورځنګ دپیاوړتیا سبب هم شول.

هغو پر واکمن رژیم د بزګرو باور له منځه یوړ او هغوی ته یې د سوکالۍ پر ځای خوارې اونیستي ور په برخه کړه .

# دقامونو او مليتونو ( ؟ ) برابري

باید ووایم چې د ا . خ . د . گ . لپاره د ملي مسالی نیاومند اواري ډېر ارزښت درلود ، ځکه چې افغانستان یو گڼ قامیز دولت دی .

په دغه هېواد کې په دودیزه توگه په دریو مهمو اتنیکي ډلو لکه پښتنو (افغانانو) ، ایرانیانو او تورکانو پورې تړلي له شلو نه ډېر قامونه استوگنه لري .البته هلته ځینې نورې قامي ډلې هم شته خو د هغوی شمېر لږ دی او په هېواد کې پرحالاتو غوځه اغېزه نه لري.

دهېواد توکمنوتل دتاریخ په اوږدوکې دشمېر ،ټولنیزې اقتصادي ودې د کچې ،اودملک په سیاسي او اقتصادي ژوند کې دخپل رول له مخې یو له بل سره توپیر درلود . خو پښتون قام تل دخپلې اغېزې له امله د پېړیو په اوږدو کې دافغاني ټولنې دوگړو پر نورو ټولو پوړونو باندې برلاسي و .

که څه هم چې دافغانستان دوگړو دشمېر په باب کره معلومات نه شته ، خو په اټکلي توگه دهغه قامي جوړښت په لاندې ډول دی : *

- پښتانه (۹) ملیونه ( دوگړو له ټول شمېر نه ٤٨ په سلو کې )
- تاجکان ( ۳ ) ملیونه ( ٪۱٦ )
- هزاره گان ( ۲ ) ملیونه ( ٪۱۱ )
- اوزبکان ( ۱ , ۵ ) ملیونه ( ٪۸ )
- ترکمنان ( ۰ , ۵ ) ملیونه ( ٪۳ )
- نورقامونه لکه ( بلوڅان ،چارایماق ، قزاقان ، قرغزان ، عربان ، نورستانیان ، پشه یان ، پامیریان ، هندوان اونور )

PROPERTY OF ACKU 8830

---

*روسي جنرال د پښتنو شمېر خورا راټیټ کړی او د روسي حکومتونو د پرله پسې کړنلارې کړس یې پسې تعقیب کړی دی . (ژ)

٦ ,٢ مليونه ( ١٤٪ ) . هغه څه چې دهېواد په ملي لږه کيو پورې اړه لري ،نو دغويي له انقلابه ترمخه {دافغانستان} ناپښتنو وګړو تل دوه ګونی ستم احساساوه (؟) : يو دخپلو ځمکه والو اوبل د پښتون پلوه مرکزي واکمنی له خوا .

هو واړه قامونه او ولسونه په دوديزه توګه هم په اقتصادي او هم په ټولنيزې - سياسي اوکلتوري برخوکې تر هغه توپيريز ( تبعيضی ) سياست لاندې وچې واکمنو کړيو به د هغوی په اړه پلی کاوه .

البته ح . امين هم چې يو سر سخت پښتون نسيونال شو ونيست و او دملي لږه کيو داستوګنی د سيمو د پښتني کولو په اړه يې سخت چلند خپل کړی و دې مسالې ته ډېر زيان ورساوه . آن تردې چې نوموړي به پر هغو سياسي شخصيتونو چې دملي لږه کيو استازي وو د « تنګ نظره ناسيوناليستانو » ټاپې لګولی چې دې کار بې له شکه د مخالفينو اړخ ته دوګړو دزياتې برخې له وراوښتلو سره مرسته وکړه .

دغه راز ديو لړ څېړنو له مخې آن ديني لامل دړژيم پرخلاف د خلکو په يوموټي کولو او دوسله وال ټينګاو په منځته راوړلو کې دومره رول نه درلود لکه څومره چې ملي دا ولوباوه . *

# ګوند اودين

دين د ا . خ . د . ګ . په عملي کارندتيا کې مهم ځای درلود ، افغانستان يومسلمان هېواد دی ، اواسلام په افغاني ټولنې کې ژورې اوټينګې ريښې لري چې دتاريخي ودې په اوږده پړاوکې يې تر ډېره ځايه ټول معنوي ژوند ټاکه اود

* روسي جنرال بياهم دروسی کړنلارې له مخې غوارې يوځل بياد پښتنو په وړاندې دنورو قومونو اولږکيو کرکه را وپاروي او په افغانستان کې ملي مساله ديو ستر پرابلم په توګه مطرح کړي . (ژ) .

افغان ولس هستي اودودونه يې منځته راوړل . كه څه هم دوګړو ترمنځ داسلام دبېلو بېلو ډلو اوبهيرونو لارويان شته ( لكه سنيان او شيعه ګان ) چې هغه بيا په خپل وار پر نورو ډلګيو وېشل شوي لكه په شيعه ګانو كې « اثناى عشرى » او « اسماعيليه » ، خو دبلې ګروهې ( عقيدې ) دپيروانو په وړاندې هغوى تل سره يوموټى وي .

دشوروي سفارت دمعلوماتو له مخې دافغانستان په ديموكراتيک جمهوريت كې داسلام پالونكو ( ديني خادمانو ) شمېر ۳۰۰ زره ( دوګړ په سلو كې ۲ تنو ته رسېده ، دفعالو جوماتونو اودلمانځه دترسره كولو ځايونو شمېر له ٤۰ زره نه ډېر و ، دغه راز په زرګونه مرستونونه ( هديرې ) اونور سپېڅلي ځايونه ( زيارتونه ) هم موجود وو چې په مليونونو ديندارو افغانانو به هره ورځ ورتلل . دافغانستان يوه بې جوړې ځانګړتيا په دې كې ده چې هلته لوړ مذهبي لاربښود او مشر نه شته او ټول ملايان له خپلې خوښې سره سم چلند كوي او دچا تر امر لاندې نه دي .

په مركز او ولايتونو كې ددينې عالمانو شوراګانو د قرآن كريم په باب يوازې عمومي تبصرې كولې خو لاربښوونو يې دهرو مروپلي كېدو ځواک نه درلود . هرکلسم افغان مكې ، مدينې او يا نجف ته دحج لپاره تللى دى . دهېواد په روزنيزو ديني موسسو كې ۲۰ زره افغانان په پرله پسې توګه پر زده كړه اخته وو . دكابل پوهنتون دشرعياتو پوهنځي د الهياتو په برخه كې دسني اړخ كادرونه روزل .

د اسلام زده كړه دهېواد په ټولو ښوونځيو كې هرومرو ګڼل كېده . په افغانستان كې دسني اسلام دلارويانو شمېر تر ټولو زيات دى . دغوييز تر انقلابه داسلام همدا اړخ دهېواد رسمي دين ګڼل كېده او يوازې سنيان پر لوړو دولتي څوكيو ټاكل كېدل . نور { دولتي } كاركوونكي او افسران هم دهمدوى له منځ نه وو . شيعه ګان چې هزاره ګان اوغرني تاجكان يې پيروان دي په دويمه كچه كې راتلل .

په تېره شیعه ګان له ډول ډول توپیر ( تبعیض ) سره مخامخ وو ، آن تر دې چې دهغوی پر یو لړ مناسکو اونورو بندیز لګیدلی و ( ؟ ) ډېر شیعه ګان اړشوي وو چې د « تقیه » په نوم آر ( اصل ) اوداسې نورو ته مخه کړي . *

لکه چې څرګنده ده د یوه انسان دیني احساس دهغه دمعنوي ژوند ترټولو نرۍ اوحساسه برخه جوړوي . له همدې امله نو دې احساس ته د ورننوتلو په ترڅ کې باید تل دهغه دنه زیانمن کولو آر په پام کې ونیول شي . خو په افغانستان کې واک ته رسېدلو « انقلابیانو » دې آر او لاربښوونې ته پام نه ساته.

برسېره پر دې ،که څه هم د ۱۳۵۷ کال په غویي کې خلکو ته په وینا کې ویل شوي وو چې په افغانستان کې انقلاب د « اسلام اودیموکراسۍ د آرونو » دساتنې لپاره سرته رسېدلی اوهېواد پالونکي روحانیون له نوې واکمنۍ سره همکاري ته وربلل کېدل ،خو په کړنه (عمل) کې د روحانیونو دکارندتیا اود موعظو دمنځپانګو دکنترول په برخه کې ګامونه لا پسې پیاوړي شول. دغه راز رژیم دیوشمېر ملایانو دحکومتي ضد کوښښونو له نه رسوا کولو سره سره دهغوی پر خلاف سخت مجازاتي چلندونه خپل کړل .آن تر دې چې ګڼ شمېر عبادت کوونکي به په رڼا ورځ د دیندارو خلکو د سترګو په وړاندې وژل کېدل. څرګنده ده چې دې ډول کارونو د دولتي واکمنۍ باور زیانمن کاوه او په حکومتي سمونونو کې یې د ګڼ شمېر خلکو دونډې اخیستنې مخه نیوله او دغه شان یې د حکومت دمخالفینو شمېر لا پسې ډېراوه .

د افغانستان په څېر په یوې تولنې کې له اسلام سره مخالفت او په تېره دهغه پر ضد هاندوهڅه په ډاګه دخپلو خلکو پر خلاف دجګړې مانا لري . له همدې امله وه چې مخالفینو وکړای شول له اسلام نه د ا . خ .د . ګ . پرخلاف دیو موثې کوونکې ایډیا لوژۍ په توګه ګټه واخلي.

---

* دروسی کړنلارې اوپه افغانستان کې دخیالي اختلافاتو ناموجود اور ته دیو روسي جنرال پکې وهل همدادی ( ژ ) .

د ۱۹۷۸ کال د ډسمبر پر میاشت دحکومت دځانګړي فرمان له خوا ښځو ته له نارینه وسره برابر حقوق ورکړل شول . په دغه فرمان کې دولور ( مهر ) له منځه وړل او په کمکي عمر کې دواده کولو مخنیوی هم په پام کې نیول شوی و .

که څه هم دیوه متمدن انسان دلید ټکي له پلوه دا ټول پر مختیا پالونکي اوډېر مترقي ګامونه وو ،خو نالوستو اومذهبي افغانانو او په تېره دکلیو اوسیدونکو دغو کارونو ته په خپل شخصي ژوند کې دلاسوهنې او دژوند پر دودیزه بنه او بنسټونو دیوه تېري په سترګه کتل . خو آن په همداسې شرایطو کې هم دښځو د حقوقو د برابرۍ اعلان په تېره په لویو ښارونو کې خپل رول ولوباوه ،له همدې امله ناڅاپي نه وه چې په وروسته کلونو کې په زرګونو ښځو دانقلاب ساتونکو په ډلو ،ډلګیو اونورو کې په ګډون سره د رژیم ملاتړ کاوه .

دا . خ . د . ګ . او انقلابي واکمنۍ پر له پسې تېروتنې ددې سبب شوې چې د ۱۳۵۷ کال په اوړي کې دې دبدخشان ،بامیانو ، کونړ ،پکتیا اوننګرهار په ولایتونو کې دمرکزي واکمنۍ « دیموکراتیکو او ځمک والۍ ضد تدبیرونو » پر خلاف لومړني پوځي غبرګونونه سر راپورته کړي . خو دهېواد مشر تابه دپېښو له دې ډول پر مختیا نه چندان اندېښنه نه درلوده ،ځکه دوی ګومان کاوه چې کولی شي دزور په مرسته په اسانۍ سره دټینګاو ځیني نغري ساړه کړي . له همدې امله یې نو پوځ ته هم په دې باب اړونده دنده وسپارله . خود کلیوالو مخالفینو پر خلاف دارډو د ټولیو چلندونه اوددغو مخالفینو دپوځي هلوځلو دځپلو لپاره له توپچې اوهوایي ځواکونو نه ګټه اخیستنه دملکي کسانو دوژل کېدو ، دکلیو او بانډو دورانېدو ،دخړوبولود شبکو د ویجاړېدو اوپه پټیو کې دفصلونو دله منځه تلو سبب شول . دا کار دغه راز ددې سبب هم شو چې د یاغیانو غورځنګ دې په پرله پسې توګه لا پسې پراخ شي . وروورو دکلیوالو وګړو خپل سرې ټینګاو دملایانو اوځمکه والو تر اغېزې لاندې سمه سیده اواسلامي څېره غوره کړه .

خوحکومت بیا هم یوازې پر زور باندې په تکیې سره خپل نوي او نوي

پوځي تولگۍ دگر ته را ایستل اوله هغو نه یې آن په هغو سیمو کې هم گټه اخیستل پیل کړل چې پخوا په دودیزه توگه پوځ هلته سرهم نه ورښکاره کاوه. { ددې کارونو پایله داشوه چې } دکورني اپوزیسیون او وگړو « دځپلو » لهامله دې له افغانستان نه دکډوالو لښکرې په وتو شي. خلکو دځپلو اولادونو اوخپلوانو دژوند دژغورلو په نیت دبشپړو کورنیو او آن کلیو په گډون له هېواد نه وتل پیل کړل.

دپوځي عملیاتو له سختېدو سره سم به دکډوالو شمېر هم زیاتېده او دې کار ډېر ژر دله ییزه بڼه غوره کړه. دساري په توگه که پر ۱۹۷۳ ( ۱۳۵۲ ) کال یوازې څو سوه تنه پاکستان ته کډوال شوي وو، نو پر ۱۹۷۸ ( ۱۳۵۷ ) دهغوی شمېر ۱۱۰ زرو او یوازې د ۱۹۷۹ کال دسپتمبر، دسمبر په میاشتو کې یې شمېر ۷۵۰ زرو تنو ورسېده، په وروسته کلونو کې خو دکډوالو شمېر ښېخي ملیونونو ته جگ شو.

له دې سره جوخت بهرني اپوزیسیون چې بنستیزه اډه یې په پاکستان کې وه هم خپله کارندتیا چټکه کړه. پر ۱۹۷۵ کال له ناکام پاڅون نه وروسته هغه اسلامي ډلې چې د « مسلمانو ورونو » ( اخوان المسلمین ) له نړیوال سازمان سره یې اړیکې درلودل د گ. حکمتیار تر مشرۍ لاندې په پاکستان کې سره یو ځای او د « افغانستان اسلامي گوند » یې جوړ کړ چې ډېر ژر یې یو شمېر نور وتلي روحانیون او ملایان هم پخپلو لیکو کې ومنل، لکه برهان الدین رباني، محمد یونس خالص، منصور، جلال الدین حقاني، احمد شاه مسعود او داسې نور، خو په یوه گوند کې دڅو لیډرانو ځایدل ناشونی کار و، ځکه دهغوی هر یوه هڅه کوله چې دځان لپاره خپل جلا گوند ولري. هماغه وچې رباني پر نورو وار دبره او دافغانستان اسلامي جمعیت یې جوړ کړ. دافغانستان اسلامي گوند نورو پخوانیو غړو او په هغې ډله کې احمد شاه مسعود هم دهغه لاره خپله کړه. که څه هم چې دمخالفینو مشرانو په ښکاره دانډیوالانو په څېر چلند کاوه، خو دوخت په تېرېدو سره دهغوی تر منځ اختلافونه مخ پر زیاتېدو شول او آن د

دښمنۍ کچې تەورسېدل چې دغە دښمني دکلونو پە تېرېدو سره لا پسې پیاوړې کېده .

دغويي ترانقلاب لە مخە پە پاکستان کې یوازې د دوو مهمو مخالفو بنسټپالو سازمانونو یانې د گ ، حکمتیار پە مشرۍ د « افغانستان اسلامي گوند » اود ب . رباني ترمشرۍ لاندې « دافغانستان داسلامي جمعیت » مرکزونە پراتەاو پە کار بوخت وو . دا مرکزونە د « ځوانو مسلمانانو » دسازمان لە پاشل کېدو وروستە دهغە لە یو شمېر ژغورل شو یوغړو څخە جوړ شوي وو .

دیاغي غورځنگ لە پیاوړتیا سره سم پە هغە کې برخەوالو کلیوالو افغانانو پە بنسټیزه توگە د سیمە ییزو ملایانو ترمشرۍ لاندې چې د دود یزپال نړۍ لید پلویان او پە اسلام کې دنوو تعبیرونو اوتفسیرونو مخالف وو او هغە یې لەربښتیني اسلام نەکږون بالەهاندو هڅە کولە . کەڅە هم چې د ۱۹۷۸ (۱۳۵۷ ) کال پەدويمە نیمایي کې یو لړ داسې هڅې پیل شوې چې دغە ټول گوندونە پە یوە دایره کې سره راټول اومشري یې دیني عالم محمد نبي محمدي تە وسپارل شي ، خو دا کار دافغانستان لەدود یز ټولنیز سیستم سرەچې دشخصیت پر ازادۍ اوبرابرۍ ولاړ دی پە ټکر کې راغلی اوهماغەوچې دې شان یووالي ډېره موده دوام ونەموند اوډېر ژر لەمنځە ولاړ . ترهغې وروستە د ۱۳۵۸ . کال پەبهیر کې پە پاکستان کې یو لړنوي مرکزونە ، گوندونە او سازمانونەدسیاست ډگر تە راووتل ، چې ټول دانقلابي رژیم پر خلاف دغوځې وسلەوالې هاندوهڅې لار پە مخکې ونیوه اودجگړه ییزو ډلو پەجوړولو ، د جنگیالیو پەروزلو او پرنویو وسلو دهغوی پەسمبالولو یې پیل وکړ .

ددغو ټولو مخالفو ځواکونو بنسټیزې هڅې دقبایلو او کډوالو پەمنځ کې کار تەاړم وې . هغوی ډېره هڅە کولە چې د سیاسي شعارونو اوتگلارو مذهبي او ملي بنە باید دخلکو لەشتو دودونو اودهغوی لەټولنیزې اوملي روحیې سره بشپړ سمون ولري او دهغو ټولنیزو پوړونو او پاړکو گټو تەځواب ووایي چې مخالف مشران یې لەمنځە راوتلي دي .

سربېره پردې مخالفينو دقبايلو په سيمو کې د اډو دجوړولو له لارې دافغانستان په خاوره کې دپراخو پوځي عملياتو دپرمخ بيولو لپاره د توپ دتختو په توګه ګټه اخيستنه پيل کړه . دغه راز هغوی دوتلو روحانيونو او دپاکستان په خاوره کې داستوګنو قبايلو دپښتندل شويو اوباوري مشرانو او سپين ږيرو په منځ کې هم پراخ تبليغاتي کار ته مخه کړه .

په پاکستان او ايران کې دافغاني کډوالو شته والي مخالفو ګوندونو ته د «اسماني نعمت » بڼه غوره کړه ځکه چې دغو ګوندونو ترهغه دمه { دخلکو په منځ کې } هيڅ ډول داډ من « تکيه ځای » نه درلود . دکډوالو د مهشت غالو له جوړېدوسره سم پاکستاني واکمنو دنوموړو ګوندونو مشرانو ته زمينه برابره کړه چې له نورو هېوادونو په تېره له لويديز نه رارسېدلې مرستې دکډوالو ترمنځ ووېشي. ددې ترڅنګه د ا . د . ج . خاورې ته په پاکستان کې دروزل شويو پوځي ډلو او ورانکارو ټولګيو د ډله ييزې لېږنې لړۍ هم د ١٣٥٧ کال په پای کې چټکه شوه .

له همدې وخت نه را په ديخوا وه چې د ن . م . تره کي دحکومت پرخلاف دتېنګاو ليکې لاپسې پراخه شوې . ددې کار پايله دا شوه چې د ١٣٥٧ کال په مرغومي کې دې دهېواد حالات لا ترينګلي شي . څو دا ځل په مرکزي ولايتونو يانې هزاره جاتو کې چې هلته دکابل اغېزه په دوديزه توګه کمزورې وه ، دچاروا کو پرخلاف وسله وال تېنګاو سرراوچت کړ .

سربېره پر دې دافغانستان په نورو ولايتونو کې هم دلارو دبندولو او دبرېښنا او ټيليفون دمزو د له منځه وړلو په اړه دمخالفينو ورانکاريو زور واخيست . له هغو سره جوخت حکومت ته د وفادارو کسانو دوژلو بهير هم لاپسې پياوړی کېده . دافغانستان داسلامي ګوند او دافغانستان داسلامي جمعيت مشرانو پخپلو داشان چلندونو سره غوښتل چې دا . د . ج . حالت لا پسې ګډوډ او د ا . د . ج . دنوي رژيم ستنې پسې سستې کړي . هغوی هڅه کوله چې په دې توګه حکومت په پرله پسې کړکېچ کې وساتي او په هېواد کې

دبې باورۍ او ويرې فضا را منځته کړي.

# په افغانستان کې بدلونونه د زبر ځواکونو او دهغوی دانډيوالانو تر منځ سيالي لا پسې لمسوي

په افغانستان کې دبدلونونو بهير دبهرني سياست په ډېرو ناوړه شرايطو کې وده موندله. دلويديز زياتو هېوادونو، په اسلامي نړۍ کې دهغوی انډيوالانو او دغه راز چين له هماغه پيل نه په دغه هېواد کې دپېښو په اړه چې هغه يې په سيمه کې دشوروي اتحاد په گټه د ځواکونو دانډول بدلون ته کلک گواښ گاڼه منفي او آن له دښمنۍ نه ډک چلند غوره کړ.

دامريکا اداري په لومړي سر کې دافغانستان دحالاتو په باب کوم گډ دريځ نه درلود. داسې چې د سايروس وانس په مشرۍ منځلارو داحتياط پلوي کوله. د ز. بريژنسکي په مشرۍ دسخت چلند پلويانو بيا ولس مشر کارټر هيښباوه چې: په دغه هېواد [افغانستان ،ژ.] او په تېره په ايران کې دترينگلتيا (بې ثباتۍ) په رڼا کې زموږ پر شاتگ به په سيمه کې دامريکا د متحدو ايالاتونو انډيوالانو ته داسې زيگنال ورکړي چې پر دغې سيمې گواکې دامريکا دگټو لپاره ديوې بې ارزښته سيمې په توگه « کرښه را ښکل شوې ده ».

دملي ،امنيت په برخه کې دامريکا د متحدو ايالتونو دولس مشر سلاکار ز. بريژنسکي په سي آی اې کې له خپل ځواکمن رول نه په گټې اخيستنې سره له مخالفينو سره دمرستې په برخه کې دپاکستان په خاوره کې دمېشت غالو اواډو په جوړولو کې ستر گامونه پورته کړل او په همدې موخه هغه په وار وار دپاکستان له مشرتابه سره ليده کاته هم وکړل.

نوموړي د ۱۹۷۸ کال په مې کې دچين له لومړي وزير د ن. سياوپن سره هم وکتل او له هغه سره يې دگډ امنيت د مسالو په برخه کې يو پوهاوی او تفاهم

ترلاسه کړ. البته دغه تړون هم د افغانستان په اړه و. سربېره پردې ز. بریژنسکي پردې بریالی شو چې دملي امنیت د شورا د سمون له ځانګړې کمېټې نه دځینو تتو جملو او عبارتونو درلودونکي یو لړ داسې لاسوندونه (سندونه) تېر کړي چې افغاني یاغیانو ته یې دسیاسي او مادي مرستو دزیاتولو لپاره بنسټیونه جوړول. هغه دغه راز وکولای شول دامریکا اداره پر دې قانع کړي چې دافغانستان حالات دامریکا لپاره ډېرې ارزښتناکې ښېګڼې له ځانه سره لري. په دې مانا چې «دا. د. ج. را پرځول به پاتې نړۍ او په تېره «د درېیمې نړۍ» ته وښيي چې دیوې هر و مرو لارې په توګه د تاریخ دسوسیالستي لارې په باب د شوروي اتحاد انځورنه (تصور) سمه نه ده».

دامریکا د ولس مشر سلاکار ددې ترس په وړاندې کولو سره هغه وخت آن ګومان هم نه شو کولی چې دیارلس کاله وروسته به نه یوازې افغانستان، بلکې پخپله شوروي اتحاد او دغه راز دختیزې اروپا نور هېوادونه چې «له دویمې نړیوالې جګړې نه وروسته یې دسوسیالیستي تاکنې (انتخاب) لار غوره کړې وه» له دغې لارې نه راوګرځي. البته په دې برخه کې نوموړي په خپله هم ډېرې هڅې وکړې چې دا کار رښتینی شي.

په کابل کې دامریکا دسفارت استازو د ۱۳۵۷ کال په اوړي کې دافغانستان له رسمي چارواکو سره په خبرو اترو کې مخامخ څرګنده کړه چې: «شوروي اتحاد ته دافغانستان زیات کېدون به دامریکا متحده ایالتونه دې ته اړ کړي چې هم له خپلو اندیوالانو دملاتړ دزیاتولو له لارې او هم دسنتو دبلاک په کارنده کولو سره په سیمه کې خپل دریځو نه لاپسې پیاوړي کړي». دغه راز دهند صدراعظم دیسای هم دغبرګولي پر میاشت د انګلستان له لومړي وزیر کالاګین سره دخبرو اترو په ترځ کې په دې اړه څرګند کړه چې: «لویدیز باید اړوند (لازم) لوري ته دافغانستان د حالاتو د ورسیخولو په اړه تدبیرونه ولټوي». انګرېزانو دغه شان وړاندیز کاوه چې پر کابل دې داقتصادي اغېزې له وسیلو نه پراخه ګټه واخیستل شي.

په دې لړکې له چين نه هم (افغاني) ياغيانو ته د وسلو لېږل پيل شول. بايد څرګنده کړم چې چين په تېره دافغان حکومت له خوا دهزاره ګانو د وهنې ټکونې (!) له امله چې پيکينګ ورته دخپلوانو په سترګو کتل ،دمخالفينو په ليکه ودرېد. دهزاره ګانو داستوګنې سيمې په دوديزه توګه دچين د اغېزې دسيمې په توګه ګڼل کېدې (؟). *

دپاکستان پوځي ادارې اودايران پاچاهي رژيم د ا. خ. د. ګ. له خوا د جوړشوي حکومت په وړاندې په څرګنده له دښمنۍ ډک دريځونه غوره کړل. له تهران نه داسې رپوټونه رارسيدل چې دايران مشرتوب د افغانستان په دولتي واکمنۍ او افغاني روحانيونو او قبايلو کې دمخالفتونو اورته پکې وهلو اودغه شان دکابل دنويو مشرانو تر منځ دګډليد له نشتوالي نه کارنده ګټې اخيستنې ته ډېر ارزښت ورکوي. له همدې امله وه چې دايرانيانو په پلانونو کې شيعه ګانو ته ځانګړې ځای ورکړ شوی و.

ايران ته د ۱۳۵۷ کال په غبرګولي کې دبهرني سياست په برخه کې د ضيا الحق سلاکار آغاشاهي دسفر پر وخت په ګوته شوه چې: « دغوېي د ۷ مې له کودتا نه وروسته افغانستان دبوفر دولت په توګه خپل {پخوانی} حيثيت له لاسه ورکړ، او په دې توګه شوروي اتحاد دهند سمندر داوبو په لوري يو بل ګام هم پورته کړ او اوس کولی شي چې هم تهران او هم اسلام آباد په خپله کړۍ کې را ښکېل کړي ». دواړو خواو د ن. م. تره کي ددې اعلاميې په باب چې «افغانستان به په آسيا ، افريقا او لاتينې امريکا کې دملي ، آزادی بښونکو غورځنګونو ملاتړ کوي » خپله ژوره اندېښنه ښکاره کړه. په دې لړ کې دايران پاچا « دپاکستان دبيا وېشل کېدو له ګواښ » سره د غوځې مخامختيا (مقابلې) په برخه کې خپل ملاتړ څرګند کړ. دغه مهال له پاکستان سره

---

* دلته نوروسي جنرال له واقعيتونو ډېر لرې تللی دی، په تېره بيا چې هزارګانو په هغو کلونو کې چندان زيانونه نه وو ليدلي. (ژ)

{دافغانستان ،ژ.} اړیکي له ړبرو ستونزو سره مخ کړو.

داسلام آباد پوځي کړیو دتره کې دحکومت د رانسکورولو په موخه دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت په پښبو کې دمخامخ پوځي لاسوهنو شونتیاوې ( امکانات) عملاً تر ښېړنې لاندې نیولې وې. آن تر دې چې دپاکستان دوسله وال پوځ ستر درستیز دځلورو میاشتو په ترڅ کې له واک نه د افغاني حکومت دلرې کولو پلان تر لاس لاندې نیولی و.

ددې پلان داتکل شوې پلې کیدنې په ترڅ کې لاربښوونه شوې وه چې دکندهار دنیولو لپاره دې دمنظم پوځ له ټولګیو نه ګټه واخیستل شي او راتلونکي پوځي عملیات دې پخپله دوسله والو مخالفینو له خوا پرمخ یوړل شي.

پاکستاني مشرانو چې پخوایې هم له افغاني حکومت ضد کړوالو نه ملاتړ کاوه د ۱۳۵۷ کال په پای او د ۱۳۵۸ په پیل کې یې دیوې « جبهې » په اډانه کې دمخالفو ځواکونو د راغونډولو لپاره هلې ځلې پیل کړې. له همدې امله دپاکستان په خاوره کې جوړ شوي دافغان کړوالو مېشت غالي ( کمپونه ) د ا.خ. د. ګ. درژیم دټولو دښمنو ځواکونو دجګړییزو ټولګیو دروزنې او سمبالونې په اډو بدل شول.

امریکایي څارګرو هم په پاکستان کې له {افغاني} حکومتي ضد مخالفینو سره کار ته چټکتیا ورکړه. آخواته دامریکا ولس مشر ج. کارتر له هغې سم له لاسه وروسته چې پاچا محمدرضا پهلوي ایران پرېښود د ۱۳۵۷ په مرغومي کې دګډ امنیت په باب دخبراترو په موخه د چین له لومړي وزیر دن سیاوپن سره وکتل. له دې سره جوخت دفارس په خلیج او دهند په سمندر کې د امریکا متحد و ایالتونو پوځي سمندري ځواکونه پیاوړي او دغه راز په سویل لویدیزه آسیا کې « د ژرغبرګون ځواکونو » دجوړولو پلان لاپسې چټک کړای شو، البته شوروي اتحاد هم له ا. د. ج. سره په خپلو مرستو کې تنګسیا نه راوسته، چې ښه بېلګه یې د ۱۳۵۷ کال دلیندۍ دمیاشتې تړون

ACKU

دی. افغاني مشرانو چې وروسته يې له شوروي اتحاد نه د ا. د. ج. ته دشوروي پوځونو دلېږلو په اړه غوښتنې کولې نو پرهمدې تړون او په ځانګړې توګه دهغه پرڅلورمې مادې به يې ټينګار کاوه. دنو موړي تړون په څلورمه ماده کې راغلي وو: «د واړه تړون کوونکي لوړ لوري چې دښه ګاونډيتوب او دوستۍ د دودونو او دغه راز دملګرو ملتونو دمنشور په روحيه چلند کوي، يو له بل سره به سلا مشورې کوي او د دواړو لوړو له خوښې سره سم به د دواړو هېوادونو دځمکنۍ بشپړتيا، خپلواکۍ او امنيت دسمبالتيا لپاره اړونده تدبيرونه نيسي. هغوی به په پوځي برخه کې د دواړو تړون کوونکو لوړو لورو دپوځي ورتيا دپياوړتيا په ګټه پخپلو منځونو کې د اړونده تړونونو دلاسليک کولو پر بنسټ دهمکارۍ ودې ته دوام ورکوي».

شوروي مشرانو هغه وخت دافغانستان راتلونکي ته په هيله مندۍ سره کتل او افغانستان يې په سويل کې خپل دادمن انډيوال ګاڼه. خو حالاتو هغه شان چې په شوروي اتحاد کې يې اټکل کېده وده ونه موندله او «انقلاب» خلکو ته په يوه لويه غميزه واوښت.

## د افغانستان په خلق ديموکراتيک ګوند کې د اختلافونو ژورتيا

دغويي له انقلاب نه سمدستي وروسته د ا. خ. د. ګ. په مشرتابه کې اختلافونو له نوي ځواک سره ځان راڅرګند کړ. خو داځل دغو ترېګنيو پر شخصي لويي (تکبر) برسېره دمنځته راغلو پېښو او له واک نه دګټې اخيستنې دځانګړتيا په اړه په ارزونو کې داختلاف اودراتلونکو لارو چارو دټاکلو له امله لا زور واخيست. دساري په توګه د ۱۳۵۷ کال له نيمايي نه وروسته د ح. امين په نوښت د ن. م. تره کي دشخصيت ستاينې زوې وکړل شول او په هېواد کې د «افغانستان دخلکو دپلار» د سراسري ځانځني فضا

رامنځته شوه . دا کار په داسې بڼه تر سره کېده چې د هغې له امله د ا . خ.د . گ. د مرکزي کمېټې د عمومي منشي باور گرځېدلی، په سره له منځه تلاله د ن.م تره کي په عکس پېښې راووتلې (؟) ، په ورځپاڼو کې به یې د هغه عکس له هغه سره په څنگ کې له ولاړو نورو کسانو نه لوی خپراوه ، په ټولو غونډو کې به د لارښود لې تر لږه پنځه عکسونه راځوړندېدل، په هغو کورونو کې چې نوموړي زېږېدلی او اوسېدلی و موزیمونه جوړ شول او داسې نور ).

له بده مرغه تره کي پر دغو ټولو کارونو باور درلود . له دې سره جوخت په هېواد کې د پرچمیانو د ځپلو لړۍ هم پیل شوه چې د بېر ژر یې لمنه د افغاني ټولنې نورو پاړکو او پوړونو ته هم وروغځېده . نور نو د کینو دیموکراتیکو او لیبرالو سازمانونو او ډلو غړي د روښاندو ( روښانفکرانو ) سوداگرۍ ، صنعتي پانگوالۍ او روحانیونو استازي او آن د خلق دا ړخ هغه غړي هم چې دریځو- -نوې دامین له دا سره توپیر درلود ، له فزیکي له منځه وړنې څخه په کرار نه وو.

په دې توگه نور « انقلاب » د هیله مندې سوکالۍ پر ځای د خلکو لمنې او ځولۍ له وژلو ، ترټلو ، زیانونو ، وینو ، زورزیاتي او نورو نادودو څخه ډکې کړې . له بل پلوه د ا . خ . د . گ . په منځ کې د پروجنبو ژورتیا پراردو باندې هم وژونکې اغېزه وښندله او په وسلوالو پوځونو کې یې د تره کیانو او امینیانو په نوم یو د بل ځلغلولو ته لاره پرانیستله . د « پاکولو » په بهیر کې زیات شمېر افسران او جنرالان له اردو نه گوښه کړای شول او ځینو یې آن سزاگانې هم ولېدلې . ژوندي پاتې شویو کسانو ته [ د هغوی د مشرانو له خوا ] لارښوونه وشوه چې ځانونه پټ او په وسله وال پوځ کې خپل دریځونه پیاوړي کړي .

د ح . امین د داشان چلند ښکاره لامل دغوي یي له کودتا نه وروسته د ب. کارمل له خوا یو لړ پورته شوي گامونه وو . د ا. د. ج . دانقلابي شورا دمشر دمرستیال په توگه له ټاکل کېدو وروسته ب . کارمل د ۱۹۷۸ کال په جون کې په پغمان کې د پرچمیانو کنگره جوړه کړه چې د هغې په ترخ کې د پرچمیانو له

خوا دواک دترلاسه کولو کې نلاره وتاکل شوه . داخبره بې له شکه د ح . امین غوړونو نه ورسېده او په دې اړه یې اړونده تدبیرونه ونیول . ب . کارمل له واک نه په پرله پسې توګه په ګوښه کېدو سره دېته اړ شو چې په چکوسلواکیا دسفیر څوکۍ « ومني » هغه دچکوسلواکیا سوسیالیستي جمهوریت ته تر روانېدو له مخه خپلو ملګرو ته وویل چې دی [هرومرو] بیا هېواد ته راستنېږي اوله سره بیرغ سره یوځای . له هغې نه اوه‌لس ورځې وروسته دپرچم نورو مشرانو هم په حکومت کې له خپلو څوکیو سره مخه ښه وکړه او دسفیرانو په توګه وټاکل شول . داسې چې : ن . ا . نور په واشنګټن کې ، ع . وکیل په لندن کې ، اناهیتا راتب زاد په بلګراد کې ، م . بریالی په پاکستان کې او د . نجیب په تهران کې . دغه راز س . کشتمند ، م . رفیع او د پرچم نور کارندویان (فعالین) چې په کابل کې پاتې شوي وو ، تر څارنې لاندې ونیول شول . خو دورې پر میاشت د ګوند یو زیات شمېر پېژندل شویو غړیو ته چې دغویي په « انقلاب » کې یې کارنده ونډه درلوده ، د دولت پر ضد دکودتا په ناروا تور دوسیې جوړې او پرېکړه وشوه چې هغوی باید پانسي شي.

خو یوازې دشوروي له پرله پسې مخ اړونو ( مراجعو ) وروسته وه چې د س . کشتمند ، ع . قادر او م . رفیع دپانسی حکم داوږدې مودې پر بند بدل شو . دنوموړو « تدبیرونو » دپلي کېدلو په ترځ کې دافغانستان دګوندي او دولتي اورګانونو دکارکوونکو جوړښت په غوڅه توګه بدلون وموند او په هغو کې دخلقي ډلې داستازو شمېر زیات شو . برسېره پر دې د دولت او اوردو پر لاربښوونکو څوکیو زیاتره پښتانه وټاکل شول.

د ۱۳۵۷ کال په پای کې د ا . د . ج . دواکمنې دلورو اورگانونو جوړښت

| دواکمنې اورگان | ټول غړي | خلقیان | پرچمیان |
|---|---|---|---|
| دا.خ.د.گ. دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو | ۷ | ۷ | |
| دا.خ.د.گ. مرکزي کمېټه | ۲۶ | ۲۰ | ٦ |
| انقلابي شورا | ٤٥ | ۳۹ | ٦ |
| حکومت | ۱۷ | ۱٤ | ۳ |
| ټول | ۱۰۵ | ۹۰ | ۱۵ |

خو دشوروي اتحاد کمونیست گوند دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو په افغانستان کې د پېښو له دا ټولې پر مختیا نه اندېښنه درلوده او له مسکو نه به تل دافغانستان مشرتابه ته په گوند او د ا . د . ج . په حکومت کې دیووالي او ملگرتیا د ساتنې په اړه غوښتنې مخابره کېدې . له همدې امله دشوروي اتحاد دکمونیست گوند د مرکزي کمېټې مسوولو گوندي کارکوونکو ددغو مسالو په اړوند کې دمرستې او له ن . م . تره کي او ح . امین سره دخبرو اترو لپاره ځو ځو ځله کابل ته سفرونه وکړل . برسېره پردې مسکو ته دافغاني مشرانو د سفرونو په ترڅ کې په لوړه کچه به هم ددغو ستونزو د له منځه وړلو په باب یادونې تر سره کېدې .

خو څرنگه چې دغه لاښوونې او سلامشورې په ډېره تشریفاتي بڼه وړاندې کېدې ، نو دافغانانو له خوا به چندان په پام کې نه نیول کېدې او که سپینه ووایم آن بیخي به رد بېدلې .

## لاسوند ( بیخي پټ ) (۱)

ا . ن . کاسگین : موږ ته دا خبره مهمه برېښي چې تاسې باید پخپل هواد

(۱) دلته او په راتلونکي کې په کتاب کې پر وړاندې شوو لاسوندونو باندې د « بیخي پټ » تاپه ( مهر ) ترسترگو کېږي . خو دغه مهر دنوموړو لاسوندونو دلیکلو پر وخت پرهغو لگېدلی و او اوس هغه ټول را برسېره شوي دي ، ل .

کې د رژیم د تولنیزو ستنو پر پراخولو کار وکړئ. خلک خپل لوري ته را واړوئ او دحکومت او خلکو د پردي کېدو مخه ونیسئ او په پای کې وروستۍ خبره. زه هغه د شړنې لپاره نه ،بلکې دیوې هیلې په توګه کوم او هغه دا چې تاسې باید له خپلو کادرونو سره ډېر په احتیاط او زړه سوي سره چلند وکړئ. کادرونه باید وساتل شي او له هغوی سره یو زړی ( انفرادي) چلند وشي. مخکې له دې چې پر هغوی کومه ټاپه ووهل شي باید دهر یوه په باب هر اړخیزه اوښه څېړنه تر سره شي.

ن.م. تره کی : آیا ستاسو موخه افسران او جنرالان دي ؟

ا . ن. کاسګین: زما موخه هم افسران ،هم جنرالان اوهم سیاسي شخصیتونه دي. خو تکراروم چې زه دا خبره د بحث لپاره نه کوم، بلکې یوازې زموږ هیلې تاسو ته بیانوم.

ن.م. تره کی : په ټولیزه توګه موږ هڅه کوو چې له خپلو کادرونو سره له زړه سوي نه ډک چلند وکړو خو دهرات پېښو وښوده چې « اخوان المسلمینو» زموږ چاپېریال ته لاره موندلې خو پر هغو کسانو چې په رښتینې توګه له موږ سره دي موږ ټاپې نه وهو.

ا.ن کاسګین : موږ پرتاسو هېڅ ډول نیوکه (اعتراض) نه لرو. موږ یوازې غواړو ووایوچې په کادري سیاست کې تېروتنې ډېرې ګرانې لوبېږي. موږهغه پرخپل ځان احساس کړي دي. لکه چې تاسو پوهېږئ دستالین په وخت کې زموږ زیات شمېر افسران په زندانونو کې پراته وو، خو کله چې جګړه ونښته،ستالین اړو چې هغوی جبهې ته ولېږي . [هلته]دې خلکو ځانونه درښتینو اتلانو په څېر راڅرګند کړل اوزیات شمېر یې آن دسترو قوماندانانو پوړیو(رتبو) ته ورسېدل. موږ ستاسو په کورنیو چارو کې لاس نه وهو، بلکې غواړو یوازې له کادرونوسره له زړه سوي نه دډک چلند په باب خپل لید وړاندې کړو...( په مسکو کې له تره کي سره دخبرو اترو له موادو څخه د۱۹۷۹ کال مارچ).

ل. ای برژنف هم پخپل وار په اردو کې له وهلوټکولو څخه ډډې کولو ته د ن.م. تره کې پام راواړوه.دشوروي اتحاد دکمونست ګوند دمرکزي کمېټې

عمومي منشي د ۱۳۵۷ کال په کب کې له نوموړي سره دخبرو اترو په ترځ کې وویل : « البته ټولههڅه ددې لپاره په کار ده چې اردو دانقلابي واکمنۍ تر څنگ ټینگ ودریږي او ددې کار لپاره باید هیڅ شی ونه سپمول شي . دا چې په منځته راغلو حالاتو کې دې څه ډول چلند غوره شي ، تاسو ـ ې پخپله ښه پوهیږئ . غوښتل مې دیوه ټکي یادونه وکړم. [او هغه دا چې اخبره ډېره] مهمه ده چې قوماندان باید دخپل دریځ (موقف) پر ټینگتیب باندې د ډاډ احساس ولري . له هغه پوځ نه ډېره تمه لرل هسې خوشې کار دی چې قوماندانان یې ژر ژر بدلیږي را بدلیږي. دا خبره په تیره بیا هغه وخت د ډېرې پاملرنې وړ گرځي چې دقوماندانانو له گوښه کولو سره دهغوی بندیانول هم مل وي. ډېر قوماندانان چې پر دې پوه شي چې ملگري یې څنگه بندیان او تري تم کیږي ،نو پر خپلې راتلونکې باندې باور له لاسه ورکوي . ددې ټولو خبرو مانا نه ده چې گنې هغه چا ته دې هم سزا نه ورکول کیږي چې انقلابي واکمنۍ ته دنه وفادارۍ په باب یې کره ثرگند نښې (جدي شواهد) په لاس کې وي خو داوسله [توره] ډېره تیره ده او له هغې نه باید ډېر سوکه کار واخیستل شي.... »

**لاسوند (پټ)**

« ښاغلی ملگری تره کی !

... موږ پوهیږو چې ډېرو نازکو (حساسو) پوښتنو ته گوته وروړو ، خو داکار زموږ دگوندونو تر منځ له باور او ملگرتیا نه له ډکو اړیکو سرچینه اخلي . لومړۍ پوښتنه چې غوښتل مو ورانډې یې کړو هغه د و . ای . لینن په وینا دوگړنیزې واکمنۍ « دیوه سم او ټینگ سازمان » دمنځته راوړلو اړتیا ده چې پر قانونولۍ او ټینگې حقوق ساتنې ولاړ وي . دانقلابیونو لپاره دواک له تر لاسه کولو نه وروسته لومړۍ خبره همدا د ادارې زده کړه ده او بس... خو تر هغه ځایه چې موږ ته پته ده دنوې واکمنې دچوړولو کار له ولایتي کچې نه یو گام هم وراندې نه دی تللی . په کلیو او لرې پرتو باندو کې خو څه چې آن په سیمه ییزو برخو (علاقداریو) او ولسوالیو کې هم دوگړنۍ واکمنۍ استازي درک نه لري .

ساده وګړي او زيار کښان نه پوهېږي چې دخپلو ستونزو د له منځه وړلو لپاره چاته ورشي . په سيمو کې دچارو واګې لا تر اوسه دملايانو ،څمکه والو او خانانو په لاس کې دي . زموږ په اند [اوس] په کلکه توګه ددې اړتيا احساسېږي چې به بېلو بېلو کچو دواکمنۍ دسيمه ييزو اورګانونو داسې يو سيستم بايد جوړ شي چې هم له مرکزي واکمنۍ سره ټينګ اړيکي ولري او هم د زيارايستونکو ،ملي او هېواد پالونکو ځواکونو استازي پکې ورګډ وي ....

..... اوس ډېره مهمه ده چې دواکمنۍ دټولنيزو - سياسي ستنو د پراخولو لپاره له هر شوني ( ممکن) کار او دانقلاب د برياوو د ساتلو لپاره دټولو هغو ځواکونو له يو موټي کولو څخه ګټه واخيستل شي چې په ربښتينې توګه له ديموکراتيکو بدلونونو سره مينه ولري.

بايد دانقلاب دټولنيزو ستنو کمزوري کولو اوتنګولو ته ګرد سره اجازه ورنکړل شي .... يوازې دګوند او وګړنۍ واکمنۍ پراختيا کولی شي چې دافغانستان په وړاندې دولاړو ستونزو دسياسي اواري بنسټ جوړ کړي.

په دې اړه مې غوښتل جوته کړم چې په سيمو کې يو شمېر اداري او ګوندي کارکوونکي دغه دنده په پام کې نه نيسي ،له وګړو سره اړيکي نه شي پاللی ، هغوی له سيمه ييزو دودونو او رواجونو سره له درناوي نه ډک چلند نه کوي د ينپالو خلکو احساساتو ته سپکاوی کوي ،له دين سره بې اړتيا نيوکيز (انتقادي ) چلند کوي او دغه راز له ملي لړه کيو سره هم چې دافغانستان دوګړو زياته برخه جوړوي ،ناسم چال چلند کوي . ( ؟ )

برسېره پردې دواليانو په ګډون يو شمېر داسې چارواکې هم شته چې له خپلې شوکۍ نه ناوړه ګټه اخلي ،له خپل واک نه زياتې پښې غځوي او ځان آن د بډو خورو کچې ته راټيټوي .

... موږ په دې باور يو چې نور نو دافغانستان انقلاب هغه پړاو ته رسېدلی چې دټولو دولتي اورګانونو دندې بايد دقانون ،هو دټينګې قانون ساتنې پر بنسټ ولاړې وي .

... [ لەبلەپلوە ] دا منیتي اورګانونو ډېر شمېر کارکوونکي او ګوندي چارواکي ( فعالین ) لا تر اوسه یوازې پر خپل « انقلابي اندود » ( تفکر ) باندې تینګار تەدوام ورکوي. ددې کارونو پایله بەخود لە بې بنسټە خو پە پراخە توګەدخلکو لەوهلو تر ټلو او پەناحقە خبرو، وړو وړو شکونو او نا معلومو رپوټونو باندې دګڼ شمېر وګړو لەبندي کولو څخە پرتە بل څەنەوي.

داسې ښکاري، ملګریە ترەکیە، چې داشان فکتونە چې دناکرارۍ [اندېښنې] سبب ګرځي لکەچې تاسو تەنەدر رسېږي. دساري پەتوګە پە کندهار کې دوګړو دسر شمېرنې پرخلاف دمظاهرەکوونکو لەډلې نە ۳۳ تنە ووژل شول اودترینکوټ پەښار کې [ ستاسو ملګرو ] ۳۰ تنەیاغیان چې خپلې وسلې یې پر ځمکە ایښې وې، دخلکو مخې تە غلبېل غلبېل کړل.

پەهزارە جاتو کې هم « دهېواد پالو » ډلو غړو خلک پەپراخە توګە ډګري ( صحرایي ) محاکمە کړل، ویې ځپل او مالونەیې لوټ او تالا کړل. ډېر ځلې داسې هم شوي چې دمسوولو کسانو پەامر دخلکو داستوګنې سیمې تر ناسنجول شویو ډزو لاندې نیول شوي او یا خو بیخي داور پەلمبو کې لولپە شوي دي. ددې خبرې زیاتول، ملګریە ترەکیەدومرە ګران کار نەدی، خو داشان پراخە وهنې ترټنې بې غبرګونە نەشي پاتې کېدای.

..... کەسپینە یې درتەووایم نو د پرچمیانو د پرلەپسې وهلو تر ټلو لړۍ موږ پەاندېښنە کې اچولي یو. موږ تېر کال هم پر دې سکالو ( موضوع ) لە تاسو سرەخبرې کړې وې او د ا. خ. د. ګ. مشرتابە تەمو ویلي وو چې دپرچمیانو پەګډون بەدخپل سرو وهلو ټکولو لړۍ تەدپای ټکي ږدي او هغوی بەپە ګوندي، دولتي کارونو کې ګډون تەوربولي. خو لە بدە مرغە دغەکارونە ترسرە نەشول.

ملګری ترەکی! موږ پەدې باب یوځل غبرګ شوي یو او غواړو چې پەپورە څرګندتیا سرە یو وار بیا پەډاګە کړو: دډلە ییزو وهلو ټکولو تجربە اودقضا لە منل شویو معیارونو نەسرغړونەهم پخپلە افغانستان اوهم د وګړنې واکمنۍ

باور او حیثیت ته ستر اخلاقي او سیاسي زیان رسوي.

هو! موږ بیخي په همدې باور یو.

..... باید په ډاګه کړو چې دافغاني انقلاب لپاره داسې یوه بنسټیزه ډنده لکه دروحانیونو په منځ کې درزاچول او دهغوی شنډول ( بې طرفه کول) ، خپلې خوا ته د دینپالو خلکو راماتول اودهغوی له منځ نه دانقلاب ضد کسانو ګوښې کول ( تجریدول) تراوسه لا نه دي تر سره شوي. برعکس دغه ستونزه له پخوا نه لا ډېره ستوغه شوې ده. اسلام هغه جنډه ده چې انقلاب ضد په بریالۍ توګه هڅه کوي دهغه په مرسته پرګنې پرڅان راماتې کړي.

ددې خبرې یادول هم اړین بولو چې دا . د.ج . حکومت باید دمادي دا په ګډون یو لړ داسې تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي چې دهغو په مرسته دمسلمانو روحانیونو په منځ کې درز رامنځته او دهغوی تېټ او منځني پوړونه دانقلابي واکمنۍ خواته ورمات شي . دغه راز باید اسلامي دودونو ته درناوی او د دیني رواجونو دآزادانه ترسره کولو په باب هم په زغرده اعلان وشي او په ډاګه شي چې ټول هغه کسان چې دمذهبي ګروهو ( عقیدو ) پر بنسټ څوک وځاري او یا د دیني مناسکو او نورو دترسره کولو په برخه کې خنډونه رامنځته کړي نو کلکه سزا به ورکړه شي.

ښاغلی ملګری نور محمد تره کی ، موږ پردې باور لرو چې تاسې اوستاسو ملګري به زموږ دغه وړاندیزونه په پام کې ونیسي او پر هغو انګېزو چې ددې کارسبب شوي [ تاسو پخپله ] ښه ترا پوهېږئ » .

( له تره کی سره دخبرو اترو له موادونه ، د ۱۹۷۹ کال جون ) .

خو ن . م . تره کي دشوروي سوسیالستي جمهوریتونو اتحاد د مشرتابه سلامشورو ته غوږ نه نیوه او ویې نه شو کړای چې په دې باب اړونده ګامونه پورته کړي ، داخولا څه چې آن دخپل ډېر نږدې ملګري پر [کرکټر یې هم سر نه خلاصېده ، که څه هم چې د ح . امین په باب یې دشوروي مشرانو لومړنۍ هیښوني ( اخطارونه ) پر خپل وخت یانې آن پر ۱۳۵۷ کال ترلاسه کړې وې

خو نوموړي هغه خپل « وفادار شاګرد اوتکړه ځای ناستونکی » باله او له دې امله یې آن خپل سر هم بایلود . لکه چې څرګنده ده ، دانقلاب مینان پخپله داوږدې مودې لپاره د واک پرګدی نه پاتې کیږي خو له دې امله یې د رسولی} زیان اندازه تل ډېره زیاته وي.

خو له دې ټولو سره سره شوروي اتحاد هغه مهال له افغانستان سره پراخه مرستې او سیاسي ملاتړ کاوه . دبېلګې په توګه د ۱۳۵۷ کال دغویي ،کب دمیاشتو په بهیر کې په مسکو او کابل کې دافغانستان له دیموکراتیک جمهوریت سره داقتصادي مرستو په برخه کې ۷۵ تړونونه لاسلیک شول چې افغانستان ته د ۴۵۰۰ سلاکارانو لیږل هم پکې راتلل .البته ددغو ټولو کارونو لګښت دشوروي اتحاد په غاړه و .

**لاسوند**

**د ۱۳۷ لمبر پروتوکول د ۲۷ م توکي په اړه**

**ځانګړې دوسیه ( بیخي پټ)**

دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد د وزیرانو شورا ا . . اس - ۴۱ لمبر لاربښوونه

د ۱۹۷۹ کال دجنوري ۷ مه

مسکو - کریملن

۱- دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دحکومت له غوښتنې سره سم او دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد د وزیرانو شورا د ۱۹۷۸ کال دنومبر د ۲۰ مې نیټې ۲۴۷۳ لمبر پرېکړې په لړ بذلون سره دې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت په وسله والو پوځونو کې دکار لپاره دشوروي کارپوهانو له لګښت سره چې دشوروي لوري په غاړه به وي خو ښاوي وشي ...

دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد دوزیرانو شورا - ۳

۱. کاسګین

# دويم پارگی

## افغانستان ته د پوځونو دلېږلو په باب

### ستونزمنه پرېکړه

افغاني مشرانو په داسې حال کې چې په افغانستان او دهغه په شاوخوا کې کړکېچ مخ پر زياتېدو و ،له شوروي اتحاد نه د ا . د . ج . ته د پوځونو داستولو په باب خپلو غوښتنو ته لازوروکړ . دا غوښتنې په کابل کې دشوروي أستازو لکه په افغانستان کې دشوروي اتحاد دلوی سفير او فوق العاده استازي ا . م . پوزانوف ، دشوروي اتحاد د کې جي بې داستازي جنرال ب . س . ايوانوف ، دافغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې دلوی پوځي سلاکار جنرال ل . ن . گاريلوف له لارې او دغه راز دهغو گوندي او دولتي شخصيتونو له خوا چې افغانستان ته به په سفر تلل ( ـ لکه دشوروي اتحاد د دکمونيست گوند دمرکزي کمېټې دمنشي ب . ن . پوناماريوف ، دشوروي اردو

او سمندري پوغ دسياسي چارو لوی پاسوال ستر جنرال ا.ا.ا ایپیشیف ، دپلیو ځواکونو دلوی قوماندان ستر جنرال ای. گ. پاولوفسکي او نور ) وړاندې کېدلې.

برسېره پر دې په لوړه کچه دګوندي او حکومتي پلاوو دلېږدنو کتونو پر وخت به هم افغاني مشرانو پخپله ل. ای. بریژنف او همداشان د.ف. او ستینوف ،ا.ا. ګرومیکو ،یو. و. اندروپوف او دشوروي اتحاد د کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو نورو غړو ته دپوځونو دلېږلو په باب خپلې غوښتنې وړاندې کولې.

په دې توګه افغاني واکمنو هڅه کوله چې دشوروي اتحاد پښه دخپل هېواد دکورنيو ستونزو آواري ته وروښويي. هو ،هغوی په پای کې پردې کار بریالي هم شول.

د ۱۳۵۷ کال دسلواغې اوکب په مياشتو کې په افغانستان کې یو لړ داسې مهمې پېښې را منځته شوې چې دافغانستان پر حالاتو یې غوځه اغېزه وښندله او دهغو دوروستيو ( عواقبو ) لمن خو آن له دې نه هم پراخه وه. دساري په توګه دسلواغې پر ۲۵ مه په کابل کې دامریکا سفير ادولف ډابس وتښتول شو او دکابل هوټل په ۱۱۷ کوټه کې د ترويستانو له خوا يرغمل ونيول شو.

تښتوونکو چې ( « دملي ستم » دمائويست ډوله ډلې غړي وو ) دسفير په بدل کې له حکومت نه دخپلو دريو تنو جنګيالیو چې په زندان کې وو ،د خوشې کولو غوښتنه کوله. خو دهغوی شرطونه ونه منل شول. له غوڅو پرېکړو اوګامونو نه د مخنیوي په باب دامریکا او شوروي له غوښتنو سره سره د [افغانستان] دڅارګرۍ اداري د ح. امين په امر پر هوټل يرغل وکړ. کله چې ډزې ونښتې نو دامریکا سفير په کې مرګوني ټپي [او په پای کې مړ] شو. دا کار ددې سبب شو چې دامریکا دمتحدو ایالتونو په پالیسۍ کې دې غوڅ بدلون رامنځته شي او له افغانستان سره دامریکا مرسته خو عملاً صفر ته

راولوېده . برسېره پر دې امريکا نړۍ دې خپل ټول کارکوونکي او کارپوهان له دغه هېواد نه ور وغوښتل . ځينې څېړونکي پردې ليد دي چې د دغې پېښې (دسفير دوژل کېدو ، ژ.) ډېر اړخونه لا تر اوسه هم تياره پاتې دي ، ځکه پخپله دسفير کرکټر هم له ځينو حيرانتياوو څخه ډک و ( لکه دا چې سفير بې له ساتونکو گرځېده ، کله کله به يې له ځانه سره سفري بکس هم گرځاوه ، نابلده کسانو ته به يې خپل موټر دراوه او په خپله به يې دخپل موټر دروازه ورته پرانيستله ، په داسې حال کې چې دروازه داسې جوړه شوې وه چې يوازې له دننه څخه پرانيستل کېده او داسې نور ) .

له دغې پېښې ورووسته دکب پر ۲۳ مه په هرات کې دخلکو له خوا ( چې دشلو زروتنو په شا وخوا کې کسان په کې وو ) يوه حکومتي ضدبلوا جوړه شوه ، چې دقوماندانانو په نوبت په هغې کې دپوځي گارنيزيون ځينو ډلو ، ډلگيو هم کارنده ونډه واخيسته . په دغې پېښې کې د زرو تنو په شاوخوا کې کسان او په هغې ډله کې دوه شوروريان هم ووژل شول ( لومړنی وژل شوی پوځي جگړن ن . يا . بيز يوکوف و ) . نومـوړې پېښې افغاني مشـران ډېر زيات اندېښمن کړل او سم له لاسه يې دشوروي پوځونو د ورلېږلو غوښتنه وکړه .

څرنگه چې حالات نامعلوم وو نو دشوروي اتحاد د دفاع وزير د . ف . اوستينوف په امر له افغانستان سره گډې پولې ته په څېرمه سيمو کې يو لړ مانورې پيل شوې . نوموړې ستر درستيز ته امر وکړ چې د اړتيا په وخت کې دې دراشکته کولو ( ديسانت) لپاره د هوايي ديسانت يوه فرقه او دغه راز دې [ افغانستان ] ته دلېږلو لپاره درې هوايي غونډونه چمتو شي او دترکستان په پوځي سيمې پورې اړوند دخپل همېشني پرېوت په سيمه کې دې هم دټانک په يوه غونډ او موټرېزه غونډ کې دپوځي چمتووالي او تيارسی کچه او چته کړای شي . سربېره پردې دمنځنۍ آسيا له پوځي سميې څخه دې يوه فرقه دترمز سيمې ته ولېږل شي .

په همدې لړ کې د شوروي اتحاد دکمونيست گوند دمرکزي کميټې سياسي



ACKU

بیورو هم د ل . ای . برژنف پر وړاندیز دخپلو درې ورځنیو غونډو په ترځ کې دهرات د اړو دوړله امله په افغانستان کې منځته راغلی حالت او دغه راز په هرات کې دپوځي پاڅون دځپلو لپاره دشوروي پوځونو دلیږلو په اړه غوښتنه ترڅیړنې لاندې ونیوه .

په لومړي سرکې د . ف . اوستینوف ته وړاندیز وشو چې یوځو پوځي ټولګي دې جوړ او دهغوی دندلیک ( مقرره ) دې هم برابر کړي او دې ته باید چمتو وي چې له ځانګړي امر سره سم [ افغانستان ] ته ولیږل شي . دشوروي اتحاد د دفاع وزیر پخپل وار په دې اړه خپل لید داسې څرګند کړ :« دپوځي کړنې ( عمل ) په اړه موږ پر دوو وریانتونو کار کړی دی: لومړی دا چې موږ دیوې شپې ورځې په ترځ کې ۱۰۵ هوایي فرقه افغانستان او یو پلی او یو موټریزه غونډ کابل ته لیږو، ۶۸مه موټریزه فرقه دپولې خواته ورځکوو او ۵ مه موټریزه فرقه به پولې ته څېرمه دتیارسئ په حال کې وي . په دې توګه به موږ د دریو شپو ورځو په ترځ کې دپوځ لیږلو ته په بشپړه توګه چمتو اوسو . خو سیاسي پرېکړه چې دلته وربانديې دېرې خبرې وشوې هغه وخت ونیول شي چې ... موږ دویم وریانت هم لرو او هغه هم چمتو دی . دهغه له مخې موږ خپلې دوه فرقې افغانستان ته ورلیږو ...... »

له دې سره جوخت ا . کاسګین ته دنده ورکړ شوه چې له ن . م تره کي سره خبرې وکړي او معلومه کړي چې هغه دافغانستان دحالاتو په باب څه اند لري او دغه راز د فاع وزیر ته اجازه ورکړ شوه چې د شوروي اتحاد او افغانستان تر منځ په پولې کې دوه فرقې ځای پر ځای کړي . هماغه وچې دکب پر ۲۶ مه د کاسګین او ن . م . تره کي تر منځ ټلیفوني خبرې اترې تر سره شوې .

**لاسوند ( بیخي پټ )**

**ځانګړي دوسیه .**

ا . ن . کاسګین ملګري تره کي ته وواییځ چې زه غواړم هغه ته دلیونید ایلیچ [برژنف] او دسیاسي بیورو دټولو غړو سلامونه وړاندې کړم .



ACKU

ن . م . تره کی : ډېره مننه .

ا .ن . کاسګین : دملګري تره کي روغتیا ښنګه ده ؟ ډېر خوبه نه وي ستړی شوی ؟

ن . م . تره کی : نه ، ستړی کېږم نه ، نن دانقلابي شورا غونډه وه . ا . ن . کاسګین : دا خو ډېر ښه کار وشو ، زه ډېر خوشحاله شوم . له ملګري تره کي نه هیله وکړئ چې که دافغانستان پر حالاتو څه رڼا واچوي . ن . م . تره کی : حالت چندان ښه نه دي ، لاپسې خرابېږي . ایراني لوري د وروستي یوې نیمې میاشتې په ترڅ کې د ۴۰۰۰ تنو په شاوخوا پوځیان په ملکي جامو کې رالېږلي وو چې دهرات ښار او پوځي ټولګیو ته یې لاره وکړه . اوس د توپچي غونډ او دافع هوا ټولګي (بطریې) په ګډون چې زموږ پرالوتکو ډزې کوي دهرات ۱۷ پلي فرقه ګرد سره دهغوی په لاس کې ده . په ښار کې هم جګړه روانه ده .

ا . ن . کاسګین : په فرقه کې څو تنه دي ؟

ن . م . تره کی : تر ۵ زره تنو . ټول مهمات او زېرمتونونه هم دهغوی په لاس کې دي . اوس موږ خپلو هغو ملګرو ته چې له دوی سره پر جګړې اخته دي له کندهار نه په الوتکو کې خوراکي مواد او مهمات لېږدوو .

ا . ن . کاسګین : تاسو ته اوس هلته څو تنه درپاتې دي ؟

ن . م . تره کی : ۵۰۰ تنه ، هغوی دفرقې دقوماندان ترمشرۍ لاندې دهرات په هوایي ډګر کې ځای پر ځای شوي دي .

موږ دهغوی ملاتړ ته یوه او پراتیفي ډله له کابل نه په الوتکو کې ورولېږله . نوموړې ډله نن سهار دهرات په هوایي ډګر کې ځای پر ځای شوه .

ا . ن . کاسګین : آیا دفرقې افسران هم په دغه خیانت کې لاس لري او که دهغوی کومه برخه له فرقه مشر سره په هوایي ډګر کې ده ؟ ن . م . تره کی دهغوی یوه کوچنۍ برخه له موږ سره ده ، خو پاتې یې له دښمن سره ولاړ دي .

ا . ن . کاسګین : آیا دهرات دکارګرانو ، دښار دهتیوالو او کارکوونکو (مامورینو ) له خوا له تاسو سره ملاتړ کېږي ؟ آیا نور څوک هم ستاسو تر

څنګ ولاړ دي ؟

ن.م. تره کی : دخلکو کارنده ملاتړ له موږ سره نه شته .هغوی په بشپړه توګه دشیعه شعارونو تراغېز لاندې راغلي . [ هلته] داسې پروپاګند کېږي چې :« پر بې دینانو باور مه کوئ ،راځئ زموږ ترشا ودرېږئ ».

ا.ن. کاسګین: په هرات کې څومره وګړي ژوند کوي ؟

ن.م. تره کی : ۲۰۰-۲۵۰ زره تنه . هغوی له حالاتو سره سم ځان برابروي او پر هر لوري پې چې بیایې هغې خواته ځي . اوس هغوی د دښمن پر خوا دي.

ا.ن. کاسګین: هلته کارګران څومره دي؟

ن.م. تره کی: ډېر لږ ،ټول ټال زر ،دوه زره تنه .

ا.ن. کاسګین: تاسو دهرات د ملونکې څنګه وینئ ؟

ن.م. تره کی: موږ ګومان کوو چې نن ماښام یا سبا سهار به هرات زموږ له لاسه ووځي ،او په بشپړه توګه به د دښمن لاس ته ورشي.

ا.ن. کاسګین: له هغې وروسته به څه پېښېږي؟

ن.م. تره کی: موږ باور لرو چې دښمن به نوي ټولګي جوړ او برید ته به همدا شان دوام ورکړي.

ا.ن. کاسګین: آیا تاسو دومره ځواک نه لرئ چې هغوی وځپئ ؟

ن.م. تره کی: کاشکې چې درلودای مو . . .

ا.ن. کاسګین: تاسې په دې اړه څه وړاندیز لرئ ؟

ن.م. تره کی : موږ هیله کوو چې تاسو له موږ سره دسړیو او وسلو په برخه کې کرندهاو تخنیکي مرسته وکړئ .

ا.ن. کاسګین : داخبره ډېره ستونزمنه ده .

ن.م. تره کی : که دا کارونه شي ،نو یاغیان به دکندهار او وروسته به دکابل پر خوا راوخوځېږي . هغوی به دهرات فرقې تر بیرغ لاندې نیم ایران افغانستان ته راولي . [ له بلې خوا ] پاکستان ته تبنتېدلي افغانان به هم بېرته



ACKU

راوگرځي .ایران او پاکستان زموږ پر خلاف ګډپلان لري. له همدې امله که تاسې اوس پر هرات په رښتیا سره ګوزار وکړئ ، نو انقلاب به وژغورل شي.

ا . ن . کاسګین : پر دې خبره به سم له لاسه تول نړۍ خبره شي . [ ځکه چې ] یاغیان مخابرې په واک لري او سم له لاسه به خبر ورکړي.

ن . م . تره کی : زه هیله کوم چې له موږ سره مرسته وکړئ .

ا . ن . کاسګین : موږ باید په دې اړه پخپلو کې سلا مشوره وکړو.

ن . م . تره کی : تر هغې چې تاسو سلامشورې کوئ هرات به زموږ له لاسه وتلی وي او په دې توګه به هم دشوروي اتحاد او هم افغانستان لپاره له دې نه نورې هم زیاتې ستونزې رامنځته شي.

ا . ن . کاسګین : کېدای شي چې اوس تاسو دپاکستان اودغه راز د ایران په باب خپل اټکل ماته ووایئ ؟ آیا د ایران له چارواکو سره اړیکي نه لرئ ؟ تاسې نه شئ کولی هغوی ته ووایئ چې دهغوی ستر دښمن اوس متحده ایالتونه دي . ایران پر متحده ایالتونو باندې ډېر په غوسه دی او له دې کار نه باید پر تبلیغاتو کې ګټه واخیستل شي.

ن . م . تره کی : موږ نن دراډیو له لارې دایران دحکومت په باب یوه اعلامیه ومنله ( تصویب کړه) اوهغه موخپره کړه . په هغې کې موویلي چې ایران نه دهرات په سیمه کې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.

ا . ن . کاسګین : آیا تاسو اړینه نه بولئ چې دپاکستان په اړه هم یوه اعلامیه خپره کړئ ؟

ن . م . تره کی : سبا یابل سبا به دپاکستان په اړه هم ورته اعلامیه خپره کړو.

ا . ن . کاسګین : آیا له خپل اردو نه مو ډه ډه کېدای شي ؟ د هغه ډاډ منتیا څنګه ده ؟ تاسو نه شئ کولی چې [ یو شمېر ] پوځونه راټول او پر هرات ګوزار وکړئ ؟

ن .م . تره کی : موږ پر خپل اردو ډاډ لرو . خو داچې موږ دې له نورو ښارونو

نه پوځونه راتول او هغه هرات ته ولېږو دا کار نه شو کولی ، ځکه چې په دې توګه په نورو ښارونو کې زموږ دریځونه کمزوري کېږي.

ا . ن . کاسګین : او که موږ ډېر ژر نوري الوتکې او وسلې تاسو ته درکړو ، نو تاسې نه شئ کولی چې نوي ټولګي جوړ کړئ؟

ن . م . تره کی : دا کار ډېر وخت غواړي او تر هغې به هرات زموږ له لاسه وتلی وي .

ا . ن . کاسګین : که هرات مو له لاسه ووځي نو ستاسو په اند آیا پاکستان به هم له خپلې پولې نه ورته هڅې پیل کړي؟

ن . م . تره کی : ددې کار کېدون ( احتمال ) ډېر زیات دی . د پاکستانیانو مورال به له دې وروسته ډېر اوچت شي . له بله پلوه امریکایان هم له هغوی سره اړونده مرستې کوي . دهرات له لاسه وتلو وروسته به [هغوی] هم خپل سر تېرې په ملکي جامو کې رالېږي او ښارونه به [ یو پر بل پسې ] نیسي او ایرانیان به هم په کارنده توګه لاسوهنې کوي . په هرات کې [ د دښمن ] برې دجګړې په اړه ټولو پوښتنو ته دکونجي ( کیلي ) حیثیت لري.

ا . ن . کاسګین : تاسې له موږ نه دبهرني سیاست په ډګر کې دځه ډول کوښښونو او اعلامیو تمه لرئ ؟ آیا تاسې په دې اړه د تبلیغاتي کار په باب کوم لیدونه او وړاندیزونه هم لرئ ؟

ن . م . تره کی : باید تبلیغاتي او کړنده ( عملي ) مرستې سره یو ځای شي. زه وړاندیز کوم چې تاسو پر خپلو ټانکو او الوتکو افغاني نښانونه ونښلوئ او په دې توګه به هیڅوک هم هغه ونه پېژني . ستاسو پوځونه کېدای شي چې دکشک او کابل له لورو [ هرات] ته ورشي.

ا . ن . کاسګین : تر کابله دررسېدل خو هم څه اسان کار نه دی.

ن. م . تره کی : دکشک او هرات تر منځ دومره واټن نه شته او کابل ته کېدای شي چې پوځونه په الوتکو کې راوړل شي. که تاسو کابل ته پوځونه راولېږئ او هغه له کابل نه هرات ته لاړشي ، نو زموږ په اند هېڅوک به هم پرې

خبر نه شي. [ خلک ] به فکر کوي چې داګنې حکومتي څواکونه دي.

ا . ن . کاسګین : زه نه غواړم تاسې خواشینی کړم ،خو ددې کار پټول ناشوني دي. له دې کار نه به دوه ساعته لا نه وي تېر چې ټوله نړۍ به پرې خبره وي. ټول به نغارې ډنګوي ،چې هغه دی شوروي اتحاد په افغانستان کې لاسوهنه پیل کړه . تره کی ته ووائی چې که چېرې موږ کابل ته په الوتکو کې وسلې او ټانکونه درولېږو نو تاسو ورته ټانکیستان پیدا کولی شئ که نه ؟

ا . ن . تره کی : ډېر لږ .

ا . ن . کاسګین : څومره ؟

ن . م . تره کی : کره معلومات راسره نه شته .

ا . ن . کاسګین : که چېرې موږ ډېر ژر په الوتکو کې ټانکونه ، داړتیا وړ مهمات اوهاوانونه درولېږو نو تاسو ورته داسې مسلکي کسان موندلی شئ چې له هغو نه ګټه واخلي ؟

ن . م . تره کی : زه نه شم کولی چې ددې پوښتنې ځواب درکړم . ښایي شوروي سلاکاران هغې ته ځواب ووایي.

ا . ن . کاسګین : له دې نه داسې ښکاري چې په افغانستان کې ښه روزل شوي پوځي کادرونه نه شته او که وي هم نو شمېرېې ښخي لږ دی. په شوروي اتحاد کې په سلګونو افغاني افسرانو زده کړه ترسره کړې . هغوی ټول څه شول ؟

ن . م . تره کی : دهغوی ګڼ شمېر ارتجاعي مسلمانان ، اخوانیان او یا په بله ژبه اخوان المسلمین دي . موږ نه شو کولای پر هغوی تکیه وکړو . هغوی دباور وړ نه دي.

ا . ن . کاسګین : اوس په کابل کې څومره وګړي استوګنه لري؟

ن . م . تره کی : دیوه ملیون په شا وخوا کې .

ا . ن . کاسګین : که چیرې موږ ډېر ژر دهواله لارې وسلې درولېږو ،نو تاسو نه شئ کولی چې تر ۵۰ زرو پورې نور سر تېري راټول کړئ ؟ څومره کسان راغونډولی شئ ؟

ن . م . تره کی : موږ کولی شو چې د ځوانانو له منځه کسان راغونډ کړو، خو دهغوی روزنه ډېر وخت ته اړتیا لري.

ا . ن . کاسګین : آیا محلصین نه شئ راټولولی ؟

ن . م . تره کی : دلیسو د ۱۱ او ۱۲ ټولګیو دزده کوونکو او محلصینو په باب سړی یوڅه ویلی شي.

ا . ن . کاسګین : او له کارګرانو نه څنګه ؟

ن . م . تره کی : په افغانستان کې کارګر پاړکی ( طبقه ) په ډېر لږ شمېر کې دی.

ا . ن . کاسګین : او بې وزلي بزګران څنګه ؟

ن . م . تره کی : دلېسو دلوړو ټولګیو پر زده کوونکو ، محصلینو او یو شمېر کارګرانو باندې تکیه کېدای شي . خود هغوی روزنه داوږدې مودې خبره ده . خو که چېرې اړشونو بیا به له هرې لارې چارې نه ګټه اخلو.

ا . ن . کاسګین : موږ پرېکړه کړې چې پوځي سامانونه ډېر ژر درواستوو او دغه راز [ ستاسو ] الوتکې او ځرخکې هم درغاوي ( ترمیم ) لپاره ومنو البته دا ټول کارونه په وړیا توګه ترسره کېږي . دغه راز موپرېکړه کړې چې سل زره ټنه غله درولېږو او دزرمتر مکعبه ګازبیه له ۲۱ ډالرونه ۸۲ ، ۳۷ ډالرو ته لوړه کړو.

ن . م . تره کی : ډېر ښه ، خوراځئ چې دهرات په باب وغږېږو.

ا . ن . کاسګین : راځئ . آیا تاسو نه شئ کولی همدا اوس په کابل کې له هغو پر مختیاپالو کسانو نه چې تاسې ډاډ پرې کولی شئ یو څو فرقې جوړې کړئ . نه یوازې په کابل ، بلکې په نورو سیمو کې هم ؟ موږ به د اړتیا وړ وسله ستاسو په واک درکړی وای.

ن . م . تره کی : موږ افسر کادرونه نه لرو . ایران په ملکي جامو کې افغانستان ته پوځیان رالېږي . ، پاکستان هم خپل کسان او افسران په افغاني جامو کې رالېږي . ولی شوروي اتحاد نه شي کولی چې اوزبکان ، تاجکان

اوترکمنان په ملکي جامو کې راولېږي ؟ هیڅوک به هم هغوی ونه پېژني .

ا . ن . کاسګین : دهرات په باب نور څه راته ویلی شئ ؟

ن . م . تره کی : موږ دا غواړو چې تاجکان ، اوزبکان اوترکمنان راولېږئ چې دلته ټانکونه وچلوي ، البته ددغو ټولو توکمونو وګړي په افغانستان کې شته دي . هغوی دی یوازې افغاني کالي واغوندي او افغاني نښانونه دی ونښلوي نور یې نو هېڅوک هم نه شي پېژندلی . زموږ په اند دا ډېر اسان کار دی.

دایران او پاکستان تجربه ښیي چې دا کار په آسانۍ ترسره کېدای شي . هغوی په دې اړه ښه بېلګه ده .

ا . ن . کاسګین : تاسې ته دا خبره هسې اسانه ښکاري خو دا یوه ستونزمنه سیاسي اونړیواله خبره ده . خو له دې سره سره موږ به یو ځل بیا هم پخپلو منځونو کې سره سلامشوره وکړو او تاسې ته به په دې اړه ځواب درکړو.

زما په اند دا به ډېره ښه وای که چیرې تاسو د نویو ټولګیو جوړولو هڅه کړې وای . [ ځکه ] دهغو کسانو پر ځواک چې له بل لوري درځي دومره ډېر شمار ( حساب ) اوتکیه نه ده په کار . تاسې دایران دانقلاب تجربې ته ورګورئ چې خلکو څنګه امریکایان اونور هغه ټول کسان چې هڅه یې کوله ځانونه دایران ساتونکي وبولي آخوا وغورځول .

راځئ داسې به وکړو : موږ به پخپلو کې سره سلامشوره وکړو او تاسې ته به ځواب درکړو . تاسو هم له خپلو پوځیانو اوزموږ له سلاکارانو سره سلامشوره وکړئ . په افغانستان کې خو هرو مرو د'سې ځواکونه شته چې دخپل سر په بیه چمتو وي چې ستاسو ملاتړ ته درودانګي او ستاسو لپاره وجنګېږي. دغه ځواکونه باید همدا اوس پر وسلو سمبال کړای شي.

ن . م . تره کی : جګړه ییز ( محاربوي) ماشینونه په الوتکو کې راولېږئ .

ا . ن . کاسګین : آیا تاسو دهغو دچلولو لپاره خلک لرئ؟

ن . م . تره کی : ۳۰-۳۵ ګاډوته چلونکي شته .



ACKU

ا . ن . کاسگین : آیا داکسان باوري دي ؟ آیا هغوی به له ګاډو سره یو ځای د دښمن خوا ته ور وانه وړي ؟ زموږ چلونکي خو [ستاسو ] پرژبه نه پوهیږي.

ن . م . تره کی : تاسو ګاډي له هغو چلوونکو سره راولیږئ چې زموږ ژبه یې زده وي لکه تاجکان او اوزبکان .

ا . ن . کاسګین : زه هم له تاسو نه همداشان یوه ځواب ته سترګی په لار یم . موږ اوتاسو ملګري یو اوګډه هاندو هڅه کوو ، له همدې امله باید یو له بل نه ونه شرمیږو ، خپل هرڅه باید دهمدې موخې له سر نه جار کړو . موږ هرو مرو بیا تاسو ته تلیفون کوو او خپل اندولید به درته ووایو .

ن . م . تره کی : ملګري برژنف اودسیاسي بیرو غړو ته زموږ تاوده سلامونه او نیکې هیلې ورسوئ.

ا . ن . کاسګین : مننه ، خپلو ټولو ملګرو ته زموږ سلامونه هم ووایئ . تاسو ته دستونزو په اوارولو کې کلکوالی ، داډ اونیکمرغي غواړم . په مخه مو ښه .

دغه خبرې په کابل کې دلوی پوځي سلاکار جنرال ل . ګاریلوف دیاور له خوا ژباړل کېدې او د ب . باځانوف له خوا ثبت شوي دي.

پورتنی لاسوند افغانستان ته دشوروي پوځونو دلیږلو په اړه د افغانانو دریځ او دا . کاسګین تلل شوی چلند ښه په ډاګه کوي . دنوموړو خبرو ثبت شوی بهیر د شوروي اتحاد کمونیست ګوند مرکزي کمیټې دسیاسي بیرو دټولو غړو غوروونو ته رسول شوی دی.

شوروي مشر تابه په هرات کې دحالاتو دښه کېدو په باب اړوند تدبیرونه یوځل بیا هم تر څیړنې لاندې ونیول . دشوروي اتحاد د دفاع وزیر د . او سیتنوف په همدې ورځ ( دیوې میاشتې لپاره ) د ترکستان دپوځي سیمې د نورو دوو فرقو دګمارلو په باب امر وکړ . څرنګه چې هغه مهال افغانستان ته دشوروي پوځونو لېږل یو سرباری کار وبلل شو ، نو دجلب اورابللو اودیو لړ پوځي آزموینو اوتمرینونو له ترسره کولو وروسته نوموړې ډلې ډلګۍ دستر درستیز له امر سره سم دوري په میاشت کې بېرته خپلو استوګنځیو ته ستنې اوپر خپلو

ورځنیو چارو بوختی شوي . له دې سره جوخت په زغرده تېنګار کېده چې شوروي مشرتوب افغانستان ته دپوځونو دلېږونیت نه لري . خو ددې ترڅنګ پرېکړه وشوه چې د ا . د . ج . ته دې یو لړ ځانګړي شیان او په هغې ډله کې پوځي تخنیک اووسلې هم ورسول شي او دغه راز په دې اړه باید ځینې سیاسي اوسازماني کارونه هم ترسره شي.

په زړه پورې ده چې که څه هم هغه وخت افغانستان ته دشوروي پوځونو د لېږلو په باب دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو دغړو لیدو نه بدلیدل را بدلیدل خو ټولو په یوه غږ دداسې یوه کار له کیدون سره منفي غبرگون څرگنداوه . دا دریغ د افغانستان دحالاتو دڅېړنی له هغه بهیر څخه په ښه توگه جوتېږي چې دشوروي اتحاد دسیاسي مشرتابه له خوا په لوړه کچه دمارچ پر اتلسمې ترسره شو .

**لاسوند ( بیخي پټ)**

**ځانګړې دوسیه**

ا . پ . کیریلنکو : دهرات ۱۷ فرقه ۹ زره تنه پوځیان لري . آیا هغوی ټول مړه پړه او دحکومت د دښمنانو خواته ور اوښتي که څه؟

ا . ن . کاسگین : زمونږ دمعلوماتو له مخې تر اوسه یوازې یو توپچي او یو پلی غونډ [دښمن] ته ور اوښتی او هغه هم په بشپړه توگه نه ، پاتې ځواکونه له حکومت نه ملاتړ کوي .

د . ف . او ستینوف : هغه څه چې په تاجکانو پورې اړه لري ، نومونږ خو دا ډول ځانګړي ټولگي نه لرو . دا شیبه خو گرانه ده چې ووایم چې دهغوی څو تنه زمونږ د اردو دټانک په ټولگیو کې پر دنده بوخت دي.

ا . ن. کاسگین : هو ، دهوايي ساتنې یو کندک هم چې په هرات کې پروت دی ، د دښمن خواته ورغلی دی .

د . ف اوستینوف : کله چې ما له امین سره خبرې کولې ، نو هغه هم هرات ته دپوځونو دلېږلو او د دښمن دځپلو غوښتنه وکړه .

ا .ن. کاسګین : ملګری تره کی وایې چې دهرات دفرقې نیمه برخه دښمن ته‌ور اوښتي او پاتې برخه هم خدایزده که له حکومت نه ملاتړ وکړي .

د . ف. اوستینوف : امین راسره په‌خبرو کې وویل چې افغاني انقلاب له ډېرو سختو ستونزو سره مخامخ دی او اوس دهغه ژغورنه یوازې دشوروي اتحاد په لاس کې ده .

خبره څه کې ده اوولې داسې پېښ شول ؟ خبره په دې کې ده چې د افغانستان مشرتابه داسلام د دین رول په سمه توګه نه دی ارزولی ، سرتېرې دهمدې اسلام تر بیرغ لاندې [ دښمن ] ته‌ور اوړي ، ځکه له ډېرې لږې استثنا پرته دهغوی بشپړه اکثریت پر دین ولاړ کسان دي . له همدې امله هغوی له موږ نه غواړي چې په هرات کې دیاغیانو بریدونه پرشا وټمبوو .

رښتیا امین په ډېر ریغړي غږ راته وویل چې هغوی پراردو باور لري ، خو بیا یې هم دملګري تره کي غوندې دمرستې هیله وکړه .

ا . پ. کیریلنکو : ښه نو داسې ښکاري چې هغوی پرخپل اردو چندان ډاډه نه دي . هغوی یوازې یوې پرېکړې ته هیله من دي او هغه هم زموږ ټانکونو او زغره والو ګاډو ته .

ا . ن .کاسګین : موږ ته په کار دي دمرستې په اړه دپرېکړې په ترڅ کې مو په ژوره توګه ټولو هغو وروستینو ( عواقبو ) ته پام وي چې له دې امله پېښېدونکي دي . داخبره ډېره مهمه ده .

یو . و . اندروپوف : ملګرو ، ما پردې خبره په ځیرتیا سره شوچ وکړ او دې پایلې ته‌ورسېدم چې موږ باید پر دې خبرې ډېر زیات فکر وکړو چې افغانستان ته پوځونه دځه لپاره لېږو ؟ موږ ښه پوهېږو چې افغانستان لا تر اوسه دې ته چمتو نه دی ، چې موږ دې دا کار په سوسیالیستي توګه تر سره کړو . هلته دین ژورې ریښې غځولي ، کلیوال وګړي نږدې په بشپړه توګه نالوستي دي ، اقتصاد وروسته پاتې دی ، او داسې نور . موږ دانقلابي حالت په باب دلینن پر زده کړه پوهېږو ، خوسړی نه شي کولی ووایي چې په افغانستان کې ګنې ورته حالت

منځته راغلی دی . له همدې امله زما پراند موږ کولی شو یوازې د خپلو برچو په زور د افغانستان انقلاب وساتو ، خو داکار زموږ لپاره وړ نه دی. موږ ته نه ښایی چې داشان خطر ( ریسک ) وزغمو .

ا .ن. کاسگین : ښایي ښه به وي که موږ خپل سفیر ملګري وینو ګرادوف ته لارښونه وکړو چې هغه دایران له لومړي وزیر بازرګان سره وګوري او ورته ووایي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنو ته اجازه ور نه کړي.

ا .ا. ګرومیکو : زه په بشپړه توګه دملګري اندرو پوف له دې وړاندیز نه ملاتړ کوم چې افغانستان ته دې زموږ دپوځونو دلېږلو په باب پریکړه نه نیول کېږي . هلته پر اردو ډاډ نه شته . که زموږ اردو افغانستان ته لاړ شي ،نو تېری کوونکی به وګڼل شي . هغه به هلته دچا پر خلاف جنګېږي ؟ ښکاره خبره ده چې د افغانستان دخلکو پر خلاف به جنګېږي اوله هر چا تر مخه به پر خلکو ډزې کوي . ملګري اندروپوف بیخي پرځای وویل چې په افغانستان کې لا حالت انقلاب ته سم نه دی چمتو او ټول هغه څه چې موږ په ډېرې سختۍ په دې وروستیو کلونو کې دوسلو دکمښت او داسې نورو په برخه کې ترسره کړل هغه به ټول پر اوبو لاهو شي البته دا به دچین لپاره هم یو ډېر ښه سوغات شي . ټول ناپېیلي هېوادونه به زموږ پرخلاف راپورته شي . پر یوه خبره دا ډول ګام به ډېرې سخت عواقب ولري . له کار تر سره دلیونید ایلیچ کتنه به پارچاو او دمارچ په پای کې د ژیسکارد ستن راتګ به هم تر پوښتنې لاندې راشي . ښه زموږ به له دې کار نه څه ګټه تر لاسه کړو ؟ یوازې افغانستان دهغه له اوسني حکومت او وروسته پاتې اقتصاد سره چې هغه هم په نړیوالو چارو کې چندان وزن نه لري. له بله پلوه دا تېکی هم باید له پامه ونه غورځوو چې موږ له حقوقي پلوه هم دپوځونو لېږل نه شو سپینولی . دملګرو ملتونو سازمان له تګلارې (اساسنامې) سره سم دغه هېواد کولی شي له موږ نه دمرستې غوښتنه وکړي او له بهر نه دتېري دترسره کېدو په حال کې موږ کولی شو چې هلته پوځونه ورولېږو . خو افغانستان اوس له هیڅ ډول تیري سره هم نه دی مخامخ . اوس

دادهغوی کورنۍ خبره ده او [ هلته] دخلکو یوه ډله له بلې سره پر خپل منځي انقلابي شخړې اخته ده . برسېره پردې باید ووایم چې افغانانو لا تر اوسه په رسمي توگه له موږ نه د پوځونو دلېږلو په اړه کومه غوښتنه هم نه ده کړې . ( ۱ )

په یوه خبره موږ اوس له یوې داسې پېښې سره مخامخ یو چې دهېواد مشرتوب دخپلو سختو تېروتنو له امله برلاسی دریځ نه لري او دخلکو له ورنده ملاتړ نه برخمن نه دی . . .

یو . و . اندروپوف : . . . له امین سره له ننني خبرونه داسې ښکارېده چې خلک د تره کي له حکومت نه ملاتړ نه کوي . ښه په داسې حال کې به زموږ پوځونه له هغوی سره څه مرسته وکولای شي ؟ [ فکرنه کوم] که ټانکونه اوزغره وال گاډي دهغوی خوږ درمل (درد دوا) کړي . زما په اند موږ باید تره کی ته داخبره په ډاگه وکړو چې موږ د هغوی له هر ډول هڅو نه ملاتړ کوو ، هغه مرسته به هم ورسره وکړو چې پرون او نن مو دلته خبرې پرې وکړې ، خو افغانستان ته د پوځونو له لېږلو سره په هیڅ شان خوښاوی (موافقه) نه شو کولی.

ا . ن . کاسگین : څنگه ده که موږ نوموړی دلته راوبولو او ورته ووایو چې موږ له تاسو سره پخپلو مرستو کې زیاتوالی راولو ، خو پوځونه نه شو درلېږلی ، ځکه هغوی به هلته دهغه اردو پر خلاف چې د دښمن خواته ور اوښتې او یا په یوه کونج او بل کونج کې پټ شوی دجگړې پر ځای دخلکو پر خلاف پر جگړې اخته وي او له دې امله به زموږ زیانونه اوستونزې ډېرې زیاتې وي . گڼ شمېر هېوادونه به زموږ پر خلاف غږ اوچت کړي . موږ په دې کار کې دځان لپاره هیڅ ښېگڼه نه وینو .

یو . و . اندروپوف : باید تره کي ته مخامخ وویل شي چې د پوځونو له ورلېږلو نه پرته موږ له هغوی نه هر ډول ملاتړ ته چمتو یو . . .

---

(۱) ښایي دهمدغو خنډونو دپټولو له امله به وه چې [ هغه هېواد ته زموږ د پوځونو له لېږلو نه وروسته ] پر دیموکراتیک جمهوریت باندې دبهرني تېري افسانه رامنځته شوه . (لیکوال)

ک . او . چیرننکو : که موږ پوځونه ولیږو او دافغانستان خلک وولو ، نو خامخا به دتېري تور را باندې ولګېږي . دلته بله لار نه شته .

یو . و . اندروپوف : باید ملګري تره کی راوبولو .

ا . ن . کاسګین : زما په اند موږ باید همدا اوس له لیونیدایلیچ سره سلامشوره وکړو او همدا نن باید کابل ته الوتکه ور ولیږو . . . .

ا . ا . ګرومیکو : زما په اند ښه به وي که دسیاسي لاسوند دچمتو والي کار له ملګري تره کي سره له خبرو اترو نه وروسته پیل شي . . . .

ا . ن . کاسګین : په یوه خبره ، دپوځونو له لیږلو پرته موږ له افغانستان سره دمرستې په برخه کې هېڅ شی هم نه کموو . هغوی باید پخپله د دولتي چارو دترسره کولو په اړه دستونزو له اورولو سره بېخي زیات مسوولانه چلند وکړي او که چېرې موږ دهغوی پرځای تولې چارې ترسره او دانقلاب دفاع وکړو ، نو هغوی به پخپله څه کوي ؟ هېڅ شی . موږ په هرات کې ۲٤ تنه سلاکاران لرو . هغوی باید راوباسو . . .

ل . م . زمیاتین : هغه څه چې په دې اړه په تبلغاتي کار پورې اړه لري ، نو موږ دپاکستان او دغه راز له افغاني یاغیانو سره د چین له خوا د مرستو په باب یوه مقالهٔ چمتو کړې ده . . . . » په همدې ترڅ کې له کابل نه تلګرام راورسېد چې په هغه کې شوروي سفیر او دشوروي اتحاد د کې . جي . بي استازي زموږ دهېوادوالو دامنیت دساتلو په باب دتدبیرونو دنیولو وړاندیز کړی و .

**له کابل نه رپوټ ( بېخي پټ )**

. . . . دحالاتو دلا زیاتې خرابی په حالت کې به غوره وي که پر یوې وړنده (مناسبې ) پلمې دهغو پروژو او مهمو ځایونو دامنیت په ساتلو کې زموږ دځینو پوځي ټولګیو دیو ډول ونډې اخیستنې خبره وڅېړل شي چې دشوروي اتحاد په مرسته جوړېږي . په دې ترڅ کې کېدای شي چې دشوروي پوځونو دټولګیو د لیږلو مساله هم تر غور لاندې ونیول شي . [دساري په توګه] :

الف : درغاونځیو (ترمیماتي ورکشاپونو ) دبیا جوړولو تر پوښښ لاندې

دبگرام پوځي ډگر ته د تخنيکي کار پوهانو په نوم ،

ب : د کابل هوايي ډگر ته دهغه درغاوي ( ترميم کولو ) ترپوښښ لاندې .
البته په دې اړه څه موده تر مخه د دواړو حکومتونو تر منځ يوتړون هم لاسليک شوی چې په مطبوعاتو کې خپور شوی دی.

که چېرې حالات لا پسې خراب شي نو د دا ډول ډلګو تکيو لرل به داړتيا په وخت کې د شوروي اوسېدونکو دايستلو دامنيت له سمبالتيا سره مرسته وکړي.

پوزانوف ، ايوانوف ، ۱۹۷۹-۳-۱۹ .

دمارچ پر ۱۹ مه ل . ای . برژنف هم دافغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې دمنځته راغلو حالاتو دڅېړنې په بهير کې برخه واخيستـه . په دې اړه دنوموړی ليد په لاندې ډول و : « زما په اند د سياسي بيورو غړو پر ځای پريکړه وکړه چې زموږ پښه اوس جگړې ته ورگډه نه شوه بايد ملگري تره کي اونورو افغاني ملگرو ته روښانه کړو چې موږ له هغوی سره دټولو اړونده دندو دپرمخ بيولو لپاره هر ډول مرستې ته چمتو يو [خو] په افغانستان کې زموږ دپوځونو شتـه والی نه يوازې مـوږ ، بلکې له ټولو تر مـخـه پخپله هغوی ته ډېر زيان رسوي...

دهغـوی اردو له منځـه ځي او مـوږ به اړ يو چې دهغـه پر ځـای جگړه پر مخ بوځو. »

په همدې غـونډه کې پرېکړه وشوه چې ن . م . تره کی دې مسکو ته راوبلل شي او له هغه سره دې له نږدې نه خبرې اترې وشي .

خو د ا . خ . د . گ . عمومي منشي چې دهرات پېښو ترور کړی و پخپله يې له شوروي مشرانو سره دژرليدنې غوښتنه وکړه او په دې ترڅ کې يې هيله وکړه چې دهغه له سفر نه بايد يوازې د گوتو په شمار کسان خبر وي . هماغه و چې نوموړی دمـارچ پر شلمـه په بيړه مـسکو ته راورسېد او دلتـه يې له ا . ن . کـاسگين ، ا . ا. گـروميکو ، د . ف. اوستينوف او ب . ن . پونـاماريوف سره

وكتل .

**لاسوند (بيخي پټ)**

**ځانګړې دوسيه ،نومره : پ ۴۹۹**

( دشوروي اتحاد دكمونيست ګوند د مركزي كميټې سياسي بيورو اصلي او نوماندو غړو ته لېږل شوى دى ) .

له ن . م . تره كي سره د ا . ن . كاسګين ،ا . ا. ګروميكو ، د . ف. اوستينوف ،او ب . ن . پوناماريوف ثبت شوې خبرې (١)

**د ١٩٧٩ كال دمارچ شلمه**

ا . ن . كاسګين : سياسي بيورو موږ ته سپارښتنه كړې چې له تاسو سره ټولې هغه خبرې وڅېړو چې تاسې يې اړينې بولئ . لكه چې تاسې ته مې ويلي پر شپږو - شپږنيمو بجو مو له ل . اى . برژنف سره هم كتنه په پام كې نيول شوې ده.

موږ په پام كې درلوده چې دخبرو لومړى وار تاسې ته دركړو ،خو څرنګه چې ستاسو له خوا تر مخه يوه ډېره مهمه پوښتنه وړاندې شوې ،نوزه به لومړى زموږ اندو ليد تاسې ته څرګند كړم او بيا به نو موږ په پوره ځيرتيا سره تاسې ته غوږ شو . . .

موږ ستاسې په هېواد كې رواني پېښې په پوره غور سره وڅېړلې او له تاسو سره مو د مرستې پر داسې لارو چارو غور وكړ چې په ډېره ښه توګه زموږ د دوستۍ او له نورو هېوادونو سره ستاسو د اړيكو ګټو ته ځواب ووايي . تاسو ته د پېښو شويو ستونزو د اوارې لارې چارې كېداى شي ګنې او ببلا بېلې وي ، خوتر ټولو غوره يې هغه ده چې دخلكو په منځ كې ستاسې دحكومت درنښت وساتي ،له ګاونډيو دولتونو سره دافغانستان اړيكي خړپړ نه كړي اوستاسو دهېواد نړيوال باور ته زيان ونه رسوي . بايد داسې ونه شي چې خلك يې

---

(١) دخبرو د ثبتېدو بهير دخبرو اترو دګډون كوونكو له خوا نه ليدل كېده .

وګنيي، هغه دي ويې نه شو کړای چې خپلې ستونزې پخپله له منځه يوسي او بهرني پوځونه يې دمرستې لپاره ور وغوښتل .

هغه دی ويتنام ته وګورئ . دويتنام خلکو څنګه وکړای شول چې له امريکا سره ډېره سخته جګړه وزغمي او اوس آن دچين دتيري په وړاندې هم جنګېږي خو هېڅوک نه شي کولی چې ويتناميانو ته له بهرنيو پوځونو نه دګټې اخيستنې پېغور ورکړي . ويتناميان پخپله په مېړانې سره د بهرني تېري په وړاندې دخپل تاتوبي ساتنه کوي . زموږ په اند تاسو په هېواد کې ښه پوره ځواکونه لرئ چې وکولای شي دانقلاب ضد دغورځو پرځو او داړو په وړاندې ودرېږي .

يوازې دومره کار ته اړتيا ده چې هغه په رښتينې توګه راټول او نوي پوځي ټولګي ورڅخه جوړ شي . موږ په ټليفون کې له تاسو سره په دې باب خبرې وکړې چې دنويو ټولګيو دجوړولو کار بايد څکه سم له لاسه پېل شي چې دهغو روزنه اوچمتو والی هم يو څه موده وخت ته اړتيا لري . خو تاسو همدا اوس هم دومره ځواکونه په واک کې لرئ چې دمنځته راغليو ستونزو ځواب ووايي . . .

موږ چمتو يو چې له ټولو کېدونکو لارو چارو نه له تاسو سره مرسته وکړو ياني وسلې او مهمات درولېږو ، داسې کسان درواستوو چې دهېواد د پوځي او اقتصادي چارو په پرمخ بيولو کې مو په ښه راشي او دغه راز داسې کارپوهان درولېږو چې ستاسې پوځيانو ته دهغو ډېرو او سمهاله ( عصري ) وسلو او پوځي تخنيک چل ورزده کړي ، چې موږ يې در استوو . خو د افغانستان خاورې ته زموږ دپوځونو در تګ به سم له لاسه نړيواله ټولنه را وپاروي ، او خورا زيات ګټ اړخيز ناوړه عواقب به په ځان پسې ولري . دا کار به په حقيقت کې نه يوازې له امپرياليستي هېوادونو سره ، بلکې له خپلو خلکو سره هم پر يوې شخړې واوړي .

زموږ ګډ دښمنان دا ساعت [له خدايه غواړي] چې شوروي پوځونه د افغانستان خاورې ته ورننوځي . دا کار به هغو ته پلمه په لاس ورکړي چې ستاسې وسله والې دښمنې ډلې دافغانستان خاورې ته در واستوي . غواړم يو

ځل بیا څرګنده کړم چې موږ د پوځونو دلیږلو خبره له بېلابېلو اړخونو نه وڅېړله او ددغه کار ټول اړخونه مو په ځیرتیا سره تر غور لاندې ونیول ، خو یوازې دې پایلې ته ورسېدو چې که چېرې موږ پوځونه درولېږو ، نو ستاسو په هېواد کې به حالات نه یوازې ښه نه شي ، بلکې هغه به لا پسې تر خه او کړکېچن شي . باید پر دې خبرې سترګې پټې نه کړو چې زموږ پوځونه به نه یوازې له بهرنیو تیري کوونکو سره ، بلکې د افغانستان دخلکو له یوې برخې سره هم پر جګړه اخته وي . هو ، خلک داسې یو کار [ هیڅکله ] نه بښي . سر بېره پردې همدا چې زموږ پوځونه له پولې نه پښه دراواړوي ، نو چین او نورو تېري کوونکي [ به دخلکو ببخي هېر شي ] او ځانونه به سپین را وباسي .

موږ دغه راز دې پایلې ته ورسېدو چې په اوس وخت کې له تاسو نه داغېزمن ملاتړ تر ټولو ښه به په پر ګاونډیو هېوادونو باندې زموږ دسیاسي اغېز لارې چارې او [ له تاسو سره ] دسترو او هر اړخیزو مرستو تر سره کول دي . دپوځونو د درلیږلو پر ځای موږ کولی شو چې له دې لارې نه ببخي دېر څه تر لاسه کړو . موږ کلک باور لرو چې د هغو سیاسي ګامونو او تدبیرونو له لارې چې زموږ او ستاسو له خوا ترسره کیږي موږ کولی شو پر دښمن بر لاسي شو ....

ن . م . تره کی : دهغې پوښتنې په اړه چې مایې دځېړنې غوښتنه درلوده په ژوره او هر اړخیزه توګه دشوروي مشرتابه د دریغ د روښانه کولو له امله له تاسې نه د زړه له کومې مننه کوم . زه هم ستاسو د دوست په توګه سپین او په ډاګه غږیږم . موږ هم په افغانستان کې پر دې ګروهه یو چې منځته راتلونکې ستونزې باید له هر څه تر مخه له سیاسي لارو چارو اوارې شي او پوځي ګامونه باید یوازې مرستندویه ښه ولري .....

غوښتل مې دافغانستان داردو اړتیاوو ته ګوته ونیسم . موږ هیله من یو چې یو شمېر زغره والې څرخکې ، سرباري زغره وال ګاډي او جګړه ییز ( محاربوي ) ماشینو او دغه راز د مخابرې اوس مهاله ( موډرنې ) وسیلې تر لاسه کړو . او که چېرې دا کار کېدون ولري چې له هغو نه دګټې

ACKU

اخیستنې لپاره سمې هم راولېږئ ،نو دا به له موږ سره [ستاسو] یوه ډېره لویه مرسته وي.

د . ف . اوستینوف : گومان کوم تاسې د گولیو ضد زغره والې مې - ۲٤ ډوله څرخکی په پام کې لرئ ! دهغو شپږ به دجون - جولای په میاشتو او نورې شپږ به هم دهمدې کال په څلورمې برخې کې در واستوو . کېدای شي موږ پردې بریالي شو چې د درلېږلو وخت له دې نه نور هم رالنډ کړو .

ن .م . تره کی : موږ دغو څرخکیو ته ډېره اړتیا لرو او ډېره به ښه وای که هغه له پیلوټانو سره یوځای راولېږئ .

ا . ن . کاسګین : البته موږ کولی شو چې په هوایي ډگر کې ددغو څرخکیو دسمبالتیا لپاره کارپوهان درولېږو ، خو جگړه ییزه عمله نه شو درلېږلی . په دې اړه موږ او تاسې پوره خبرې کړې دي . د .ف . اوستینوف : تاسې باید خپل پیلوټان وروزئ . دلته ستاسو افسران پر زده کړه بوخت دي ، موږ کولی شو دهغوی دوتلو (فراغت) بهیر چټک کړو .

ن .م . تره کی : کېدای شي موږ پیلوټان له هانوی او یا له کوم بل هېواد لکه کیوبا نه وغواړو ؟

ا . ن . کاسګین : لکه چې تر مخه مې هم وویل موږ له ویتنام سره ډېرې مرستې وکړې او کوو یې ، خو ویتنامیانو هېڅکله هم له موږ نه د پیلوټانو دورلېږلو غوښتنه نه ده کړې . هغوی پخپله موږ ته وویل چې دهغوی یوازې تخنیکي کار پوهان په کار دي او جگړه ییزې عملې هغوی پخپله له خپلو خلکو نه جوړوي . . .

ن . م . تره کی : موږ غواړو چې که دڅرخکیو درالېږلو بهیر لږ څه چټک کړای شي . موږ هغو ته ډېره زیاته اړتیا لرو .

ا . ن . کاسګین : موږ به ستاسې غوښتنې یوځل بیا هم وڅېړو او که چېرې مو وکړای شو نو دڅرخکیو درلېږل به نور هم چټک کړو.

د . ف . اوستینوف : خو له دې سره جوخت تاسو باید ددغو څرخکیو د

پیلوټانو په فکر کې هم شئ .

ن . م . تره کی : البته موږ به دا کار وکړو . که چیرې موږ هغه پخپل وطن کې پیدا نه شو کړای ، نو په نورو هیوادونو کې به پسې وګرځو . نړۍ خو لویه ده . که تاسو دا کار نه کوئ ، نو موږ به دهغو افغانانو په منځ کې په پیلوټانو پسې وګرځو چې له تاسو سره پر زده کړه بوخت دي ، خو زموږ باوري خلک په کار دي ، او دهغو افغاني افسرانو په منځ کې چې پخوا شوروي اتحاد ته دزده کړې لپاره لیږل شوي ګڼ شمیر اخوانیان « اخوان المسلمین » او چین پلوه کسان شته دي.

د . ف . اوستینوف : سږ کال ۱۹۰ تنه افغان افسران چې په هغوی کې ۱٤ تنه دالوتکو او ۱۳ تنه دڅرخکیو پیلوټان دي خپلې زده کړې پای ته رسوي.

موږ به په افغانستان کې دلوی پوځي سلاکار جنرال ګاریلوف له لارې له ځانګیز ( مسلکي) پلوه دهغوی بشپړه لیست درولیږو. تاسې کولی شئ چې دهغوی له منځ نه دخپلې اړتیا وړ سړي خوښ کړئ .

ن . م. تره کی : ښه ده موږ به دا کار وکړو . خو ستونزه په دې کې ده چې موږ [دهغوی په منځ کې] هغه کسان نه پیژنو چې په انقلاب ضد ډلو پورې اړه لري . موږ ته یوازې دومره پته ده چې د داود په وخت کې داخوان المسلمینو سازمان اود « شعله جاوید » په نوم ډلې غړي شوروي اتحاد ته استول کیدل . خو موږ به هڅه وکړو چې دا خبره روښانه کړو.

ا . ن . کاسګین : ګومان کوم تاسې دهغې پریکړې په اړانه کې دپوځي تخنیک د درلیږلو خبره کوئ چې پرون ماښام مو دهغې په باب کابل ته خبر ورکړ ؟ په دې پریکړې کې دسترو پوځي جوپو خبره یاده شویده ....

ن . م . تره کی : نه ، ګومان کوم چې هغوی ونه کړای شول په دې باب ماته رپوټ راکړي.

ا .ن. کاسګین : کیدای شي رپوټ مسکو ته ستاسې له را الوتو نه لږ ترمخه در رسیدلی وي. په نوموړي لاسوند کې ددغو پریکړو یادونه شوې : دروان کال په مارچ کې به تاسو ته سرباري او په وړیا توګه ۳۳ ب .ام . پ - ۱ ، ۵ مي -

۸،۲۵ مي – ۸ ت او دغه راز ۵۰ ب. ت ا، – ۲۵،٦۰ د کشف زغره وال گاډي، ۵۰ د الوتکو ضد لېږنده لاستونونه (دستگاوي) او د «ستریلا» په نوم د هوايي ساتنې لاستون درولېږو. د مارچ پر ۱۸ مه مو ٤ مي – ۸ څرخکي درلېږلي او د مارچ پر ۲۱ مه ٤ نورې داهم درلېږو. دا ټول شیان تاسو ته په وړیا توگه درکول کېږي.

ن. م. تره کی: له دومره ستري مرستې نه د زړه له کومې مننه کوم. په کابل کې به له دغه لاسوندنه لاډېر ځان خبر کړم...

د. ف. اوستینوف: د سرباري پوځي تخنیک له درلېږلو سره جوخت ښایي افغانستان ته د نورو پوځي کار پوهانو او سلاکارانو د درلېږلو اړتیا هم رامنځته شي.

ن. م. تره کی: که چېرې ستاسو په اند داسې اړتیا وي، نو ولې نه، موږ به هغوی ومنو. او ربښتیا اجازه راکوئ چې موږ د نورو سوسیالستي هېوادونو له پیلوټانو او ټانکیستانو نه گټه واخلو؟

ا. ن. کاسگین: کله چې موږ زموږ د پوځي کار پوهانو خبره کوو، نو مو خه موهغه تخنیکران دي چې د پوځي تخنیک سمبالونه کوي. زه نه پوهېږم چې د پیلوټانو او ټانکیستانو خبره ولې راپورته کېږي! دا پوښتنه موږ ته په بشپړه توگه ناڅاپي ده او زه فکر کوم چې سوسیالیستي هېوادونه خدای زده که دا کار وکړي. د داسې سرېو درلېږل چې ستاسو په ټانکونو کې دې کیني او ستاسو پر خلکو دې باړونه وچلوي، دا یوه ډېره پېچلې سیاسي خبره ده...

ن. م. تره کی: تر هغه ځایه چې زه له دغو خبرو اترو پوه شوم نو تاسو له موږ سره مرسته کوئ او په راتلونکي کې هم هغه تر سره کوئ، خو د تېرې په وړاندې زموږ ضمانت نه کوئ.

ا. ن. کاسگین: موږ خو دلته په داشان ادانه کې له تاسې سره کومه خبره نه ده څېړلې، موږ یوازې داوس شېبې په باب خبرې اترې وکړې او وموویل چې اوس ستاسو د هېواد د سیاسي ساتنې لارې چارې تر ټولو گټور کار دی. تاسو

باید دا خبره داسې ونه ګڼئ چې ګنې موږ تاسو هسې د بر خلیک (نصیب وقسمت) منګولو ته سپارو .

ن . م . تره کی : د ملاتړ درې ډولونه شته : سیاسي ، اقتصادي او پوځي . د هغه دوه ډولونه خو همدا اوس تاسو له موږ سره تر سره کوئ ، خو که چېرې زموږ پر خاوره له بهرنه تېری وشي نو په هغه وخت کې به تاسو څنګه چلند وکړئ ؟

ا . ن . کاسګین : که چېرې ستاسو پر خاوره دوسله وال تېري خبره رامنځته شي ، نو دا به بېخي یو بل حالت وي . خو اوس موږ هر هغه څه تر سره کوو چې دا شان تېری [هېڅکله هم ] ترسره نه شي . او زه فکر کوم چې موږ به په دې کار کې بریالي شو . . . »

(ژباړه د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت د دپیلوماسۍ دا کاډیمۍ د اسپیرانت ملګری و . پ کوزین او ثبت دشوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت د او . اس .وی . څانګې دسلاکار ملګري س . پ . ګاوریلوف له خوا تر سره شوی دی ).

د دې سفر په ترڅ کې ن . م . تره کي له ل . ای . برژنف سره هم وکتل او له نوموړي نه یې هم افغانستان ته دشوروي پوځونو دلېږلو په باب هیله وکړه . خو هغه مهال دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند مشر څرګنده کړه چې دشوروي مشرتابه له لیده [افغانستان ته] د پوځونو لېږل خو لا څه چې دشوروي اتحاد له خاورې نه دهوایي او پرغلیزو ګوزارونو کول هم وړ کار نه دی . په افغانستان کې په پوره شمېر تجربه لرونکي سلاکاران شته چې کولی شي دانقلاب ضد کسانو دبریدونو په شنډولو کې مرسته وکړي .

د دغو خبرو اترو دموادو له منځپانګو څخه په ښه توګه په ډاګه کېږي چې له افغانانو سره ان دلوړې کچې خبرې اترې (ډیالوګ) هم څومره ستونزمن کار و . په کابل کې خو د شوروي استازو ورځ له دې نه هم بد تره وه ، او تر پرله پسې زور لاندې وو . له همدې امله افغانستان ته د پوځي مرستو د پراخولو په اړه دلا زیاتو

تدبیرونو دنیولو او دغه راز د مهمو ځایونو د امنیت د پیاوړي کولو او دافغانستان له دیموکراتیک جمهوریت نه د شوروي اوسېدونکو د کېدونکي (احتمالي) لیږدوني د سمبالولو په باب وړاندیزونه ټول او ټول دهغوی په نوښت تر سره کیدل . ځرګنده ده چې ددې ډول کارونو سرته رسولو هم دشوروي اتحاد له ملي ګټو سره بشپړه سمون درلود او هم یې [ په افغانستان کې ،ژ.] دواکمن رژیم ټینګښت سمبالاوه . [دهرات] بلوا حکومت ته وفادارو ځواکونو پرته له دې چې دشوروي پوځونو مرستې تر لاسه کړي پخپله وځپله . خو دهېواد راتلونکو حالاتو په نه اټکل کېدونکې توګه دوام مونده . له دې سره جوخت په افغاني پوځ کې وهلو ټکولو هم دوام درلود . دبېلګې په ډول دمارچ پر ۲۱ مه دجلال آباد په ګارنیزیون کې یوه « چلوټه او دسیسه کشف شوه » چې دهغې له امله ۲۳۰ تنه چلوټیان (دسیسه جوړونکي ) ونیول شول . ځینو قوماندانانو چې ولیدل دهغوی ملګري بندیان او ترې تم کړي ، نو دبې باورۍ احساس ورته پیدا شو .له همدې امله دېر ځلي هغوی پخپله اړو دوړ اوبلواګانو جوړولې . دیادونې وړ ده چې پخپله افغاني اردو هم لا تر دې دمه تر ډېره ځایه یو پاچاهي پوځ و او خپل پخواني دودونه او دوه اړخیز اړیکي یې ساتلي وو . [ په هغه کې ] دداسې افسرانو شمېر لږ نه و چې په ښکاره یې نوي رژیم ته دوفادارۍ لاپې شاپې وهلې خو په زړه کې دهغه کلک مخالفان وو . په داسې حالاتو کې به تل شوروي پوځي سلاکاران لومړني بلهاریان وو چې یا به وژل کیدل او یا به یرغمل نیول کېدل . په همدې شان حالاتو کې وه چې دشوروي ادارو له خوا دافغانستان او دهغه دشاو خوا حالاتو د ژورې څېړنې پر بنسټ به د افغانستان له دیموکراتیک جمهوریت سره د هر اړخیزې همکارۍ د دوام په باب لارې چارې سنجول کیدې او ددوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا په اړه به کړنده ګامونه پورته کیدل .

لاسوند

بیخي پټ

ځانګړي دوسیه

ملگرو برژنف ، کاسگین ، اندروپوف ، گرومیکو ، سوسلوف ، اوستینوف ، پوناماریوف ، روساکوف ، باییاکوف ، سکاچکوف ، زمیاتین ته ( دشوروي اتحاد د کمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د ۱۹۷۹ کال د اپریل د ۱۲ نېټې دغونډې له ۱٤۹ نومره پروتوکول نه را اخیستنه ).

په افغانعتان کې دحالاتو په اړه زموږ راتلونکې کړنلاره

په دې اړه دې د ملگرو گرومیکو ، اندروپوف ، اوستینوف ، پوناماریوف د ۱۹۷۹ کال د اپریل دلومړۍ نېټې له لیدونو سره خوښاوی وشي (ملپانه)

دمرکزي کمېټې منشي ل . برژنف

**لاسوند**

د ۱٤۹ نومره پروتوکول د ۱٤ توکي په اړه

**بېخي پټ**

**ځانگړې دوسیه**

دشوروي اتحاد دکمونیست گوند مرکزي کمېټه

د روان کال دمارچ د اتلسمې نېټې د ( پ ۱٤۷ -پ ) گڼې له سپارښتنې سره سم دادی دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دحالاتو د وروستۍ څېړ تیا دلاملونو دڅېړنې او دافغانستان حالاتو دټینګښت په اړه خپل لیدونه وړاندې کوو . . .

شوروي مشرتابه د ا . د . ج . مشرانو ته آن په لوړه کچه په وار وار لارښوونې او سلا مشورې ور کړې او خپلو تېروتنو او کړښتونو ته یې دهغوی پام وراړولی دی . خوافغاني مشرانو له ځانه دپوره سیاسي نرمښت اوتجربې په نه ښودلو سره هغه تل او په بشپړه توگه په پام کې نه نیسي.

د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت مشرانو دسیاسي تجربې لږوالی د هرات دپېښو په څوکه کې هغه وخت لا ښه راڅرگند شو کله چې معلومه شوه چې افغانستان ته د شوروي پوځونو دلېږلو په پایله کې ( البته که چېرې شوروي لوري دافغان مشرتابه دغه غوښتنه منلې وای ) پر منځته راتلونکو ژورو سیاسي

عواقبو دهغوی سر نه خلاصیږي .

له‌بله پلوه په افغانستان کې دحکومتي ضد هلو ځلو دکورني ماهیت له‌په پام کې لرلو سره ښرگنده ده‌چې دهغو په ځپلو کې دشوروي پوځونو ونډه به‌له یوې خوا دشوروي اتحاد نړیوال باور ته کلک زیان رسولای او د کړکیچ د کمولو بهیر به یې شاته غورځولی وای او له بلې خوا به یې دتره کي دحکومت د دریځونو کمزورتیا په ډاگه کړې وای او ترافغانستان دننه او بهر انقلابي ضد ځواکونه به یې دحکومتي ضد هڅو پراخولو ته لا پسې هڅولي وای . دغه حقیقت چې افغان حکومت وکړای شول دهرات بغاوت پخپلو ځواکونو وځپي باید انقلاب ضد کسان پر شاتگ ته اړ او دنوي نظام پر تلیز (نسبي) ټینگښت په ډاگه کړي . په دې توگه موږ کولی شو ووایو چې هرات ته دشوروي پوځي ټولگیو د لیږلو په باب د ا . د . ج . دمشرتابه له‌غوښتنې نه د ډډې کولو په اړه زموږ پریکړه یو بیخي پر ځای کارو . موږ باید په افغانستان کې دنورو حکومتي ضد هڅو دمنځته راتلو په وخت کې هم چې پېښیدلې سړی نه‌شي ردولی ، ورته تگلاره خپله کړو . . .

ا . گرومیکو ، یو ، اندروپوف ، د اوستینوف ، ب . پوناماریوف
د ۱۹۷۹ کال داپریل لومړۍ نېټه
نومره : ۲۷۹ گ . س .
نومره : ۲۵ - س - ۵۷٦

له‌بده مرغه په راتلونکي کې دا دریځ ونه‌ساتل شو او دیو لړ لاملونو له‌مخې یې بدلون وموند . دا چې څه‌شي دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو غړي دې ته اړ ایستل چې افغانستان ته دشوروي پوځونو دلیږلو په‌باب دې خپل لیدونه په‌بشپړه توگه واړوي تر اوسه پورې یوه معما گڼل کیږي . ځکه چې دهغوی دگڼ شمېر دریځ په ښه توگه تلل شوی و . خو زما په اند خبره ټوله په دې کې وه چې پخپله د . ل . ای . برژنف په دریځ کې بدلون راغی او په توتالیتار دولت کې خوښې هم هر څه دهغه چا په لاس کې وي

چې ددولت په سر کې ناست وي. پاتې کسان ددې لپاره چې خپلې ځوکۍ له لاسه ورنه کړي او یا هم ددې لپاره چې ژوندي پاتې شي اړ دي چې یا پر خولې لاس کېږدي او یا هم د [واکمن] په خبره «کالي واغوندي».

خو هر څنګه چې وه شوروي مشرتابه دافغانستان دحالاتو تر هراړخیزې څېړنې نه وروسته دحالاتو د ټیکاو (عادي کېدو) په اړه لاندیني تدبیرونه په ګوته کړل: د ا. د. ج. له مشرتابه سره د پوله ییز (سرحدي) پوځ په ګډون دامنیتي اورګانونو او افغاني اردو دګړه ییز چمتوالي او سیاسي روحیې (مورال) د لوړولو په برخه کې مرستې باید دوام ومومي، دخپلو شونتیاوو په چوکاټ کې افغانستان ته د اقتصادي مرستو په اړه دمسالو او پراتیفي څېړل او اوارول، دسیاسي بنسټونو د پراختیا په اړه چې ګوند اوحکومت ورباندې تکیه کوي اودغه راز دغړو د شمېر د زیاتوالي تر څنګ دګوند دلیکو دیوموټې کولو او دهغه په مشرتابه کې دیو والي د ټینګولو په برخه کې د دندو په ترسره کولو کې مرسته، له افغاني دوستانو سره دهیواد دمسلمان روحانیونو په منځ کې دکار پرمخ بیولو او دغه راز پر قانونولې باندې دیوه ولاړ حقوقي سیستم دمنځته راوړلو اوچلولو (مراعاتولو) په برخه کې دعملي مرستو ترسره کول، دافغانستان په کورنیو چارو کې دنورو هېوادونو د لاسوهنو پر خلاف د بېلو بېلو چینلونو له لارې دکار پرمخ بیول اوداسې نور.

دشوروي اردو اوسمندري پوځي ځواکونو دسیاسي چارو د پاسوال ستر جنرال ا. ا. ایپیشیف په مشرۍ یوه پوځي پلاوي د حالاتو دڅېړلو اود شوروي اتحاد دمشرتابه د دریځونو د روښانه کولو په موخه افغانستان ته د اپریل پر ٤ مه سفر وکړ. (په پام کې وه چې د. ف. اوستینوف هلته واستول شي خو هغه په دې اړه وویل: «زه فکر کوم خدایزده که زه افغانستان ته لاړ شم، زه په دې کې شک وینم. کېدی شي دحکومت له غړو نه یو څوک لاړ

شي ؟ »).

د پلاوي مشرله . م. تره کی او ح . امین او دغه راز نورو سیاسي اوپوځي شخصیتونو سره لیدنې کتنې وکړې چې دهغو په ترڅ کې افغاني مشرانو یوځل بیا د شوروي پوځونو دلېږلو په اړه دپوځي مرستې غوښتنه وکړه ، خوهغوی ته بیا هم وویل شول چې شوروي اتحاد له دې کار سره خوښاوی نه شي کولی . خو د ا . د. ج . د مشرانو تنده په داشان دریغ نه ماتیده او پخپلې خبرې پورې کلک نښتي و .

ح . امین په تېره ددې غوښتنې پر وړاندې کولوځانګړې ټینګار کاوه او داخبره یې یوازې له اپیپشیف سره د کتنې په ترڅ کې نه وه راپورته کړې . دبېلګې په توګه د پلیو ځواکونو د قوماندان دځانګړو سپارښتنو دیوه افسر ډګروال پ .م . سیمچینکوف په وینا په کابل کې له جنرال ای . ګ . پاولوفسکي سره د خپلې لومړۍ کتنې په ترڅ کې چې جنرال ګاریلوف هم هلته و ح . امین په ډاګه داخبره رایاده کړه چې دا . د .ج . مشرتوب له شوروي حکومت نه په ټینګار سره هیله کوي چې کابل ته دیوې فرقې د ژر رالېږلو په اړه [زموږ غوښتنې] ته مثبت ځواب ووایي . په همدې ترڅ کې نوموړي غبرګه کړه چې دغه ټولګي به په جګړه کې ونډه نه اخلي او یوازې د امنیت او کرارۍ دساتلو او د ا . د . ج حکومت د دندو درغنده سرته رسونې لپاره به د یوه ډاډمن ډال په توګه دنده سرته رسوي . خو ددې غوښتنې په ځواب کې هم څرګنده شوه چې آن د داشان ساتندویه دندو لپاره هم دشوروي پوځونو لېږل معقول کار نه دی . ځکه افغاني اردو ښه پوره ځواک په واک کې لري او دهغه په مرسته کولی شي چې دکورنیو مخالفینو اوورانکارو ډلو پر خلاف دجګړې په اړه خپلې دندې تر سره کړي .

خودوه اوونۍ وروسته یانې د ۱۹۷۹ کال داپریل پر ۱٤ مه حفیظ الله امین

د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې لوی پوځي سلاکار جنرال ل. ګاریلوف ځانته ور وغوښت او له نوموړي نه یې وغوښتل چې د شوروي اتحاد د مشرتابه ته [دغه هیله] ور و رسوي...

له کابل نه رپوټ (پټ)

... ملګري امین ځان ته ور بللی وم او د ن.م. تره کي په سپارښتنه یې هیله وکړه چې ۱۵ - ۲۰ جګړه ییزې څرخکې دې له مهماتو او شوروي عملې سره یو ځای کابل ته راولیږل شي چې د حالاتو د لا خرابیږ کېدو په وخت کې به د هېواد په پوله ییزو او مرکزي سیمو کې له پاکستان نه د رالېږل کېدونکو یاغیانو او تروریستانو پر خلاف ورڅخه ګټه واخیستل شي. (ګاریلوف، ۱۹۷۹-٤-١٤). خو د شوروي اتحاد د وسله والو ځواکونو ستر درستیز د شوروي اتحاد مارشال ن. و. اګارکوف پر نوموړي رپوټ د « له دې کار نه دې ډډه وشي » امر او لاسلیک وکړ.

له د. ف. اوستینوف سره له سلا مشورې وروسته د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې عمومي منشي هم افغانستان ته د څرخکیو له لیږلو سره مخالفت څرګند کړ خو له دې سره جوخت یې امر وکړ چې د ن.م. تره کي د ساتنې لپاره د یوه ځانګړي کنډک د لیږلو پر خبرې دې غور وشي.

لاسوند

بېخي پټ

ځانګړې دوسیه

نومره: پ۹۳/ ۱۵۰

ملګرو برژنف، کاسګین، اندروپوف، ګرومیکو، سوسلوف، اوستینوف، پوناماریوف سمیر تیوکوف ته:

د شوروي اتحاد کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو د

۱۹۷۹ کال د اپریل د ۲۱ مې نېټې دغونډې له ۱۵۰ لمبر پروتوکول نه‌را اخیستنه.

د افغانستان په‌دیموکراتیک جمهوریت کې دانقلاب ضد هڅو دځپلو په ترڅ کې په‌جګړه ییزو څرخکیو کې دشوروي عملو دګډون دنه‌معقولتیا په‌باب

۱- ددې سکالو (موضوع) په‌اړه دې د دفاع وزارت د ۱۹۷۹ کال د اپرېل د ۱۸ نېټې په ۴۳۰/۳/۲۱۸ نومره یادونه کې له‌وړاندې شوي وړاندیز سره خوښاوی وشي.

۲- دافغانستان په‌دیموکراتیک جمهوریت کې لوی پوځي سلاکار ته دلارښوونو اوملیک (مسوده) دې‌ومنل شي (ملپاته).

د مرکزي کمېټې منشي

ل. برژنف

**لاسوند**

**د ۱۵۰ نومره پروتوکول د ۹۳ توکي په‌اړه**

**بېخي پټ**

**ځانګړې دوسیه**

**کابل**

**لوی پوځي سلاکارته**

دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت لومړي وزیرح. امین ته‌خبر ورکړئ چې د ۱۵-۲۰ جګړه ییزو څرخکیو په‌باب غوښتنه شوروي حکومت ته‌وړاندې شوه. ورته‌وواياست چې د افغانستان په‌دیموکراتیک جمهوریت کې دانقلاب ضد هڅو په‌ځپلو کې دشوروي ټولګیو دمخامخ ګډون دنه‌معقولتوب په‌باب پخوا هم افغان مشرتابه ته‌څرګندونې شوې دي، ځکه له‌هغو نه‌به‌دافغانستان د انقلاب د ښمنان او [نور] بهرني دښمن ځواکونه‌افغانستان ته‌د شوروي

انترناسیونالیستي مرستې دبدنامولو اود افغان ولس په منځ کې دحکومتي ضد اوشوروي ضد تبلیغونو په موخه ګټه واخلي.

پر دې خبره ټینګار وکړئ چې د ا.د. ج ته پر پنځو - لسو ډولو مهماتو بار ۲۵ جګړه ییزې څرخکۍ درلیږل شوي دي.

ح. امین پر دې قانع کړئ چې پر افغاني پیلوټانو سمبالې شته جګړه ییزې څرخکۍ دپلیو ځواکونو له ډلو ډلګیو او هوايي پوځ سره یوځای کولی شي دانقلاب ضد هلو ځلو دشنډولو په برخه کې خپلې دندې پر مخ بوځي.

افغاني قوماندانانو ته هم په دې باب داړتیا وړ لارښوونې چمتو کړئ. له کابل نه رپوټ (پټ، چټک ...)

... معقوله به وای که (په کیوبا کې د روزنیزې لوا په څېر) په کابل کې هم دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دخلقي وسلوالو ځواکونو لپاره دیوه ګډ پوځي مرکز د جوړولو شونتیا څېړل شوې وای.

پوزانوف، ایوانوف، ګاریلوف، ۱۹۷۹-۵-۶.

مرکز ته دپوزانوف، ګاریلوف، نیشوموف او بګدانوف (دشوروي اتحاد د کې جي بې داستازې) له خوا هم د ۱۹۷۹ کال دجون پر ۷ مه ورته وراندیز لیږل شوی و.

# دپوځي همکارۍ پراختیا

په کابل کې شوروي استازي ډېر ځلې په دې تورن کېږي چې ګواکې دا هغوی وو چې په خپلو رپوټونو یې ل. ای. برژنف او دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو افغانستان ته دپوځونو دلېږلو په اړه پرېکړې ته وهڅوله. دا سمه ده چې هغوی له افغانستان سره دپوځي همکارۍ د پراختیا وړاندیز کاوه، خو پر دې د هغوی ګرمول چې دافغان مشرتابه غوښتنې

بې وړاندې کولې دا به يوه څرګنده بې نياوي (بې عدالتي) وي. دا بېله خبره ده چې هغوی له دغو ښتنو نه څه ډول پايلې اخيستې او په دې باب بې کوم وړانديزونه کول. هو، وړانديزونه رښتيا هم ضد ونقيض او تر ډېره ځايه دحالاتو تر اغېزې لاندې وو. دساري په توګه دافغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې لوی پوځي سلاکار ل. ن. ګاريلوف دافغانستان لپاره دشوروي اتحاد دکمونيست ګوند دمرکزي کميتې دسياسي بيورو دکميسيون په يوه غونډه کې په ټينګار سره وويل: «د ن. م. تره کي او ح. امين له ټولو غوښتنو سره سره دافغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې دشوروي اتحاد پوځي شته والی بايد پياوړی نه شي».

خو ټول بيا پردې يوه ليد نه وو او ځينو بې په دې اړه يو لړ نور وړانديزونه درلودل، دلته به بې ځايه نه وي که دزياتې څرګندتيا لپاره په بهر کې دشوروي اتحاد داستازيتوبونو دکار پرځانګړتياوو او دپوځي همکارۍ پر ټول هغه سيستم لږ رڼا واچوو چې هغه مهال په کار بوخت و. په دغه يا هغه هېواد کې دخپلو کاري مکليفتونو دترسره کولو په ترڅ کې [دشوروي اتحاد] لوی پوځي سلاکاران اړ وو چې نه يوازې د خپلې استوګنې په هېوادونو کې دټولو پېښو په باب، بلکې د پوځي همکارۍ په اړانه کې دټولو وړاندې شويو غوښتنو په اړه هم په مسکو کې مشرتابه ته رپوټ ورکړي.

دپوځي همکارۍ دپلي کېدو ميکانيزم ډېر ساده و. داسې چې په دغه يا هغه هېواد کې لوی پوځي سلاکار به له شوروي اتحاد نه د وسلو، تخنيک او نورو ځانګړو پوځي لوښو لړګيو (سامان الو) دلېږلو په باب غوښتنې ليکونه او نور وړانديزونه سترې درستيزوالۍ ته لېږل. په دې لړ کې به دلويو پوځي سلاکارانو (کارپوهانو) دکارندتيا ارزونه دهغوی داستوګنې دهېوادونو دمشرانو له خوا دهغه پوځي تخنيک او وسلو دشومره والي له مخې کېده چې

ددغو سلاکارانو په مرسته به له شوروي اتحاد نه « ورشکېدلی » وې.

البته د لويو پوځي سلاکارانو شخصي هوساينه ( لکه سوغاتونه ، تنبانونه اونور ) هم په همدې کار پورې غوټه وه . له همدې امله هغوی هڅه کوله چې دخپل پېژند ( شهرت ) دزياتولو اودغه راز « دخپلو ولي نعمتانو د خوشحالولو » لپاره دغه کارونه آن که د هغوی دخپل هېواد په زيان هم وي بايد ترسره کړي . نورو شوروي استازو ( لکه ديپلوماتانو ، دسوداګرۍ داستازويو کارکوونکو او نورو ) هم ورته حالت درلود او تر هرڅه له مخه په بهر کې داوږدې مودې لپاره دپاتې کېدو . . . اودډېرو بهرنيو پيسو د ترلاسه کولو په فکر کې وو .

ببلابېلو پلاوو او کميسيونونو چې وخت ناوخت به يې خپلو « انډيوالو » هېوادونو ته سفر کاوه هم ، دپوځي همکارۍ د پراختيا غوښتنه کوله . هغوی به له خپلو سفرونو نه يو لړ غوښتنليکونه ، هيلې او دغه راز دوسلو او تخنيک دلېږلو په باب وړانديزونه له ځانه سره هېواد ته وړل او په دې توګه به يې هڅه کوله چې په پوځي همکارۍ کې خپله ونډه ترسره کړي . دپلاوو مشران په دې پوهېدل چې دپوځي لوښو لرګيو دلېږلو په برخه کې د دوی « برياليتوبونه » د هغو هېوادونو دواکمنانو په وړاندې ددوی شخصي باور لاپسې زياتوي چې نوموړي هلته سفرونه کوي او طبيعي ده چې دا کار د مېلمستياوو او کور ودانۍ . . . دځرنګوالي ( کيفيت ) دلوړېدلو سبب هم ګرځي . ډېر ځلي به دځانګړو مالونو ګرندۍ لېږدونه دپلاوو له تګ نه ترمخه ترسره کېده چې په دې توګه دهغه پلاوي دمشر « درندوالی » ( وزن ) نور هم پسې زيات شي . دا کارونه ددې لپاره کېدل چې هغوی بيا وروسته دمېلمستيا په ترڅ کې داسې څرګندونې وکړي لکه : « شوروي مشرتوب ستاسو په هېواد کې دحالاتو پر مختيا تل په غور سره څېړي او له څه وخته را په دېخوا تاسو ته دوسلو او

مهماتو دنوې جوړې دلېږلو دکېدون په لټه کې و . دادی نن دوه الوتکې چې پوځي لوښی لرګي په کې بار دي دپلازمېنې پر هوايي ډګر کيناستې . په تخنيک او وسلوبار کښتنی هم سمندر ته ورګډې شوي او ډېر ژر به دلته راورسېږي . . . »او داسې نور .

ستر درستيز توب ته د ښلابڼلو چينلونو له خوا رسېدلي غوښتنليکونه به سره يوځای کېدل ، دهغو په باب به له اړوندو وزارتونو سره سلامشورې کېدې اوتر هغې وروسته به دشوروي اتحاد د دفاع وزارت مشرتابه ته اړوند وړانديزونه چمتو کېدل .بيا به د دفاع وزارت ، د بهرنيو چارو وزارت ، د کې . جي . بې ، دشوروي اتحاد دبهرنۍ سوداګرۍ دکمېټې اود شوروي اتحاد دکمونيست ګوند دمرکزي کمېټې دنړيوالو اړيکو څانګې دلومړيو کسانو له خوا لاسليک شوي يادښتونه دشوروي اتحاد دکمونيست ګوند مرکزي کمېټې ته استول کېدل چې په هغو کې به لومړی دهغه هېواد حالات انځورېدل چې هلته به د پوځي او نورو څانګړو لوښو لرګيو لېږدونه په پام کې وه ، دغه راز به د مرستې دترسره کولو اړتيا په ګوته کېده ، ورپسې به په دې باب دوړانديزونو وار و چې کوم تخنيک او وسلې بايد واستول شي ، دهغو تولېدبېه او د پلورنې شرطونه کوم دي اودغه راز دداشان يوه ګام د اوچتولو پر اړتيا به رڼا اچول کېده . له يادښتونو سره به دشوروي اتحاد دکمونيست ګوند دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو د پرېکړې اومليک او دشوروي اتحاد د وزيرانو شورا لارښوونه هم نښلول کېده . په سياسي بيورو کې تر منل کېدو وروسته به دشوروي اتحاد د وزيرانو شورا لارښوونه په اتوماتيکه توګه لاسليک کېدله ( ځکه چې دشوروي اتحاد د وزيرانو شورا مشر دشوروي اتحاد د کمونيست ګوند دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو غړی هم و ) .

په دې توګه به دخونړيو شخړو تنور ته دوسلو اوتخنيک د ترتولو نويو ښو

جوړې وراستول کېدلې او دجګړې نه مړېدونکې بلا به هم پخپل وار هغه په ډېرې اسانۍ سره له ستوني تېرې کړې . اودا ټول کارونه دشوروي خلکو . . . له «جیبه» تر سره کېدل .

د حیرانتیا وړ ده چې دوسلو په سوداګرۍ کې له زیاتې ګټې سره سره شوروي اتحاد تل دا کار په ډېره اسانه او ارزانه توګه سرته رساوه او د تخنیک ، وسلو او نورو پوځي لوښو لرګیو په بدل کې د پیسو دورکړې شرطونه یې هم ډېر اسان وو ( یا به هغه په وړیا توګه ورکول کېدل او یا به دبیې ۲۵ ، ۵۰ ، ۷۵ په سلو کې په پور ورکول کېده چې په لسو کلونو کې به ایله دوه په سلو کې ګټه ترې تر لاسه کېدله ) او په دې توګه شوروي دولت عملاً د ځان په زیان دوسلو سوداګري کوله . ددې ترڅنګه شوروي اتحاد ډېر ځلې له پوړ بابسته او د بیې دورکړې دوس له نه لرونکو رژیمونو سره سرو کار درلود . چې په دې توګه به دځانګړو لوښو لرګیو د استولو په بدل کې پوروونه لا پسې ډېرېدل او پرخپل وخت به نه ورکول کېدل ، آن تردې چې دهغو زیاته برخه لا تر اوسه پورې هم نه ده ورکړه شوې او په راتلونکې کې هم روسیه دشوروي اتحاد د میراث خورې په توګه خدایزده که هغه تر لاسه کړي ، ځکه ډېر هغه رژیمونه چې دا شان مرستې ورسره شوي ، اوس [ په حق رسېدلي دي] ( لکه ایتوپیا ، افغانستان ، انګولا . . . ) . کله کله به وسلې او مهمات په ډېره چټکه توګه دنړۍ هغه سر لکه انګولا یا نیکاراګوا ته دهوا یا سمندر له لارې واستول شوې خو له هغې خوا نه به کښتۍ او الوتکې ډېر ځلې تشې تورې بېرته راستنېدلې . بې له شکه داشان چلند یو ناسدمن او غیر اقتصادي کار و ، خو شوروي واکمنو چې د اقتصادي کتنو (ملحوظاتو) پر ځای یې پر ایډیولوژیکي دا تکیه درلوده داسې «وړو خبرو» ته هیڅکله هم ارزښت نه ورکاوه ، داسې ګڼل کېده چې په دې توګه موږ دخپلو اندېوالانو ملاتړ کوو او دپوځي محصولاتو دخرڅلاو بازارونه راخپلوو .

# افغانستان ته د شوروي پوځونو دلېږلو

# د تیاري پیلامه

د ۱۹۷۹ کال د مې په پېل کې د داسې یوه ځانګړي کنډک د جوړولو په باب پرېکړه وشوه چې د منځنۍ آسیا د جمهوریتونو له وګړو څخه جوړ شوی وي (زه غواړم دغه کنډک ته ځانګړی پام واړوم ځکه چې همدې کنډک د شوروي اتحاد د کې جي بي له ځانګړو ډلو ډلګیو سره په ګډه له واک نه د ح. امین په لرې کولو کې مهم رول ولوباوه). د مې پر دویمه د شوروي اتحاد د وسله والو پوځونو د ستر درستیز د کشف دلوېې پاسوالۍ مشر ستر جنرال پ. اي. ایواشوتین د نوموړې پاسوالۍ یو لوړ رتبه افسر ډګروال و. و. کولیسنیکوف (چې تر مخه د ترکستان د پوځي سیمې دیوې لوا قوماندان و) ځانته ور وغوښت او هغه ته یې د دغه کنډک د جوړولو او چمتو کولو په اړه د دندو د پرمخ بیولو مشري ور وسپارله. هماغه و چې پر دا بله ورځ کولیسنیکوف له نورو دوو افسرانو سره یو ځای تاشکند ته والوت او پر کار یې پیل وکړ.

د ځانګړو دندو د دغه کنډک (سپیڅناز) پرسونل چې په ورځنیو چارو کې د «مسلمان» کنډک په نوم پېژندل کېده د ترکستان او منځنۍ آسیا له پوځي سیمو په تېره د کشف، موټریزه او ټانک د ډلو ډلګیو له منځ نه په ډېر غور سره

خوښېده ،ددې کار لپاره تر ټولو مهمه غوښتنه په ختیزو ژبو پوهېدنه او بدني ورتیاوې وې .

چارواکـو تل کنډک ته ژوره پاملرنه کـوله او هغـه یې تر ټولو نه پرنوي تخنیک او وسلو سمبالاوه . دخپل جوړښت له پلوه هغه له پنځو ټولیو او دوو ځانګړو ډلګیو څخه منځته راغلی وچې شمېر یې له ۵۰۰ تنو څخه لږ زیات و . د و . و . کولیسنیکوف په سپارښتنه جګړن خ . ت . خالبایف دکنډک دمشر په توګه وټاکل شو . هغوی آن دجشن او رخصتیو دورځو په ګډون شپه او ورځ په کار لګیا وو . کنډک د مې په پای کې نور تر ډېره ځایه بشپړ او چمتو شوی او په چیر چیک کې د ټانک ښوونځي ته څېرمه په یوه پوځي ښارګوټي کې ځای پر ځـای شوی و . دهغـه پرسـونل ته د اوړي په اوږدو کـې ځـانګړي لوسـتـونه ، تاکتـیک ، ډزې او بدني چمتـووالی ورزده او دسپتمبر په پای کې یې بشپړه ازمایښتي ، آزموینه ( تمرین ) ترسه کړه چې دهغې په ترڅ کې یې له ځانه سمه ورتیـا وښوده . له دې سره جوخت دشوروي اتحاد دکې . جي . بې دځـانګړو دندو ډلې ډلګۍ هم چمتو کېدلې او یو شمېر خو یې آن مخکې تر مخکې لا کابل ته استول شوې وې .

په همدې ترڅ کې دافغانسـتـان حالات هم مخ پر خـرابېدو روان وو ، او د پکتـیکا ، غزني ، پکتـیا ، ننګرهار ، کـونړ ، بلخ ، او کـابل په ولایتـونو کـې حکومتي ضد پوځي هڅو کارنده بڼه غوره کړه خو دغه هڅې په ټولو سیمو کې دحکومتي ځواکونو له خوا وځپل شوې . په دې لړکې افغانانو یوځل بیا د پوځي مرستې غوښتنه وکړه چې د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو هغه د ۱۹۷۹ کال دمی د ۲٤ نیټې په غونډه کې تر څېړنې لاندې ونیوه .

**لاسوند**

**بيخي پټ**

**ځانګړې دوسيه**

نومره: پ ۱۵۹-۱۵۲

ملګرو برژنف، کاسګين، اندروپوف، ګرميکو، سوسلوف، او ستينوف، پوناماريوف، بايباکوف، پاتوليچيف، سکاچکوف، سيربين، سمير تيوکوف، ته: (دشوروي اتحاد د کمونيست ګوند دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو د ۱۹۷۹ کال د مې د ۲٤ نيټې د غونډې له ۱۵۲ نومره پروتوکول‌نه را اخيستنه).

دافغانستان ديموکراتيک جمهوريت ته دزياتې پوځي مرستې دورکولو په باب

۱- دشوروي اتحاد دپلان دولتي کمېټې او بهرنۍ سوداګرۍ وزارت ته دې سپارښتنه وشي چې د دوو اوونيو په ترڅ کې دافغانستان ديموکراتيک جمهوريت ته د ۱۵۰۰ موټرو دورلېږلو غوښتنه وڅېړي او په دې اړه اړوند وړانديزونه چمتو کړي.

۲- دافغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې شوروي سفير ته دې په دې اړه دلارښوونو متن ومنل شي. (ملپانه)

دمرکزي کمېټې منشي

ل. برژنف

**لاسوند**

**د ۱۵۲ پروتوکول د ۱۵۹ توکي په اړه**

**بيخي پټ**

**ځانګړې دوسيه**

کابل - شوروي سفير ته

ن . م . تره کی ته ورشئ او زموږ په لاربښوونه په تکیی سره ورته وواياست چې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت ته د نورو پوځي مرستو دورکولو په باب دافغـاني مشـرتابه غوښتني په غـور سره وڅېړل شوې . ورتـه وواياست چې مسکو په افغانستان کې دوروستیاپالو ( ارتجاعي ) ځواکونو دانقلاب ضد کارندتیا ( فعـالیتونو ) د چټکتیا له امله دافغاني مشرتابه پر اندېښنو پوهېږي . شوروي حکومت دافغـانسـتـان په دیموکراتیک جمـهوریت کې دحـالاتو دټینګښت لپاره په راتلونکي کې هم دانترناسیونالیستي مرستو دورکولو په باب پر خـپـل هوډ ولاړ دی او [ لـه همـدې امله یې ] پرېکړه وکـړه چې د ۱۹۷۹-۱۹۸۱ کلونو په ترڅ کې [له افغانستان سره] د ۵۳ ملیونه روبلو په ارزښت دځانګړو وسلو او مالونو وړیا مرستـه وکړي. په دغـو وسلو کې ۱٤۰ توپونه او هاوانونه ، ۹۰ زغره وال ګاډي ( له دې ډلې نه ۵۰ یې په بیړنۍ توګه ) ٤۸ زره میله سپکه وسله ، نږدې زر دټانک ضد توغندي او ۶۸۰ هوایي بمونه راځي . دغـه راز د ۱۹۷۹ کـال په جون او جـولای کې به دپنځوس زره روبلو په ارزښت دارو درمل او طبي سامان آلی هم په ګړندۍ توګه درواستول شي . دغه راز دچټکې مـرستی په توګه دسږ کـال په مې کې سل اور بلوونکي ټانکۍ او ۱۶۰ یوځلیز ( یکدفعدیي ) بمي کـستیونه هم درلېږل کېږي . دنا زهري مسموم کوونکي مادې درلودونکي ګازي بمونو درلېږل شوني نه برېښي .

تر کومه ځایه چې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت ته له شوروي عـملي سره یوځـای دځرخکیـو او ترانسپـورتي الوتکو او په کـابل کې زموږ دهوايي دیسانت د احتمالي پلي کېدنې په باب دافغاني لوري په غوښتنې پورې اړه لري ، نو له شوروي پوځي تولګیـو نه دګټې اخیستنې خبره خو لا پخوا مسکو ته دروان کال په مارچ کې دملګري ن . م . تره کي دسفر په ترڅ کې په هر اړخیزه توګه څېړل شوې ده . موږ ښېړ باور لرو چې داکار به نه یوازې دکورني

سیاست په برخه ،بلکې په نړیوال ډګر کې هم غتې ستونزې رامنځته کړي او له هغه نه به بې له شکه دښمن ځواکونه د ا . د . ج . دګټو او داپریل انقلاب د بریاوو د ټینګښت پر خلاف ګټه واخلي.

ددې لارښوونو دپلي کېدو په باب تلګرام راولېږئ » . خو د ا . د . ج . مشرانو دخپل ځان دبې امنیتی له امله اندېښنه درلوده چې په افغانستان کې شوروي استازو ته دهغوی مخ اړونې او دشوروي اتحاد له مشرتابه نه د دوی غوښتنې ددې کار ځرګندې نښې ګڼل کېږي.

له کابل نه رپوټ ( پټ)

دجون پر ۱٤ مې دخلکو په کور کې له ح .امین سره وکتل .ح . امین دخبرو اترو په ترڅ کې ځرګنده کړه چې« دښمنان هڅه کوي چې دخلکو دکور ساتونکې په پیسو واخلي او په دې توګه د دولت مشران له منځه یوسي . موږ پرهغو کسانو چې دخلکو دکور ساتنه کوي بشپړ باور نه لرو . زه له تاسو نه هیله کوم چې د ا . د.ج . ته د خلکو په کور کې دحکومت دساتنې اودبګرام او شینډنډ په هوايي اډو کې دټانکونو اوجګړه ییزو ( محاربوي) ماشینونو لپاره د شوروي عملو د رالېږلو له لارې له موږ سره د مرستې په باب خپل مشر تابه ته رپوټ ورکړئ ». لکه چې ځرګنده ده، ح .امین پخوا هم په وار وارله یاغیانو سره دپوځي نښتو په سیمو کې دیو لړ دندو دترسره کولو لپاره په ټانکونو او الوتکو کې زموږ دعملو دمخامخ ونډې اخیستنې په باب وړاندیزونه کړي دي . . . .

ګاریلوف ، ۱۹۷۹/٤/۱٤

مسکو په افغانستان کې دحالاتو پرمختیا په غور سره څېړله . په همدې موخه په ستردرستیزتوب کې یوه ځانګړې ډله هم جوړه شوې وه چې هره ورځ به یې دسهار تر اتو بجو دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دحالاتو په باب لنډ رپوټ او نقشه جوړوله او دغه راز به یې په دغه هیواد کې زموږ دراتلونکو

پوځي ګامونو لپاره د اړوندو تدبیرونو د نیولو په باب مشرتابه ته وړاندیزونه برابرول. د دېرو مهمو مسالو په باب به د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټې ته د یادښتونو په بڼه رپوټونه جوړېدل چې دهغو له مخې به پرېکړې کېدې. سړی کولی شي چې داتولې خبرې دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې په هغه یادښت کې په څرګنده توګه ووینې چې دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د ۱۹۷۹ کال دجون د ۲۸ نېټې په غونډه کې منل شوی دی ( دپرېکړې لمبر پ ۱۱/۱۵۶ دی ).

**لاسوند بیخي پټ**

**ځانګړې دوسیه**

د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټه

... دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې پرتې ستونزې تر دېره ځایه یو لړ ربښتیني لاملونه لري چې داقتصادي وروسته پاتې والي ، دکارګر پاړکي ( طبقې ) دشمېر کمښت او دافغانستان خلق دیموکراتیک ګوند ( ا.خ.د.ګ ) دکمزورتیا زیږنده ده. خو دغه ستونزې دیو شمېر ذهني لاملونو له مخې نورې هم پسې ژورېږي ، لکه دا چې په ګوند او دولت کې دله ییزه مشري نه شته او ټول واک عملاً ن.م. تره کي او ح. امین چې ډېر وخت تېروتنې او له قانون نه سر غړونې کوي ، پخپلو موټو کې ټینګ کړی دی...

له انقلاب ضد سره په جګړه کې د افغاني مشرتابه ټول تکیه پر اردو ده . په وروستیو وختو کې دهېواد امنیتي ځواکونه، پوله ییز پوځ او دجوړېدو په حال کې دځاني دفاع ډلې په دغه جګړه کې ډېره کارنده ونډه اخلي . خو د خلکو پراخه پرګنې تر اوسه لا په بشپړه توګه له وروستیاپالنې ( ارتجاع ) سره هانداو هڅې ته نه دي وراړول شوي او له همدې امله ده چې د حالاتو دټینګښت لپاره دا .د.ج. دحکومت له خوا اوچتېدونکي ګامونه هم پوره اغېزمني نه

لري....

د وړاندې شويو ټکو له په پام کې نيولو سره دشوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزارت ، دشوروي اتحاد کې .جي .بې ، د دفاع وزارت اودشوروي اتحاد دکمونيست ګوند دمرکزي کميټې دنړيوالو اړيکو څانګه معقوله ګڼي چې :

٣- لەلوي پوځي سلاکار سره دمرستې لپاره دې په پوځونو ( فرقو او غونډونو ) کې دمخامخ دندو دسرته رسولو په موخه ديوه تجربه کار جنرال په مشرۍ د افسرانو يوه ډله افغانستان ته ور واستول شي ...

٤- لەافغاني لوري سره دخوښاوي په صورت، کې دبګرام په هوايي ډګر کې دشوروي هوايي ټولګي دامنيت او دفاع لپاره دې د ا . د . ج . ته دهوايي تخنيکي پرسونل په جامو (يونيفورم) کې د پراشوتي ديسانت يو کنډک ور ولېږل شي .

دشوروي سفارت دساتنې لپاره دې هم کابل ته دسفارت د خدمتي پرسونل په بڼه دشوروي اتحاد دکې جي بې يوه ځانګړې ډله (چې ١٢٥-١٥٠ تنه ولري) ور واستول شي .د ستر درستيز دکشف دلوېې پاسوالۍ ځانګړې ډله دې دروان کال داګست په پيل کې دچمتووالي لەسرته رسولو وروسته د ا . د . ج . ( دباګرام هوايي ډګر ) تەولېږل شي چې د حالاتو دبېخي خرابېدو په وخت کې د ډېرو مهمو حکومتي ځايونو د امنيت اوساتنې په برخه کې ګټه ور څخه واخيستل شي...

١- ګروميکو ، يو . اندروپوف ، د . اوستينوف ، ب . پوناماريوف . خو افغاني مشرانو دپخوا په څېر افغانستان ته دشوروي پوځونو پرلېږلو ټينګار کاوه او په دې ترڅ کې « مسلمان » کنډک هم په کابل کې خپلې راتلونکې دندې ته دچمتو کېدو په حال کې و . خو هغه مهال لا دا معلومه نه وه چې پېښې به څنګه وده وکړي اوشوروي سياسي مشرتوب به په دې اړه څه ډول ګامونه اوچت کړي.

له کابل نه رپوټ ( پټ ، چټک)

دجولای پریوولسمه ... تره کي هم وړاندیز وکړ چې ډېره به ښه وای که شوروي لوري په پلازمېنه کې دحالاتو دزیاتې خرابې په وخت کې په کابل کې دکنډک په کچه دخو شوروي ځانګړو پوځي ډلو دپټې ځای پرځای کېدنې په باب پرېکړه کړې وای ....

دشوروي اتحاد دکې جي بي استازی ۱۹۷۹/۷/۱۱.

په افغانستان کې شوروي سفیر ، د کې جي بي استازې اولوی پوځي سلاکار دجولای پر ۱۲ مه رپوټ ورکړ چې : د ا.د .ج . مشران دمخالفینو له وسله والو ډلو سره دنوونښتو لپاره په غوڅه توګه تیارې نیسي . نوموړو کسانو دغه راز [دافغاني مشرانو] بیا بیا غوښتنې تکرارولې او ددغو غوښتنو دترسره کولو لارې چارې چې هغه د ا . د .ج . ته دځانګړو ډلو ډلګیو یا له شوروي عملې سره یوځای دپوځي تخنیک لېږل وو ، په ګوته کولې .

له کابل نه رپوټ ( پټ ، چټک)

... د ا . د . ج . مشران له انقلاب ضد سره نوو نښتو ته غوڅ تیاری نیسي ، خو د حالاتو دلا کړکیچن کېدو په وخت کې به هغوی تر ډېره ځایه د شوروي اتحاد مخامخ مرستو ته اړ وي.

... په دې اړه ددې کارونو سرته رسول معقول برېښي :

۷- په شینډنډ کې د ا . د . ج . دوسله والو ځواکونو اډې ته دشوروي څرخکیو دیوې ډلې دلېږلو خبره دې وڅېړل شي چې دڅرخکیو لپاره دافغاني عملې په ژر چمتوالي کې مرسته وکړي . د څرخکیو دغه ټولګي به دغه شان دایران د پولو په اوږدو کې دهوایي کشف دنده هم سرته رسوي.

پوزانوف ، ایوانوف ، ګاریلوف ۱۹۷۹-۷-۱۲ .

ن .م . تره کی اوح . امین د جولای پر ۱۸-۱۹ مه کابل ته د شوروي اتحاد

کمونیست گوند د مرکزي کمېټې دمنشي ب . ن .پوناماریوف دسفر په وخت کې له نوموړي سره دخبرو اترو په ترڅ کې افغانستان ته لېږ ترلېږه د دوو شوروي فرقو دلېږلو خبره په وار وار راپورته کړه . هغوی ټینگار کاوه چې دا کار دې د فوق العاده حالت په شرایطو کې (د ا . د . ج . دقانوني حکومت په غوښتنه) ترسره شي .

له کابل نه رپوټ ( پټ ، چټک )

. . . . تره کی او امین یوځل بیا په [ افغانستان ] کې دشوروي پوځي شته والي دپراختیا خبره غبرگه کړه . هغوی دفوق العاده حالت په وخت کې د ا . د . ج . ته « دافغانستان دقانوني دولت په غوښتنه » لږ ترلږه د دوو فرقو د لېږلو خبره کوي . خو دافغاني مشرتابه ددې غوښتنې په ځواب کې هغوی ته وویل شول چې شوروي اتحاد نه شي کولی دغه کار ترسره کړي . . .

پوناماریوف ، ۱۹۷۹-۷-۱۹ .

خو ن . م . تره کی او ح . امین له شوروي لوړ پوړو مېلمنو نه دداسې ځواب تمه نه درلوده . له همدې امله په راتلونکې کتنه کې هم هغوی یوځل بیا افغانستان ته دشوروي پوځونو دلېږلو خبره راپورته کړه .

له کابل نه رپوټ (پټ چټک)

د جولای پر ۱۹ له ن . م . تره کي سره دویمه کتنه ترسره شوه . . . تره کي بیا دشوروي اتحاد له لوري دپوځي ملاتړ د زیاتېدو خبره راپورته کړه او زیاته یې کړه چې دفوق العاده حالاتو دمنځته راتلو په وخت کې به په کابل کې دهوایي دیسانت دفرقې پلې کېدلو دانقلاب ضد ځواکونو دهځو په ځپلو کې پرېکنده رول لوبولی وای . خو دهغوی په ځواب کې یوځل بیا زموږ دریځ روښانه او ټینگار وشو چې شوروي اتحاد نه شي کولی داسې یو گام پورته کړي . . .

پوناماریوف ۱۹۷۹-۷-۲۰ .

له کابل نه رپوټ ( پټ ،چټک)

ح . امین دجولای پر ۲۱ مه شوروي سفیر وروغوښت او د ن . م .تره کي پرسپارښتنی باندې په تکیې سره یې هیله وکړه . چې دغه ټکي دې دشوروي اتحاد مشرتابه ته ورسول شي:

... هیله کېږي چې ۸ - ۱۰ څرخکی دې له شوروي پیلوټانو سره یوځای دافغانستان دهوايي ځواکونو په واک کې ورکړ شي چې په الوتنو کې به هم ونډه اخلي.

ح . امین ته مې وویل لکه څنگه چې شوروي مشرانو په وار وار څرگنده کړې او ب . ن . پوناماریوف هم په کابل کې دخپلو وروستیو خبرو اترو په ترڅ کې په ډاگه کړه ، شوروي لوری نه شي کولی په جگړه ییزو عملیاتو کې دشوروي پوځي پرسونل له ونډې اخیستنې سره خوښه وکړي ...

پوزانوف ۱۹۷۹-۷-۲۱ .

خو په دې ترڅ کې د ۱۹۷۹ کال په منځ کې دافغانستان - پاکستان په پولو کې حالات لا پسې خړ پړ شول . دغه راز دهغو افغاني کډوالو شمېر هم چې د وسله والې جگړې د پراخېدو له امله دهېواد پرېښودلو ته اړ و ، مخ په زیاتېدو و . دهغوی له یوې برخې نه دافغانستان اسلامي گوند ، دافغانستان اسلامي جمعیت اونورو اسلامي سازمانونو دخپلو لیکو د پیاوړتیا او نووجنگیالیو ډلو دجوړولو لپاره گټه اخیسته . خپلې خوا ته دکوچیانو د وراړولو لپاره دمخالفینو دپروپاگنډچیانو تبلیغي کارندتیا اوله پاکستان نه دافغانستان پر خاورې د وسله والو داړو هځولو هم دحالاتو په ترینگلتیا کې ستر رول لوباوه . یوازې د ۱۹۷۸ کال له جون نه د ۱۹۷۹ کال تر نومبر پورې له ۱۵ زره نه زیاتو یاغیانو په پاکستان کې روزنه لیدلې وه . له دې سره جوخت له افغانستان سره دلویدیزو هېوادونو سوداگریز او اقتصادي اړیکي هم مخ په سېږدو شول . د ساري په توگه

د ۱۹۷۹ کال له مارچ نه تر سپتمبره دافغانستان له دیموکراتیک جمهوریت سره د امریکا دمتحدو ایالتونو په سوداګرۍ کې ۱۳ په سلو کې کمښت راغی. په همدې موده کې له جاپان نه د مالونو لیږدونه ۳۳ په سلو کې راوغورځېده، انګلستان هم دافغاني پنبې له اخیستلو نه ډډه وکړه او د المان فدرالي جمهوریت آن دبورې لیږل هم بند کړل.

ن.م. تره کی او ح. امین په دې نیت چې شوروي مشران به په پای کې د هغوی خبره ومني دبهلا بهلو چینلونو له لارې د پوځونو دلېږلو په اړه دخپلو بیا بیا غوښتنو له امله پر شوروي لوري زور اچوه. په کابل کې زمونږ استازی هم دغه مهال تر پرله پسې روانې زور لاندې و.

له کابل نه رپوټ (پټ، چټک...)

امین یو ځل بیا په پلازمېنه کې د فوق العاده حالت دمنځته راتلو په وخت کې کابل ته د دریو شوروي پوځي ټولګیو دلیږلو خبره راپورته کړه. د نوموړي په اند کېدای شي چې دغه ټولګي په عسکري کلوپ، شوروي سفارت اود تاج بیګ غونډۍ په سیمه کې چې هلته دکال په پای کې د دولت دمشرمانۍ ورلیږدول کیږي اوعسکري کاغوشونه هم لري په پټه توګه ځای پر ځای شي.

امین خوان وویل چې ملګری تره کی دعسکري کلوپ سیمې ته دشوروي کنډک ژر رارسېدنې ته سترګې پر لار دی....

دشوروي اتحاد دکې جي بې استازی - ۱۹۷۹-۷-۲٤مه. په وروسته کې لویدیزو خبریالانو داسې انګازه خپره کړه چې په دارالامان کې دتاج بېګ مانۍ ته د حفیظ الله امین د استوګنځي لیږدونه ګواکې دشوروي لوري په لارښوونه له دې امله ترسره شوه چې له واک نه دح. امین ګوښه کول په اسانۍ سره تر سره شي. خو له پورتني رپوټ څخه په ډاګه کیږي چې داکار تر مخه لا پخپله دافغانانو له خوا پلان شوی و. خو هر څنګه چې وه، په هغې کې به هرو مرو زمونږ

هم څه ناڅه لاس و ، ځکه دمانې د رغاوي (ترمیمولو) پیسې دشوروي لوري له خوا ورکړ شوې وې. دغه راز زموږ استازو هم په افغانستان کې د شوروي پوځي شته والي د ډېریدو په باب دافغانانو له غوښتنو نه ملاتړ کاوه.

له کابل نه رپوټ (پټ - چټک)

... داگست - سپتمبر په میاشت کې دیاغي ډلو د احتمالي کارنده کېدو په پام کې نیولو سره ... ددې اړتیا احساسېږي چې دافغاني دوستانو غوښتنې ته مثبت ځواب وویل شي او کابل ته یوه ځانگړې لوا راواستول شي. پوزانوف ، ایوانوف ، گاریلوف -

۱۹۷۹-۸-۱مه.

خو افغاني مشرانو ته ربښتیني اوبنستیز خطر دمخالفینو له خوا نه ومخامخ ، بلکې هغه په هغې جگړې کې نغښتی و چې پخپله دگوند اودولت په مشرتابه کې په پټه روانه وه.

دح. امین ان پردې هم تنده نه وه ماته چې د ا. خ. د. گ. یوشمېر ډېرو وتلي شخصیتونه یا له خپلو دندو نه گوښه کړای شوي وو ، یاوهل تکول شوي اویا هم دهېواد پرېښودلو ته اړ شوي وو. له همدې امله یې له واک نه «دخپل ښوونکي» چې د درناوي په دود به یې دخلکو په مخ کې دهغه لاسونه ښکلول ، دگوښه کولو او دهغه دنږدې پلویانو دشړلو دلوبې وروستي پړاو ته لاس واچاوه.

نور نو ح. امین په نه تمېدونکي توگه ځانواکی ته درسیدلو لپاره په شنه منډه کې و. هغه نور دتره کي د « وفادار شاگرد » او په دولت کې د دویم سړی په توگه پرخپل دریځ بسنه نه کوله. حفیظ الله امین غوښتل چې دی باید هرو مرو لومړی کس وي. په دې ترڅ کې د اگست پر ۵ مه په کابل کې دافغانستان دهوایي دیسانت په ۲٦ م غونډ او دکوماندو په کنډک کې یوه بلوا جوړه شوه ، خو دیو لړ غوڅو تدبیرونه له برکته دغه بغاوت ډېر ژر وځپل شو. له دغې پېښې

ACKU

شو ورځې وروسته یانې د ۱۹۷۹ کال د اګست پر ۱۱ مه د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دلوي پوځـــي سلاکار ل . ن . ګاریلوف او حفیظ الله امین تر منځ یو لړ خبرې اترې وشوې چې دهغو په ترځ کې ټول پام افغانستان ته د شوروي ټولګیو دلیږلو په اړه غوښتنې ته اړول شوی و .

ح . امین په ټینګار سره هیله کوله چې شوروي مشرتابه ته دې کابل ته دشوروي ټولګیو دژر رالیږلو داړتیا په باب معلومات ورکړ شي . . . په دې ترځ کې افغانستان ته دشوروي اردو دیوشمېر ډلو ډلګیو او دکې جي بې دځانګړو ډلو لیږل هم کرار کرار پیل شول.

هوح . امین خپلو اندېښنو ته بشپړ دلیلونه درلودل . هغه هم دهېواد له کورنیو ، مخالفینو نه او هم دامریکا له کوښښونو نه وېره درلوده .دستیوین هیلستر په وینا « واشنګټن هم د سي آی اې له لارې او هم کبدی شي پخپله په مخامخ ( مستقیمه) توګه آن د ۱۹۷۹ کال داګست په میاشت کې کله چې په کابل کې دامریکا سفارت یو بېړ رپوټ خپور کړ [ له افغاني ] سره مالي مرستې کولې . [ دسفارت ] په رپوټ کې پایله اخیستل شوې وه چې « په افغانستان کې دهر ډول راتلونکو ټولنیزو او اقتصادي سمونونو لپاره دټولو ناوړه عواقبو له درلودلو سره سره د تره کي - امین د رژیم راپرځېدل دمتحدو ایالتونو له پراخو ګټو سره مرسته کوي ». یوه اوونۍ وروسته په لاس انجلس کې دسي آی اې څانګې دسي آی ای له خوا دیوه ګمارل شوي افغان ددې هیلې په باب چې دهغه پیسې دې په ایران کې دافغاني یاغیانو دبانکي شمارله لارې ولیږل شي اود بانک نوم او دشمار نومره یې هم ښودلې وه کابل ته یو ټلګرام مخابره کړ . . . په سپتمبر کې سي آی اې رپوټ ورکړ چې دجنرال ضیاالحق او چینایي رسمي لوړپوړو چارواکو ( مقاماتو ) تر منځ دیولړ پرله پسې لیدنو کتنو په ترځ کې د پټنځي ( مخفیګاه) په توګه دپاکستان دراتلونکي رول او دغه راز دپاکستان



ACKU

له زیرمتونونونه پرزیاتو وسلو دتینګاو (مقاومت) [دډلو] دسمبالولو په باب ځینې پلانونه ترلاس لاندې ونیول شول... »(۱)

له کابل نه رپوټ (پټ، چټک)

... ح. امین وویل: ښایي شوروي مشران به له دې نه اندېښنه لري چې په نړۍ کې [زموږ] دښمنان به دا کار د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت په کورنیو چارو کې لاسوهنه وبولي. خو زه تاسو ته ډاډ درکوم چې موږ یو خپلواک او مستقل دولت یو او ټولې پرېکړې پخپله کوو....

ستاسو پوځونه به په پوځي عملیاتو کې ونډه نه اخلي. له هغو نه به یوازې په ډېرو نازک شېبو کې ګټه اخیستل کېږي. فکر کوم چې موږ به شوروي ډلو ډلګیو ته تر پسرلي پورې اړتیا پیدا کړو»...

ګاریلوف – ۱۲/۸/۱۹۷۹ مه.

په کابل کې شوروي استازي چې افغانستان ته دشوروي اردو دټولګیو له لېږلو نه دټینګزني کېدو له امله دتره کي او امین له خوا تر پر له پسې زور لاندې وو، په پای کې یې کابل ته دځینو ځانګړو ډلو ډلګیو دلېږلو دکېدون دځېړني په باب وړاندیز وکړ..

په دې کې شک نه شته، هغو شورویانو هم چې هغه مهال یې دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې استوګنه درلوده، د داسې یوه ګام پورته کولو ته هر کلي وایه، ځکه چې په دې کار کې دهغوی شخصي امنیت هم نغښتی و.

له کابل نه رپوټ (پټ. چټک)

... ح امین داګست پر ۱۰ مه او ۱۱ مه له موږ سره په خپلو خبرو کې څرګنده کړه چې دیاغیانو پر خلاف په کابل کې د پرتو [افغاني] پوځونو په کارول به هغه وخت شوني شي چې شوروي مشران دافغانستان په پلازمېنه کې دشوروي دریو

---

(۱) Third World Quartely .october 1988. P 1505-1541

ځانګړو کنډکونو دځای پرځای کېدو په باب دافغانستان ديموکراتيک جمهوريت دحکومت او پخپله د ن . م . تره کي شخصي غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي .

د څارګرۍ د اداري مشر سروري هم داګست پر ۱۲ مه د ح . امين په سپارښتنه له مونږ نه هيله وکړه چې دشوروي ځانګړو کنډکونو اوشوروي عملې په ګډون د ترانسپورتي څرخکيو دليږلو په اړه د ا . د . ج . مشرتابه دهيلو پلي کولو ته چټکتيا ورکړو .

... زموږ په ګومان معقوله به وي که يو کنډک ... او دشوروي عملې په ګډون څو ترانسپورتي څرخکۍ په نږدې ورځو کې کابل ته راواستول شي ....

له دې سره جوخت هيله کوو چې دافغانستان ديموکراتيک جمهوريت ته دنورو دوو ځانګړو کنډکونو دراليږلو خبره هم وڅېړئ چې يو به يې دهوايي ځواکونو داډې د امنيت دپياوړتيا لپاره په بګرام کې او بل به د کابل په څنډه کې د بالاحصار په چونۍ کې ځای پر ځای شي .

پوزانوف ، ايوانوف ، ګاريلوف - ۱۲/۸/۱۹۷۹ مه .

داګست پر ۱۲ مه د پکتيا ولايت دزرمت په سيمه کې دياغيانو له زيات شمېر ځواکونو سره په جګړه کې دپلې دولسمې فرقې تولګيو ته ډېر زيات زيان ورسېد .

(د پرسونل يو شمېر اسير شو او نورو يې د تېښتې لار ونيوه) .

دغه راز دافغانستان دحالاتو اودرژيم دپايښت دڅېړلو په موخه دپلو ځواکونو دقوماندان ستر جنرال ای . ګ . پاولوفسکي په مشرۍ يوه شوروي پوځي پلاوي هم په اګست کې کابل ته سفر وکړ . نوموړي څه موده وروسته په دې اړه داسې څرګندونې کولې : « په ياد مې دي چې له مسکو نه مې د الوتلو په درشل کې دځانګړي تليفون له لارې دشوروي اتحاد دفاع له وزير د . ف .

اوستینوف سره چې په «سوچي» کې پر دمې (استراحت) بوخت و او د پلو ځواکونو د قوماندان په توګه زه د هغه مرستیال وم خبرې وکړې. دنورو پوښتنو ترڅنګ مې له دمیتري فیودروویچ [اوستینوف] نه داهم وپوښتل چې:

- آیا افغانستان ته د پوځونو لیږل په پلان کې شته؟

وزیر په غوڅه توګه ځواب راکړ چې: نه، په هیڅ صورت.

داخبره مې کابل ته تر رارسېدو وروسته د سفیر ا.ام. پوزانوف له غوږه هم تېره کړه. وروسته مې له تره کي او امین سره هم وکتل. د تره کي بر عکس چې پرسړي یې دیوه ښه زړي او فلسفي انتزاعي افکار و درلودونکي کس په توګه اغېز پرېښود، امین له انرژۍ نه ډک، هوډمن او کارنده ښکارېده او داسې یې ښودله چې ګنې په پوځي چارو کې ډېره بلدتیا لري.

هغه له مانه هیله وکړه چې دهوايي دیسانت د پوځونو د یوې لوا درالېږلو په باب دهغه شخصي هیله د.ف. اوستینوف ته ورسوم.

ما مسکو ته شفر ولېږه چې په هغه کې مې دامین دهیلې د یادونې ترڅنګ خپل لید په لاندې ډول وړاندې کړ: «د پوځونو لیږل نامعقول کار دی». ما دغه راز اوستینوف ته ولیکل چې پخپله مې له تره کي او امین سره وکتل.

د دمیتري فیودروویچ له غبرګون نه وپوهېدم چې مسکو پر امین باور نه لري... »ح. امین رښتیا هم داګست پر شلمه له ای. پاولوفسکي سره دخبرو په وخت کې هیله کړې وه چې کابل ته دلیږلو لپاره دې دشوروي دیسانت ځوتولګي ځانګړې شي. برسېره پردې هغه یوله نورې غوښتنې هم درلودې چې په هغو کې د پوځونو دلیږلو په ګډون دشوروي پوځي مرستو پراخېدل هم راتلل. هغه دغه راز غوښتل چې دهوايي ساتنې دهغو ډلګیو ځای چې دافغانستان دیموکراتیک، جمهوریت دپلازمېنې ساتنه کوي پر شوروي کارپوهانو ډک کړي. په همدې لړ کې افغانستان ته دشوروي پوځونو دلیږلو په اړه یو ځل بیا ځینې نوي دلیلونه هم وړاندې شول.

له کابل نه رپوټ (پټ. چټک)

... ح. امین دخبرو اترو په ترڅ کې دا خبره راپورته کړه چې په کابل کې پردرنو وسلو (لکه ټانکونو، توپونو اونورو) باندې سمبال ګڼ شمېر پوځونه ځای پر ځـای شوي دي. کـه چېرې شـوروي اتحـاد د (۵ , ۱ - ۲زرو) کـومـاندویانو له رالېږلو سره چې دبالاحصار په چوڼۍ کې به ځای پرځای شي خوښاوی کړی وای، نومونږ به له [خپلو] دغـو پوځونو نه په نورو سیمو کې دانقلاب ضد پر خلاف دجګړې لپاره ګټه اخیستې وای...

وروسـتـې ملګري امـین دې ټکي ته اشاره وکـړه چې ښـه به‌وای کـه دهوایي ساتنې د ۷۷ ملي متري توپونو درلودونکو بطریو ځای چې د کابل دساتنې لپاره دښار پر شاوخوا پـه‌جګو سیمو کې‌ځای پر ځای شوي دي اود هغو پر وفاداری باندې‌هم دی باور نه‌لري شوروي بطریو نیولی وای.

پاولوفسکي - ۱۹۷۹/۸/۲۱ مه.

خو دخپلې هیلې په ځواب کې دمثبت غبرګون له نه تر لاسه کولو سره سره ح. امین بیا هم له خپلې خبرې نه‌وانه‌وښت او دبلې لیدنې په ترڅ کې یې بیا پر خپل دریځ ټینګار وکړ.

له کابل نه رپوټ (پټ)

... ملګري امین بیا داګست پر ۲۳ مه کابل ته‌زمونږ دپوځونو دلېږلو خبره راپورته کړه چې دهغه په‌اند داکار به دکابل دګارنیزیون له دوو فرقو نه یوه فرقه له‌یاغیانو سره جګړې ته اوزګاره کړي...

پاولوفسکي - ۱۹۷۹/۸/۲۵ مه.

ح. امین دېره هیله درلوده چې دخپل رژیم دټینګښت لپاره دیوه ضمانت په توګه په‌افغانستان کې شوروي پوځونه‌ووینې او له‌همدې امله یې خپلې دغې موخې ته‌درسېدو لپاره خورا ډېر ټینګار او نوښتونه کول. خونومونږ هغه مهال ګومان هم نه‌شو کولی چې په پای کې به‌همدغه پوځونه هغه ته‌کنده وکیني.

# د ا. خ. د. گ. دعمومي منشي

# ن. م. تره کي وژنه

دسمتبر په پيل کې ح. امين هاوانا ته دنا پيلو هيوادونو دمشرانو په غونډه کې دګډون لپاره د ن. م. تره کي پر سفر خورا تينګار کاوه او موخه يې داوه چې دهغه له نشتوالي نه په ګټې اخيستنې سره به په هيواد کې دواک دترلاسه کولو لپاره خپلې ترلاس لاندې تدبيرونه بشپړ کړي. دشوروي مشرانو هڅو چې غوښتل يې ن. م. تره کی له دې سفر نه راوګرځوي مثبته پايله ورنه کړه. نوموړي د رندو په څېر پر ح. امين باور درلود او دتوتاليتار دولت دواکمن دغه بنسټيز آر ته يې شا اړولې وه چې په هيواد کې بايد د «دوهمې کچې» دکسانو شمېر دې روې څکه په دې دول سړی کولای شي هم پر هغوی په اسانۍ سره واک وچلوي او هم خپل ويلاړ او اراده پرې ومني او په دې توګه آن د دله ييز مشرتابه اکټ هم پرځای کړي. که چېرې «دويم کچيز» کسان يو تن وي نو هغه بايد ډېر ژر له منځه يوړ شي، څکه چې نوموړی به په ټول وس سره هڅه کوي چې د «لومړي سړي» ځای ونيسي.

ن. م. تره کی له کيوبا نه د راستنېدو په وخت کې په مسکو کې دتم کېدو او له شوروي مشرانو سره دخبرو اترو په ترڅ کې يو ځل بيا دح. امين دناوړه نيت په

باب هینبس کړای شو. هغه له ل. برژنف او یو. اندروپوف نه په دې اړه یوه داسې خبرې واورېدې چې دې يې ببخي هک پک کړ ،لکه داچې دنوموړي دناسوبتیا په وخت کې ح. امین دن. م. تره کي تر ټولو ربښتیني اووفادار کسان له خپلو څوکیو څخه گوښه کړي او . . . .

شوروي مشرانو په لومړي سرکې غوښتل چې دا. خ. د. گ. دعمومي منشي دساتنې لپاره «مسلمان» کنډک افغانستان ته ولېږي. له همدې امله دسپتمبر پر لسمه جگړن خ. خالبایف ته دنده ورکړ شوه چې خپل ټول کاغذونه (سندونه) او گوندي اود ځوانانو دسازمان (کومسمول) کارتونه پرېږدي او دتاشکند دهوايي ډگر پر لوري وخوځېږي. هلته دې پرسونل افغاني پوځي یونیفورم واغوندي اوکابل ته دې والوزي.

خو کله چې کنډک هوايي ډگر ته راورسېد[ نویو ناڅاپه ورته] امر وشو چې «هر څه پرېږدئ». گومان کېږي هغه مهال یو. اندروپوف ل. ای برژنف او ن. م. تره کی پردې قانع کړای شول چې دکنډک لېږلو ته اړتیا نه شته، ځکه چې ح. امین به په ډېر نږدې وخت کې [له بلې لارې] له منځه یووړل شي. خو د ح. امین د له منځه وړلو دا پلان ناکام شو، ځکه چې هغه د «ښوونکي» دهرکلي لپاره هوايي ډگر ته دهغې لارې پرځای چې ده ته په کې لار (کمین) نیول شوې وه پر بلې لارې لاړ. له همدې امله وه چې کابل ته په رارسېدو سره ن. م. تره کی دنورو هرکلي کوونکو په منځ کې خپل له خندا شین ځای ناستونکی هم ولید.

دا. خ. د. گ. عمومي منشي ته ډېر وخت نه و په کار چې وپوهېږي گوند يې په بشپړه توگه دوه ځایه شوی دی. هو ح. امین دهغه له ناسوبتیا نه په گټې اخیستنې سره په هېواد کې دواک دتر لاسه کولو لپاره بشپړ چمتووالی نیولی و، ځکه يې بې له ځنډه له گوانبه په ډکه ژبه له ن. م. تره کي نه وغوښتل چې خپل

ACKU

نږدې ملګري ، دچا خبره« ځلوریاران » (م. ا. وطنجار ،ا. سروري ، ش. مزدوریار او س. م ګـلابزوی) دې له خپلو دولتي څوکیـو نه لرې کړي. خـو دهغـه دې غوښتنې ته دنه ځواب ورکړ شو. حفيظ الله هم بې له ځنډه دداسې « آوازو » په خپـرولو لاس پورې کړ چې ن. م. تره کی نور دده پرځای اوس يوازې پر «ځلورو يارانو » باور لري اوغواړي دی ووژني. له دې سره جوخت هغه د ن. م. تره کي مانۍ ته له ورتګ نه نوره پښه ونيوه او کله به چې نوموړي بلنه ورکړه نو ده به د نه ځواب وکاوه.

دهغـو شوروي پوځـي سلاکـارانو په وينا چې هغـه مـهال دافغـانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې پر دنده بوخت وو ، دح. امين غوښتنې بې بنسټه نه وې . دسپـتمبر پر ۱۳ مه ح. امين بيا له ن. م. تره کي نه د «ځلورويارانو » دلرې کـولو غـوښـتنه وکـړه ، خو بيـا يې هم د نه ځـواب واورېد. پر همدې ورځ ا. ا. ګروميکو ، يو. و. اندروپوف او د. ف. اوستينوف په کابل کې شوروي استازو ته لارښـوونه وکـړه چې ن. م. تره کي او ح. امـين ته ورشي او دشـوروي اتحـاد د کمونيست ګوند دمرکزي کميټې دسياسي بيورو او «پخپله دل، ای. برژنف » له نامه نه ورته ووايي چې په ګوندي او دولتي مشرتابه کې پرې جنبې ته اجازه ورنه کړي . دواړو افغـاني مشرانو له شوروي استـازو سره دخبرو په ترڅ کې ډاډ ورکړ چې ديو والي د ټينګښت په ګټه به له هر ډول لارو چارو نه کار واخلي. خو له دې سره جوخت ا. م. پوزانوف ته سپارښتنه شوې وه چې د ن. م. تره کي ملګرو (ا. سروري ،ا. وطنجار ،ش. مزدويار او س. ګلابزوی) ته بايد پناه ورکړي. هماغه وو چې دغه لارښوونه پلې شوه ، داسې چې لومړی دغه کسان سفارت ته ورغلل ، بيا زموږ دځارګرۍ ترپالنې لاندې ونيول شول او ورپسې په پټه دافغانستان له ديموکراتيک جمهوريت نه مسکو ته يوړل شول چې هلته يې د ۱۹۷۹ کال تر دسمبر پورې استوګنه درلوده .

ACKU

پر دابله ورځ ح. امين دکابل ګارنيزيون پوځونو ته دلومړي لمبر چمتووالي امر وکړ . له همدې امله شوروي استازو يو ځل بيا له هغه سره وکتل او هڅه يې وکړه چې منځګړيتوب وکړي. خو دې کار يې ګټه ونه کړه . داهغه وخت و چې ح.امين نور دخپل پلان پلي کولو ته لستوني رابډ وهلي وو. دا چې نوموړي په دې ترڅ کې کومو کارونو ته لاس واچاوه؟ په دې اړه اوازې اوګونګوسي ډول ډول دي. خو که ټکي په ټکي ددې بهير له بيانولو نه تېر شو نو ددې ټولو تارونو سر دې ځای ته رسېږي. چې د ح. امين ددې کار لامل چې غوښتل يې « دټولو چارو واګي په خپلو لاسونو کې ونيسي » داوچې هغه په دې پوه شوی و چې ن. م. تره کی په مسکو کې د ل. ای. برژنف له خوا د نوموړي په لاس د پلي کېدو په حال چلوتې او دسيسې نه خبر کړای شوی دی. دا چې داخبره ځنګه تر ح. امينه ورسېده کېدی شي په دې باب به د ن. م. تره کي سر ياور ډګرمن س. ټرون هغه ته رپوټ ورکړی وي ، ځکه د ا. خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې عمومي منشي بنايي له شوروي اتحاد نه د راستنېدو په وخت کې داخبره په الوتکه کې په بې احتياطۍ له [ټرون] سره ګډه کړې وي .ځکه ده ګومان هم نه شو کولی چې آن شخصي ځان ساتونکی يې وختي لا د ح. امين سړی دی او دا خولا څه چې دهغه له ډېرو پخو خبرلوڅو او همکارو څخه هم دی . کېدی شي تر ټولو وروستی رپوټ به ح.امين له ستر درستيز يعقوب نه چې ن. م. تره کي ورته د ډېرې ويښتيا اوچمتووالي دنده ورکړې وه ، تر لاسه کړې وي .

البته په دې کې شک نه شته چې ډګرمن س. د . ټرون آن ګومان هم نه شو کولی چې څو ورځې وروسته به ح. امين نوموړی دوريا رپوټ او بې ساري وفادارۍ په بدل کې خپل بلهاری (قرباني) کړي ، داسې چې دځينو خلکو په خبره دح. امين له خوا دجوړې شوې ډرامې يانې پرځان باندې دناوړه نيت په ترڅ کې به ووژل شي.

ن. م. تره کي د سپتمبر د ۱٤ مې پر سهار ح. امین ته ټیلیفون وکړ او نوموړی بې ځان ته وروباله، هغه دغه راز امین ته وویل چې شوروي دوستانو هم ددې کار ورانديز کړی دی.

په کابل کې شوروي سفير ا. م. پوزانوف د سپتمبر پر ۱۳ او ۱٤ د ا. خ. د. ګ. د دواړو مشرانو د پخلاينې لپاره پر داسې يوې کتنې رښتيا هم ټينګار کړی و. شوروي استازو فکر کاوه چې د ل. ای. برژنف له خوا ورغ تر مخه رارسېدلی شخصي پېغام به چې په هغه کې له ن. م. تره کي اوح. امين نه د هېواد په ګوندي او دولتي مشرتابه کې د پرې جنبې له منځته راتلو نه د ډډې کولو غوښتنه شوې وه هر و مرو خپل رول ولوبوي. (د یادولو وړ ده چې د پلو ځواکونو لوی قوماندان سترجنرال ا. ګ. پاولوفسکي تردې وخته لا په افغانستان کې و، او هغه ایله دنومبر پر دريمه مسکو ته ورو غوښتل شو).

امین له څو ځلي انکار نه وروسته داځلي په ناڅاپې توګه [ تره کي ته ] له ورتللو سره خوښناوی وکړ. هماغه وو چې هغه د ګن شمېر ساتندويانو په ملتيا غرمه مهال دخپل « غليم » استوګنځي ته راورسېد او په داسې حال کې چې س. تړون له هر کلي نه وروسته ورسره ملګری و د ن. م. تره کی داستوګنځي دشا له خوا نور پيا (زينې) له لارې يې دورپورته کېدو لار ونيوه .خو په همدې وخت کې دماشينګنيو باړ وچلېده اوله دې سره سم له ټولو نه سرو غوږ ورک شو. په همدې ترڅ کې آخوا ته کوم څوک وژل شوی و او له يوه بل نه ويني بهېدې . ح. امين وکړای شول چې خپل موټر ته ځان ور ورسوي او پر خپله مخه ولاړ ، خو تړون چې دده هر کلي ته ورغلی و اودنوموړي په مخ کې روان و ګوليو غلبېل غلبېل شوی و. برسېره پردې و .زيرک هم ژور ټپی شوی و . ډاکټر عظيم هم چې په همدې وخت کې يې چای وړ په ناڅاپي توګه په ګولۍ لګېدلی و او له اوږې نه يې وينې څڅېدې.

ای. ګ. پاولوفسکي وروسته په دې اړه داسې کیسه کوله : « دتره کي

ښځه چې له ویرې یې رنګ زیړ تښتېدلی و په ځغاسته کوټې ته راننوته او وېې
ویل چې سر یاور تړون ووژل شو.

تره کي په داسې حال کې چې رنګ یې سپین اوښتی و له کړکۍ نه بهر وکتل
او چې ویې لیدل چې امین په وتو کې دی نو له ماتې نه په ډک غږ یې وویل: «بس،
خبره ورانه [خروپه] شوه ....»

د ډګرمن س. د. تړون دجنازې د ښخولو له پرتمینو مراسمو نه چې د ح. امین
په نوبښت ترسره شول او دغه راز پر تړون ښار باندې د جلال آباد دنومولو په باب
له پرېکړې نه سربېره کولی شي داسې پایله واخلي چې دوی دواړو هرومرو کومه
پټه چلوټه په زړه کې درلوده.

په هرحال اوس ددې خبرې سپیناوی ناشونی برېښي ځکه ددغو ډزو
لېدونکي او برخه وال دپېښې پر دابله ورغ زنداني او وروسته بېخي غیب وغوب
(ترې تم) شول. دشوروي اتحاد د کې جي بې ډېرو مهمو کارکوونکو له ماسره
په خبرو اترو کې څرګندوله چې د ح. امین دا شان چلند د ن. م. تره کي دپلاټونو
د شنډولو لپاره یو ځوابیه ګام و، ځکه: «د ا. خ. د. ګ. عمومي منشي هغه
وخت امر کړی و چې ح. امین باید ووژل شي».

د تورنجرال و. زپلاتین په وینا دا پېښه د ن. م. تره کي له خوا د ح. امین د
له منځه وړلو یوه هڅه وه، ځکه دماشینګنو ډزې هغو یا ورانو پیل کړې چې نور
م. تره کي ته وفادار وو. په وروسته کې پېښو سخته بڼه غوره کړه، داسې چې
دلوی درستیز جنرال یعقوب په امر دکابل ګارنیزیون پوځونه پر ښار ورننوتل
حکومتي ودانی یې تر خپلې ولکې لاندې راوستې، دن. م. تره کي استوګنځی
یې کلابند او نوموړی یې عملاً بېخي ګوښی (تجرید) کړ. ح. امین دشپې د ا. خ.
د. ګ. دمرکزي کمېټې د سیاسي بیورو غونډه او پر داسبا یې دمرکزي کمېټې
پلینوم جوړ کړ چې مشري یې د ا. خ. د. ګ. دمرکزي کمیټې دمنشي او
دبهرنیو چارو وزیر شاه ولي پر غاړه وه. په هغه کې ن. م. تره کی او دهغه

ملګري درايو په يو والي رسماً له ټولو څوکيو نه ګوښه او له ګوند نه هم وايستل شول او ح. امين (۱) دعمومي منشي په توګه وټاکل شو.

---

(۱) حفيظ الله امين په خټه دخروټو په نوم د پښتنو په يوه کوچني قام پورې اړه لري. په ۱۹۲۷ کال کابل ته څېرمه په پغمان کې ديوه دولتي کارکوونکي په کورني کې زېږېدلی دی. څرنګه چې پلار يې لا په کوچنيوالي کې له لاسه ورکړ، نوله هغې امله يې روزنه دخپل مشر ورور چې يو وخت ښوونکی او وروسته د «سپين زر» په نوم دمالوچو ديوه لوی شرکت رييس منشي و، پر غاړه شوه. نوموړي دښوونکو په لوړې موسسې (دارالمعلمين) او دکابل پوهنتون په ساينس پوهنځي کې خپلې زده کړې پای ته رسولې. له پوهنتون نه تر وتلو وروسته يې د کابل د ابن سينا ليسې دښوونکي، دمدير د مرستيال او مدير په توګه دندې سرته رسولې. پر ۱۹۵۷ کال د نورو زده کړو لپاره د امريکې متحده ايالتو ته لاړ او هلته يې د ماستري ډيپلوم تر لاسه کړ. افغانستان ته تر راستنېدو وروسته څه موده په کابل پوهنتون کې استاد شو، وروسته بيا د ابن سينا مدير او وروسته دښوونکو دلوړې موسسې (دارالمعلمين) مشر شو. وروسته دښوونې او روزنې په وزارت کې دلومړنيو زده کړو دڅانګې مدير شو. په دې وخت کې ح. امين ديوه پښتون ناسيوناليست په توګه پېژندل کېده. هغه پر ۱۹۶۲ د دوکتورا د ترلاسه کولو لپاره بيا امريکا ته سفر وکړ. له هغې مهاله دهغه سياسي کارندتيا پيل کېږي. پر ۱۹۶۳ کال نوموړی په امريکا کې دافغاني محصلانو دټولنې (اتحاديې) دمشر په توګه وټاکل شو او وروسته يې په نيويارک کې دافغاني پرمختيا پالو (مترقي) محصلانو سازمان جوړ کړ. خو نوموړی پخوا تردې چې خپله دوکتورا بشپړه کړي په دغې ټولنې کې دخپلې کارندتيا له امله له امريکا نه وايستل شو.

ح. امين افغانستان ته تر راستنېدو وروسته د ا. خ. د. ګ. دبنسټ ايښودونکي کنګرې دتيارې په بهير کې (۱۹۶۵) له ن. م. تره کي سره نږدې اړيکې ټينګ او د کنګرې په کار کې کارنده ونډه واخيسته او دافغانستان په خلق ديموکراتيک ګوند کې د ډلو ټپلو دجوړېدو په وخت کې په زغرده د ن. م. تره کي تر څنګه ودرېد. [له هغې امله نوموړی دتره کي] دګرانښت وړ ګرځې او په دې توګه دخلق ډلې دکارندتيا په بهرخه کې له ن. م. تره کي سره نږدې ملګرتيا کوي. هغه پر ۱۹۶۷ کال د ن. م. تره کي په لارښوونه د ا. خ. د. ګ. د «خلق» دمرکزي کمېټې غړيتوب ترلاسه کوي. امين پر ۱۹۶۹ کال دولسي جرګې دوکيل په توګه ټاکل کېږي او دپارلمان له تريبون نه په ګټې اخيستنې سره پر پادشاهي رژيم سختې نيوکې کوي.

ح. امين پر ۱۹۷۳ کال واک ته دمحمد داود تر رسېدو او آن د ۱۹۷۸ کال د اپريل د ۲۷ مې تر پوځي کودتا پورې دولتي دندې درلودې او پوازې دګوندي جوړښت چارې يې پرمخ بيولې چې دې کار د «خلق» په اړخ کې دهغه داغېزې او باور له لوړېدو سره ډېره مرسته وکړه.

د ۱۹۷۷ کال په اوړي کې نوموړی د ا. خ. د. ګ. دسره يو شوې مرکزي کمېټې دغړي په توګه منل کېږي او له دې سره جوخت په اړه وکي د ا. خ. د. ګ. د خلقي پوځي سازمان مشري هم ورسپال کېږي. (دياد ونې وړ ده چې دخلق او پرچم پوځي سازمانونه دګوند تر يو کېدو وروسته هم سره بېل و).

نوموړي د ۱۹۷۸ کال په اپريل کې د ا. خ. د. ګ. دمشرانو تر بندي کېدو وروسته دم. داود د رژيم پر خلاف دپوځي ګام لپاره داردو دچمتوالي کار پيل او دهغه مخامخ مشري يې پر غاړه واخيسته. واک ته د ا. خ. د. ګ. تر رسېدو وروسته ح. امين د ا. د. ج. دانقلابي شورا له پرېکړې سره سم د ا. د. ج. دلومړي وزير دمرستيال او دبهرنيو چارو دوزير په توګه وټاکل شو. هغه دغه راز د ا. خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو او دمرکزي کمېټې د دارالانشا غړيتوب هم ترلاسه کړ. د ا. د. ج. له دفاع وزارت نه د ع. قادر تر لرې کېدو وروسته هغه ته واک ورکړ شو چې د دفاع وزير د دندو په پرمخ بيولو کې له نور محمد تره کي سره مرسته وکړي». دې کال عملاً نوموړي ته په اړه وکې د ټول واک ورکولو مانا درلوده، په همدې وخت کې ح. امين په پرله پسې توګه د ګوندي او دولتي جوړښت کار پخپلو لاسونو کې راټولوي او دامنيتي اورګانونو (څارګرۍ) کارندتيا هم تر خپلې ولکې لاندې راولي. دح. امين له لوړتيا او پرمختيا سره دن. م. تره کي يې ساري باور او دهغه خپلو وړتياوو ډېره مرسته وکړه. له انرژۍ نه ډکوالی، کارندتيا، دبوې خبرې پر بېخ باندې پوهېدلو ته هڅه، په خپل اند وکړ (فکر وعمل) کې ټينګوالی، څانته دنورو کسانو راښکل او هغوی تر خپلې اغېزې لاندې راوستل دنوموړي غوره ځانګړتياوې وې. په خبرو اترو کې غبرګ (ـدقيق) و، لږې خبرې يې کولې، دډېرې ښې يادښې (حافظې) درلودونکی و او خپل څانته دخبروال (هم صحبت) د راښکلو وړتيا يې درلوده. نوموړي له خپلې اغېزې نه په ګټې اخيستنې سره خپل خپلوان او څانته وفادار کسان د ا. خ. د. ګ. او دولتي لاسون (دستګاه) کې ګمارل. هغه يو زيږ پښتون ناسيوناليست و. پر انګريزې ژبې يې له کومې ستونزې خبرې کولې. سګرټ يې نه څکول او د شرابو په څښلو کې يې هم زياتی نه کاوه. هغه واده کړی و او اووه اولاده يې درلودل.

(پای)



ACKU

پلنیوم د دلکشاه په ماڼۍ کې چې د ګارد او امنیت د اداري د کارکوونکو له خوا کلابنده وه جوړ شوی و. تر پلینوم وروسته د ا. د. ج. د انقلابي شورا غونډه جوړه شوه چې ن. م. تره کی یې د انقلابي شورا له مشرۍ نه ګوښه او ح. امین یې د هغه پرځای وټاکه . په همدې وخت کې شوروي کنډک چمتو وچې د افغان مشر د ژغورنې لپاره کابل ته والوزي او آن په الوتکو کې هم ځای پر ځای شوی و، خو ح. امین هم پر خپل وخت اړونده ګام اوچت کړی و او پر هماغه ورځ یې د هوايي ډګر ساتندویه هوايي پوځ ته دنده ورکړې وه چې هره هغه الوتکه چې وغواړي له هوايي ډګر نه والوزي یا هلته راښکته شي باید راوغورځول شي.

د هماغې ورځې پرماښام کابل راډیو اعلان وکړ چې ن. م. تره کی له ټولو څوکیو نه ګوښه کړای شو . له دې سره جوخت خبر ورکړ شو چې د غه کسان د ا. خ. د. ګ . د مرکزي کمیټې له سیاسي بیورو څخه وایستل شول: د څارګرۍ ادارې مشر ا. سروري ، د کورنیو چارو وزیر س. ګلابزوی، د سرحدونو چارو وزیر ش. مزدوریار او د مخابراتو وزیر م.ا. وطنجار . د غه راز د ځینو فرقو او غونډونو قوماندانان او یو شمیر جنرالان او افسران هم چې د ن . م. تره کي پلوي یې کول له خپلو دندو نه ګوښه کړای شول.

رپوټ( پټ)

. . . د ا. د. ج. په مشر تابه کې د منځته راغلو ، اختلافونو له امله دروان کال د سپتمبر د ۱٤ مې نېټې پر نهو بجو او دېرشو دقیقو د ح. امین په امر د کابل ګارنیزیون په پوځي ټولګیو کې د لومړۍ درجې پوځي چمتووالي حالت اعلان شو. د مازیګر پر ٤ بجو او شلو دقیقو پر (۱٦:۲۰) د غه پوځونه د لوی درستیز یعقوب په امر ښار ته ور ننوتل او پر شپږو بجو یې خپل خپل ځایونه ونیول.

د ماښام پر ٥ بجو او ٥٠ دقیقو کابل راډیو د افغانستان دیموکراتیک

جمهوریت په حکومت کې دیو شمیر بدلونونو په باب خبر خپور کړ . په همدې وخت کې دګارنیزیون په یو شمیر ټولګیو کې هم لکه داتمې پلې فرقې قوماندان ، دتوپچي غونډ او داتمې فرقې د ټانک دکنډک قوماندانان او د ٤ او ١٥ زغره وال پوځ درستیز والان له خپلو دندو نه ګوښه کړای شول. دشپې له خوا د کابل حالات نسبتاً کرار وو. دښار ټولې مهمې ودانۍ دپوځ له خوا ساتل کېدې او په واټونو کې داردو دډلو ډلګیو سختې ګزمې ګرځېدې راګرځېدې .

دن. م. تره کي استوګنځی هم دپوځ له خوا کلابند شوی او له هغه سره دمخابراتو ټول مزي پرې شوي دي...

درپوټ سرچینه : دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دلوی پوځي.

سلاکار رپوټ ، کابل ، د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر ۱۵ مه .

[باید وویل شي چې] د « مرورو » او تره کی ته د وفادارو ټولګیو دځپلو دنده دا. د. ج. د وسله وال پوځ د لوی درستیز جنرال یعقوب پر غاړه وه.

ح. امین اعلان وکړ چې د ا. خ. د. ګ . دمرکزي کمېټې پخواني عمومي منشي غوښتل دی په تلک کې ونیسي او ويې وژني ، ځکه چې په هېواد ، ګوند او پوځ کې د حالت روان بدلون د ن. م. تره کی په ګټه نه و.

له دې پېښې نه لا څو ورځې نه وې تېرې شوې چې په افغانستان کې شوروي سفیر ا. م. پوزانوف ته « لاربښوونه » وشوه چې له دغه هېواد نه ووځي. ددې کار لاملونه څرګند دي او هغه دا چې ا. پوزانوف له ح. امین نه غوښتي وو چې د همـاغـه « ناوړه نیت » پرورغ له ن. م. تره کي سره وګوري . برسېره پردې «څلوریاران» یې هم د شوروي سفارت په ودانۍ کې پټ کړي وو . تر دې نه لږ وروسته ا. م. پوزانوف د ا. ا. ګرومیکو په لاربښوونه « دنوموړي ( پوزانوف ژ. ) د پرله پسې غوښتنو له امله » مسکو ته ور وغوښتل شو ، په داسې حال کې چې دهغه دبدلولو وړاندیز آن په مارچ کې لا دشوروي اتحاد دکمونیست

گوند دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو په غونډه کې ترسره شوی و. خو موده پس ح. امين په ډاګه څرګنده کړه چې « شوروي سفير [زما] دمخالفينو ملاتړ کاوه او ماته يې زيان رساوه».

[دهغه پرځای] دتاتارستان د ولايتي ګوندي کمېټې پخوانی لومړی منشي فکرت احمد جانوويچ تابييف دنوي سفير په توګه وټاکل شو چې دنومبر پر ۲٦ کابل ته لاړ. شوروي اتحاد ته ترستنېدو وروسته هيڅ دا. پوزانوف پانه هم وانه ړوله اودشوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزارت مشرتابه نه يوازې دا چې ورونه غوښته بلکې له هغه نه يې په افغانستان کې د راتلونکو ګامونو په باب آن يوه نرۍ پوښتنه هم ونه کړه ، په داسې حال کې چې نوموړي په دغه هېواد کې تر اوو کلونو زياته موده تېره کړې وه. هلته « پاس ناست کسان» دچا خبره « ټول له ځانه پوره وو » اود سفير اړتيا نه احساسېده.

دافغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې لوی پوځي سلاکار جنرال ل. ګاريلوف هم په ورته برخليک اخته شو ، په دې « ګناه » چې نوموړي ولې ونه شو کړای له ن. م. تره کي سره دمرستی په نيت [کابل] ته د ديسانت کنډک د الوتلو لپاره دافغانستان دهوايي ساتنې دپوځ کارندتيا شنډه کړي. له بله پلوه [دافغانستان] نوو واکمنو هم پرنوموړي چندان باور نه درلود ، ځکه چې هغه آن د م. داود له وخت نه په افغانستان کې پاتې و. په پای کې د. ف. اوستينوف نوموړی [شوروي اتحاد] ته ور وغوښت.

دګوند غړو ته د. خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې پر پټ ليک کې چې دسپتمبر پر ۱٦ مه خپور شو دهغو شپو ورځو دپېښو بيان په دې ډول شوی و : « دملګري حفيظ الله امين دوژلو په نيت د ن. م. تره کي دتروريستي چلوټې هڅه ناکامه شوه.

.... ملګري امين دتره کي شخصيت ستاينې په رسوا کولو سره خپل

اروالی(اصولیت) ثابت کړ. دتره کي کارنده پلویانو لکه اسدالله سروري، سیدمحمد گلابزوی، شیرجان مزدوریار او محمد اسلم وطنجار دتره کي دشخصیت ستاینې په لاره کې هرډول هلې ځلې کولې. دهاو دده ډلې هیله درلوده چې د هغه د انځور درلودونکي نښانونه باید دټولو خلقیانو پر ټټرونو راځوړند وي.

ملگري ح. امین په زغرده ددې کار پر خلاف هاندوهڅه کوله او ویل به یې چې آن و. ای. لینن، هوشي من او. ف. کاسترو په ژوندینې داسې یوه کار ته اجازه نه ورکوله.

ن. م. تره کي دخپل باند په خوښه غوښتل چې ښارونه، اداري او واټونه د هغه په نوم ونومول شي. برسېره پردې هڅې کېدې چې د ن. م. تره کي یوه لویه مجسمه جوړه شي. خو دا ډول کوښښونه دملگري ح. امین له غوڅ مخالفت سره مخامخ شول.

.... دن. م. تره کي باند په پرله پسې توگه ځان پخپله گوښه کاوه، دهېواد دوزیرانو شورا رئیس ته یې له غاړې ایښودنې نه ډډه کوله او دن. م. تره کي په مشرۍ یې دیوې خپلواکې ډلې په توگه فعالیت کاوه...».

درپوټ سرچینه: د ا. خ.د. گ. مرکزي کمېټه، کابل، روسي ته له دري نه ژباړه د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر ۱٦مه.

په لیک کې دغه شان له عمومي منشي سره د ح. امین دلیدلو په ترڅ کې د ډزو دپېښې پر بهیر هم چې د ن. م. تره کي په استوگنځي کې شوې وې « رڼا اچول شوې وه». طبیعي ده چې په هغه کې دمنځته راغلې حالت اووژل شوو کسانو ټوله پړه پر ن. م. تره کي او دهغه پر اندیوالانو اچول شوې وه.

په همدې شان حالاتو کې دشوروي مشرتابه په وړاندې دا پوښتنه رامنځته شوه چې په راتلونکي کې باید څه وکړي؟ آیا له افغانستان سره په خپلو اړیکو

کې باید ډېر ژر بدلون راولي؟ آیا د ح. امین حکومت باید سم له لاسه په رسمیت ونه پېژني؟ او یا باید داسې وښودل شي چې ګنې هیڅ څه هم نه دي پېښ شوي؟ پرېکړه وشوه چې په رسمي تګلاره کې دې هېڅ ډول بدلون نه راوستل کېږي، خو ددې تر څنګه یوه بله لاره چاره هم وسنجول شوه چې دهغې په اړه داسې لارښوونې وشوې:

« په کابل کې شوروي استازو ته:

۱- معقوله وګڼل شوه چې په افغانستان کې د منځته راغلي حالت د واقعیت په پام کې نیولو سره له ح. امین او دهغه تر مشرۍ لاندې حکومت سره دې له راشې درشې نه ډډه نه کېږي. ددې تر څنګه اړینه ده چې ح. امین د ن. م. تره کي د ملګرو او امین ته د نه منلو وړ نورو هغو کسانو وهلو ټکولو ته پرې نښودل شي، چې د انقلاب دښمنان نه وي. له دې سره جوخت له ح. امین سره له اړیکو نه باید دهغه د سیاسي څېرې او نیتونو د لازیاتې راسپړنې لپاره ګټه واخیستل شي.

۲- دغه راز معقوله وګڼل شوه چې په افغاني پوځ کې زموږ پوځي سلاکاران او دغه شان دامنیتي اورګانونو او کورنیو چارو وزارت مشاورین باید پر خپلو ځایونو پاتې شي. هغوی باید دپخوا په شان دیاغي ډلو او نورو انقلاب ضد ځواکونو پر خلاف دجګړه ییزو عملیاتو دچمتو کولو او پرمخ بیولو دندې پر مخ بوځي. که چېرې له هغو پوځي ټولګیو او ډلو نه چې زموږ سلاکاران په کې دندې سرته رسوي، دح. امین دمخالفینو دځپلو لپاره ګټه اخیستل کېده، نو دوی دې په داشان عملیاتو کې هېڅ ډول ونډه نه اخلي. ...

ا. ګرومیکو - ۱۹۷۹/۹/۱۵ مه.

اوس به وګورو چې امریکایانو ددې پېښو په باب څه ډول غبرګون وښود؟ آیا هغوی څه غوښتل چې تر سره یې کړي؟ لکه چې وخت وښوده امریکایي



ACKU

ډيپلوماټانو دافغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت کې دمنځته راغلي حالت او دهغه دراتلونکي په باب ډېره ژوره څېړنه او تلل شوي ارزونه درلوده، د افغانستان راتلونکو پېښو هم تر ډېره ځايه دهغوى داټکلونو (شايي هم پلانونو؟ ل.) سموالى څرګند کړ.

لاسوند (دافغانستان لپاره دامريکا د بهرني سياست دا دارو له پټيو ليکنو څخه)

د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر ۱۷ مه نومره – ۶۹۳۶

په کابل کې دامريکا دمتحدو ايالتونو له سفارت نه

دبهرنيو چارو وزير ته، واشنګټن، بې له ځنډه: تر ټولو له مخه په پيکنګ، ډاکې اسلام آباد او جدې کې دامريکا دمتحدو ايالتونو سفارتونو او په کراچۍ کې دامريکا قونسلګرۍ ته، په لندن، مسکو، ډيلي، پاريس او تهران کې دامريکا دمتحدو ايالتونو سفارتونو ته، په ناټو کې دامريکا دمتحدو ايالتونو څانګې ته. پټ (محرم)، سکالو (موضوع) (په رسمي توګه دمحدودې ګټې اخيستنې لپاره):

له سياسي برياوونه دولس مشر امين له خوا له ګټې اخيستنې سره سم په کابل کې کړکيچ هم کمښت مومي...

۳– دسپتمبر پر ۱۷ مه دکابل پر وخت دمازيګر پر ٤ بجو اوس د وروستيو ورځو له کړکيچ نه په ډ ک حالت کې لږڅه سړښت راغلی. خو ټانکونه د پخوا په څېر دارګ («دخلکو کور») شاو خوا د مهمو ځايونو او «افغانستان راډيو» دوداني، ساتنه کوي او ټانکيستان دخپلو ټانکونو سيورو ته دمه دي.

٤– په پام کې ده چې نن ماښام د شپې پر ۱۰ بجو (په پښتو ژبه) او پر ۱۰ بجو او ۳۰ دقيقو (په دري ژبه) خلکو ته دامين وينا خپره شي. افغانان سترګې پر لار دي چې له يو لړ ټکو نه خبر شي. لکه دا چې آيا امين به د پخوا په

ښېر د « لوی » اوله منځه تلونکي« سترلاربښود » نور محمد تره کی په باب له درناوي نه ډکه ژبه وکاروي....

او که د « ستربښوونکی » ، چې تر مشرۍ لاندې چې نوموړي د « اتل شاګرد » په توګه دنده ترسره کوله په ډانډس کولو پسې متې راونغاړي؟

... دیولړ باوري رپوټونو تر مخې دامین لور د سپتمبر پر ۱٦ مه په خپل ښوونځي کې د تره کي عکس ځيرې کړ او هغه يې«بدسړی » وګاڼه....

٦ - تره کی په څه حال کې دی ؟ دسفارت له کار کوونکو سره په خبرو کې د کابل ګڼ شمېر اوسېدونکو باور څرګند کړ چې تره کی په هغه ډزو کې دتپي کېدو له امله چې دنوموړي یاور سېد داود تړون دسپتمبر پر ١٤ مه یا ١٥ مه نېټه پکې ووژل شو ( سمه نېټه يې لا تر اوسه نه ده معلومه) مړ شوی دی. داسې ګومان کېږي چې تره کي او تړون په زور یا په خوښه په هغه زور زياتي کې ونډه درلوده چې موخه يې له کابينې نه دڅوپاتې پوځي غړو ایستل وو. خو دهغوی د له منځه وړلو وار لا تر دې دمه دامین په مهالوېش کې نه و راغلی او دامین له مهالوېش سره سم ددوی وار ته لا وخت پاتې و. دا هم کېدای شي چې امین دم غنيمت ګڼلی وي او له شونتیا نه په ګټې اخيستنې سره يې خپل وار را مخکې کړی وي . بله پوښتنه دا ده چې امين ولې دسپتمبر پر ١٦ مه د تړون د ښخولو دمراسمو په باب دلاربښوونې پر وخت کې دتره کي مړینه پټه وساتله؟

ډېر کسان لا تر اوسه پر دې باور دي چې تره کی لا ژوندی دی خو مړ به شي او رژيم اړ دی چې نن وي که سبا دهغه دمړينې خبر خپور کړي.

٨ - په کابل کې دشوروي غبرګون ... تر اوسه لا نه ده معلومه چې آیا شوروي حکومت د تره کي پر خلاف دامين پر پلان مخکې تر مخکې خبرو که نه ؟ له شوي کار سره دمخامخ کېدو له امله ( که چېرې داګومان سم وي) شوراګانې پر ته له دې چې په زغم سره دپېښو ژر بدلون ته سترګې په لار پاتې شي ، بله لار نه

لري. دکابل خپرونو رپوټ ورکړ چې شوروي سفير ا. پوزانوف د سپتمبر پر ۱۵ مه پر ۱۰ بجو له امين سره وکتل . زموږ يوې سرچينې رپوټ راکړ چې دغې کتنې تر غرمې پورې دوام درلود. گومان کېږي چې دهغې په ترڅ کې به دنوي مشر [امين] او د هغه دشوروي ملاتړ کوونکو تر منځ دوه اړخيز پوهاوی (تفاهم) ترلاسه شوی وي.

۹- په دې اړه د ډيپلوماتانو او باخبرو افغانانو ليد څنگه دی : شوراگانې تروري (هيجاني) نه دي ، خو ښايي په دې به هم پوهېږي چې په اوس وخت کې پرته له دې چې دمغرور او سرسخته امين ملاتړ وکړي بله لار نه لري.... اوس امين يوازيني څوک دی چې دوی ته وړپاتې دی. تر هغې چې بله ښه شببه په لاس نه وي ورغلې نو دی هغه يوازينی وسله ده چې دهغې په مرسته مسکو کولی شي د « ورورگوند » دفاع وکړي او « پرمختيا پال (مترقي) انقلاب » وساتي....

۱۰- خو دا ددې مانا نه لري چې گنې شوراگانې به په پټه خوله له دې حالت سره خوښاوی وکړي.

د سپتمبر پر ۱۷ مه د تيتې کچې يوه شوروي ديپلومات زموږ د سفارت له يوه کارکوونکي سره په ډېر عصبانيت څرگنده کړه چې « خلقيان له دې امله چې غواړي ډېر زيات څه ډېر ژر تر سره کړي » سخته تېروتنه کوي. دده په وينا دهغو کارونو لپاره چې رژيم يې غواړي په څلورو مياشتو کې تر سره کړي څلورو پنځو کلونو ته اړتيا ده . شوروي ديپلومات په ډاگه څرگنده کړه چې د هغه په اند خلقيان هرو مرو له ماتې سره مخامخ کېږي . امستونځ ». خو په افغانستان کې له پېښې شوې پوځي کودتا سره سره شوروي مشرتابه په رسمي توگه او په ښکاره هماغه پخوانی تگلاره خپله کړې وه .

# دله ییزه وژنه او ترور دامین
# مهمه وسله وه

د دولتي کودتا له ترسره کېدو او واک ته د ح. امین تر رسېدو وروسته دهېواد پښتنو ډېره خونړۍ بڼه غوره کړه. ح. امین له سوسیالستي شعارونو نه په ګټې اخیستنې او دغو لوونکو نومونو (اصطلاحات) ترشا په پټېدو سره خبره دځاني واکمنۍ او زورواکي رژیم دټینګولو کچې ته ورسوله او په هېواد کې یې دوژلو او وهلو ټکولو داسې نادودې پیل کړې چې په هېڅ ډول یې د ا .خ. د. ګ. له موخو او دندو سره اړخ نه لګاوه. برسېره پردې هغه دخپلې تروریستي زورواکۍ پر مرستندوی باندې دګوند دبدلولو لاره هم پر مخ ونیوله.

دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټې په وار وار له افغاني مشرتابه نه دنا قانوني وهلو ټکولو دبندولو غوښتنه کوله او هغوی یې دهغه یا دغه چارواکي ویلاړ او ارادې دپلي کېدلو پر ځای دقانون پلي کولو ته رابلل.

که څه هم چې ح. امین بیا بیا د داشان کارونو دمخنیوي ډاډ ورکاوه، په سپین سترګۍ سره یې دشوروي اتحاد په وړاندې دخپل دوستانه نیت څرګندونه کوله او خورا انقلابي ویناوې به یې کولې، خو په کړ (عمل) کې به یې وهلو ټکولو ته لا پسې زور ورکاوه.

[په دغه پړاو کې] له زورزیاتي نه دټولو ستونزو د له منځه وړلو دیوې بنسټیزې چارې په توګه کار اخیستل کېده. پخپله ح. امین څه کوله چې دې چلند ته داسې یو بنسټ ورکړي: «موږ لس زره ځمکه وال (فیوډالان) لرو. موږ هغوی ټول له منځه وړو او نوره خبره خلاصه ده. افغانان یوازې زور پېژني او بس».

په لومړي سر کې امين ټول هغه کسان له منځه وړل چې کوم وخت به يې د هغه په باب څه ويلي وو او يا يې له هغه سره ډېر کوچنی مخالفت څرګند کړی و او د غه راز هغه کسان چې په ګوند کې به له يو څه باور نه برخمن وو او په راتلونکي کې دده پر سيال بدلېدای شول. تر دوی وروسته په ګوند او دولت کې د غير «اميني» بېلابېلو ډلو او ټپلو (فرکسيونونو) داستازو د وهلو ټکولو وار و. په حقيقت کې نه يوازې د پرچميانو، بلکې دا .خ د. ګ. دپخواني عمومي منشي په خلقي ملګرو پسې هم ښکار روان و. اوله دې نه په ښه توګه جوتېږي چې دا يوازې او يوازې فيوډالان نه وو چې په دغه پړاو کې د وژنې سيوری پرې خپور و.

دهماغه کال په سپتمبر کې ح. امين دوژل شويو کسانو يوليست خپور کړ چې د ۱۲ زره تنو نومونه په کې وو. خو د ځينو څېړنو له مخې دغو يې له انقلاب نه بيا د ۱۹۷۹ کال ترمنې داتلسو مياشتو په ترڅ کې د وژل شويو کسانو شمېر ۵۰ زره څه چې تر دې نه هم لا ډېر و. خو په ډاګه بايد ووايم چې دا شمېر په هېڅ ښه له هغو وژنو سره نه شي پرتله کېدای چې په افغانستان کې دشوروي پوځونو تر ورتګ نه وروسته تر سره شوې دي.

ځکه چې په را وروسته کلونو کې په حقيقت کې د ټولو او هر څه پر خلاف جګړه روانه وه. خو هغه وخت د ح. امين لا سپوڅي له نا قانونی نه په ګټې اخيستنې له خپلو مخالفينو سره دحسابونو پر پاکولو لګيا وو .ددې تر څنګه د بې ګناه خلکو وژنې ببخي ډله ييزه بڼه غوره کړې وه چې دې کار ايران او پاکستان ته د کډوالو په شمېر کې د ليدلو وړ زياتوالی راوست (او په دې توګه دمخالفينو ټولنيزې ستنی لا پسې پراخه شوې).

دګوند او دولت ګڼ شمېر پېژندل شوي شخصيتونه او په دې ډله کې پر خلقيانو سربېره ډله ډله پرچميان هم چې دغوېي انقلاب په بري کې يې مخامخ ونډه درلوده، دې ته اړوو چې يا پټ شي او يا هم له افغانستان نه کډه وکړي.

دهمدغو وهلو تکولو اوبې نیاوې دپراختیا اوناتار لهامله وه چې دهېواد په یو شمېر سیمو کې پښتانه قامونه راپورته شول. ح. امین امر وکړ چې پر هغوی دې لههوا نه بمبارۍ او گوزارونه ترسره شي. دشوروي سلاکارانو ددې نیوکو په ځواب کې چې ولې بشپړ قامونه او کلي بمباري او له منځه وړل کیږي.

امین په سره سینه داسې ویل: « تاسو زموږ خلک نه پېژنئ! که چېرې یوې قبیلې وسلې ته لاس کړنو بیا په آسانۍ هغه پر ځمکه نه پړدي. یوازینۍ لار داده چې لهزاړه نه تر واړه ټول له منځه یووړل شي. دا زموږ دود دی ». د ح. امین په دفتر کې به تل د ستالین عکس دمېز پر سر ایښی و او دا ځکه چې هغه گواکې دده لپاره یو ایډیال انسان و. هغه په دې اړه په ډېره مینه ویل: « ملگري ستالین موږ ته رازده کړل چې څنگه په یوه وروسته پاتې ټولنه کې سوسیالیزم جوړیدی شي: په لومړي سر کې به خوږ ( درد ) او ستونزې ډېرې وي خو وروسته به هر څه ډېر ښه وي! »

غوښتل مې د یوه بل ټکي ځرگندونه وکړم او هغه دا چې د. خ. د. گ. د مرکزي کمېټې عمومي منشي [امین] تر کودتا وروسته تل دخپل ځان دامنیت لهامله په اندېښنه کې و او دا ځکه چې زور واکان ( دیکتاتوران ) همېشه لهخپل ولس نه پهوېره کې وي.

له کابل نه رپوټ ( پټ - چټک... )

... ح. امین د خبرو اترو په ترځ کې یو ځل بیا هیله وکړه چې پخپل نوي استوگنځي کې، چې دی یې په پام کې لري، دسږ کال داکتوبر تر ۱۵ مې وروسته کېده وکړي دهغه دشخصي امنیت لپاره دې دشوروي پوځیانو یو کنډک کابل ته راولیږل شي. ( دشوروي اتحاد دکې جي بې استازی )

یا دونه: امین د نومبر پر ۱۷ مه او ۲۰ مه هم دا ډول هیلې وړاندې کړې وې چې دهغو رپوټ د ۱۹۷۹ کال دنومبر پر ۱۸ مه او ۲۱ مه تاسو ته درلیږل شوی

د (۱۹۷۹-۱۰-۲)

دیادونې ور ده چې حفیظ الله امین تل هڅه کوله دخپلو ناقانونی کارونو پړه او مسوولیت دشوروي لوري پر غاړه ور واچوي اوویل به يې چې افغاني مشران دا کارونه گواکې د شوروي مشرانو په لارښوونه تر سره کوي. ښايي هغه غوښتل چې په دې توگه دخپلو ولي نعمتانو« لاسونه لا پسې ور وتړي ». خو هغه په دې برخه کې له خپلې ادانې نه ډېر تیرې کاوه ، ځکه نو دشوروي لوري دغې موخه هم شو.

د شوروي اتحاد دکورنیو چارو وزارت لومړي مرستیال برید جنرال و . س. پاپوتین (۱) دنومبر پر ۲۲مه کابل ته سفر وکړاو په افغانستان کې د منځته راغلو حالاتو په باب یې خپل لید په ناهیلۍ سره وړاندې کړ . دا هغه مهال وچې نور نو شوروي مشرانو امین ډېر ښه پېژندلی و . البته دې پایلې ته سړی دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې د لاندیني یادښت له مخې ډېر ښه رسېدا ای شي.

**لاسوند**

**بیخي پټ**

**ځانگړي دوسیه**

دشوروي اتحاد دکمونیست گوند مرکزي کمیټه

دافغانستان حالات دروان کال د سپتمبر ۱۳-۱٦ تر پېښو نه وروسته چې دهغو په ترڅ کې تره کي له واک نه گوښه اوورپسې بیا ووژل شو ډېرزیات خړ پړ

(۱)- ویکتور سیمبو نوویچ پاپوتین د ٥٤ کلونو په منگ (عمر) د ۱۹۷۹ کال د دسمبر پر ۲۸ مه {پر افغانستان دشوروي تېري پر داسبا ،ژ.} پخپله ځان وواژه . د « پراودا » ورځپاڼې دهغه دمړینې خبر یوازې د ۱۹۸۰ کال دجنوري پر ٤ مه خپور کړ. خو په هغه کې یې دنوموړي دمړینې لاملونه و په ډاگه کړي.

او ترینګلي دي.

ح. امین پر واک باندې د ښه ټینګېدو لپاره د یولړ داسې نندار یزو (نمایشي) کارونو سر ته رسولو ترڅنګ لکه بنسټیز (اساسي) قانون د اوملیک د جوړولو پیل او له زندان نه د یو شمېر پخوانیو بندیانو خوشې کول، په عمل کې په ګوند، اردو دولتي لاسټون او ټولنیزو سازمانونو کې دوهلو ټکولو لړۍ ته لا زیاته پراختیا ورکوي....

د یو لړ معلوماتو له مخې، امین په اوس وخت کې د ا. خ. د. ګ. د مرکزي کمیټې د سیاسي بیورو دغړو پر یوې ډلې (زیري، میثاق، پنجشیري) ګوزار ته ځان برابر وي. دغه کسان د «ګوندي ضد او انقلابي ضد کارندتیا» د ترسره کولو په دور غجن تور تورن کېږي.

ح. امین د ا. خ. د. ګ. د مرکزي کمېټې په پلینوم کې چې څو ورځې وړاندې جوړ شوی و د ګوند لارښوونکو اورګانونو ته خپل وفادار کسان او په هغې ډله کې خپل ځینې خپلوان ور پورته کړل....

په وروستیو وختو کې داسې نښې نښانې تر سترګو کېږي چې د افغانستان نوی مشرتوب غواړي د لویدیزو زبرځواکونو په وړاندې «تلل شوی سیاست» په مخ کې ونیسي. داسې ښکاري چې د امریکا متحدو ایالتونو استازي له افغانانو سره د خپلو اړیکو پر بنسټ دې پایلې ته رسېدلې دي چې کېدی شي د افغانستان په بهرنۍ کړنلاره کې داسې یو بدلون راشي چې واشګټن ته د منلو وړ وي... د وړاندې شویو ټکو له په پام کې لرلو سره او لکه څنګه چې اړتیا ده باید له ټولو شونتیاوو نه کار واخیستل شي چې په افغانستان کې انقلاب ضدبري ته ونه رسېږي او دغه راز پرې نښودل شي چې ح. امین خپله سیاسي تګلاره د لویدیځ په لوري بدله کړي. معقوله ګڼل کېږي چې په دې اړه لاندینۍ کړنلاره په مخکې ونیول شي:

۱-له‌امین او په‌تولیزه‌توگه د ا. خ. د. گ. او ا. د. ج. له‌اوسني مشرتابه سره باید د پخوا په‌خبر کارنده همکاري دوام ومومي او امین ته‌داسې‌نښې نښانې (شواهد) په‌لاس ورنه کړل شي چې موږ گنې پرهغه باور نه‌لرو او یا نه غواړو چې له‌ده سره سروکار ولرو. له‌امین سره له‌اړیکو نه‌باید پرنوموړي باندې د اړونده اغیزې دلرلو اوله‌دې سره جوخت دهغه‌د راتلونکو ربښتینو نیتونو او پلانونو د راسپړلو لپاره گټه واخیستل شي....

شوروي ضد لوري ته د ح. امین دکېدون په‌اړه دفکتونو دموندلو په‌حال کې باید زموږ دتدبیرونو لپاره نور سرباري وړاندیزونه‌هم ترسره شي.

ا. گرومیکو، یو. اندروپوف، د. اوستینوف، ب. پوناماریوف د ۱۹۷۹ کال د نومبر ۲۹ مه. لکه‌چې معلومېږي دغه‌لاسوند دشوروي اتحاد د بهرنیو چارو د وزیر ا. ا. گرومیکو، دشوروي اتحاد د دولتي امنیت کمېټې [کې جي بي] دمشر یو. و. اندروپوف، دشوروي اتحاد د دفاع وزیر د. ف. اوستینوف او دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې دنړیوالو اړیکو څانگې د مشر ب. ن. پوناماریوف له‌خوا لاسلیک شوی دی. البته ددغو کسانو داشان ترېښت (ترکیب) کومه ناڅاپي خبره نه‌وه، څکه په‌شوروي اتحاد کې د اویایسوکلونو په‌ترڅ کې د دولتي واکمنۍ داسې یو میکانیزم منځته راغلی و چې دهغه له‌مخې دشوروي اتحاد دبهرني سیاست پرمسالو په‌لوړه کچه یوازې همدغه کسان بوخت وو. دوی دنړیوالو ډېرو مهمو اوستونزمنو مسالو په‌باب وړاندیزونه او نور مواد برابرول او دڅېړنې لپاره به یې دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو ته‌وړاندې کول.

دغه میکانیزم څه ډول و؟ معمولاً دټولو اومو موادو د برابرولو دنده دهمدغو څلورو اورگانونو د استازو پرغاړه وه او همدوی به‌خپلو وزارتونو ته وړاندیزونه برابرول. د دویم کچیزو مسالو دڅېړلو لپاره به‌معمولاً غونډې نه

جوړېدي . که چېرې به یوه مساله ډېره مهمه وه بیا به نوا . گرومیکو ، یو . اندروپوف ، د . اوستینوف او ب . پوناماریوف څلور واړه سره راټولېدل او ټول هغه کسان چې په دې اړه به يې اړونده مواد جوړ کړي وو او ټولیزه (عمومي) کړنلاره به يې ټاکله ، وربلل . په هغو حالاتو کې چې د ځانگړي اهمیت ور مساله به څېړل کېده ، بیا به نورلوی درستیز (ن. و . ا . گارکوف) ، د بهرنیو چارو وزارت اړوند مرستیالان ( لکه گ. م. کوریینکو ) اویا هم دشوروي اتحاد دکې جي بي مشر ( و . ا . کریوچکوف) او داسې نور ور بلل کېدل او نوموړو به خپل وړاندیزونه وړاندې کول . وروسته به پخپله چارواکو خپل لیدونه او روول او په دې اړه به يې لارښووني کولې چې له جوړو شوو لاسوندونو نه دې کوم کوم ټکي لرې شي . تر هغې وروسته به دمسالې داهمیت او ارزښت په پام کې نیولو سره دغه لاسوندونه پخپل وار لاسلیک کېدل اودشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې دیادښت په توگه به دمرکزي کمېټې دارالانشاء ته استول کېدل . وروسته به دغه وړاندیزونه دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو په غونډه کې څېړل کېدل او دهغو په باب به وروستۍ پرېکړې نیول کېدې . البته افغانستان ته د پوځونو دلېږلو په باب پرېکړه هم په همدې ډول ونیول شوه .

په حقیقت کې خو دې ډول سیستم باید د ټولو اړوندو لورو لیدونه په پراخه توگه په پام کې نیولای ، خو ددې پر خلاف داړوندو اورگانونو له خوا وړاندې شوي شننيز ( تحليلي) تجويزونه او پايلې به ډېر وخت بې له گټې اخیستنې پاتې کېدې ، ځکه چې مشرانو به د یو لړ مسالو په باب خپل لیدو نه درلودل او له همدې امله به يې د پرېکړو په وخت کې تل دشنونکو ( تحلیل کوونکو ) مشورې په پام کې نه نیولې .

له کابل نه د رپوټونو تر مخې واک ته د ح. امین تر رسېدلو وروسته

دافغانستان ديموكراتيک جمهوريت حالات لا پسې كړكيچن شول. په دغه پړاو كې رژيم عملاً خپل باور له لاسه وركړى و . د ا. خ. د. ګ. د رژيم بهرنيو دښمنو ځواكونو دافغانستان په ګوندي لاستون كې له بوړنوونكي حالت اودخلكو د پراخو پرګنو په منځ كې دخپګان له پراخېدو نه كارنده ګټه واخيسته له دې سره جوخت دامريكا متحدو ايالتونو ، پاكستان ، ځينو عربي دولتونو او يو لړ نورو هېوادونو ډېر ژر له مخالف غورځنګ سره په خپلو پوځي مرستو كې زياتوالى راوست . د ا. د. ج. سويلي پولو ته څيرمه دپاكستاني اردو د ډلو ډلګيو ځاى پر ځاى كېدلو كې د پر له پسې زياتوالي تر څنګ يو لړ پوځي مانوروهم زور واخيست . له بهرنه د پوځي او ارواييز ( روحي) ملاتړ له بركته ياغيانو وكولى شول چې د ۱۹۷۹ كال تر پايه دخپلو نيمه منظمو ډلو شمېر ۴۰ زرو تنو ته ورسوي او دافغانستان له ۲۷ نه په ۱۲ ولايتونو كې دحكومت پر ضد پوځي عمليات تر سره كړي. [ له همدې امله] له شوروي مشرانو سره داسې اندېښنه پيدا شوه چې ښايي ح .امين ډېر ژر رانسكور شي . داسې اټكل كېده چې واک ته دمخالفينو درسېدلو خبره ښېږي كېدونكې ده او دا كار ښايي بيدو دځو ميا شتو په ترڅ كې ترسره شي .سربېره پردې په همدې وخت كې له امريكايي استازو سره د ح .امين داړيكو هنګسه هم توده شوه ، اوپه افغان پوځ كې هم د « ځلوروياړانو » په لمسون يو لړ بغاوتونه راپورته شول. هماغه وو چې دشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو د ستر درستيز توب ، دشوروي اتحاد دكې جي بي ، د بهرنيو چارو وزارت او ټولو هغو اورګانونو په وړاندې چې دبهرني سياست په چارو لګيا و نيغ په نيغه دا پوښتنه رامنځته شوه چې څه بايد وكړي؟ دوى ټول د منځته راغلي ستونزې داوارولو دلارو چارو په لټولو پسې سر ګردانه وو. هغوى هڅه كوله چې دمسالې ټولې غاړې پيځكې په پام كې ونيسي . په همدې وخت كې له كابل نه د ا. د. ج. ته دشوروي پوځونو

دلیړلو په اړه د ح. امین دهیلو اوپه افغانستان کې دمنځته راغلي حالت دڅېړنې په باب نوي اونوي رپوټونه وړاندې کېدل. ان تر دې چې دهرې اداري استازي به له خپل اند سره سم رپوټ ورکاوه.

له کابل نه رپوټ ( پټ. چټک ... )

... ح. امین د ۱۹۷۹ کال د دسمبر پر دویمه نیټه لوی پوځي سلاکار ځانته ور وغوښت او ورته څرګنده یې کړه: په داسې حال کې چې چین او پاکستان په بدخشان کې له یاغیانو سره کارنده مرسته کوي او موږ ته شونې نه ده چې خپل پوځونه دجګړه ییزو عملیاتو له نورو سیمونه هلته ور ولیږو، نو له همدې امله زه له شوروي حکومت نه هیله کوم چې دغه ولایت ته دې دحالاتو عادي کېدو په موخه د لنډې مودې لپاره یوتکړه او ښه سمبال شوی کنډک راولیږي. ملګري امین دخبرو اترو په پای کې هیله وکړه چې دهغه غوښتنه دې د شوروي اتحاد د دفاع وزیر ته ورسول شي اوزیاته یې کړه چې دی چمتو دی په دې اړه پخپله له ل.ای. برژنف سره وغږیږي.

ماګومیتوف [ محمدوف ،ژ.] - ۱۹۷۹-۱۲-۲مه.

( ډګر جنرال س. ک. ماګومیتوف د ۱۹۷۹ کال د نومبر له نیمایي نه وروسته دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دلوي پوځي سلاکار په توګه دنده سرته رسوله ،لیکوال ) خو څرنګه چې د ا. خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې عمومي منشي کابل ته دپوځونو دلیږلو په اړه له شوروي مشرتابه نه مثبت ځواب تر لاسه نه کړ نو تر هغې وروسته یې له شوروي اتحاد سره ګاونډیو شمالي ولایتونو ته دهغو رابللو ته مخه کړه. هغه [ افغانستان ] ته ان یوازې دشوروي اتحاد دکورنیو چارو وزارت دپوځونو له لیږلو سره هم مخالف نه و.

له کابل نه رپوټ ( پټ - چټک..... )

د دسمبر پر درېیمه مې له ح. امین سره وکتل. ح. امین د خبرو په ترڅ

کې ووېل : « موږ په پام کې لرو چې د ۱۸ مې او ۲۰ مې فرقو ( د مزارشریف او بغلان فرقې ) د پرسونل اووسلو یوه برخه دخلقي پولیسو دډلو دجوړولو لپاره بېله کړو. په دې توګه نو د ا.د .ج . ته د شوروي منظمو پوځونو د رالېږلو پرځای کېدی شي د شوروي پولیسو ډلې ډلګۍ راواستول شي چې زموږ له خلقي پولیسو سره به په ګډه د ا. د. ج . په شمالي ولایتونو کې سمبنت (نظم) ټینګ او په پښو ودروي».

ماګومیتوف - ۱۹۷۹-۱۲-٤ مه .

# ل . برژنف د « وګړنۍ » واکمنۍ د ژرغورلو پرېکړه کوي

لکه چې له پورته راوړل شویو لاسوندونو څخه ښکاري ، دشوروي پوځونو د لېږلو په باب پرېکړه په یوه شېبه کې نه ،بلکې له ډېرغور اودمنځته راغلي حالت تر شنني اوڅېړنې وروسته ونیول شوه.

لکه چې تر مخه موهم اشاره وکړه ، واک ته د ح. امین له رسېدو او د ن. م. تره کی له وژنې وروسته شوروي مشرتوب له دې ربړې سره مخامخ شو چې په راتلونکې کې څنګه چلند وکړي؟ دشوروي اتحاد داوږد پراویزو ګټو په پام کې نیولو سره سم معقوله وګڼل شوه چې په یوځل دې له افغانستان سره اړیکې نه شلول کېږي اوپه دغه هېواد کې دحالاتو له ودې سره سم دې چلند وشي. خو د ۱۹۷۹ کال په اکتوبر او نومبر کې دشوروي اتحاد دکې جي بې دې رپوټونو چې ح . امین پخپله کړنلاره کې دامریکا دمتحدو ایالتونو او دچین دولسي جمهوریت پر خوا دټاکلي کېدون دراوستلو شونتیاوې تر څېړنې لاندې نیولې دي دشوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو



ACKU

غږي په ژوره اندېښنه کې واچول.

دساري په توگه ح. امين دسپتمبر پر ۲۷ مه په کابل کې دامريکا شارژ دافير ته [له هغه هېواد سره] د خپلو اړيکو د ښه کېدو بلنه ورکړه او دوه ورځې وروسته د افغانستان دبهرنيو چارو وزير شاه ولي هم په نيويارک کې دامريکا له رسمي چارواکو لکه ديويدنيوسوما او هارلډ سندرس سره په خبرو اترو کې ورته احساسات څرگند کړل. سربېره پردې له سي آی اې سره د ح. امين داړيکو ډنگل ونغارې هم پيل شوې.

له دې سره جوخت د ح. امين پرچمي او خلقي مخالفانو هم دخپلو چينلونو له لارې دشوروي اتحاد کمونيست گوند ته د « خلقي ديموکراتيک رژيم » دبرخليک په باب اندېښنې څرگندولې. هغوی په هېواد کې د ډله ييزې وهنې ټکونې دگواښ په باب هېښوونه کوله او څرگندوله يې چې د ا.خ.د.گ. دمرکزي کمېټې دعمومي منشي له زيانه ډک چلندونه کېدای شي« د افغانستان دپرمختيا غوښتونکو او ملي هېواد پالو ځواکونو » د ښېخي سټ کولو او فزيکي له منځه وړلو سبب وگرځي.

هغوی دغه راز دشوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد او دامريکا د متحدو ايالتونو ترمنځ له اختلافونو نه په گټې اخيستنې سره څرگندوله چې خبره يوازې دانقلاب د بريا وو په ژغوولو کې نه ،بلکې ديوه خپلواک ، «ناپېيلي دولت » او دشوروي اتحاد د دوست په توگه د افغانستان ديموکراتيک جمهوريت په پاتې کېدو کې ده ( ځکه کېدی شي په هېواد کې دچارواکي د داسې ډېرو ځان ساتو ( محافظه کارو ) ځواکونو لاس ته ورشي چې له پاکستان ،امريکا او بنسټ پالو مسلمانو هېوادونو سره ټينگ اړيکي لري). خو رښتيا خبره دا وه چې پرچميانو پخپله واک ته خېتېه په اوبو کې اچولې وه او غوښتل يې چې دا کار دشوروي اتحاد په مرسته تر سره کړي.

په جلا وطنۍ کې پرتو د ا. خ. د. ګ. د دواړو اړخونو پېژندل شوو شخصیتونو (۱) د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې پټې شبکې جوړې کړې، په پټه يې افغانستان ته دځپلو کادرونو په لېږلو پیل وکړ او د ح. امین د ډلې پر خلاف يې دغو ځوګامونو د پورته کولو پلانونه تر لاس لاندې ونیول.

خو ځرنګه چې د دې ډلې نه وچې دغه ځواکونه به وکولاشي په یوازې ځان وسله وال پاڅون تر سره کړي، نو له همدې امله «جلاوطنو» هم د شوروي اتحاد پرپوځي مرستو بنستیزه تکیه کوله. البته په افغانستان کې دننه هم د ۱۹۷۹ کال تر دسمبره پوځي - سیاسي حالاتو ډراماتیکه بڼه غوره کړه. دغه مهال په هېواد کې د وژلو او زورزیاتي یو ناتار جوړ و او کورنۍ جګړه هم عملاً پیل شوې وه.

س. ف. اخرامیف وروسته کیسه کوله چې: «موږ درې واړه: ن. اګارکوف، زه او و. ورینیکوف چې هغه مهال د شوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دستر درستیز د اوپرایتفي لوېې پاسوالۍ مشرو [د دفاع] وزیر ته ورغلو. هغه ته مو وویل چې د پوځونو داشان یوه ډله (شمېر يې ۷۵ زره تنه و، څلور فرقې وې او ځو هوایي او سمبالتیايي (تامیناتي) ټولګي هم ورسره وو. لیکوال) نه شي کولی په افغانستان کې دننه تر سره کړي او نور پوځونه هم نه شته. په همدې ترځ کې مو داهم ورته وویل چې هلته باید خبره له پوځي

---

(۱) د دې لپاره چې شورویان په راتلونکي کې د خلقي اړخ له خوا له ستونزو او مخالفت سره مخامخ نه شي، نو کې جي بې په ډېرې هوښیارۍ سره د ا. سروري، ش. مزدوریار، م. ا. وطنجار، س. م. ګلابزوي په مشرۍ د خلقیانو یوه ډله (هغه هم یوه پوځي او ډېره کمزورې غیر سیاسي ډله) چې په ښکاره د پرچمیانو دنا ښېنتونولۍ عیب هم پرې پټېدای شو، جوړه او جلا وطنه کړه او هغه يې له پرچمیانو سره په تړاو کې دځپلو پلانونو په چوپړ کې راوسته. ژ.

لاري اواره نه شي. وزير وپوښتل چې « رژيم څو بايد ټينګ شي ؟ » مونږ په ځواب کې ورته وويل چې کـه چېرې زمونږ پوځونه لاړ شي او په کـابل ، هرات ، کندهار او جـلال آباد کـې پاتې شي نو ښکاره خـبره ده چې رژيم ټـينګيـدلی شي... » . لکه چې له پورتنيو څرګندونو څخه ښکاري له د . ف. اوستينوف سره په خبرو کې د پوځونو له لېږلو سره مخالفت ډېر سرسري او په اسانۍ سره د پوهېدنې وړ نه و . [ ددې کار لامل ښايي دا هم وي] چې هغه مهال دمخالف ليد درلودنکي تر سختو سزاګانو لاندې راتلل.

دشوروي دهغـه وخت شـېرونکو په وړاندې دا . د . ج. پېښې د نړيوال انقلابي بهير يو ه برخه ګڼل کېده او شوروي مشرتابه ته سلا مشوره ورکول کېده چې [ افغانستان ته ]دانقلاب ضد ب لېږدېدنې ( صدور ) مخه بايد ونيول شي . ښکاره ده چې دا ډول خبرې دشوروي مشـرانو پر مـزاج ډېرې ښې لګېدې .سربېره پردې ،دې خبرې هم هغوی ته ډېر خوندور کاوه چې پخپلو سويلي پولو کـې يې داسـې يو ډاډمن انډيوال پروت وي چې له شوروي اتحاد سـره د ګـډې ايډيولوژۍ او ګټـو تړاو ولري. ښـايي له همدې امله بـه وه چې هغوی د داسې يوه سخت ګام پورتـه کولو ته زړه ښه کړ. کـه څه هم چې تر پايه يې پردې خبرې سرخلاص نه شو چې دکوم انقلاب ساتنې ته يې ور ودانګل؟

دهرې ورځې په تېرېدو سره دې ليـد زور اخيـست چې بايد د امـين دلرې کولو لپاره اړوند شرايط برابر او دهغه پر ځای يو تسليم شوی سړی راوستل شي. په همدې وخت کې دپرچم د ډلې مشر په مسکو کې و. هغه د ۱۹۷۸ کال په اګست کې په پټه له چکو سلواکيا نه راغلی او په شوروي اتحاد کې يې ديوه کډوال په توګه ژوند کاوه . دځينو کار پوهانو دڅېړنې له مخې څرنګه چې ب. کارمل دافغاني ګونديانو ديوې ټاکلې برخې له ملاتړ نه برخمن و ( خو لکه چې وروسته څرګنده شوه ، په حقيقت کې دې ډول ملاتړ اصلاً درک هم نه درلود او

که‌وهم نوډېر ناڅیزه و ) نو له‌همدې امله د ح. امین د رژیم د راپرځولو لپاره دهاندوهڅې مشري نوموړي ته‌ور وسپارل شوه . هغه‌هم دا کار خوښ کړ اوډېر ژر د شوروي اتحاد دکې‌جي بې تر پالنې ( سرپرستی ) لاندې ونیول شو.

....د «مسلمان» کنډک تر چمتو کېدلو وروسته ډگروال و . و کولیسنیک ببېرته مسکو ته‌ورغوبنتل شو او دخپلو ورځنبو چارو په‌سر ته‌رسولو لگیا شو.

خو د کنډک پرسونل د نومبر له ۱۰-۱۲ دچیرچیک اوتاشکند له‌هوایي ډگرونو څخه په‌پوځي ترانسپورتي الوتکو کې دافغانستان د باگرام هوایي اډې ته‌ولېږدول شو .

دکنډک ټولو افسرانو اوسرتېرو دافغاني پوځیانو کالي اغوستي‌وو او له ورایه یې له‌ځایي پوځیانو سره‌دومره توپیر نه‌کېده . دغه‌یونیفورم د هغو کالیو له مخې گنډل شوی و چې دپوځي ځارگرۍ له‌لارې له‌افغانستان نه‌رالېږل شوي‌وو . دکنډک اړوندانو په‌هوایي ډگر کې یوه میاشت پر پوځي او نورو ځانگړو تیاریو باندې تېره کړه‌او پر کابل باندې‌ورننوتو ته‌چمتو کېدل .په رسمي توگه ددغې دندې د سرته رسولو نېټه په‌تګۍ سره‌د دسمبر ٦ مه‌ښودل شوې‌وه .

**لاسوند**

**بېخي پټ**

**ځانگړې دوسیه**

ملگرو برژنف ، اندروپوف ، گرومیکو ، سوسلوف ، اوستینوف ته.(دشوروي اتحاد کمونیست گوند دمرکزي کمیټې دسیاسي بیورو د ۱۹۷۹ کال د دسمبر ٦ مې نېټې دغونډې له ۱۷٦ لمبر پروتوکول نه‌را اخیستنه )

افغانستان ته‌دځانگړې ټولگي (سپېځناز) دلېږلو په‌باب

په‌دې اړه دې د شوروي اتحاد کې جي بې اود فاع وزارت د ۱۹۷۹ کال د



ACKU

دسمبر د ٤ مې نېټې په ۷۳../۲/۲/۳۱۲ لمبر یادښت کې له ورانديږ شوو وراندیزونو سره خوښاوی وشي. (یادښت مل دی) دمرکزي کمیټې عمومي منشي ل. برژنف.

لاسوند

بېخي پټ

ځانګړې دوسیه

دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټه

دانقلابي شورا رئیس ، د ا.خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې عمومي منشي اود ا. د. ج. لومړی وزیر ح. امین په وروستیو وختو کې کابل ته دهغه داستوګنځي دساتنې لپاره دشوروي دیوه موټریزه کنډک دلېږلو پر اړتیا زیات ټینګار کوي.

دمنځته راغلي حالت او دح. امین دغوښتنو په پام کې لرلو سره معقوله ګڼو چې دستردرستیز دکشف دلوېې پاسوالی اړوند دهمداشان دندو دسرته رسولو لپاره چمتو شوی یو ټولګی دی چې ټول شمېر یې د ۵۰۰ تنو په شاو خوا کې وي ، په داسې یوه یونیفورم کې افغانستان ته واستول شي چې د شوروي اتحاد په وسله والو پوځونو پورې دهغه تړلتیا څرګنده نه کړي. د ا. د. ج. ته دداسې یوې ډلې دلېږلو شونتیا دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې د سیاسي بیورو د ۱۹۷۹-۶-۲۹ نیټې غونډې په (پ ۱۵۶/۹) نومره پرېکړه لیک اتکل شوې ده. څرنګه چې کابل ته ددغه ټولګي دلېږلو په باب له افغاني لوري سره خبرې اترې شوې دي نو کېدای شي چې هغه دروان کال د دسمبر په لومړۍ نیمایي کې دهوایي ترانسپورتي پوځ په الوتکو کې ولېږدول شي. د ملګري اوستینوف د. ف. هم له دې کار سره خوښه ده.

یو . اندروپوف ، ن. اگارکوف - لمبر ۷۳.. / ۲ / ۳۱۲ ، د ۱۹۷۹ کال د دسمبر ٤مه. هماغه وچې دشوروي مشرتابه په سپارښتنه سفير تابييف ح .امين ته د دولت دمشر دماڼۍ او د باگرام دهوايي ډگر دساتنې لپاره ددوو کنډکونو د لېږلو په اړه دهغه دغوښتنو دمنل کېدو زيرې ورکړ. [ له پلان سره سم] دغه ډلې ددسمبر پر ۳ مه او ١٤ مه د ا. د. ج. ته ولېږل شوې . البته ب. کارمل هم له دغو ډلو نه له يوې سره ملگرى و او په باگرام کې دشوروي افسرانو اوسرتېرو په منځ کې دشوروي اتحاد دکې جي بې دکارکوونکو له خوا ساتل کېده.

له دې سره جوخت د ا .خ. د. گ. دپخواني عمومي منشي تره کي دپلويانو « ځلور کسيزه » ډله هم (افغانستان ته) راوستل شوه چې په کابل کې له خپلو ملگرو سره پټ شول . په همدې ترڅ کې ح. امين ته خبر ورکړ شو چې شوروي مشرانو دهغه غوښتنه ومنله او چمتو دي مسکو ته دنوموړي د رسمي او دوستانه سفر هر کلى وکړي. خو يوازې د (ح. امين) پر کورنيو مخالفينو باندې تکيه کول ( دشوروي اتحاد لپاره ) يو له گواښنه ډک کار و . ځکه نو شوروي مشران دې پايلې ته ورسېدل چې له شوروي پوځونو پرته له واک نه د ح. امين دلرې کولو د شرطونو برابرول کېږي ناشوني نه وي نو ډېر ستونزمن کار دى. له بلې خوا ددې ډاډ هم نه وچې آيا افغاني اردو به د ب. کارمل او دهغه نوی حکومت ومني او دهغه ملاتړ به وکړي او که نه؟ او که چېرې نوموړی (ببرک) دچارو واکي هم ترلاسه کړي نو آيا د وسله والو مخالفينو دبريدونو ځواب به وويلي شي او که نه ؟ ځکه چې دمخالفينو تينگاو ورځ په ورځ پياوړی کېده . هغه مهال دشوروي سفارت د رپوټونو له مخې افغاني مخالفينو خپلو ټولنيزو ستنو ته خورا زياته پراختيا ورکړې وه ، خپلې ليکې يې پياوړې کړې او دپاکستان په خاوره کې يې دټوپ تختې جوړې کړې وې. ( په همدې ترڅ کې ) له مرکز نه په لرې پرتو گارنيزيونونو کې ديو لړ پوځي ټولگيو پر پرسونل

دانقلاب ضد کسان د اغېزې له امله یو شمېر حکومتي ضد هڅې هم ترسره کېدې.

دبېلګې په توګه داسمار په ۳۰ غرني غونډ ، دناړې په ۳٦ پلي غونډ ، د خوست په ۱۸ پلي غونډ او ځینو نورو ټولګیو کې چې اوږده موده له خپلو قرار ګاوونه لرې پاتې شوي وو او هېڅ ډول ملاتړ ورسره نه کېده او دغه راز دوسلو ، مهماتو اوخوراکي موادو له امله یې هم ستونزې درلودې یو لړ بغاوتونه ترسره شول. سربېره پردې د کونړ ، ننګرهار ، لغمان ، پکتیا ، کاپیسا ، غزني ، زابل ، کندهار ، غور ، بادغیس ، بامیانو اوهرات په ولایتونو کې د افغانستان داسلامي ګوند اودافغانستان داسلامي جمعیت دنوو ډلو د راپیدا کېدو په باب هم رپوټونه ورکول کېدل.

دافغانستان دخاورې ۷۰ په سلو کې چې له ۱۰ ملیونو نه زیاتو وګړو ژوند په کې کاوه یانې عملاً ټولې کلیوالي سیمې دمخالفینو دوسله والو او نورو ډلو تر ولکې لاندې وې ( په بله وینا د حکومت ترولکې لاندې نه وی) .....».

له کابل نه درپوټونو له مخې د دسمبر ترپارسېدو دافغانستان په حالاتو کې دحکومت په ګټه هیڅ کوم بدلون نه لیدل کېده. سربېره پردې دهېواد په مشرتابه کې له اردو سره دچلند دځرنګوالي پر سر ناندریو او سختو اختلافونو هم د ا.د.ج. په وسله وال پوځ کې ژوره ګډوډي را منځته کړې وه. د لارښوونکو کادرونو ژر ژر بدلولو را بدلولو ، دجنرالانو اوافسرانو وهلوټکولو او ګوښه کولو ، پوځ ته په زور ورکشولو اوداسې نورو کارونو هم د پوځي ټولګیو پر جګړه ییز چمتووالي او یو موټیوالي ناوړه اغېزه ښندله. له همدې امله افغاني پوځ دغه مهال ډېر کمزوری و او دامین په وینا اردو نه شو کولی د واکمن رژیم او دولت دخپلواکۍ ساتنه وکړي. خوزموږ پوځي سلاکارانو بیا ددې خبرې پر خلاف ، بېخي بل ډول لید درلود اودهغه په باب یې {بل شان} رپوټ ورکاوه.

دغو سلاکارانو او استازو هڅه کوله چې « دبادله‌لوري سره‌سم والوزي » یانې په‌هره توګه چې وي دخپل هېواد دمشرتابه‌لید او نظر باید ځانته‌ څرګند کړي او خپل ځان له‌هغه سره‌سم جوړ ( عیار ) کړي.

د دسمبر پراتمه د ل. ای. برژنف په‌دفتر کې یوه‌غونډه جوړ شوه‌چې په هغې کې دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو لږ شمېر غړو لکه‌یو. اندروپوف ،ا. ګرومیکو ،م. سوسلوف او د. اوستینوف ګډون درلود. هغوی په‌افغانستان او دهغه په‌شاوخوا کې دمنځته راغلو حالاتو ټولې خواوې او اړخونه تر څېړنې لاندې ونیول. اوهلته دشوروي پوځونو دلېږلو پر « ښېګڼو » یې غور وکړ.

یو. اندروپوف او د. اوستینوف دداسې یوه‌ګام د پورته کولو دادتیا په‌باب خپل دلیلونه په‌دې ډول وړاندې کړل: دامریکا د متحدو ایالتونو سي آی اې (چې په‌انقره کې یې استازی پول هېینځې دی) هلې ځلې کوي چې دشوروي سوسیالستي جمهوریتونو اتحاد دسویلي جمهوریتونو په‌ورګډولو سره « نوې لویه‌عثماني امپراتوري » جوړه کړي ،په‌سویل کې { زموږ} دهوایي ساتنې (مدافعې ) دیوه ډاډمن سیستم نشتوالی چې له دې امله په‌افغانستان کې د « پرشینګ » ډوله امریکایي توغندیو د ځای پر ځای کېدو په‌وخت کې دبایکانور دفضایي اډې په‌ګډون ګڼ‌شمېر ډېرې مهمې او له‌ارزښته ډکې ودانۍ اوسیمې تر ګواښ لاندې‌راتلی شي ، پاکستان اوعراق کولی‌شي‌چې د افغانستان د یورانیمو له زېرمو نه‌د اتومي وسلو د جوړولو لپاره ګټه واخلي ، کېدی‌شي‌چې دافغانستان په‌شمالي ولایتونو کې د مخالفینو واکمني رامنځته او دغه سیمه له‌پاکستان سره یو ځای شي او داسې نور.

په‌پای کې پرېکړه وشوه‌چې دغه دوه‌وړیانتونه‌دې دیوه تدبیري پلان په بنه تر لاس لاندې‌ونیول شي: یا دې ح. امین دکې جي بي دځانګړو څارګروډلو

لەلاري لەمنځه يووړل شي او ب . کارمل دې دهغه پرځای کېنول شي ، او يا دې پەهمدې موخه یو شمېر پوځونه دافغانستان خاورې تەولېږل شي. همداغه و چې دشوروي اتحاد د دفاع وزير د .ف. اوستينوف د ۱۹۷۹ کال د دسمبر پر ۱۰ مەلوی درستيز ن . و . اګارکوف ځانته ور وغوښت او هغه ته يې څرګنده کړه چې سیاسي بیورو . افغانستان تەدیوې لنډې مودې لپاره دشوروي پوځونو دلېږلو پەباب پيليزه ( مقدماتي) پرېکړه کړې او نوموړي ته يې دنده ورکړه چې په همدې موخه د ۷۵ - ۸۰ زرو پەشاوخوا کې پوځ چمتو کړي. ن. و. اګارکوف د داسې يوې پریکړې پەباب د حيرانتيا او غوسې دڅرګندولو په ترڅ کې په ډاګه کړه چې ۷۵ زره تنه نه شي کولی حالات سم کړي او زياته يې کړه چې دی دپوځ لەلېږلو سره مخالف دی او دا کار لويەبې عقلي ګڼي . خو وزير پر هغه سترګې وربرګې کړې او ورته ويې ويل چې : « ستاسو څه زړه دی ، فکر کوئ چې سیاسي بیورو ته يې ور زده کړئ کەڅنګه ؟ ستاسو دنده يوازې دامر تر سره کول دي او بس.... »

پر همدې ورځ نیکولای واسیلیویچ [اګارکوف] دل. برژنف دفتر تەهم چې دچا خبره « کوچنی سیاسي بیورو » ( يو . اندروپوف ،ا. ګروميکو او د . اوستينوف ) پەکې راټوله شوې وه ور وغوښتل شو.

لوی درستيز یوځل بيا هڅه وکړه چې راټول شوي کسان پەدې قانع کړي چې د افغانستان ستونزه يوازې لەسیاسي لارو چارو بايد اواره شي او د زور پر چلولو بايد ټينګار ونەشي. هغەدا راز د افغانانو دیولړ دودونو اوپەدې لړ کې ددې ټکي يادونه هم وکړه چې افغانانو هيڅوخت پخپله خاوره کې پردي نه دي زغملي او ګوت ځنډنه يې وکړه چې پەدې توګه کېدای شي زموږ پوځونه آن په جګړه ییزه عملياتو کې ور ښکېل شي. خو دغو ټولو خبرو هېڅ ځای هم ونه نیوه . کەڅەهم دخبرو اترو پەپای کې څرګندونه وشوه چې دڅټکي پوځي

مرستې په باب په پرېکړه نه نیول کېږي خو پوځونه دې په هرحال چمتو اوسي.

د. اوستینوف مابښام مهال د دفاع وزارت دمشرتابه ډله راټوله او دلوړ پوځي مشرتوب څو محدودو مسوولو کسانو ته یې خبر ورکړ چې ښایي په نږدې ورځو کې افغانستان ته دشوروي پوځونو دلېږلو په باب پرېکړه وشي ،نو له همدې امله په کار ده چې یولړ پوځي تولګي چمتــــو شي. په همـــدې اړه (۱۳۳../۱۲/۳۱۲) لمبر دیرکتیف هم پوځونو ته واستول شو. د دسمبر له لسمې نېټې را په دېخوا د. او ستینوف لوی درستیز ته د ترکستان په پوځي سیمې کې دنوي لښکر دجوړولو په باب دګړنیو ( شفاهي ) لارښوونو لړۍ پیل کړه.

هماغه و چې له همدغو لارښوونو سره سم د اړونده پوځونو دخوښولو (نفرکشۍ) او دترکستان پوځي سیمې ته دهوایي دیسانت اونورو پوځي ټولګیو دلېږلو لړۍ هم پیل شوه. البته ټول دغه کارونه په پټه توګه سرته رسېدل او دهغو دموخو او دندو په باب به بېل بېل نکلونه او افساني جوړېدل. له کابل نه دشوروي اتحاد دکې جي بي داستازي جنرال ب. ایوانوف رالېږلي رپوټ چې په هغه کې یې د افغانستان دحالاتو په باب خپل لید څرګند کړی و دې بهیر ته نوره هم چټکتیا ورکړه او په دې برخه کې یې ستر رول ولوباوه.

د دسمبر د ۱۲ مې نېټې پر سهار کله چې دشوروي اتحاد د دفاع وزیر دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو غونډې ته روان و نو همدغه رپوټ یې پر مېز پروت و.

تورنجنرال و. پ. زپلاتین چې هغه وخت دافغاني اردو دسیاسي چارو د لوی پاسوال سلاکار و ،ددغې خبرې لیدونکی( شاهد ) دی. دشوروي اتحاد دفاع وزیر نوموړی یوه ورځ تر مخه مسکو ته ورغوښتی وچې د ا. د. ج. داردو دیوه کره اوڅیرک پېژندونکي په توګه { دافغانستان } دحالاتو

دڅرنګوالي په باب رپوټ وړاندې کړي . کـه څـه هم چې په دغـه وخت کـې س.ماګومیتوف ( محمدوف ) په افغانستان کې دلوی پوځي سلاکار په توګه دنده سرته رسوله ، خو هغه دافغانستان له حالاتو سره په بشپړه توګه لا بلد نه و ، له همدې امله نو دهغه په رپوټ بسنه هم کېدای نه شوه. خو کله چې جنرال زېلاتین دافغاني اردو دحالت په باب زموږ دڅارګرۍ له لارې له وړاندې شویو لیدونو سره خپله ناخوښي څرګنده کړه او په ډاګه یې کړه چې هغوی {دکې جي بي استازي ،ژ.} هسې خوشې د افغانستان حالاتو ته ډراماتیکه بڼه ورکوي ، نو د . ف. اوستینوف دکې جي بي داستازي له خوا رالېږل شوي شفر هغه ته وربښکاره کړ اوزیاته یې کړه :« تاسو نه شئ کولی چې هلته پخپلو منځونو کې سره جوړ شئ ، خو موږ اړ یو په دې باب پرېکړه وکړو ». افغانستان ته دشوروي پوځونو دلېږلو په باب وروستۍ پرېکړه د دسمبر پر ۱۲ مه دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو په غونډه کې دیو . و . اندروپوف ، د .ف. اوستینوف او ا. اګرومیکو په وړاندیز دراېو په یووالي سره ونیول شوه چې د پټ پاتې کېدو له امله « تدبیرونه » و نومول شوه.

دشوروي اتحاد « مشرانو په ګروهه ، دغه ګام باید یوازې د دولت دګټو له تېنګتیا سره مرسته کړې وای او بله موخه یې نه درلوده . د یادونې وړ ده چې ددغې غونډې پروتوکول د ک . او . چیرننکو په لاس کښل شویدی ، د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې په ځانګړې دوسیه کې پروت و او خورا اوږده موده یو تر ټولو پټ لاسوند ګڼل کېده چې آن دهېواد دمشرتابه د ډېرې لوړې کچې غړو ته هم نه ښودل کېده اوپه ځانګړې سیف کې خوندي و .

**تر ټولو مهم لاسوند**

**بېخي پټ**

**ځانګړې دوسیه**

ملگری ل .ا ی . برژنف د غونډې درئیس په توگه

ملگرو سوسلوف م .ا. ، گریشین و . و. ، کیریلنکو ا. پ ، پیلشه ا. یا . ، اوستـینوف د . ف. ، چیـرننکو ک . او . ، اندروپوف یو . و ، گرومـیکو ا .ا . ، تیخونوف ن . ا. ، پوناماریوف ب .ن. گډون درلود .

په « الف » کې دحالاتو په باب

دشوروي اتحـاد د کمونیـست گوند دمرکزي کمېټې د ۱۲/۱۱ نېټې ۱۷٦/۱۲۵ لمبر پرېکړه لیک :

۱- دملگرو اندروپوف یو . و ، اوستینوف د . ف. او گرومیکو ا. ا. له خوا وړاندې شوی لید او تدبیرونه دې ومنل شي.

نوموړو ته دې اجازه ورکړه شي چې ددغو تدبیرونو دپلي کولو په وخت کې په هغو کې ځینې سرسري بدلونونه راولي.

خو هغه مسالې چې د مرکزي کمېټې پرېکړو ته اړتیا ولري باید پرخپل وخت سیاسي بیورو ته وړاندې شي. ددغو ټولو تدبیرونو د پلي کولو دنده دې ملگرو اندروپوف یو . و . ، اوستینوف ، د . ف . او گرومیکو ا .ا ته وسپارل شي.

۲- ملگرو اندروپوف یو .و . ، اوستینوف د .ف. او گرومیکو ا . ا ته دنده ورکول کېږي ، چې دیادو شویو تدبیرونو دپلي کېدو دبهیر په باب دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو ته رپوټ ورکړي.

دمرکزي کمېټې منشي ل .برژنف ، لمبر ۹۷۷( ل . ۱)

دغه لاسوند ترډېره ځایه په ډاگه کوي چې افغانستان ته دشوروي پوځونو دلېږلو نوښتگر او پلي کوونکي څوک وو. دیادونې وړ ده چې دغه پرتوکول دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو دټولو هغو غړو له خوا چې په دغې غونډې کې یې گډون درلود لاسلیک شوی دی او هیچا هم هغه وخت « مخالفه رایه » نه ده ورکړې .دسیاسي بیورو ټول غړي په دې

پوهېدل چې دشوروي اتحاد دکمونيست ګوند دمرکزي کمېټې د عمومي منشي له ليد سره مخالفت څه مانا لري ، ځکه نو دهغه ټول وړانديزونه « درايو په يو والي سره منل کېدل ».

هو ، هغه مهال يوازې يو له بل سره د لاس يو کولو آر چلېده. پټه دې پاتې نه شي چې ا .ن. کاسګين په دغې غونډې کې ګډون نه درلود ، ځکه ددې مسالې په اړه دنوموړي دريځ منفي و . په دغه لاسوند کې د « الف » له توري نه موخه افغانستان او له « تدبيرونو » نه منظور دغه هېواد ته دشوروي پوځونو لېږل وو. په دې توګه نو دغه لاسوند افغانستان ته دپوځونو دلېږلو دپرېکړې دمسووليت په اړه ټول شکونه او ناوړه پوهاوی ( سوتفاهم) له منځه وړي.

هغه شفري تلګرامونه چې { تر دغې پرېکړې} وروسته تر لاسه شوي ، ددې ښکارندوی دي چې د افغانستان په اړه دشوروي اتحاد دمشرتابه له خوا پورته شوي ګامونه ټول ګنې پرځای اوسم وو.

له کابل نه رپوټ ( پټ ، چټک .... )

دکې جي بې استازي د دسمبر پر ۱۲ مه او ۱۷ مه له ح .امين سره وکتل . د امين په خبرو کې د پام وړ ټکی دا و چې نوموړي د ا . د .ج په شمالي سيمو کې دباندېونو دجګړه ييزو عملياتو په مخنيوي کې د شوروي اتحاد دمخامخ ونډې اخيستنې پر اړتيا په کلکه ټينګار کاوه . دهغه دخبرو غور چاڼ په لاندې ډول دی :

- د افغانستان اوسنی مشرتوب به د ا.د. ج . دشمالي ولايتونو په ستراتيژيک ارزښت لرونکو يو لړ ځايونو کې دشوروي وسله والو پوځونو شته والي ته هر کلی ووايي.

امين وويل چې دپوځي مرستې دترسره کېدو بڼې او لارې چارې بايد پخپله دشوروي لوري له خوا وټاکل شي.



ACKU

- شوروي اتحاد کولی شي په ټولو هغو سیمو کې چې وغواړي خپل پوځي گارنیزونونه ولري.

- شوروي اتحاد کولی شي چې د افغان- شوروي همکارۍ د ټولو پروژو ساتنه په غاړه واخلي.

- شوروي پوځونه کولی شي چې د ا. د. ج. دمخابراتو ساتنه هم پخپله غاړه واخلي.

دشوروي اتحاد د کې جي بې استازی ۱۹۷۹ - ۱۲- ۱۷.

باید وویل شي ،چې دپوځونو دلیږلو په باب دشوروي اتحاد د عالي شورا دریسه هیات فرمان او یا بل کوم حکومتي لاسوند نه ورراوتلی .ټولې لاربښوونې په گړنۍ ( شفاهي) توگه ورکول کېدلې . البته داکار دخبرې د پټ ساتلو او دح .امین دتېر ایستلو ( غافلولو ) لپاره ترسره کېده . دمهمو سیاسي پرېکړو دنیولو دهغه ځانگړي سیستم له مخې چې په هغو کلونو کې چلیده ، د داډول پرېکړو کول کومه ناشونې خبره نه وه . کله چې یوه پرېکړه دشوروي اتحاد دکمونیست گوند د مرکزي کمېټې دسیاسي بیورو له خوا ( چې دواکمن گوند تر ټولو لوړ اورگان و ) ونیول شوه ،بیا به نوهسې په بنه ییزه او فورمولیته توگه هغه د دولتي اورگانونو له خوا « منل کېده » او خلکو ته به اعلانېده . ځکه نو سړی په ډاډه زړه ویلی شي چې که چېرې دغه خبره هغه مهال دشوروي اتحاد په ستري ( عالی ) شورا کې هم راپورته شوې وای ،نو د رایو په یو والي سره به مثبت ځواب ورته ویل شوی وای . داخبره ځکه کوم چې هغه وخت د « یو اندولی » ( واحد تفکر ) پېر و او دگوندي لړۍ ( نومنکلاتور ) له خوا منځته راغلی دغاړې ایښودنې ( متابعت) داسې یو سیستم چلېده چې د هغه له مخې هیچا نه شو کولی د شوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو له خوا له ټاکل شوې کرنلارې اواډانې نه یو گام هم بله خوا پورته کړي .

له همدې امله هغه کسان هم چې په دولت کې يې مهمې څوکۍ درلودې دهمدغه سیستم تر ژورې ولکې او کنترول لاندې وو.

دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دهغه پراو مشرتابه اړینه ونه بلله چې دغه خبره دځينې لپاره دشوروي اتحاد سترې (عالي) شورا ته وړاندې کړي. هر څه يوازې د «انترناسیونالیستي مرستې» په اعلانېدو سره پای ته ورسېدل.

اوس آن د پرون ورځې دلوړې کچې مشران هم دخپل ځان دسپينولو لپاره افغانستان ته دپوځونو دلېږلو له پلانونو نه له خبرتيا او په دې کار کې له ونډې درلودلو نه په ډېر چل ول او تګۍ برګۍ سره اوړې تشوي. پوښتنه رامنځته کېږي: کله چې دغه ښاغلي له دې کار نه خبر شول، نو آيا په دې اړه يې کوم احتجاج او مخالفت هم څرگند کړ که نه؟ نه، نه يوازې داچې مخالفت يې ونه کړ، بلکې له هغه نه يې ملاتړ هم وکړ. دا خبره دهغه پېرد ګڼ شمېر ګوندي اود ولتي مشرانو له وينا وو څخه چې ځينې بېلګې يې دلته وړاندې کېږي په ښه توګه څرګندېدای شي.

«دنړيوال حالت او شوروي اتحاد د بهرني سياست په باب» د شوروي اتحاد دکمونيست گوند دمرکزي کمېټې دپلينوم په پرېکړه ليک کې چې د ۱۹۸۰ يم کال دجون پر ۲۳ مه درايو په يو والي ومنل شو ويل کېږي: «د مرکزي کمېټې پلينوم له بهرنه دلاسوهنو اووسله والو بريدونو چې موخه يې د افغاني انقلاب زندی کول اودشوروي اتحاد په سويلي پولو کې دپوځي تېرې لپاره دتوپ ديوې امپرياليستي پلوه تختې جوړول دي، دشنډولو په موخه له افغانستان سره د هر اړخيزو مرستو په برخه کې دتېرلو ترسره شويو کارونو بشپړ ملاتړ کوي. پلينوم دغه راز دافغانستان په شاوخوا کې چې د ناپېيلتوب سياست يې په مخکې نيولی، دمنځته راغلي حالت دسياسي اوارې غږ کوي. {خو} لکه څنګه چې د ا. د. ج. حکومت هم څرګنده کړې دا کار پر هغه هېواد باندې

دتېرې بشپړ بندولو او له بهرنه د ورانکارو هڅو دمخنیوي لپاره ډاډ منو ضمانتونو ته اړتیا لري...»

د ل. ای. برژنف او ا. ا. ګرومیکو په رپوټونو او دغه راز د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دپلینوم دنورو ګډون کوونکو په ویناګانو کې هم چې افغانستان ته دپوځونو له لېږلو سره یې تړاو درلود ، دشوروي اتحاد ددغه چلند ملاتړ وشو. په دې ډله کې دګرجستان دکمونیست ګوند دلومړي منشي ای. ا. شیوارد نادزي وینا چې دپلینوم له تریبون نه یې واورو له ډېره د پام وړ ده. نوموړي وویل : « نړیوال پوهېږي چې شوروي اتحاد او دهغه مشر خپل دوستان دزمانې نادودو ته یوازې نه پرېږدي، او دهغه ګړاوکړ ( وینا او عمل ) سره یو دي. (اوږدې چکچکې) . چاچې دلیونیدایلیچ برژنف ستر اونه سترې کېدونکې کاروبار لیدلی وي ، چاچې دده دخبرو اترو خپاره شوي متونونه ، دهغه ارزښتناکه آثار او دبهرنیو اوکورنیو مسالو په باب دده ویناګانې لوستې وي ، نو پردې تکې دپوهېدو له امله د زړه له کومې خوښي او ویاړ ورته پیدا کېږي چې دګوند او دولت په سرکې داسې یو څوک ولاړ دی چې په هغه کې ژوره او پراخه پوهه ، لینني آرینتوب ( اصولیت ) ، پرولتاري کلکوالی ، انقلابي مېړانه ، لوړه انساندوستي او بې ساری دیپلوماتیک نرمښت په خورا ښه توګه او ډل شوي دي. ( اوږدې چکچکې ).

کله چې دافغاني انقلاب بریاوې له ګواښ سره مخامخ شوې ، نو شوروي خلک له دې امله په ژوره اندېښنه کې ولوېدل .هغوی دافغانستان د خلکو په باب ، او دغه راز زموږ دپولو ، هو ، زموږ دسویلي پولو له پلوه په اندېښنه کې وو. خو کله چې د افغانستان په اړه مېړنی او یوازینې سم او معقول ګام پورته شو ، نوهر شوروي وګړی له دې امله له خوښۍ نه په جامو کې نه ځایده.

دګرجستان زیارایستونکي هم دنورو شوروي خلکو په څېر دافغاني

انقلاب د برياوو د ساتنې او ودې او زموږ دسويلي پولو دامنيت د ساتلو لپاره دګوند دمرکزي کمېټې او شوروي حکومت د هغو کارونو چې دليونيد ايليچ برژنف په رپوټ کې ورته اشاره وشوه ، ټينګ ملاتړ او دبهرني سياست په برخه کې زموږ دګوند دمرکزي کمېټې ، سياسي بيورو او ملګري ليونيدايليچ برژنف د کارندتيا چې زموږ دهېواد او ټول پرمختيا پال بشريت له ژوندينو ( حياتي ) ګټو سره بشپړه سمون لري ، تود هرکلی کوي ... »

خو پخپله همده {شيوارد نادزي} هم بيا په را وروسته کلونو کې ببخي بل ډول خبرې کولې او ځان يې د هغه وخت په پرېکړو کې له ګډون نه سپين ګاڼه . خو رښتيا خبره داده چې اې . شيوارد نادزي که په کنګره کې وه که په پلينومونو کې ، تل به يې په خپلو ويناوو کې لکه « قفقازي بلبله » د لاربښود دپوهې او ژور ليد ستاينه کوله .

دروغتيايي څلورم لوی رياست ( کريملن روغتون ) دمشر اکاډيميسن اې . اي . چازوف په وينا چې ډېر کلونه يې دل . برژنف د روغتيا څارنه کوله ، دژوند په وروستيو اوو کلونو کې دشوروي اتحاد دکمونيست ګوند دمرکزي کمېټې دعمومي منشي دمرکزي عصبي سيستم په دندو کې داسې بدلونونه راغلي وو چې د هغو له امله نوموړي نه شو کولی خپلې چارې او دندې په سمه توګه سرته ورسوي . ددغه اکاډيميسن يادونې ديو لړ پېښو پر تيارو ګوټونو داسې رڼا اچوي : « کله چې اوس سړی د پخواني مشرتابه دځينو غړو په ګډون د يو شمېر ټکو له خولې، اوري چې سياسي بيورو او مرکزي کمېټې د برژنف درښتيني روغتيايي حالت په باب معلومات نه درلودل ، نو دانه يوازې خلکو ته په سترګو کې خاورې دوړول او درغلي ده ، بلکې « دځان ژغورنې لپاره څرګند دروغ دي ». هو ، هغه کسان چې په هرڅه پوهېدل خو پرخولو يې لاس ايښی و او له حالاتو سره سم يې سر خوځاوه بايد چې اوس خپله چوپتيا او لاس ترزني

کښناستل په یو ډول نه یو ډول سپین کړي .او که سړی رښتیا خبره وکړي ،نو ددغو کسانو څه شی له لاسه پوره و ؟ ځکه هغه مهال ټول واک د « برژنف دډلې » په لاس کې و او د مشرتابه هغو کسانو چې په دغې ډلې پورې یې اړه نه درلوده په هر ډول شوي شرکې خپل خیر لټاوه ،ځکه دا شان حالاتو هغوی ته د بې واکه برژنف تر سیوري لاندې دخپلې څوکۍ او راتلونکي دساتلو لپاره ډېرې ښې شونیتاوې برابرولې... له همدې امله وه چې دغو کسانو زموږ دهېواد {دتاریخ} په ډېرو نریو او ستونزمنو شېبو لکه دافغانستان دجګړې دپیل کېدلو پر مهال او داسې نورو کې ورته چلند غوره کړ.

زه پر افغانستان باندې زموږ دپوځونو د ورننوتلو دتیارې او پلې کېدلو دبهیر دڅرنګوالي او ټکي په ټکي والي ( جزیاتو ) په باب معلومات نه لرم . که سړی د ټولیزو رسنیو پرر پوټونو باور وکړي ،نو یوازې څلورو تنو یانې اوستینوف ، ګرومیکو ، اندروپوف او تیخونوف دغه تیرې چمتو او پلې کړ او په مشرتابه او مرکزي کمېټې کې بل هیچا ګومان هم نه شو کولی چې داسې یو کار به ګنې وشي. خو حقیقت داسې نه دی. رښتیا خبره داده چې دهېواد مشرتابه او دمرکزي کمېټې غړو ته د افغانستان د حالاتو په باب په پرله پسې توګه رپوټ ورکول کېده .سربېره پر دې زموږ په سلګونو استازو چې ګوندي سلاکاران او دکې جي بي او اردو د کشف کارکوونکي هم په کې وو ،هر اړخیز مواد را ټولول او مسکو ته یې رالېږل .

. زما لپاره د افغانستان پېښې دغه هېواد ته دشوروي پوځونو له ورلېږلو نه لا ډېر پخوا پیل شوې وې. دا هغه وخت و چې دامین ورور عبدالله { ښایي داسړی به دامین وراره اسدالله و .ژ.} چې د افغانستان دځارګرۍ داداري مشر و د حفیظ الله امین په امر پخپله یا د خپلو کسانو له خوا دګوند اودولت مشر تره کی له منځه یوړ....

سره له دې چې دبرژنف د غور او ځیر تیا وړتیا بېخي کمزورې شوې وه، خو دغې پېښې دبرزیات خواشیني کړ. له هر څه نه زیات دې خبرې هغه ډېر ځوراوه چې له دغو پېښو نه یوازې څو ورځې ترمخه یانې د سپتمبر پر لسمه یې له تره کي سره کتلي وو، له هغه سره یې دمرستې او ملاتړ ژمنه کړې وه او ډاډ یې ورکړی و چې شوروي اتحاد پر هغه بشپړ باور لري. پخپله برژنف دیوې لیدنې کتنې په ترڅ کې په دې اړه داسې ویلي وو: «دا امین څومره ټیټ سړی دی. دې څنګه کولی شي هغه څوک ووژني چې له ده سره یې یوځای په انقلاب کې ونډه درلوده؟ چا د افغان انقلاب مشري په غاړه لرله؟ په نورو هېوادونو کې به خلک څه وایي؟ خلک به وایي چې که دملاتړ او مرستې په باب دبرژنف ډاډ ګیرنه هسې بابیزه خبره وي، نو څنګه کېدای شي چې سړی دهغه پر لوز باور وکړي؟»

اندروپوف هم ویل چې یوه ورځ برژنف دده او اوستینوف ترمخه همدا شان څرګندونې وکړې. ګومان نه کوم چې د برژنف دې شان دریځ به ګنې پر افغانستان باندې پر ورننوتلو کې ګړندی کوونکی رول لوبولی وي، خو ددې تر څنګه په دې کې هم هېڅ شک نه شته چې دتره کي تر وژل کېدو نه راوروسته پېښو او پر امین باندې د برژنف او دهغه د چاپېریال له خوا د باور له منځه تلو افغانستان ته د پوځونو په لېږلو کې هرومرو رول درلود او تېرې ته تیارۍ هم تر همدغو پېښو نه وروسته پیل شو...

ما هغه مهال له اندروپوف سره ډېر زیات لېده کاته کول، خو دخپلې پېژندګلوۍ په ټولو ۱۷ کلونو کې مې هېڅکله هم هغه دا شان زېښلی نه ولیدلی. ماته داسې وبرېښېده چې له اوستینوف سره په توپیر، له نوموړي سره یوازې افغانستان ته دپوځونو د لېږلو په درشل کې {پرتر سره کېدونکی کار، ژ.} دبې باورۍ اوترورتیا (وارخطایۍ) احساس پیدا شو. خو هغه دخپلو رپوټونو پر سر چینو چې ددغه هېواد دحالاتو په باب یې د ټاکلو لیدونو او

معلوماتو په‌چمتـو کولو او ددغو حالاتو داوارولو لپاره دشونو لارو چارو په گوته کولو کې مرسته کوله ، ژور باور درلود . داسې گڼل کېده چې که امین او دهغه ملگري گوښه او پرځای یې په‌مشرتابه کې نوې څېرې کېنول شي او دپوځ په‌مرسته ددغه مشرتابه ملاتړ وشي نو هر څه به‌سم اوگل وگلورین شي...

{که‌څه‌هم} دشوروي لوري له‌خوا دسر دډېرو لږو زیانونو په‌زغملو سره د امین پر ځای ببرک کارمل دگوند او دولت په‌سرکې کېنول شو ،خو له ورکړل شویو رپوټونو سره په‌توپیر هرڅه په‌چپه واوښتل او د پوځونو لپېږلو حالات لا پسې خړپړ او کړ کېچن کړل... پر افغانستان باندې د شوروي لښکرو له‌برید نه‌تر مخه حالت او د پېښو د راتلونکي او ښتون له‌په پام کې نیولو سره په‌پوره ډاډ ویلی‌شم چې دافغاني جگړې د پیل کېدو پرېکړه د ډېرو کسانو د لاس اېبره او محصول دی او ددې خبرې منل چې له‌دې کار نه‌گټې دهېواد د مشـرتابه یوازې یوه‌وړوکې ډله‌خبره وه ، له‌یوه‌نکل اوافسانې نه پرته بل څه نه‌دي ... »

هغه‌څه چې په شوروي اتحاد کې ،افغانستان ته‌د پوځونو دلېږلو په‌باب په‌غبرگون پورې اړه‌لريّ، نو یوازې ا. د. ساخاروف اویو څو « پټو مخالفو کړیو » چې په‌ډاگه یې دغه کار وغنده‌بل‌چا هسې سوږهم له‌خولې را ونه‌ایست .خوځرنگه‌چې ددغو کسانو څرگندونې دلویدیز په‌تولیزو رسنیو کې چې شوروي وگړو ورسره لږه بلدتیا درلوده خپرېدې ،ځکه نو هغه دومره اغېزمنې نه‌وې او کله‌کله خو یې آن « د شـوروي خلکو کـرکه اوکینه‌هم راپاروله » اوله همدې امله یې د ا.د.ج. په‌کورنیو چارو کې دشوروي اتحاد د لاسوهنو پر مخنیوي او کمولو هم دومره اغېزه نه‌شوه ښندلی. خو زما په‌اند اوس ددغو څرگندونو د بیا څېړلو لپاره کومه اړتیا هم نه‌لیدل کېږي. نورو خوبختې غوره وگڼله چې په غوږونو کې مالوچ کېږدي.

دهک پکوالي وړ ده‌چې په‌را وروسته کلونو کې گڼ شمېر داسې کسان را

پیدا شول چې سینه یې دبوله چې نه یوازې په « ذهن کې » ، بلکې « په ډاګه » هم تل له دغه کار سره مخالف وو . خو که سپینه ووایم نو دغو ښاغلو هغه وخت آن دیوه تش غږ د پورته کولو تنګسه هم پرځان تېره نه کړه.

اوس نو دا د هرانسان او په تېره دهر ژور نالیست دنده ده چې تر پایه پاک او بې پلوه و اوسي او پروني « پاس ناست کسان » یانې سیاستوالان ، پوځیان ، ختیځپوهان او پرته له ځانه چې بل هرڅوک په لاس ورشي په پټو سترګو « ونه غندي » .

دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند او شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد یو شمېر پخواني مشران چې دغه پرېکړه یې کړې وه لکه ل . ای . برژنف ، یو . و . اندروپوف ، د . ف . اوستینوف ، م . ا . سوسلوف اونور د افغان جګړې تر پایته رسېدو له مخه له نړۍ نه سترګې پټې کړې او د ا . د . ج . ته د لښکرو دلېږلو په باب د پرېکړې تول تکي په تکي والی اونورې پټې خبرې یې له ځانه سره ګور ته یوړي . له هغې ډلې نه یوازې ا . ا . ګرومیکو څو کاله ژوندې و چې په ۱۹۸۸-۱۹۸۹ کلونو کې یې د هغه مهال د پېښو دځینو اړخونو په باب داسې څرګندونې وکړې :« ... د ۱۹۷۸ کال د دسمبر پر پنځمه د دوستۍ ، ښه ګاونډیتوب او همکارۍ په باب شوروي - افغان تړون لاسلیک شو.

.... له همدغه تړون سره سم دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت حکومت له شوروي اتحاد نه د افغانستان له خلقي اردو سره دوسله وال ملاتړ هیله وکړه . ددغې غوښتنې په اړه په شوروي اتحاد کې اووده او ژوره څېړنه تر سره شوه . په پای کې دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند د مرکزي کمېټې سیاسي بیورو درایو په یو والي سره د داسې یوې مرستې په باب پرېکړه وکړه ....

دافغانستان خلق دیموکراتیک ګوند دمرکزي کمېټې دعمومي منشي تره کي وژلو ، چې د هغه حکومت د داشان مرستې هیله کړې وه ، حالات لا پسې

خبرې اوترینګلي کړل. دغې خونړۍ پېښې پر شوروي مشرتابه ژوره اغېزه وکړه. دنوموړي وژنه پخپله ل. ای. برژنف ته ډېره ستوغه تمامه شوه. په پای کې په همدې شان حالاتو کې وه چې افغانستان ته دشوروي لیږ شمېر پوځي ټولګیو د لیږلو په باب پرېکړه وشوه. په سیاسي بیورو کې ددغې پرېکړې تر کولو وروسته زه د برژنف دفتر ته ورننوتم او ورته ومې ویل:

- فکر نه کوئ که زموږ دپوځونو دلیږلو په باب پرېکړه د دولتي چینل له لارې نیول شوې وای نو ډېره به ښه وای ؟ برژنف سم له لاسه ځواب رانه کړ. دټیلیفون غوږۍ یې راپورته کړه او هغه بل لوري ته یې وویل:

- میخاییل اندرییویچ{ سوسلوف} ، ته نه شې کولی یو ځل ماته راشې ؟ یوې سلامشورې ته اړتیا ده.

په همدې وخت کې سوسلوف راننوت . برژنف هغه ته زموږ ترمنځ دشوو خبرو په باب معلومات ورکړل او له ځانه یې دا هم پرې ور زیاته کړه :

- فکر کوم چې منځته راغلي حالت کې باید پرېکړه په چټکه توګه وشي، یا باید موږ د مرستې په باب دافغانستان غوښتنه رد کړو او یا باید وګړنۍ واکمنۍ وژغورل شي او له شوروي - افغان تړون سره سم ګام پورته شي.

سوسلوف په ځواب کې وویل:

- موږ له افغانستان سره یو تړون لرو او ځرنګه چې مو اوس پرېکړه کړې ،نو باید له دغه تړون سره سم خپل مکلفیتونه په چټکۍ سره ترسره کړو. نورې خبرې به بیا وروسته په مرکزي کمېټه کې وڅېړو.

د ۱۹۸۰ یم کال په جون کې جوړشوي پلینوم هم دراپو په یو والي او په بشپړه توګه د سیاسي بیورو دپرېکړې ملاتړ وکړ. دشوروي اتحاد دمارشال لوی درستیز ن. و . اګارکوف زموږ دپوځونو ترلیږلو له مخه لا دکاري غونډو په ترځ کې په دې باب اندېښنه درلوده چې ښایي دافغان اردو ځینې ټولګي دهغو په

وړاندې تینګاو وکړي . په لومړي سر کې پتېل شوې وه چې زموږ پوځونه به یوازې له سیمه ییزو وګړو سره له بهرنه د رالېږل شوو بانډونو په وړاندې دخوندي ساتل کېدو او له خلکو سره دخوراکي او اړتیا وړ نورو شیانو لکه تېلو ، توکرانو ، صابون او داسې نورو په برخه کې مرسته کوي . موږ نه غوښتل چې دخپلو پوځونو په شمېر کې زیاتوالی راولو او نه هم په سختو جګړه ییزو عملیاتو کې ورګډ شو . له همدې امله زموږ پوځونو دګارنیزیونونو په بڼه په تېره په ښارونو کې واړول . . . »

حقیقت دادی چې دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې زموږ دپوځي شتـه والي مهـمـه موخـه سولـه ساتونکې وه او هغـه یوازې او یوازې دحالاتو دسمېدو او له بهرنه دتیري د شنډولو لپاره {له افغانانو سره} دمرستې سرته رسولو ته مخامخ وه . البته اوس سړی پوهېږي چې دا خبره هومره اسانه هم نه وه ، خو هغه وخت دا کار شونی ګڼل کېده .

تر پورتنیو څرګندونو وروسته به اوس لوستونکو ته په ډاګه شوې وي چې شوروي مشرتابه هغه مهال دغه پرېکړه له څومره ستونزو سره ونیوه او د یو شمېر ژور نالیستانو له ادعاګانو سره په توپیر ، هغه هومره هم بېړنۍ او ناڅاپي نه وه ، خوله بده مرغه په دې اړه وروستۍ خبره دناڅانګیزو ( غیـرمسلکي) کسانو په لاس کې وه .

هو ، په دې کې شک نه شته چې دشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو د ستر درستیز مشرتابه لکه ن . و . اګار کـــــوف ، س . ف . اخرامییف (١) ، او

---

(١) سرګي فیودرویچ اخرامییف دشوروي اتحاد مارشال او په پوځي چارو کې دشوروي اتحاد دولس مشر [ګرباچوف .ژ .] سلاکارو . درسمي رپوټونو تر مخې نومړي د ١٩٩١ کال په اګست کې د دولتي کودتا تر هڅې وروسته ځان پخپله وواژه . که څه هم اخرامییف د کودتاچیانو په کمېټې کې غړیتوب نه درلود ، خو د کودتا پر مهال په سوچي کې له دمې (استراحت) نه پخپله خوښه مسکو ته راستون شو او د نومړي کمېټې درستیز توب ته ورغی . دهېوادنی ستري جګړې ګډون کوونکی او دشوروي اتحاد اتل اخرامییف له پوځي تشریفاتو پر ته دمسکو دکونځیف په هدېرستون کې خاورو ته وسپارول شو .

و.ای . ورینیکوف او دغه‌راز د پلوځواکونو لوی قوماندان ستر جنرال ای . گ .
پاولوفسکي دشوروي اتحاد دسیاسي مشرتابه له‌خوا دوروستی پریکړې تر
کېدو پورې د پوځونو له‌لېږلو سره مخالفت کاوه ،ځکه دهغوی په‌اند ، افغان
مشران باید خپلې کورنۍ شخړې گرد سره پخپله له‌منځه یوسي او زموږ پوځي
شته‌والی به‌نه یوازې وسله والې نښتې لا پسې راولمسوي ،بلکې په‌هېواد کې
د یاغیانو دغورځنگ‌له‌پیاوړتیا سره به‌هم مرسته وکړي او په‌دې توگه به
دهغوی دتورې تېره ځوک تر هرڅه وړاندې شوروي پوځیانو ته‌مخامخ وي ، او
دا خوله لاڅه چې دافغانانو له دودونو ،په‌تېره‌له‌اسلام اوملي ، قامي
اوقبیلوي اړیکو سره کمزورې بلدتیا خو به‌بې له‌شکه‌زموږ پوځیان‌له‌ډېرو
زیاتو ستونزو سره مخامخ کړي.
{خو شوروي مشرتابه د پوځي چارواکو لیدونو ته‌غوږ نه‌نیوه‌او
افغانستان ته دپوځونو لېږل یې په‌دومره تروړتیا تر سره کړل چې
آن ددغو پوځونو لومړي قوماندان سرگي سوکولوف دغې دندې ته‌سم
چمتو والی نه‌درلود ،ځکه} دشوروي اتحاد د دفاع وزارت لومړي مرستیال
مارشال سرگي لیونیدوویچ سوکولوف د دسمبر په‌پیل کې رخصتي اخیستې
وه‌او د وکالت دځینو کارونو لپاره کاریلیا ته‌تللی و . نوموړي په‌پام کې
درلوده چې له هغې وروسته دکیسلو و دسک پوځي سناتوریم ته‌ددمې لپاره
لاړ شي. خو په‌همدې ترڅ کې هغه په‌ناڅاپي توگه‌مسکو ته‌وروبلل شو.
نوموړي پرته له‌دې چې ځوک پرې شکمن شي خپلې کورنۍ ته‌وویل چې
ځان دبرژر سفر ته‌چمتو کړي‌او پر دا بله‌ورځ هغوی دکیسلو ودسک پرځای
شوروي افغان پولې ته‌په‌خبرمه‌پراته ښار ترمز کې‌وو. افغانستان ته‌دروانېدو
پر وخت هغه له‌خپلې مېرمن سره لوز وکړ چې : « یوه‌میاشت وروسته بېرته
راستنېږم او بیا به‌نو په گډه سناتوریم ته‌ځو » .خو دنوموړي دنده له‌میاشتې

او میاشتو نه پر کال واوښته...

په دې کې شک نه شته چې افغانستان ته د پوځونو دلیږلو دموخو اولاملونو په باب تعبیرونه او لیدونه ګڼ او ډول ډول دي او هغه دهمدغه بهلوالي تر څنګ آن ضد ونقیض هم دي. ددې خبرې دښې روښانتیا لپاره زه هغه کوم چې د لیدونو له دغه غونډ (مجموعې) نه یوځو بېلګو ته دلته ګوته ونیسم.

په هغه یادښت کې چې افغانستان ته دشوروي پوځونو تر ورننوتلو نه وروسته دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټې ته وړاندې شو، ددغه آر ارزونه او لاملونه په کې په لاندې ډول بیان شوي دي:

**لاسوند، بېخي پټ**

د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټه

په افغانستان کې د ۱۹۷۹ کال د دسمبر د ۲۷ مې او ۲۸ مې نېټو دپېښو په باب دروان کال دسپتمبر په میاشت کې د ح. امین له خوا د دولتي کودتا له ترسره کېدو او د ا.خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې دعمومي منشي او دافغانستان دانقلابي شورا د مشر ن.م. تره کي تر وژلو وروسته په افغانستان کې حالات لا پسې ترینګلي او کړکېچن شول.

ح. امین په هېواد کې دشخصي زورواکۍ رژیم ټینګ او د ا. خ. د. ګ. مرکزي کمېټه او انقلابي شورا یې دتش په نامه اورګانونو کچې ته راټیټ کړل. دګوند اودولت پر لارښوونکو ځوکیو داسې کسان وټاکل شول چې له ح.امین سره یې دخپلوۍ یا شخصي وفادارۍ تارونه پالل. د ا.خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې، انقلابي شورا او افغان حکومت ګڼ شمېر غړي دګوند له لیکو څخه وشړل شول او زندانونو ته واچول شول. داپریل انقلاب ګډون کوونکي او هغه کسان چې له شوروي اتحاد سره یې خپله مینه نه پټوله او دغه راز چا چې دګوند د دننني ژوند د لینني آرونو ساتنه کوله، دا ټول دهغه لیست

پەسرکې ووچې لەوهلو تکولو او فزیکي لەمنځە وړنې سره مخامخ وو.
ح.امین پخپلو داسې څرګندونو چې لەګوند اوحکومت نەد ن. م. ترەکي لرې کېدنەګنې دشوروي اتحاد پەخوښە ترسرەشوې ګوند او خلک تېر ایستل.

دح. امین پەسپارښتنە دافغانستان پەدیموکراتیک جمهوریت کې مخکي ترمخکې جوړې شوې یولړ داسې آوازې خپرېدې چې شوروي اتحاد یې بدنامەکاوه او پە افغانستان کې دشوروي اتحاد دکارکوونکو دندې او کارندتیا یې ترسیوری لاندې راوستل. سربېره پر دې لەافغاني استازو سره د دغو کارکوونکو پراړیکو هم یولړ بندیزونە (محدودیتونە) ولګول شول. لەدې سره جوخت «دبهرني سیاست دبنې تلل شوې تګ لارې» پەاډانەکې چې د ح.امین لەخوا وړاندې شوې وه لەامریکایانو سره داړیکو دټینګولو هڅې هم ترسترګو کېدې.

آن تر دې چې ح. امین پەکابل کې دامریکا دمتحدو ایالتونو لەشارژدافیر سره سمې سیده (منظمې) لیدنې کتنې پیل، دا. د. ج. حکومت دامریکا دکلتوری مرکز دکار لپارە دښو شرطونو پەبرابرولو لاس پورې کړ او دا. د. ج. څارګری دح.امین پەسپارښتنە د امریکا دسفارت پرخلاف خپلې دندې پەتېپە ودرولې. {لەبله پلوه} ح. امین هڅە کولەچې دکورنیو انقلاب ضد کسانو لە مشرانو سره دجوړجاړي (کومپرامایز) لەلارې خپل دریځ لا پسې پیاوړی کړي. لەهمدې امله هغە دخپلو باوري کسانو لەلارې دښې اړخە اسلامي مخالفینو لەمشرانو سرەهم اړیکي ټینګ کړي وو.

آخوا دسیاسي سزاګانو او وهلو تکولو لړۍ هم ګرد سره دلەییزەبڼە غوره کړې وه. داسې چې یوازې د سپتمبر لەپېښو نەراهیسې پە افغانستان کې لە ۶۰۰ تنونەزیات د ا.خ. د. ګ. غړي، پوځیان او هغە کسان چې د حکومتي ضد اندونو (افکارو) د درلودلو شک پرې کېده، لەمحاکمې او پوښتنې پرته

ووژل شول. { په دې توګه نو } خبره نوره ښکاري چې د ګوند د له منځه تللو پولې ته رسېدلې وه.

.... پر هېواد باندې په زور واک چلولو، وهلو ټکولو، ډله ییزو وژنو او د قانونو والي له نورمونو نه سرغړونو په افغانستان کې پراخه ناخوښي را وپاروله . { په همدې ترڅ کې } په پلازمېنه کې په زرګونو پټې پاڼې خپرېدې چې په هغو کې د واکمن رژیم وګړني ضد ځانګړتیاوې رسواکېدې او خلک د « ح . امین د ډلې ټپلې » پر خلاف په هاندو هڅه کې یو موټي کېدو ته وربلل کېدل. د ناکراریو لمن آن اردو ته هم ور غځېده . د پوځیانو زیاتې برخې د ح . امین د بې واکه ګوډاګیانو د ګمارل کېدو له امله ناخوښي څرګندوله . په دې توګه نو په هېواد کې عملاً یوه پراخه امیني ضد جبهه منځته راغلې وه...

په داسې خورا سختو شرایطو کې چې د اپریل انقلاب بریاوې او زموږ د هېواد دامنیت دسمبالتیا ګټې یې له ګواښ سره مخامخ کړې وې ، افغانستان ته دسرباري پوځي مرستو دورکولو اړتیا رامنځ‌ته شوه او هغه هم په داسې حال کې چې د ا. د.ج. پخواني حکومت هم دورته مرستې هیله څرګنده کړې وه . {له همدې امله} افغانستان ته د شوروي اردو د اړتیا وړ ټولګیو دلېږلو په باب پرېکړه د شوروي - افغان د ۱۹۷۸ کال د تړون له شرطونو سره سم ونیول شوه...

یو .اندروپوف ،ا. ګرومیکو ، . د. وستینوف ،ب. پوناماریوف، د ۱۹۷۹ کال د دسمبر ۳۱ مه ،نومره ۲۵۱۹-الف.

په پورتني لاسوند کې له وړاندو شویو دلیلونو څخه په ډاګه کېږي چې د پوځونو د لېږلو بنسټیزه موخه له واک نه د ح. امین دلرې کولو اړتیا وه . خو آیا دا کار ریښتیا هم همدومره اړین و ؟ ځکه داخبره لا ښکاري څرګنده نه وه چې که چېرې ح. امین د ا. د. ج. په مشرۍ کې پاتې شوی وای نو په افغانستان کې به

پېښو پر کوم لوري وده کړې وای. ښکاره خبره ده چې د هر هېواد ځواک او په تېره د توتالیتار داخو په ځانګړې توګه د هغه د مشر په شخصیت پورې ډېره اړه لري. نو که چېرته دغه شخصیت ځواکمن وي – دولت وده او پرمختګ کوي او که کمزوری وي، بیا نو هغه شړېږي او یا ښخي له منځه ځي. خو ح. امین د ټولو ارزونو له مخې یو ځواکمن شخصیت و او خدایزده که له شوروي اتحاد نه یې مخ اړولی وای. دا له سي آی اې سره د ح. امین د اړیکو په باب زموږ د څارګرې رپوټونه وو چې شوروي مشرتوب یې تر خپلې ژورې اغېزې لاندې راوست. سربېره پر دې ځینو شخصي لاملونو او زړه بداویو او دغه راز د شوروي سیاستوالو بې ځایه لویي او غرور هم په دې اړه خپل رول ولوباوه. د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې د عمومي منشي شخصي ځان غوښتنې ربښتیا هم تر بل هر څه نه زیات د شوروي مشرتابه پر نورو غړو غوځه اغېزه وښندله او هغوی یې له دولتي پوهې نه پر بې برخې کولو سربېره د افغانستان په کورنۍ شخړې کې له خپلو پوځونو نه د مخامخ ګټې اخیستنې د نام کار په اړه د خپلو پرېکړو او لیدونو بدلولو ته اړ کړل.

افغانستان ته د شوروي لښکرو د لېږلو د څېړنې په ترڅ کې دغه ټکی هم باید له پامه ونه غورځول شي چې د نړیوالو حالاتو هغه مهالینو واقعیتونو او ارزونو هم د ا. د. ج. په اړه د شوروي اتحاد د کرېملن پر ټاکلو باندې خپله اغېزه درلوده. اخر هغه وخت خو هسې، هم د «سړې جګړې» «تاوده» کلونه وو.

هو، هغه مهال د دوو زبرځواکونو (امریکا او شوروي اتحاد)، دوو سیستمونو او پوځي بلاکونو تر منځ پوځي – ستراتیژیکه مخامختیا او له چین سره جیو پولیتیکه سیالي ښه په زور کې وه او شوروي مشرانو چین ته د شوني دښمن په سترګه کتل. دغه راز دا خبره هم لا جوته نه وه چې واک ته د خمیني تر

ACKU

رسېدو نه وروسته به په ایران کې حالات پر کوم لوري وده وکړي. برسېره پردې په ایران کې پاچاهي ضد انقلاب اوهلته داسلامي رژیم ټینګېدو هم امریکایان دې ته اړ کړي وو چې دخپلو پوځي اډو لپاره نور ځایونه ولټوي. له همدې امله زموږ پولو ته څېرمه له افغاني یاغیانو سره دمرستو پراختیا او په سیمه کې دامریکایي ټولګیو پیاوړتیا نه شوه کېدای چې دشوروي مشرانو داندېښنې وړ ونه ګرځي.

برسېره پردې داویایمو کلونو په پای کې دشوروي اتحاد اوامریکا دمتحدو ایالتونو ترمنځ دکړکیچ دکمېدلو دبهیر په پرمختګ کې هم دلیدلو وړ سربېنت منځته راغی. دساري په توګه د ج. کارتر اداري په یو اړخیزه توګه پرېکړه وکړه چې د ساتندویه (تدافعي) ستراتیژیکو وسلو (سالت-۲) تړون لاسلیک کول تر ناټاکلي وخت پورې وځنډوي. له همدې امله په شوروي اتحاد کې دغه کار د امریکایانو په ټولې پوځي سیاسي کړنلارې کې دژور بدلون یوه نښه وګڼل شوه. ددې تر څنګه ناتو هم دشلمې پېړۍ ترپایه د خپلو غړو هېوادونو د کلنۍ بودجې د زیاتولو خبره تر څېړنې لاندې ونیوه او امریکایانو خو آن خبره له دې نه هم ورتېره کړه او «د ژر غبرګون ځواکونه» یې جوړ کړل تر دې وړاندې د ۱۹۷۸ کال په جون کې دامریکا په اناپولیس کې دناتو دشنونکو یو سمپوزیم جوړ شوی وچې په هغه کې د افغانستان حالات او دهغو له امله امریکا او دهغې انډیوالانو ته منځته راتلونکي عواقب وڅېړل شول. په دغه سمپوزیم کې چې د «سمندري کړۍ» تر نامه لاندې جوړ شوی و- ۲۷ تنو جنرالانو، ادمیرالانو (د سمندري ځواکونو قوماندانانو .ژ.)، ډیپلوماتانو، پوهانو اونورو چارواکو ګډون درلود.

دهغه په ترڅ کې د رایو په یو والي سره پرېکړه وشوه چې ناتو نه شي کولی ځان یوازې په اروپايي چارو کې بوخت وساتي. له همدې امله دغه سازمان د

۱۹۷۹ کال د دسمبر د میاشتې په غونډه کې په اروپا کې دامریکایي توغندیو اواتومي وسلو دنووسیستمونو دجوړولو اوځای پرځای کولو په باب یوه کړنلاره ومنله.

له بله پلوه شوروي مشرانو پخپل وار له دې نه هم اندېښنه درلوده چې امریکا او چین له شوروي اتحاد سره د دښمنۍ پر بنسټ یو له بل سره لا پسې نږدې کېږي. سربېره پردې افغانستان او زموږ سویلي پولو ته نږدې دفارس په خلیج کې د امریکا د پوځي شته والي پیاوړتیا ته هم لمن وهل کېده. آخوا دنړۍ په بېلو بېلو سیمو ، په تېره په منځني او نږدې ختیځ کې هم حالات ډېر کړکېچن او چاودېدو ته نږدې شوي وو. خو تر دې تولو نه زیات په ایران کې دانقلاب پېښېدو شوروي مشران ډېر اندېښمن کړي وو او هغه هم لږ تر لږه په دوو لاملونو : لومړی دا چې په ایران کې د اسلام بیا راژوندي کېدلو بهیر کولی شول هلته دشوروي اتحاد اغېزه کمزورې اوداسلامي « یاغیتوب (عصیان) » لمنه افغانستان او آن دشوروي اتحاد ملیونونو مسلمانانو ته ور وغځوي . بله دا چې د پاچا راپرځېدلو متحده ایالتونه دې ته اړ ایستل چې خپلې پوځي اډې ته دې په سیمه کې کوم بل ځای ولټوي ، له همدې امله دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو پر دې زور اچاوه چې خپل سیال پرې نږدې چې په افغانستان کې له منځته راغلو حالاتو نه ددې کار لپاره گټه واخلي . ځکه نو شوروي مشرتابه په سیمه او نړۍ کې دمنځته راغلو حالاتو د څېړنې او دغه راز له امریکا سره د خپلې سیالۍ دراتلونکي په پام کې نیولو سره د داسې یوه گام پورته کولو ( افغانستان ته دپوځونو لېږلو ،ژ.) ته زړه ښه کړ . البته په دې لړ کې داخبره هم ډېره مهمه وه چې په اروپا کې دامریکایي توغندیو ځای پرځای کېدلو آن تر اوراله پورې دشوروي اتحاد مهمې سیمې اوپروژې تر گواښ لاندې راوستې او دې کار ( دپوځونو لېږلو ،ژ.) کولی شول چې له اروپایي

برخې نه دي کړي کېنې له لرې کولو او د پام له اړولو سره مرسته وکړي. د فارس په خليج کې د {امريکا ،ژ.} دالوتکو وړونکو بېړيو د ډلې زياتېدو او د ديګو ګارسيا په ټاپو کې دهوايي پوځونو پياوړي کېدو په ساېبريا کې دسکرو ،غاز او تېلو د را ايستلو د مهمو صنعتي مرکزونو دهوايي ساتنې په کار کې ټاکلې ستونزې رامنځته کړې ،او دايران دانقلاب له امله په افغانستان کې دامريکايي توغنديو دځای پرځای کېدو شونتيا (امکان) خو حالات نور هم پسې ترينګلي او له تاو تريخوالي ډک کړل. دځينو کارپوهانو په ليد خو آن د افغانستان په کورنيو چارو کې دامريکا دلاسوهنو خطر هم منځته راغلی وچې دې کار نيغ په نيغه د شوروي اتحاد د سويلي پولو امنيت ته ژور ګواښ مخامخ کاوه. خو زما په اند داکار شونی نه و ،ځکه په داسې حال کې به هغوی پر هماغه برخليک اخته شوي وای چې موږ ورسره مخامخ شو. البته ځينو نورو لاملونو لکه دامين دتروريستي رژيم دټينګېدلو او واک ته دمخالفينو دړسېدلو دمخنيوي اودخپل « ايډيولوژيک» انډيوال دساتلو لپاره دشوروي مشرتابه هڅو او لېوالتيا هم په دې کار کې خپل رول ولوباوه.

له بله پلوه هغه وخت زموږ دمشرتابه کار وچلند تر ډېره ځايه د زبر ځواکي پر اند او تفکر ولاړ و چې دهغه له امله نه يوازې افغانانو ،بلکې نورو ته هم په سپکه سترګه کتل کېدل. دساري په توګه د د .ف اوستينوف په ګومان دافغانستان خاورې ته دشوروي پوځونو دپښې له ورړسېدو سره سم به يو شمېر ياغيان سم له لاسه خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي او نور به هم يوې خوا او بلې خواته ترپ وهي.

دغه راز شوروي مشرانو د ا. د.ج. او دهغه د شاو خوا حالاتو دڅېړنې په ترڅ کې داسلامي بنسټ پالو له دغو څرګندونو نه هم اندېښنه درلوده چې واک ته تر رسېدلو وروسته به هغوی « دجهاد ترشنه بيرغ لاندې » دخپلو هاندوهڅو

لمنه دشوروي اتحاد دمنځنۍ آسيا جمهوريتونو ته هم ورغځوي.

دکيهان مجلې د ريوټ له مخې :« کريملن دکابل له « مارکسيستانو » نه په ملاتړ کې دومره ډوب شوی چې اوس نه شي کولی له خپلو ګوډاګيانو سره له مخامخ پوځي مرستې نه ډډه وکړي... سربېره پردې مسکو نه يوازې پرافغانستان ،بلکې پر آذربايجان او منځنۍ آسيا باندې دنوي ايران داغېزې له راتلونکي نه هم په وېره کې دی. دکريملن په اند همدا په کابل کې دمسکو لاسپوځي کولی شي چې د ټولو مسلمانانو د يووالي د ليد پر خلاف د ډاډمنې لومړنۍ کرښې اودېوال په څېر رول ولوبوي » (۱).

هو، ايراني سياست پوهانو هم هغه مهال حالاتو ته په داسې سترګه کتل.

البته اوس چې په نړۍ کې حالاتو په بنسټيزه توګه بدلون موندلی ،نو دغه اندېښنې او وېره سړي ته بې بنسټه او يوه بې ځايه پوښتنه ښکاري. خوسړی نه شي کولی چې هغه مهال په افغانستان او دهغه په شاوخوا کې چاودېدو ته پر بيدو نږدې شوو حالاتو سترګې پټې کړي. له همدې امله نو دغو حالاتو هرومرو دشوروي اتحاد دهغه وخت پر سياسي او دولتي مشرتابه خپله اغېزه ښندله. ددې ترڅنګه په اوپايمو او اتيايمو کلونو کې د نړيوال سياست په ډګر کې دشوروي اتحاد چال چلند هم بېخي بل ډول و. له بله پلوه پخپله دشوروي اتحاد د بهرني امنيت تګلاره هم داوږدو کلونو په ترڅ کې تر ډېره ځايه پرايډيولوژيکو دګمونو ولاړه وه او همدغه دوګمونه وو چې دنيول کېدو په حال کې پرېکړې به وورباندې تلل اوارزول کېدې. دا خولا څه چې دهېواد ملي اودولتي ګټې هم دهغو له سره جاروي. ددې ترڅنګه هغه مهال دخپلو ايډيولوژيکو انډيوالانو ملاتړ ته هم ډېر ارزښت ورکول کېده.

د يادونې وړ ده چې دافغانستان تجربې په راوروسته کې شوروي مشرانو

---

(۱)- کيهان، ۱۹۷۹/۵/۱۹، تهران.

ته ډېر خه ورزده کړل. څکه داتیایمو کلونو په سرکې کله چې دپولیند دحالاتو دتاو تریخوالي له کبله هغه هېواد ته دسوسیالیستي برياوو او ساتنې لپاره دوارساتړون دپوځونو دلېږلو خبره راپورته شوه ،نو په افغانستان کې دشوروي پوځونو شته والی ددې سبب شو چې له دغه کار نه ډډه وشي. او دهمدې کار له برکته وه چې د زیاتو ککړیو دخاورې کېدو مخه ونیول شوه. هو ،هلته (په افغانستان کې) داسې یو شرېبښ وچې نورو ته یې خیر ورسېد ».

داتیایمو کلونو په پای کې دشوروي - امریکا او شوروي - اسرائیلو ترمنځ داړیکو دبنه کېدو په رڼا کې په خلکو کې لږشان وینه وچلېده او دا کار شونی شو چې افغانستان ته دپوځونو دلېږلو په باب دشوروي اتحاد د دلوړ سیاسي مشرتابه دپرېکړې دلاملونو په باب ببل ببل او کله کله آن دحیرانتیا وړلیدونه وړاندې شي . دساري په توګه ځینو شونکو داکار له اسرائیلو نه دنړیوالو دپام اړولو لپاره دشوروي اتحاد او امریکا ترمنځ یوه ګډه چلوټه وبلله . ځینو نورو بیا ټینګار کاوه چې په افغانستان کې دغویي انقلاب اوله هغه نه دراوروسته پېښو سناریو دسي آی اې او اسرائیلو دڅارګرۍ له خوا جوړه شوې وه .دهغوی په اند په لویدیځ کې ځینو ټاکلو کړیو په دې کې خپله ګټه لیده چې دنړیوالو ټول اندونو ( عامه افکارو ) پام له منځني ختیځ نه بلې خوا ته واړوي. شوروي اتحاد په یوه بله سیمه کې په وسله واله شخړه کې راګیر کړي او د شوروي اتحاد او عربي ( په ځانګړې توګه اسلامي) نړۍ ترمنځ درزواچوي اومهمه لا دا چې پر شوروي مشرتابه ددغو ځواکونو اغېزه ببخي پرېکنده وه ،څکه چې افغانستان ته زموږ د پوځونو په ورتلو سره دغه ټولې موخې ترسره شوې .

دساري په توګه دتاریخي پوهنو ډاکټر اوختیځ قام پوهاند س.اي . کاراليوف په دې اړه داسې لیدلري :« دختیځ پېژندنې په انستیتوت کې دچا خبره دافغانستان ٬« دحالاتو په باب څېړنې » زما لپاره ډېرې په زړه پورې وې

ځکه هلته به کار پوهانو کله کله داسې لید هم وړاندې کاوه چې کېدای شي په پامیر کې امریکایي توغندي ځای پر ځای شي او دغه راز دې په افغانستان کې د ځمکې اواوبو سمونونه ( اصلاحات) ترسره شي. بنه ، دا کارونه خو وشول ، نو پایله یې څـه ؟ پایله یې داشـوه چې دهمـدغـو « کـارپوهانو » په لاسـونو دجوړوشوو سمونونو له لاسه پر ملیونونو افغانانو زموږ دهېواد له تکړه پلویانو نه دهغه پر نه پخلاکېدونکو دښمنانو واوښتل او امریکایي توغندي خو هغه دې هلتـه هسې هم ځای پرځای نه شول ،بلکې برعکس په منځني ختیځ کې دامریکایانو لاسونه د اسرائیلو په ځېر لا پسې آزاد شول ... »

په دې لړ کې سړی نه شي کولی د هغو څېړونکو له لیدونو سره هم خوښاوی وکړي چې فکر کوي پر افغانستان باندې له برید نه دشوروي اتحاد موخه ګنې تر هرڅـه وړاندې د اقتـصـادي ګـټـو لاسـته راوړل و . مـاته په دې اړه د ا.ی .سنیسـاروف هغه شننه په تېره د یادولو وړ برېښي چې ډېر کلونه پخوا یې دافغانستان د حالاتو په باب شوروي چارواکو ته وړاندې کړې وه . دنوموړي په اند: « افغانستان پخپله هېڅ بیه اوارزښت نه لري. دا یو غرنی هېواد دی ،لارې او سړکونه نه لري او له تخنیکي اسانتیاوو نه بې برخې دی ، وګړي یې تربګن (بې اتفاقه) او د ډاډ وړ نه دي، برسـېره پر دې هغوی ډېر پر آزادۍ مین دي ، غیـرت او غـرور د هغوی بېلونکې نښـه ده او خپلواکي ورباندې ډېره ګرانه ده. همدغه له خپلواکۍ سره مینه د دې سبب ګرځي چې که سړی د غه ملک لاندې هم کړي ،نو پخپـله ولکه کې دهغـه ساتل ورته ګران لوېږي . هلته داداري جوړول اودسمبنت (نظم) راوستل ډېر و شتو او زېرمو ته اړتیا لري ، خو پر دغه هېواد باندې ترسره شوي لګښتونه سړی هېڅکله هم تر بې نه شي «بودولی» ، ځکه هغه هېڅ شی هم نه لري چې په بدل کې یې ورکړي . له همدې امله باید په ډاګه ووایو چې د روسیـې اوانګلسـتـان ترمنځ د سل کلنې جګړې په تاریخ کې

افغانستان هیڅ رول هم نه دی لوبولی او دهغه ارزښت تل ناسیده ( نامستقیم) اوتړاند ( مشروط) و.

که دافغانستان سیاسي ارزښت ته ښه ځیر شو ، نو هغه یوازې دومره دی چې هند ته د تګ راتګ لاره له دغه هیواد نه تیره شوی او افغانستان دهند پر لوري یوازینی دروازه ده او بس... څو زره کلن تاریخ اوهند ته د ښکېلاک ګرو ورتګ چې تل پر افغانستان تیر شوي دهمدې خبرې څرګنده ښبه ده....»

که څه هم چې ا.ی. سنیساروف خپل دغه لیدنې پر ۱۹۲۱ کال وړاندې کړې و ، خو آن نن هم دهغه ددغې شننې ډېرې برخې دپام او ارزښت وړ دي. دهمدې ټکو له په پام کې نیولو سره ناشاپې نه وه چې د ا. د. ج. ته دشوروي پوځونو لیږل شوروي اتحاد ته د اقتصادي زیانونو له پلوه په ډېره ګرانه بیه ولوېدل.

په دې اړه دځینو مصري کارپوهانو لیدونه هم ډېر په زړه پورې دي. دهغوی په وینا: « دا ځینو هغو افغاني سخت دریځو چې ځانونه یې د «سوسیالیزم» تر شا پټ کړي وو مسکو دافغانستان نیوا ک ( اشغال) ته وهڅاوه... ددې تر څنګه دانیواک له ستراتیژیک پلوه هم دایران ، هم دپاکستان او هم دچین او امریکا په ګټه و ، ځکه تهران په دې توګه دخمینیزم دلمنې دراټلونکې پراختیا د سپینولو او بیجین ( پیکنګ ) ، اسلام آباد او واشنګتن په ایران کې دخپلې ماتې یانې دپهلوي د رانسکورېدو د غچ اخیستلو چانس تر لاسه کاوه او کولی یې شول چې په سیمه کې د شیعه ییزم (ایران) اوشوروي پراختیا ځنډونیسي » (۱)

خو زما په اند دامریکا پلانونه اونقشې تر دې نه هم لا پراخه وې.

دتیتې کچې په یوې سیمه ییزې شخړې کې دشوروي اتحاد ښکېل کېدل

---

Middl East Digest, Cairo, 1990, Nr- 122 -(۱)

دچا په ګټه و ؟ ښايي دتولو هغو{هېوادونو} په ګټه وچې د ا . خ . د . ګ . له مخالفو ځواکونو سره يې مرستې کولې اوغوښتل يې چې په افغانستان کې دشوروي پوځونو شته والى نورهم پسې اوږد شي.

په ۱۹۷۹ - ۱۹۸۰ کلونو کې آن لوېديزو ژورناليستانو هم ويل چې کله چې شوروي پوځونه عملاً دافغانستان پولې ته ور وخوځېدل ، نو پنتاګون او دامريکا دبهرنيو چارو وزارت په دې باب په حيرانونکې توګه غلي و . دکشف د دومره پرمختللو وسيلو په درلودلو سره څنګه کېداى شوه چې افغانستان ته دشوروي پوځونو د ورلېږلو چمتو والى دې دهغوى له سترګو پټ پاتې شي ؟ ښکاره خبره ده چې امريکايانو « په سړه سينه » دې ته لاره ځارله چې شوروي اتحاد به کلك په داسې يوې جګړې کې رابښکېل شي چې ګټل يې ښخي ناشونې وي.

زه پخپله دامريکايانو دهغه مهالينو ګامونو دشننې پر بنسټ غواړم د داسې يوه اټکل د وړاندې کولو خطر ومنم چې شوروي مشران او زموږ ځارګرى { افغانستان ، ته دپوځونو دلېږلو د پرېکړې له امله } سمدم « په يوه لومه کې ونښتل » .

ښه ، اوس ډېر خلک داسې پوښتنې کوي چې : « آيا کېدونکې نه وه چې افغانستان ته دشوروي پوځونو دلېږلو مخنيوى شوى واى ، او آيا هرو مرو دهغوى لېږلو ته څه اړتيا وه ؟ » البته سړى کولى شي په دې باب اوږدې خبرې وکړي او ډول ډول نسخې وړاندې کړي ، خو زه نه غواړم په دې اړه زيات څه ووايم ، ځکه سړى نه شي کولى چې تاريخ بېرته پر شاتړاوګرځوي . تاريخ بل اوښت (الترنايف) نه لري او که موږ هر څومره هم وغواړو هغه بيا نه تکرارېږي.

کله چې يوه پېښه وشوه ، بيا وروسته نو دهغې په باب غږېدل اسان دي. خو که رښتيا ووايم نو د ا . د . ج . ته زموږ دپوځونو هرو مرو لېږلو ته هېڅ اړتيا

هم نه وه ، ځکه چې هغه مهال په عيني توګه رښتيا هم داسې يو حالت منځته نه وراغلی چې موږ يې بايد د داشان يوه کار تر سره کولو ته اړ کړي وای. په دې برخه کې يوازې ذهني او « شخصي » لامل او فکتور پرېکنده او غوڅ رول درلود اوبس.

له بله پلوه زيات شمېر څېړونکي لا تر اوسه آن د پوځونو تر لېږلو د وروسته پړاو دغو پوښتنو ته کره ځواب نه لري ، لکه : شوروي اتحاد ولې په افغانستان کې پوځي عمليات په ډېر پخوالي ترسره کول؟ په داسې حال کې چې دې کار ته ډېره اړتيا هم وه ،نو ولې يې دخپلو پوځي ټولګيو په شمېر کې زياتوالی رانه وست او په دې توګه يې ياغيانو ته دجګړې داوږدولو شونتيا برابره کړه ؟ او آيا پخپله دجګړې « اوږدېدل » دچا په ګټه و ؟

هو ، داپوښتنې له دې امله هم مهمې دي چې دې ډول تاکتيک او ستراتېژۍ هيڅکله هم بری نه درلود . دساري په توګه ، امريکايانو لا ډېر کلونه پخوا په ويتنام کې له خپلې ماتې نه ډېر څه زده کړل . هغوی اوس دې پايلې ته رسېدلي چې : هر کله چې دې جګړه پيل کړه ،نو بايد خپل ټول ځواک او وسيلې { دهغې دګټلو لپاره } په کار واچوې ، له دې پرته اصلاً دجګړې پيل کول نه دي په کار ، ځکه په داسې حال کې به دې تاکل شوې موخې په لاس درنه شي او دزيانونو پوله او اندازه به دې له شماره وتلې وي.

تاريخ په وار وار زبات ( ثابته ) کړې چې له جګړې سره ټوکې نه دي په کار ، او کله چې دې هغه پيل کړه نو بيا يې دنرغونډې بايد پر مخ بوځې . خو شوروي اتحاد په افغانستان کې دا کار ونه کړ او ځان يې هسې په لنډو تنګو او وړو وړو جګړو بوخت کړی و. دې چلند زموږ هېواد هم له اقتصادي او هم دمورال له پلوه وزبېښه .

دخپلو څرګندونو دسپيناوي او پخلي لپاره دادی دلته هغه لاسوند وړاندې

کوم چې پخپل وخت کې په کابل کې دشوروي استازو درپوتونو پرېنسټ جوړ شوی دی ( البته په دغو رپوتونو کې هغه غوښتنې نه دي راغلې چې دگوندي چینل له لارې ترسره کېدې ) . دغه لاسوند په ډاگه څرگندوي چې افغان چاروا کو څنگه له خپلو ټولو شونتیاوو نه کار اخیست چې شوروي پوځونه هرو مرو باید مرستې او ننگې ته ور ودانگي .

**دېر مهم لاسوند**

پر ۱۹۷۹ کال د ا.د.ج . ته دشوروي پوځونو دبېلو بېلو ټولگیو دلېږلو په باب د افغان مشرتابه دغوښتنو لیست

( په لاسوند کې یادې شوې نېټې مسکو ته د رپوتونو دورکول کېدو دورځو له مخې تاکل شوي دي) داپرېل ۱٤ مه : د ا.د.ج. ته دې ۱۵-۲۰ شوروي پوځي څرخکي له عملو سره یوځای راواستول شي.

دجون ۱٦ مه : د ا .د.ج . ته دې دحکومت ،باگرام اوشینډنډ دهوایي ډگرونو دساتنې په موخه دټانکونو او جگړه ییزو ماشینونو لپاره شوروي عمله راواستول شي.

دجولای ۱۱ مه : په کابل کې دې څو شوروي ځانگړي ټولگي چې دهر یوه شمېر یې د کنډک هومره وي پلي کړای شي.

دجولای ۱۹ مه: افغانستان ته دې دوه فرقې راولېږل شي.

دجولای ۲۰ مه : په کابل کې دې دهوایي دیسانت یوه فرقه پلې شي.

دجولای ۲۱ مه : د ا. د.ج. ته دې مي - ۲٤ ډوله ۸-۱۰ څرخکي له شوروي عملې سره یو ځای راولېږل شي.

دجولای ۲٤ مه : په کابل کې دې داردو درې ډلې ډلگی ( جزوتامونه) پلې شي.

داگست ۱ : کابل ته دې یوه ځانگړې لوا راواستول شي.



ACKU

داگست ۱۲ مه : ځو شوروي تولګي دې په چټکه توګه کابل ته راولېږل شي ، ځکه چې افغانان به ورته تر پسرلي پورې اړتيا ولري.

داګست ۱۲: درې شوروي ځانګړې ډلې ډلګی او له شوروي عملې سره يوه ځای ځو ترانسپورتي څرخکی کابل ته راولېږئ.

داګست ۲۱ مه: تر ۵ . ۱ - ۲ زره تنو پورې شوروي ديسانت چيان دې کابل ته راولېږل شي . دافغانستان دهوايي ساتنې ( دافع هوا ) دپرسونل پرځای دې شوروي هغه ځای پر ځای شي.

داګست ۲۵ مه : شوروي پوځونه دې په کابل کې پلي شي.

داکتوبر ۲ مه او دنومبر ۱۷ مه : يو ځانګړی کنډک دې دامين دساتنې لپاره راولېږل شي .

دنومبر ۲۰ مه او د دسمبر ۲ مه : يو بنه سمبال شوی غونډ دې بدخشان ته را واستول شي .

د دسمبر ٤ مه : دافغانستان شمالي ولايتونو ته دې دشوروي پوليسو ځينې ډلې ډلګۍ راولېږل شي.

د دسمبر ۱۲ مه او ۱۷ مه : دافغانستان په شمال کې دې شوروي ګارنيزيونونه ځای پر ځای او د ا .د. ج. د لارو ساتنه دې پر غاړه واخيستل شي. ( ۱ )

بايد ووايم چې په دې اړه يوازې دشوروي استازو له لارې دوراندې شوو غوښتنو شمېر آن شلو ته رسېږي. دهغو له ډلې نه اووه غوښتنې د ن . م. تره-

---

(۱) دیادونې وړ ده چې په پورتنې « ډېر مهم لاسوند » کې نه درپوټ ورکولو کره سرچينه معلومه ده او نه هم دهغه افغاني مقام او چارواکي څه نوم او ثبوت وړاندې شوی چې ليکوال او آن پخپله رپوټ ورکوونکی افغانستان ته دشوروي لښکرو د وربللو غوښتنې له هغوی سره په تړاو کې بولي. ژباړن.

کي تر لرې کېدو وروسته د ح .امین له‌خوا ترسره شوې دي. پردې سربېره په لوړه کچه دلیدنو کتنو اوټلیفوني خبرو په‌ترڅ کې به‌هم له‌شوروي مشرانو نه په‌دې اړه شخصي هیلې اوغوښتنې ترسره کېدې ،خو که‌پخوا دافغانستان دچارو ځینو کارپوهانو د داسې غوښتنو پر شته‌والي شک درلود او پردې‌باور وو چې شوروي پوځونه ګنې [بې بلنې] او په‌ناڅاپي توګه دخپل ګاونډي پرخاوره‌ورننوتي ، نو اوس هغوی هم داخبره مني اووایي : هو ،داسې غوښتنې رښتیا هم وې ،خو هغه‌ګرد سره حقوقي ځواک نه‌لري ،یانې پر هغو تېنګار اوتکیه ( استناد ) کول ځکه حقوقي بنسټ نه‌شي لرلی چې افغانستان ته‌په ورننوتو سره « روسانو هغه‌ څوک راوپرځاوه او وواژه ، چې دوی یې هلته وربللي وو ».

# دا. د.ج. ته‌دشوروي پوځونو د لېږلو دچمتووالي وروستي پړاو

افغانستان ته‌دشوروي پوځونو دلېږلو په‌باب دشوروي اتحاد د سیاسي مشرتابه‌له‌خوا دپرېکړې دنیول کېدو پر دابله ورځ دلوی درستیز دلومړي مرستیال ستر جنرال س .ف. اخرو میېف تر مشرۍ لاندې دشوروي اتحاد د فاع وزارت یوه او پراتیفي ډله جوړه شوه چې په‌هغې کې دشوروي اتحاد دفاع وزارت د لویو او مرکزي پاسوالیو ( ریاستونو ) او دشوروي اتحاد د وسله‌والو پوځونو د ټولو ښو او ډولونو استازو اودغه راز د ستر درستیز یوشمېر جنرالانو او افسرانو غړیتوب درلود .

دغه‌ډله د دسمبر پر ۱٤ مه‌دشپې پر ۱۰ بجو دشوروي - افغان پولې ته څېرمه پراته ښار ترمز ته‌لاړه او دترکستان په‌پوځي سیمې کې یې په‌کار پیل

وکړ . موده پس دشوروي اتحاد مارشال س .ل. سوکولوف دشوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشرشو .

{ پرنوموړې ډلې سرېېره} دستر درستیز توب په اوپراتیفي لوېې پاسوالۍ کې هم چې هغه وخت ما په کې دنده سرته رسوله دوسله والو پوځونو دټولو ښو اوډولونو دجنرالانو او افسرانو یوه ځانګړې ډله جوړه شوې وه چې افغانستان ته د ٤٠ اردو دلېږلو چارې یې سمبالولې . دغه ډله ترډېره ځایه دټولګیو پر بېلولو ( نفرکشۍ ) او افغانستان ته دپوځونو دلېږلو په باب د دفاع وزیر اولوی درستیز د لاربښوونو او ډېرکتیفونو د اوملیکونو پر چمتو کولو بوخته وه . ددې ترڅنګه د افغانستان پولې ته دپوځونو ، تخنیک ،وسلو او نورو شیانو لېږدونه اودغه راز یو لړ نور جوړښتیایي او سازماني کارونه ترلاس لاندې نیول شوي وو. برسېره پردې دغو ډلو به د افغانستان پوځي سیاسي حالات څېړل اودهغو په باب به یې اړونده وړاندیزونه چمتو کول . که څه هم چې د « ځانګړو کسانو » دغې ډلې د ټولو دروازو ترشا خپلې دندې پرمخ بیولې ، خود اوپراتیفي لوېې پاسوالۍ ګڼ شمېر افسران دهغوی له خوا د ترڅېړنې لاندې خبرو له منځپانګې نه بې خبره نه وو او له همدې امله افغانستان ته دشوروي پوځونو لېږل دهغوی دزیات شمېر لپاره کومه ناڅاپي پېښه نه وه . اوس نو سړی څنګه کولی شي پر دې خبرې باور وکړي چې دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې اصلي او نوماندو غړو هغه مهال په دې باب ګنې هیڅ معلومات هم نه لرل؟

*معلوماتي لاسوند*

## په افغانستان کې دشوروي اتحاد د دفاع وزارت اودشوروي اتحاد د دوسله والو پوځونو دستر درستیز اوپراتیفي ډلې

... په افغانستان کې دشوروي لښکرو دشته والي په ټول پړاو کې هلته وخت ناوخته د دفاع وزارت اودشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دستر-

درستیز ښبلابېلې اوپراتیفي ډلې په کار بوختې وې. لومړی ورته ډله دهوایي دیسانت پوځونو د قوماندان د مرستیال برید جنرال ن.ن. ګوسکوف په مشرۍ د ۱۹۷۹ کال د دسمبر پر ۲۳ مه کابل ته ورسېده. همدا ډله وه چې د دسمبر له ۲۵ تر ۲۷ مې نېټو یې بګرام او کابل ته دهوا له لارې د پوځونو دلېږدولو ، دهغوی دځای پر ځای کولو او دح. امین دپلویانو دله منځه وړلو دچارو مشري او لارښوونه په غاړه درلوده.

دشوروي اتحاد د مارشال س.ل. سوکولوف تر مشرۍ لاندې چې سترجنرال س.ف. اخرومیېف یې مرستیال و) د دفاع وزارت اوپراتیفي ډله چې تر دغه وخته په ترمز کې وه ،د ۱۹۸۰ کال دجنورۍ پر ۳ مه له هغه ځایه افغانستان ته ولېږدول شوه . هغې وروسته به دغه ډله کله نا کله دشوروي او افغاني پوځونو له خوا د ډېرو سترو پوځي عملیاتو د ترسره کېدو د چارو دسمون اوسمبالتیا په موخه دنیم کال هومره وخت لپاره د ا.د.ج. ته ورتله.

د ۱۹۸٤ کال له دویمې نیمایي نه را په دېخوا دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دشوروي اتحاد ددفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشري ستر جنرال و.ا ي.وړینیکوف ته چې هغه مهال دشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو د ستر درستیز لومړی مرستیال و وروسپارل شوه . په لومړي سرکې هغه کله نا کله افغانستان ته سر وړښکاره کاوه . خود ۱۹۸۷ کال د جنوري له دوهمې نه را په دیخوا بیا آن دشوروي پوځونو دوتلو تروخته په پر له پسې توګه په افغانستان کې و.

د شوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې جنرالان به په پرله پسې توګه د ٤۰لښکر په ټولګیو او ډلو ډلګیو کې پر دندو بوخت وو او دهغو له قوماندانانو او ټولنځایونو ( قرارګاوو) سره به یې دپوځي عملیاتو دچمتو کولو اوپرمخ بیولو ، له تر لاسه شوې تجربې نه په پوځي چمتووالي کې دګټې

اخیستنې او له افغاني اردو سره دګډو هڅو او عملیاتو دسمون په برخه کې مرسته کوله. هغوی دغه راز له شوروي سلاکارانو سره د پوځي عملیاتو دپلان په جوړولو ، دافغانستان د وسله والو ځواکونو دجګړه ییز چمتووالي دکچې په لوړولو او دجګړه ییزې کارندتیا په بېلو بېلو برخو کې هم مرسته سرته رسوله. سربېره پر دې همدې ډلې به د پوځي چارو ترڅنګ د اقتصادي سیاسي اوټولنیز ژوند د بېلو بېلو اړخونو په باب هم پرېکړې کولې.

څرنګه چې دشوروي اتحاد د دفاع وزارت اوپراتیفي ډله به ډېر لږ وخت په افغانستان کې وه ، نو دلویو عملیاتو د سرته رسولو لپاره دستر درستیز داستازو یوه بله ډله ( چې شمېر یې ۵ تنه‌و) د ۱۹۸۵ کال په مارچ کې کابل ته ولېږل شوه .ددغې ډلې مشري دشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دلوی درستیز « دافغانستان په اړه دځانګړو سپارښتنو دجنرال » تورنجرال ب.و. گروموف ( د ۱۹۸۵ له مارچ نه د ۱۹۸٦ تر اپریله ) په غاړه وه. تر هغه وروسته تورنجنرال یو . و . یاریګین ( د ۱۹۸٦ له اپریله د ۱۹۸۷ ترمې) اوتورنجنرال و .س. کـودلای ( د ۱۹۸۷ کـال له مـې نه د ۱۹۸۹ تر جنوري ، ددغـې ډلې لارښوونه کوله.

پر ۱۹۸۸ یم کال دشوروي پوځونو دوتلو له پیل کېدو سره سم دبرید جنرال ا. ګ . ګاپونینکو په مشرۍ دستر درستیز یو بله ځانګړې اوپراتیفي ډله په افغانستان کې په کار بوخته وه‌چې دهېواد په ډېرو مهمو ښارونو او یولړ ساتندویه پوستو کې یې د افغانستان جمهوریت دوسله والو پوځونو لپاره د درې میاشتو فوق العاده زېرمو دجوړولو چارې پر مخ بیولې.

درېوټ سرچینه : دشوروي اتحاد دوسله والو پوځونو ستر درستیز او دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دشوروي اتحاد ددفاع وزارت اوپراتیفي ډله ، ۱۹۷۹-۱۹۸۹ کلونه.

دیادونې وړ ده چې دشوروي اتحاد د دفاع وزارت او پراتیفي ډلې« د افغاني منډې تړړې (کمپاین) » په لومړي پړاو کې ډېر زیات جوړښتیايي (تشکیلاتي) کار سرته ورساوه او دنوو پوځي تولګیو پرجوړولو او دافغانستان خاورې ته دپوځونو پرورننه ایستلو سربېره یې له واکنه دح - امین دلرې کولو او د ب. کارمل د رژیم د رامنځته کولو په خبر دندې هم ترسره کړې.

**لاسوند (پټ)**

افغانستان ته دلېږلو لپاره د ترکستان په پوځي سیمه کې د تولګیو دجوړولو په باب دهغو لارښوونو لیست چې د ۱۹۷۹ کال په دسمبر کې دشوروي اتحاد د دفاع وزیر دګرنیو (شفاهي) امرونو له مخې دشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دستر درستیز توب له خوا ورکړل شوې دي:

د دسمبر ۱٤ مه: له قفقاز نه آخوا پوځي سیمې پورې اړوند دبم غورځوونکو الوتکو غونډ دې مروې ته ولېږل شي او د ترکستان دپوځي سیمې په واک کې دې ورکړ شي.

د دسمبر ۱٦ مه: د ٤٠ اردو ډګریزه قوماندانۍ دې د ترکستان دپوځي سیمې له قوماندانۍ نه بېله او « نفرکشي » ته دې واستول شي. د ترکستان دپوځي سیمې دقوماندان لومړی مرستیال برید جنرال یو .و. توخارینوف دې ددغه پوځ د قوماندان په توګه وټاکل شي. د ٤٠ پوځ ټول اړوند تولګي دې بشپړ جګړه ییز چمتووالی ولري. د ترکستان دپوځي سیمې دیوې بلې فرقې دټانک او موټریزه غونډونه دې هم جګړه ییز چمتووالی ولري.

د دسمبر ۱۹ مه: دټانک او موټریزه غونډونه دې چې جګړه ییزه چمتووالی یې د دسمبر پر ۱٦ مه بشپړ شوی د دسمبر تر ۲۱ مې پورې د تخته بازار سیمې ته ولېږدول شي. د ۱٤٠ اردو دمخابرې تولګي دې دبشپړ جګړه ییز

چمتو والی او تیارسئ په حال کې ودرول شي.

د دسمبر ۲۳ مه: دمرکزي آسیا دپوځي سیمې موټریزه فرقه دې دبشپړ جګړه ییز چمتو والي په حال کې ودرول شي.

د دسمبر ۲٤ مه: دشوروي اتحاد دفاع وزیر د دفاع وزارت د مشرتابه ٤٧ غونډه جوړه کړه او دهغې په ترڅ کې یې افغانستان ته د پوځونو دلیږلو په اړه د شوې پریکړې خبرتیا ورکړه.

په غونډه کې د دفاع وزارت مرستیالانو، دوسله والو پوځونو د بېلو بېلو ډولونو قوماندانانو، دهوایي دیسانت دپوځ قوماندان او دلویو اومرکزي پاسوالیو ځینو مشرانو ګډون درلود.

دشوروي اتحاد د دفاع وزیر امر وکړ چې دهوایي دیسانت یوه فرقه اودهوایي دیسانت په ځواکونو پورې اړوند دپراشوټي دیسانت یو غونډ، دترکستان دپوځي سیمې یوه موټریزه فرقه او دمنځنۍ آسیا دپوځي سیمې یو جلا موټریزه غونډ دې افغانستان ته واستول شي. له دې سره جوخت امر وشو چې دپلو ځواکونو ځینې ټولګي او ډلې-ډلګۍ اودغه راز د ترکستان او منځنۍ آسیا په پوځي سیمو پورې اړوند هوایي ځواکونه دې هم په افغانستان کې دشوروي پوځونو په شمېر کې دکېدونکي (احتمالي) زیاتوالي لپاره تیارسئ ودرول شي. (۱)

---

(۱) په دې غونډې کې دوینا لپاره دچمتو شویو یادښتونو (تزسونو) پر نسخې چې دستر درستیز په آرشیف کې خوندي ده د. ف. اوستېنوف په لاس په سره پنسل کښل شوي دي: "ډېر مهم اوړیټ».

د دسمبر ۲۵ مه : د ۰٤ اردو د توپچي او هوايي ساتنې ( دافع هوا ) ټولګي دې دبشپړې تيارسئ پهحال کې راوستل شي . دترکستان د پوځي سيمې هوايي ځواکونه دې دبشپړ جګړه ييز چمتووالي پهحالت کې ودرول شي . دمنځنۍ آسيا د پوځي سيمې يوه بله موټريزه فرقه دې هم تيارسئ کړای شي . د ترکستان دپوځي سيمې دپلونو اوجوړولو چارو ( استحکام ) غونډ دې دبشپړې تيارسئ پهحال کې راوستل شي .

دد سمبر ۲٦ مه : د منځنۍ آسيا د پوځي سيمې موټريزه فرقه دې چې د دسمبر پر ۲۵ مه تيارسئ شوې ده ، دترکستان دپوځي سيمې پهواک کې ورکړ شي . د ترکستان دپوځي سيمې دموټريزه فرقې ټول ټولګي دې چې د دسمبر پر ۲۳ مه د بشپړې تيارسئ پهحال کې راوستل شوي دتخته بازار سيمې ته ولېږل شي . دمعلوماتو سرچينه : د شوروي اتحاد دوسلهوالو پوځونو ستر درستيز ۱۹۷۹ کال .

له پورتني ليست نه په ډاګه څرګندېږي چې افغانستان ته دلېږلو پاره د ځانګړو شويو ټولګيو دچمتو کولو کار د دسمبر له نيمايي نهرا پهدېخوا بنه په بېړه روان و . دترکستان په پوځي سيمهکې مېشتو ټولګيو او ډلو ډلګيو چې له هرې خوا راغوره شوي وو د دغو ټولګيو دملاتير جوړاوه . دهغوی دغهچاپې (نفرکشۍ) او تيارسۍ کولو په باب ټوليزه لاربنوونه (عمومي ډېرکتيف) نه ورکول کېده . دغه پوځونه له د .ف. اوستينوف نه دګړنيو امرونو له ترلاسه کولو وروسته دستر درستيز لهخوا دځانګړو لاربنوونو لهمخې جوړېدل . په دې اړه يوازې ددريو اونيو په ترڅ کې له دېرشو نهزياتې ورته لار ښوونې ورکړ شوې وې . دا کار ددې څرګندوی دی چې دشوروي اتحاد د دفاع وزارت د دسمبر ترنيمايي پورې د ا. د. ج. ته دشوروي پوځونو د لېږلو پهباب هيڅ ډول تاکلی پلان تر لاس لاندې نهدرلود . د يادونې وړ ده چې دترکستان او منځنۍ آسيا په پوځي سيمو کې ددغو « تدبېرونو » لړۍ « لهسويلي ګاونډي

سره دمرستې » په باب دسیاسي مشرتابه له خوا دېرېکړې تر کولو وروسته پیل شوه .

ددغې دندې لپاره دسلو په شاوخوا کې لوی او واړه ټولګي او بېلې بېلې اداري چې په حڅو کې د ۴۰ اردو او ګډوهوايي پوځ قول اردو ټول پرسونل او تشکیل ،څلور موټریزه فرقې ( درې دترکستان له پوځي سیمې او یوه دمنځنۍ آسیا له پوځي سیمې نه ) ،دتوپچي ،هوايي ساتنې دتوغندیو او یرغلیز دیسانت لواګانې ، جلا جلا موټریزه اود توغندیو (ریاکتیف) غونډونه او دمخابرې ، کشف ، لوژستیک او ودانولو چارو ټولګي ګډ راټول شوي وو . دغه راز د هوايي دیسانت یوه فرقه ،دپراشوټي دیسانت جلا غونډ اوهوايي تخنیکي او دهوايي ډګرونو د ساتلو ټولګي هم له خپل ټول پرسونل سره چمتو شوي وو. برسېره پر دې له ۵۰ زرو نه زیات افسران ،واړه ظابطان او سرتېرې د احتیاط له دورې څخه رابلل شوي او له ملي اقتصاد نه دا تو زرو په شاوخوا کې موټر اونور تخنیک هم ځانګړي شوي وو .

د یادونې وړ ده چې دترکستان او منځنۍ آسیا په پوځي سیمو کې تر دې پخوا هیڅکله هم دومره ګڼ شمېر پوځونه نه وو راټول شوي . د دولتي واکمنۍ سیمه ییزو اورګانونو ،دیو لړ موسسو او ادارو مشرانو او پوځي قوماندانیو او کمیساریو په حقیقت کې دغه کار ته هېڅ ډول چمتو والی هم نه درلود . د بېلګې په توګه ، دراټولېدو په لومړیو ورځو کې هیڅا په ټولګیو کې دمسلکي کسانو ګمارلو ته پام نه اړاوه اوداسې انګېرل کېده چې داګنې یوساده کنټرول اوپلټنه ( تفتیش) ده او دټولګیو دپرسونل له بشپړتیا اوچمتووالي نه د ډاډ له ترلاسه کولو او در پوتونو له اورولو نه وروسته به هر څه بېرته پخوانۍ بڼه غوره کړي.

خو کله چې قوماندانان اوپوځي کمیسارۍ پردې پوه شوې چې دنده په همدې ځای پای ته نه ده رسېدلې ،بلکې دېرڅه لا په مخکې پراته دي ،بیا نو

په ډېره بېړه د سرتېرو چوپړ ته دوربلل شوو او آن په پوځي ټولګیو کې دلیکل (څېره) شوو جلبیانو د بدلولو رابدلولو کارپیل شو. ددې ترڅنګه دیوشمېر مسلکي کسانو لکه د ټانکونو اوجګړه ییزو ماشینونو (ب.ام.پ.) دچلوونکو او میخانیکانو ،د مخابرې دځینو ډولونودمخابره چیانو ، توپچیانو او نورو نښتوالی او کمښت هم په زوره توګه احساسیده. ددې کارلامل دا و چې دمنځنۍ آسیا د جمهوریتونو استازو له روسي ژبې سره دښې بلدتیا د نه لرلو له کبله خپله د سرتېرو دنده معمولاً د ودانولو چارو او موټریزه ټولګیو په لیکو کې تېرولهاو په دې توګه یې نورې ګټورې او داړتیا وړ څانګې (مسلکونه) نه شوای زده کولی .خو له دې ټولو ستونزو سره سره د ٤٠ اردو ټول مهم ټولګي د دسمبر تر ٢٤ مې خپلو دندو ته چمتو و.

# سپیڅناز (ځانګړې ډلې) د ح. امین راپرځولو ته تیاری نیسي

افغانستان ته دځانګړو دندو دکوچنیو ډلو لېږدونه د دسمبر تر نیمایي وروسته په چټکۍ سره روانه وه. دساري په توګه د دسمبر پر ١٤ مه د شوروي اتحاد دکې جي بې دځانګړو دندو دوه ډلې چې هرې یوې یې ٣٠ تنه غړي درلودل کابل ته واستول شوې. (١) دغه ډلې له اداري پلوه د بهرني کشف (څارګرۍ) په څانګې پورې تړلې وې او دنده یې دشوروي اتحاد تر پولو بهر داړتیا په وخت کې د تروریستي کړنو سرته رسول وو.

---

(١) دغه ډلې په افغانستان کې د «ګروم» (تندر) او «زینت» (لوړه ،اوج) په نوم یادیدې چې له ډېرو تکړه سپورت کوونکیو اودځانګړو دندولپاره له روزل شویو جنګیالیو نه جوړې شوې وې. خوپه مرکز (مسکو) کې دهغو نومونه بل شان وو، لیکوال.



ACKU

په باګرام کې مېشت «مسلمان» کنډک هم د دسمبر د ۱۷ مې پر سهار د افغانستان د پلازمېنې پر لوري وروخوځېده او دهغه دې ورځې ترماښامه په دارالامان کې ځای پر ځای شو. کابل ته د کنډک دتلو په وخت کې دوه زغره وال ګاډي په یوه کوتل کې له نورو نه لېرې وروسته پاتې شوي وو او په هغو کې هغه سرتېري سپاره وو چې افغانستان ته دپوځونو دورننوتلو په درشل کې دسرتېرې چوپړ ته وربلل شوي وو. په همدې ترڅ کې دشــــوروي اتحاد د وسله والو پوځونو د ستر درستيز يو جنرال له هغه ځایه تېرېده. نوموړي چې دانندراه ولیده نو سم له لاسه يې مسکو ته رپوټ ورکړ او غوښتنه يې وکړه چې دکنډک قوماندان ( خالبايف) بايد ډېر ژر لرې کړای شي.

هماغه وچې دهمدې ورځې پر ماښام ډګروال و. و. کولیسنیک ته دستر درستيز دکشف ديوې پاسوالۍ د مشر له خوا امر وشو چې ديوې ځانګړې حکومتي دندې دترسره کولو لپاره دې په ملکي کاليو کې افغانستان ته والوزي.

په پام کې وه چې يو بل افسر هم له نوموړي سره يو ځای کابل ته لاړ شي، خو د و. کوليسنیک په غوښتنه ډګرمن اوليګ شويخ يې دلارې ملګرى شو. داړوندو لاسوندونو په بېړه ترچمتو کېدلو وروسته ( بهرته دتګ پاسپورټونه يې ورته بيدو الوتکې ته راوړل) هغوی د دسمبر پر ۱۸ مه دسهار پر ٦ بجو او ۳۰ دقيقو دچکالوفسکي له هوايي ډګر نه دباکو اوترمزله لارې باګرام ته والوتل. په لاره کې دوه تنه نور هم له نوموړو سره ملګري اوترباګرامه والوتل وروسته څرګنده شوه چې دغه دوه تنه ددولتي امنيت د کمېټې ( کې جي بي) کارکونوکي ډګر وال يو. ای. دروزدوف او ډګرمن اي. ګ. کوزلوف وو. دوى ټول دشپې ناوخته باګرام ته ورسېدل. کمېټې ( کې جي بي ) والاخو سم لاسي له هماغه ځايه له نورو څو تنوسره په ملکي جامو کې پرځپله مخه لاړل او و. کولیسنیک او او. شويخ په يوې « کوټنۍ » کې د شپې تر تېرولو وروسته د دسمبر د ۱۹ مې پر سهار دکابل پر لوري رهي شول او ځانونه يې لوی پوځي

سلاکار موگا میتوف او دکشف دلویې پاسوالۍ استازي ته ورسول .البته دغو
کسانو ته دنوموړو د ورتګ په باب تر مخه لا خبر ورکړل شوی و . ځرنګه چې و.ـ
کولیسنیک جګړن خ. خالبایف ډېرنږدې پېژانده نو دهغه ملاتړ ته یې ور -
ودانګل اوځرګنده یې کړه چې دکنډک قوماندان ( خالبایف) هوښیار سړی دی ،
خوغلی دی او د ډېرو خبرو عادت نه لري . برسېره پردې هغه ښه باوري سړی
دی اوپه سختو شیبو کې ځوک یوازې نه پرېږدي . { کولیسنیک او شویخ} په
مسکو کې له خپلو مشرانو سره له ټلیفوني خبرو اوپه سفارت کې دشپې تر
تېرولو وروسته د دسمبر پر ۲۰ مه دکنډک پر لوري وخوځېدل.

کنډک د تاج بېګ ماڼۍ په یو کیلومترۍ کې په داسې یوې ودانۍ کې
اړولي وو چې دجوړېدو کار یې لا نه وبشپړ شوی اوکړکیو یې آن ښیښې هم نه
درلودې .پر دغه کال دکابل ژمی هم ډېر سوړ و او دشپې له خوا دسړوښې درجه
آن منفي دیرشو ته رالویده.

دتاج بېګ ماڼۍ دساتنې سیستم ښه په غور اوځیر سره جوړ شوی و .
داسې چې د ماڼۍ دننه دح .امین شخصي ساتونکي چې زیاته برخه یې دهغه
خپلوان اوډېر باوري کسان و په دنده بوخت وو . په دویمه کربنه کې اوه پوستې
پرتې وې چې په هره یوه کې ځلور ځلور تنه ځارونکي په دنده لګیاوو. دغو
کسانو پر درنو اوسپکو وسلو سربېره هاوانونه هم په واک کې درلودل. دوی به
هر دوه ساعته وروسته بدلېدل رابدلېدل. دساتنې بهرنۍ کړۍ دګارډ دلوا نورو
کنډکونو بشپړه کړې وه . هغوی دتاج بیک پرشاوخوا له یوبل نه په ډېر لږ واټن
راکړۍ شوي وو. په یوه لوړه ځوکه کې دوه ټ-٥٤ ډوله ټانکونه ځای پرځای
شوي ووچې کولی یې شول په خپلو توپونو او ماشینګنو په ډېرې اسانۍ سره
د ماڼۍ شاوخوا سیمې تر اور لاندې راولي . دلوا دپوځیانو شمېر ددوه نیم زره
تنو شاوخوا ته رسېده .برسېره پردې په ورځېرمه سیمه کې دهوایي ساتنې
دلوا یوغونډ هم ځای پرځای شوی وچې پر ډول ډول توپونو او وسلو سمبال و.

په افغانستان کې لوی پوځي سلاکار د دسمبر پر ۲۱ مه ډگروال و . ک
ولیسنیک او جگړن خالبایف ځانته ور وغوښتل او هغوی ته یې د «مسلمان»
کنډک د ډلو ډلگیو له خوادمانۍ دساتنې دښه تینگولو په باب لارښوونې
وکړې . دوی ته دغه راز دنده ورکړه شوه چې دساتندویه پوستو او افغاني
کنډکونو ترمنځ ځای پرځای او ساتندویه ( مدافعوي ) حالت غوره کړي.

نوموړو هم بې له ځنډه ددغې جگړه ییزې دندې پر پلي کولو لاس پورې کړ.
په چټکه توگه یې دگارډ له لوا مشرجگړن جانداد سره چې د امین استازی و
او ریکې ټینگ اوله هغه سره یې په گډه دکنډک دډلو ډلگیو د ساتنې او دندې
سیمې په ښه اوددې ترڅنگ یې یو له بل سره دگډې همکارۍ په باب یو لړ
خبرې اترې هم وکړې. اوس نو ډگروال و .کولیسنیک په دروغو دجگړه ییز
چستو والي په برخه کې د کنډک مشر د مرستیال «جگړن کولیسوف» او ډگرمن
شویخ هم دځانگړې ځانگې دافسر «جگړن شویخوف» نومونه پرځای اینبي
وو ، دهغوی دلارې یوه بل ملگري دکې جي بي ډگروال یو .دروزدوف بیا ځان په
تخنیکي برخه کې د خ. خالبایف دمرستیال «جگړن لیبیدیف» په جامه کې
وهلی و. هغوی د دسمبر د ۲۲ مې پر ماښام دگارډ دمشرتابه ډله دملگرتیا یوه
ماښامي ته وروبلله. نوموړو وروسته ترهغې چې له افغاني لوري سره یې
تولې دندې اوکارونه سم او پر گوته کړل نو په سمه سینه یې دخپلو پلانونو پلي
کولو ته متیې راونغاړلې او داړونده ډلو ډلگیو د خوځون ( حرکت ) او پرېوت
( موقعیت ) لوري او ځایونه یې په ښه اووټاکل .

په دې ترڅ کې و.کولیسنیک او خ. خالبایف د دسمبر پر ۲۳ مه تر غرمې
وروسته بیا سفارت ته ور وغوښتل شول . هلته نوموړو لومړی ډگرجنرال سلطان
کیکیزوویچ موگا میتوف ( لوي پوځي سلاکار ) ته دخپل ترسره کړي کار
دپایلو په باب رپوټ ورکړ او تر هغې وروسته په دویم پوړ کې دشوروي اتحاد د
کې جي بي داستازیتوب ( نماینده گۍ ) ځانگې ته ورننوتل .دلته یو سړی په

ملکي جامو کې ناست وچې تولو باریس ایوانوویچ باله، خو پخپلو منځو کې به یې یوازې د ( ب. اي) په نامه یاداوه ( همداسې په افغانستان کې دشوروي اتحاد دکې جي بې دځانگی مشـــرو ). دهغه څو تنه نور همکاران هم هلته ناست وو.

باریس ایوانویچ په پیل کې دماني دساتنې دچارو دڅرنگوالي په باب پوښتنه وکړه چې د هغه په ځواب کې دگروال کولیسنیک په دې برخه کې دترسره شویو چارو په باب یولنډ کی شانته رپوټ وړاندې کړ. دهغه ترڅرگندونو نه وروسته نوموړي ته وړاندیز وشو چې باید پر دې خبرې باندې فکر وشي چې که چېرې دماني د ساتنې پرځای دهغې دنیولو دنده رامنځته شي نو هغه وخت باید څه وشي؟ {باریس ایوانوویچ} دا هم پسې زیاته کړه چې دکنډک یوې برخې ته‌ځانګړې کومه‌بله دنده وروسپارل شي اودهغې پر ځای به د دیسانت یو تولی اودکې جي بې دوه ځانگړې ډلې ستاسو په واک کې درکړل شي. لنډه دا چې هغوی ته یې وویل چې اوس لاړ شئ او داخبرې ښې وشاربئ اوسبا له خپلو لیدونو او وړاندیزونو سره یوځای بېرته راشئ. دگارډ دلوا مشر سلاکار ډگروال پوپیشیف ته‌هم دنده وسپارل شوه چې دماني دساتنې له سیستم سره دیوه بلاکس په توگه دې {دمسلمان} کنډک دعملیاتو د څرنگوالي په‌باب پر خپل یوه وریانت هـــم غور وکړي .تر همدې خبرو وروسته هرڅوک پرخپله مخه لاړ.

په دې ترڅ کې د برید جنرال ن. ن. گوسکوف په مشرۍ دهوايي دیسانت دپوځونو له‌اوپراتیفي ډلې سره چې د دسمبر پر ۲۳ مه {افغانستان ته} را رسېدلې وه اړیکي ونیول شول. دغې ډلې دنده درلوده چې باگرام اوکابل ته دهوايي دیسانت دفرقې اود پراشوتي دیسانت دجلاغونډ دلېږدولو لارښوونه وکړي او دغه راز د ح. امین د پلویانو د راپرځولو پروخت د تولو شته ځواکونو مشري ( قومانده ) په لاس کې واخلي.

{دباریس ایوانوویچ له لارښووني سره سم} کړی شپه دنوې دندې دپلي کولو پر لارو چارو غور وشو اودهغې بهل بهل اړخونه غلبهل کړای شول. اوس نودوی تهول پر دې خبرې بهخي پوه شوي وو چې په حقیقت کې همدا هغه ربښتینې اواصلي دنده ده چې دوی دلته ورته را استول شوي دي.

په پای کې هغوی دې پایلې ته ورسېدل چې که چېرې کنډک ته نور دوه بشپړ ټولي اوډلګۍ کم یوبل ټولي ورکړل هم شي (چې دکې جي بې دځانګې مشریې یادونه کړې وه) ،نو کنډک به بیا هم ونه شي کړای چې ماڼې لاندې کړي. آن که چېرې نوره پیاوړتیا یې مرسته اودبرید ناڅاپي والی هم په پام کې ونیول شي بیا به هم دا کار ناشونی وي. ځکه دځواکونو اووسیلو انډول له هره پلوه یو دپنځلسو په وړاندې دافغانانو په ګټه و. په کار وه چې دکنډک له ټولو ځواکونو اوآن نورو پیاوړتیایي او سرباري وسیلو نه هم ګټه اخیستل شوې وای. له همدې امله نو پلان هم همداسې جوړ کړای شو.

پوپیشیف لومړنی کس و چې د دسمبر د ۲٤ مې پر سهار یې خپل رپوټ وړاندې کړ. دهغه له رپوټ نه سم له لاسه په ډاګه شوه چې «ژني» خپله دنده هسې له سره تېره کړې او د «په سترګو صیب!» په بنه یې چلند کړی دی. هو ، نو د دندې سرته رسول خو هسې هم د ه ته ور په غاړه نه و! هغه ټینګار کاوه چې {د دندې دسرته رسولو لپاره} دکنډک په واک کې ورکړل شوي ځواکونه اووسیلې په بشپړه توګه بس دي ،خو خپلې خبرې یې دشمار اومحاسبې پرښسټ نه شوې زباتولای. تر هغه وروسته دماڼې دلاندې کولو په اړه د ډګروال کولیسنیک د رپوټ وار و. ده ټینګار کاوه چې کنډک باید له ورکړل شویو نورو ځواکونو او وسیلو سره یو ځای په بشپړه توګه په یرغل کې ګډون وکړي ،او له دې سره جوخت یې دعملیاتو پلان هم ټکي په ټکي بیان او وړاندې کړ.

تر اوږده سرخوږاوي اوخبرو اترو وروسته دکنډک مشرتابه ته وویل شول

ACKU

چې { یوه شپه } « سترګې پر لار اوسئ » . خوسترګې خورا اوږده شپه پرلار پاتې شوې او ایله تر غرمې وروسته یې هغوی ته خبر راوړ چې هماغه ستاسو خبره ومنل شوه او کنډک به د دندې د سرته رسولو لپاره نه کنډوکېږي . خوله دې سره جوخت د پلان له لاسلیک کېدلو نه دده وشوه او هغوی ته یوازې دومره وویل شول چې : « لاس په کار شئ ! »

هماغه وچې جګړن خ. خالبایف پرمانيې باندې دیرغل لپاره دتیاري په اړه دیولږمهمو کارونو د سرته‌رسولو په‌تکل سم‌له‌لاسه { کنډک پرخوا } روان شو او ډګر جنرال س. موګا میتوف او ډګروال و . کولیسنیک له‌مرکز سره دخبرو لپاره وروغوښتل شول.

داچې په‌دغې پرېکړې کې ځنډ او انتظار ولې دومره اوږد شو ،لامل يې ډېره موده پس معلوم شو .خبره په‌دې کې وه‌چې دشوروي اتحاد د دفاع وزير پر همدې‌وخت په‌مسکو کې د دفاع وزارت د مشرتابه د ډلې غونډه جوړه کړې وه‌او په‌هغې کې يې اعلان وکړچې افغانستان ته د پوځونو دلېږلو په‌باب پرېکړه شوې ده.

داې . اي . چازوف په‌وينا : « د هغه ( اوستينوف ) يوازينۍ تېروتنه چې زما په‌خيال تر پايه يې خلاص نه‌شو همدغه دافغانستان جګړه وه . هغه يو کمزوری سياستوال او ديپلومات‌و او دستالين دپخواني « ګارډ » ( ډلې ) داستازي په توګه يې انداو چې تولې خبرې ګنې يوازې دزوږ له لارې او ارېدلی شي. کله به‌چې ماليدل چې اندروپوف دافغانستان دجګړې په‌اړه پر خپلې تېروتنې باندې دپوهېدو له امله ځومره زړه خوري ، نو چې اوستينوف ته‌به‌مې کتل هغه‌بيا داسې‌نه‌و . دهغه پرهېڅ شي‌هم‌چورت خته نه‌و اوفکر يې کاوه چې هېڅ ګنې پړ نه‌دی ».

بايد ووايم چې افغانستان ته‌دپوځونو دلېږلو اوهلته دهغو دځای‌پر ځای کېدو په‌اړه تولې دندې دشوروي اتحاد د دفاع وزير د .ف. اوستينوف اولوی

درستیزن .و. اگارکوف له‌خوا په‌لاسلیک شوي ۱..۲/۱۲/۳۱۲لمبر دبرکسهیف کې چې د ۱۹۷۹ کال د دسمبر پر ۲٤مه پوځونو ته‌واستول شو، په‌گوته شوې‌وې ،په دغه دبرکتیف کې دترسره کېدونکې دندې په‌باب داسې راغلي وو: « په‌منځني ختیځ کې دپوځي - سیاسي حالاتو په‌پام کې‌نیولو سره دافغانستان حکومت وروستی غوښتنې ته‌مثبت ځواب ورکړ شو. [له‌همدې امله] پرېکړه‌وشوه‌چې دهېواد په‌سویل کې مېشته یو شمېر شوروي پوځي ټولګي دې‌دافغانستان له‌دوستو خلکو سره‌دانترناسیونالیستي مرستې دسرته رسولو او دګاونډیو هېوادونو دافغاني‌ضد هڅو د بندولو لپاره د داد-منو شرطونو دمنځته راوړولو په‌موخه دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت خاورې ته‌ولېږل شي... »

تر هغې وروسته پوځونو ته‌دنده‌ورکړ شوه‌چې دافغانستان په‌لور لاریون (مارش) پیل اوهلته ځای پرځای شي، خو په‌جګړه ییزو عملیاتو کې د ګډون دنده دهغو په‌وړاندې نه‌وه‌ایښودل شوې. د اشرارو د ټینګاو دځپلو په‌موخه جګړه ییزې دندې بیا وروسته د دسمبر پر ۲۷ مه‌دشوروي اتحاد د دفاع وزیر د ۲..۲/۱۲/۳۱۲لمبر دبر کتیف له‌مخې ددغو ټولګیو اوډلو ډلګیو په‌وړاندې کېښودل شوې.

د ا. د.ج. ته‌دپوځونو د لېږلو په‌اړه‌دټولو دندو سرته‌رسولو ته آن تر یوې شپې ورځې نه‌هم لږ‌وخت ټاکل شوی‌و. دغې بیړې بې له‌شکه په‌راتلونکي کې ډېرې ناوړه اغېزې درلودې ،ځکه چې ډېر کارونه او چارې سمې نه‌وې سمبال شوې. خو له‌دې‌ټولو سره‌سره د دسمبر د ۲۵ مې نېټې پر ۱۲ بجو لار ښوونه وشوه چې [پوځونه‌دې دشوروي اتحاد ] له‌دولتي پولې‌نه ور واوړي.

**لاسوند (پټ)**

دهوایي پوځي ځواکونو لوی قوماندان ته

دترکستان دپوځي سیمې دځواکونو قوماندان ته

دهوايي ديسانت دپوځونو قوماندان ته

کاپي :

دپليو ځواکونو لوی قوماندان ته

دهواد دهوايي ساتنې دپوځونو لوی قوماندان ته

په ترمز کې د ستر درستيز داوپراتيفي ډلې مشر ته ،

دافغانستان ديموکراتيک جمهوريت له دولتي پولې نه د ٤٠ اردو د پوځونو او دهوايي پوځي ځواکونو د ټولګيو ورتېرېدل دې دروان کال د دسمبر د ٢٥ مې نېټې ( دمسکو پر وخت ) پر ١٥(٣) بجو پيل شي.

د . اوستينوف ،لمبر ٣٠./١/٣١٢، ٢٥.١٢.١٩٧٩.

{ بېرته به په شوروي سفارت کې د ترسره شوې غونډې بهير ته راستون شم }.

دغونډې په پای کې س . ک .موګا ميتوف او و .و .کوليسنيک د دسمبر د ٢٤ مې پر ماښام د امريکا سفارت ته څېرمه په يوه لوېغالي ( سټډيوم ) کې جوړ شوي د ډګرې مخابراتو مرکز ته ورغلل او دحکومتي مخابرې کوټې (غرفې) ته له ورننوتو سره سم يې ستر جنرال س .ف. اخروميېف ته د ټليفون په ورشرنګولو پيل وکړ .نوموړی دغه مهال دشوروي اتحاد د دفاع وزارت له اوپراتيفي ډلې سره چې افغانستان ته د شوروي پوځونو د ورلېږلو لارښوونه يې کوله په ترمز کې و . ټليفونچي تر ډېره وخته ډګروال کوليسنيک له هغه سره نه مخ (رخ) کاوه اوويل يې چې ستانوم په ځانګړو ليستونو کې نه شته ،خو له س . اخروميېف نه تر اجازې اخيستلو وروسته يې ورسره مخ کړ.

اخروميېف {کوليسنيک ته} امر وکړ چې دخپلې پرېکړې په باب رپوټ ورکړي . کله چې يې د ډګروال خبرې واورېدې نو دهغه دشمارنو ( ارقامو ) او ليدونو په باب يې پوښتنې پيل کړې اوآن د ډېرو وړو ټکو په باب يې هم معلومات وغوښتل . دخبرو په ترڅ کې به يې ځينو تېروتنو ته ګوته نيوه او اړونده لارښوونې به يې ورکولې .



ACKU

تر هغه وروسته له س . ف. اخرومییف سره د س. موگامیتوف دخبرو وارو . هغه ته دنده ورکړ شوه چې د دسمبر د ۲۵ مې تر سهاره باید خپله پریکړه د شفر په ډول چې ددوو تنویانې ده او کولیسنیک له خوا لاسلیک شوې وي ورولیږي.

کله چې دوی دمخابرې له کوټې نه راوتل نو س. موگامیتوف و . ـ کولیسنیک ته مخ ور واړاوه اوورته وي ویل: « ښه ډگروال ( صیب ) ! یا به دې اوس تېر له مډالونو څخه ډکیږي او یاخو به دې پر خولې مچان وښیږي ».

هغوی له ورسپارل شوې دندې سره سم همدلته دمخابرې په څانگه کې خپل رپوټ چمتو او دشپې تر دووبجو مخکې یې دشفر په ډول ورمخابره کړ . او چې له دې پښتې نه یې اوږې سپکې شوې نو دواړو د {شوروي} سفارت لاره په مخکې ونیوه . دوی تر سفارته سره ملگري وو ، خوهلته کولیسنیک ورڅخه بېل او د کندک پر لوري روان شو. هو ، اوس نو باید هغه د { ربښتینې } جگړه ـ ییزې دندې سرته رسولو ته تیارې نیولې وای .... دغه مهال نو نومړي ددغو عملیاتو چې شفري نوم یې « شتورم ( توپان ) - ۳۳۳ » و ، د مشر په توگه هم ټاکل شوی و .

اوس تر ډېرو کلونو وروسته د دغو عملیاتو په باب ډېر زیات او ډول ډول ، او کله کله خو ښخي دنه منلو وړ لیدونه وړاندې کېږي ، آن تر دې چې دهغو گډون کوونکي پخپله هم په دې اړه بېلابېل لیدونه او الواکونه ( نظریې ) وړاندې کوي. په دې ترڅ کې ډېر شیان یا په بشپړه توگه او تر پایه او یاخو گرد سره نه ویل کیږي.

خو د لیدونکو ( شاهدانو ) دخبرو او یو لړ نورو لاسوندیزو (مستندو) موادو په پام کې نیولو او غور چاڼولو سره سړی کولی شي ددغې پېښې انځور په لاندې ډول وړاندې کړي :

دحیرانتیا وړ ده چې ح. امین د سپتمبر په میاشت کې د ل. برژنف اویو ـ

اندروپوف له‌تیر ایستلو سره‌سره (له‌نوموړو سره یې ژمنه کړې‌وه چې ن. م.
تره کی به‌ژوندی پریږدي ،خو هغه تر مخه لا زندی شوی‌و . وروسته ثرګنده
شوه‌چې شوروي مشرتابه‌دوه - دري ورځې هسې خوشې دغویې انقلاب دمړه
لاربنود پر سر له‌ح. امین سره « چنې‌وهلې ») بیا هم پر روسانو باور درلود.

هغه‌ولې داکار کاوه ؟ کـه سړی له‌سي آی اې سره دهغه داړیکو په‌باب
ګومان رښتیا وګڼي ،نوکیدی‌شي چې دغه لاربښوونې به‌یې هم له‌هماغه ځایه
ترلاسه کولې ، او یاخو به‌یې داسې اندولې‌وه ( فکر کاوه) چې‌ګڼې هسې‌هم
ثوک نه‌شي کولی‌چې برلاسي اوبریمن کسان (فاتحان) محاکمه کړي ،بلکې
له‌هغوی سره .. دوستي کول په‌کار دي . اویاخو به‌یې بښایي په‌دې‌خبره کې
شک نه‌لیده‌چې « روسان هم یوازې زور په‌رسمیت پیژني ».

خو هر څنګه چې‌وه ،هغه‌نه یوازې پر شوروي پوځي سلاکارانو « ځان
کلابند کړی‌و » ،بلکې د ا. د.ج. په‌ټولو اړونده‌اورګانونو کې د شوروي اتحاد
دکې‌جي بې‌اودفاع وزارت له‌لوړ پوړو استازو سره پر سلامشورو سربیره یې
یوازې د روسیې پر ډاکټرانو ... بشپړ باورکاوه‌او دبدې‌ورځې لپاره خوبې
هسې هم‌زموږ پوځونه په پام کې نیولي‌وو. هغه‌پر پرچمیانو هیڅ‌باور نه درلود
او له‌همدې امله تل یوازې دهغوی او یا مجاهدینو له‌خوا دبرید په‌فکر کې‌و .
خو په‌پای کې نوموړی دیوه داسې لوري دسیاسي لوبې او چل ول بلهاری
(قرباني) شو چې ده‌یې ګومان اوانکل هم‌نه‌شو کولی !

د دسمبر په‌لومړی نیمایي کې د ا.خ. د. ګ. پر عمومي منشي ( ح. امین)
باندې‌د « مخالفو ټپلو ( فرکسیونونو) دمرورو غړو » له‌خوا یو ناوړه‌نیت وشو
چې دهغه په‌ترځ کې نوموړی هسې سرکب تېې شو ،خو د وراره عبدالله
(اسدالله،ژ.) چې د ثارګری د اداري مشر وټپ له‌امین نه‌لږ څه ډیر ژور و . ح.-
امین‌وروسته له‌هغې‌چې د ترهګرو ( تروریستانو ) چاره‌یې وکړه وراره یې د
درملنې ( تداوی) لپاره شوروي‌اتحاد ته‌ولیږه‌او پخپله یې د دسمبر پر ۲۰ مه

له ارګ نه خپل لوښي لرګي راټول او د تاج بېګ ماڼۍ ته يې ګډه بار کړه.

آخوا ډګروال و. کوليسنيک د دسمبر پر ۲۵ مه د شپې د دريو بجو په شاوخوا کې له سفارت نه خپل کنډک ته تر ورستنېدو وروسته دماڼۍ د نيولو لپاره د ځګړه ييزو عملياتو پر چمتو کولو لاس پورې کړ. البته ډګرمن او. او. شويخ هم له هغه سره په دې کار کې کارنده ونډه درلوده.

د عملياتو د پلان له مخې د دريو ټوليو بايد پرتاکلي وخت (په لومړي سر کې د عملياتو پيل د دسمبر پر ۲۵ مه اټکل شوی و، خو وروسته پرماڼۍ د يرغل وخت د دسمبر ۲۷ مې ته واړول شو) ساتندويه (مدافعه يي) مورچلې نيولې او تاج بېګ ماڼۍ ته يې د افغاني کنډکونو دورتګ مخه بنده کړې وای. په دې توګه نو د هر کنډک په وړاندې يو ځانګړی او يا د ډيسانت کوونکو يو يو ټولی درېده. د ساري په توګه د ټانک کنډک پر خلاف يې د «فاګوت» په نوم د ټانک ضد لار ښودل شويو توغنديو ډلګۍ ځای پر ځای کړې وه. يوبل پر ماڼۍ باندې د مخامخ يرغل لپاره ځانګړی شوی و. د غه راز د کې جي بې دوو ځانګړو ډلو دنده درلوده چې له هغه سره يو ځای په عملياتو کې ونډه واخلي.

د ځواکونو يوې بلې برخې ته دنده سپارل شوې وه چې د هوايي ساتنې او ودانولو چارو (افغاني) غونډونه ونيسي او هغه بې وسلې کړي. د دې تر څنګه يو شمېر نور ځواکونه د ساتندويه چارو او احتياط لپاره په پام کې نيول شوي وو.

د دغو (شوروي) ټولګيو يوه تر ټولو مهمه دنده د هغو دوو ښځو شوو ټانکونو نيول وو چې ماڼۍ ته تولې غځېدلې لارې او ورسکونه يې تر اور او ډزو لاندې راوستلای شول. د دې دندې لپاره د کنډک مشر د مرستيال تورن ستاروف په مشرۍ پنځلس تنه (چې د ټانک پر کار پوهانو سربېره د کې جي بې دوه ښه ويشتونکي هم پکې وو) بېل کړای شول. (پټه دې پاتې نه وي چې) د ټولو عملياتو برياو برخليک تر ډېره ځايه د همدغې ډلې په کړنو پورې تړلې وو

او همدوی لوړمني کسان ووچې {عملیات یې} پیل کړل.

دکنډک مشرتوب پردې بنه پوهېده چې دغه دنده کېدای شي یوازې دناڅاپي والي او پوځي چل ول له لارې په بریالیتوب سره ترسره شي. له دې پرته خدایزده که له هغوی نه یو هم ژوندی پاتې شي. له همدې امله، ددې لپاره چې افغانان روږدي شي او مخکې تر وخته یې شک راونه پارېږي، نوهغوی یوه نقشه ترلاس لاندې ونیوه او دهغې له مخې یې ځینې ننداریزې (نمایشي) چارې لکه ډزې، له تورم (الارم) سره سم پاڅېدل او دپاکلو ځایونو نیول، یو له لوبې او داسې نور پیل کړل. کله کله به یې دشپې کربښیزې (رسامي) ګولۍ او توغندي هم توغول. له بله پلوه څرنګه چې دشپې له خوا هوا ډېره سړه وه نو دزغره والو او جګړه ییزو ماشینونو انجنونه به یې هم دپلان له مخې تودول چې بیا {پر ټاکلي وخت} له سیګنال سره سم چالان کړای شي.

دا کار په لوړمي سرکې دمانۍ دساتندویه لوا دقوماندانۍ دناکرارۍ سبب وګرځېد. دساري په توګه کله چې دلوړمي ځل لپاره کربښیزه توغندي وتوغول شول، نو دهوایي ساتنې دغونډ رڼوونکو (پروژکتورونو) سم له لاسه دکنډک شاوخوا سیمې رڼا کړې او جګړن جانداد خو آن پخپله هلته ورغی. خو هغوی جانداد ته څرګنده کړه چې دا هسې یوه عادي جګړه ییزه آزموینه ده او هغه دمانۍ دساتنې لپاره ترسره کېږي او شاوخوا سیمه ددې لپاره رڼا کوي چې پر مانۍ باندې دمجاهدینو دناڅاپي برید دترسره کېدو دشونتیا مخه ونیول شي. په را وروسته کې افغانانو یوازې دا هیله کوله چې د جګړه ییز تخنیک انجنونه دې ډېر « نه غرېږي » ، ځکه چې امین خوب ته نه پرېږدي. تر هغې وروسته کنډک مشر (خالبایف) او « جګړن کولیسوف » دواړه څو ځلې دګارډ دلوا قوماندان ته ورغلل چې هغه کرار او غلي کړي. هماغه وچې افغانان ورو ورو له دې حالت سره روږدي شول او تر هغې وروسته یې دکنډک دا شان « مانورو » ته کاره نه کتل. دغه « مانورې » ددسمبر پر ۲۵ مه، ۲۶ او آن د ۲۷

مې نېټې تر نیمایي پورې هم روانې وې. خو په کندک کې یوازې و. کولیسنیک، او. شویخ او خ. خالبایف له نوې دندې نه خبر وو.

په دې ترڅ کې د دسمبر پر ۲۵ مه د حاجي رواش (خواجه رواش، ژ.) په هوایي ډګر کې دشوروي سلاکارانو د ډلو دمشرانو غونډه جوړه او دهغې په ترڅ کې ټولو مشاورینو ته لارښوونه وشوه چې {دیرغل د پیل کېدو پروخت} باید په کابل کې دشوروي پوځونو پر خلاف دافغاني ټولګیو د هڅو مخه ونیسي.

{له پورتني لارښوونې سره سم} د ا.د.ج. دهوایي ساتنې په ځواکونو کې شوروي پوځي سلاکارانو ددې لپاره چې د {شورویانو} دهوایي دیسانت د رالېږدېدلو او راکوزېدلو پر مهال دافغاني پوځیانو له دښمنۍ نه د ډکو شونو (احتمالي) هڅو او هلو ځلو مخه یې نیولې وي، نو دهوایي ساتنې ټول توغندي او دمهماتو زېرمتونونه یې تر خپلې ولکې لاندې راوستل او دهوایي ساتنې ځینې لاستونونه (دستګاوې) یې د لنډ وخت لپاره له کاره وایستل. په دې توګه نو د شوروي دیسانت چیانو دلېږدونکو الوتکو د راکوزېدو په لاره کې ټول خنډونه له منځه یوړل شول.

له بلې خوا افغانستان ته د شوروي پوځونو دلېږلو دعملیاتو په اړه {دشوروي اتحاد} دستر درستیز له خوا په جوړ شوي پلان کې تاکل شوې وه چې دوه فرقې باید له دوو لارو {افغانستان ته} ور ننه ایستل شي: ۵ مه موټریزه فرقه دې دکشک او هرات له لارې شینډنډ ته او ۱۰۸ مه موټریزه فرقه دې د ترمز او پلخمري له لورې کندز ته.

له دې سره جوخت د کابل او بګرام په هوایي ډګرونو کې دهوایي دیسانت د ۱۰۳ یمې فرقې او پراشوټي دیسانت د ۳٤۵ ځانګړې غونډ پلې کېدل هم په پام کې نیول شوي وو.

# دریېیم پارگی

## هغه جګړه چې تصور يې هم نه شو کېدای

دتېنګتيا يې چارو (استحکام) او پلونو جوړولو دوو غونډونو د ۱۹۷۹ کال د دسمبر د ۲۵ مې نېټې پر اوو بجو په ترمز کې دجوړېدو په حال کې «دوستۍ» له پله نه لېږ وروړاندې د يو ه بل پله پر جوړولو پيل وکړ. {ددې کار موخه داوه چې افغانستان ته} د پوځونو او تخنيک لېږدونه بايد دهمدغه پله له پاسه ترسره شوې واى.

{په همدې وخت کې} په کابل کې شوروي سفير مخکې تر مخکې ح. امين ته خبر ورکړ چې شوروي پوځونه افغانستان ته د راتلو په لاره کې دي او امين هم لاربنوونه کړې وه چې له هغوى سره دې هراړخيزه همکاري وشي. دهمدغې ګډې همکارۍ په اړه دخبرو دسره غوټه کولو لپاره وه چې د ۴۰ پوځ قوماندان برید جنرال يو. توخارينوف د ا. د. ج. د وسله وال پوځ دستر درستيز د اوپراتيفي پاسوالۍ له مشر جنرال بابه جان سره په کندز کې وکتل.

افغانستان ته د شوروي پوځونو ننوتل دشوروي اتحاد د دفاع وزير له امر

سره سم د مسکو پر وخت د غرمې پر ۱۵(۳) بجو پیل شول. په لومړي سر کې د کشف ټولګي ننوتل او ورپسې دجنرال ک. کوزمین په مشرۍ د ۱۰۸ مې موټریزه فرقې نور ځواکونه پر ټینګتیایي پله ور واوښتل.

د پوځونو دلیږلو په درشل کې دشوروي اتحاد دمارشال س.ل. سوکولوف او د ترکستان دپوځي سیمې قوماندان ډګر جنرال یو.پ. ماکسیموف هم د {۴۰ پوځ} قوماندانۍ ته ورغلي وو.

په همدې وخت کې ترانسپورتي پوځي الوتکو هم دپلازمینې (کابل) اوباګرام هوايي اډوته دهوایي دیسانت دفرقې او پراشوتي دیسانت دجلا غونډ دښتیزو ځواکونو لیږدول او پلي کول پیل کړل. پخپله دهوایي دیسانت دفرقې قوماندان تورنجنرال اي. في ریابچینکو دهغه وخت دپېښو یاد داسې کوي:

«د ۱۹۷۹ کال د دسمبر د ۱۰ مې نېټې دشپې پر ۲۳ بجو او ۳۰ دقیقو (یوولس نیمو بجو، ژ.) مې امر تر لاسه کړ چې د فرقې ټول ټولګي باید د بشپړ چمتو والي په حالت کې راولم او هغه د الوتلو لپاره هوایي ډګرونو ته ولیږدوم. هماغه وچې فرقه د دسمبر پر ۱۴ مه د ترکستان د پوځي سیمې بېلو بېلو هوایي ډګرونو ته ولیږدول شوه او هلته یې د لسو ورځو په ترڅ کې دهغې جګړه ییزې دندې دسرته رسولو لپاره چمتو والی او تیاری پیل کړ چې د دسمبر د ۲۴ مې پر ماښام یې په وړاندې کېښودل شوه.

د دیسانت ځواکونه د دسمبر پر ۲۵ مه په سیمه ییز وخت پر ۱۸ بجو (د مسکو پر وخت پر ۱۵ بجو، لیکوال) دهوا له لارې دباګرام او کابل په هوایي ډګرونو کې پلي شول. د دسمبر پر ۲۶ مه د فرقې دنده په بشپړه توګه وتاکل شوه. موږ ته امر وشو چې دماښام تر ۱۹ بجو او ۳۰ دقیقو (اوه نیمو بجو، ژ.) باید ځانونه په پلازمېنې کې ټاکلو ځایونو ته ورورسو او دهغو امنیت او ساتنه پیاوړې کړو او دغه راز کابل ته « د وسله والو ډلو » دورننوتو مخه ونیسو ».

له دغه لنډتنګ بیان څخه په ډاګه کېږي چې دیسانتچیانو ته په افغانستان

کې دخپلو دندو بنـه اوډول آن تروریستـۍ شـېـې لا هم نه وو معلوم خو افغانستـان ته دپوځونو اوتخنیک دلېږدولو بهیر (په خورا چټکۍ سره روان و)، داسې چې دهغه په ترڅ کې ۳٤۳ الوتنې ترسره شوې چې له دې ډلې نه ٦٦ الوتنې د ان - ۲۲، ۷٦د ال - ۷٦او ۲۰۰ يې د ان - ۱۲ له خوا وشوې. دهوايي دیسانت د پوځونو دټولګیو او ډلو ډلګیو پلې کېدنه ټول ټال په ٤۷ ساعتونو کې ترسره شوه (لومړۍ الوتکه د دسمبر د ۲۵ مې د مازیګر پر ۱٦ (٤) بجو او ۱۵ دقیقو او وروستۍ دا د دسمبر د ۲۷ مې دغرمې پر ۱٤ (۲) بجو او ۳۰ دقیقو راښکته شوه). په دغه بهیر کې ۷۷۰۰ تنه پوځیان، ۸۹٤ ټانکونه او نور جګړه ییز تخنیک او ۱۰٦۲ ټنه ډول ډول مالونه کابل او باګرام ته ولېږدول شول.

د ۱۰۳ فرقې دهوايي دیسانت ډلو ډلګیو له ترسره شوې لارښوونې سره سم د دسمبر پر ۲۷ مه ځانونه دپلازمېنې ځینو مهمو دولتي او نورو تاکلو ودانیو (لکه د ا. خ. د. ګ. مرکزي کمېټې، د دفاع، کورنیو چارو اومخابراتو وزارتونو اونورو) ته ورسول اودهغو ساتنه او امنیت يې پر غاړه واخیست (په حقیقت کې يې دغه ودانۍ ترخپلې ولکې لاندې راوستې).

که څه هم چې د ۱۰۸ مې موټریزه فرقې ټولګیو ته دنده سپارل شوې وه چې دیوه لنډ وخت لپاره دې په دوشي، پلخمري، کندز او تالقانو کې ځای پر ځای شي، خو د لاریون (مارش) په ترڅ کې د غه دنده واوښته او فرقه دکابل شمال ختیځ ته واستول شوه چې د دسمبر د ۲۸ مې پر سهار په دغې سیمې کې ځای پرځای شوه.

په دې ترڅ کې دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټې سیاسي بیورو د دسمبر د ۲۷ مې نېټې په غونډه کې افغانستان ته د شوروي پوځونو دلېږلو او ب. کارمل ته دواک دلېږدولو په اړه د تبلیغاتي منډې ترړې لارې چارې ترڅېړنې لاندې ونیوې.

**لاسوند**

دشوروي اتحاد دکمونیست گوند مرکزي کمېټې ته{ټولیزه (عمومي) څانګه. لومړۍ څانګه د دریو ورځو په ترڅ کې باید بېرته راواستول شي}.

د نړۍ کار ګرانو سره یو شئ!

دشوروي اتحاد دکمونیست گوند مرکزي کمېټه

بیخي پټ

څانګې دوسیه

مخامخ (راساً)

لمبر پ- ۱۷۷/۱۵۱

ملګرو برژنف، اندروپوف، ګریشین، ګرومیکو، کیریلینکو، کاسګین، کونایف، پیلشه، رومانوف، سوسلوف، اوستینوف، چیرننکو، شربیځکي، علییف، ګرباچوف، دیسیچیف، تیخونوف، کوزنیځوف، ماشیروف، پوناماریوف، رشیدوف، سولومینځوف، شیواردنادزي، دولګیخ، زیمیاتین، کاپیتانوف او روساکوف ته

(دشوروي اتحاد کمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د ۱۹۷۹ کال د دسمبر د ۲۷ مې نېټې دغونډې له ۱۱۷ لمبر پروتوکول نه را اخیستنه)

۱- په برلین، وارسا، بوداپست، پراګ، صوفیه، هاوانا، اولان باتور او هانوي کې شوروي سفیرانو ته د لارښوونو او ملیک (طرحه) دې ومنل (تصویب) شي. {لومړی لمبر ملپانه (ضمیمه)}.

۲- دافغانستان د شاوخوا حالاتو د پرمختیا په باب دې ټولو شوروي سفیرانو ته دلارښوونو او ملیک ومنل شي. (دوهم لمبر ملپانه).

۳- په نیویارک کې شوروي استازي ته د لارښوونو اوملیک دې ومنل شي (درېیمه ملپانه)

٤- دتاس داعلامیې او ملیک دې ومنل شي ( څلورم لمبر ملپانه ) .

٥- دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا ریس او لومړي وزیر او دافغانستان خلق دیموکراتیک گوند د مرکزي کمېټې عمومي منشي ملگري کارمل ببرک ته د مبارکۍ تلگرام دې ومنل شي . ( پنځم لمبر ملپانه ) .

٦- دافغانستان په اړه زموږ دکړنو دتبلیغاتي سمبالتیا په باب وړاندیزونه دې ومنل شي . ( شپږم لمبر ملپانه ) .

٧- دشوروي اتحاد د کمونیست گوند گوندي سازمانونو ته دې دمرکزي کمېټې د لیک متن ومنل شي ( اووم لمبر ملپانه ) .

٨- دنا سوسیالیستي هېوادونو کمونیستي او کارگري گوندونو ته دشوروي اتحاد د کمونیست گوند دمرکزي کمېټې دلیک متن دې ومنل شي (اتم لمبر ملپانه ) .

دمرکزي کمېټې منشي ل . برژنف

د پورتنیو ملپانو له منځ نه هغه ملپانه چې مطبوعاتو او د ټولنیزو رسنیو ته یې { افغانستان ته د پوځونو دلېږلو په اړه } د تبلیغاتو اړانه تاکله دځانگړي پاملرنې وړ ده . د همدغې ملپانې د دندلیکونو ( مقرراتو ) له امله وه چې « د افغانستان دجگړې » په باب ربنتیا اوږده کلونه له شوروي وگړو نه پټه ساتل کېده . باید څرگنده شي چې د پټوالي همدغه پنډه پرده او سختې اړانې چې په افغانستان کې دشوروي اتحاد له کړنو سره جوگه وې دگڼ شمېر دهېښونې وړ وگرځېدې او دشوروي اتحاد د نړیوال باور او پت ته یې هم ژور زیان ورساوه .

**لاسوند**

د ۱۱۷ لمبر پروتوکول د ۱۵۱ توکي په اړه

**بیخي پټ**

**ځانگړې دوسیه**

٦ لمبر ملپانه

دافغانستان په اړه زمونږ دکړنو د تبلیغاتي سمبالتیا په باب

دبهرني تېرې په وړاندې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت د مشرتابه په غوښتنه دشوروي اتحاد د مرستې په اړه دې په مطبوعاتو ، تلویزیون او راډیو کې زمونږ د تبلیغاتي منډو ترړو په ترڅ کې دغه ټکي په پام کې ونیول شي :

۱- په ټولو تبلیغاتي هلو ځلو کې دې له شوروي اتحاد نه دپوځي مرستې په باب د افغاني مشرتابه پر غوښتنو اودتاس پر اعلامیې ډېره ولګول شي.

۲- پر دغه ترس دې په بنستیزه توګه ټینګار کېږي چې افغانستان ته د افغاني مشرتابه په غوښتنه دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګیو دلېږلو یوازینې موخه دافغانستان له خلکو اوحکومت سره د بهرني تیرې په وړاندې په هاندوهڅه کې مرسته او ملاتړ دی اوبس . دشوروي اتحاد په دغه چلند کې نورې هېڅ ډول موخې نه دي نغښتې .

۳- باید پر دې ټکي ټینګار وشي چې دبهرني تیري او له بهرنه دافغانستان په کورنیو چارو کې دلاسوهنو د زیاتېدو په پایله کې دغوړي انقلاب بریاوې او دنوي افغانستان خپلواکي او استقلال له ګواښ سره مخامخ شول. له همدې کبله وه چې شوروي اتحاد چې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت مشرتابه په وروستیو دوو کلونو کې په وار وار د بهرني تېري دشنډولو لپاره ورنه دمرستې غوښتنه کړې وه { په پای کې } دغو غوښتنو ته دشوروي - افغان د دوستۍ ، ښه ګاونډیتوب او همکارۍ دتړون له روحیې سره سم مثبت ځواب ووایه .

٤-{ دپوځي مرستې په باب} دافغانستان حکومت غوښتنه اودشوروي اتحاد له خوا دهغې تر سره کېدل- دا یوازې او یوازې دشوروي اتحاد او افغانستان دیموکراتیک جمهوریت د دو خپلواکو هېوادونو خپل منځي کار دی ، چې خپل دوه اړخیز اړیکي پخپله سموي ( تنظیموي) . دغه دواړه

هېوادونه هم دملگرو ملتونو سازمان دبل هرغړي دولت په توگه د يوه‌زړي (انفرادي ) او ډله ييزې ځان ساتنې چې د ملگرو ملتونو د تگلارې (اساسنامې) په ٥١ ماده کې ورته اشاره شوې ،حق لري.

٥- د افغانستان په مشرتابه کې د بدلون دروښانه کولو په ترڅ کې بايد په ډاگه شي چې دا د افغانستان دخلکو کورنۍ خبره ده .په دې برخه کې بايد دافغانستان دانقلابي شورا له‌خوا پرخپرو شويو اعلاميو او دافغانستان د انقلابي شورا دريس ببرک کارمل پرڅرگندونو تکيه وشي.

٦- دافغانستان په کورنيو چارو کې گواکې دشوروي لاسوهنو په اړه هر ډول لمسوونکو تورونو ته‌بايد غوږ او قانع کوونکي ځواب وويل شي. بايد پردې ټکي ټينگار وشي چې شوروي اتحاد د افغانستان په مشرتابه کې له بدلونونو سره هيڅ ډول تړاو نه‌درلود او نه‌يې لري. ترافغانستان دننه او دهغه په‌شاو خوا کې د پېښو په‌اړه دشوروي اتحاد دنده دبهرني تېري په وړاندې د دوست افغانستان دخپلواکۍ ساتنه ده‌اوبس. هرکله چې دغه تېری بند او د افغانستان دولت خپلواکۍ ته‌گواښ له‌منځه لاړ شي ،نو شوروي پوځي ټولگي به‌هم بې له‌ځنډه او په‌بشپړه توگه د افغانستان له‌خاورې څخه‌وايستل شي».

[بايد څرگنده کړم چې] دا .د.ج. کې دشوروي اتحاد دپوځي شته‌والي په لومړي پړاو کې زموږ دځانگړو دندو پوځونو بنسټيز رول سرته‌ورساوه. د تاج بېگ ماڼۍ نيول اوله واک‌نه دحفيظ الله امين لرې کول په‌حقيقت کې هغه لومړنۍ دنده وه‌چې شوروي ډلو ډلگيو او دځانگړ دندو [همدغو] ډلو د دسمبر پر ٢٧ مه ( دمرغومي پرشپږمه ) د « توپان - ٣٣٣ » په‌نوم عملياتو په‌ترڅ کې ترسره کړه .

داچې پر دغه ورځ په‌کابل کې رښتيا څه پېښ شول ؟ دا خبره ترډېره وخته له‌خلکو نه‌پټه ساتل کېده . [خو له‌نيکه مرغه] ماته دا خبره شوني شوه چې دهغو ورځو د پېښو له‌زيات شمېر گډون کوونکو سره له‌نږدې وگورم او خبرې

اترې ورسـره وکـړم . دا دی دبېلو بېلو ګـومـانونو اوفکتـونو دراټولولو او غـورچاڼولو اودغـه‌راز د ځينو ليـدونکو دځرګندونو او يولړ نورو لاسونديزو (مسـتندو) مـوادو پر بنسټ به هڅه وکـړم چې دلتـه {دمرغـومي ( جدي) د شپږمې} دپېښو يو انځورګې وړاندې کړم. ( خو مخکې تر مخکې بايد ووايم چې دغه انځـورګی خدايزده کـه وکولای‌شي په افغـان پلازمېنه‌کې دشوروي پوځيانو دکړنو رښتيني بهير په بشپړه توګه وځلوي ).

. . . « مسلمان » کنډک دافغـاني لوا ( ګارډ لوا ،ژ. ) له‌قوماندانی سره دښـې بلدتيـا اونږدې اړيکو د ټينګولو په‌موخـه د دسـمبـر پر ۲۶ مـه‌يوه مېلمستيا جوړه کړه.

شورويانو خپلو افغاني مېلمنو ته‌پلو پوخ کړی‌و او له‌بازاره يې‌نور ډول ډول سابه‌ا ومېوې‌هم پېرودلې‌وې . هو . له‌شرابو سره‌لږ څه ستونزه وه ،خو هغه‌هم دکې جي‌بې دکارکوونکو په‌مرسته راپيدا شول او ورسره ورسره يې د « سفيرانو » ودکا ،کنياک ،دکبانوهګۍ ،کبان او ځينې نور خوندور شيان‌هم له‌کـومـه ځـايه‌راوړي‌وو . پـه‌دې توګـه نو دسـتـرخـوان له‌ډول ډول خـوړو او « نعمتونو » نه ښه‌ډ ک و.

له‌ساتندويه‌لوا نه دهغې دقوماندان اوسياسي مرستيال په‌ګډون پنځلس تنه‌مېلمسـتيـا ته‌راغلي وو. هڅه کېده‌چې افغانان بايد ډېرې‌خبرې وکړي او {له‌هر جام سره‌به} دشوروي - افغان دوستی ،پوځي ملګرتيا او نورو په‌باب شعارونه‌ورکول کېدل. {شورويانو} پخپله ډېر لږ شراب‌څښل ( آن تر دې چې‌کله کله به‌مېلمه پالو سرتېرو دخپلو شوروي افسرانو په‌جامونو کې دودکا پرځای اوبه‌اچولې ) .

{ د افغـانانو پـه منځ کې } د لوا سيـاسي مرسـتيـال له‌نورو نه‌ډېر دخبرو شـوقي و. هغـه‌چې دربـتـيـا ويلو پرځـپـو ( احـسـاسـاتو ) راغلی‌و « تورن ليبيديف » ته‌يې له‌خولې‌ووتل چې ن .م. تره‌کی د ح. امين په‌امر زندی کړای

شو . زموږ لپاره هغه وخت دا ډېره نوې او مهمه خبره ګڼل کېده . خو جانداد بې له ځنډه ورتوپ کړ او سیاسي مرستیال یې کومې خوا نه بوت . قوماندان (جانداد) ووېل چې سیاسي مرستیال په ځنبلو کې زیاتی کړی او پخپله هم نه پوهېږي چې څه وایي . دمېلمستیا په پای کې {شوروي او افغان} پوځیانو کله د نېږدي دوستانو په توګه نه و ، نو لږ ترلږه د ښو انډیوالانو په څېر سره ښېل (رخصت) شول.

دتاج بېګ مانۍ دکابل په یوه ځنډه ( دارالامان) کې پرونو او بوټو د یوې پوښل شوې جګې غونډې پرسر پرته وه چې ګڼ شمېر برنډې یې درلودې او شاوخوا یې پرېمانه ماینونه ښخ شوي وو . هغې ته یوازې یوه لاره ورختلې وه چې هغه هم شپه او ورځ په کلکه څارل کېده . په دې توګه نو دغه مانۍ پر سختی لاندې کېدونکې یوه کلا( ودانۍ) وه.

دح.امین پرمانۍ ورختلو او برید ته چمتو والی د دسمبر د ۲۷ مې له سهاره پیل شو . د کې جي بي له کارکوونکو سره دمانۍ د جوړښت ټکي په ټکي نقشه پر ته وه ( چې په هغې کې د کوټو پرېوت ، دټلیفونونو او مخابرو خونې ، د برېښنا شبکې اونور په نښه شوی وو ) . له همدې امله نو د « توپان - ۳۳۳ ) عملیاتو تر پیل کېدو نه لاله مخه د « مسلمان » کنډک او دکې جي بي د « ګروم » او « زینت » دډلو پرسونل د یرغل د لومړۍ لمبر موخې ( تاج بېګ مانۍ ، ژ . ) په باب ښه کره او بشپړ معلومات درلودل . هغوی پردې پوهېدل چې {پرمانۍ} د ورختو ترټولو اسانې لارې کومې دي ، دڅارنې او ګرځېدنې ( پېرې اوګزمې) وخت کله دی ، دګارډ پرسونل او دامین دساتونکو شمېر څومره دی ، د درنو ماشینګنو ، زغره والو ګاډو او ټانکونو « ځالې » چېرته دي ، دمانۍ دکوټو ، ډیوډیو ( دهلیزونو ) او کړکیچونو دننني جوړښت څه ډول دی ، مخابرې او ټلیفوني وسیلې چېرته ځای پرځای شوي او داسې نور.

لکه چې یوه باخبره او له معلوماتو ډک سرچینې راته ووېل : پرمانۍ باندې

دیرغل په درشل کې د کې جي بې یوې څانګړې ډلې په کابل کې د ا. د. ج. له ډېرو مهمو پوځي او ملکي سرچینو سره د پټو اړیکو مرکزي شبکه هم له کاره ایستلې وه. دغه راز یو شمېر یرغلیزې نورپیاګانې ( زینې) هم چمتو شوې او یولړ نور اړین تدبیرونه هم نیول شوي وو. خو تر دې ټولو خورا ډېره مهمه خبره د دغو کارونو پټوالی او محرمیت و.

برسېره پر دې د کابل ګارنیزیون په ټولګیو کې زموږ سلاکارانو ته هم بېلې بېلې دندې ورسپارل شوې وې: ځینو ته ویل شوي وو چې د دسمبر پر ۲۷ مه دې پخپلو ټولګیو کې شپه تېره کړي او اړونده کسانو ته دې مېلمستیاوې جوړې کړي ( په همدې موخه یو څه شراب او خواړه هم هغوی ته ورکړل شوي وو ) او افغاني ټولګي دې د شوروي پوځونو پر خلاف هېڅ ډول هڅو او کوښښونو ته نه پرېږدي. ځینو نورو ته بیا د دې پرخلاف امر شوی و چې تر ناوخته دې پخپلو ټولګیو کې نه پاتې کېږي. له همدې امله وه چې هغوی پر دې ورځ تر ټاکلي وخت له مخه کورونو ته لاړل. په دې توګه یوازې په ځانګړې توګه ګمارل شوي کسان چې اړونده لاربښوونې ورته شوې وې په ټولګیو کې پاتې شول.

... له بلې خوا د « مسلمان » کنډک او کې جي بې پوځیانو ته ویل شوي وو چې ح. امین پر ډله ییزو وهنو ټکونو لاس پورې کړی، دغه په امر په زرګونو بې ګناه کسان وژل کېږي، د ثور انقلاب له چارې سره خیانت کوي، د امریکا له سي آی اې سره یې تارغځولی او داسې نور. خو د سرتېرو او افسرانو له منځ نه ډېرو لږو کسانو پر دې خبرو باور کاوه. له همدې امله هغوی ښېخي پرځای پوښتنه کوله چې: « که چېرې دا ټول نبه رښتیا وي، بیا نو امین ولې امریکایان نه رابلل چې زموږ پوځونه یې راوغوښتل؟ » خو امر امر و او هغه باید تر سره شوی وای، ځکه نو د ځانګړو دندو لپاره روزل شوي کسان هم دغه پلي کولو ته چمتو وو.

# دتاج بیگ پرمانی یرغل

پخپله امین دغه مهال په داسې حال کې چې پر هېڅ شي شکمن نه و ، افغانستان ته دشوروي پوځونو دراتګ په باب خپلې موخې ته درسېدو له امله خورا په غوره کې و . هغه پر همدې ورځ یانې د دسمبر پر ۲۷ مه په خپلې ښکلې مانۍ کې یوه غرمنۍ مېلمستیا کړې وه چې هغې ته یې دسیاسي بیورو غړي او وزیران له خپلو کورنیو سره یو ځای وربللي وو. ددغو کسانو له وربللو نه دامین یوه موخه داوه چې یو خو دا .خ. د. ګ. د مرکزي کمېټې منشي پنجشیري { په همدې نېږدې ورځو کې } له مسکو نه راستون شوی و اوله بله پلوه هغه غوښتل چې دخپل کار او استوګنې نوې مانۍ خپلو همکارو ته ور وښیي .

{ پنجشیري راستنیدو وروسته } نوموري ته داډ ورکړی و چې دتره کي دمړینې او دهېواد په مشرتابه کې د بدلون په باب دهغه له خوا وړاندې شوی لید شوروي مشرانو ته دمنلو ( قناعت ) وړ وګرځېد او دغې کتنې دغه راز له شوروي اتحاد سره {زموږ} اړیکي لا پسې ټینګ کړل. { آن تر دې چې شوروي لوري} په مسکو کې ټینګار وکړ چې هېواد به یې له افغانستان سره پراخه

پوځي مرستې هم ترسره کړي.

{ له همدې امله } ح. امین په ډېر ویاړ مېلمنو ته څرګنده کړه چې : « شوروي فرقې همدا اوس زموږ خوا ته را رواني دي. هرڅه ښېځي سم پر مخ درومي . زه

په پرله پسې توګه دټليفون له لارې له ملګرې ګروميکو سره غږېږم او موږ په ګډه داخبره څېړو چې له موږ سره دشوروې پوځې مرستې په باب دنړۍ دخبرولو کومه بڼه به ښه وي ».

{په مېلمستيا کې} دغه راز په دې اړه هم خبرې وشوې چې لوی درستيز محمد يعقوب دې څنګه دشوروي پوځونو له قوماندانۍ سره ګډه همکاري وکړي . پخپله يعقوب هم په داسې حال کې چې پر هېڅ شي باندې هم نه و شکمن شوی {پر همدې ورځ يې} شوروي پوځي استازي د ډېرې نږدې اوګډې همکارۍ لپاره ستر درستيز ته وربللي وو او تاکل شوې وه چې دغه کتنه بايد د ماښام تر اووه نيمو بجو وروسته دهمده په دفتر کې ترسره شوې وای.

له بله پلوه ټاکل شوې وه چې ح. امين بايد پر همدې ورځ د افغانستان د ټلويزيون له لارې {خلکو} ته وينا وکړي . له همدې امله د نوموړي د وينا دقلم اخيستلو لپاره يو شمېر لوړ پوړي پوځيان او دسياسي اورګانونو مشران هم د تاج بېګ ماڼۍ ته وربلل شوي وو . خو هغه عمليات چې د شوروي اتحاد دکې جي بي د پلان له مخې تر سره شول دغه کارونه يې ګرد سره ربنتياينې (تحقق) او پلي کېدو ته پرې نښودل .

غرمه مهال وچې د ا.خ. د. ګ. عمومي منشي او دهغه ګڼ شمېر مېلمانه يو ناڅاپه ناروغه شول. ځينې خو آن بېخي بې هوښه پريوتل (۱) پخپله امين هم په بشپړه توګه « پارچاو » شو او له پښو وغورځېد. مېرمنې يې په بېړه دګارډ قوماندان جانداد ور وغوښت . نوموړي بې له ځنډه مرکزي پوځي [څلور سوه بستريز] روغتون او دشوروي سفارت پولي کلينيک ته ټليفونه سرکړل چې له

(۱)- دیادونې وړ ده چې د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کميټې دسياسي بيورو غړي غلام دستګير پنجشيري چې د شوروي يرغل په درشل کې له مسکو نه راستون شوی او په حقيقت کې ددغې غرمنۍ ترټولو غوره او اصلي مېلمه و دمسموم شوو کسانو په ډله کې نه وراغلی . ژباړن

هغوی نه مرسته ترلاسه کړي . دغه راز یې سم له لاسه خواړه او دانارو شربت کتنځي ته واستول او اوزبک پخوونکي ( آشپزان ) یې هم ونیول.

په همدې ترځ کې د ګروال و . کولیسنیک او دکنډک قوماندان دورځې په نیمایي کې خپل افسران دعملیاتو له پلان نه خبر او دهغوی په وړاندې یې راتلونکې جګړه ییزې دندې کښېنودې . له دې سره جوخت یې د دندو پر له پسې والی او ترتیب هم ډاګیزه کړ. کله چې دوی داړونده موخسیمو ( هدف ځایونو ) پر ښارنې او کشف لګیا وو نو په لرښود ( دوربین ) کې یې جانداد له ځو تنو نورو افسرانو سره د یوې غونډې پر سر ولیدل . ډګرمن و . شویځ سم لاسي دهغوی پر لوري ور و خوځېده چې دکنډک دیوه افسر دکالیزې په پلمه یې غرمنی، ته ور وبولي ،خو دګارډ قوماندان ورته وویل چې اوس خو دوی پر آزموینه بوخت دي او مابنام به ورشي. { کله چې دا کارونه شو } نو و . شویځ له هغه نه هیله وکړه چې د ګارډ په لوا کې شوروي پوځي سلاکارانو ته دې دتلو اجازه ورکړي . دنوموړي دا هیله ومنل شوه او هغوي یې له ځانه سره بوتلل او په دې توګه هغه دځو تنو ژوند له مړینې وژغوره .

دغرمې پر ۳ بجو له سفارت نه رپوټ ورکړ شو چې دیرغل د پیل کېدو ( « چ » ) وخت د شپې ۱۰ بجې ټاکل شوی ،ورپسې هغه نهو بجو ته راوړل شو، خوتر هغې وروسته دغه وخت په پرله پسې توګه پوښتل کېده او سمېده چې په پای کې ۱۹ بجې او ۳۰ دقیقې ( دمابنام اوه نیمې بجې ،ژ. ) وټاکل شو.

ښایي دعملیاتو لارښوونکو به داسې انګېرلې وه چې د مسموم کولو له لارې دح .امین دلرې کولو پلان به خپل کار وکړي او په دې توګه به دتاج بېګ پرمانۍ د یرغل اړتیا له منځه لاړه شي. خو څرنګه چې دغه پلان ډېر پټ و او شوروي ډاکټرانو ته دهغه په باب څه نه وو ویل شوي ، له همدې امله نو هغوی په ناخبرۍ دهغه پلي کېدل شنډ کړل.

خبره داسې وه چې دسیاسي چارو دلوېې پاسوالۍ دمشر م . اقبال وزیري

په غوښتنه او د ا. د .ج. کې دلوی پوځي سلاکار د اداري دسیاسي څانګې دمشر تورنجنرال س .پ. توتوشکین په ټینګار د شوروي ډاکټرانو يوه ډله چې هغه مهال يې په کابل کې دنده سرته رسوله { دتاج بېګ} ماڼۍ ته ورغله. دطبي چوپړونو ( خدمتونو ) د داداري مشر ، مشاور ډاکټر ، دټپ رغونې (جراحۍ) دمرستو د ډلې قوماندان ،د افغاني اردو دمرکزي پوځي روغتون د ساري ناروغيو ډاکټر او دوه مېرمنې چې يوه يې دخوارو اوپرهېز ډاکټره او بله يې درمل خور ( نرسه) وه.او دتاج بيګ ماڼۍ دلومړي پوړ په روغتيا يي مرکز کې يې دنده سر ته رسوله ددغې ډلې غړي وو. سربېره پر دې افغان ډاکټر ډګرمن ولايت هم له هغوی سره ملګری و.

کله چې شوروي ډاکټران ( ډګروال ويکتور پاولوويچ کوز نيچنکوف ، د روغتون د ټپ رغونې دمرستو د ډلې قوماندان ډګروال اناتولي ولاديميرويچ الکسيېف اونور ) دماسپښين د دوو بجو په شاوخوا کې دګارډ بهرنۍ پوستې ته ور ورسېدل او لکه دتل په څېر يې خپلې وسلې ورکړې ،نو هغوی يې پر دې سربېره نور هم ولټول . البته دې کار پخوا تر دې هېڅ مخينه ( سابقه) نه درلوده.

دا خولاځه چې دپلټونکو ژبه ( لهجه) هم څه غوڅه اوترخه شانته وه. ماڼۍ ته د ورننوتلو پروخت پلټنه خو له دې نه هم پسې کلکه وه ،داسې چې د پېژندپاڼو پر کتلو سربېره يې د ځان پلټنه هم وکړه . له ټولو سره پوښتنه پيدا شوه چې څه پېښه به شوې وي ؟ خو کله چې هغوی په ډيوډۍ ( دهليز ) ، د نورپيا ( زينې ) پر پاړکو او خونو کې په ناطبيعي حالت کې ناست او پراته کسان وليدل ،نو هله پوه شول چې څه ټکه رالوېدلې ده.

کله به چې له دغو کسانو نه يونيم « په هوښ راغی » نو له ډېرو خوږو به يې کړيکې وهلې. زموږ ډاکټران سم لاسه پوه شول چې دا ډله يېزې مسموم کېدنې پېښه ده .هماغه وچې وار له واره يې له ناروغانو سره په مرستې لاس پورې کړ . خو په هسدې ترڅ کې افغان ډاکټر ډګرمن ولايت {خان} ناڅاپه

هغوی تەرامندەه کړه او دوی یې {پەبهره} د ح. امین پر لوري له ځانه سره بوتلل. هغه {ډېر تررو} او ویل یې چې دعمومي منشي حالت تر نورو ټولو څخه ډېر خراب دی. دوی په ګډه پەزینه ور پورته شول. ح. امین په داسې حال کې چې یوازې یو نیکریې په ځان کې و، ژامه یې زنګېده او د سترګو ګاتې یې کولکو تەورلوېدلي وو، په یوه کوټه کې پروت و. په هغه کې د هوښ هیڅ نښې نښانې نه لیدل کېدې او په ژوره کوما کې و.

لکه چې مړ دی؟ او کله چې یې د هغه په رګ (نبض) ګوتې کېښودې، نونبض یې هم متې پیدا کېده. لکه چې مړ کېږي؟

ډګروالانو کوزنیچنکوف او الکسییف پرته له دې چې فکر وکړي چې بنایي دچا دپلانونو خنډ به شي، «دشوروي اتحاد د وست هېواد» دمشر ژغورلو ته یې لستوڼي را بډوهل. هغوی لومړی {دامین} ژامه خپل ځای تەراوسته او ورپسې یې دهغه ساه ایستل بېرته سم (عادي) کړل. او ورپسې یې دمعدې پر مینځلو لاس پورې کړ. تر هغې وروسته یې ح. امین بېرته دخوب کوټې ته راوړ او د درملو پەورکولو لګیا شول. په دې ترڅ کې یې هغه ته یو په بل پسې ستنې لګولې او د دواړو لاسونو درګونو له لارې یې سیروم ورتېر کړل...

دا کار د ماښام تر شپږو بجو روان و. کله چې دژامې ځورنده دل نور ودرېدل او ادرار (بول) روان شو، نو ډاکټران پوه شول چې هڅې یې بریالی شوې او د ح. امین ژوند یې وژغورلی شو. الکسییف ـ یولږ نورو بوږنوونکو پېښو په احساسولو او له هغو نه د ژغورونې په موخه دماښې دننه مېرمنې دیو لږ چټکو لابراتواري کتنو په پلمه پەډېر ښه وخت بېرته ولېږلې.

او دادې داوږدې شپې له تېرېدو وروسته د ح. امین بانه وخوځېدل او هغه پر هوښ راغی. نوموړي په حیرانتیا سره وپوښتل: «دا کار ولې زما په کور کې پېښ شو؟ چا داسې وکړل؟ آیا دا یوه ناڅاپي پېښه وه او که ورانکاري؟»

دې پېښې هغه افسران چې د ا.د.ج. د انقلابي شورا دمشر د ساتنې

مسوولیت یې پر غاړه و لکه جانداد او اقبال په ژوره اندېښنه کې واچول . هغوی په بیړه د افغاني پوځیانو ځینې نورې سرباري پوستې ( آن له مانۍ نه بهر ) هم ځای پر ځای او د ټانک لوا ( ښایي زغره والې لوا ، ژ. ) ته یې ټلیفون وکړ چې مرستې ته دې تیاره او چمتو اوسي . خو دوی ته له هېڅ لوري هم مرسته نه شوه را رسېدلی ، ځکه چې زموږ دیسانتچیانو په کابل کې پراته د افغاني پوځونو ټول ټولګي په بشپړه توګه کلابند کړي وو.

ډګروال و . ګ. سالکین چې د ۱۹۷۹ کال پر دسمبر په کابل کې و ، ډېر کلونه وروسته یې د هغو ورځو شپو دپېښو په باب داسې نکل کاوه : « د ماښام د ۱۸ (۶) بجو او ۳۰ دقیقو په شاوخوا کې لوا مشر تورن احمد جان ته دنده ورکړ شوه چې یو کنډک ښار ته راوباسي .زه او دلوا مشر سلاکار ډګروال پیاسیځکي هغه مهال تل { لکه سیوری} له قوماندان سره یو ځای وو. نوموړي دټانک د لومړي کنډک قوماندان ته امر وکړ چې کنډک د بشپړ چمتووالي په حال کې راولي او زیاته یې کړه چې دندې ته دلېږلو امر به وروسته ورکړ شي. او چې پوځیانو ځنګه امر واورېده نو بې له ځنډه یې خپلو ټانکونو ته ورټوپ کړ. دټانکونو انجنونه د سترګو په رپ کې وغړېدل او اوس نو لومړی کنډک راتلونکې دندې ته په دوو پښو ولاړ و.

پیاسیځکي شبه په شبه خپلې ګړۍ ته کتل او لوا ته دنورو دندو دسپارل کېدو لاره یې څارله. په پای کې د ماښام پر اوو بجو او لسو دقیقو پخپله ویکتور نیکو لایویچ { پیا سیځکی} له احمد جان نه وغوښتل چې له خپل مشر تابه سره دې وغږېږي او ښار ته دکنډک دلېږلو په اړه دشوي لاربښوونې جاج دې واخلي . خو قوماندان ونه شو کولی داړیکو د پرې کېدو له امله پر دې کار برلاسی شي( ځکه د کې جي بې خانګړې ډلې ترمخه لا دمخابراتو شبکه الوزولې وه ،ل.)

کله چې و . ن. پیا سیځکی د اړیکو په پرې کېدو ډاډه شو ، نو قوماندان ته

بې سلاورکړه چې دلوا په سیمه کې دتلیفون مزي دې یوځل لەلیده (نظره) تېر کړي. هغه هم بې لەځنډه دمخابرې ډلگۍ راوغوښته او سرتېري په ځیر سره دمزي پر کنټرولولو لگیا شول. پر دې کار لږ تر لږه ۳۰ دقیقې ولگېدې.

.... په همدې ترځ کې یو ناڅاپه د دیسانت ځواکونو څلورو جگړه یزو ماشینونو په بشپړ گړندیتوب دپوځي ښارگوټي (دروازه) ونړوله او پرته له دې چې خپله گړندتیا راکمه کړي مخامخ یې دلوا درستیز توب کلابند کړ. له لومړي ټانک نه په بېړه یو شوروي تورن راکوز او ودانۍ تەلەورننو سره سم یې ځان پیاسیځکی تەور وپېژنده او بیا یې هغه یوې ځنډې ته کړ او تر لنډ پس پس نه وروسته یې خپل لەشرابو ډک پتک نومورې تەور اوږد کړ.

تورن لوا مشر تەمخ وراړاوه او ورته ویې ویل چې په ښار کې حالت ترینگلي دي او ښه به داوي چې لوا له خپله ځایه ونه خوځېږي. همأغه وچې قوماندان هم تر لنډې سلامشورې وروسته لومړي کنډک ته د «آرام سئ» امر وکړ.....»

د و. کولیسنیک په وینا: لوی پوځي سلاکار س. ک. موگامیتوف دمابښام د شپږو بجو په شاوخوا کې هغه ته مخابره وکړه او ورته ویې ویل چې دیرغل په تاکل شوي وخت کې بدلون راغلی او اوس هر څومره ژر چې کولای شئ هغه پیل کړئ. لەدې خبرې نه به پنځلس - شل دقیقې لا نه وې تېرې شوې چې دتورن ستاروف په مشرۍ د برید ډله پر گاز - ٦٦ ډوله گاډي کې دهغې غونډۍ په لور وروخوځېده چې {افغاني} ټانکونه په کې «ښخ شوي» وو. د کنډک نورو افسرانو د هغوی ځار کاوه. دغه ټانکونه دځو تنو ساتونکو (پهره دارانو) لەخوا ساتل کېدل او عمله یې ۱۵۰ - ۲۰۰ متره وړاندې په یوه خوبځای (کاغوش) کې اوسېده. د «مسلمان» کنډک یو بل ټولی دستاروف دډلې د ملاتړ لپاره په یوه ټاکل شوې سیمه کې ځای پرځای شو.

افسرانو لەورایه لیدل چې همدا څنگه چې {دستاروف} گاډی د دریم



ACKU

کنډک سیمې ته ورننوتې شو نو هلته د سپکو ماشینګنو ډزې پیل شوې چې شیبه په شیبه یې زور اخیست . ډګروال و . کولیسنیک هم بې له ځنډه د « اور » او « مخ په وړاندې » امر وکړ چې له هغه سره سم دوو سرو توغندیو د کابل په هسک ( اسمان ) کې کرښې راښکودې . څرنګه چې دې کار د « مسلمان » کنډک اوکې جي بې د ځانګړو ډلو سرتېرو او افسرانو ته { د عملیاتو د پیل } د سیګنال مانا درلوده نو له همدې امله پرمانې داورونو د ځولیو وریدل هم پیل شول ..

د تورن پاوتوف له قوماندې سره سم د « شیلکا » ز . اس . او . -۲۳-٤ په نوم د هوایي ساتنې اتومات ماشینګنې هغه لومړنۍ وسله وه چې مخامخ یې پر مانۍ د ګولیو باران جوړ کړ . بلې خواته د ا . ګ . اس . – ۱۷ په نوم اتومات هاوانانونو د ټانک پر کنډک ډزې پیل کړې چې د هغو عمله ونه شي کړای ټانکونو ته ځان ورورسوي . په همدې ترڅ کې د « مسلمان » کنډک ډلې ډلګۍ هم خپلو ټاکلو ځایونو ته ور وخوځېدې . اخوا د لومړي بریدمن شریپوف د جګړه ییزو ماشینونو ( ب.ام.پ ) ټولي هم چې د کې جي بې دوه ډلې د د یسانت چیانو په توګه د هغه پر لسو ټانکونو سپرې وې ، د مانۍ لور ته غځېدلې لاره په مخکې ونیوه . د دغو ډلو ډلګیو ټولیزه ( عمومي ) لارښوونه د ډګروال ګ . اي . بویارینوف په غاړه وه . ټانکونو مانۍ ته د رسېدو په موخه او تکل د ګارډ بهرنۍ پوستې یو په بل پسې پوپناه کولې .

مانۍ ته ور غځېدلې یوازینې کږه وږه لاره له یوې غونډۍ څخه تېره شوې وه چې پر هغې سړی بیدو د مانۍ په مخکې پراته ډګر ګنکې ( میدانی ) ته ور وت . خو دغه لاره په کلکه څارل کېده او نورې خو بېخي له ماینونو نه ډکې وې . لومړی ټانک چې همدا څنګه پر ګرځنې ور واوښت نو له ودانۍ نه د درندو ماشینګنو ډزې پرې راسر شوې چې د هغو په ترڅ کې ټانک ولګېد او عملې او دیسانت چیانو هغه پر ځای پرېښود او پخپله دیر غلیزو زینو په مرسته

پرغوندۍ ور وختل .

دویم ټانک لګېدلی ټانک له سړ ک نه پورې واهه اونورو ټانکونو ته یې لاره پرانیستله . په دې توګه هغو په ډېره بېړه ځانونه دمانۍ په مخکې پراته ډګرګنکي ته وررسول.

دکې جي بي ځانګړې ډلې هغه لومړني ټولګي وو چې یرغل یې پیل کړ . وروسته بیا دځانګړو ډلو ( سپېڅناز ) سرتېرو په هغو پسې ور ودانګل . یرغل کوونکو دمانۍ دساتونکو دوېرولو او ښایي له خپله ډاره هم په زوره چغې وهلې او کنځلې یې کولې.

دمانۍ په دننه کې جګړې ډېره خونړۍ اوبې زړه سوې بڼه غوره کړه. که چېرې څوک له کوټو څخه په جګو لاسونو نه راوتل نو دخونو ورونه به یې ورماتول او لاسي بمونه به یې ور غورځول . بیا نو چا په تورو سپین او وچ او لانده پسې نه کتل او دماشینګنو باړونه او ججوري به یې پرې تشول . دغه مهال « شیلکا » نور ځایونه د خپلو ډزو موخه ګرځولي وو . ټانکونو هم دمانۍ تر مخه پروت ډګرګنکی پرېښود او هغې خوا ته ورغځېدلې یوازینې لار یې کلابنده کړه .

هر څه له پلان سره سم روان وو ، خو په همدې ترځ کې یوناڅاپه یوه نه اټکل کېدونکې پېښه رامنځته شوه ، داسې چې دجګړه ییزو عملیاتو سیمې ته د کنډک د ډلو ډلګیو دورتګ پروخت یوزغره وال ګاډی چې دیوه کاریز پر سر له نري پله نه تېرېده ښکته وښوېده او پر بل مخ را واوخت . څرنګه چې د زغره وال دریځې ښخې په خاور واو ختو کې ننبتې وې ،نو عملې یې نه شو کولې چې بهر راووځي . د زغره وال ګاډي قوماندان د راډیویي مخابرې له لارې دمرستې غوښتنه وکړه . کله چې دهغه مخابره مخ شوه ،نو په پرله پسې توګه یې له خپل مشر قوماندان نه د مرستې غوښتنه کوله. خو په همداسې نرۍ (حساسي) شېبې کې دهغوی خبرې ( مخابره) پرې ( قطع) شوې .دکنډک

قوماندانانې دې ته اړ شوه چې له نورو لارو چارو نه ګټه واخلي، او دنېکمرغۍ ځای دی چې داسې لارې چارې مخکې ترمخکې سنجول شوې وې.

په همدې وخت کې يوه تولۍ او داتوماتو هاوانانو دوو تولګيو د ټانک افغاني کنډ ترا ور لاندې نيولی وا و دهغو عمله يې نه پرېښوده چې خپلو ټانکونو ته ور نږدې شي. شپه پس هغوی دغه ټانکونه او دغه راز د ودانولو چارو دکنډک پرسونل لاندې کړ. آخوا بلې ځانګړې ډلې دهوايي ساتنې دکنډک وسيلې برمته او دهغه پوځيان يې يرغمل ونيول. دبريد ددې برخې لارښوونه د ډګرمن او. شويخ پرغاړه وه.

دننه په ماڼۍ کې د ح. امين د ساتندويه لوا افسرانو او سرتېرو او دهغه ساتونکو چې شمېر يې ۱۰۰ - ۱۵۰ تنه و په حېرانونکې توګه ټينګاو کاوه او يرغمل کېدو ته يې تن نه ورکاوه. په همدې وخت کې «شيلکا» يوځل بيا په غږمېدو شوې او ماڼۍ او دهغې ترمخه ډګر ګنګې يې تر اور لاندې ونيول. (دياد ونې وړ ده چې دکې جي بي ځانګړو ډلو او سپېڅناز ته ترمخه لا ويل شوي وو چې دغه ډګر ګنګي ته بايد راونه وځي، ځکه چې هېڅ ته له هغه ځايه د ژوندي وتلو اجازه نه وه). خو ځينو پوځيانو ددغې لارښوونې خيال ونه ساته او له همدې امله له منځه يووړل شول.

په همدې ترڅ کې د ماڼۍ په دريم پوړ کې اور ولګېد چې دې کار دهغې د ساتونکو پرروحياتو ډېره زياته ناوړه اغېزه وکړه. خو له دې سره سره د ماڼۍ دويم پوړ ته دځانګړو ډلو له ورختو سره ګام په ګام ډزو او چاودنو هم زور اخيست.

خو دامين دګارډ سرتېرو چې په لومړي سرکې يې {دشورويانو} پر ځانګړو ډلو دخپل کوم ياغي شوي تولګي ګومان کړی و، دروسي ژبې او کنځلو په اورېدو سره يې ديوه لوړ او نياومند (عادلانه) ځواک په توګه هغوی ته {خپل ميلمه پال، ژ.} لاسونه جګ کړل. لکه څرنګه چې وروسته روښانه

شوه ددغو افغاني پوځیانو ګڼ شمېر {دشوروي اتحاد} دریزان د دیسانت په ښوونځي کې زده کړه کړې وه او له همدې امله له روسي ژبې او کنځلو سره بلد وو. په را وروسته کلونو کې مې دېر ځلې داسې خبرې اورېدلې چې دتاج بېګ ماڼۍ ګڼې {یوازې} دکې جي بې ځانګړو دلو لاندې کړه او د اردو پوځیانو ګواکې هلته هېڅ رول هم نه لوباوه. خو زما په اند دا خبره ګرد سره سمه نه ده، ځکه چې چکیستانو ( د کې جي بې والاوو) په یوازې ځان هېڅ شی هم نه شو کولی. هو، داسمه ده چې داردو ځانګړو دلو د ځاني چمتووالي له پلوه دکې جي بې له ښه روزل شوو کسانو سره سیالي نه شوه کولای، خو دا همدغه داردو پوځیانوو چې ددغو عملیاتو بری یې سمبال کړ.

شوروي ډاکترانو {پرماڼۍ باندې دیرغل پروخت} ځانونه په بېلو بېلو ځایونو کې پټ کړي وو. په لومړي سر کې هغوی فکر کاوه چې دا برید ګڼې د مجاهدینو له خوا تر سره شوی، بیا یې ګومان کاوه چې دا ښایي د ن. م. تره کي دپلویانو کار وي. خو شېبه پس کله چې هغوی روسي کنځلې واورېدې، نو پوه شول چې دلته { دهغوی خپل } شوروي پوځیان جنګېږي.

ا. الکسییف او و. کوز نیچنکوف چې د ح. امین له لور سره پر مرستې لګیا وو ( هغې دغېږې ماشوم درلود ) دیرغل له پیل کېدو سره سم یې ځانونه دبار دستنو تر شاپټ کړل. خو شېبه لا نه وه تېره چې ګوري ح. امین په داسې حال کې چې د اور لمبو او لوګیو تک تور کړی و په دیوډی ( دهلیز ) کې روان دی. هغه سپین نیکر او کمیس لاندې کمیس ( زیر پیراهن) اغوستی و او دسیروم کڅوړې چې ستنې یې دده په لاسونو کې تومبل شوې وې دلاسي بمونو په څېر جګې نیولې وې.

ګرانه ده سړی اټکل وکړي چې هغه به پر ځان څومره زیار تېراوه او په رګونو کې تومبل شوې ستنې به یې څنګه په لاسونو کې چوخېدې! خو ا. الکسییف {چې دا حال ولیدنو} ورټوپ یې کړ او دهغه له لاسونو نه یې ستنې راوایستلې،

بیا یې رګونه په ګوته تینګ ونیول چې وینه ترې لاړه او ګنډه نه شي او ترهغې وروسته یې نوموړی تر باره ورساوه او هلته یې د یوال ته ډډه ولګوله . خو په همدې وخت کې دیوه ماشوم د ژړا او کوکاروغې تر غوږه شو . دا دح. امین پنځه کلن زوی واو په داسې حال کې چې خپلې اوښکې یې په موټی کړو لاسونو پاکولې له خپرمه کوټې نه ډیوډۍ ( دهلیز ) ته راووت . دخپل پلار په لیدلو سره یې هغه ته ور منډه کړه او د پلار له پښو نه یې غبرګ لاسونه راتاو کړل . ح.امین دزوی سر ځانته ورنږدې کړ او دواړه دېواله ته کېناستل.

ا. الکسییف له دغو پښو نه خوراړېر کلونه وروسته دا کیسه کوله چې هغوی نور نه شو کولای د بار تر ځنګه پاتې شي او غوښتل یې چې په بیړه ځانونه له هغه ځایه ځنډې ته کړي . خو دوی لا په ډیوډۍ کې روان وو چې یوه سخته چاودنه وشوه او دهغې څپو دوی دکنفرانسونو دتالار وره ته ورغورځول، چې هلته یې دځان لپاره پټمنځی هم غوره کړ.

پرتالار تپه تیاره خپره او بېخي تش تورو .دهغه له ماتو شوو کړکیو نه سوړ واورین باد خونې ته را الوت چې د ډزو او توغندیو غږ مبار به یې هم په څپو کې رانغاړلی و . و .کوزنیچنکوف دکړکۍ کینې او ا. الکسییف دهغې ښۍ خوا ته دېواله ته ځانونه پټ کړي وو او په دې توګه برخلیک هغوی په ژوندینې سره جلا او یو له بله بېل کړل.

هلته ح .امین خپل سریاورته امر وکړ چې شوروي پوځي سلاکارانو ته ټلیفون وکړي او هغوی ته پرمانۍ د برید په اړه خبر ورکړي او زیاته یې کړه : «شورویان به له موږ سره مرسته وکړي ». خو سریاور ورغبرګه کړه چې همدا پخپله شورویان دی چې ډزې کوي . دې خبرې دعمومي منشي د زغم کاسه لا پسې ډکه کړه ، ایره نۍ ( خاکسترداني ) ته یې لاس کړ او پر سریاور یې له ګوزار سره سم چیغه کړه : « دروغ وایي ، داسې نه شي کېدای ! » بیا یې پخپله هڅه وکړه چې لوی درستیز او دڅلورمې زغروالې لوا قوماندان ته ټلیفون وکړي . خو

له هغو سره اړيکي ترمخه لا پرې شوي وو او چې دا کارونه شونو په ورويې وويل: « ماهم همداسې انګېرله او دا دې ګومان مې رښتيا راوخوت ».

په همـــــــدې وخت کې دکې جي بې ځانګړې ډله هغې خونې ته چې حفيظ الله امين په کې وورننوته او د ډزو په ترڅ کې نوموړی دهمدې ډلې د يوه افسر له خوا ووژل شو. وروسته بې دا .د.ج. دحکومت او ا.خ.د.ګ. دمشر مړی په يوې غالۍ ( قاليني) کې تاو کړ او .... او په دې توګه بنسټيزه دنده هم سرته ورسېده.

دشوروي اتحاد د کې جي بې دبهرني کشف د پاسوالۍ پخوانی کارکوونکی والنتين براترسکي دهغو ورځو د رايا دولو په ترڅ کې پر تاج بېګ باندې ديرغل په باب خپلې ځينې يادونې داسې بيانوي: « له موږ پينځو تنو سره له لومړۍ پاسوالۍ نه دوه - ديرش ، ديرش کسيزه ډلې ملګرې وې چې دغه عمليات موبايد ترسره کړي وای . د « ګروم » ( تندر ) بې جوړې او بې سارې ډلې چې ډېر تکړه سپورتي کوونکي په کې وو ، بايد دنده په ماڼۍ کې خپله دنده سرته رسولې وای ، خود « زينت » ډلې دنده بيا ماڼۍ ته د ورغلو لاروځارل او د هغو { دامنيت} سمبالول وو ، دغه ډله دبالاشيخه دښوونځي له هلکانو نه جوړه شوې وه چې دځانګړو دندو (سپېشناز) لپاره ځوانان په کې روزل کېږي . {دعملياتو} په پای کې زموږ له ۶۰ تنو څخه يوازې ۱۴ تنه ژوندي پاتې وو ، خو دبل ( افغاني) لوريّ زيانونه {له موږ نه} څو ځله زيات وو ، ځکه دامين په ګارډ کې ۳۰۰ تنه وچې له هغوی نه يوازې ۱۵۰ تنه اسير شول او وژل شوي کسان خو هسې هم چا نه شمېرل.

{ په دې ترڅ کې } امين بل دوزره کسيز غونډ هم{ مرستې} ته ور وغوښت او هغوی د ماڼۍ په شاو خوا کې مورچلې ونيوې . خو دغه غونډ لکه پرچاړې موږ دوه ځايه کړ او ديرغل پر وخت خو هغه بيخي ترې تم شو .

آخوا کارمل ژمنه کړې وه چې هغه ته وفادار ۵۰۰ تنه جنګيالي به زموږ

ننګه او ملاتړ وکړي. موږ د نوموړو لپاره آن وسیلې او لاسي بمونه هم له ځانه سره وړ وړي وو او هغوی ته سترګې په لار وو، خو {دعملیاتو په بهیر کې} له دغو ۵۰۰ تنو څخه ایله ایکي یو راپیدا شو.

{په یرغل کې} یوې بلې ډلې هم ګډون درلود چې مشري یې دکې جي بې دیوه جګړن پر غاړه وه. دهغې دنده دا وه چې د {نوي} افغان مشرتابه ځینې استازي افغانستان ته ولیږدوي او داسې وښیي چې داګنې یوه کورنۍ کودتا وه.

هغه آوازه {چې زموږ د دندې په اړه} موږ ته پېچکاري کېده داسې وه چې امین له امریکایانو سره اړیکي لري او {دهغه په شته والي کې به} موږ په سویل کې له یوه بل خطرناک ګاونډي سره سرو کار ولرو. خو داسې لاسوندونه چې دغه ګومان دې رښتیا وښیي هېڅکله هم وړاندې نه شول.

ما ته هغه وخت هرڅه ښکاري روښانه شول کله چې دامین وژونکي راته وویل چې موږ ته امر شوی وچې هغه باید ژوندی پرې نه ږدو. داخو لا څه چې د ډزو پر مهال دامین یو اته کلن زوی هم پرتېر لګېدلی و او مړ شو. ما پخپله پخپلو لاسونو د هغه د لور له تېر نه چې پر پښې لګېدلې وه پټۍ تاوه کړه.

هو، موږ مانۍ په داسې حال کې پرېښوده چې غالۍ یې پر وینو لندې خیشتې وې او تر پښو لاندې موخړ پېدې. د داسې یوه حالت خو آن هغه انځورنه (تصور) هم ډېره بوږنونکې او ګران کار دی....

{مسکو ته} تر بېره ته الوتلو وړاندې یې له موږ ټولو سره ژمنه وکړه چې د اتلولۍ ستوري به راکوي، خو تر هغه ځایه چې ماته یا د شي ایله دوو تنو هغه تر لاسه کړل. هغه هم داسې چې یو تن پر مړینې پر هغه وویاړل شو. په ټولیزه توګه د دغو عملیاتو له کبله په کې جي بې کې ټول ټال ۴۰۰ تنه چې په هغو کې تایپیستانې او سکرترانې هم وې وویاړل شول.

...{دتاج بیګ} په برید کې ژوندي پاتې شوو هلکانو ژمنه وکړه چې هر



ACKU

کال به د دسمبر د ۲۷ مې نېټې دمابنام پراوویجو د نومورکي (گمنام) سرتېري له گور سره راتولېږي .خو کريو چکوف ددې کار مخه ونیوه او ويې ویل چې هسې خوشې دگېنگو بهولو ته اړتیا نه شته.....»

دتورن ستاروف ډله له افغانانو نه پرنیول شوو دوو ټانکونو سپره مانۍ ته راورسېده او کولیسنیک ته يې داسې رپوټ ورکړ: کله چې دوی دگارډ لوا د دریم کنډک له ځنگ نه تېرېدل نو ويې لیدل چې په کنډک کې دخطر تورم غږول شوی او پرا فغاني سرتېرو کارتوس او مهمات وېشل کېږي. کنډک مشر او دوه تنه نور افسران هغې لارې ته څېرمه ولاړوو چې دځانگړو دندو پوځیانو ورڅخه تېرېدل. خو په دې باب داړونده پرېکړې نېولو دېر وخت ونه نیوه ، څکه هغوی بې له ځنډه له ټانک نه ورټوپ کړ ،کنډک مشر او دواړه افسران يې ونیول ،هغوی يې ټانک ته ورواچول او خپله لار يې ونیوه. خوځینو سرتېرو چې تر دې دمه يې کارتوس تر لاسه کړي وو پر هغوی ډزې پیل او له هغې سره جوخت يې په ټانک پسې ور وځغاستل چې خپل قوماندان ورنه راوژغوري . خو دځانگړو دندو پوځیانو سم له لاسه پر ورځغاستونکو ډزې پیل کړې. دغه راز دهغې ډلگۍ جنگیالیو هم چې د ستاروف د ډلې عملیات يې سمبالول پر هغوی ډزې سر کړې چې په دې توگه د ۲۵۰ په شاوخوا کې {افغاني سرتېري} «له پښو ورغوځول» او پاتې کسان یوې خوا او بلې خوا ته وتښتېدل. ساتونکي هم چې دټانکونو ترڅنگه ولاړوو له منځه یوړل شول او شېبه پس يې هغه لاندې کړل.

خو پخپله په مانۍ کې دننه جگړه دومره اوږده نه وه او هرڅه ډېر ژر پای ته ورسېدل . کله چې ټولۍ مشر لومړي بریدمن شریپوف رپوټ ورکړ چې مانۍ ونیول شوه ، نو ډگروال کولیسنیک امر وکړ چې ډزې دې بس شي او ورسره جوخت يې خپل درستیز توب تاج بېگ ته ولېږداوه .په دې ترڅ کې د ا . د.ج. دراتلونکي حکومت په هغو دریو غړو پسې چې ډېره موده په « مسلمان» کنډک

کې پټ وو ، دهغوی پلویان راغلل اوهغوی یې له ځانه سره کومې خواته بوتلل.
آخواته پرهمدې ماښام دشوروي اتحاد دکې جي بې د ډلو لوی قوماندان ډگروال گ . اي . بویارینوف د ډزو په ترځ کې ووژل شو او ځای یې ډگرمن ای ، گ . کوزلوف ونیوه.

دیرغل دبرخه والو په وینا ډگروال و .پ. کوزنیچنکوف دکنفرانسونو په تالار کې دلاسي بم په ټوټو لگېدلی و . خو ا . و . الکسییف چې ټوله موده له هغه سره یو ځای و په دې اړه وایي : کله چې دوی داوړه دکنفرانسونو په تالار کې پټ وو نو یو ماشینگڼ والا هلته راننووت او پرتیاره تالار یې دخپلې ماشینگنې ججوری تش کړ . ددغه باړیوه گولۍ پر و . کوز نیچنکوف ولگېده اونوموړي یوازې له یوې کړیکې وروسته ساه ورکړه . ا .الکسییف خپل مړ ملگری په شا کړ او انگړ ته یې راوایسته . هلته یې نوموړی پر هغه زغره وال گاډي واچاوه چې ټپیان یې لېږدول . له هغې خوا یوه ټوپک والا پر ا . الکسییف ورغبرگ کړ چې « مور مړي نه وړو » ، خو ډگروال ورغبرگه کړه چې : زه ډاکتر یم . هغه مړ نه ، بلکې تر اوسه لا ژوندی دی » . په دې توگه یې د و . کوزنیچنکوف مړی روغتون ته ولېږداوه او ا .الکسییف دعملیاتو دمېز تر شا پخپله دنده بوخت شو.

د « مسلمان » کنډک دمړو شمېر ٥ تنه او دټپیانو دا یې ٣٥ تنه و . د ټپي شوو کسانو له ډلې نه ٢٣ تنه په کنډک کې پاتې شول او نور ټپیان دکنډک ډاکتر تورن ابراهیموف په جگړه ییز ماشین کې دکابل روغتون ته ولېږدول.

دځانگړو دندو پوځیانو کړۍ شپه دماڼۍ ساتنه کوله ، ځکه هغوی اندېښنه درلوده چې کېدې شي په کابل کې پرتې فرقې اوزغروالې لواوې پرهغوی یرغل وکړي ، خو داکار ځکه تر سره نه شو چې د افغاني اردو په ټولگیو کې شوروي پوځي سلاکارانو او دغه راز په کابل کې دهوايي دیسانت د پوځونو پلې شوو ټولگیو دوی دهغه تر سره کولو ته پرې نښودل . برسېره پردې

شوروي ښارګنې ترمخه لا د افغاني ځواکونو اداره له منځه وړې وه.

خوشپه ببرخي بې کړاوه هم نه وه او دټولو ماغزه ( اعصاب ) ښه پوره ستړي او ګډوډ وو. ځکه هغوی ټولو ح. امین ته د وفادارو پوځونو له خوا د برید تر سره کېدو ته لاره څارله. دغه راز هغوی ګومان کاوه چې ماڼۍ ته ګڼې يوه تر زمکې لاندې لار هم غځېدلې ده. په همدې ترځ کې يو ناڅاپه دلفت له کوټنۍ نه د څه کش پش غږ تر غوږه شو. دځانګړو دندو پوځيانو بې له ځنډه غبرګون وښود ه ، داسې چې هماغې خواته يې ور توپ کړاو پر دزو سربېره يې لاسي بمونه هم هغه لور ته وروغورځول . خو له هغه ځايه يوازې يوې ويرې اخيستې پيشو راټوپ کړاو بس.

په دې کې هيڅ شک نه شته چې پر دغې شپې ( دمرغومي پر ٦ مه ) زموږ يو شمېر هېوادوال پخپله دخپلو { پوځيانو} پر ګوليو مړه او ټپيان شول ، ځکه د « مسلمان » کنډک او کې جي بې د ځانګړو ډلو پوځيانو په تياره کې يو بل يوازې پر متو باندې د سپينو ټوټو او... کنځلو له لارې پېژندل . بله خبره داوه چې هغوی ټولو افغاني پوځي يونيفورم اغوستی وا و ډزې اودلاسي بمونو غورځول يې هم له لرې واټن نه تر سره کول چې داپخپله يو له خطره ډک کار و له بله پلوه چا دشپې په تياره کې او په داسې سرګردانه حالت کې دې ته کتل چې دچا پر لستوني سپينه پټۍ شته او څوک هغه نه لري؟

## ببرک کارمل د ا. د. ج. واکمنۍ ته « رسېږي »

پرمانۍ باندې تر يرغل وروسته کابل راډيو دافغانستان خلکو ته

دب. کارمل وينا چې پخوا ثبت شوې وه ، خپره کړه . په دغې وينا کې ډېر داسې ويونه او کليمې راغلې وو چې د دومره کلونو تر تېرېدو وروسته هم سړی نه شي کولی دهغو پر نيا ومنوالي شک پيدا کړي لکه :« نن د امين او دهغه

دانډیوالانو - دغو ځناورو (وحشي) جلادانو ،زورګیرو (غاصبانو) او زمونږ دلس ګونو زرو هیوادوالو . پلرونو ،میندو ،خویندو ، ورونو ،زامنو او لوڼو ، ماشومانو او سپین ږیرو د وژونکو دځورولو او شکنجو ماشین دړې وړې او راوڼړول شو . . . »

خو داتولې یوازې تشې خبرې وې . ځکه ترهغې نه وروسته کړنو وښوده چې نوی رژیم له پخوانی هغه نه څه توپیر نه لري.

پخپله ب .کارمل هغه وخت په باګرام کې دهوایي ډیسانت په غونډ کې و (چې قوماندان یې ډګرمن ن .اي .سیرډیوکوف و) او ساتنه یې دشوروي اتحاد دکې جي بې دنهمې پاسوالۍ په غاړه وه.

د دسمبر د ۲۷ مې پر ماښام یو . و . اندروپوف {باګرام ته ، ژ.} مخابره راوکړه او دهغې په ترڅ کې یې دځان او «پخپله» (شخصاً) ل .اي . برژنف له خوا ب . کارمل ته د انقلاب ددویم پړاو د بري او د ا . د.ج. دانقلابي شورا د مشر په توګه دنوموړي دټاکنې له امله مبارکي وویله.

ببرک سم له لاسه لارښوونه وکړه چې باید پلازمېنې ته یووړل شي. په لومړي سر کې هغوی غوښتل چې په ځرخکیو کې لاړ شي ، خو وروسته بیا د امنیتي دلیلونو له امله پرېکړه وشوه چې له ځمکني ترانسپورټ نه دې ګټه واخیستل شي. هماغه ووچې دجګړه ییزو ماشینونو یو کتار چې د ریو ټانکونو یې بدرګه اوساتنه کوله له باګرام نه د کابل پر خوا وخوځېده .

هو ،له همدغو جګړه ییزو ماشینونو نه په یوه کې دافغان دولت نوی مشر سپور وچې د و. شیرګین په مشرۍ د شوروي اتحاد د کې جي بې د «الفا» د ډلې د یوولسو تنو له خوا یې ساتنه کېده . سپېده دغه مهال وچې هغوی دلوی پوځي سلاکار استوګنځي ته راورسېدل.

په لومړي سر کې د ا . خ. د . ګ. عمومي منشي دځارندوی په ودانۍ کې تم شو ،خو هلته دومره او ږ پاتې نه شو . ورپسې یې دافغاني پوځونو په یوه

تولګي کې واړول او هلته يې يوه شپه او ورځ تېره کړه . تر هغې وروسته نوموړي يوه اونۍ کابل ته څېرمه په يوې ويلا ( چهلستون مانۍ ، ژ . ) کې واوسېده او د دغې ټولې مودې په ترځ کې د شوروي اتحاد د کې جي بي د کار کوونکو له خوا ساتل کېده .

د جنوري پر لومړي نېټه د ل . اي . برژنف او ا . ن . کاسګين له خوا [ کابل ته ] يو ټيلګرام راورسېد چې په هغه کې نوموړو [ ب . کارمل ] ته پر دولتي او ګوندي لوړو څوکيو د « ټاکل کېدو » له امله مبارکي ويلې وه .

[ بايد ووايم چې ] د ا . د . ج . د دفاع وزارت د مانۍ نيول هم [ تاج بيګ ] ته په ورته ډول ترسره شول . [ دلته هم ] کې جي بي والاوو او د ځانګړو دندو پوځيانو د هغې ساتونکي ډېر ژر له منځه يوړل ، خو پخپله لوی درستيز يعقوب ځان په يوې کوټې کې بنه ټينګ کړی و او د مخابرې له لارې يې د مرستې غوښتنه کوله . هغه تر هر څا له مخه د کوماندو پر ٤٤٤ مې لوا ډېر شمار کاوه . خو هېڅوک يې مرستې ته ور ونه رسېدل او چې شپه پخېده نو پرخپل ټينګاو باندې ټينګار ورته بې ګټې ښکاره شو او ځان يې د بريمنو نياو او زړه سوي ته وسپاره . خو هېڅا هم پر هغه زړه ونه سيزه . خبره داسې وه چې د يرغل کوونکو په ډله کې د پرچم په ډلې پورې تړلی يو افغان چې د ځينو معلوماتو له مخې د غه سړی عبدالوکيل و ، هم ګډون درلود او همده « د ګوند او دولت له نامه نه » « خاين » يعقوب ته د مرګ حکم ولوسته او ورپسې يې لوی درستيز پخپلو لاسونو د تومانچې په ډزو وواژه .

له بله پلوه د دسمبر د ۲۸ مې پر شپه يوه بله موټريزه فرقه تر هغه وخته په کشک کې پرته وه افغانستان ته راننوته ( د هغې قوماندان جنرال يو . و . شاتالين و ) .

د « مسلمان » کنډک ديوه افسر په وينا « آن د دسمبر د ۲۸ مې پر سهار هم دامين د رژيم د له منځه وړلو لپاره د عملياتو وروستۍ ډزې لا اورېدل کېدې ،

د ځانګړو اندو پوځیانو چې د لومړي ځل لپاره یې په افغانستان کې دنده تر سره کوله په دغو عملیاتو کې لوی او پرېکنده رول ولوباوه . خو { هغه وخت } دکندک یوه تن هم دا ګومان نه کاوه چې د تېرې شپې جګړه هسې یو پیل و او دوی به تر دې وروسته په سلګونو داسې عملیاتو کې چې له پرونیو هغو نه به ډېر خونړي وي ، ونډه اخلي او دهغوی وروستی سرتېری به ایله د نهه اتیایم کال په فبرورۍ کې د افغانستان له خاورې وځي ».

هو ، دا هسې یوه ساده اوواریزه ( نوبتي ) دولتي کودتا نه وه چې پر دغې شپې په کابل کې ترسره شوه او دهغې په ترڅ کې واک له خلقیانو نه پرچمیانو ته چې شوروي لوري یې ملاتړ کاوه ،ولېږدول شو ،بلکې په حقیقت کې دې کار په افغانستان کې دکورنۍ جګړې زیاتې چټکتیا او پراخېدو ته پکی وواهه او دهغې په پیل کولو سره یې هم د افغانستان او هم دشوروي اتحاد په تاریخ کې له غمه ډکه پاڼه پرانېسته .

خو هغو سرتېرو او افسرانو چې دمرغومي په پېښو کې یې ګډون درلود د زړه له کومي یې دخپلې دندې اوچارې پر نیاوړتیا باور درلود او فکر یې کاوه چې دوی ګنې د ح. امین له غدارۍ اوزور زیاتي نه د ځورولو په چاره کې له افغان خلکو سره مرسته کوي او کله چې خپله انترناسیونالیستي دنده پای ته ورسوي نو بېرته به خپلو کورونو ته ستنېږي . هغوی سیاست پوهان ، تاریخپوهان ، ټولنپوهان او پوهان نه وو چې دپېښو د پرمختیا لوری یې باید سنجولی او ارزولی وای . بلکې هغوی یوازې ساده سرتېري وو چې امر یې باید پر ځای کړی وای او بس.

دمرغومي د ۷ مې پر سهار دافغانستان د ټولنیزو رسنیو د ا. د.ج. دحکومت اعلامیه خپره کړه چې په هغې کې راغلي وو: د ا. د. ج. حکومت دافغانستان دبهرنیو دښمنانو د پرله پسې او پراخېدونکو لاسوهنو او لمسونو په پام کې نیولو او دثور انقلاب ،ځمکنۍ بشپړتیا ،ملي خپلواکۍ ... دساتنې

په موخه له شوروي اتحاد نه د پوځي مرستې په ګډون د چټکې سیاسي، اخلاقي او اقتصادي مرستې کلکه غوښتنه وکړه ... د شوروي اتحاد حکومت هم د افغاني لوري دغه غوښتنه ومنله ».

دځانګړو ډلو پوځیانو پر همدې سهار دګارډ د لوا پاتې کسان هم بې وسلې کړل او په دې توګه تر دغه وخته د افغانانو له ۱۷۰۰ تنو څخه زیات کسان اسیران شول. خو دغه کار هم بې زیانه ترسره نه شو. په دې مانا کله چې دګارډ د لوا د درستیز توب پر وداني سپینه جنډه پورته شوه، نو هغې ته له ور رسېدلې جګړه ییز ماشین نه د ټولې سیاسي مرستیال او دوه تنه شوروي سرتېري راکوز شول (هغوی دا کار په داسې حال کې وکړ چې ټولو ته ویل شوي وو چې له خپلو ګاډو نه باید ونه وځي).

په همدې وخت کې دهغې ختیځې وداني له بلې نه چې د ح.امین شخصي ساتونکي په کې اوسېدل دماشینګنې باړو چلېده او درې واړه یې له منځه یوړل.

په پای کې {زموږ پوځیانو} وژل شوي افغانان او دهغوی په ډله کې د ح.امین دوه کوچني زامن هم دتاج بېګ ماڼۍ (د ۱۹۸۰ کال تر جولای وروسته د ۴۰ لښکر قوماندانۍ اود رستیز توب همدلته ځای پر ځای شو) ته څېرمه په یوه ډله ییز ګور کې تر خاورو لاندې کړل. خو د ح. امین مړی چې په یوې غالۍ کې تاو کړای شوی و د کنډک د سیاسي مرستیال په مشرۍ دشپې له خوا همدلته، خو له نورو نه بېل ښخ کړی شو، پر ګور یې هېڅ نښه او شناختې ونه درول شوې او د کورنۍ ژوندي پاتې شوي غړي یې د ن. م. تره کي د کورنۍ پر ځای دڅرخي پله زندان ته ور واچول شول. آن د امین لور چې د ډزو په ترځ کې پر پښې لګېدلې وه هم دڅرخي پله د کوټې پر ساړه سمټي غولي کې بندیوانه شوه.

خو هغو کسانو ته چې دامین په امر یې خپلوان او نږدې کسان له منځه تللي وو، زړه سوی او رحم څه مانا نه درلوده، ځکه هغوی یوازې او یوازې

دغج تړي وو.

د «مسلمان» کنډک مشران او دسر سر کسان دمرغومي د اومې پر ماسپښين شوروي سفارت ته ورغلل. هغوی لومړی ډګر جنرال س. ک. موګا- میتوف او د کشف دلويې پاسوالۍ مشر استازي ته دترسره کړی دندې په باب رپوټ ورکړ. تر هغې وروسته ډګروال و. و. کوليسنيک دسفير له دفترنه په مسکو کې له ستر جنرال پ. اي. ايواشوتين سره وغږېده او هغه ته يې د عملياتو د پايلو په باب رپوټ ورکړ او ورسره جوخت يې نوموړي ته وړانديز وکړ چې کنډک دې له افغانستان نه بېرته چيرچيک ته ستون کړای شي. خود شوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دستر درستيز توب دکشف دلويې پاسوالۍ مشر (ايواشوتين) لاربښوونه وکړه چې په دې اړه دې دترکستان د پوځي سيمې له قوماندانۍ سره خبرې وشي.

بلې خواته د کې جي بي کارکوونکو هم پخپل وار لومړی په کابل کې خپلو مشرانو او ورپسې د ټليفون له لارې په مسکو کې يو. و اندروپوف ته خپل رپوټ ورکړ. (مسکو ته ترستنېدو وروسته نوموړو د «ريمينتګون» په نوم د ح. امين يو ټوپک چې دنښې ويشتنې نورو اړونده توکي او شيان يې هم درلودل او دوی دغنيمت (؟) په توګه ترلاسه کړی و {اندروپوف} ته ډالۍ کړ).

خو نېږدې وچې د «توپان - ۳۳۳» عملياتو ټول مشران پر همدې ماښام له منځه يووړل شي، په دې توګه چې کنډک ته په حکومتي «مرسدس بنز» موټر کې دراستنېدو پر وخت هغوی د ا.د.ج.د وسله وال پوځ ستر درستيز توب ته څېرمه دخپلو ديسانت چيانو دډزو موجه وګرځېدل (که څه هم چې دهغوی تر ورتګ وړاندې په دې اړه تورنجنرال ن. ن. ګوسکوف ته خبر ورکړل شوی و).

له ډزو سره سم موټر ځای پرځای ودرېدو او ليګ شويغ ځان تري ګوزار او دسړک پر څنډه بوټو کې يې پټ کړ. په همدې ترځ کې کنځلې اوشور ماشور تر غوږ شوا او په داسې حال کې چې نوموړي ديسانتچي تر ګرېوانه نيولې و

پټيکه يې پرې وکړه « تەلوده يې کەخه ، نه ګورې چې پر خپلو ډزې کوې ؟ »
خو د ديسانت بريدمن لەکينې او ګيلې نەپەډک غږ ورغبرګه کړه : « موږ دلتەوينې تويو اوتاسو پەښکلو موټرو کې چکرې وهئ ! »
هو ، کەګولۍ دموټر دبانټ او ماشين پرځای لېرڅه پورته لګېدلې وای ، نو ښايي چې دوی ټول هسې داملوکو پەټول کې تللي وای....
موده پس د شوروي اتحاد د سترې ( عالي ) شورا د مشر تابه ( ريسه هيات ) ديوه پټ فرمان لەمخې دکې جي بي دکار کوونکو يوەلويەډله ( د ٤٠٠ تنو پەشا وخوا کې کسان ) { پەدغو عملياتو کې دونډې اخيستنې لەامله } پە نښانونو او مډالونو و وياړل شوەاو ډګروال ګ. اي . بويارينوف تەد ورور هېواد افغانستان لەخلکو سره دانتر ناسيوناليستي مرستې دسرتەرسولو پەترڅ کې دمېړانې اواتلولۍ دښودلو لەامله پە مړينې دشوروي اتحاد داتل لقب ورکړ شو . ډګروال و . و . کوليسنيک او ډګرمن اې . ګ . کوزلوف ( ١ ) هم دورته لقب پەورکولوسره ستايل شول او ډګرمن او .او . شويخ تەد سور بيرغ نښان ورکړ شو. د « مسلمان » کنډک د ٣٠٠ تنو پە شاوخوا کې سرتېرو او افسرانو تەهم بېل بېل انعامونەورکړل شول چې لەهغې ډلې نەدخالبايف ،ستاروف او شريپوف پەګډون اوەتنه دلېنن پرنښان ووياړل شول او د ډېرشو تنو پەشاو-خوا کې دسور بيرغ نښان تر لاسەکړ . { رښتيا خبره خودادە } چې دوی ټولو د امر دپلي کولو له امله خپل ژوند پەخطر کې اچولی و ( آن تردې چې يو شمېر يې مړەاو ځينې نوريې ټپيان هم شول ). ښه ،دا بېخي بلەخبره دەچې داټول کارونه ولې او دڅه لپاره و شول؟ خو سرتېري تل ديوه چا پە لويەلويەکې د

(١)- ډګرمن اې . ګ. کوزلوف دشوروي اتحاد د هېوادنۍ سترې جګړې ګډون کوونکی او ترهغې د را وروسته کلونو د ډېرو نورو تودو - سړو او نښتو ليدونکی او برخه وال و . دچيلي پەکودتا کې هم لەس . النديي سره اوږه پەاوږه جنګېده . نوموړی دمرغومي پر ٦ مەدتاج بېګ پر ماڼۍ د يرغل پەترڅ کې پر پښه ولګېده او ټپي شو.

«پلي» (پياده) دنده لري او سره له دې چې دغوی پخپله هېڅکله هم جګړه نه پيلوي، خو همدوی دي چې دهغې په ترڅ کې ځانونه او سرونه بندي.

د يادونې وړ ده چې ډګروال و. پ. کوزنيچنکوف هم «دامين پرمانۍ ديرغل له امله» دانترناسيوناليست سرتېري (؟) په توګه په مړيني دسوربېرغ پرنښان وياړل شو. ښايي د ډېرو لږو کسانو به په ياد وي چې ديرغل پروخت هغه او ډګروال ا. الکسييف دخپلې طبي دندې په سرته رسولو سره حفيظ الله امين «بيا راژوندی کړ». پخپله ا. الکسييف ته د ۱۹۸۰ کال په اپريل کې له کابل نه هېواد ته دستنېدو پروخت يوستاينليک ورکړ شو.

د تاج بېګ مانۍ دساتنې دنده ډېرژر يانې د مرغومي پر ۸ مه دځانګړو دندو له پوځيانو نه {شوروي} ديسانت چيانو ته ولېږدول شوه او له {زېږديز} نوي کال نه وروسته سم له لاسه د ترکستان د پوځي سيمې دقوماندان ډګر جنرال يو. پ. ماکسيموف له خوا مسکو ته يو شفر ټلګرام واستول شو چې په هغه کې دجګړه ييزې دندې دسر ته رسېدلو په باب د رپوټ په ترڅ کې له افغانستان نه «مسلمان» کنډک د بېرته ستنېدلو اجازه هم غوښتل شوې وه. غوښتنه بې له ځنډه ومنل شوه او چې دفبرورۍ ۹ مه رارسېده نو دکنډک ټول پرسونل د هوايي پوځي ترانسپورټ په الوتکو کې خپل هېواد ته ولېږدول شو. خو دکنډک جګړه ييز تخنيک ۴۰ اردو ته پرېښودل شو.

هېواد ته تر الوتلو وړاندې ټول سرتېري او افسران وپلټل شول او د هغوی لاسته ورغلې توري، تومانچې، يوه راډيو او ټيپ ځانګړې ځانګې ته وسپارل شول. دغه پوځيان آن په الوتلو کې هم ناکراره و او ځينو يې له دې نه اندېښنه درلوده چې کېدای شي خپلې بم غورځوونکې الوتکې يې وولي، خو هرڅه په خير تېر شول.

له يوې شپې وړځې وروسته کنډک بېرته په چيرچيک کې خپل همېشني استوګنځي ته ستون شو، خو پر ۱۹۸۱ کال {دهغوی پرځای} دځانګړو دندو

نور دوه کنډکونه افغانستان ته ولېږل شول چې یوه ته په پلخمري کې د تېلو دنل لیکې د ساتنې دنده او بل ته په شبرغان کې د تېلو د را ایستلو د سیمې ساتنه ور په غاړه شوه. په راوروسته کلونو کې د ځانګړو ډلو پوځیانو د هغو کاروانونو پرخلاف جګړه پرمخ بیوله چې مجاهدینو ته به یې وسلې او مهمات لېږدول.

دشوروي اتحاد د دفاع وزیر او دشوروي اتحاد مارشال د .ف. اوستینوف {تر یرغل څو ورځې وروسته یانې } دجنوري د ۱۲ مې پر سهار ډګروال و. کولیسنیک ځانته ور وغوښت او نوموړي دڅېلو دوه نیم ساعته خبرو په ترځ کې هغه ته په کابل کې د تاج بېګ پر ماڼۍ د یرغل دځرنګوالي په باب اورد او بشپړ رپوټ ورکړ. دخبرو اترو په پای کې وزیر له ډګروال نه دمننې په ترځ کې لاربښوونه وکړه چې نوموړی دې د ستر درستیز پوځي اکاډیمې ته د زده کړې لپاره ولېږل شي.

# د شوروي اتحاد او امریکا تر منځ

# داړیکو ترینګلتیا

افغانستان ته دشوروي پوځونو ترننوتلو سم لاسي وروسته دامریکا ولس مشر کارتر برژنف ته په خپل پیغام کې دغه کړنه په کلکه وغندله او شوروي اتحاد ته یې ددغه ګام د ناوړه عواقبو په باب اخطار وکړ. خو دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند مشرانو په دې اړه داسې ځوابیه پیغام ورولېږه:

**لاسوند (بیخي پټ)**

**ځانګړې دوسیه**

**لمبر پ ۲۲۰/۱۷۷**

ملګرو برژنف، کاسګین، اندروپوف، ګرومیکو، سوسلوف، اوستینوف، پوناماریوف او زمیاتین ته

دشوروي اتحاد کمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د دسمبر د ۲۹ مې نېټې دغونډې له ۱۷۷ لمبر پروټوکول نه را اخیستنه.

دافغانستان د مسالې په باب د امریکا دولس مشر کارتر د پیغام په اړه د مخامخ مزي (ټیلیفون ،ژ.) له لارې {زمور} ځواب.

ددې مسالې په باب دې دملګري برژنف ل. اي. دځواب اوملیک ومنل شي (او ملیک مل دی).

ځواب دې دمسکو - واشنګټن دمخامخ مزي له لارې واستول شي.

دمرکزي کمېټې منشي ل. برژنف

**لاسوند**

د ۱۷۷ لمبر پروتوکول د ۲۲۰ توکي په باب

بېخي پټ

ښاغلی ولس مشر!

ستاسې د دسمبر د ۲۹ نېټې د پیغام په ځواب کې دلاندې ټکو یادونه اړینه بولم د ا.د.ج. کې دروانو حالاتو په باب ستاسو له ارزونې سره په هېڅ ډول نه شم کولی خو ښاوی وکړم. په مسکو کې موتر مخه لا ستاسې دسفیر له لارې دځانګړي باور له مخې امریکایي لوري او پخپله تاسې ته ددغه هېواد دربښتینو حالاتو اودغه راز هغو لاملونو په باب پر فکتیونو ولاړې څرګندونې وړاندې کړې چې مور یې دشوروي لږ شمېره پوځي ټولګیو د لېږلو په باب دافغانستان حکومت غوښتنې ته د مثبت ځواب ورکولو ته اړ کړو.

ستاسو په پیغام کې هغه هېواد ته زمور د پوځونو دلېږلو په باب د افغانستان حکومت دغوښتنې شته والي ته د شک په سترګه دکتلو هڅه دحیرانتیا وړ ده. اړیم یادونه وکړم چې دچا له خوا د داشان غوښتنې منل یا نه منل او له هغې سره خو ښاوی کول یا نه کول د پېښو د ربښتېنې بهیر څرګندونه نه کوي، خو بیا هم د پېښو ربښتینی بهیر په دې ډول دی:

د افغانستان حکومت د نړدې دوو کلونو په ترخ کې له موږ نه په وار وار دا شان غوښتنه کوله . د یادونې وړ ده چې دروان کال د دسمبر پر ۲۶ مه هم له موږ نه ورته غوښتنه وشوه . ( هو ، ) له دې خبرې نه هم شوروي اتحاد او هم افغاني لوري چې له موږ نه یې دغه ډول غوښتنې کړې دي خبر دي.

یو ځل بیا ټینګار کوم چې افغانستان ته دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګیو لېږل یوه موخه لري او هغه د بهرني تېري دتمبولو په کار کې چې له اوږدې مودې نه را په دېخوا روان دی او اوس یې لا ډېره پراختیا موندلې مرسته او لاسنیوی دی.

ستاسو په لیک کې دغه یادونه هم بیخي دمنلو وړ نه ده او له واقعیت سره سمون نه لري چې شوروي اتحاد ګنې دافغانستان دحکومت دنسکورولو هڅه کړې ده . اړیم په غوڅه توګه یادونه وکړم چې په افغاني مشر تابه کې بدلون پخپله دافغانانو له خوا منځته راغلی او دا یوازې او یوازې دهغوی خپل منځي کار دی . په دې باب { کولی شی چې } د افغانستان له حکومت نه پوښتنه وکړئ.

ستاسو په لیک کې د افغانستان دپخوانیو مشرانو دکورنیو دبرخلیک په باب یادې شوې خبرې هم له ربښتیا نه ډېر واټن لري. هغه مالومات چې موږ یې په واک کې لرو تاسو ته د در رسېدلو رپوټونو دناسموالی څرګندونه کوي.

دغه راز تاسو ته باید په ډاګه څرګنده کړم چې شوروي پوځي ټولګیو د افغاني لوري پر خلاف هېڅ ډول پوځي عملیات نه دي تر سره کړي او ښکاره خبره ده چې موږ د دغسې یوه کار نیت هم نه لرو.

تاسو پخپل لیک کې پرُموږ دا پړه هم را اچولې چې افغانستان ته د پوځي ټولګیو تر لېږلو وړاندې موباید دافغانستان دچارو په باب دامریکا دمتحدو ایالتونو له حکومت سره سلامشوره کړې وای . اجازه راکړې وپوښتم کله چې تاسو د ایران سمندري غاړو ته ښېرمه او د فارس په خلیج کې خپل سمندري

ځواکونه په پراخه توګه ځای پرځای کول او په نورو ډېرو ورته حالاتو کې چې لږ تر لږه موږ ته دخبر راکولو غوښتنه یې کوله نو آیا له موږ سره مو سلامشوره وکړه ؟

ستاسو دپیغام دمتن او روحیې په پام کې نیولو سره اړینه بولم یوځل بیا ځرګنده کړم چې دافغانستان دحکومت غوښتنه او دشوروي اتحاد له خوا د هغې پلي کېدل په بشپړه توګه دشوروي اتحاد او افغانستان یوه خپل منځي خبره ده چې خپل دوه اړخیز اړیکي پخپله خوښه سمبالوي ، او ښکاره ده چې هېڅ ته په دغو دوه اړخیزو اړیکو کې له بهر نه د لاسوهنې اجازه نه شي ورکولی . دوی دواړه دملګرو ملتونو سازمان دبل هر غړي هېواد په څېر د ملګرو ملتونو سازمان د تګلارې ( اساسنامې ) د ۵۱ مادې له مخې چې شوروي اتحاد او دامریکا متحدو ایالتونو پخپله جوړه کړې ده نه یوازې د یوه زرې ( انفرادي ) ، بلکې ډله ییزې دفاع حق هم لري . دغه حق دملګرو ملتونو سازمان دټولو غړو دولتونو له خوا په رسمیت پېژندل شوی دی. له همدې امله ځرګنده ده چې ستاسې دغه ادعا چې په افغانستان کې زموږ کړنې ګواکې سولې ته یو ګواښ دی هېڅ بنسټ نه لري.

ددې ټولو ټکو په رڼا کې ستاسو د پیغام دځینو برخو نا منځلارې ژبه (لهجه) هم دسړي پام ځانته وراړوي. دا دځه لپاره ؟ ښه به نه وای که تاسو د سولې د لوړو ګټو او تر هر څه نه مخکې زموږ د دواړو زبرځواکونو تر منځ د دوه اړخیزو اړیکو په پام کې نیولو سره دحالاتو جاج لږ په سړه سینه اخیستی وای؟

هغه څه چې ستاسو په « مشورې » پورې اړه لري، نو لکه چې مخکې مو هم تاسو ته خبر درکړی دادی یو ځل بیا تکراروم ، هرکله چې هغه لاملونه چې افغانستان یې له شوروي اتحاد نه [ دمرستې] غوښتنې ته اړ کړ له منځه لاړ شي ، موږ به هم شوروي پوځي ټولګي په بشپړه توګه دافغانستان له خاوري نه

راوباسو.

او زموږ سلاتاسو ته داده: امریکایي لوري ته په کار ده چې له بهرنه دافغانستان پر خاوره د وسله والو تېریو په بندولو کې خپله ونډه ترسره کړي.

زه گومان نه کوم چې د شوروي اتحاد او امریکا دمتحدو ایالتونو ترمنځ دلا تینگو او گټورو اړیکو د منځته راتلو لپاره ټوله خواري به گټې هسې پر اوبو لاهو شي، مگر داچې امریکایي لوری پخپله دهغې غوښتونکی وي. خو موږ دا کار نه غواړو. فکر کوم چې دا به پخپله دامریکا دمتحدو ایالتونو په گټه هم نه وي. زموږ باور دادی چې دشوروي اتحاد او امریکا ترمنځ داړیکو ځرنگوالی دوه اړخیزه خبره ده. موږ فکر کوو چې دغه اړیکي باید دځینو وړو پېښو او لاملونو تر اغېزې لاندې زیانمن نه شي.

دنړیوال او اروپایي سیاست دیو لړ مسالو پر سر دلید له توپیرونو (اختلافونو) سره سره چې موږ ټول پرې ښه پوهېږو، شوروي اتحاد ددې پلوی دی چې { تر دې وروسته دې هم } ټولې چارې دهغو تړونونو او لاسوندونو پر روحیه ترسره شي چې زموږ هېوادونو دسولې، برابرۍ، همکارۍ او نړیوال امنیت په گټه لاسلیک کړي دي.

ل. برژنف، د ۱۹۷۹ کال د دسمبر ۲۹ مه

لکه چې له پورتني لیک نه په ډاگه کېږي په هغه کې دح. امین په رانسکورولو کې دشوروي اتحاد دلاس نه لرو (؟) په باب ددغه هېواد دمشرانو رسمي دریځ ځرگند او دخپلواک هېواد په چارو کې لاسوهنه رد شوې ده. ښایي هغوی به داده وو چې داهرڅه به گټې پټ وساتلای شي، خوپټې چارې هم یو وخت نه، یو وخت هرو مرو رابرسېره کېږي. له بله پلوه ددغه پیغام ژبه په ډاگه کوي چې هغه مهال دشوروي اتحاد او امریکا ترمنځ مخامختیا او اړیکي په کومه کچه کې وو. هو، هغه وخت هڅه کېده چې له امریکایانو سره « په برابره کچه » چلندو شي. { خوله دې ټولو تکو سره سره }

د امریکا متحدو ایالتونو دخپل هېواد دامنیت شورا په غونډه کې افغانستان ته دشوروي پوځونو دورننو تلو په اړه ددغو گامونو داوچتولو پرېکړه وکړه :

۱- دملگرو ملتونو سازمان دامنیت په شورا کې دې پر خپلو اک هېواد (افغانستان ،ژ.) باندې دشوروي اتحاد دنه اعلان شوي څرگند تېري دغندلو په باب غوښتنه وړاندې شي.

۲- ترهغې چې دغه تېرې نه وي بند شوی په کانگرس کې دې د سالت - ۲ تړون له څېړلو نه ډډه وشي.

۳- دلنډ وخت لپاره دې تولی دوه اړخیزې خبرې اترې ، سرمشریزې او دپرمختللې تکنالوژۍ ورکړه کنگل کړای شي او آن دغلو دانو پر پلورلو دې هم بندیز ولگول شي.

٤- شوروي اتحاد ته دامریکا او دهغې داروپایي انډیوالانو په پورونو کې دې کمښت راوستل شي.

٥- دامریکا متحده ایالتونه دې دافغانستان دنوي حکومت له په رسمیت پېژندلو نه ډډه وکړي او وروسته دې دناتو نور غړي هېوادونه هم ورته دریځ خپل کړي.

٦- له پاکستان سره دې دهغه د دفاعي شونتیاوو ( امکاناتو ) د پیاوړ تیا لپاره بېړنۍ مرسته ترسره شي.

۷- دسومالیا او مصر له حکومتونو سره دې منځني ختیز یا دفارس خلیج سیمې ته دپوځي گواښ دمخامخ کېدو په حال کې دامریکا د وسله والو پوځونو لخوا د هغو له ځینو اډونه دگټې اخیستنې په باب خوښاوي لیکونه ( موافقه لیکونه) لاسلیک شي.

۸- د شوروي له خوا پرجوړو شوو ( کېدی شي مصري) ټانک ضد او الوتکو ضد توغندیو باندې په افغانستان کې دمسلمانو یاغیانو د سمبالولپاره دې پټه کړنلاره ومنل شي.

۹- چین دې وهڅول شي چې له یاغیانو سره د درنو ماشینګنو ،هاوانونو او پلي ضد او ټانک ضد ماینونو په برخه کې مرسته وکړي ».

دشوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت ،کې جي بې او دشوروي اتحاد دوسله والو پوځونو دستر درستيز توب دکشف دلويې پاسوالی د رپوټونو له مخې امریکایانو د ۱۹۸۰ یم کال په جنوري کې دغه بنستیزې موخې په مخکې ایښې وې :

۱- داسلامي هېوادونو مشرانو او وګړو ته یې داسې ښووله چې دامریکا متحده ایالتونه نه ،بلکې شوروي اتحاد « د اسلام مرګوني دښمن دی » او په دې توګه یې هڅه کوله چې په « دریيمې نړۍ » او تر هرڅه وړاندې په عربي ختیځ کې دشوروي اتحاد دریځونه کمزوري کړي. له دې سره جوخت امریکا کوښښ کاوه چې په اسلامي هېوادونو کې « پر افغانستان باندې دشوروي تېري » پرخلاف هڅې او په دغو هېوادونو کې دشوروي اتحاد د رسمي استازیتوبونو ( نمایندګیو ) او دهغو د کارکوونکو پر خلاف له دښمنۍ ډک چلندونه راوپاروي.

۲- د افغانستان په پېښو کې دشوروي اتحاد درول لهامله ددغه هېواد دنړیوالي غندنې دیوې ننداريز دوړاندې کېدو لپاره دې په ناتو کې دامریکا پر انډیوالانو او جاپان باندې زور واچول شي.

د {امریکا} د اداري په اند داغندنه باید یوازې په تشو خبرو او اعلامیو کې راچاپېره نهوي ،بلکې په هغې کې باید د اقتصادي بندیزونو په ګډون په شوروي اتحاد او افغانستان کې دلویدیځ په دیپلوماتیکو استازیتوبونو کې دکارکوونکو دشمېر راکمول او په مسکو کې د المپیک لوبو شلون ( بایکاټ) هم په پام کې نیول شوي وي.

۳- دافغانستان په پېښو کې د شوروي اتحاد د رول د «څېړلو » ( تحقیق) او پر « دودې په حال کې خپلواک هېواد باندې د شوروي اتحاد د تېري»

دغندلو او دغه راز په نړیواله کچه دشوروي اتحاد د گوښه کولو ( تجربه ) په موخه دې دملگرو ملتونو سازمان دامنیت په شورا کې « دافغانستان مسالې » دڅېړلو لپاره زمېنه برابره شي. دامریکا په نیت په دې اړه پاکستان چې ملگرو ملتونو ته باید « دشوروي اتحاد له تېري نه د ډکو کړنو په باب رسمي شکایت وکړي » کولی شي ځانگړی رول ولوبوي.

دامریکا د اداري شوروي ضد چلند دامریکا دسنا د ترټولو ځان ساتو (محافظه کارو) استازو له ملاتړ نه برخمن و .د ساري په توگه سناتور هایاکاوه له کار تر نه وغوښتل چې د سالت - ۲ تړون راتلونکې څېړنه دې په ټپه ودروي ،دشوروي - امریکا پرتولو اړیکو دې بیا له سره کتنه وکړي او پر شوروي اتحاد دې دغنمو پر پلورلو باندې بندیز ولگوي .{ او دا له دې امله چې } پر افغانستان د شوروي پوځونو ورننوتل او له واک نه د ح. امین لرې کول په لویدیځ کې سم له لاسه د نړیوال تروریزم کړنې وبلل شوې.

شوروي مشرتابه هڅه کوله چې په ملگرو ملتونو کې د دغو کړنو دڅېړنې مخه ونیسي. له همدې امله په ملگرو ملتونو کې دشوروي اتحاد دایمي استازي او .ا. ترویانوفسکي ته لارښوونه شوې وه چې :« که چېرې څوک هڅه وکړي چې دافغانستان په اړه زمونږ دکړنو په باب دملگرو ملتونو دامنیت په شورا کې کومه خبره راپورته کړي ، نو په کلکه دې کوښښ وشي چې دملگرو ملتونو سازمان دامنیت شورا په کړنلیک ( اجندا ) کې دغې خبرې ته ځای ورنه کړای شي. ټینگار وکړئ چې دا کار دشوروي اتحاد او افغانستان پخپل منځي اړیکو پورې چې هغوی یې پخپله سمبالوي اړه لري ،او دغه راز د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت دملگرو ملتونو سازمان د منشور د ۵۱ مې مادې له مخې په نړیواله توگه منل شوی حق لري چې دتېري دټمبولو (دفع کولو) لپاره له شوروي اتحاد نه دمرستې اولاسنیوي غوښتنه وکړي او شوروي اتحاد دغه شان مرسته او لاسنیوی ترسره کړي ... »

خو دملګرو ملتونو د امنیت شورا غونډه چې « دافغانستان مسالې » ته ځانګړې شوې وه { لهدې ټولو هڅو سره سره } جوړه شوه.

دا. د.ج. دبهرنیو چارو وزیر شاه محمد دوست نیویارک ته تر روانیدو مخکې لومړی مسکو ته سفر وکړ او هلته یې د ۱۹۸۰ کال دجنوري پر ٤ مه د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو لهوزیر ا.ا. ګرومیکو سره اوږدې خبرې اترې وکړې چې دهغو په ترڅ کې نوموړي ته دملګرو ملتونو د امنیت شورا په کېدونکې غونډه کې دهغه دوینا د څرنګوالي په باب اړونده سلامشورې ورکړ شوې. له وراندې شوو هیلو سره سم و. س. سفرانچوک هم په ځانګړې توګه له ش.م. دوست سره دسلاکارې (مشورتي) مرستې د ترسره کولو لپاره نیویارک ته سفروکړ.

خو دملګرو ملتونو دعمومي اسامبلې دګډون کوونکو هېوادونو اکثریت د ۱۹۸۰ کال دجنوري پر ۱٤ مه دشوروي اتحاد کړنې وغندلې او له افغانستان نه یې زموږ دټولګیو د وتلو غوښتنه وکړه ( ۱۰٤ هېوادونو دپوځونو دلېږلو دغندنې په پلوی لاسونه جګ کړل ، ۱۸ هېوادونه مخالف او ۱۸ نور بې پرې پاتې شول ) . « د افغانستان مساله » په راتلونکو کلونو کې هم په پر له پسې توګه دملګرو ملتونو په سازمان کې راپور ته کېده او که څه هم چې په افغانستان کې دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګیو دشته والي دمخالفینو شمېر به کله ناکله ښکته پورته کېده ، خو هغه هېڅکله هم له ۱۰۰ نه راښکته نه شو.

# شوروي پوځونه «دنوي رژيم» د

# ضامن په توګه

دبريد جنرال يو. و. توخارينوف په مشرۍ شوروي ټولګيو د ۱۹۸۰ کال دجنورۍ په ترڅ کې د هېواد مهم ځايونه ترخپلې ولکې لاندې راوستل او دافغاني اردو په مرسته او ملتيايي داداري مرکزونو، مهمو ژوندنيو (حياتي) موسسو، هوايي ډګرونو او د حيرتان کابل، کشک - هرات - کندهار، کابل - جلال آباد، اوپلخمري - کندز - فيض آباد د لويو لارو ساته پر غاړه واخيسته. سربېره پردې دشوروي - افغان همکارۍ دموسسو، چې شوروي ملکي سلاکارانو او کار پوهانو کار او استوګنه په کې کوله داډ منه ساتنه يې هم سمبال کړه (لکه دجرقدق او شبرغان دغاز ايستلو موسسې، دنغلو، سروبي، پلخمري او کابل د برېښنا بندونه، دمزار شريف فابريکه او د سالنګ تونل).

په ټوليزه توګه شوروي پوځونه {دافغانستان} د ۲۱ ولايتونو، ولسواليو اوعلاقداريو دمرکزونو او نهو هوايي ډګرونو (کابل، شينډنډ، کندز، باګرام، کندهار، جلال آباد، ګرديز، هرات اوفيض آباد) ساتنه په غاړه درلوده. په همدې ترڅ کې شوروي مشرتابه په افغانستان کې دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګيو دسمبالولو لپاره يو لړ نورې پرېکړې هم وکړې.

**لاسوند**

**بېخي پټ**

**ځانګړې دوسیه**

لمبر پ ٦٤/ ١٨٠

ملګرو برژنف ،کاسګین ،اندروپوف ،ګرومیکو ،سوسلوف ،تیخونوف، اوستینوف ،ساوینکین ، پیګوف ،سمیر تیوکوف ته .

دشوروي اتحاد د کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د ۱۹۸۰ کال د جنوري د ۲۳ مې نېټې د غونډې له ۱۸۰ لمبر پروتوکول نه را اخیستنه .

دلنډ وخت لپاره د ا.د.ج. کې مېشتو شوروي پوځونو ته دپوځیانو ، کارګرانو او کارکوونکو دلېږلو دځرنګوالي په باب

دلنډ وخت لپاره د ا.د.ج. کې میشتو شوروي پوځونو ته د دفاع وزارت له خوا په خپلواکه توګه دپوځیانو ، کارګرانو او کارکوونکو دلېږلو دواک اوپه بهر کې دمېشتو شوروي پوځونو له دندلیکونو ( مقرراتو ) سره سم هغوی ته دبهرنیو پاسپورټونو دورکولو په باب وړاندیز دې ومنل شي.

دمرکزي کمېټې منشي ل . برژنف

**لاسوند**

**بېخي پټ**

**ځانګړې دوسیه**

لمبر پ ۲/ ۱۸۱

ملګرو برژنف ،کاسګین ،اندروپوف ،ګرومیکو ،سوسلوف ،تیخونوف، اوستینوف ، پوناماریوف ،ساوینکین ،سمیرتیوکوف ته .

دشوروي اتحاد کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د ۱۹۸۰ کال د جنوري د ۲۵ مې نېټې دغونډې له ۱۸۱ لمبر پروتوکول نه را اخیستنه.

دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد دحکومت او دافغانستان

دیموکراتیک جمهوریت دحکومت ترمنځ د ا.د.ج. په‌خاوره کې دلنډ وخت لپاره دشوروي پوځونو دمېشت کېدو د شرطونو په‌اړه دخبرو اترو دترسره کولو په‌باب:

۱- دافغانستان جمهوریت په‌خاوره کې دلنډ مهال لپاره دشوروي پوځونو د مېشت کېدو دشرطونو په‌اړه‌دشوروي سیوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد د حکومت او د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت حکومت ترمنځ دتړون دلاسلیک کېدلو په‌باب دخبرو اترو د ترسره کولو لپاره دې‌دشوروي اتحاد دبهرنیو چارو وزارت ،د شوروي اتحاد د دفاع وزارت او کې جي بي وړاندیز ومنل شي.

۲- دتړون د اوملیک ( مسودې ) متن دې‌دیوه‌بنسټ په‌توګه ومنل شي (لومړۍ ملپانه).

۳- دشوروي اتحاد دبهرنیو چارو وزارت ته‌دې‌سپارښتنه وشي‌چې له افغاني لوري‌سره‌د یادشوي تړون اوملیک ګډ ( شریک) کړي. اجازه دې ورکړه شي چې دتړون په‌متن کې د ډېر اهمیت نه‌درلودونکي یو لړ زیاتوني او بدلوتونه راولي.

دتړون دلاسلیک کېدو وخت اوځرنګوالی دې‌په‌جلا توګه وټاکل شي.

٤- په‌کابل کې شوروي سفیر ته دلارښوونو اوملیک دې‌ومنل شي (دویمه ملپانه).

دمرکزي کمېټې منشي ل. برژنف

په‌تړون کې ټاکل شوې‌وه‌چې د ا. د. ج. په‌خاوره کې د شوروي پوځونو د پالنې ټول لګښت شوروي اتحاد پخپله غاړه اخلي ( دریمه‌ماده ) . دغه‌راز له‌پورتني تړون سره‌یو بل پټ پروتوکول‌هم مل و چې په‌هغه کې په‌افغانستان کې د شوروي لږ شمېر پوځي ټولګیو دندې او د استوګنې هغه‌سیمې او ګارنیزیونونه په‌ګوته شوې‌وو چې افغاني لوري شوروي پوځونو ته‌په‌کې

خوبځايونه (كاغوشونه) ،دفترونه او يولړ نورې ودانۍ او دغه راز هوايي ډگرونه او زېرمتونونه ځانگړي كړي وو ،خو گڼ شمېر خوړنځي، گارنيزيونونه، خوبځايونه ،روغتيايي مركزونه ،زېرمتونونه ، روغتونونه او د سابو ساتلو كندوگان شوروي سرتېرو پخپله ځانته جوړ كړل.

په دې ترڅ كې په كابل كې شوروي سفير ته هم اړونده لارښوونې وشوې.

**لاسوند**

د ۱۸۱ لمبر پروتوكول د ۲ توكي په اړه

**بېخي پټ**

**دويمه ملپانه**

كابل ،شوروي سفير ته

ببرک كارمل ته ورشئ او زموږ پر سپارښتنه باندې پرتكيې سره ورته ووايې: موږ په دې اړه چې د ا.د.ج دشاوخوا سياسي حالات به ترېوه وخته ستونزمن او ترينگلي وي دافغاني دوستانو له ارزونو سره په بشپړه توگه همغاړي يو.

نړيوال امپرياليزم او ورستياپالنې (ارتجاع) دچين له لوړتيا غوښتونكو (هژمونيستانو) سره يوځاى د ا. د.ج. په چارو كې د پوځي لاسوهنو د اړخونو د پراخولو په موخه د خپلو هڅو د يولاس كولو لپاره غموړونه سره نږدې كړې دي. پانگوالو تبليغاتو {هم} په دې وروستيو وختو كې خپلې افغاني ضد او شوروي ضد له دښمنۍ ډكې منډې تروړې (كمپاين) لا پسې پياوړې كړي چې موخه يې دشوروي پوځونو دشته والي دتومنې (ماهيت) بل شان ښودل دي.

له همدې امله گټوره به واى كه چېرې د ا. د.ج. په خاوره كې دلنډ وخت لپاره دشوروي پوځونو د مېشتېدو د شرطونو په باب دشوروي اتحاد او ا. د.ج. د حكومتونو تر منځ يوتړون لاسليک شوى واى او په هغه كې د دغه كار لنډ مهالتوب په گوته شوى او دغه راز پر دې ټكي ټينگار شوى واى چې شوروي پوځونه له بهر نه دتېري دټمبولو لپاره دافغانستان حكومت په غوښتنه د ا د.ج.

خاورې ته راغلي دي ، هغوی د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او دافغانستان کورني قانونونه به پر ځان مني (مراعاتوي) . په تړون کې همدا راز کېدای شي چې په افغانستان کې دلنډ مهال لپاره دشوروي پوځونو د مېشتېدو دچارو لپاره د دواړو خواو دفوق العاده استازو ټاکل ، دپوځي ټولګیو ځای پر ځای کېدل ، دهغوی مالي سمبالتیا ، پالنه ، حقوقي اړخونه او یو لړنور ټکي هم په پام کې ونیول شي. که چېرې ب . کارمل زموږ له وړاندیز سره خوښاوی وکړ ، نو ورته وواییٔ چې هغه کولی شي د تړون اوملیک د کتلو لپاره دا . د . ج. دبهرنیو چارو د وزیر یا بل هر چا په لاس چې ب . کارمل یې وغواړي ، راولېږي.

د {لاربښوونې} د ترسره کېدو په باب تلګرافي خبر راکړئ ».

{باید ووایم چې افغانستان ته زموږ } دپوځي کتارونو د لاریون په ترڅ کې په تېره د خلکو داستوګنې په سیمو کې د تم کېدو پر وخت به هر چېرې پخپل سر دخوښۍ غونډې جوړېدلې او د ا . د . ج. د اردو سرتېرو او دانقلاب ساتنې دکمېټو غړو په ځانګړې توګه له شوروي اردو سره له دوستۍ نه ډک چلند کاوه.

ربوټ

دتاشقرغان خلکو چې ښځې اوماشومان هم پکې وو {زموږ} دفرقې د پوځیانو تود هرکلی وکړ . هغوی په ډېره مینه له شوروي پوځیانو سره خبرې اترې کولې ، له هغوی نه یې پوښتنې ګروېږنې کولې او سوغاتونه یې ورځخه اخیستل . د خبرو اترو په بهیر کې په ډاګه شوه چې هغوی د شوروي پوځونو له ورتګ نه خبر وو او زموږ انترناسیونالیستي وروګلویزې مرستې ته په ښه سترګه ګوري . په دغې غونډې او خبرو اترو کې د ۳۰۰ تنو په شاوخوا کې خلکو ګډون درلود .

د دسمبر پر ۲۶ مه په پلخمري کې هم دپوځي همکارۍ یوه غونډه جوړه

شوې وه‌چې په‌هغې کې پر شوروي پوځیانو سربېره د ا.د.ج. د ۲۰ مې فرقې د ۱۰ پلي غونډ پرسونل هم ګډون کړی ... افغاني پوځیانو دخپلو ويناوو په ترڅ کې دانترناسيوناليستي مرستې له امله له‌شوروي پوځيانو نه‌دمننې ترڅنګ له‌هغوی سره همکارۍ ته چمتوالی څرګند او .... دغه راز افغاني پوځيانو د شوروي - افغان دپوځي دوستۍ په‌اړه‌شعارونه‌ورکول. د ترکستان د پوځي سيمې د سياسي چارو د پاسوالۍ له‌رپوټ نه‌تاشکند، د ۱۹۷۹ کال د دسمبر ۲۸ مه.

خو په‌ځينو نورو سيمو کې بيا خبره داسې نه‌وه. هلته يو شمېر افغانانو پخپل هېواد کې دشوروي پوځونو له‌راڅرګنديدو سره ډېر سوکه او په احتياط چلند کاوه‌او له‌هغوی سره يې آن له‌ناستې پاستې او راشې درشې نه‌هم ډډه کوله. په‌دې لړ کې ځينې له‌دښمنۍ نه‌ډک چلند ونه هم ترسره کېدل. په ځينو ځايونو کې خوآن دشورويانو پريووزرو ( انفرادي ) ګاډو چې له‌کتار نه به شاته پاتې شوي‌وو ډزې هم کېدې. سربېره پر دې دوسله‌والو مخالفينو ځينو ډلو هم زموږ پوځيان دخپلو بريدکيو موخه ګرځول او په‌دې توګه به‌هغوی اړووچې دې کار ته‌اړونده ځواب ورکړي. څرنګه‌چې د {شوروي اتحاد} دستر-درستيز توب په ډېرکتيف کې له‌وسلې نه د ګټې اخيستنې شرطونه نه‌وو په ګوته شوي، نو دغه کار به‌په‌ناځاپي او خپل سري توګه ترسره کېده.

ددې خبرې يادول هم اړين بولم چې افغانستان ته دپوځونو لېږل په‌ژمي کې د اوبهوا ( اقليم) په‌ډېر وسختو شرايطو کې ترسره شو ( خو له دغه‌کار نه وړنده لوست وانه‌خيستل شو او د افغانستان له‌جمهوريت نه‌د شوروي لږشمېر پوځي ټولګيو دراايستلو وروستی پړاو هم په‌ژمي کې بشپړ شو) .

د {افغاني} جګړې ټولې تنګسې اوناخوالې هغو {شوروي} سرتېرو ته ور په‌غاړه وې چې د لومړيو ټولګيو په‌ليکو کې افغانستان ته‌ورننوتل. دساري په توګه هغو پوځي ډاکترانو چې اړ به‌وو‌خورا سخت عمليات په‌ډېرو وچو سړو

او یا په ځلوینبت درجې سوځوونکې تودوخې کې په کېږدیو کې ترسره کړي ، نو ډېر ځلې به داسې پېښه شوه چې هغوی به په ځپله تر عملیاتو وروسته بې هوښه پرېووتل . سرتېرو خو به موکله کله پر کلکو تېږو او یخې واورې هم کېږدۍ درولې او هلته به یې خپلې مورچلې او پوستې جوړولې او استوګنه به یې کوله. سویل ته دورخوځېدو پر وخت یې آن په ډاګونو ، وادیو او دسیندونو پر غاړو ګارنیزیونونه جوړول . هغوی چې به هر چېرته تلل ، نو خوراکي شیان ، دسون مواد ، مهمات او دڅښلو اوبه به یې له ځانه سره وړلې. څرنګه چې پوځونه له تیاري پرته او په بېړه ولېږل شول ، نو هغوی نه یوازې جګړې بلکې افغاني ژمي ته هم چمتو والی نه درلود.

دپوځونو سمبالتیا او دهغوی داستوګنې شرطونو خو آن ډېرو لومړنیو غوښتنو ته هم ځواب نه شو ویلای . په دې مانا چې هغوی له ښوونیزو (تعلیمي) ډګرونو ، دسپورتي ازموینو له وسیلو او جګړه ییزو عملیاتو ته دپوځیانو د چمتو کولو لپاره له لاربښوونکو موادو نه بې برخې وو. که څه هم چې د افسرانو د پوځي تیوریتیکي چمتو والي کچه لوړه وه ، خو هغې دجګړې دپرمخ بیولو په برخه کې تر ډېره ځایه دودیزه او کتابي ( اکاډیمیکه ) بڼه درلوده او د سیمه ییزو شرطونو ، ځانګړتیا اود پارتیزاني جګړې لارې چارې په کې په پام کې نه وې نیول شوې او داڅکه چې پخوا ددې کارونو په زده کړې پسې چا دومره سر نه ګرځاوه . سربېره پردې دجګړه ییزې تجربې او کړنې (پراتیک) نشتوالی هم شوروي پوځیانو ته اجازه نه ورکوله چې په لومړیو وختو کې له خپل ټول شته وس او ځواک څخه ګټه واخلي . قوماندانانو فکر کاوه چې داګنې لنډمهاله شان عملیات دي او همدا څنګه چې مو دنده پای ته ورسوله . نوبېرته به خپلو کورونو ته ځو . خو خبر نه وو چې دغه « عملیات » به آن له نهو کلونو نه هم اوږدېږي .

# آیا نوي جارو هم دپخوا

# په ځیر جارو کوي؟

د ۱۹۸۰ یم کال دجنوري پر ۱۰ مه د ا.خ. د. گ. دمرکزي کمېټې پلینوم جوړ شو چې دهېواد دلارښوونکو اورگانونو د جوړېدلو پرېکړه یې ومنله. دنوي حکومت مشري د ب. کارمل (۱) په غاړه شوه چې پههمزمانه توگه د ا.خ. د. گ. دمرکزي کمېټې عمومي منشي او دانقلابي شورا مشرهم

---

(۱)- ببرک کارمل پر ۱۹۲۹ کال په کال کې زېږېدلی او په ختیه پښتون (؟) دی. نوموړي په پوځي کورنۍ پورې اړه لري. پلار یې دگر جنرال محمد حسین په پاچاهي رژیم کې دپکتیا د قول اردو قوماندان او دپکتیا والي و. د داود په وخت کې یې د ۱۷ مې پلې فرقې دمشر او دهرات دوالي په توگه دنده سرته رسوله. پر ۱۹۷۷ یم کال پر کور کیناست (متقاعد شو).

ب کارمل پر ۱۹۵۲ کال د کابل پوهنتون دحقوقو له پوهنځي نه ووت. په ۱۹۵۳ کال کې د محصلینو په لاریون (مظاهره) کې دلاس لرلو له امله ونیول شو او نېږدې دري کاله یې زندان تېر کړ. په ۱۹۵۷-۱۹۵۹ کلونو کې یې پوځي چوپړ تر سره کړ. د ۱۹۶۰-۱۹۶٤ کلونو په ترځ کې د پوهنې او پلان په وزارتونو کې پردندې برخت و. د اعتمادي، [ډاکټر] ظاهر او موسی شفیق د لومړیو وزارتونو پروخت دپارلمان وکیل و. نوموړی د ا.خ.د.گ. دجوړونکو له ډلې څخه دی. پر ۱۹۶۷ کال د ا.خ. د. گ. کې تر بېلتون وروسته یې د پرچم د ډلې مشري کوله. د ۱۹۷۷ کال په جون کې دگوند تر یو والي وروسته د ا.خ. د. گ. دمرکزي کمېټې دعمومي منشي مرستیال و. د ۱۹۷۸ کال په اپرېل کې تر پوځي کودتا نه پس د ا. د. ج. دانقلابي شورا د مشر او لومړي وزیر مرستیال شو. د ۱۹۷۸ کال په مې کې چکوسلواکیا ته د ا. د.ج. دسفیر په توگه واستول شو.

نوموړي د ۱۹۷۸ یم کال په اگست کې دامین دتېنگار له امله له ټولو څوکیو نه گوښه کړای شو. [ د ح.امین] زور زیاتې او تزار (سزار) له وېرې افغانستان ته ستون نه شو او هملته په چکوسلواکیا کې یې استوگنه غوره کړه. هغه ډېر تکړه ویاند (نطاق) او په زړه نړی سړی دی او د رغنده شننې (تحلیل) پرځای وچ (انتزاعي) تفکر ته کېږون لري. پر اقتصادي مسالو یې دومره سرنه خلاصېږي او له هغو سره « دربست » او ټولېز (عمومي) چلند کوي.

په انگلیسي ژبې آزاد گړېږي او آلماني یې هم څه ناڅه زده ده. نوموړی څلور اولاده لري. محمود بریالی یې د پلار له خوا کشر ورور دی.

ACKU

شو. رښتيا خبره داچې دهېواد واګې د ا. خ. د. ګ. له يوه اړخ (خلق) نه دهغه بل اړخ (پرچم) ته ولېږدول شول. له دې سره يو وخت له ګوندي او دولتي څوکيو نه دويمې کچې ته دخلقيانو چې په حقيقت کې دانقلاب سرته رسوونکي وو پر راټيټولو او بيخي شړلو هم لاس پورې شو.

{ددې ترڅنګه} د ۱۹۷۹ کال د دسمبر تر ۲۷ مې وروسته پښتو يانې د امين د رژيم را پرځېدلو او واک ته د ب. کارمل په مشرۍ دځواکونو رسېدلو د غويي انقلاب د دويم پړاو نوم غوره کړاو په دې توګه دهغوی ځان ناستوالی (خلفوالی) ومنل شو. دنوي مشرتابه لومړيو ګامونو دا هيله مندي را پېدا کړه چې هغه به ګنې دهېواد په مخکې پرتې ستونزې په رغنده توګه اواري کړي.

ب. کارمل هڅه کوله چې دن. م. تره کي اوح. امين له خوا د پورته شوو ناشونو او له واقعيت نه د لرې (ايډياليستي) ګامونو عواقب وسولوي اوهغه زيانن سکينده (جبران) کړي چې خلقيانو د ا. خ.د. ګ. ته اړولی و. په ګوند کې ديو والي دشته والي دښودنې (تمثيل) لپاره يوڅو خلقيان هم پرلوړو ګوندي څوکيو پريښودل شول او ددې ترڅنګه پر يو شمېر نورو مهمو حکومتي څوکيو باندې نا ګوندي وزيران او سلاکاران وګمارل شول. خو ددغو نا ګوندي کسانو څوکۍ او وزارتونه « پردی کټ تر نيمې شپې وي » هسې و او د ۱۹۸۱ يم کال په جون کې دپلاروطنې ملي جبهې تر جوړېدو وراندې يې له حکومت نه کډه بارشوه. آخوا « دغويي انقلاب ددويمې کاليزې په باب د ا. خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې په تزسونو » او « دافغانستان ديموکراتيک جمهوريت په بنسټيزو آرونو (اساسي اصولو) » کې چې د ا. خ. د. ګ. له خوا منل شوي وو، په کليو کې دنيمه ځمکه والو اړيکو دپاتې شونو دله منځه وړلو او دځمکې د ديموکراتيکو سمونونو په باب پر تګ لارې ټينګار وشو. دغه راز د ا. خ. د. ګ. دملي مسالې د ديموکراتيک اوارې آر (اصل) اعلان او پر ملي لږه کيو د زبېښ (ستم) د له منځه وړلو له لارې يې د افغانستان د ټولو قامونو تر

ACKU

منځ د بشپړې برابرۍ د ټینګولو پر هڅې ټینګار وکړ . قبایلو ته دهغوی دودیز امتیازونه بېرته ورکړل شول او له هغو کسانو سره چې دحکومت ترڅنګ ودرېږي د ملاتړ ژمنه وشوه . له بلې خوا د اسلام دین پراخېدو ته ډېره پاملرنه وشوه چې له دې امله ګڼ شمېر ملایانو دحکومت ننګې او ملاتړ ته ور ودانګل . له همدې کبله وه چې دهېواد ښوونځي او مدرسې « چې دکابل پلوه اسلام تبلیغ یې کاوه » دمجاهدینو تر بریدنو لاندې ونېول شول.

موده پس د ا. خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو او د ا. د. ج. وزیرانو شورا « دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې د ځمکې د سمونونو په باب » یوه پرېکړه وکړه چې په هغې کې پر ځمکې باندې د بزګرانو حقوق اعلان شول . ټاکل شوې وه چې د « اوبو » او « په کرنه کې له اوبو نه دګټې اخیستنې » په باب داسې نوي حقوقي لاسوندونه هم چمتو شي چې په هغو کې د اجارې اړیکې او شرطونه په پام کې نیول شوي وي او دغه راز د « ګډولۍ » (کوپراتیف) په باب قانون هم ومنل شي.

که دغه دندې پلې شوې وای ، نو د رژیم د ټولنیزو ستنو د پراخولو لپاره به یې بې له شکه ډېرې ښې شونتیاوې برابرې کړې وای ، خو افغاني مشرتوب له یوه سره له هغه څه نه یو ګام هم وړاندې اوچت نه کړ چې ترمخه پیل شوی و . هو، افغان مشرانو داځل بیا هم له نویو سیاسي ځواکونو سره له یووالي نه سروغړاوه .د پلار وطنې ملي جبهې په لیکو کې هغو ټولنیزو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کړ چې د ا.خ.د.ګ. تر بشپړې ولکې لاندې و ، لکه ټولګیزو ټولنو ( صنفي اتحادیو ) ، د افغانستان دځوانانو دیموکراتیک سازمان ، د افغانستان دښځو دیموکراتیک سازمان ، ګډولیو ( کوپراتیفونو ) ، دروښاندو ( روښانفکرانو ) نوښتګرو ټولنو او دغه راز د بېلوبېلو ټولنیزو پوړونو (قشرونو) استازو چې ترمخه یې لا دغو یاهغو دولتي اورګانونو له لارې دهېواد په سیاسي سیستم کې ګډون درلود .

ACKU

ددې ترڅنګه دافغاني ټولنې دنوي کولو دغه پړاو هم په ګوند کې دخپل منځي هاندوهڅې (مبارزې) له سختېدو نه تش نه و. خو داځل ددغه کار نوښت د پرچميانو په لاس کې ولوېد، چې له ګوندي او دولتي لاستون (دستګاه) نه يې نه يوازې د ح. امين دهملارو او انډيوالانو، بلکې دټولو خلقيانو دشړلو دنده په مخکې ايښې وه او غوښتل يې چې د واکمنۍ په ګوندي او دولتي اورګانونو کې بشپړه برلاسي ترلاسه کړي. له بله پلوه پرچمي مشرانو دغويي انقلاب د «لومړي پړاو» په پېښو کې له ګډون نه په غوڅه توګه انکار کاوه او د ۱۹۷۹ کال د دسمبر تر ۲۷ مې پورې پړاو يې «دتېروتنو او کږېښتونو (انحرافونو) تورپړاو باله». ټول ګوندیان او د دولتي ادارو کارکوونکي پر دې بنسټ چې هغوی هر يوه په لومړي پړاو کې څه دنده درلوده تر پلټنې لاندې وو. له امين سره د همکارۍ او يانوي رژيم ته دنه وفادارۍ په اړه دکوچنيِ شک د پيدا کېدو په حال کې او کله کله خو به ځينې کسان يوازې دمخنيوي (وقايې) لپاره هم ستې کېدل.

واک ته د ب. کارمل رسېدل د اداري په لړو، منځنيو او ټيټو کړيو کې د کادرونو او دولتي کارکوونکو له ژور او پراخ بدلون را بدلون سره مل و. دانقلابي ځانګړې (اختصاصي) محکمې د پرېکړې له مخې د ا.د.ج. ځينو وزيرانو او د ا.خ.د.ګ. يو لړ مسوولو کسانو ته چې د ح. امين کلک پلويان وو د پانسۍ تزار (سزا) ورکړل شوه. دغه راز له ځينو مهمو دولتي څوکيو نه د په نښه شويو خلقيانو دبرناحقه لرې کولو لړۍ هم پيل شوه. دګوندي – دولتي لاستون دمشرانو له ډلې نه دخو تنو وزيرانو په ګډون دسلو تنو په شاوخوا کې کسان (چې دخلقيانو څو تنه پېژندل شوي مشران هم په کې وو) ونيول شول او اوږده کلونه يې په بند کې تېر کړل. يو شمېر نور بيا يا پخپلو کورونو کې تر څارنې لاندې ونيول شول او يا خو چا دولتي دندې ته هم نه ورپرېښودل. برسېره پر دې دخلقيانو يوه بله برخه له زور زياتي نه د ژغورل کېدو

په موخه له هېواد نه ووتله او یاخوله مخالفینو سره یوځای شوه .

## له کابل نه رپوټ

.... په اوس وخت کې په افغانستان کې په پرله پسې توګه دحالاتو لا زیاتو تیکېدو ته د ټولیز (عمومي) کېدون (تمایل) په لاره کې د ا. د.ج. دمشرتابه په وړاندې لاهم یو لړ ستونزې پرتې دي چې هغه تر هرڅه وړاندې په ګوندي یووالي او د ا.د.ج. دکورني او بهرني سیاست په بېلو بېلو اړخونو پورې اړه لري....

تابییف ،ایوانوف ،د ۱۹۸۰ کال اپرېل

په ګوند او افغاني دولت کې دپېښو دې شان پرمختګ دشوروي اتحاد کمونیست ګوند مرکزي کمېټه په اندېښنه کې اچولې وه . دشوروي اتحاد کمونیست ګوند مشرانو دګوندي سلاکارانو ،نورو شوروي استازو او له ب. کارمل سره د شخصي خبرو اترو په ترڅ کې تروسې وسې هڅه کوله چې د ا.خ. د. ګ. په نوو مشرانو کې ډلپال کېښتونه (فرکسیوني تمایلات) له منځه یوسي. په دې لړ کې د ۱۹۸۰ یم کال په جنوري کې دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې یوه اعلامیه هم همدغې خبرې ته ځانګړې شوې وه .

{ خو له دې ټولو هڅو سره‌سره} ددغو اختلافونو او ترېګینو جزره هېڅکله هم په بشپړه توګه ونه ایستل شوه. د ٤٠ اردو قوماندانۍ مسکو ته په خپلو رپوټونو کې په دې اړه داسې یادونه کوله :« دحالاتو دتېکاو بهیر د ا.خ.د. ګ. په لیکو کې دبشپړ یووالي دنشتوالي له کبله لا پسې ستونزمن کېږي. {پخپله} په ګوندي سازمانونو کې دځواکونو (کادرونو) ځای پر ځای کېدل {په ګوند کې} د ډلپالنې (فرکسیونېزم) دچتکتیا څرګنده نښه ده .

دخلق د ډلې استازي خپل برخلیک ته دلارې په څارلو او له ځانه دتېنګاو

په ښکاره کولو سره دګوند او افغانستان دحکومت د ټولو مهمو ګامونو دپلي کېدو په لاره کې خنډونه جوړوي. له مهمو لاربښوونکو څوکیو نه دخلقیانو د پرله پسې لرې کولو هغه تګ لاره چې پرچمیانو په نارسمي ،خو منظمه توګه په مخکې نیولې ده په هېواد کې دحالاتو دتیکېدو په کار کې به هله ګټوره لوبډلی وای ،چې که چېرې هغه د قانونولۍ او ګوندي دیموکراسۍ له آرونو (اصولو) سره سمه پلې کېدای . خو له شخصي تربګنۍ او دلاربښوونکو څوکیو او مادي ګټو د ترلاسه کولو لپاره له هاندو هڅې سره په ګډوله کې دپرچمیانو داشان چلند په ځینو ځایونو کې ډېر ځلې ناوړه ښه غوره کوي....» (۱۹۸۱، کابل) .

خو زموږ له ټولو هیله منديو سره سره د هېواد په پوځي –سیاسي حالاتو کې نه یوازې ښه والی منځته نه راته ،بلکې په هغو کې دتاو تریخوالي او ترینګلتیا په لور کېږون ورځ ترورځې پیاوړی کېده . افغانستان ته زموږ دپوځونو دورننوتلو دلومړۍ میاشتې شوک پر مخالفینو ډېر ژر تېر شو او هغوی په کارنده ګوزارونو لاس پورې کې ،آخواته د ب. کارمل په مشرۍ د ا. د.ج. مشر توب دغه مهال ډېر په غوره کې و او بري يې ښېدو دوره ( دروازې) په مخ کې ګاڼه . خو هغوی هم دشوروي سلاکارانو په څېر وخت هسې خوشې له لاسه ورکړ او افغانستان ته دشوروي لېرشمېر پوځي ټولګیو د ورننوتو له امله له منځته راغلو ښو شېبو نه بې سمه ګټه وانه خیستله ، ځکه افغان ولس هغه وخت زموږ دپوځونو تود هر کلی کاوه (؟)* په کار داوه چې له خلکو سره باید زموږ دپوځونو ترورتګ وړاندې لاکار شوی وای. ځکه آن دفبرورۍ (کب) په میاشت کې په ډاګه شوه چې که تر هغه دمه د ا.د.ج. دخلکو زیاتې برخې زموږ دلښکرو په وړاندې له تېري نه ډکه روحیه نه درلوده (چې په را وروسته

*– د روسي جنرال دغې پوچې ادعا ته تعجب پکار دی .(ژ)

کلونو کې بیا داکارهم وشو) ، نولې ترلېره یې له هغوی سره ډېر تریخ او زیږ چلند کاوه چې دکابل اړودوړ یې ښرگنده نښه وه .

که څه هم دغه مهال په افغانستان کې دشوروي سلاکارانو ( گوندي ، اقتصادي ، پوځي ، دامنیتي اورگانونو او د ا. د. ج. دکورنیو چارو وزارت دسلاکارانو) یوه موسسه او انستیتوت منځته راغلی وچې گڼ شمېر کار- کوونکې یې درلودل او دهېواد په ټولو ښارونو او ولایتونو کې یې لړی غځېدلې وه ، خو دهغوی کارندتیا او اغېزه هم د بېلو بېلو دلیلونو له امله پټه او بې خونده وه . ډېر ژر جوته شوه چې افغانستان ته دشوروي پوځونو لېږلو لکه څنگه چې شوروي مشرانو یې تمه او هیله درلوده دمخالفینو وسله وال تینگاوی ونه شو نړولی.

خو دا کومه حیرانوونکې خبره نه وه ځکه هغوی د ا. د. ج. حالات په اروپا یي او ذهني معیارونو ارزول ، په داسې حال کې چې افغانستان یو اسیایي هېواد دی او گڼ شمېر ځانگړنې او د زرگونو کلونو دودونه لري.

دلته یوځل بیا ددې خبرې یادول اړین بولم چې دافغانانو یوه بله ډېره مهمه ځانگړنه پر مسلمانی سربېره دهغوی دژوند دبنې دوه گونیتوب دی چې یو یې پټ او شخصي ( محرم) او بل یې ښکاره (رسمي) ژوند دی .هېڅوک حق نه لري چې دیوه افغان شخصي او پټ ژوند ته سر ور ښکاره کړي . کورنی تورسرې او ماشومان د نورو په وړاندې دهغه ترلې دنیا گڼل کېږي ده. لکه چې لیدل کېږي د افغانانو له کورونو ( کلاگانو ) نه ډېر لوړ ډبرین یا ختین دیوالونه را- چاپېر وي چې کړکی گانې یې هم دننه انگړه ته ورماتې وي. که چېرې یوڅوک بې وزلی وي نو « کډې » (مېرمن) یې دکور دننه په یوه پټ کنج کې اړولې وي . خود شتمن سړی مېرمن بیا په جلا کور یا جلا خونه کې اوسېږي . له همدې امله له افغانانو سره راشه درشه او اړیکي باید یوازې دنارینه وگړو ترمنځ راچاپېر وي او دهغوی دژوند د دویم نیمایي ( ښځو ) پر کړو وړو باندې پوهېدو

او په دې اړه لټون ( کنجکاوي ) ته اجازه نه شته . برعکس ، سړی باید داسې وښيي چې اصلاً نه پوهېږي چې هلته ګنې د « انساني جنس دويمه برخه » هم ژوند کوي او که نه ؟ هو ، دا خبره دهغوی په ورځني ژوند کې ډېر ارزښت لري. دغه راز له افغانانو په دې باب پوښتل چې : مېرمن دې څنګه ده ؟ او يا : میرمن ته دې زما سلام وایه ! غټ سپکاوی ګڼل کېږي.

ددې شان نزاکتونو په پام کې نه نیول نه یوازې دیوه نارینه ، بلکې دیوه مسلمان په توګه هم دافغانانو د خپګان سبب ګرځي . له بله پلوه افغانان له یوه بل سره دمخامخ کېدو او روغبړ په وخت کې سم له لاسه دکار وبار پوښتنه او ګروېږنه نه کوي ، بلکې دیو بل دروغتیا او مزاج هراړخیز حال و احوال پوښتي.

هغوی د یوه چوپړ او کار دترسره کولو په بدل کې خبره یوازې پر یوې تشې منني پای ته نه رسوي ، بلکې هڅه کوي چې دهغه ترسره کوونکي ته نغدې پیسې یا سوغات ورکړي. آن که له هټیوال سره دیوه توکي ( جنس ) دپېرودلو پر وخت له هغه سره جګړه ونه کړي او چانې ورسره ونه وهي ، نو هغه ته دغه شان سودا او معامله هېڅ خوند هم نه ورکوي.

البته دې ته ورته څينې ډېرې نورې ورې خبرې هم شته چې په پام کې نیول یې باید سړی هېڅوخت هم هېر نه کړي . . . له همدې امله له افغانانو سره د راشې درشې په ترڅ کې باید هرو مرو د افغاني ټولنې ځانګړنې په پام کې نیول شوې وای ، خو له بده مرغه موږ پر دغو خبرو ډېر وروسته پوه شو.

دپوځي کار پوهانو له ارزونو او شننو سره سره ، شوروي مشرانو دافغانستان له دیموکراتیکو ځواکونو سره دپوځي مرستې په نیت د ا . د . ج . ته دشوروي پوځونو دلېږلو کېدونکي ( احتمالي ) اغېزه سمه ونه شوه ارزولی. دغه راز هغوی دغه حقیقت هم په پام کې ونه نیوه چې له بېلابېلو یرغلګرو او ښکېلاکګرو سره دپېړیو پېړیو جګړو په پایله کې دهر افغان په شعور کې داسې انګېرنه او انځورنه منځته راغلې چې که بهرني ځواکونه آن له « ښه » نیت سره

هم هېواد ته ورشي دوی ته د پردیو یرغلګرو بنه (حیثیت) لري او باید له هغو سره جګړه وکړي. [...]

څرنګه چې افغانستان ته د پوځونو لېږل په بېړه ترسره شول، نو په هغو کې د منځنۍ آسیا جمهوریتونو دوګړو شمېر ترنورو نه ډېر زیات وو، داسې چې د پوځیانو په سلو کې له شپېتو نه زیاته برخه اوزبکانو، ترکمنانو، تاجکانو او قزاقانو جوړوله. ګومان کېده چې له ملي او توکمیز پلوه د پوځونو د اشان جوړښت به په افغانستان کې د هغوی له خپلوانو توکمونو سره نږدې اړخ ولګوي. خو ددې کار اغېزه بېخي سرچپه راوخته. ځکه پښتنو قبایلو چې دیاغي غورځنګ زړی او بنسټ یې جوړاوه اود تاریخ په اوږدو کې یې پخپل هېواد کې د شمال له اړه کیو سره له د ښمنی نه ډک چلند کړی دی (؟) نو افغانستان ته ددغو توکمونو دبهرنیو استازو ورتګ دهغوی (پښتنو) دلوړتیا غوښتنې (شوونیزم) (؟) دراپارېدلو لاسته نور هم اوږد کړ. *

له بله پلوه افغانستان ته دشوروي پوځونو په ورتګ سره دبې دینه کفارو پر خلاف سپېڅلې جګړه (جهاد) دحکومتي ضد ځواکونو دسیاسي او ایډیولوژیک یو والي ترټولو مهم شعار وګرځېد. باید اعتراف وکړو چې په دې اړه د ملایانو وینا او بلنو دافغان ولس دډېرې زیاتې برخې ملاتړ ترلاسه کړ. له بلې خوا د پېړیو پېړیو اسلامي دودونو او داسلامي مخورو کارندتیاهم له دې چارې سره ډېره مرسته وکړه. دساري په توګه [مخالفینو] افغانستان ته دشوروي پوځونو له ورتګ نه ډېره موده پخوا آن د ن.م. تره کي په وخت کې لا «دشوروي دلاسوهنو» په باب یو لړ دروغجنې آوازې او پټې پاڼې خپرولې.

**پټه پاڼه**

«بیړنۍ خبرتیا! دربښتینو مسلمانانو دپام وړ! دتره کي کړنلاره یا هغه څه

---

* – د پښتنو په وړاندې دروسانو د ښمنۍ یو بل لاسوند او په افغانستان کې دپښتنو په وړاندې داقلیتونو د راپورته کولو اولمسولو یو بل ثبوت . (ژ)

چې دی یې ترسره کول غواړي:

۱- هغه څوک چې پر کړه لار روان وي، هغه بې له شکه کافر دی.

۲- زموږ خپل هېواد وال پخپله خپله خاوره بې دینه کوي.

۳- هغوی د روسانو لپاره مسلمانان بې پته کوي.

٤- له مسلمانانو نه ځمکې او دهغوی شته او جایدادونه په زور اخلي.

٥- دشورویانو زامن ( ا. خ. د. گ. ) وایي چې تاسو باید ښځې، ځمکه او زرونه لرئ.

٦- داسلام دین او عالمان باید له منځه یوړل شي.

۷- هغوی ځمکه او خاوره روسانو ته ورکوي. مسلمانانو، دغه ټولې خبرې په یاد ولرئ!

مړه دې وي دروسانو گوډاگیان! مړه دې وي دانگریزانو گوډاگیان!»

دافغانانو اسلامي لنډلید ( تنگ نظري) تربل هرچا زیات پخپله شوروي پوځیانو له نږدې نه پخپل ټول بدن احساس کړ. د ساري په توگه د ٤۰ اردو لومړی قوماندان جنرال یوري ولادیمیرویچ توخارینوف په دې اړه خپل خوا-شینونکي یادونه داسې بیانوي: « په افغانستان کې موږ ته د « بې دینه » په سترگه کتل کېدل. « نه پخلا کېدونکو » چې دنالوستو افغانانو یوه برخه یې په ځان پسې درولې وه له دې کار نه ډېره گټه واخیسته. آن دماشومانو په غوږونو کې خو یې اینبي وه چې موږ گنې ځناور یو او هر شی او هر څوک چې مو مخ ته راشي له منځه یې وړو. په افغانستان کې تر اوسه لا د وینې غچ قانون په زور کې دی. له همدې امله مخالفت او تربگنې هم ورځ په ورځ پیاوړې کېده. موده پس بیا دلومړیو وژنو لړۍ پیل شوه.{ ...} او مخالفینو ته چې هر څېر ته لومړی کافر او « بې دینه » په لاس ورغی، نو دم یې غنیمت وگاڼه او پر هغه یې صرفه ونه کړه ».

# « مور حالات سم نه وو شنلي ... »

دشوروي اتحاد د پوهنو ( علومو ) اکادیمی دنړیوال اقتصاد اونړیوالو اړیکو دانستیتوت پخواني غړي دتاریخي پوهنو ډاکټر او دختیځ پېژندنې په برخه کې دهېواد تکړه اووتلی کارپوه پروفیسر گیورگي میرسکي لس کاله وروسته { دهغه پېر د پېښو په اړه } خپل لید داسې څرگند کړ: « سړی کولی شي ووایي چې زمور هغه مهالني مشرتابه هماغسې چې دهېواد دکورنیو چارو د پرمخ بیولو وړتیا یې نه درلوده ، په نړیوال ډگر کې یې هم چندان خونده نه وه . دنیول کېدونکو پرېکړو بنسټ پوهنیزې ( علمي ) او رښتین لیدې شننې چې دحالاتو له کره څېړنې سره یې باید اړخ لگولی وای ، نه جوړاوه . ددې ډول شننې نشتوالی په هرې کچې د احساس وړ و. ډېرو ، او په دې ډله کې ماهم گومان کاوه چې مجاهدین خدایزده که داوړده وخت لپاره شوروي پوځونو ته ځان تېنگ کړای شي. هو ، { مور فکر کاوه چې } کیدای شي { مجاهدین} به دلنډ مهال لپاره څه ناڅه تېنگاو وکړي ، خو زمور لښکرې به هرو مرو هغوی تس نس کړي او که څه هم دکابل حکومت به دخپل ژغورون لپاره دبهرنیو پوځونو د راغوښتلو له امله یو څه ناڅه باور له لاسه ورکړي ، خو بیا به هم وکولای شي چې ځان تېنگ کړي . هو ، دا کارونه خو یو څه وخت غواړي او تر هغه وروسته به نوی نسل راځوان شي ، هر څه به هېر شي او افغانستان به پرمخ‌ښې لارې خپل مزل ته دوام ورکړي چې دغویي له انقلاب سره پیل شوې ده. مانا دا چې « تاریخ به مور سپین ( تبریه ) کړي » . که څه هم چې ما او زما ملگرو دپوځونو دلېږلو د سپیناوي لپاره په نړیواله کچه کوم قانع کوونکی



ACKU

دليلونه نه ليدل ، خو گومان مو کاوه چې په افغانستان کې د پښتو بهير به ښايي له هغه څه نه چې هلته پښتو شول ښځي بل شان وي.

همدا خبره د دې څرگندويه ده چې مونږ حالات سم نه وو شنلي او هغه لاملونه مو هم په پام کې نه وو نيولي چې دغو په پايله کې زمونږ دلښکرو تر لېږلو وروسته دافغانستان په دننه کې تېنگاو نه يوازې کمزوري نه شو ، بلکې لا پسې پياوړی شو.

زما په اند کـه چېرې د گوند پخپل منځي جگړه کې آن تره کی هم بريالی شوی وای ، نو هغه به هم اړ وای چې شوروي اتحاد ته يې د پوځونو دورلېږلو لپاره لاس راغځولی وای. او لا له دې امله چې دهغو کسانو لپاره چې وسلې يې راخيستي وې او د کابل حکومت پر خلاف جنگېدل د ن. م. تره کی او ح.امين تر منځ کوم آريز ( اصولي ) توپېر نه و . ځکه دغه رژيم هغه شان رژيم نه و چې دغو کسانو ( مجاهدينو ) يې پر کابل دواکمنۍ هيله درلوده . خو ښايي د ن.م. تره کي په وخت کې به زمونږ د پوځونو لېږلو پر تولې نړۍ د بم دچاودنې په څېر دومره ډراماتيکه اغېزه نه وای ښندلې لکه د ۱۹۷۹ کال په دسمبر کې چې يې وښندله .

په دې اړه د لويديز لومړی غبرگون داسې و: افغانستان ته په ورننوتو سره روسانو د هند سمندر ، فارس خليج او عربو د تاپو وزمې د تېلو پر لوري يو توپ واچاوه . نه مې هېرېږي چې له خپلو امريکايي انډيوالانو سره په خبرو اترو کې مې په دې باب دهغوی د گروهې ( عقيدې ) داړولو لپاره څومره خولې تويې کړې .... »

ښه ، چې زمونږ دښمنونکو کچه دومره لوړه نه وه ، نو زمونږ له مشرانو نه چې د پوځونو دلېږلو پرېکړه يې وکړه څه گيله ! هغوی د دغه آر په پام کې نيولو سره چې خلک خو لا څه چې آن تاريخ هم بريمنان نه محاکمه کوي ، هيله درلوده چې له دې شخړې نه به بريالي راووځي . خدای مې دې غاړه نه

بندوي ،خوهغه وخت چا د شنونکو او پوهانو خبرو او شننو ته دومره غوږ هم نه ایښوده . داخبره دنړیوال سوسیالیستي سیستم د اقتصاد د انستیتوت له خوا د تزسونو په بڼه په څرګند ډول په دې ترتیب پوهیږو « په او یا یمو کلونو کې دبهرني سیاست د پالیسۍ په اړه ځینې لیدونه » په نوم له شننیز ( تحلیلي ) یادښت نه په بنه توګه جوتیدای شي:

« دشوروي پوځونو لېږلو د { افغان} حکومت پرخلاف د مخالفینو وسله واله هاندوهڅه کمزورې نه کړای شوه . اسلامي بنسټپالو دبهرنیو پوځونو پر خلاف دجګړې له شعار نه په ګټې اخیستلو سره په خلکو کې خپل تبلیغاتي کار لا پسې چټک کړ . دغه راز په یوې ګډې حکومتي ضداو شوروي ضد جبهې کې دټولو اسلامي ډلو ټپلو دیوځای کېدو هڅې هم ګړندۍ شوې.

دشوروي لښکرو تر لېږلو وروسته دامریکا متحدو ایالتونو ،دهغې اندیوالانو ، ځینو عربي اواسلامي رژیمونو او دغه راز چین په ډاګه له مخالفینو سره دمرستې اونګې اعلان وکړ اوسره له دې چې دغه مرسته پخوا هم ترسره کېده ،خو اوس لا پسې زیاته شوه.

په نړیواله کچه افغانستان بېخي ګوښه ( تجرید ) کړای شو او اوس یې یوازې او یوازې پر سوسیالیستي بلاک او په تېره پر شوروي اتحاد تکیه لګولې ده . افغانستان ته د پوځونو په لېږلو سره زموږ سیاست .... په « دریمه نړۍ» کې دمخامختیا ( مقابلې) له ټولو پولو نه پښه ور واړووله . په پر تلیزه توګه له دې کار نه زموږ ملي ګټو ته د رسېدلي زیان اندازه دهغه له ګټو نه بېخي زیاته ده ،داسې چې :

۱- په اروپا کې دناټو او په ختیزی آسیا کې دچین پر خلاف دمخامختیا پر دوو جبهو سربېره زموږ لپاره دشوروي اتحاد په سویلي پولو کې دپوځي ، سیاسي کړکیچ یو درېیم اوخطرناکه تنور جوړشو ،هغه هم په ډېرو ناوړه او بې ګټې جغرافیوي او ټولنیزو ، سیاسي شرایطو کې ....

۲- دشوروي ضد جبهې د دولتونو ليکې چې شوروي اتحاد يې له لويديزه تر ختيزه راکړې او چاپېر کړې دي لا پسې پراخه او يو موټې شوې.
۳- د ناپېيلتوب پر غورځنګ او په تېره پر اسلامي نړۍ دشوروي اتحاد اغېزه تر ډېره ځايه زيانمنه شوه.
٤- دکړکيچ دکمښت بهير پرځای ودرول شو او د وسلو دسيالۍ د راکمولو سياسي مخنيې ( مقدمات ) اوشرطونه له منځه لاړل.
٥- پر شوروي اتحاد د اقتصادي او تکنالوژيک پېتې زور ( فشار ) لا نور هم زيات شو.
٦- دلويديځ او چين تبليغاتو د لويديځ ، ودې په حال کې دولتونو اوسوسياليستي هيوادونو په عامه افکارو کې دشوروي اتحاد د باور او پر ستيژ د له منځه وړلو په موخه د تبليغاتي منډې تړې ( کمپاين ) د پراخولو لپاره وړنده لاسوندونه ترلاسه کړل.
۷- دافغانستان پېښو دشوروي - چين داړيکو دتيکېدنې د شونتيا په لاره کې مخکيني شرطونه داوږده وخت لپاره پر اوبو لاهو کړل.
۸- دغو پېښو د ايران او امريکا ترمنځ دکړکېچنو اړيکو دله منځه وړلو او پخلاينې په لاره کې مرستندويه رول ولوباوه.
۹- د يوګوسلاويا دسوسياليستي فدراتيف جمهوريت ، رومانيا او دکوريا دخلکو ديموکراتيک جمهوريت له خواد شوروي اتحاد د تګلارې په وړاندې بې باورۍ او له هغې نه واټن نيولو چټکتيا ومونده . آن د هنګري او پولينډ په خپرونو کې هم دلومړي ځل لپاره په افغانستان کې دشوروي اتحاد دکړنو په باب د احتياط نښې په ډاګه راڅرګندې شوې. ښايي دا کار به دشوروي اتحاد په نړيوالو کړنو او چارو کې دوربنکېل کېدو له وېرې ددغو هېوادونو دټول اندونو ( عامه افکارو ) د دريځ او مشرانو د اندېښنو يو ډول غبرګون و ، ځکه چې زموږ انډيوالان په هغو کې دونډې اخيستنې لپاره وړنده او پوره زېرمې نه

لري.

۱۰- د لويديزو هېوادونو ښکېلېنکې سياست لا پسې چټک شوا و دشوروي اتحاد او نورو سوسياليستي هېوادونو ترمنځ داړيکو چاپېريال ته دچټک ورننوتلو نوې چلند اوتاکتيک يې خپل کړ او د دغو هېوادونو ترمنځ دمخالفتونو او دګټو دنه سمون پرسريې ښکاره لوبه پيل کړه.

۱۱- له افغانستان سره داقتصادي مرستو يو دروند پېټې دشوروي اتحاد پر اوږ پرېووت... » ( دغه يادښت د ۱۹۸۰ کال دجنورى پر ۲۰ مه دشوروي اتحاد دکمونيست ګوند مرکزي کمېټې او دشوروي اتحاد کې جي بي ته واستول شو ).

لکه چې ښکاري دغه دليلونه اوارزښت کړه او ښخي پرځای وې او مهمه يې دا چې پورتنی شننه ( تحليل ) هغه وخت ترسره او شوروي مشرتوب ته وړاندې شوه چې لا ناوخته شوې نه و او کېدای شوه چې زموږ پوځونه ژر بېرته را ايستل شوي وای. ( امريکايان تل دا کار په ډېرې هوښياری سره کوي اوتل يې برې دلارې مل وي ).

هو ، يوازې دهمدې شننې پر بنسټ هم کېدای شوه دهغه ګړنګ ژورتيا احساس شوې وای ، چې پرڅنډې يې شوروي اتحاد د افغانستان ديموکراتيک جمهوريت ته دخپلو پوځونو دلېږلو له امله درېدلی و. البته دې ته ورته يو لړ نور لاسوندونه اوځونښې ( شواهد ) هم وې ، خو د پوهو پوځي قوماندانانو او کارپوهو شنونکو دليلونو اونغوتو ته چا اصلاً غوږ هم نه نيوه. ددې پرځای سياستوالو په { افغانستان کې } د پوځي شته والي په ګټه زموږ دځينو ايډياليستو تيوريسنانو ، امريکا پېژندونکو او ختيځ پوهانو له خوا وړاندې شويو دليلونو ته زيات ارزښت ورکاوه. خو دجګړې پېټی بيا دهغه سياستوالو چې دلښکرو د لېږلو پرېکړه يې وکړه پر اوږو نه ، بلکې دساده سرتېرو ، وړوظابطانو، افسرانو او آن هغو جنرالانو پر اوږو پروت و چې داسې يو ګام

يې ناسدمن او بې راتلونکي ګانه. پوځيان لکه دتل په شان دنورو دتېروتنو په لومه کې ښکېل شول.

آيا ددې کار له امله کوم سلاورکوونکي ته هم څه زيان ورسېد؟ نه، برعکس، ځينو په راتلوونکي کې ځانونه آن ددغه ګام دکلکو «غندونکو» په څېره کې راڅرګند کړل.

لويديزو کارپوهانو هغه مهال دافغانستان دپښتنو دښمنې په ترخ کې هغو لاملونو (فکتورونو) ته ګوته نيوه چې شوروي مشرتابه دغه هوادته دپوځونو دلېږلو په اړه د پرېکړې پر وخت او دغه راز دافغانستان په خاوره کې دشوروي لېږشمېر پوځي ټولګيو داستوګنې په لومړيو مياشتو کې په پام کې نه وونيولي.

هغوی په دې لړ کې تر هرڅه وړاندې دا. د. ج. دسياسي، ټولنيز، اقتصادي او مانيز ژوندانه پر ځانګړنو باندې (د شوروي مشرانو،ژ) د ژورې پوهې نشتوالي او په اروپايي معيارونو له هغو سره چلند ته ګوته نيوه. په را وروسته کلونو کې کله چې څه ناڅه تجربه ترلاسه شوه، نو شوروي کار پوهانو هم د افغاني ټولنې له ځانګړنو سره تلل شوی چلند په مخکې ونيوه. (د ساري په توګه په دې اړه په افغانستان کې دلوی پوځي سلاکار د اداري دمشر رپوټ چې د ۱۹۸۷ کال د جون پر ۳۰ مه يې له کابل نه ورکړ د يادونې وړ دی). {نوموړی ليکي}:

«دا ډېر مهمه ده چې دخپلې دندې په ترخ کې بايد ديوه غونډ، فرقې او د سيمې د وګړو ملي جوړښت او له هغه سره جوخت يو له بل سره د پرجګړې اخته اړخونو شونې نږدې کېدنه او يا برعکس دهغوی ترمنځ د دښمنۍ سختېدل په پام کې ونيول شي. دکار او چارو ددې اړخ څېړنه بايد په دې توګه ترسره شي چې که چېرې دغه کسان پښتانه وي، نو بايد وکتل شي چې هغوی په کومې قبايلي ټولنې او دقبيلې، قام، ګنې (خېل) او کورنۍ په کوم ښاخ او پښې

پورې اړه لري اودغه راز د دغو قامونو ،قبیلو او خېلونو ترمنځ اړیکي څنګه دي او داسې نور . خو موږ د هرڅلي ددې ټولو لپاره له یوې یادوو مانا وو {او ویونو ( کلیمو ) } نه کار اخلو . د دین خبره هم یوازې په سني {یاشیعه ،ژ.} مذهب پورې دافغانانو په تړلتیا کې نه رالنډېږي. بلکې هغه باید له ملي مسالی سره د دیني دا په اوډون ( تلفیق ) کې وڅېړل شي {...} دغه راز پخپله دافغاني ټولنې دژوند له ټولنېزې بڼې سره هم باید په ډېرې هوښیارۍ او ژورې پوهې سره چلند وشي اوهغه دخپلو موخو په ګټه را وڅرخول شي... »

# لومړۍ جګړه او لومړي زیانونه

د ۱۹۸۰ یم کال د جنوري په پیل کې په نهرین کې د ا. د.ج . دوسله وال پوځ دتوپچي ٤ غونډ پاڅون وکړ . له دې سره جوخت داسې رپوټونه راورسېدل چې بنایي ددغه غونډ شوروي پوځي سلاکاران هم نیول شوي او یا وژل شوي وي. هماغه وچې د افغان مشرتابه په غوښتنه او که چېرې ژوندي پاتې وي نو زموږ دسلاکارانو دژغورلو په نیامت دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګیو دقوماندانۍ له خوا د یاغي شوي غونډ د بې وسلې کولو لپاره لومړني عملیات (۱) پیل شول په دغو عملیاتو کې د توپچي ،موټرېزه ،ټانک او هوایي ځواکونو څو ډلو ډلګیو ګډون درلود. دعملیاتو په پای کې دتوپچي له څلورم غونډ نه ۱۰۰ تنه مړي، ۷ توپونه او ٥ ګاډي پرځای پاتې شوي وو. زموږ زیانونه دوه تنه مړه، دوه ټپیان او یو جګړه ییز ماشین (چې هغه هم د یوه غابني په ګرځوني کې رغېدلی و) . خو زموږ پوځیان په دې بریالي شول چې دتوپچي د ٤ غونډ قوماندان

---

(۱)- په افغانستان کې دشوروي پوځونو داستوګنې په وخت کې دکچې اوبنې له په پام کې نیولو پرته ټولو جګړه ییزو دندو ته عملیات ویل کېدل.

ونیسي او زمور د سلاکارانو دوژني اوښخپدوځایونه ومومي.... »

درپوڼ سرچینه : د ٤٠ اردو قوماندانی ، کابل د ۱۹۸۰ کال جنوري.

د ح. امین پر مانې ترېرغل وروسته دا دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګیو دډلو ډلګیو لومړني عملیات وو چې دهغو په ترڅ کې پوځیانو زرورتیا ، غوڅوالی او لوړه پوځي پوهه وښوده.

په دې توګه حالاتو{ورو ورو} شوروي پوځونه دې ته اړ ایستل چې دوسله والو مخالفینو له ځینو ډلو ټپلو سره په مخامخ جګړې اخته شي ( سره له دې چې داشان دنده په لومړي سر کې دهغوی په پلاتونو کې په پام کې نه وه نیول شوې ) . ښایي افغاني لوري به بل ډول پلاتونه درلودل . ځکه د ا. د. ج. مشرانو په لوی لاس غوښتل چې دشوروي اتحاد لږ شمېر پوځي ټولګي ترستوني په کورنۍ جګړې کې ورغوپه اوښکېل کړي . هو ، ښایي له همدې امله به وه چې مسکو ته په پرله پسې توګه دهواد په بېلوبېلو سیمو کې دیاغیانو د بریدونو دځپلو لپاره د مرستې له غوښتلو نه ډک ټلګرامونه استول کېدل. په همدې شان حالاتو کې وه چې {دشوروي اتحاد} دپلیوځواکونو لوی قوماندان سترجنرال ای. ګ. پاولوفسکي دحالاتو د څېړلو په موخه دجنوري په پای کې کابل ته سفر وکړ.

له دې سره جوخت د رژیم مخالفینو هم د یرغلګرو پر خلاف جګړې ته دافغانستان دخلکو د وربللو له لارې دشوروي لښکرو او دهغوی د دندې د شرمولو اوغورځولو لپاره تبلیغاتي منډې تړې پیل کړې. خودې کار په لومړي سر کې افغاني مشران دومره نه وو ترور اواندېښمن کړي ، ځکه هغوی ګومان کاوه چې شوروي لښکرې به د{اوس په شان په راتلونکې کې هم دیاغي غورځنګ دځپلو او د ا. خ. د. ګ. د رژیم دساتلو لپاره تس نس کوونکې دندې ترسره کوي.

دیادونې وړ ده چې په افغانستان کې زمونږ د پوځونو دپاتې کېدو په باب

لومړی حکومتي رسمي لاسوند دشوروي اتحاد دوزیرانو شورا د ۱۹۸۰ یم کال دفبرورۍ د ۱۹ مې نېټې ۱۵۲-۵٤ لمبر پرېکړه (مصوبه) ده چې پههغې کې د ا.د.ج. کې دپوځیانو دمالي سمبالتیا او نورو اسانتیاوو او امتیازونو خبرې هم په پام کې نیول شوې وې.

شوروي مشرتابه او زموږ پوځي قوماندانی تر ډېره وخته دمخالفینو له وسلهوالو باندونو سره په جګړه کې زموږ د ټولګیو دګډون په اړه دمرستې په باب د ببرک کارمل له غوښتنو ډډه کوله. دشوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشر دشوروي اتحاد د مارشال س.ل. سوکولوف او ستر جنرال س. ف. اخرامییف په دې اړه پر دې ټکي ټینګار کاوه چې افغانستان ته لېږل شوي پوځونه باید د ا.د.ج. پهپوځي نښتو کې ګډون ونه کړي ځکه چې دا کار له سره په پام کې نهدی نیول شوی. دغه پوځونه دنده لري چې یوازې پرهغوی باندې دیاغیانو لهخوا دمخامخ برید دتېل کېدو او یا هم دشوروي پوځي سلاکارانو دژغورولو پر وخت اړونده ځواب ورکړي او بس.

خوکله چې {مخالفینو} د ۱۹۸۰ یم کال په فبرورۍ کې په کابل کې ګڼ شمېر ډلهییز بریدونه پیل کړل (زموږ پر سفارت یې ډزې وکړې، څوتنه شورویان یې ووژل او دزرګونو تنو پهراټولولو سره یې دارګ پرخوا لاریون وکړ) او دغه راز لهشوروي حکومت نهد ب. کارمل لهبیا بیا غوښتنو نهپس چې دغو بریدونو ډېر وېرولی و، په افغانستان کې دشوروي پوځونو قوماندانی ته لهمسکو نه پهغوڅه توګه داسې لارښوونه وشوه: «د ا.د.ج. له اردو سره یوځای دوسلهولو مخالفینو د ډلو دځپلو لپاره کارنده عملیات پیل کړئ......» کهڅه هم چې داخبره لهلومړنیو پلانونو نه پهډاګه سرغړاوی و، خو څرنګه چې دا دحکومت امر او لارښوونه وه، نو پوځونه اړ وو چې هغه پلی کړي.

هماغهووچې دشوروي اتحاد دلږ شمېر پوځي ټولګیو ډلو ډلګیو د

۱۹۸۰ کال د مارچ له پیل نه په کونړ کې په یوه عملیاتو لاس پورې کړاو په دې توګه هغه په افغانستان کې په خپل منځي جګړې کې رابنکېل او دیاغي غورځنګ د ځپلو په اړه د دندو تر سره کول یې پیل کړل.
هو ، هره جګړه یوه غمیزه ده او کورنۍ دا خو بیا بیخي غبرګه او دوه ګوني غمیزه او په هغې کې د بل هېواد ورګډېدل او لاسوونه پردې پای ته رسېږي چې همدغه هېواد دې د تېولو ورانیو او زیانونو ګرم او پړ وګڼل شي. په افغانستان کې هم کټ مټ همدا کانه وشوه او دلته خو مجاهدینو څه چې آن په خپله هغو کسانو هم چې ډېر کلونه یې دشوروي پوځونو پر ملاتړ ډډه لګولې وه ، هڅه وکړه چې دورانیو او وژنو پړه دشوروي اتحاد پر غاړه ور واچوي.
دستر درستیز داوړاتیفي لویې پاسوالۍ په ارشیف کې له خوندي لاسوندونو څخه ( څرنګه چې هغه تر اوسه نه دي رابر سېره شوي نو دلته یې له راوړلو نه ډډه کوم ) په ډاګه کېږي چې شوروي مشر تابه ( بنایي د ل. اي. برژنف پر نوبنت) آن د ۱۹۸۰ کال د فبرورۍ په پای کې له افغانستان نه دشوروي لښکرو د را ایستلو خبره تر لاس لاندې نیولې وه ، ځکه داسې ګڼل کېده چې پوځونو د امین په رانسکورولو او د ب. کارمل دنوي افغاني (؟) حکومت په ټینګولو سره نوره خپله بنستیزه دنده سرته رسولې ده. خو هغه وخت دا کار د ډېرو دلیلونو له مخې ترسره نه شو ، ځکه چې د .ف. اوستینوف او یو . و . اندروپوف (بنایي ا.ا. ګرومیکو هم ) دشوروي پوځونو له بېرته را ایستلو سره مخالف وو . دهغوی په اند هغه مهال به د پوځونو ایستل د امریکا دمتحدو ایالتونو له تیرې نه ډک سیاست په وړاندې د پرشاتګ مانا درلودای په امریکا او د لویدیځ په نورو هېوادونو کې به یې دشوروي اتحاد په وړاندې د سخت چلند د پلویانو د ریځو نه پیاوړې کړې وای ، خپلو تړونونو ته د یوه وفادار دولت په توګه به یې دشوروي اتحاد باور او پرستیژ ته زیان رسولی وای ، دوسله والو ځواکونو اوګوندي - دولتي لاستون د کمزورتیا له امله به یې

د ا.د.ج. حالات نور هم بابسته ( بې ثباته ) کړي وای او له دې کبله به مو په پای کې افغانستان ببخي له لاسه ورکړی وای او دغه راز دشوروي اتحاد پولو ته څېرمه به یې اسلامي بنسټ پالنه او سخت دریځتوب لا پسې پیاوړي کړي وای.

ددې ټکو په پام کې نیولو سره وړاندیز وشو چې د پوځونو دبېرته را ایستلو دمسالې څېړنه دې {په افغانستان کې} دگوندي او دولتي اورگانونو او وسله والو ځواکونو له پیاوړتیا او په هېواد کې دسیاسي حالاتو ترټینگښت وروسته ترسره شي.ښه ، کېدای شي دفبروری په پای کې په کابل کې دحالاتو زیاتې خپړتیا به هم ددغو کسانو پرپرېکړې اغېز ښندلی وي ، خو هرڅنگه چې وه ، په افغانستان کې دشوروي لښکرو پاتې کېدلو هرومرو په کورنۍ جگړې کې د هغوی له ورښکېل کېدلو پرته بله پایله نه شوای لرلای.

کله چې ببخي جوته شوه چې دشوروي اتحاد لړشمېر پوځي ټولگي د ا. د.ج. کې داوږده وخت لپاره پاتې کېږي نو له احتیاط نه دراغوښتل شویو پوځیانو ځای نورو ځانگیزو افسرانو او د مکلفیت د دورې سرتېرو ونیوه . په بشپړه توگه داحتیاط د پوځیانو پرځای دځانگیزو کادرونو دځای پر ځای کولو کار په دې ډول ترسره شو: افسران د ۱۹۸۰ کال دنومبر ترمیاشتې اوواړه ظابطان اوسرتېري {د ۱۹۸۱ کال} دمارچ ترمیاشتې بدل را بدل شول. په دغه پړاو کې ټول ټال ۳۳ نیم زره پوځیان چې له هغې ډلې نه ۲. ۲ زره افسران او ۳. ۳۱ زره سرتېري او واړه ظابطان وو ، بدل را بدل شول. له دې سره جوخت ټول هغه گاډي او تخنیک هم چې له ملي اقتصاد نه {افغانستان ته} لېږدول شوي وو پر پوځي هغو واړول شو.

هغه فرقې او دټانک ، توغندیو اوهوایي ساتنې دتوغندیو ټولگي چې افغانستان ته استول کېدل دهېڅ شي کمی یې نه درلود. آیا داکار زموږ دستر درستیز توب یوه تېروتنه وه که څنگه ؟ زه په پوره ډاډ سره ویلی شم چې



ACKU

نه . ځکه له هغه ځایه چې افغانستان ته دشوروي پوځونو دلیږلو بنسټیزه او سپینوونکې انګېزه د ا.د.ج. باندې دتیري مخنیوی اوپر شاتمبول وو ، نو پرېکړه کوونکو « ګومان کاوه » چې کېدای شي مور هلته دافغانستان دګاونډیو هېوادونو له سم سیده ( منظمو ) پوځونو سره پرجګړې اخته شو . خو کله چې په ډاګه شوه چې هېڅوک پر افغانستان دښکاره تېري نیت نه لري { او پوځیانو ته} یوازې د اشرارو له پارتیزانې ډلو سره جګړه ور په غاړه ده ، نو یوه زیاته اندازه توغندي ، ټانکونه ، دهوایي ساتنې توغندي او داسې نور یې بېرته شوروي اتحاد ته ولیږل. ددې ترڅنګه دشوروي قوماندانی په وړاندې دټولګېو او ډلو ډلګیو دچټک راغونډلو او دجګړې د پرمخ بیولو لپاره دچمتووالي د لوړولو دندې کېښودل شوې ،هو ، ستونزې خورا ډېرې ،خو تجربه بېخي لږه وه، اصلاً تجربه له کومه شوې وای ،ځکه چې په پوځونو کې جنګیالي او جبهه لیدلي کسان نږدې (تقریباً) نه وو پاتې او جګړه خو هسې هم کومه تشه پوځي آزموینه نه ده!

# دا.د.ج. داردو حالت

یوازینې سم سیده ( منظم) ځواک چې نوی افغان مشرتوب په هېواد کې دحالاتو دټینګښت لپاره دخپلې کارندتیا په ترڅ کې کولی شول پر هغه تکیه وکړي هماغه افغاني پوځ و. دامین دلرې کولو او په هېواد او ګوند کې ب- .کارمل ته دواک دلېږدېدو تر وخته په سلو کې له ۹۰ نه زیات ګوندي افسران خلقیان وو.

د ۱۹۷۹ کال له دسمبر او دا.د.ج. د دفاع وزیر په توګه د پرچمي م . رفیع تر ټاکل کېدو وروسته ګڼ شمېر خلقي افسرانو چې وهلو ټکولو ته سترګې په لار وو او پر خپل برخلیک اوړاتلونکې باندې یې ډاډ نه درلود د

اړونده تولګیو او ډلو ډلګیو له مشر تابه نه ځانونه څنګزني کړل. دغوی اندېښنې ببخي پرځای وې او ډېر ژر یې خپل رښتینوالی وښود. ځکه دګوند د دننني هاندوهڅې ( مبارزې) نوې څپه ( دواکمنی دنورو موسسو په څېر) اردو ته هم وروغځېده. له همدې امله ځینو افسرانو آن له یاغیانو سره هم تارونه وغځول.

د ا.د.ج. د وسله والو ځواکونو دحالت جاج دافغانستان دپلې ۱۱مې فرقې ( جلال آباد) دپوځي سلاکار له هغې وینا نه په ښه توګه جوتېږي چې د ۱۹۸۰ کال په اپرېل کې یې په کابل کې دیوه کنفرانس په ترڅ کې وکړه :« په ګوند کې د دواړو اړخونو تر منځ شته اختلافونه ( په فرقې ، ښارونو او ولسوالیو کې ) زمونږ په وړاندې سترې ستونزې منځته راوړي . له همدې کبله دولسوالیو د آزادولو لپاره دجګړه ییزو عملیاتو پایلې هم کمزورې راخېږي . دساري په توګه دکامې په عملیاتو کې د دښمنانو ۹۶ تنه په لاس راغلل ، خو له هغوی نه اوس ایله ۱۳ تنه په زندان کې پاتې دي . دا ځکه چې د ا.د.خ. ګ. ولایتي کمېټې او دخارندوی قوماندان نږدې ۵۰ تنه باندیستان چې له وسلو سره لاس په لاس په مورچلو کې نیول شوي وو او تروروستي کار توسه یې ډزې کولې {له زندان نه } خوشې کړي دي . دغه راز دیوه افغاني غونډ قوماندان دتوپک په زور دخاد له مشر نه غوښتل چې دهغه یو خپلوان اشرار باید له زندان نه ورخوشی کړي...»

پخپله داردو توټې توټېوالي او پاشلتیا هم دپوځ پر حالت ناوړه اغېزه درلوده . دامین اداري چې غوښتل یې دهېواد پر زیاتې برخې ولکه ولري ، په ولایتي او ولسوالیزو مرکزونو کې یې دنوې واکمنی داستازو د ساتنې لپاره دپوځونو ډېره برخه پر وړو وړو ګارنیزیونونو وېشلې وه . په دې توګه نو د حکومت په لاس کې دمخالفینو د ډلو پر خلاف د کارنده جګړه ییزو عملیاتو پر مخ بیولو لپاره بسنده ځواکونه نه وو پاتې . سربېره پر دې واړه ګارنیزیونونه



ACKU

پر اړتیا وړ شیانو او مهماتو هم سم نه شو بسیا او سمبالېدلی ، دخپلو ټولګیو له خوا یې ملاتړ نه کېده او په هېواد کې دروانو پېښو په باب یې پوره معلومات نه تر لاسه کول .له خپلې قوماندانۍ نه دلرې والي له کبله دغه ګارنیزیونونه دیاغیانو د بریدونو او پراخه اسلامي تبلیغ موخه ګرځېدل ، جګړه ییزه وړتیا به یې له لاسه ورکوله او مخالفینو ته به تسلیمېدل او یا به پخپله خوښه دهغوی لوري ته ور اوښتل او دهغوی لیکې به یې ډکولې.

داردو داړوندانو ( منسوبینو ) مورال اود جګړه ییزې وړتیا کچه ټیټه وه (او یا ښایي نه به یې غوښتل چې هغه راڅرګنده کړي) . په دې اړه باید ووایم چې په بېلابېلو هېوادونو کې زموږ د « اندیوالانو » ورته اوټول ګډ (متحدالمان) حالت زما د ډېرې حیرانتیا وړ ګرځېده . ټول هغه هېوادونه چې موږ یې ملاتړ کاوه لکه ایتوپیا ( حبشه) ،انګولا ، ،نیکاراګوا ،موزمبیق او نور ربغړي اوبې روحیې وو ، په داسې حال کې چې همدغه افغانان ( موز مبیقیان اونور ) چې دیاغیانو په لیکو کې به جنګېدل،نو هغوی به ډېر زړور او سرښندونکي وو، تا به ویل چې داګنې ښځي نور خلک دي.

د ٤٠ اردو قوماندان هغه مهال دافغانستان داردو دحالت په باب پخپل یوه رپوټ کې داسې یادونه کړې وه :« دافغانستان دوسله والو ځواکونو دپیاوړتیا په لارد کې لا تراوسه یو سین نااواره ستونزې پرتې دي چې تر ټولو زیاتې یې دپوځ د کادري سمبالتیا اوځانګیز ( مسلکي ) بسیاتوب په برخه کې ترسترګو کیږي. دېبلګې په توګه تردې دمه پر ځانګیزو کادرونو د ا.د.ج. دوسله والو ځواکونو د سمبالتیا کچه ٦٥ په سلو کې ده. دپوځونو جګړه ییز چمتو والی ،دهغو مورال او سیاسي حالت او دغه راز جګړه ییزه روحیه په ټولیزه توګه په مخکې پرتو غوښتنو ته ځواب نه شي ویلای او کچه یې خورا ټیټه ده .ځینې ټولګي خوښې ددې وس هم نه لري چې خپلې جګړه ییزې دندې پر مخ بوځي.

دټولګیو او ډلو ډلګیو ( جزوتامونو ) ګڼ‌شمېر قوماندانانو دخپلو دندو او مکلفیتونو دترسره کولو په وړاندې بې توپیره دي . پوځیان ډېرځلې په جګړوکې وېرېږي ، لاس وپښې ورکوي او دخپلې پوځي دندې له ترسره کولونه غاړه غړوي. دډله ییزې تېښتې په باب هم ځینې فکتونه پراته دي . په پوځونو کې سیاسي کار کمزوری دی او دپیسو ( تنخواګانو ) او نورو اړتیاوو شیانو او مالونو ورکړه او سمبالښت پر خپل وخت نه ترسره کېږي . له سرتېرو سره د افسرانو ناوړه چلند ( لکه کنځلو ، سپکاوي او نورو په څېر ) پېښې هم ترسترګو کېږي ...»

ددې لپاره چې د ا.د.ج. اردو دغه پرمختګ پرتې دندې په ښه توګه سرته رسولې وای ، نو په کار وه چې شوروي اتحاد په دې برخه کې پر له پسې هلې ځلې کړې وای . په کابل کې شوروي استازو او د سلاکارانو ډلو د مرکز (مسکو ) په مرسته نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې چې داردو د پرچمي کولو او دغه له لیکونه د ټولو خلقیانو دشړلو مخه ونیسي او خلقي افسران دخپلې دندې پر سبا اوراتلونکې باندې ډاډمن او باوري کړي. دغو کارونو بې له شکه د پوځ له پیاوړتیا سره اغېزمنه مرسته وکړه . که څه هم چې دغه هڅې او هلې ځلې په اردو کې دګوندي سازمانونو دیووالي سبب نه شوې ، خو لږ تر لږه یې په هغو کې دګوند د دننۍ هاندوهڅې او جګړې د راخوټېدو مخه ونیوه.

د ا.د.ج. حکومت د شوروي سلاکارانو په لارښوونه په پای کې د وسله والو ځواکونو دځانګیزې ( مسلکي ) کچې دلوړولو ، دسمبالولو ( سازمان ورکولو ) دپیاوړتیا اوپراخېدونکې تېښتې سره دهڅو ( پر ۱۹۸۰ کال له ۲٤ زرو څخه زیات کسان له پوځ نه تښتېدلي وو ) لپاره ځینې لارې چارې وسنجولې . شوروي مشاورینو دپوځ دژوند او کارندتیا په اړه دټولو چارو او ستونزو لکه دقوماندانانو ، درستیز توبونو ( قرارګاوو ) او پوځونو دچمتووالي ، د جګړه ییزو عملیاتو دپلان او پر مخ بیولو ، د ا.د.ج. دوسله والو

ACKU

ځواکونو لیکوته د جلبیانو د وربللو دځرنګوالي ، د ډیسپلین د ټینګښت ، دسرتېرو دښوونې او روزنې ، دپوځونو دژوند دشرطونو دښه کولو او نورو چارو پهبرخه کې مرسته کوله .

کله چې شوروي لښکرو پهجګړه ییزو عملیاتو کې ونډه اخیستنه پیل کړه ، نو لههغې سره جوخت دافغاني پوځیانو کړنیزه ( عملي ) ښوونه هم پیل شوه . خو له دې ټولو سره سره د اتکې هم باید لهیاده ونه باسو چې دافغانستان د وسله والو ځواکونو جګړه ییز چمتووالی پهډېره ټیټه کچه کې و ، ځکه حکومت دهغو د پیاوړتیا لپاره هیڅ شي ته هم ګوتې نه وروړې . سربېره پر دې زموږ دپوځي سلاکارانو او د ا. د.ج. کې دشوروي پوځي قوماندانۍ لارښوونو تههم چاغوږ نهنیوه او هغهبه په یوهغوږ ننوتې او له بل نه بهبېرته وتې . پخپله اردو هم تر ډېره ځایه پههماغسې پخوانۍ بڼې یانې داودي اوپاچاهي وزمهپاتې و . هغهخپلهروحیه بایللې او لهاشرارو سره دجګړې وړتیایې نهدرلوده .

دغهراز دافغان اردو پهوړاندې پخپله د ب. کارمل دریځ هم پوځي جوړښت تهډېر زیان ورساده . ځکه چې په پوځ کې دخلقیانو د دریځ د ځواکمنتیا لهامله نوموړي پر هغه باور نه کاوه . ب. کارمل پهوار وار دشته اردو د لهمنځه وړلو او دهغه پر ځای د « نوي ټیپ اردو » دجوړولو چې یوازې ( شخصاً ) ده تهوفادار وي خبره راپورته کړه . دپوځي ستونزو لهاوارولو سره دهغه چلند یوازې پرډلپالونکو ( فرکسیوني ) او پرچمي ګټیو ولاړ و . ب.کارمل هڅه کوله‌چې د قوماندانانو پهتوګه د پرچمیانو د ټاکنې لهلارې پهچټکۍ سره د امنیت او کورنیو چارو وزارتونو ځواکونو تهداردو دیوه اوښتوب ( الترناتیف ) په توګه وده ورکړي .

# ٤٠ اردو له مجاهدینو سره په جګړې کې ښکېل شو

دافغان پوځ د پاشلتیا او جګړه ییزې ورتیا دکمزوریتا (دهر ځلي له مخالفینو سره دجګړې نه کولو) له امله داتیایمو کلونو په پیل کې داشرارو د وسله والو باندونو پر خلاف دجګړې تول پېټی زمونږ د پوځونو پر اوږو پرېووت، زمونږ ځواکونو په حقیقت کې دجنووري په میاشت کې دیاغیانو پر خلاف جګړه ییز عملیات پیل کړل.

که په لومړي سرکې زمونږ ځواکونو د یاغیانو دوږو اوخورو ورو باندونو پر خلاف جګړه پر مخ بیوه ،نو داپرېل له پای او دمې له پیل نه را په دېخوا د مخالفینو په ډلو اوجګړه ییز جوړښت کې ژور بدلون منځته راغی ، د ځواکونو شمېر یې زیات شو او ټینګاو یې سمه سیده ( منظمه) بڼه غوره کړه . په دغه پړاو کې زمونږ لښکرو د ا.د.ج. دوسله وال پوځ له ځواکونو سره اوږه په اوږه په فیض آباد ، تالقانو ، بغلان ، جلال آباد او ځینې نورو ښارونو کې دبغاوت نغري ساړه او په نورستان اوهزاره جاتو کې یې هم دمخالفینو ستر وسله وال باندونه وځپل .مجاهدینو ته د داشان سترو ماتو له ور په برخه کېدو نه وروسته د ۱۹۸۰ کال پر منې کې دهغوی په څرګندو جګړه ییزو عملیاتو کې دلیدلو وړ کښېښت راغی . نور نو اشرارو زمونږ له ځواکونو سره له مخامخ جګړې نه ځانونه ښنګ ته کړل او دلارې نیولو ،ترور او دلارو ،درو او

استوگنې دسیمو په سختو ځایونو کې د ورانکاریو دسرته رسولو او پراخه ماین کرنې ( اینبودنې ) تاکتیک ته یې مخه کړه.

{له همدې امله} شوروي سرتېرو ته هم جګړه ډېره اوږده او ستړې کوونکې شوه. دهغوی هریوه ته ددغې جګړې « خپله برخه » وروسېده. هریوه یې « خپل » وخت، « خپله » نښته، « خپله » غونډۍ، « خپله » پوسته او « خپل » جنګیالي ملګری درلودل.

زموږ دهلکانو لپاره دافغانستان لومړۍ نښتې څنګه وې؟ شوروي سرتېري پرڅه شي پېښې شول، څه یې ولیدل او څه یې وګالل؟ داپوښتنې ځکه کوم چې هغوی په سوله ییزو شرایطو کې روزل شوي او رالوی شوي وو او دیوه سم سیده ( نورمال ) سړي لپاره دخلکو وژل نه یوازې نا طبیعي، بلکې ډېر ستونزمن کار دی. خو هغو چارواکو چې دخپلې لوېئ، غرور او ځان غوښتنې لپاره یې دوی پر دې هېواد او پردۍ جګړې ته لېږلي وو، په دې شان خبرو کې اصلاً هېڅ چورت هم نه واهه. آیا برژنف اودهغه شاوخوا ګوندي چارواکو ته هغو ستونزو او کړاوونو چې سرتېرو او دهغوی خپلوانو ګالل، څه ارزښت درلود؟ ځکه چې هغوی ښځې په بله هوا کې وو او ټول اندو فکر یې یوازې او یوازې دلا زیاتو نښانونو او لقبونو تر لاسه کولو ته اړم وچې په دې توګه یې ډېر لوړ انساني ارمانونه دچتیاتو کڅې ته راتیټ کړي او ځانونه یې دخلکو دخندا ور ګرځولي وو.

څرګنده ده چې هره جګړه خپلې ځانګړتیاوې لري، ځکه نو د افغانستان جګړه هم هېڅ یوې بلې ته ورته نه وه. دې جګړې ځانته ځانګړی چل ول، جلا تاکتیک او لارې چارې درلودې، دلته جبهه او دجبهې شا په څرګنده توګه سره بېل نه و، هېڅ ډول پولې او اډانې هم نه وې. دا خبره به تل تته او تیاره وه چې « دښمن څوک او چېرته دی؟ » په حقیقت کې دښمن هېڅ چېرته او په هرځای کې و. داسې به هم پېښېدل چې دنن اندیوالان به سبا سره غوښه او چاړه وو او یا

برعکس.

دوخت په تېرېدو سره به شوروي لېښکر پوځي ټولګي بيا بيا له ياغيانو سره په جګړه کې ښکېل کېدل. مجاهدينو غوښتل چې پخپلو بريدونو سره زموږ پوځونه ستړي او له پښو وغورځوي. ورانکارولاروهونکو اوترهګرو به چې ښکاره يې له ساده وګړو نه توپير ګران و، جګړه ييز تخنيک او مال ورونکي کتارونه دخپلو بريدونو موخه ګرځول. مجاهدين چې دسيمو د وګړو په منځ کې ځاي پر ځاي شوي وو له هغوی نه به يې د ډال په توګه ګټه اخيسته، اصلاً جګړه په وړو وړو برخو وېشل شوې وه او زيات زور يې پر لارو، درو، دښتو، دکاروانونو پر پخوانيو لارو، ښارونو، کليو او پرونو او بوټو پوښل شوو (شنو) سيمو باندې راوستی و. هغې ديوې شېبې لپاره هم سرتېري دمې ته نه پرېښودل او تل يې لالهانده کول.

{خول له دې ټولو نادودو سره سره به} مسکو ته له هيله منديو نه ډک داسې رپوټونه ورکول کېدل: «په وروستيو وختو کې دډېر ښه سمبال شوي (سازمان موندونکي)، پرګنيز سياسي او پوځي کار له برکته د ا.خ.د.ګ. په ليکو کې څرګند يووالي منځته راغلی، له خلکو سره د مشرتابه اړيکو پراختيا موندلې او په ځينو سيمو کې حالاتو ټاکلی ټينګښت موندلی دی.

دانقلاب ضد ډلو او بانډونو پرخلاف د ا.د.ج. دوسله والو ځواکونو د ټولګيو عملياتو چې ډېر ځلې دشوروي پوځونو د ډلو ډلګيو په ملګرتيا ترسره کېږي دحالاتو د ټينګښت په کار کې مثبت اوګټور لامل ګڼل کېږي. د ا.د.ج. مشرتابه په سيمو کې د دولتي او ګوندي اورګانونو په جوړولو او دپرګنيز- سياسي کار په پرمخ بيولو سره دلاسته راغليو پوځي بريالیتوبونو د ټينګښت لپاره تدبيرونه لا پسې چټک کړي دي...»

تابييف، د ۱۹۸۰ کال جون

په همدې ترڅ کې دافغانستان یاغي غورځنګ دهرې میاشتې په تېرېدو سره لا پسې پراخېده اوپرګنیزه بڼه یې غوره کوله. مجاهدینو ددې لپاره چې خلک دشوروي پوځیانو دکړنو پرخلاف راوپاروي ،نو زمونږ دپوځي جامو (یونیفورم) په اغوستلو سره به یې پر خلکو چور وتالان ګډ کړ ،په دې اړه د ٤٠ پوځ د درستیز توب د ١٩٨٠ کال د اپریل د میاشتې په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي :« انقلاب ضد د وسله والو بریدونو ترڅنګ له دښمنۍ نه ډکو تبلیغاتو ته هم پښې اړم کړي او په سیاسي ډګر کې یې خپلو حکومتي ضداو شوروي ضد پروپاګنډ و ته لا زور ورکړی دی. د اسلامي کمېټو په نوم ځانګړې ایډیولوژیکي ډلې هلې ځلې کوي چې د بزګرانو پرګنو نه لودن ورک کړي او دهغوی په زړونو کې د ا.د.ج. دانقلابي حکومت او هغو دیموکراتیکو بدلونونو په وړاندې چې په هېواد کې پلي کېږي د بې باورۍ زړي وشیندي.

سربېره پردې هغوی دشوروي پوځونو دنوم بداوي اوبې باوره کولو لپاره هم پراخه کوښښونه کوي ،داسې پېښې هم ترسترګو کېږي چې اشرار دشوروي سر تېرو په جامه کې خلک لوټوي اووژني.

انقلاب ضد دوژلو اووهړولو له لارو چارو او دخلکو له دیني او ملي احساساتو نه په ګټې اخیستنې سره دهېواد دوګړو زیاته برخه ترخپلې اغېزې لاندې راولي...»

له بلې خوا هغو مرستو هم چې دمخالفینو مشرانو له امریکا ،پاکستان، چین او نورو هېوادونو نه په پراخه توګه تر لاسه کولې تر ډېره ځایه یې دیاغي غورځنګ له خوځون او کارنده کېدو سره ډېره مرسته کوله. دکشف اورګانونو به په پرله پسې توګه په دې باب شوروي مشرتابه ته اړونده رپوټونه ورکول: «دانقلاب ضد ډلو تېلو یوه ٤٨ کسیزه افغاني ډله دجنوري پر ٣٠ مه د امریکا متحدو ایالتونو ته لاړه. دغه ډله په تکزاس او کالیفورنیا کې دامریکا دوسله والو پوځونو په اډو کې د پوځي روزنې لپاره استول شوې ده.

دپاکستان داردو په مرسته دوه امریکایي پوځیان ډیویر او کیمپن جورج

دکشف په موخه او په ځانګړې توګه دنوو هوايي اډو ، شوروي پوځونود مېشتوالي د سيمو او { دهغوی له خوا} له کيمياوي وسلې نه دګټې اخيستنې د «فکتونو» دترلاسه کولو لپاره دمارچ په مياشت کې افغانستان ته ورننوتل.

دغه راز په مارچ کې دسراب رود په کلي کې ( چې دکوټې دښار په ٤٠ کيلو مترۍ کې پروت دی) دافغاني انقلاب ضد کسانو لپاره دامريکا د يوه روزنيز مرکز دجوړولو کار هم پشپړ شو . په دغه مرکز کې د ٢٠ تنو په شاوخوا کې امريکايي سلاکاران افغانانو ته دپارتيزاني جګړې دلارو چارو او تاکتيک په ورزده کولو بوخت دي. هغه کسان چې دلته دروزنې په پای کې له ځانه ښه ورتيا وښيي ، نو د زده کړې د دوام په موخه د يوه کال لپاره امريکا ته استول کېږي.

آخوا د امريکا کانګرس د اپرېل په مياشت کې ياغيانو ته د ١٥ مليونه ډالرو په ارزښت مخامخ او ښکاره مرستــه ومنله او په دې توګه يې د يوه خپلواک هېواد چې د ملګرو ملتونو غړی دی په کورنيو چارو کې خپلې لاسوهنې ته قانوني بڼه ورکړه . . . (!؟)

په پاکستان کې دامريکا سفير هينتن د اپرېل پر مياشت په پېښور کې دافغاني انقلاب ضد مشرانو سره په يوې غونډې کې ثرګنده کړه چې که چېرې نوموړي په يوې ګډې جبهې کې سره راټول شي ، نو امريکا به له انقلاب ضد سره خپلې اقتصادي او پوځي مرستې نورې هم زياتې کړي . دغه راز دامريکا هوايي پوځي ځواکونو په اپرېل کې د ٤٠٠ په شاوخوا کې کيمياوي لاسي بمونه پېښور ته ولېږدول چې د ا.د.ج. په خاوره کې په جګړه ييزو عملياتو کې دګټې اخيستنې لپاره داشرارو د استازو تر منځ ووېشل شول.

دامريکا دڅارګرۍ استازو له پاکستاني چارواکو نه اجازه غوښتې چې له افغاني انقلاب ضد سره دمرستې لپاره ځانګړې شوې وسلې او مهمات مخامخ د ا. د.ج. په خاوره کې هغوی ته وسپاري. امريکايي سلاکاران او کارپوهان دکابل د سويل په ١٥ کيلو مترۍ کې د موسان ( موسهي) په سيمه کې هم

یاغیانو ته دجګړې ییزو عملیاتو د پرمخ بیولو د تاکتیک په ورزده کولو کې ګډون لري.

آخوا پښتنور ته څېرمه د ورسک په « ۲ لمبر) مېشت غالي کې هم دوه تنه امریکایي سلاکاران په دنده بوخت دي. دامریکا متحدو ایالتونو له مارچ نه تر جون پورې د ٤ نیم ملیون ډالرو په ارزښت وسله دافغاني انقلاب ضد په واک کې ورکړې ده ... » ( د ۱۹۸۰ کال سپتمبر ).

یاغیانو د ۱۹۸۰ کال پر مني په سختو غرنیو سیمو کې دوسلو ، مهماتو او خوراکي شیانو لپاره د زېرمتونونو او دژمي د تېرولو لپاره د سمڅو په جوړولو لاس پورې کړ. په دې توګه یوازې دیوه کال په ترڅ کې دیاغیانو دچال چلند په لارو چارو کې دلیدلو وړ بدلون منځته راغی. خود هغوی دجګړې د لارو چارو له بدلېدو سره سم زمونږ د ټولګیو او ډلو ډلګیو په تاکتیک کې هم تاکلی بدلون منځته راته.

# خلک پلي کېدونکي بدلونونه په تینګره ( کته پیش ) وهي

د ۱۹۸۰ کال په اپرېل کې تر غوړي انقلاب وروسته د خلقیانو له خوا جوړ شوی او رپول شوی دولتي بیرغ بیرته درې رنګه او دولتي نښان هم بېرته واړول شو. نوي مشر تابه غوښتل چې په دې توګه دافغانستان دودیزو رنګونو ته خپله وفاداري په ډاګه کړي.

کارمل په ښکاره ډېر خوځنده و، تل به یې دکنګرو او کنفرانسونو دجوړېدو په کار کې ګډون کاوه، په پلازمېنې ، ولایتونو ، ولسوالیو او علاقه داریو کې یې دخلکو دبېلو بېلو پاړکو او پوړونو له استازیو سره لیدنې کتنې کولې او په غونډو او میتینګونو کې به یې دخپلو ویناوو په ترڅ کې خلکو ته دګوند سیاست

او کړنلاره روښانه کوله.

په ۱۹۸۱ کال کې مسکو ته د ب. کارمل دسفر په بهیر کې دګټورو دوه اړخیزو اړیکو او دشوروي اتحاد له خوا له افغانستان سره دوړیا مرستو په باب یو تړون لاسلیک شو . که څه هم چې په دغه پړاو کې دهیواد کورني سیاست پر مثبت لوري وده کوله ، خو بدلونونه په څنډ سره پلي کېدل او له دې کبله چې دخلکو د ټاکلې برخې له ګټو سره یې سمون نه درلود ، نو د هغوی له غبرګون او مخالفت سره مخامخ و . سربېره پر دې مخالفینو دهغو کسانو په وړاندې چې دا .خ. د . ګ. له رژیم نه یې ملاتړ کاوه ،خپل مخالفت لا پسې سخت کړ.

د ٤٠ اردو د کشف دڅانګې مشر په دې اړه د ۱۹۸۱ کال په جون کې داسې رپوټ ورکړ: « دګوندي کارکوونکو ،خادیستانو ،څارندویانو او ټولو هغو کسانو پر خلاف چې د ب. کارمل له رژیم نه ملاتړ کوي له ترهګرۍ نه ډکې کړنې ورځ تر ورځې پراختیا مومي. دبېلګې په توګه که د روان کال د اپریل پر میاشت په هیواد کې ۳۸ ترهګرې (تروریستي) کړنې ترسره او په هغو کې ٦۳ تنه وژل شوي وو ،نو د مۍ پر میاشت ۱۱۲ ترهګرې کړنې سرته ورسېدې چې ۲۰۱ تنه په کې له منځه لاړل.

دافغانستان داسلامي ګوند په هغه ډېرکتیف کې چې په تالقانو کې دکشف د کارکوونکو ګوتو ته ورغی اشرارو ته لارښوونه شوې وه چې له دولتي پوځونو سره دې دپخوا په څېر له مخامخ جګړې نه ډډه کوي او له هغوی نه غوښتل شوي وو چې هڅه دې وکړي چې ځانونه دولسي خلکو په جامه کې تېر کړي . له بله پلوه د یاغیانو له خوا دافغاني پوځیانو او ملېشو له جامو (یونیفورم) نه د ګټې اخیستنې پېښو هم ډېره پراختیا موندلې ده ..... »

خو د ب. کارمل په کړنلاره کې هېڅ داسې یو څه ونه موندل شو چې دهغه له برکته دې له نوې واکمنۍ سره دخلکو د زیاتې برخې په اړیکو کې ژور او ګټور بدلون راشي . د ا.خ.د. ګ. دپخوا په څېر هڅه کوله چې خپله تګلاره دتوتالیتار دولت له لارو چارو نه په ګټې اخیستنې یانې دزور له لارې پرمخ

بوځي . خو څرګنده ده چې د اشان چلند نه شي کولی د اوږده وخت لپاره ګټوري پايلې له ځانه سره ولري په همدې لړ کې {د افغانانو} دوهلو ټکولو {او له منځه وړلو} دنده هم دشوروي پوځونو پر غاړه پرېوته .

په دې ترڅ کې د ۱۹۸۱ کال په پيل کې {دافغانستان دروانو حالاتو په باب} د شوروي اتحاد د دفاع وزارت مشرتابه ته داشان رپوټ ورکړ شو: «۱-د ا.د.ج. کې مېشتو شوروي پوځونو او افغاني ټولګيو دامنيتي اورګانونو ، څارندوی اوګوندي کارندويانو ( فعالينو ) په ملتيا د سپتمبر پر مياشت دکابل په شاوخوا سيمو ، په ختيزو او سويلي ولايتونو او دغه راز دهېواد په شمال کې دياغيانو د باندونو دځپلو په موخه يو لړ عمليات ترسره کړل چې دهغو په بهيرکې له ۳ نيم زره تنو څخه زيات اشرار له منځه لاړل او ۷۰۰ تنه يې بنديان شول.

اوس دهېواد په ټولو ولايتي مرکزونو کې دولتي واکمني ټينګه ده ، دهېواد له ۲۹۰ ولسواليو او علاقه داريو نه ۷۰ په سلو کې دحکومت تر ولکې لاندې دي او ۷٤ ولسوالۍ او علاقه دارۍ يانې په سلو کې له ۳۰ نه لږه خاوره دياغيانو په لاس کې ده . په ټوليزه توګه په افغانستان کې دحالاتو د ټينګښت په برخه کې دليدلو وړ برياليتوبونه لاسته راغلي دي. يوازې د دسمبر پر مياشت د هېواد په ۳٤ ولسواليو او علاقه داريو کې دولتي واکمني ټينګه شوې ده .

۲- د ا.د.ج. کې دشوروي پوځونو او افغاني وسله والو ځواکونو له خوا د ۱۹۸۱ کال دجنوري - فبروري په مياشتو کې دجګړه ييزو عملياتو دترسره کېدلو پلان هم جوړ شوی او په هغه کې ټاکل شوې چې د ياغيانو دباندونو دځپلو او دهېواد په مهمو سيمو ( ۲٤ په شاوخوا کې ولسواليو ) کې دواکمنۍ د ټينګولو لپاره بايد بنسټيزې هلې ځلې ترسره شي. په دې توګه نو دفبروري تر پايه بايد په سلو کې له ۵۰ نه هم لږې ولسوالۍ اوسيمه والۍ د ياغيانو په ولکه کې پاتې شي.

دغه‌راز په‌پام کې ده‌چې د دولتي پولې ساتنه هم‌باید سمباله شي . دجنوري فبروري په‌میاشتو کې به‌پرشتو ۱۸ کنډکونو دوه‌نورهم دپولو دساتنې لپاره وګمارل‌شي. دپوله‌والو ( سرحدي) کنډکونو دبشپړتیا کچه هم باید په‌سلو کې اویاوو ته‌لوړه شي.

تر اوسه دپولې په‌اوږدو کې ۴۰۰ ماینجنې سیمې (د ۱۲۵ کیلومترو په اوږدوالي چې له ۵ لکه‌نه‌زیات ماینونه په‌کې ایښودل شوي ) جوړې شوې دي. تپاکل شوی ده‌چې نورې ۲۰ ورته سیمې هم ( چې د ۱۰ کیلومترو په اوږدوالي به ۲۵ زره ماینونه‌په‌کې وکرل شي ) جوړې شي . دغه راز به‌د ۱۹۸۱ کال په‌جنوري فبروري کې‌هم په‌کابل ، کندهار ، هرات ، جلال آباد ، خوست او ... کې دانقلاب ضد دپټو ځالو دله‌منځه‌وړلو لپاره او پراتیفي او جګړه ییز عملیات دوام ومومي . {خو له دې ټولو سره‌سره} دافغانستان په اردو کې له‌هغو افسرانو سره‌چې پخوایې دګوند له خلقي اړخ سره تړاو درلود له توپیره ډک چلند دوام لري. ان تر دې چې دهغوی پرخلاف یو لړ لمسونې او چلوتې ( دسیسې) هم جوړېږي ، ورکسان یې نه‌ستایل کېږي ، خپلې واریزې (نوبتي) لوړونې ( ترفیع ګانې) نه‌ورکول کېږي او له‌ځوکیو نه‌دهغوی دلرې کولو کوښښونه اوهلې‌ځلې هم‌دوام لري.... » (د ۱۹۸۱ کال جنوري ) .

خو خلکو هغه‌بدلونونه چې دا .خ.د. ګ. له‌خوا پلې کېدل په‌ترینګۍ وهل، ځکه چې « وګړنی »واکمني هرچېرته دبرچې په‌زور ټینګېده‌او د واکمنۍ د دودیز سیستم پرځای بېخي بل‌سیستم په‌پښو درول کېده . هو ، ب .کارمل په‌زور دبدلونونو د پلي کولولپاره اړونده ځواک ته اړتیا درلوده ، خوځرنګه چې هغه پراردو چندان باور نه درلود . نو هڅه یې کوله چې دانقلاب ساتونکو او ګوندي کارندویانو ( فعالینو) ډلې زیاتې کړي. ګوندي سلاکارانو (مشاورینو) هم‌چې په‌پراخه توګه یې د « ګوندیانو » د ډلوستاینې کولې له نوموړي سره په‌دې کار کې مرسته کوله :« دګوندي کارندویانو او دافغانستان دځوانانو دیموکراتیک سازمان دغړو پوځي ډلې د هرې ورځې په‌تېرېدو سره

په ربښتيني ځواک اوړي ،اوس دهېواد په ټولو ولايتونو کې دګوندي کارندويانو او ځوانانو دسازمان دغړو ډلې جوړې شوي او په حقيقت کې هغه دبهلو بهلو افغاني ټولګيو په منځ کې يو سم سيده ( منظم ) ځواک ګڼل کېږي چې ښه ځګړه ييزه روحيه يې بېلونکې نښبه ده . دنورو پوځي عملياتو ترڅنګ دا دګوندي کارندويانو او د دولتي امنيت خدمتونو ( خاد ) دکارکوونکو دهڅو او رول برکت دی چې نن ورځ دهرات ، کندهار اوننګرهار په څېر ولايتونو کې حالات تر ټاکلي بريده ښه شوي دي. ... » ( ۱ )

( تابييف ، کوزلوف ، د ۱۹۸۰ کال اکتوبر ) .

**لاسوند ( پټ )**

د ا.د.ج. کې شوروي سفير ته له لارښوونو څخه را اخيستنه

( {دغه لارښوونې} د شوروي اتحاد کمونيست ګوند د مرکزي کمېټې دسياسي بيورو د ۱۹۸۱ کال د اپرېل د ۲۱ مې نېټې په غونډه کې منل شوې دي ) .

ځانګړی لمبر ۴۲۴،۳۹۷

ملګري کارمل ته ورشئ او {زموږ} پر سپارښتنې باندې په تکيې سره ورته ووايئ چې دپوله والو ( سرحدي ) پوځونو او دګوندي کارندويانو انقلاب ساتونکو ډلو لپاره داړتيا وړ ځانګړو مالونو دلېږلو په باب د ا.د.ج. دحکومت غوښتنې په غور سره وڅېړل شوې.

دشوروي اتحاد حکومت له انقلاب ضد سره دجګړې په پرمخ بيولو کې د ا.د.ج. له حکومت سره دمرستې لپاره دا شونتيا ( امکان ) ومونده چې پر ۱۹۸۱ کال په وړيا توګه ۴۵ ب.ت.ار. - ۶۰ پ.ب. ډوله زغره وال ګاډي او دهغو مهمات او ۲۶۷ پوځي راډيويي سټيشنونه دپوله والو ځواکونو لپاره او لس زره کلاشينکوفونه او پنځه زره مکاروف تومانچې له مهماتو سره

---

(۱)- پورته يادې شوی ډلې دشوروي اتحاد پر لګښت وسله والېدلې.

يوځاى دګوندي كارندويانو او انقلاب ساتونكو د ډلو لپاره د ا.د.ج. ته ولېږي . د دغو وسلو او مهماتو ټوله بيه ۶.۳ مليونه روبله كېږي. . . »

د دې ترڅنګه ب . كارمل دا هڅه هم كوله چې د شوروي پوځونو له مرستې نه په پراخه توګه د مخالفينو پر خلاف ګټه واخلي. له همدې امله وه چې دغه پوځونه د افغانستان په كورني جګړه كې پر يوه بنسټيز او غوڅ ځواك واوښتل او د هغوى په مرسته او ګډون د هېواد په ډېرو مهمو سيمو كې د ياغيانو تر ټولو سترې او مهمې ډلې ټپلې ځپل كېدې.

# شوروي اردو د پارتيزاني ضد جګړې جوګه نه دى

په افغانستان كې د شوروي پوځونو د استوګنې په لومړيو وختونو كې په ډاګه شوه چې زموږ سم سيده ( منظم ) ټولګي ، ډلې - ډلګۍ او ځينې پوځيان د مخالفينو د كوچنيو او چټكو ډلو د جګړې له لارو چارو او تاكتيک سره بشپړه بلدتيا نه لري. هغوى په تېره د شپې له خوا په غرنيو سيمو او دښتو كې د جګړې لپاره سم چمتووالى او زده كړه نه درلوده او ځاني ( فزيكي ) او روحي زغم له پلوه هم كمزوري وو . كله كله به داسې هم پېښېدل چې هغوى به اړوړ ۳۰ - ۴۰ كيلو ګرامه پېټي ځو شپې او ورځې په غرنيو سيمو كې پر شا يوسي. د هغو افسرانو او ورو ضابطانو خو بيا بېخي خونده نه وه چې له احتياط نه راغوښتل شوي وو . هو ، پارتيزاني ضد جګړې ته نه چمتووالى [ زموږ د پوځونو ] تر ټولو مهمه ستونزه ګڼل كېده.

په لومړي سر كې ( د ۱۹۸۰ كال تر نيمايي ) په دوديزو لارو چارو د لارو په اوږدو ، درو او ناوګنو كې د جګړه ييزو عملياتو تر سره كولو چندان ګټورې پايلې نه درلودې . سربېره پر دې فرقو او غونډونو ته به د ډېرو پراخو سيمو د ساتنې

دنده ورسپارل کېده ، داسې چې فرقو به تر ۲۰۰ زره کيلو متره مربع او غونډو نو ته به له ۷۰ زره نه تر يو لک متره مربع پورې سيمې دساتنې دنده ور په غاړه وه . ښکاره خبره ده چې هغوی نه شول کولی دومره پراخه غرنۍ سيمې په ښه توگه وساتي ... دغه راز دجگړه ييزو عملياتو په ترڅ کې جوته شوه چې دموټريزه ټولگيو شته جوړښت دپوځي دندو او عملياتو { درښتينې} تياتر او ډگر غوښتنو ته ځواب نه شي ويلاې. له بله پلوه فرقې هم ډېرې سترې او په جگړه ييز درانه تخنيک باندې بې ځايه پړسېدلې وې . په کار وه چې په دې برخو کې ور نده سمونې منځته راغلې واى.

له هندې امله د ٤٠ پوځ دقوماندان له امر سره سم په ټولو پوځي ټولگيو کې يو شو جگړه ييزې ډلې ډلگۍ په نښه شوې چې دکشف له خوا له تر لاسه شويو رپوټونو سره سم يې بايد چټک غبرگون ښودلی واى . دنده والو (موظفو) ډلو ډلگيو په منځنۍ توگه په مياشت کې ۲۰-۲۵ جگړه ييزې دندې سرته رسولې.

خو دسم سيده پوځونو دغو عملياتو هم ونه شو کړاى د وسله والو مخالفينو ډلې په بشپړه توگه له منځه يوسي، ځکه چې مجاهدينو ته ټول ځايونه ډېر ښه معلوم وو او دسيمو داوسېدونکو په مرسته او ملاتړ يې کولی شول خپل ځانونه او ښستيز ځواکونه له خار او گوزار نه ژغنډې ته کړي . هو ، مجاهدين پر دې ډاډه ور چې « دا دهغوی خپل غرونه دي او هغه هرو مرو له دوی سره مرسته کوي . . . . »

له بلې خوا په پرله پسې توگه په ښېلو ښېلو کچو درپوټونو او پلانونو « سورې کېدلو » ( رسواکېدلو ) هم دمخالفينو د بريدونو له بريالي توب سره مرسته کوله ، ځرنگه چې عمليات له حکومتي پوځونو سره په گډه پر مخ وړل کېدل ، نو دهغو پلان هم بايد له نوموړو سره گډ شوی واى ، له هندې امله به دغه پلانونه آن تر مخالفينو پورې هم ور رسېدل . په وروسته کې شوروي قوماندانۍ دغه ټکي په کلکه په پام کې نيوه او { دعملياتو} رښتيني پلانونه

په‌ببخي دګوتو په‌شمار کسانو ته‌ښودل کېدل او افغاني اړخ به‌له هغو نه په ورروستی شبیه کې خبرېده.

پخپله اوس مهاله (مډرن) درانه تخنیک هم په‌غرونو کې د دندو په‌بهیر کې د نیمګړتیا وو د درلودلو له‌امله سختې ستونزې‌را منځته کولې. دساري په توګه توپچي ځواکونو نه‌شو کولی چې په‌غرنیو سیمو کې د ډزو لپاره دخپلو توپونو خولې (میلونه) ښې سمې جګې او تیتې کړي. له‌هغو نه یوازې په اوارو سیمو او لارو کې ګټه‌اخیستل کېدای شوه. دغه راز ټانکونو او جګړه ییزو ماشینونو هم د ګټې اخیستنې لپاره او پراتیفي غبرګون نه‌شو ښودلی، دغرونو څوکې يې سمې نه‌شوې ویشتلای اوپه‌جګړه کې به‌ډېر ځلې په‌یوه‌بې ګټې اوبې خونده شي اوښتل.

له‌همدې امله {دشوروي اتحاد} دوسلو وتلي کارپوهان اوجوړونکي د ۱۹۸۰ کال په‌می کې کابل ته‌راغلل اودلته ورته‌دشتو ستونزو اونیمګړتیاوو دلرې کېدلو تر څنګ د وسلو اوتخنیک د بشپړولو په‌اړه‌هم یولړ وړاندیزونه وشول. دغه‌وړاندیزونه‌تر ډېره ځایه د ځرخکیو د انجنونو دکمزورتیا، دماین پلټونکو آلو دنه‌وړتیا اونورو په‌اړه‌وو. دې کار ډېر ژر خپله اغېزه‌وښندله‌او په راتلونکې کې‌به دغه‌کسان بیا بیا افغانستان ته‌راتلل او دلته به‌یې دتخنیک دازمایښتي ببلګو او نویو وسلو د ازموینې بهیر کوت.

باید ووایم‌چې جګړه ییزې ځرخکی دمخالفینو د وسله‌والو بانډونو پر خلاف په‌جګړه کې تر ټولو وېرونکې اواغېزمنه وسله وه. په‌لومړي سرکې هغه په‌هوایي بریدونو کې ډېرې ښې وځلېدې، خو دیاغي ډلو په‌لیکو کې دلېږدولو وړ هوایي ضد بېلابېلو توغندیو تر پیدا کېدو وروسته د دغو الوتکو خونده هم لاړه او دراغورځولو پېښې یې زیاتې شوې. په‌پای کې پرېکړه وشوه‌چې هغه تخنیک او وسلې چې د افغانستان په‌شرایطو کې کار نه ورکوي‌باید بېرته شوروي اتحاد ته‌ولېږدول‌شي (په‌دې لړ کې د ۱۹۸۰ کال په‌جون کې د ټانک دوه غونډونه، دهوایي ضد توغندیو یوه‌لوا او دتوغندیو یوڅو کنډکونه د

ا. د.ج. نه‌وایستل شول).

په افغانستان کې دجګړې له‌هماغه پیل نه له‌شوروي او افغاني پوځونو نه دګټې اخیستنې یو ځانګړی میکانیزم منځته راغلی و چې د میاشتینو پلانونو پر بنسټ ولاړ و. دغه پلانونه به‌د ٤٠ اردو د درستیز او په افغانستان کې دلوی پوځي سلاکار د اداري له‌خوا په ګډه جوړ اوبیا به‌هغه په‌مسکو کې دستر درستیز اوپراتیفي لویې پاسوالی ته‌راوړل کېدل. وروسته به‌په‌هغو کې د دغې اداري د لومړی پاسوالی په‌یوه‌ځانګه کې (چې دافغانستان دجګړې په‌پړاو کې مشري د جنرالانو وه) اړونده سمونې او بدلونونه‌راغلل اودهغو په باب به‌لومړنی پرېکړه ونیول شوه او چې دا کار به‌هم‌وشو، نو وروسته به‌دهغو په‌باب دستر درستیز د اوپراتیفي لویې پاسوالی مشر (جنرالانو و. ورینیکوف، اي. ګاشکوف او ب. اومیلیچیف) اولوی درستیز (دشوروي اتحاد مارشالانو ن. اګارکوف اوس. اخرامییف) ته‌رپوټ ورکړ شو او دهمدې پړاو تر تېرېدو وروسته به‌نو بیا دغه پلانونه‌دشوروي اتحاد د دفاع وزیر (دشوروي اتحاد دمارشالانو د. اوستینوف، س.سوکولوف او د. یازوف) له‌خوا منل کېدل.

په‌دغو پلانونو کې به‌دهېواد په‌بېلوبېلو سیمو کې دپوځي-سیاسي حالت دځرنګوالي اوپرمختګ په پام کې‌نیولو سره‌د افغانستان په‌بېلابېلو ولایتونو کې د ګډو اوجلا (یوازې د افغاني ټولګیو له‌خوا) دجګړه‌ییزو عملیاتو تر سره کېدل په‌پام کې نیول کېدل.

دافغان جګړې په‌پیل کې دشوروي پوځونو د جګړه‌ییزو عملیاتو د څرنګوالي دشننې (تحلیل) په‌ترڅ کې باید ووایم چې مونږ د ٥٠-٧٠ کلونو دسیمه ییزو جګړو تجربې او درسونه په‌بشپړه‌توګه نه ووزده کړي. له‌همدې امله‌مو پوځونو د افغانستان په‌شرایطو کې جګړې ته سم چمتووالی نه‌درلود. له‌بله‌پلوه افغاني جګړه هم هغسې نه‌وه‌لکه څنګه چې دتاکتیک او جګړې دلارو چارو په‌باب په‌کتابونو کښل شوي او پوځونو ته ورزده‌شوي وو. لېده

داچې هغه شان چې شوروي مشرانو افغانستان ته دلښکرو دلېږلو پروخت سنجولې وه، هلته { زموږ دپوځونو} «چکر» هومره هم اسان نه و.

خو ددې ټولو ټکو په پام کې نیولو سره مجاهدینو بیا هم نه شو کولی چې دسم سیده پوځونو په وړاندې په مخامخ جګړه کې ټینګاو وکړي او لکه چې څرګنده ده تل به له ماتې سره مخامخ وو. خو هغوی ته آن خپله ماتې هومره ګرانه نه لوېدله لکه څومره چې به زموږ دبریو بیه ګرانه وه. زموږ مشرتابه نه یوازې داټکی په پام کې نه نیوه چې شوروي ځوانان دهغوی پراسر په افغانستان کې له یاغیانو سره په جګړه کې { هسې خوشې} وژل کېږي، بلکې غوره یې ګڼله چې پردې خبرې باید

خوله پټه ونیول شي.

**لاسوند**

**بهخې پټ**

**ځانګړې دوسیه**

د شوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کسټې دسیاسي بیورو دغونډې دبهیر کښنه ( ثبت)

د ۱۹۸۱ کال دجولای ۳۰ مه

... سوسلوف : غوښتل مې چې هسې سلامشوره سره وکړو. ملګري تیخونوف دشوروي اتحاد کمونیست ګوند مرکزي کسټې ته یو لیک لېږلی چې په هغه کې یې په افغانستان کې دوژل شوو پوځیانو دیاد د تلپاتیرالي په اړه یو وړاندیز کړی دی. په لیک کې ویل شوي چې { ددغو پوځیانو} پر ګوروونو (قبرونو) باندې د شناختنو دایښودلو لپاره دې هرې کورنۍ ته زر - زر روبله ورکړل شي. البته خبره په پیسو کې نه ده، بلکې په دې کې ده چې که اوس موږ { دهغوی} د یاد په تلپاتیوالي لاس پورې کړو او دګوروونو پر شناختنو په دې اړه لیکل پیل کړو، نو که په ځینو مړستونونو ( هدیرو) کې ددې شان ګوروونو شمېر ډېر شي، نو دا کار به له سیاسي پلوه دومره سم نه وي.

اندروپوف : زه نه وایم چې پوځیان دې ګنې په درناوي خاورو ته نه سپارل کېږي خو د هغوی دیاد د تلپاتي کولو لپاره لا وختي دی.

کیریلنکو : په اوس وخت کې دشناختو ایښودل غوره کار نه برېښي .

تیخونوف : البته خاورو ته سپارل خو بایده دي چې ترسره شي ، خو داچې پرګورونو دې څه ولیکل شي که نه ، دا بېله خبره ده.

سوسلوف : پر دې خبرې هم غور په کار دی چې ،هغو میندو او پلرونو ته چې بچیان یې په افغانستان کې وژل شوي دي څه ځواب وویل شي. په دې اړه ډېرو ناندریواو اوتوبوتو ته اړتیا نه شته . ځوابونه باید ډېر لنډ ، غوڅ اوتول ګډ (متحدالمال) وي... »

{ په دې توګه } له ربښتیني ژوند نه واټن لرونکي « سرکار » دیولړ خیالي «سیاسي ملحوظاتو» په پام کې نیولو له امله دهغو شوروي سرتېرو په وړاندې چې دجګړې په ډګر کې وژل شوي وو د وروستي اوانساني درناوي له ترسره کولو نه هم ډډه کوله . البته دهېواد ننۍ ستري جګړې د سرتېرو حالت هم دومره ښه نه و . آن تردې چې دهغوی یوشمېر خولا تراوسه خاورو ته نه دي سپارل شوي خو د روس پر اوو سلاوکلیسا د افغاني جګړې ترپایته رسېدو وروسته په افغانستان کې د وژل شوو پوځیانو روح ته د دعا لاسونه پورته کړل.



ACKU

# څلورم پارگی

## د افغاني مخالفینو سازمانونه ،

## مشران او انډیوالان

په افغانستان کې دکابل حکومت پر خلاف ۷۰ مخالف گوندونه ، سازمانونه او ډلې ټپلې جنگېدلې . هغوی د ا.د.ج. حکومت رانسکورول خپله نږدې موخه ټاکلې وه . خو د هغوی په مشرتابه کې هم دافغاني ټولنې د ودې او پرمختگ دراتلونکې په باب یو والی ورک و . په دې مانا چې یوې برخې په افغانستان کې پاکستان یا ایران ته ورته ( چې دا دواړه بېلگې هم سره یو شان نه دي) دیو « اسلامي جمهوریت » دجوړولو لپاره هاندوهڅه کوله ، اوبلې یې آن دپاچاهی په گډون له انقلاب نه دتر مخه رژیمونو د بیا راژوندي کولو په موخه هلې ځلې کولې . ددې تر څنگه دهغوی تر منځ ځینې نور اختلافونه لکه ملي ، قامي ، قبیلوي او ...هم وو. له همدې امله دیاغیانو په باب د « مخالفینو »

ACKU

(اپوزیسیون) د نومونې (اصطلاح) په کارولو گرد سره تړانده (مشروطه) او تولیزه (عمومي) بڼه درلوده او دا ځکه چې دهغوی مشران دبېلابېلو لیدونو درلودونکي او پلویانو او ډېر ځلي يې آن یو بل په رسمیت هم نه پېژانده. ددې کار پایله دا شوه چې دجگړې په کلونو کې هغوی ونه شو کړای داسې یو گډ لاربنود پیدا کړي چې دیاغي غورځنگ مشري او لاربنوونه دې په غاړه واخلي.

افغاني مخالفین دغه مهال په بشپړه توگه دناټو او یو شمېر نورو ارتوډوکسو اسلامي هېوادونو په مالي مرستو پورې راځورند او تړلي وو. پخپله دامریکا متحدو ایالتونو هم په افغانستان کې دشوروي اتحاد پر خلاف دمخامختیا لپاره په سیمه کې اړونده سیستم را منځته کړ. دغه راز پر امریکا سربېره پاکستان، چین، ایران، سعودي عربستان او یو لړ نورو لویدیزو هېوادونو هم په افغانستان کې له حکومتي ضد ځواکونو سره دمرستې او ملاتړ په لړکې کارنده ونډې اخیستنې ته لستونې را بډ وهل.

دساري په توگه زمونږ دپوځي کشف استازو په دې اړه د ۱۹۸۱ کال په سپتمبر کې داسې رپوټ ورکړ: «امریکا، دلویدیزې اروپا هېوادونو او مصر دپاکستان په ملگرتیا په وروستیو وختو کې افغاني انقلاب ضد ته خپلې مرستې لا پسې چټکې کړې دي. په دې برخه کې دکارونو دسمون لپاره په اسلام آباد کې دکاریوه ډله هم جوړه شوې چې په هغې کې دپاکستان دپوځي کشف اوستر درستیز کارکوونکي او د امریکا، انگلستان او مصر د سفارتونو استازي گډون لري. ددغې ډلې په غونډه کې په بنسټیزه توگه د ورانکارو دندو دترسره کولو لپاره دټاکلو عملیاتو سرته رسول او د ا.د.ج. په خاوره کې دیاغیانو دغورځنگ په لوري ورکولو کې د بېلابېلو هېوادونو گډون تر څېړنې لاندې نیول کېږي. دهمدې کارونو په موخه دورانکارو او ترهگرو (تروریستانو) روزنه دالمان په فدرالي جمهوریت کې ترسره کېږي. په دغه هېواد کې د ۱۹۸۰ کال له پای نه را په دېخوا افغانانو او پاکستاني پوځیانو ته دپارتیزاني جگړې د لارو چارو د وزده کولو ځو مرکزونه جوړ او په هغو کې

دزده کړي وخت يوه نيسه ميأشت تاکل شوی دی . په همدې لړ کې دورانکارو يوه بله ډله هم دروان کال د سپتمبر په لومړۍ نيمايي کې دالمان فدرالي جمهوريت ته لاړه .

مصر هم په پام کې لري چې افغاني انقلاب ضد ته دوسلو د اوسمهاله (عصري) ډولونو ( کلاشينکوف ، « له‌زمکې نه‌هوا ته » توغندي ، هوايي ضد توغندي ، چاودېدونکې مادې ، ساعت لرونکي ماينونه اونور ) په‌لېږلو کې ډېرښت راولي . دغه وسلې همدا اوس هم په‌سي - ۱۳۰ ډوله الوتکو کې دشپې له‌خوا پټښور ته‌لېږدول کېږي . دامريکايانو په‌ګډون { دځينو نورو هېوادونو } سلاکاران هم په‌همدغو الوتکو کې د پاکستان په‌خاوره کې دانقلاب ضد د پوځي روزنې لپاره په‌پرله پسې توګه الوتنې کوي .

آخوا انګلستان هم په‌وروستيو وختو کې دا.د.ج. دحکومت پرخلاف په ورانکارو عملياتو کې خپله ونډه چټکه کړې ده .د بېلګې په‌توګه د پارتيزاني جګړې د لوري ورکولو او لارښوونې په برخه کې دانګليسي کارپوهانو يوه‌لس کسيزه ډله دروان کال دسپتمبر په‌لومړۍ نيمايي کې پاکستان ته‌راغله . دغه ډله چې همدا اوس دا.د.ج. پولو ته په‌څېرمه سيمو کې پرته ده له نږدې‌نه د ا.د.ج. کې « دکورنۍ جګړې » دروان حالت څېړنه او له « ياغي غورځنګ » سره دمرستې په‌بڼير کې دانګلستان دکړنده ( عملي ) ونډې اخيستنې دبڼو او ډولونو په‌اړه له‌ټاکلو ورانديزونو نه‌ديوه‌ډ ک رپوټ برابرول يې خورا مهمه دنده ګڼل کېږي ».

{ خوله دې ټولو مرستو او ملاتړ سره سره } مجاهدينو له‌تريګنۍ نه‌په‌ډکه فضا کې ژوند او هاندوهڅه کوله . همدغو تريګنيو او پروجنبو هغوی نه پرېښودل چې د ليدلو ور بريالېتوبونه‌دې ترلاسه کړي . برعکس دګوندونو تر منځ دښمنيو او سيمه ييزو ، مذهبي اوقامي اختلافونو د هغوی په‌مخ کې لوی خنډونه اچولي وو . دغه راز زرګونه اوښايي په‌لسګونو زره مجاهدين يوازې دخپل منځي شخړو او نښتو په‌ترڅ کې له‌منځه تللي وي. او دا له دې کبله چې



ACKU

« د پښتنو ریو لیډرانو » ترمنځ اختلافونو دهېواد په دننه کې د جګړو او نښتو زمینه برابروله . له بله پلوه له بهرنه درارسېدلو مرستو د وېش او دافغانستان په خاوره کې دخپلې اغېزې دسیمو دبېلولو پر سر هم دمخالفینو ترمنځ اختلافونه پراته وو ، په بېلوبېلو ګوندونو او قامونو پورې د تړلو پوځي ډلو ترمنځ د اختلافونو خبره به کله کله ان داسې پوځي نښتونه ورسېده چې دهغو په ترڅ کې به دنوموړو دزیانونو شمېر او کچه له حکومتي ځواکونو اوشوروي پوځونو سره دهغوی له جګړو نه هم ور واوښته .

دمخالفینو ملاتړو هېوادونو په وار وار نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې چې دمجاهدینو ترمنځ یو والی ټینګ کړي ، خو{ دا دبېزو دټپ په څېر یو رنځ و } او له همدې امله دغه هېوادونه تر پایه دهغه پررغاوي او له منځه وړلو بریالي نه شول. هو ، یاغیان کټ مټ پر هماغو ستونزو اخته وو ، چې د ا. خ. د. ګ. هم ورسره لاس وګرېوان و ، او داڅکه چې تربګني ( بې اتفاقي ) دافغاني ټولنې بنستیزه ځانګړنه ده.

د ا. د. ج. د دولتي امنیت وزارت ، د ا. د. ج. دوسله والو ځواکونو د ستر درستیز دکشف د پاسوالی ، په افغانستان ، پاکستان او ایران کې دشوروي سفارتونو ، د ٤٠ اردو د درستیز وال ، د شوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دستر درستیز دکشف دلوېې پاسوالی اوشوروي او افغاني څارګریو د سرچینو درپوټونو او معلوماتو له مخې دافغانستان د یاغي غورځنګ ځانګړنه او ځرنګوالی په لاندې ډول و :

## په پاکستان کې دافغاني مخالفینو ( اپوزیسیون ) ځواکونه

« داووه ګوني ټلوالې » ( ائتلاف ) انقلاب ضد اتحاد چې د ١٩٨٥ کال په مې کې د امریکا ، چین او پاکستان د مخامخ اغېزې او زور په پایله کې منځته

راغی دغو گوندونو په کې گډون درلود:

١- دافغانستان اسلامي گوند (ا.ا. گ.)

٢- دافغانستان اسلامي جمعیت (ا.ا. ج.)

٣- دخالص اسلامي گوند (خ.ا.گ.)

٤- دافغانستان د آزادی اسلامي اتحاد (ا.آ.ا.ا.)

٥- دافغانستان ملي اسلامي محاذ (ا.م.ا.م.)

٦- د افغانستان داسلامي انقلاب حرکت (ا.ا.ا.ح.)

٧- دافغانستان دملي ژغورنې (نجات) جبهه (ا.م.ن.ج.)

دنوې ټلوالې له جوړېدو سره سم پر ١٩٨٣ کال جوړ شوی «اوه گونی اتحاد» او «درې گونی اتحاد» له منځه تللی (منحل) اعلان شول. نوې ټلوالې د ا.د.ج. د دولتي واکسنې پرخلاف نه پخلا کېدونکې جگړه او په افغانستان کې د «نړه اسلامي دولت» جوړول دخپلې کړنلارې په توگه اعلان کړل.

«اووه گونې ټلوالې» دخپل جوړښت له پلوه یوه لوړه (عالي) شورا اویوه کارندویه (اجرائیه) شورا او شپږ کمېټې چې تر ټولو مهمې یې سیاسي، پوځي، دنړیوالو اړیکو او دکډوالو چارو کسېته وه درلودې. خوله لوړې شورا پرته چې غړي یې داوو گوندونو مشران وو، نور ټول اورگانونه پارچاو اوناکارنده وو. دا ځل بیاهم افغاني تېنگاو یو گډ مشر ونه موند او دگوند هرمشر به دواک تېږه پر تېتېر وهله. له هغې کبله د هغوی تر منځ پراته اختلافونه هم مخ پرلوړه وو. که داووه گونې ټلوالې دمشرتابه په انگړ کې دتربگنیو ستې ته ځیر شو، نو وبه گورو چې هغه دبېلو بېلو گوندونو او ډلو تېلو دمشرانو ترمنځ دیاغي غورځنگ د مشرتوب پر سر په سیالی او په نړیوال ډگر کې دهغه داستازیتوب دحق په گټېلو کې ښخه وه. له همدې کبله وه چې دگوندونو تر منځ په تربگنی کې هېڅ سړښت نه راته او د گ. حکمتیار په مشری د انقلاب ضد د سخت دریځې کړی (اسلامي گوند، اسلامي جمعیت، خالص اسلامي گوند او ملي اتحاد) او پاچاهي پلوه ډلې (حرکت، جبهې اومحاذ) ترمنځ اختلافونو پای نه

درلود. په تېره په «لېږنده (عبوري) حکومت» کې د پخواني پاچا ظاهر شاه د ګډون خبره خود هغوی تر منځ تر ټولو ستره او نه اوارېدونکې ستونزه وه.

مخالفو اسلامي سازمانونو هېڅکله هم په افغانستان کې داغېزې داسې سیمې او ځایونه چې پوله او بريد يې په کره توګه سره بېل او ټاکل شوي وو، نه درلودل. خو سره له دې هغه سيمې چې د دوی شته والی او کارندتيا په کې څه ناڅه جو ته وه په لاندې ډول وې:

دافغانستان اسلامي ګوند - کابل ښار، کابل ولايت، کندز، بغلان، کونړ، بدخشان او نورستان.

دافغانستان اسلامي جمعيت - هرات، بادغيس، فارياب، جوزجان، بلخ، سمنګان، کندز، تخار، بغلان، بدخشان او پنجشير.

دخالص اسلامي ګوند - پکتيکا، پکتيا، کونړ، ننګرهار او دخوست لويه ولسوالي. دافغانستان د آزادی اسلامي اتحاد - دکارندتيا سيمې يې دومره جوتې نه وې او وړې وړې ډلې يې په مرکزي او سويل ختيزو ولايتونو کې په ټيک وټوک بوختې وې.

دافغانستان داسلامي انقلاب حرکت - کابل، لوګر، غزني، کندهار، پکتيا او زابل.

دافغانستان دملي ژغورنې جبهه - کابل، لوګر، کونړ، ننګرهار او پکتيا.

دافغانستان ملي اسلامي محاذ - زابل، پکتيکا، پکتيا او کندهار.

دغو مخالفو ګوندونو سم سيده تشکيلاتي جوړښت درلود چې په ټولو ګوندونو کې ورته اويو شان و. کارندويه (اجرائيه) کسېته چې دګوند له مشر، په ايډيولوژيکه، سياسي، پوځي او اداري برخو کې دهغه له مرستيالانو او دکسېتو له مشرانو څخه جوړه شوې وه دهغو تر ټولو لوړ اورګان ګڼل کېده. دګوندونو د درستيزوال (قرارګاه) له سياسي، پوځي، مالي، اداري، اطلاعاتي، دکډوالو د چارو، قضايي، څارګری او جوړښتيا يي (تشکيلاتي) او جلب وجذب کسېتو څخه جوړ شوی و.

سربېره پردې داسلامي کمېټو په نوم ځينې نورې ځنګزنې ( فرعي ) کمېټې هم وې چې دواکمنۍ دسيمه ييزو اورګانونو چار او رول يې لوباوه . دغه کمېټې له يوه مشر ، يوه يا دوو مرستيالانو ، قاضيانو ، ملا ، د ماليې له راټولوونکو ، دکلي له ملک او دياغيانو د ډلو له قوماندانانو نه چې د هغوی يوه تن به د کمېټې مشري هم په غاړه درلوده جوړې شوې وې . داسلامي کمېټو دغړو شمېر دهغو په کارندتيا پورې اړه درلوده او له ٥ نه تر ٣٠ پورې غړي يې درلودل.

# د پام وړ معلومات

**په اووه ګونې ټلوالې کې دغړو ګوندونو دمشرانو په باب له دوسيې نه :**

١- ګلبدين حکمتيار : د افغانستان داسلامي ګوند مشر او په ختيه خروټی پښتون دی . {....} دپاچاهي کورنۍ او افغاني اشرافيت ( اريستوکراسی ) پر خلاف د سختو ويناوو او دريځ له کبله په ١٩٧٢ کې بندي شو ، خو پر ١٩٧٣ کال د پاچاهۍ تر ړنګېدو وروسته له بند نه راخوشې کړای شو . {....} نوموړی پر ١٩٧٦ کال پاکستان ته کډه وکړه او هلته يې د « مسلمانو ورونو » ( اخوان المسلمين ) د سخت دريځې ډلې او « مسلمانو ځوانانو د سازمان پر بنسټ دافغانستان اسلامي ګوند جوړ کړ . دګوند دجوړولو لپاره مادي او نورې مرستې يې دپاکستان له پوځي کړيو او څارګرۍ څخه تر لاسه کړې . نوموړی له هماغه وخته را په دېخوا د پاکستان دپټو چوپړونو ( څارګرۍ ) سړی دی . سخت دريځوالي ته کږون ، زور واکي ، غرور او ځان غوښتنه يې مهمې ځانګړنې ګڼل کېږي چې له همدې امله دی د افغاني مخالفينو دنورو مشرانو تر منځ څه ناڅه ګوښې ( تجريد ) شوی هم دی . سربېره پر دې هغه ډېر سخت پښتون ملت پال ( نشنليست ) دی او په وار وار يې ويلي چې « زه لومړی پښتون او ورپسې مسلمان يم » ( ؟! ) .



ACKU

خو څرنګه چې حکمتیار دهواد په شمال کې چې پښتانه د وګړو لړه کې جوړوي (؟) زېږېدلی ، نو له همدې کبله نوموړي هیڅکله هم له قبیلوي سیستم سره اړیکي نه درلودل. بنايي له همدې امله ده ، چې هغه د پاکستان چې د پښتنو قبایلو له تېنګښت او پیاوړتیا سره مینه نه لري ، له دومره زیات ملاتړ نه برخمن دی.

دغه راز نوموړی دګران بیه تیږو ، نشه يي مادو ، واټرپمپونو او چیني لوښو د جوړولو فابریکې او په پېښور کې ۱۵۰ رکشې هم لري. {...} حکمتیار د ۱۹۸۷ کال په فبرورۍ او مارچ کې یوازې د سویس دبازل دښار په « امریکن اکسپرس بانک » کې ۲٤٥ زره ډالر خوندي کړل. هغه دخپلو شتو یوه برخه دپاکستان په « حبیب بانک » کې هم ساتلې او هره میاشت تر ۱۸ زره پاکستاني کلدارو پورې د کور باړه ( کرایه ) ورکوي.

حکمتیار دخپلې سوداګرۍ او اقتصادي کارندتیا په برخه کې له هیڅ شي نه هم ډډه نه کوي. د بېلګې په ډول ، نوموړی هغه دارو درمل ، جامې او خوراکي شیان چې په ایران او پاکستان کې دافغاني کډوالو لپاره استول کېږي ، دخپلو مزدورو کسانو او دسوداګرۍ دکوچنیو استازو او ښارګرو دپراخې شبکې له لارې په ګڼ او چڼ ( عمده او پرچون ) ډول پلوري. هغه د زړو جامو ( لیلاسیو ) له پلورلو نه څه چې آند هیڅ هغه شي له خرڅولو نه هم ډډه نه کوي چې دهغه له امله ګټیه تر لاسه کېدای شي. نوموړی په دې اړه د دغه آر ( اصل ) له مخې چلند کوي چې وايي: « پیسې بدبویه شی نه دی ».

نوموړی دغه راز دنشه يي مادو دجوړولو فابریکې هم لري. د یولړ معلوماتو له مخې حکمتیار او دهغه نږدې سړیو دپاکستان په شمال لویدیځ سرحدي ولایت کې له اپینو نه د هیروینو دجوړولو د لابراتوارونو یوه شبکه هم جوړه کړې ده. دغه نشه يي مادې د پاکستان دکراچۍ له بندرنه اروپا او امریکا ( او آن پخپله دامریکا متحدو ایالتونو ته هم ) لېږدول کېږي. په دغو ځایونو کې دهغو ګڼ ( عمده ) خرڅلاو . بې ساري ګټه لري. {...}

حکمتیار یو ځل دخپل ګوند یوه ډلمشر ته په لیک کې لیکلي وو چې « نړیوالو دوستانو » ځینې مسمومونکې کیمیاوي مادې دهغه دګوند پهواک کې ورکړې او لارښوونه یې کړې وه لههغو نه دګټې اخیستنې دزده کړې لپاره باید ځو تنه جنګیالي امریکایي کار پوهانو تهور واستوي.

۲- برهان الدین رباني : د افغانستان اسلامي جمعیت دافغاني انقلاب ضد ډلې مشر او په ختیه بدخشی تاجک دی. {...}. له۱۹۵۸ کال نه را په دېخوا د مسلمانو ورونو ( اخوان المسلمین ) دسازمان غړی دی. نوموړی په فارسي ، عربي ، اردو ، انګلیسي او ترکي ژبو پوهېږي.

که څه هم چې په ښکاره یې ځېره یوه« روحاني » { او مومن مسلمان} تهورته ده ، خو له اخلاقي پلوه یو دکرکې وړ او بداخلاقه سړی دی چې خپلې کړنې د «اسلام ساتونکي »تر پوښ ( نقاب ) لاندې پټوي. د نوموړي بې لارېتوب دهغه دځوانۍ لههغو کلونو نهراپیل شو ،کله چې یې دکریم بای له کورنۍ سره چې هغه مهال یې د بد اخلاقۍ نوم په ټول افغانستان کې خپور و ، اړیکي ټینګ کړل. دکریم بای په کور کې به ډېرځلې یولړ داسې رومانتیک ماښامي او بنډارونه ( شب نشینی ) جوړېدل چې تل به په نورسو او تنکیو ( صغیره ) نجونو باندې پرتېري پای تهرسېدل.

رباني پر ۱۹۷۳ کال دمسلمانو ورونو د افغاني سازمان دمشر پهتوګه وټاکل شو چې تر ۱۹۷٦ کال پر دغې څوکۍ پاتې شو. {...} نوموړی د ۱۹۷۸ کال تر اپریله یو لوی سوداګر و چې غالۍ بهیې بهر تهاستولې او دغه راز پر قاچاقو هم بوخت و. په پاکستان کې دچرګانو ، غالۍ اوبدلو او ټوکرانو فابریکې هم لري چې لهدې درکه هر کال تر ۲۰ ملیونو پاکستاني روپیو پورې ګټه تر لاسه کوي. دهغه د ګټې او پیسو پیدا کولو بله چینه دقاچاقي مالونو او نشه یي مادو پر سوداګرۍ بوختیا ده چې په ایران او پاکستان کې یې دخپلې ډلې د باند مشرانو له لارې تر سره کوي. پهاوس وخت کې هغه اسلامي هېوادونو تهداپینو او هیروینو دلېږدولو تر ټولو ستر سوداګر ګڼل کېږي.

برسېره پردې نومورې دبدخشان د لاجوردو او د پنجشير دزمردو په قاچاقو کې هم ونډه لري.

رباني دخپلو پټو شرکتونو ( سنډيکاوو ) دکاروبار لپاره دافغانستان د اسلامي جمعيت له بانکي شمارنو ( حسابونو ) او سازماني جوړښت نه ګټه اخلي اوهغه پيسې چې له افغاني کډوالو سره دمرستې لپاره استول کېږي په ډېره سپين سترګۍ او بې شرمۍ سره خپلو بانکي شمارنو ته لېږدوي. دساري په توګه يوازې د ١٩٨٨ کال د پای او ١٩٨٩ کال د پيل په شپږو مياشتو کې دامريکا د متحدو ايالتونو او اروپايي هېوادونو په بانکونو کې د « طفيل محمد » په نوم دهغه پر شخصي پيسو او شمارنو باندې له ٦٠٠ مليونه پاکستاني کلدارو څخه ډېرې پيسې ور زياتې شوې . دغه راز د نومورې تر ولکې لاندې دپاکستان د آدم خېلو درې او چراټ ( ؟ ) په سيمو کې هم دهېروينو د جوړولو پټ لابراتوارونه په کار بوخت دي او بهر ته دنشه يي مادو د قاچاقو د رسولو لپاره دايجنټانو يوه شبکه هم جوړه شوې چې کوټه او کراچۍ يې دلېږدولو مهم مرکزونه دي.

دپاکستان دهغو سيمو له اوسېدونکو نه چې دافغاني کډوالو مېشت ځالي په کې پراته دي داخبره پټه نه ده چې د رباني دهغو جنګياليو درېيمه برخه چې افغانستان ته استول کېږي ، پر نشه يي مادو اخته کسان دي او دهغوی دنيسايي په شاوخوا کې کسان وخت ناوخت نشه يي مادې کاروي (استعمالوي) . له همدې امله په افغانستان کې دبريدونو او داړو په ترڅ کې تر ټولو مهمې دندې لکه دروغتونونو سوځول ، دڅاه ګانو مسمومول ، دماشومانو او ښځو وژل او دغه راز د لارونيول او دملکي خلکو پر کورونو داړې غورځول او لوټمارې « د اسلام همدغو جنګياليو ته » چې تل دنشې اومستۍ په حال کې وي ورسپارل کېږي. او د همدې کارونو له امله هغوی ستايل کېږي او آن « شاباسی » تر لاسه کوي او له هغې نه پخپلې سوداګرۍ او دنشه يي مادو دجوړولو اولېږدولو په بشپړولو کې ګټه اخلي او هڅه کوي چې « داسلام ديوه

ساتونکي » لپاره دغه له‌شرمه ډکه دنده‌او بوختیا دانټرپول ( نړیوالو پولیسو ) له‌سترګو نه په‌ډاډ منه توګه پټه کړي.

۳- صبغت‌الله‌مجددي د افغانستان دملي ژغورنې دجبهې مشر دی. {....} . نوموړی پر ۱۹٦۰ کال‌حکومتي ضد کارندتیا او دشوروي اتحاد پرپلاوي ( هیات ) باندې د ناوړه نیت‌له امله چې‌هغه وخت کابل ته راغلی‌و پر ٤ کاله‌بند محکوم شو ، خو تر څو اونیو وروسته بېرته له‌بند نه‌خوشې‌شو. {...} . نوموړی دهغو سمونو ( اصلاحاتو ) کلک مخالف وچې دپاچاهي حکومت له‌خوا پلي کېدل . پخپله دپاچا پر خلاف یې‌هم‌هاندو هڅه کوله.

پر ۱۹٦٦ کال‌دص . مجددي په‌مخامخ ګډون په‌افغانستان کې د « اخوان المسلمین » سخت دریځه سازمان اووروسته د « مسلمانو ځوانانو » په‌نوم دهغه یوه څانګه جوړه شوه‌چې دنوموړي په‌لارښوونه ګ. حکمتیار هم‌پخپل وخت کې دهغې مشرتابه ته‌راوستل شو.{...}

له‌۱۹۷۷ نه‌د ۱۹۷۹ کال تر فبروري پورې یې په‌هالنډ کې استوګنه درلوده‌او هلته یې دیوه‌جومات امامت‌کاوه . هغه د ۱۹۷۹ کال په‌مارچ کې دافغانستان پرتبولو مسلمانانو د پاڅون غږ وکړ او هغوی یې دا .خ. د. ګ. دړژیم پر خلاف جهاد ته‌ور وبلل. {...}

ص . مجددي دخپلو خپلوانو په‌مرسته وکولی‌شول‌چې دسعودي عربستان ، ایران ، مصر ، پاکستان او هند له‌اسلامي کړیو سره‌اړیکي ټینګ کړي. دیادونې وړ ده‌چې په‌سعودي عربستان کې یې دتره‌زوی هاشم‌او د تره‌لور چې دواکمنې کورنۍ یوه‌شهزاده ته‌واده شوې‌ژوند کوي . دنوموړي ګڼه کورنۍ او خپلوان د « مجددي ګوډ ز ترانسپورت کمپنۍ » په‌نوم د یوه ترانسپورتي شرکت پر ګټې خورا د مزو او چړ چوژوند تېروي .دغه شرکت د ۷۵۰ زره ډالرو په‌بیه له‌کډوالو سره‌دمرستې له‌پیسو نه‌جوړ شو چې تر اوسه هم له هماغه درکه « سبسا یډي » ترلاسه کوي.

مجددي دقامونو او قبایلو چارو د وزیر سلیمان لایق له‌مشرې خور { ...}



ACKU

نه‌خلور زامن لري. دغه یوزوي (عزیزالله) دافغانستان اسلامي گوند دترهگرو له‌خوا ووژل‌شو چې همدا کار د نوموړي گوند له‌مشرگ . حکمتیار نه‌دمجددي د ژورې کرکې یوسبب گڼل کیږي.

دهند په‌ملي آرشیف کې لا تر اوسه د انګلستان د « انټیلیجنټ سرویس » ځینې داسې لاسوندونه خوندي دي چې په‌بېلو بېلو کچو دانگلستان له ځارگرۍ سره د مجددیانو دکورنۍ دغړو له‌همکارۍ نه پرده پورته کوي.

مجددي ته‌له‌پخوا راهیسې یوازې شته او پیسې ارزښت لري او بس. په جلاوطنۍ کې دځورېدلو افغانانو بر خلیک دغه پر کلک ، بې‌رحمه او دانساني رنځ وغم په‌وړاندې پر سوړ او بې توپیره زړه باندې هېڅ اغېزه هم‌نه لري. {....}.

٤- دافغانستان د ملي اسلامي محاذ مشر سید احمد گیلاني {...} پر ۱۹۳۱ کال زېږېدلی اوپه‌ختیه دعراق عربی دی. {....} دنیوي زده کړه بې په‌لویدیځ او دیني دایې په‌عراق کې ترسره کړي او په‌همدې موخه مصر اوسعودي عربستان ته‌هم تللی دی. پر پنځو ژبو باندې ښه پوهېږي.

پلار یې د پاچا ظاهر خان د پلار نادر خان له‌کورنۍ سره نږدې اړیکي درلودل او دغه راز یې دانگلستان له‌ځارگرۍ سره‌هم پر له پسې او کارنده همکاري درلوده . نوموړی دانگرېزانو دکارنده مرستې له‌برکته په‌افغانستان کې د سنیانو دقادریه لورلارې (طریقې) دلوړ استازي په‌توگه وټاکل شو. دگیلاني مور ، مارتار یختر ، دالمان د پولیسو دیوه‌لوړ پوړي چارواکي لور وه .

دگیلاني کورنۍ دکابل له‌ډېرو شتمنو او مخورو کورنیو څخه وه . {...} آن د ۱۹۷۸ کال تر اپرېل وړاندې لا د نوموړي شخصي شتمني ۷ ملیونو ډالرو ته‌رسېده .

پاکستان ته‌تر تېښتې وروسته گیلاني دخپلې غلا او لوټ وتالان په‌پیسو دوه‌بنگلې یوه د راولپنډۍ په‌مول روډ اوبله‌داسلام آباد په‌گارډن روډ کې او دغه راز په‌کوټه‌او پېښور کې هم‌څو گرانبیه موټرونه ، رغاونځي

(ورکشاپونه) او پلورنځي (مغازې) واخیستل.

ګیلاني دامریکا متحدو ایالتونو ته ډېر تګ راتګ کوي او هلته پر هغو پیسو چې د کډوالو لپاره ځانګړې شوې وي په ډېره بې سر واخه توګه شپې او ورځې تېروي. {...} س. ګیلاني دمنځلارو لیدونو د رلودونکی مذهبي - سیاسي شخصیت ګڼل کېږي. هغه دنوې ډول (.تیپ) «اسلامي ولسواکۍ» (دیموکراسۍ) او دداسې یوه حکومت او جمهوري رژیم دجوړېدلو د لید پلوی دی، چې مشري یې باید د ظاهر خان یا دهغه له نږدې چاپېریال نه دکوم بل چا پر غاړه وي. د ګیلاني مېرمن دافغانستان دپخواني پاچا ظاهر خان لمسی ده.

۵- دافغانستان داسلامي انقلاب دحرکت مشر محمد نبي محمدي پر ۱۹۳۷ کال د لوګر ولایت دبرکي په ولسوالۍ کې زېږېدلی او په ختیه اندړ پښتون دی. {...} تر ۱۹۷۳ کال پورې په لوګر کې د یوې مدرسې ښوونکی او ورپسې په پارلمان کې استازی (وکیل) شو. د وکیل توب له دریځ نه په ګټې اخیستنې سره یې په هلمند کې نږدې سل هکتاره او په لرونکې ځمکه په نا قانوني توګه تر لاسه کړه.

نوموړی پر ۱۹۷۳ کال واک ته د م. داود تر رسېدو وروسته د ظاهر خان د رانسکورېدو او په پارلمان کې دخپلې څوکۍ د له لاسه ورکولو له امله مرور شو او هساغه و چې د داود دسمونو او رژیم پر خلاف یې وعظ او تبلیغ پیل او په خپل چاپېریال کې یې دحکومتي ضد شعارونو په لیکلو او خپرولو لاس پورې کړ چې له هسدې کبله ونیول شو او د پولیسو په یوې ودانۍ کې یې څه موده بند تېر کړ. خو پر ۱۹۷۵ کال دپولیسو له خوا د سیاسي پلټنې داورګانونو (ملي مصونیت) دڅارګرۍ شبکې ته راښکل شو. پر ۱۹۷۸ کال پاکستان ته وتښتېده او هلته یې د «قرآن دچوپړ یانو» (خادمانو) دسازمان پرښنسټ یو ګوند جوړ کړ. {....}

محمدي دافغانستان د اسلامي انقلاب حرکت له شتمنۍ نه نږدې ۳۰۰

زره پاکستانی کلدارې خپل جيب ته اچولي او دخپلې ناوې لپاره يې آن د سرو زرو د خول ( تاج ) سپارښتنه هم کړې وه .

٦- محمد يونس خالص : دخالص اسلامي گوند مشر پر ۱۹۱۹ کال دننگرهار ولايت دخوگيانيو ولسوالۍ دقاضي کلي په يوې شتمنې مذهبي او ځمکه والې کورنۍ کې زيږيدلی او په ختيه ابراهيم خيل پښتون دی . ديني زده کړه يې له خپل پلار او ورپسې له خپل تره عبدالرزاق نه چې د ننگرهار يو پيژندل شوی ديني پوه و تر لاسه کړې ده . که څه هم چې خالص ځان ديني پوه او مولوي بولي ، خو لوړه ديني زده کړه نه لري. نوموړی په کابل کې ديوه جومات ملا امام او د « مسلمانو ورونو » دسازمان غړی و . هغه د يو لړ جنايتونو په ترسره کولو سربيره د ځارگرۍ ايجنټ هم دی. ( ؟ )

خالص ديو لړ سياسي او ديني سکالوگانو ( موضوع گانو ) په باب ځينې ليکنې هم خپرې کړي دي .دپخواني پاچا ظاهر خان له کورنۍ سره يې اړيکي درلودل ( ؟ ) د داود د واکمنۍ په کلونو کې يې دکونړ ، پکتيا او پکتيکا په ولايتونو کې د ديني پوه او ملا په توگه دنده سرته رسوله . د ۱۹۷۸ کال تر اپريل وروسته دافغانستان داسلامي گوند غړی شو . خو د ۱۹۷۹ کال په پای کې يې له حکمتيار سره د شخصي اختلافونو له امله دغه گوند پريښود او په ورته نوم يې ځانته جلا گوند جوړ کړ.

نوموړي خپله لومړۍ ميرمن او دوه بچيان سعودي عربستان ته لېږلي او دخپل چاپيريال له ناخوښۍ سره سره يې د ۱۹۸۲ کال په مې کې دکندهار د يوه ديني مخور قادر کندهاري له شتمنې کورنۍ نه دهغه له ۱۸ کلنې لور سره واده وکړ چې په دې توگه يې غوښتل له يوې خوا { په دغه ولايت کې } خپلې ريښې تينگې کړي او له بله پلوه خپل اقتصادي حالت هم پياوړی کړي.

٧- عبدالرسول سياف : دافغانستان داسلامي اتحاد مشر دی چې پر ۱۹٤٤ کال د کابل ولايت دپغمان په ولسوالۍ کې زيږيدلی . پر ۱۹٦۳ کال يې په کابل کې د ابوحنيفه مدرسه او پر ۱۹٦۷ کال يې د کابل پوهنتون دشرعياتو

پوهنځی پای ته رسولي دي. له پوهنتون تر له وتلو وروسته یې یو کال په اردو کې د سرتېرې چوپړ تېر کړ. پر ۱۹۷۰ کال د هغو بورسونو په لړ کې چې دافغانستان روحانیونو ته ځانګړې شوې وو، سیاف هم د لوړو دیني زده کړو لپاره دقاهرې د الازهر پوهنتون ته ولېږل شو او هلته یې دسعودي عربستان له پاچا فهد سره په یوه ټولګي کې پر زده کړې پیل وکړ.

نوموړی دحکومتي ضد هڅو دترسره کولو اوله خلکو سره د تزنده ( ظالمانه) چلند له کبله پر ۱۹۷٤ کال پر ٦ کاله بند محکوم شو. خو پر ۱۹۸۰ کال له زندان نه تر را خوشې کېدو وروسته پاکستان ته وتښتېده. سیاف دمسلمانو ورونو د ډلې دلوړې کچې غړی دی. دی یو ډېر تګمار سړی او شخصي موخوته د رسېدو لپاره دهر ډول جنایت سرته رسولو ته چمتو دی. په قاچاقو او دنشه یي مادو په سوداګرۍ کې هم لاس لري. « په پیسو دخلکو اخیستل » یې دکار او هاندوهڅې ځرګنده بېلګه ده.

سیاف دانقلاب ضد مشرانو په منځ کې یو پوټی باور او اغېز هم نه لري {اوښایي له هسدې امله به وه چې} دنوموړی تر مشرۍ لاندې دمخالفو ګوندونو د سره یو کولو هڅه بې بري پای ته ورسېده. هغه د پېښور د پېبو په سیمه کې په ډېره ګرانه بیه څه ځمکې اخیستي چې غواړي په هغو کې ۵۰۰ کوروونه جوړ او وروسته یې په باړه (کرایه) ورکړي. برسېره پردې نوموړی ۱۰ لارۍ موټرونه هم لري چې خلکو ته یې په باړه ورکوي. {...} ».

خو دهغوی پخپله وینا دغه « د پېښور مېړني » دجګړې ډګر ته اصلاً سرهم نه ورښکاره کوي. یوازې په ګران بیه « پیجرو جیپونو کې په ښار کې ځغلي راځغلي ، په مطبوعاتي کنفرانسونو کې بیانونه اواعلامیې خپروي او یا هم دخپلو شتمنو او پېژندل شویو سیالانو پر خلاف چلوټې او دسیسې جوړوي. ددې ترڅنګه دهغوی دفترونو ته څېرمه هره ورځ دامریکایي اردو د پوځي جمپرونو اوغنمو دپلورلو بازار هم ښه تود وي.

خو دپېښو هغه بهیر چې دافغانستان پر راتلونکي باندې اغېزه ښندلای



ACKU

شي په دې وروستيو وختو کې د مخ پر زياتېدونکو {خپل منځي} بريدونو اوچورو تالان له امله ډېره ناوړه بڼه غوره کړې ده .دساري په توګه دافغانستان داطلاعاتي مرکز ډېر دروند او پېژندل شوی مشر سيد مجروح دوه مياشتې ترمخه په پېښور کې د خپل دفتر په مخ کې ووژل شو .{ويل کېږي چې } دکابل پوهنتون دادبياتو پوهنځي دغه پخوانی مشر ( پروفيسر مجروح) په پام کې درلودل هغه لاسوندونه خپاره کړي چې په هغو کې دبنسټ پالونکو ډېر سخت دريځه حکومتي ضد ګوند ، ياني د ګ .حکمتيار تر مشرۍ لاندې د افغانستان اسلامي ګوند له کړنو او کارندتيا نه پرده پورته کېده . اوس په پېښور کې ټول خلک په دې اړه چې ددغې وژنې پړه داسلامي ګوند په غاړه ده په يوه خوله دي.

# په ايران کې دافغاني مخالفينو ځواکونه

{له پاکستان پرته } په ايران کې هم د افغانستان يو شمېر مخالف سياسي سازمانونه په کار بوخت وو ،خو دايران په اسلامي جمهوريت کې دهغو جوړېدنه د ۱۹۷۹ کال په اپرېل کې پيل شوه . ددغو سازمانونو مشرتوب دهغو لېږدېدونکو افغانانو له منځ نه چې په ايران کې اوسېدل او يا هم واک ته د ا.خ.د. ګ. تر رسېدو وروسته هلته ورتښتېدلي وو منځته راغی . ددغو سازمانونو دوسله والو ډلو ليکې هم له هغو افغانانو نه ډکېدې چې تر مخه په ايران کې په کاروبار بوخت وو ( د ۱۹۷۸ کال تر اپرېله په پرله پسې توګه تر ٦ لکو پورې افغانان دکار لپاره په ايران کې پراته وو) .خو د ۱۹۸۰ کال له جنورې نه را په دېخوا دمخالفو سازمانونو ليکې او دوسله والو ډلو زېرمه هره ورځ دکډوالو له منځ نه ډکېده.

په ايران کې افغاني مخالف ګوندونه په چټکۍ سره او په ډېر لنډ وخت کې

جوړ شول . خو دهغوی دمشرانو تر منځ هم ددغه یاهغه شیعه شخصیت دملاتړ او دزیاتو مرستو ، وسلو او سرېو دراخپلولو اوترلاسه کولو دهڅو له امله اختلافونه رامنځته شول.

پخپله دایران اسلامي جمهوریت شیعه مشرانو افغاني سازمانونو ته تل ددا سې یوه پوځي - سیاسي ځواک په توگه کتل چې دهغه په مرسته کېدای شول دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې حالات خراب ، وگړنی - دیموکراتیک رژیم کمزوری ، دهغه دراپرځولو زمینه برابره او په راتلونکي کې هلته دامام خمیني یا دهغه د ځای ناستي تر مشرۍ لاندې « دافغانستان اسلامي جمهوریت » جوړ شي.

په ایران کې دمېشتو ډلو « اته گونی اتحاد » دځپل جوړېښت له مخې د ایران دواکمنو روحانیونو ( اخوندانو ) په مخامخ گډون د ۱۹۸۷ کال په دسمبر کې منځته راغی . دغه بیا جوړ شوی اتحاد په رسمي توگه « دافغانستان داسلامي انقلاب ټلواله ( ائتلافي ) شورا » نوم غوره کړ چې لاندې ډلو په کې گډون درلود :

۱- نصر
۲- حزب الله
۳- داسلامي انقلاب گډه ( متحده ) جبهه
٤- دافغانستان اسلامي انقلاب دساتونکو لښکر ( سپاه پاسداران)
٥- د افغانستان اسلامي حرکت
٦- داسلامي نړېدېوالي ( اتفاق ) شورا
۷- داسلامي انقلاب حرکت
۸- دافغانستان دمسلمانو مبارزینو سازمان

ددغه « اته گوني ټلوالې » دجوړولو بنستیزه موخه د ایران تر مشرۍ لاندې دافغاني ضد سیاسي او وسله والې هاندوهڅې داړخونو د پراخولو لپاره دافغانستان د شیعه مخالفینو یو والی او دافغانستان په جمهوریت او دهغه په

شاوخوا کې د حالاتو پر ودې د پاکستان پلوه « اوه گوني تړلوالې » دواک گرۍ ( انحصارگرۍ ) پراختیا داغېز مخنیوی و . د « اته گوني تړلوالې » د کارندتیا وروستۍ سیاسي موخه په افغانستان کې دایران اسلامي جمهوریت ته د یوه ورته « اسلامي جمهوریت » جوړول او خپرول وو.

دنوموړې تړلوالې په کړنلاره کې خمیني دافغاني شیعه گانو دلوړ مذهبي مشر په توگه اعلان شوی و . دغه راز په هغې کې دامریکا له متحدو ایالتونو ، دهغې له اندېوالانو اوهغو عربي رژیمونو سره داړیکو شلون ( تحریم ) هم اعلان شوی و چې په اسلامي نړۍ کې یې دایراني روحانیت مشریز رول ته غاړه نه اېښوده . سربېره پردې په دغې کړنلارې کې ایران دافغاني شیعه گانو د ژوند نیو ( حیاتي ) گټو د یوازینې ډاډمن ساتونکي په توگه په گوته شوی او دملي پخلاینې دسیاست د پلي کولو او په دې لړ کې دتړلوالېز حکومت د جوړولو په اړه د افغانستان جمهوریت دمشرتابه د وړاندیزونو له سموالي او معقولیت نه غاړه غړول شوې وه . کړنلارې دغه راز په ژینو کې دافغانستان - پاکستان خبرې اترې هم دشیعه سازمانونو لپاره نا قانوني او د نه منلو وړ بللې وې.

( حزب الله ) ، ( نصر ) او دافغانستان اسلامي انقلاب دساتونکو لښکر دهغو سازمانونو له ډلې څخه وو چې د « اسلامي انقلاب » لېږد « صدو » پرلید ډېر کلک ولاړ وو.

- حزب الله د یاغیانو دانقلاب ضد ځواکونو د یو کولو او افغانستان ته د «اسلامي انقلاب» دلېږدولو په موخه پر ۱۹۸۲ کال دایران د مشر تابه له خوا جوړ شو . د دغه گوند مشري دیوه شیعه ملاقاري احمد یکدست چې ځان یې د « افغانستان دشیعه گانو روحاني مشر » باله پر غاړه وه . ددې گوند د غړیتوب شرط په شیعه مذهب پسې د روانېدو ( پیروی ) هرو مرو والی دی . دواکمن رژیم له پلویانو سره کلک اوله ظلم ډک چلند د حزب الله دوسله والو ډلو مهمه ځانگړنه گڼل کېږي.

دنوموړي گوند کارندتیا دافغانستان جمهوریت په لویدیزو او سویلي

ولایتونو ( هرات ، فراه ، نیمروز او کندهار ) کې ډېره جوته ده.

دګوند مرکز په مشهد او څانګې یې په تهران ، نیشاپور اوزابل کې خپرې دي . دجګړه ییزو ډلو شمېر یې څلور زره تنو ته رسېږي.

- د نصر ګوند یو ایراني پلوه شیعه سازمان دی او پر ۱۹۸۰ کال جوړ شو . مشري یې دشیخ عبدالعلي مزاري او شیخ شفق په غاړه ده . دوی دواړه په ایران کې استوګنه لري او { دایران} دولت ددویم سړي ایت الله منتظري له ملاتړ نه برخمن دي. ددغه ګوند جګړه ییزې ډلې چې شمېر یې څلور زره تنو ته رسېږي ، دافغانستان جمهوریت په مرکزي ولایتونو اوهزاره جاتو ( بامیان ، غزني ، وردک ، اورزګان ، بغلان ، سمنګان ، بلخ ، پروان او غور ) کې کارنده دي چې دټولو پوځي مشري دمحمد حسین صادقي په غاړه ده . پښه جګړه ییز چمتووالی دنصر ګوند د ډلو او ټولګیو مهمه ځانګړنه ګڼل کېږي. سربېره پردې پر زسلو او مهماتو د سمبالتیا او بسیاوالي کچه یې هم ډېره لوړه ده.

ددغه سازمان پر مشرتابه دچین اغېزه هم په وروستیو وختو کې مخ پر زیاتېدو ده .له سیالو ډلو او په تېره له هغو سره چې د پاکستان لوري ته کېږون لري ، پر له پسې اختلاف او جګړه دنوموړې ډلې دکارندتیا بېلونکې نښه او ځانګړتیا بلل کېږي. نصر له ایران ، چین او د امریکا له متحدو ایالتونو نه پراخه پوځي او اقتصادي مرسته ترلاسه کوي او مرکز یې په قم کې دی.

- دافغانستان اسلامي انقلاب دساتونکو لښکر ( سپاه پاسداران) یو بل ایراني پلوه سازمان دی چې { دایران} داسلامي انقلاب دساتونکو دلښکر (سپاه پاسداران انقلاب اسلامي ) تر ولکې او اغېز لاندې دی. ددغې ډلې د غړو تر منځ د مائویستي لیدونو لمنه ډېره پراخه ده چې له همدې امله یې دچین ملاتړ هم را خپل کړی دی . دهغه په ډلو او ټولګیو کې چیني سلاکاران هم شته . نوموړی سازمان خپله کارندتیا دنصر له ډلې سره همغاړې کوي . دغور او بامیانو ولایتونه یې د راټولیدو او ولکې مهمې سیمې ګڼل کېږي. مشري یې داکبري په غاړه ده. دجګړه ییزو ډلو دغړو شمېر یې تر یونیم زر تنو پورې

رسيږي او مرکز يې په قم کې دی.

- داسلامي انقلاب ګډه (متحده) جبهه له څلورو انقلاب ضد شيعه سازمانونو (د افغانستان ځوان روحانيون، ديوالي (توحيد) دښوونځي اسلامي ټولنه (جمعيت اسلامي مکتب توحيد)، داسلامي ټولنې مبارزين او دبې وزلو غورځنګ (حرکت مستضعفين) څخه جوړه شوې ده. دغه ډله د نړيوال اسلامي غورځنګ دلاربښود په توګه دخميني د پېژندل کېدو او په افغانستان کې د ايران اسلامي جمهوريت ته ورته «اسلامي جمهوريت» دجوړېدو لپاره هاندو هڅه کوي. مرکز يې په قم کې او دغړو شمېر يې د دوه نيم زره تنو په شا وخوا کې دی. د بلخ، وردګو او اورزګان په ولايتونو کې يې اغېزه ډېره ده.

- دافغانستان اسلامي حرکت يوه بله انقلاب ضد ستره شيعه ډله ده چې دغزني، کندهار، کابل او هرات په ښارونو کې د هزاره ګانو له تر «ځمکې لاندې» او پټ غورځنګ سره نږدې اړيکي لري. سربېره پر دې په پاکستان کې له پرتو دافغانستان له اسلامي جمعيت اودافغانستان له اسلامي ګوند سره يې هم دکارندتيا د هغاړيتوب نښې نښانې موندل شوې دي. خو دغه ډله د ايران دروحانيونو له خوا د باور له تنګسيا (محدوديت) سره مخامخ ده. پوځي ډلې يې دوردګو، باميانو، بلخ، هلمند او نيمروز په ولايتونو کې کارنده دي. مشري يې د محمد آصف محسني (کندهاري) په غاړه ده. مرکز يې په مشهد او څانګې يې دقم، مشهد، شيراز، زابل، تی آباد او د پاکستان دکوټې په ښارونو کې پرتې دي. دغړو شمېر يې له ۳ زره تنو څخه ډېر دی. دنوموړي ګوند دمشرانو تر منځ داختلافونو له امله په هغه کې پر ۱۹۸۱ کال بېلتون راغی او «دکندهاري اسلامي غورځنګ» او «داسلامي نږدېوالي (اتفاق) شورا» په نوم پر دوو ډلو ووېشل شو.

- داسلامي نږدېوالي (اتفاق) شورا دهزاره ګانو يو شيعه ملت پال (ناسيوناليست) سازمان دی چې مشري يې دعلي بهشتي او پوځي ولکه

اوقوماندانې يې د سيد جګړن په غاړه ده .{...} د افغانستان له خاورې نه د شوروي پوځونو د وتلو او هزاره جاتو ته دکورواکۍ ( خودمختارۍ ) د ورکولو په اړه غوښتنې ددغې ډلې سياسي کړنلاره جوړوي. دهغې پوځي ټولګي چې شمېر يې له ٦ زره تنوڅخه زيات دی دغزني او باميانو په ولايتونو کې راټول شوي دي. خو په اوس وخت کې {دحکومت پر خلاف} کارنده جګړه بيزه ونډې پرمخ نه بيايي ،ځکه چې داغېزې د سيمو پر سر له نورو باندېونو سره پرخپل منځي جګړو اخته دي. ددغه سازمان مشران د دولتي واکمنۍ له استازو سره دخبرو اترو دترسره کولو اړتيا ته کږون لري.

- داسلامي انقلاب حرکت ،دافغانستان داسلامي انقلاب حرکت له پاکستان پلوه ګوند نه يوه بېله شوې څانګه ده چې مشري يې دنصرالله منصور په غاړه ده . دغه ډله د ايراني روحانيونو له باور نه برخمنه ده. په پام کې ده چې له هغې نه په پاکستان کې پر مېشتو افغاني انقلاب ضد ډلو باندې دايران داغېزې د پراختيا لپاره ګټه واخيستل شي. دجنګياليو ډلو شمېر د ٨٠٠ تنو په شاوخوا کې دی . پخپله نصرالله منصور دهرات په ولايت کې دجمعيت له لوی ډلمشر تورن اسماعيل سره نږدې همغاړی دی.

- دافغانستان د اسلامي مبارزانو سازمان دهزاره ګانو يوه انقلاب ضد شيعه ډله ده چې مشري يې مصباح زاده دی . ددغه سازمان مشرتوب دنصرله ډلې سره نږدې اړيکي لري.

{ پته دې پاتې نه وي چې } دايران په خاوره کې دافغاني کډوالو شته والی دهغه هېواد لپاره دژوندي ځواک يوه ګټوره چينه ګڼل کېږي . ځکه ايران داسې بې وزلي کسان له خدايه غواړي چې دهغوی دسر او رنځ وغم په بيه وکړای شي نورو هېوادونو ته داسلامي انقلاب دلېږدولو په اړه دامام خميني پلانونه تر سره کړي. »

خو دافغانستان دياغي غورځنګ دې شان ځانګړتياوو چې لاربنوونه يې په بهر کې دپرتو مرکزونو له خوا ترسره کېده ،دګوندونو مشران يې په پاکستان

او ایران کې استوګن وو او وسله واله جګړه یې پخپله دافغانستان په خاوره کې پر مخ بیوله ، ددې زمینه برابره کړه چې دهېواد په دننه کې دسترو پوځي ډلو دقوماندانانو په منځ کې دې دپوځي مشرانو یو بل ځانګړی پاړکی رامنځته شي.

# معلوماتي لاسوند

**دکورنیو وسله والو مخالفینو دقوماندانانو په باب له دوسیې نه**

دمحمد اسلم زوی تورن (اسماعیل خان) پر ۱۹۴۷ کال دهرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ دنصراباد په کلي کې زیږیدلی او په ختیه تاجک دی. {پوځي زده کړه یې دهېواد} په پوځي (حربي) پوهنتون کې پای ته رسولې ده . تر ۱۹۷۹ کاله د تورن په پوړۍ دهرات په ۱۷ مې پلې فرقې کې کنډک مشر و. خو د ۱۹۷۹ کال په مارچ کې دهرات تر اړو دوړ وروسته له هغه ځایه وتښتېد او دهرات په شاوخوا کې یې د افغانستان داسلامي جمعیت دیوې ډلې مشري په غاړه واخیسته.

نوموړي واده کړی او کورنۍ یې دایران په تی آباد کې اوسېږي . هغه یو پټ (مرموز) او محتاط سړی دی او تل دخپلې قرارګاه دپرېوت (موقعیت) سیمه او ځای بدلوي. دی یو داسې پر زړه سخت او ظالم سړی دی چې آن بندیان هم پخپل لاس وژني.

هغه د هرات په ولایت کې دافغانستان اسلامي جمعیت دپوځي ډلو لوی قوماندان دی او تر احمد شاه {مسعود} وروسته د افغانستان په خاوره کې د اشرارو دویم مشر ګڼل کېږي. نوموړی د ۲ زره تنو په شاوخوا کې یاغیان پخپله ولکه کې لري . څرنګه چې هغه دغلا او لوټ وتالان مخنیوی کوي، نو له همدې امله د سیمې پر خلکو ګران دی.

- مولوي جلالدین حقاني پر ۱۹۳۵ کال په ځدرانو کې زېږیدلی دی . زده

کړه یې دپاکستان په یوې دینې مدرسې کې پای ته رسولي او د دیني پوړې له تر لاسه کولو وروسته بېرته افغانستان ته راستون او دپکتیا ولایت د فراه (؟) په کلي کې یې یوه مدرسه پرانیستله. د ظاهرخان او م. داود د واکمنیو په کلونو کې یې دمسلمانو ورونو د ډلې له لارې د پکتیا ولایت کې په حکومتي ضد هاندوهڅو کې کارندونده درلوده.

د ۱۹۷۸ کال تر اپرېل وروسته نوموړی یو له هغو کسانو څخه و چې په پکتیا کې یې د ا. خ. د. گ. پر خلاف هاندوهڅه پیل کړه. په لومړي سر کې یې دافغانستان داسلامي گوند له سیاسي کړنلارې نه کلکه پلوي کوله او په پکتیا کې د گ. حکمتیار استازی گڼل کېده. خو وروسته بیا دخالص له اسلامي گوند سره مل شو. موده پس یې ځان له نورو انقلاب ضد سازمانونو نه بېخي رابېل او خپلواک او دغه راز دځدرانو دقام پوځي مشر اعلان کړ. {ښایي دا له دې امله چې} دځدرانو خلک کولی شي داړتیا په وخت کې تر ۱۰ زره تنو جنگیالي دجگړې ډگر ته راوباسي.

جلال الدین په پر له پسې توگه سعودي عربستان ته تگ راتگ کوي او هلته ددغه هېواد دحکومت له استازو سره مخامخ خبرې اترې کوي. نوموړی د خپل قام داړتیا وړ وسلې او مهمات اودغه راز نورې اقتصادي مرستې په پېښور کې دخالص داسلامي گوند له مرکز نه پرته پخپله مخامخ ترلاسه کوي. په زړه سختوالی او نه نرمښت یې مهمې ځانگړنې گڼل کېږي. دنجیب الله له رژیم سره هم نه پخلاکېدونکی دی. هغه پر دودیزو اسلامي آرونو (اصولو) دولاړ یوه «اسلامي جمهوریت» دجوړولو لپاره پر وسله والې هلې ځلې اخته دی. دجلال الدین د وسله والو ټولگیو شمېر تر ۳ زره تنو پورې رسېږي او ټولې ډلې ډلگۍ یې په بنسټیزه توگه په پکتیا او پکتیکا کې دځدرانو داستوگنې په سېمو کې پرتې دي.

- دسید مرتضی زوی سید منصور (چې په سید پانچو پېژندل کېږي) پر ۱۹۵۵ کال په پروان کې زېږېدلی او په ختېه تاجک دی. دلېسې ۱۲ ټولگي یې

پای ته رسولي او يو څه وخت پر کوچنۍ سوداګرۍ هم بوخت و. وروسته يې دوه کاله په کابل پوهنتون کې هم زده کړه وکړه خو پوهنتون يې سرته ونه رساوه. د پوهنتون په لومړي ټولګي کې د افغانستان اسلامي ګوند غړی شو. پر ۱۹۷۸ کال د ګ. حکمتيار له خوا د بغلان په ولايت کې د اشرارو د ډلمشر په توګه وګمارل شو. د دوشي - سالنګ تر منځ د لويې لارې برخه د هغه د ډلې د بريدونو بنسټيزه سيمه ګڼل کېږي.

نوموړی له هغو کسانو سره چې واکمن رژيم ته يې پرې د کړون شک راشي په ډېرې بې رحمۍ چلند کوي. دې ډېر هوښيار، ټګمار او بې لارې سړی دی.

له بله پلوه نوموړی ډېر محتاط دی او د خپلو غليمانو د بريد له امله تل د خپلې استوګنې ځای بدلوي. آن تر دې چې هغه د خپلو ښارګرو او يجنټانو له لارې د خپل استوګنځي د بدلولو په اړه د دروغو ګونګوسي او آوازې هم خپروي.
{...} سيد منصور د ۱۵۰۰ تنو په شاوخوا کې وسله والو ياغيانو مشري په غاړه لري.

- د زېړ ګل زوی محمد بشير پر ۱۹۵۱ کال په بغلان کې زېږېدلی او په خټه پښتون دی. هغه واده کړی او کورنۍ يې په بغلان کې استوګنه لري. مور او پلار يې پر ۱۹۸٤ کال وژل شوي دي.

نوموړي پخوا د بغلان ولايت د کرنې په اداره کې دنده سرته رسوله. خو اوس په بغلان کې د اسلامي ګوند له سترو ډلمشرانو څخه دی چې تر ۵۰۰ تنو پورې ياغيان پخپله ولکه کې لري. احتياط او بې رحمي يې مهمې ځانګړتياوې ګڼل کېږي. په وژنو کې پخپله ګډون کوي. د افغانستان اسلامي ګوند مشر ته بېخي زيات او بې حده درناوی لري. د هغه ډلې جنايتکاره دي، سيمه ييز خلک وژني او مالونه يې هم لوټ او تالا کوي.

- استاد فريد پر ۱۹٤۹ کال زېږېدلی او په قام تاجک دی. کابل پوهنتون يې پايته رسولی او تر هغه وروسته يې د لېسې د ښوونکي او د ښوونځي د مدير په توګه دنده ترسره کړې ده. له حکمتيار سره پېژند ګلوي يې په پوهنتون کې د زده

کړې پر وخت وشوه . نوموړی دمسلمانو ځوانانو د ډلې غړی هم و . دی یو ډېر مېړنی ( محيل ) اوچالاکه سړی دی. د ا.خ.د.گ. او کابل واکمنی نه پخلاکېدونکی دښمن گڼل کېږي . هغه له حکمتیار سره نږدې اړیکي لري او یوازې دنوموړي شخصي لاربښوونې پلې کوي. دی په کاپیسا کې داسلامي گوند د ډلو لوی قوماندان او د ۱۵۰۰ تنو په شاوخوا کې کسانو مشري په غاړه لري.

- دمولوي محمد اسلم زوی عبدالخالد بصیر پر ۱۹٤٥ کال دبدخشان ولایت په مرکز فیض آباد کې په یوې مذهبي کورنۍ کې زېږېدلی او په ختیه تاجک دی. پر ۱۹٦٥ کال یې د فیض آباد د « پامیر » لیسه پای ته رسولې. د م. داود په واکمنۍ کې یې په فیض آباد او دکران او منجان په علاقه دارۍ کې دښوونکي په توگه دنده سرته رسوله .

د ۱۳٥۷ کال د غويي تر میــــاشتې وروسته د بدخشان په ولایت کې دوسله والې هاندوهڅې نوښتگر شو. بصیر پخپله لکه څنگه چې دحکومتي او شوروي پوځونو پر خلاف په جگړه ییزو عملیاتو کې گډون کوي ، هماغه شان د نورو گوندونو د ډلو تپلو پر خلاف په جگړو کې هم ونډه اخلي. نوموړی هڅه کوي چې دخپلې اغېزې سیمه پراخه او دهغې لمنه د جرم په ولسوالی کې دلاجوردو زېرمې ته ور وغځوي ( هغه په دې برخه کې آن له احمد شاه مسعود سره هم سیالي کوي).

بصیر دجگړه ییزو عملیاتو په ترڅ کې دیوه ازمویلي ( مجرب ) ډلمشر اوبې رحمه او تګمار غلیم په څېر ځان راڅرگند کړ. په نږدې چاپیریال کې یې یوازې خپلوان را کړۍ شوي او دده پر شاوخوا یې منډو جوړ کړی دی. دهغه دمخورتیا دلیل دادی چې آن نږدې خپلوان یې هم ورنه په ویره کې دي. د ډلو دغړو شمېر یې تر زرو تنو پورې رسېږي.

- سید علي بهشتي پر ۱۹۳۰ کال د بامیانو ولایت په یوې مذهبي کورنۍ کې زېږېدلی ، په قام هزاره او په مذهب شیعه دی. دبامیانو په یوې مدرسې کې

لەزدەکړې وروسته یې دعراق په نجف کې دآیت‌الله خویي ترلاربښوونې لاندې زده‌کړو ته دوام ورکړ. له عراق نه تر راستنېدو وروسته یې دهزاره گانو په منځ کې په کارنده توگه پر دیني چارو لاس پورې کړ او دهزاره جاتو دستر ځمکه وال وکیل سرور خان داقتصادي ملاتړ لەبرکتە دیوه نامتو شیعه مذهبي شخصیت په توگه‌راڅرگند شو. د غویي تر انقلاب وروسته یې په ډاگه حکومتي ضد دریځ خپل کړ.

د ۱۹۷۸ کال پر اگست په‌بامیانو کې تش په‌نامه « دشیعه هزاره گانو داسلامي جمهوریت » یو حکومت جوړ او « اسلامي مرکزي شورا » ددغه جمهوریت دواکمنۍ د ترټولو لوړ اورگان په‌توگه اعلان شوه‌چې مشري یې د سید علی بهشتي په غاړه‌وه. خو پر ۱۹۸۲ کال « مرکزي‌شورا » له‌منځه لاړه‌او س. ع. بهشتي داسلامي نږدېوالي (اتفاق) دشورا مشر شو.

دافغانستان له‌خاورې نه دشوروي لښکرو وتل ، « دافغانستان اسلامي جمهوریت » جوړېدل او هزارجاتو ته دکورواکۍ ورکول د بهشتي دسیاسي کرښلارې مهم ټکي او غوښتنې دي. خو له‌دې ټولو سره سره هغه‌تر ډېره ځایه یو تیوریسن او پوست سړی‌دی او د دولتي واکمنۍ پر خلاف د وسله والې هاندوهڅې د پرمخ بیولو په‌اړه‌دسخت دریځ خپلولو ته‌دومره ډېره لمن نه‌وهي. برعکس‌هغه‌څو ځلې په‌هزاره جاتو کې دجگړې دبندېدلو لپاره له‌حکومت سره‌د خبرو اترو دترسره‌کولو وړاندیز کړی‌دی . خو دخپل پخوالي له امله دخبرو اترو په‌بهیر کې داسلامي نږدېوالی شورا دنورو مشرانو دگډون پرشرط ټینگار کوي. دوسله‌والو ډلو دغړو شمېر یې له‌زرو تنو څخه ډېر دی.

– د سید مبین زوی‌سید محمد حسن (چې خلک‌یې دسید جگړن په‌نامه پېژني) پر ۱۹۲۵ کال د غـــزني ولایت دنـاور ولسـوالۍ په‌یوې منځنۍ ځمکه والې کورنۍ کې زېږېدلی او په‌ختیه هزاره دی. سید جگړن په‌پوځي (حربي) ښوونځي تر اووه کاله‌زده کړې وروسته دکابل پوځي (حربي) پوهنتون ته لاړ او هغه‌یې پای ته‌ورساوه. تر هغه وروسته یې په‌شوروي اتحاد

کې دتوپچي په‌لوړ ښوونځي کې زده کړه . بشپړه کړه د سید جګړن د ندې
وروستی ځای دغزني ۱٤ مه فرقه او پوځي پوړی یې دګرمني ده . هغه پر
۱۳۵۸ کال د ح. امین د واکمنۍ په پړاو کې { له‌هېواد نه } د تېښتې لاره خپله
کړه .

په ۱۹۸۰- ۱۹۸۱ کلونو کې یې د ا.د.ج. دوسله‌والو ځواکونو پرخلاف
کارنده او بریالۍ جــــګړه پرمــخ بوتله . وروستــه یې په ۱۹۸۲ کـال کې
دوسله والې هاندوهڅې د پایته رسولو لپاره له‌دولتي واکمنۍ سره دخبرو اترو
هیله‌وکړه. خو د ا.د.ج. حکومت له‌خوا د ورانکاره چلند له‌امله ( د ا.د.ج.
هوایي ځواکونو له‌سید جګړن سره دمخکینیو ( مقدماتي ) خبرو اترو د ترسره
کېدو په‌ترڅ کې دهغه پر اډو هوایي ګوزارونه‌وکړل) هغه له‌دې کار نه ډډه
وکړه .

تر هغې وروستــه نوموړی دوګړنۍ واکمنۍ پرخلاف له کارنده جګړه ییزو
عملیاتو نه‌لاس واخیست ، خو خپلې پوځي ډلې یې له‌منځه یو نه‌وړي . هغه
اوس د «نصر» او « سپـاه پاسداران» د ډلو پر خلاف چې غـواړي دغـزني ،
وردګو ،بامیـانو او غور په‌ولایتونو او داورزګان په‌شمالي برخه‌کې برلاسی
دریځ ولري پر جګړو اخته دی .

سید جګړن دیوه‌سیاسي او پوځي مشر په‌توګه دهزاره ګانو په‌منځ کې له
زیات باور نه‌برخمن دی او دوسله والو کســانو شمــېر یې تر ٦ زروټنو پورې
رسیږي.

- محمد آصف محسني ( کندهاري) پر ۱۹۲۵ کال په‌کندهار کې زېږېدلی
او په‌ختبه هزاره دی. دیني زده کړه یې په‌نجف کې سرته رسولي . دمفکورې له
پلوه آیت‌الله‌خمیني ته‌نېږدې دی . نومـوړی پر ۱۹۸۱ کـال په‌اسلام آباد کې
دنړیوال اسلامي کنفرانس په‌ترڅ کې دافغانستان د شیعه‌ګانو د مذهبي لارښود
( پیر ) په‌توګه اعلان‌شو.

هغــه‌دایران پلوه کلکې لارې پلوي دی او پخــپل وخت کـې یې دایران له

پخواني ولس مشر م. بن صدر سره هم نږدې اړيکي درلودل. اوس دايران له روحانيونو اوله هغې ډلې نه د دغه هېواد له داسې نامتو مذهبي شخصيتونو سره لکه شريعت مداري، قمي او شيرازي سره ټينګ اړيکي لري. دغه راز د حزب اللـــه له مشر سره هم همکاري کوي. دهېواد د حکومت پر خلاف دوسله والې هاندوهڅې د پرمخ بيولو، دغه درانسکورولو، دشوروي پوځونو د وتلو او په افغانستان کې ايران ته دورته «اسلامي جمهوريت» دټينګولو د دريغ پر اړتيـا باندې په کلکه ټينګار کـوي. کندهاري اوبهشـتي دواړه د اسلامي نږديوالي (اتفاق) په شورا کې دمشرۍ پر سر پر پټې هاندوهڅې لګيا دي (بهشتي د آيت الله خويي او کندهاري د خميني کلک پلوي دي).

سربېره پر پورته يادوشوو مخالفو ګوندونو چې په افغانستان، پاکستان او ايران کې کارنده (فعال) و، دنړۍ په يو شمېر نوروهېوادونو کې هم يو لړ افغاني سازمانونه پراته وو چې د ا.خ.د.ګ. پر خلاف يې هاندوهڅه کوله. په همدې ترڅ کې دنړيوالې ورستيـاپالنې (ارتجاع) ځواکونو دافغـانستـان جمهوريت پر خلاف پر پوځي او اقتصادي بنديزونو سربېره دافغاني مخالفينو د اسلامي ګوندونو او سازمانونو پر رسمي توګه له ياغيـانو سره دهر اړخيـزې مرستې لوري او اړخونه لا پسې پراخه شول.

د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې افغاني مخالفينو په امريکا، لويديزې اروپا او يو لړ نورو هېوادونو کې دخپلو ډلو او سازمانونو يوه پراخه شبکه درلوده.

# معلومات

دامريکا په متحدو ايالتونو کې دمخالفو اسلامي ګوندونو اته «ټولنې» په کـار بوختې دي چې ټولې يې تر ډېره ځايه په نيويارک کې دېره او پرتې دي. ددغو سازمانو غړي دامريکا د ادارې له مرستو نه په ګټې اخيستنې سره دافغاني کډوالو په منځ کې خپلې خواته دهغوی دراماتولو او را اړولو پر دندو

او له یاغیانو سره د اقتصادي او پوځي مرستو پر ترسره کولو بوخت دي.
- « له افغاني کډوالو سره د مرستې ټولنه » په ۱۹۷۹ کال کې جوړه شوې چې له افغاني مخالفینو سره د هر اړخیزو مرستو تر سره کول یې بنسټیزه موخه ګڼل کېږي. د همدغې ټولنې په مرسته په نیویارک کې « د مرستې افغاني خیریه موسسه » هم جوړه شوې چې امریکایي میلونر جان ترین ، په کابل کې ځینې امریکایي پخواني ډیپلومات ، په افغانستان کن د « سولې دلبنکر » دڅانګې مشر ، دنیبراسکا په ایالت کې د افغانستان په باب دڅېړنو د مرکز مشر او دغه راز امریکایي سناتورن ج. جاویتس ، ک. پیل او ځینې نور یې چې دخپلو سیاسي وروستیا پالونکو ( ارتجاعي ) اندونو او له څارګرۍ سره د اړیکو له امله ډېر نومیالي دي د مشرتابه په ډله کې دي.
- « دافغانستان ملي آزادۍ بښونکي جبهه » یوبل سازمان دی چې مشري یې د ضیا ناصري او زکریا ورونو په غاړه ده. ددغې جبهې غړي هم دهغو افغانانو تر منځ چې په امریکا کې استوګنه لري د تبلیغاتو ، خپلې خوا ته درا اړولو او دیاغیانو دستونزو د له منځه وړلو لپاره د بسپنو د راټولولو پر چارو اخته دي.
- « د امریکا په متحدو ایالتونو کې دافغانستان د آزادۍ بښونکو سازمانونو د پیوستون شورا » دهغې ډلې نوم دی چې د ۱۹۸۰ کال په مۍ کې جوړه شوې . دنړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې دافغاني انقلاب ضد سازمانونو د کارندتیا همغاړي کول او له افغاني یاغیانو سره د پوځي مرستو سرته رسول ددغې شورا بنسټیزه دنده ګڼل کېږي . شورا دغه راز له مجددي او ګیلاني سره هم ټینګ اړیکي لري او د « افغانستان غږ » په نوم میاشتنۍ مجله هم خپروي.
- « دیووالي شورا » له افغاني یاغیانو نه داقتصادي او سیاسي ملاتړ په موخه د ۱۹۸۰ کال په جون کې د امریکا په اوماها کې منځته راغله چې مشري یې د مجددي دکورنۍ د یوه استازي په غاړه ده.
سربېره پر دې په امریکا کې ځینې نورې ډلې لکه « په کالیفورنیا کې د

افغانانو ټولنه » ، « له افغانانو سره دامریکا مرسته » ، « دافغانستان د ژغورنې کمېټه » ، « په امریکا کې دافغانانو ټولنه » ، « دافغانستان لپاره د روڼاندو ( روښانفکرانو ) مسووله کمېټه » او داسې نورې هم په کار او هڅو بوختې وې.

## په فرانسه کې

**په پاریس کې دغه سازمانونه پراته او کارنده دي:**

- « دافغانستان دخلکو له ټینګاو ( مقاومت ) نه دملاتړ غورځنګ » چې د ۱۹۸۰ کال په جولای کې د فرانسوي م. باري له خوا جوړ شوی ، مرکز یې په پاریس او څانګې یې د لیون ، نانت او باردو په ښارونو کې پرتې دي. د ۱۹۸۱ کال په اکتوبر کې ددغه غورځنګ په اړانه کې دافغانستان په باب یوه نړیواله اداره ( بیورو ) هم منځته راغله چې د پاکستان له لارې د افغانستان جمهوریت ته د فرهنګیانو شخصیتونو د ډلو د لېږلو چارې پر مخ بیایي او په دې توګه غواړي چې « د افغانستان مسالې » ته د نړیوالو ټولنیزو کړیو پام راوګرځوي.

- « دپاریس د بشر د حقونو کمېټه »: په افغانستان کې دشوروي ضد او افغاني ضد تبلیغونو د پرمخ بیولو لپاره د پټو راډیو یي ستېشنونو د شبکې جوړول د دغې کمېټې د دندو یو مهم اړخ ګڼل کېږي. د « آزاد کابل راډیو » په نوم د نوموړې کمېټې څانګه په دې برخه کې ټاکلې دندې سرته رسوي.

- « دافغان - فرانسې د دوستۍ ټولنه » ، « بې پولې ډاکټران » او داسې نور هغه ټولنې او سازمانونه دي چې له افغاني مخالفینو سره مرستې یې بنسټیزه موخه ګڼل کېږي. پورته یادې شوې ټولنې او سازمانونه دافغاني انقلاب ضد ددغو ډلو له لارې چې په فرانسه کې په کار بوختې دي له یاغیانو سره اړیکي ټینګوي :

- « دهمایون شاه آصفي ډله » دافغانستان له ملي - اسلامي محاذ او په ایټالیا کې له پاچا پلوه افغاني ډلو سره اړیکې لري. دغه ډله هم له یاغیانو سره د مرستې لپاره د بسپنې پر راټولو بوخته ده . دغړو شمېر یې دلسګونو تنو په شاوخوا کې دی .

- « دزکریا ورونو ډله » دافغانستان دملي ژغورنې ( نجات) له جبهې سره تړاو لري . دتبلیغي کار پر مخ بیول یې بنسټیزه دنده ګڼل کېږي او د دېرشو تنو په شاوخوا کې غړي لري.

-« دهمایون تندر ډله » دافغانستان په اسلامي ګوند پورې اړه لري او په فرانسه کې دافغاني زده کوونکو ترمنځ پر تبلیغاتي کار بوخته ده.

-« دپرمختیا پالو ( مترقي) محصلینو ډله » پر ۱۹۸۰ کال منځته راغلې او د محصلینو تر منځ تبلیغاتي کار پر مخ بیایي.

په لویدیځ المان کې هم دافغاني تېښتګاو دځواکونو داووګوندونو درسمي استازیتوبونو ( نمایندګیو ) غړي ددغه هېواد د دفاع له وزارت سره پر نږدې همکارۍ بوخت دي. په بن او دماین پرغاړه فرانکفورت کې ددغو ډلو استازي پر تبلیغي کار سربېره د وسلو په سوداګرۍ کې هم د منځګړو او دلالانو د ندې سرته رسوي.

دالمان په فدرالي جمهوریت کې د مېشتو افغانانو شمېر د ۱۵ زره تنو شاوخوا ته رسېږي چې دغه ډلې اوسازمانونه په کې کارنده دي:

-« دپښتنو او بلوڅو کمېټه» ،« په فرانکفورت کې دافغاني مشرانو «لیډرانو» ، « دافغانستان له خلکو سره دپیوستون کمېټه » ،« افغاني کولتوري مرکز ( بن) » ، « په بهر کې دافغاني محصلینو فدراسیون »او« له افغاني کډوالو سره د مرستې موسسه ( فونډ) »چې د ۱۹۸۱ کال په پیل کې جوړه شوې او مشري یې د المان د پارلمان د وکیل شومارد په غاړه ده . له افغاني یاغیانو سره دهراړخیزو مرستو سرته رسول د دغې موسسې مهمه او بنسټیزه دنده ګڼل کېږي .

سربېره پر دې په المان کې د دغو افغاني انقلاب ضد ډلو څانګې هم پرتې دي:

دافغانستان اسلامي ګوند چې کوکو جان نیازي یې استازولي کوي، دافغانستان سوسیال دیموکرات ګوند چې استازیتوب یې دعنایت اسحاقزي په غاړه دی او « دافغانستان دخلکو دآزادۍ سازمان» چې مشري یې عبدالقیوم رهبر دی.

په ایټالیا کې دافغاني انقلاب ضد استازیتوب « د پاچا پلوه ډلې » له خوا تر سره کېږي چې هڅه کوي د مخالفینو ځواکونه د دولتي واکمنۍ پر خلاف په هاندوهڅه کې سره یو موټی او مشري یې دغه ډله په غاړه واخلي.

- « پاچا پلوه ډله » چې یو شمېر نامتو پخواني سیاسي او پوځي شخصیتونه چې په پاچاهي رژیم کې یې لوړې دولتي څوکۍ درلودې په کې راټول شوي دي. ددغې ډلې دمشرانو په منځ کې یوهم دافغاني اردو پخواني ډګروال (؟) عبدالولي دی. نوموړې ډله له افغاني یاغیانو سره پرځه ناځه مرستې سربېره هڅه کوي چې افغاني انقلاب ضد غورځنګ سره راټول او د هغه مشري په غاړه واخلي.

-« د مرستې نړیواله کمېټه » یو ایټالوي نوی فاشیستي سازمان دی چې په پاکستان کې له افغاني یاغیانو سره اړیکې لري. دغه کمېټه په کراچۍ کې د ملا ریګیادې سوزا په نوم یو همېشنې استازي لري چې اشرار دهمدغه سړي له لارې پیسې او وسلې تر لاسه کوي.

-« له افغاني مجاهدینو سره د پیوستون کمېټه » چې مشري یې دایټالیا د پارلمان د وکیلانو هایتانو افي، کارلوریپا دې میلانو او چکي مرور (نارافي) یو. پیلیان په غاړه ده. له افغاني یاغیانو سره دهر اړخیزو مرستو سرته رسول ددغې کمېټې بنسټیزه موخه ګڼل کېږي.

په انګلستان کې پر ۱۹۸۰ کال « دافغانستان د پیوستون، پخلاینې او ټینګاو (مقاومت) غورځنګ » او « د افغانستان د ملاتړ کمېټه » جوړه او پر

۱۹۸۵ کال په کې د « اووه گوني تلوالې » استازيتوب هم پرانيستل شو.

په مصر کې د ۱۹۸۱ کال په اپريل کې « دافغانستان له خلکو سره د پيوستون کمېټه » جوړه شوه چې مشري يې د عربانو او مسلمانانو د غورځنگ ( ليگ ) دمنشي س. نوفل په غاړه ده. ددغې کمېټې مهمه دنده له افغاني ياغيانو سره دهر اړخيزو مرستو سرته رسول جوړوي. « افغاني بيورو » يوه بله ډله ده چې په مصر کې پراته دافغاني انقلاب ضد بېلا بېلو ډلو استازي په کې راغونډ شوي او له افغاني ياغيانو سره د پوځي ، اقتصادي او نورو پراخو مرستو سرته رسول يې بنسټيزه دنده گڼل کېږي.

په ترکيه کې دشلو زرو په شا وخوا کې افغاني کډوال استوگنه لري. دغه کسان په ځانگړې توگه د انقرې ، استانبول او ختيځې اناتوليې دښارونو په غاړو څنډو کې په پرتو مېشت غالو ( کمپونو ) کې شپې ورځې تېروي.

په ترکيه کې پرته « له افغاني کډوالو سره دمرستې موسسه » دهغو بسپنو پر بنسټ ولاړه ده چې دسعودي عربستان له خوا وراستول کېږي. ددغې موسسې له خوا را ټولې شوې پيسې په پاکستان کې افغاني انقلاب ضد سازمانونو ته ورلېږل کېږي.

په کويټ کې « د محبوب شريف ډله » هغه کوي چې د فارس خليج دسيمې په هېوادونو کې دافغاني ورو ستياپالنې دکارندتيا ( فعاليت ) د لاربنوونې يو سيمه ييز مرکز جوړ کړي. ديو لړ شمېر نوله مخې دلته تر ۱۰ زرو پورې افغانان استوگنه لري.

په هند کې دافغاني کډوالو شمېر د ۳۰ زره تنو په شاوخوا کې اټکل شوی چې له دې ډلې نه ٤ زره تنه د لاندينيو انقلاب ضد سازمانونو غړي دي:

-« دافغانستان سوسيال ديموکرات گوند » چې پر پښتنو باندې ولاړ يو پانگوال - ملي پال ( بورژوا - ناسيوناليست ) سازمان دی. ددغه گوند مشر امين واکمن او مرکز يې په نوي ډيلي کې پروت دی.

-« دمسلمانو ورونو د نړيوال سازمان څانگه » چې دخپلو انقلاب ضد

تبلیغونو او د کډوالو له لارې دافغانستان جمهوریت په خاوره کې د باندونو دلیکو د بشپړولو په چاره کې ډېره کارنده ده. دغه ډله دهند د بهرنیو چارو د پخواني وزیر واجپای له ملاتړ نه برخمنه ده.

- شعله جاوید د چین له څارگرۍ ( استخباراتو ) او دافغانستان په جمهوریت کې له مائویستي پلوه ډلو سره یوه سخت دریځه (افراطي) کینه ډله ده چې استازي یې په هند کې دافغاني کډوالو په منځ کې پر تبلیغاتي کار او خپلې خواته دهغوی د واړولو پر چارو اخته دي.

سربېره پر پورته یادو شوو ډلو ، دنړۍ په یو شمېر نورو هېوادونو کې هم «دافغانستان دمبارزو خلکو» سازمانونه او کمېټې شته چې پراخو اقتصادي مرستو باندې پر تکیې او په پلازمېنو کې له مېشته کېدو نه په گټې اخیستنې سره له یاغیانو سره دمرستو پر ترسره کولو زیات زور اچوي . . .

د رپوټ سرچینه : د ا. د.ج. او افغانستان جمهوریت د دولتي امنیت وزارت ، دافغانستان جمهوریت دوسله وال پوځ د ستر درستیز دکشف پاسوالي ، د ٤٠ اردو درستیزوال دشوروي اتحاد کې جي بي ، دشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو د ستر درستیز دکشف لویه پاسوالي او شوروي سفارت ، ۱۹۸۷ کال .

له هغو وسله والو ډلو پرته چې دمخالفینو ترولکې او لاربښوونې لاندې یې هاندوهڅه کوله ، په افغانستان کې په ځمکه والو دنشه یي مادو په سوداگرو پورې تړلي یو یو لړ نور وسله وال باندونه هم وو چې له پیړیو پیړیو راهیسې (؟) یې اړونده دندې سرته رسولې . ځمکه والو به ددغو ډلو په مرسته د شخړې ور لانجې او ستونزې اواراولې ،آن تر دې چې کله کله به یې دهغوی له لارې په لوټ اوتالان هم لاس پورې کاوه او دنشه یي مادو سوداگرو به له افغاني بزگرو نه پېرودلې اپین پاکستان او ایران ته لېږدول.

# دیاغیانو د هلوځلو او جګړې لارې چارې او بنې

وسله واله جګړه ، ورانکاري او ترهګري ( تروریستي ) کړنې ، زیان رسونه او ډول ډول ایډیولوژیکي هلې ځلې د یاغي غورځنګ د ورانکارۍ کارندتیا بنسټیزې بڼې بلل کېږي . هغوی دافغانستان کشالې ته د نړیوالو د پام را اړولو په موخه دملګرو ملتونو ، اسلامي کنفرانس او نورو سازمانونو له تریبون نه ایډیولوژیکي ګټې اخیستنې ته ترېل هرڅه نه زیات ارزښت ورکاوه.

دافغاني مخالفینو مشرانو له هماغه لومړي سرنه په زور د ا. خ. د. ګ. د رژیم رانسکورول او په هېواد کې د دیني دولت جوړول خپله موخه ټاکلې وه او په دې لړ کې یې تل یوازې وسله والې جګړې ته لومړیتوب ورکاوه.

یاغي غورځنګ د ۱۹۸۰ کال په بهیر کې دافغانستان ۹۰ په سلو کې خاوره پخپله ولکه کې درلوده او ددې کار لامل تر ډېره ځایه دهېواد پالنې هغه احساس و چې د ا. د. ج. ټول خلک یې د بهرنیو یرغلګرو او « بې دینه » شورویانو پر خلاف په هڅو کې سره یو موټي کړل. هغه مهال د یرغلګرو پر خلاف دجګړې دمینه والو شمېر تر دې کچې ډېر وو چې دهغوی لپاره آن وسلې هم نه موندل کېدې .خو په را وروسته کلونو کې ددغه غورځنګ په لیکو کې بیا هېڅکله هم ورته تودوخه و نه لیدل شوه.

مخالفینو په لومړي سر ( د ۱۹۸۰ کال په پیل ) کې هڅه کوله چې د شوروي لښکرو پر خلاف دجګړې ډګر ته له سترو ډلو او ځواک سره ورودانګي ، خو څو میاشتې لا نه وې تېرې شوې چې دسر د زیاتو زیانونو له کبله یې خپلې ډلې

کوچنی او دجګړې پارتیزاني تاکتیک ته یې مخه کړه. خو له دې سره سره له پاکستان سره په ګډ پولو ولایتونو لکه کونړ، ننګرهار، پکتیا، پکتیکا، دخوست په لویې ولسوالۍ او د کندهار په شاوخوا کې دهغوی یو لړ ستري ډلې (چې شمېر یې د ټولې نهه کلنې جګړې په بهیر کې له ٤ زره نه تر ٦ زره تنو پورې رسېده) هم ځای پر ځای شوې وې. بنایي دا ځکه چې مخالفینو په دغو سیمو کې د کلابندۍ او بشپړې ځپنې ویره نه درلوده، ځکه له داسې یوه ګواښ سره دمخامخ کېدو پروخت یې کولی شول په ډېرې اسانۍ سره پاکستان ته ترپ وهي.

خو په مرکزي، شمالي او لویدیزو ولایتونو کې مجاهدینو تل وړې ډلې درلودې او د اړتیا پروخت به یا دخلکو داستوګنې په سیمو او یاهم غرونو کې چې هلته درنې، تخنیکي وسیلې نه شوې ورتللې پټېدل.

په ټولیزه توګه په افغانستان کې وسله والې جګړې درې پړاوونه ووهل:

لومړی - دمنځته راتلو او لوړي موندلو پړاو چې جګړې اونښتې په کې دومره ډېرې کارنده نه وې { او مخالفینو} یوازې دګوتو په شمار ځایونه او سیمې پخپله ولکه کې درلودل او تر ډېره ځایه دخلکو په منځ کې پر پراخ تبلیغ او رواجولو او خپلې خوا ته دهغوی پرور ماتولو بوخت وو.

دویم - په دغه پړاو کې ورانکارو او ترهګرو کړنو او دغه راز جګړو اونښتو دحکومتي پوځونو پر پوستو او ګارنیزیونونو باندې بریدونو او پر کتارونو یرغلونو زور وموند چې دهغو ټولو موخه د وسلو، مهماتو اونورو بېلابېلو مادي او تخنیکي وسیلوتر لاسه کول وو.

درېیم - هرچېرته او په بشپړه توګه دخپل غلیم له منځه وړل.

ددغو جګړو او نښتو مهمې لارې چارې په دې ډول وې:

دسم سیـــده ( منظمو ) پوځونو له ځواکمنو ټولګیـــو سره له مخامخ نښتونه ډډه کول، پر جبــــــهه ییزو نښتو د جګړې نه اړول، داوږده وخت لپاره دنیول شـــویو ځایونو له ساتنې نه ډډه کول، دنابېره بریدونو ترسره کول،

دباسمه چیانو (۱) د غورځنګ له کړنو او لارو چارو نه پراخه ګټه اخیستل اودغه راز وژل اوتر هول او دافغاني اردو دپوځیانو او خلکو تر منځ د ایډیو لوژیک کار سرته رسول.

پخپله دمخالفینو مشرانو هم دهېواد په دننه او بهر کې دیاغیانو دروزلو او سمبالولو اډو ،استوګنځیو او دمه ځایونو ته ډېر پام اړاوه او دهغوی دکارندتیا داغېزمنتیا لپاره یې په سرحدي ، غرنیو اونورو سیمو کې ډول ډول اډې او زېرمتونو نه جوړول. په دې ډله کې ځینې داسې اډې هم وې چې پر جوړېدلو یې خورا اوږده کلونه تېر شوي وو لکه دژورې اډه چې دجوړېدو کار یې واک ته د ا.خ.د. ګ. تر رسېدو نه ډېر پخوا آن د داود د رژیم پر خلاف دجګړې لپاره پیل شوی و . داشان اډو د ځمکې پر سر او ترځمکې لاندې ودانیو (چې تونل ته ورته وې او دبامونو ساتندویه پنډوالی یې له ۱۵ نه تر ۲۰ مترو پورې و) یوه پراخه شبکه په غېږ کې نیولې وه . دغه اډې دژوند ،استوګنې او پوځي کارندتیا (فعالیت) روزنیزو او تبلیغاتي مرکزونو ،ځوځوېځایونو (کاغوشونو) ،دوسلو ،مهماتو او نورو مالونو پر زېرمتونونو ، دګاډو او وسلو په رغاونځیو (ورکشاپونو) ، د کارتوسو دجوړولو او ډکولو پر کار خونې ، روغتون اوزندان سمبالې وې. په هغو کې دغه راز اداري ودانۍ اودلوړ پوړو کسانو او بهرنیوا ستازو لپاره استوګنځي هم په پام کې نیول شوي وو او د برېښنا او اوبو زیرمې یې هم درلودې .

دا ډول اډې ولې تر ډېره ځایه پر ۱۹۸۳ کال او تر هغه نه وروسته جوړې شوې ؟ خبره په دې کې وه چې دمخالفینو وسلهوالو ډلو د همدې کال دژمي تر رارسېدو نه پخوا معمولاً {هر کال} خپل کارنده جګړه ییز عملیات په پسرلي ، اوړي او منې کې ترسره کول او دسړو له راګډېدو نه تر مخه به پاکستان یا ایران

(۱) - روسانو په منځنۍ آسیا کې دبلشویکانو د واکمنۍ پر خلاف دمسلمانانو د وسلهوال ټینګاو (مقاومت) ګډون کوونکي باسمه چیانو بلل (ژ.)

تللی او هلته به یې پر دمې سربېره خپلې لیکې پر نوو سېیو اووسلو سمبالولی او د بهرنیو سلاکارانو تر لاربښوونې لاندې به یې جګړه ییز تیارې نیوه . او کله به چې هوا ماته او توده شوه ،نو بېرته به افغانستان ته راستنیدلی.

خو د ۱۹۸۳ کال پر ژمي دمخالفینو ګڼ شمېر ډلې دجګړې په ټول پړاو کې د لومړي ځل لپاره د دمې لپاره بهرته ونه وتې او دا ځکه چې هغوی ته ددې کار اجازه ورنه کړل شوه . له همدې کبله وه پخپله د ا.د.ج. په خاوره کې دهغوی لپاره د اډو او استوګنځیو د جوړولو کار پیل شو . دساري په توګه دهرات پوځي اډه یوه له هماغه اډو څخه وه چې دلویدیځ المان او ایران دپوځي انجینرانو د پلان له مخې په ۱۹۸٤-۱۹۸۵ کلونو کې جوړه شوه .

دیاغیانو د روزنې دځانګړو مرکزونو او اډو شمېر په ټولیزه توګه ۲۱۲ ته رسېده (چې له هغو نه ۱۷۸ یې دپاکستان او پاتې ۳٤ یې دایران په خاوره کې پرتې وې ) او په کال کې له ۷۵ زره تنو نه زیات کسان په کې روزل کېدل. په دغو روزنیزو مرکزونو کې پر پوځي روزنې ،جګړه ییزو لارو چارو ، روغتیایي معلوماتو ، ډزو او دبېلابېلو وسلو دچلولو پر زده کړې سربېره ددیني او سیاسي معلوماتو تر لاسه کول ، دحکومتي اوشوروي ضد تبلیغونو کورس او داسې نور هم په پام کې نیول شوي وو.

په ایران کې خو دزده کوونکو دایډیولوژیکي روزنې لپاره دقم په دیني مرکز کې آن یو ځانګړی تبلیغاتي پوهنځی هم جوړ شوی و.

دیاغیانو دزده کړې او روزنې چارې دپاکستان او ایران دوسله والو ځواکونو د سلاکارانو ،دافغان اردو د پخوانیو افسرانو او دغه راز دامریکا ،چین ، مصر او سعودي عربستان دسلاکارانو او مشاورینو له خوا پر مخ بیول کېدې.

دمخالفینو دزده کړې او پوځي روزنې دچارو د څارنې لپاره هم په پاکستان او هم ایران کې ځانګړي تدارکاتي مرکزونه پرانیستل شوي وو چې دکنترول او څارنې پر چارو سربېره یې په افغانستان کې دجګړه ییزو او ځینو

نورو ځانګړو عملیاتو تجربو ته پراختیا ورکوله او دهغو دلا ښه پرمخ بیولو په برخه کې به یې لارښوونې کولې او دغه راز دزده کړې د پروګرامونو د جوړولو او د روزنیزو مرکزونو لپاره دښوونکو او سلاکارانو دګمارلو پر چارو هم بوخت وو.

د زده کړې ګې دا شان مرکزونه دکېږدیو په ښار ګوټو کې چې اغزن مزي به ترې چاپېر وو جوړ شوي وو ،خو په ځینو سترو مرکزونو کې بیا د اداري دفترونو او خوښځایونو لپاره پخې ودانۍ هم جوړې شوې وې. په هغو کې دوتلو ننوتلو دبهیر پر کلکې څارنې سربېره دورځنیو چارو یو تاکلی مهالوېش هم و او ساتندویه چارې یې هم خورا په کلکه او ټینګه توګه ترسره کېدې.

سربېره پر دې په سترو وسله والو باندونو پورې تړلو روزنیزو مرکزونو او ډلو هم دیاغیانو د پوځي روزنې په برخه کې دلیدلو وړ رول لوباوه. په دغو ځایونو کې به اشرارو له سپکو وسلو سره پر بلدتیا سربېره دمیزایلو د توغولو او دماین ایښودلو او ماین را ایستلو لارې چارې هم زده کولې ،او کله به چې هغوی اړونده زده کړه ترلاسه کړه ،نو دافغانستان په خاوره کې پرتو وسله والو ډلو ته به استول کېدل.

## دیاغیانو وسله وال کېدل ، د وسلو دترلاسه کولو سرچینې او دهغو د لېږدولو لارې چارې

دمخالفینو وسله وال ټولګي اوډلې پر داسې سپکو او درنو وسلو سمبال وو چې د وزن او ځینو نورو ځانګړتیاوو له پلوه کېدای شول پر ته له دې چې هغه سره یو ځای اووتړل شي پر څارویو ولېږدول شي.

ددغو وسلو زیاته برخه دشوروي اتحاد له خوا جوړوشویو وسلو جوړوله . د سپکو وسلو په ډله کې په چین ، مصر او دغه راز پخپله په شوروي اتحاد کې دجوړو شویو کلاشنیکوفونو شمېر چې د دربېم ګړیو هېوادونو له لارې پېرودل

کېدل او یا به دجګړې په بهیر کې { دمخالفینو } لاس ته ورتلل ترنورو ډېر زیات وو. سربېره پردې M16A1 ډوله امریکایي توپکونه او په لویدیز المان ، اسرائیلو ، انګلستان او سویډن کې جوړې شوې ماشینګنې هم د مخالفینو په واک کې وې.

۱۲ او ۱۷ ملي متري د .ش. ک. ډوله چیني ماشینګنې ، دټانک ضد لاسي توغندي (ار. پ. ګ. -۲ او ار . پ. ګ.-۷) ، سویسي « فالکونیت » ، جرمني « لیا نخې - ۲ » ، امریکایي M72A2 ، فرانسوي « سارپک » ، اسرائیلي « پیکت » او چیني ۷۵ او ۸۲ ملي متري او پاکستاني او امریکایي بې شالغته توپونه هغه وسلې وې چې په پراخه توګه دمخالفینو په واک کې ورکړل شوې وې. دغه راز ۶۰ او ۸۲ ملي متري هاوانونه چې یاغیانو هرې ډلې په واک کې درلودل دهغوی یوه بله ورانونکې او دزیاتې ګټې اخیستنې وسله وه.

د ۱۹۸٤ کال له پیل نه را په دېخوا د میزایل ( ریاکتیف ) توغندیو دتوغولو چیني لاستونونه( دستګاوې) هم په پراخه توګه دمجاهدینو په واک کې ورکړل شول چې له هغو نه دشوروي پوځیانو د ساتندویه پوستو او ګارنیزیونونو او دغه شان دحکومت تر ولکې لاندې اداري مرکزونو د ویشتلو لپاره ګټه اخیستل کېده. سربېره پردې مخالفین هر ډول ټانک ضد ، پرسونل ضد او فنوګاس ماینونو هم سمبال وو. دغه ماینونه په تېره له هغو ډلو سره زیات وو چې پر لویو لارو او سړکونو به یې بریدونه کول. ترډېره ځایه دا ډول ډول ایټالوي ، امریکایي M-102 ، ډوله سویډني ، MK-7 ډوله انګلیسي او چکوسلواکي ماینونه وو.

دامریکا متحدو ایالتونو « دافغانستان جګړې » په هماغو لومړیو کلونو کې داسې یو سیستم جوړ کړی و چې دهغه له مخې به د سعودي عربستان له پیسو نه په مصر ، اسرائیلو او چین کې دشوروي وسلو دپېرودلو او پاکستان ته دهغو د لېږدولو لپاره ګټه اخیستل کېده . افغانستان ته د لېږلو لپاره ځانګړې شوې وسلې او مهمات به له هغه ځایه دهوایي ترانسپورت له لارې دولتي پولې

ته ځېرمه او يا ټېټله دافغانستان په سيمو کې پرتو دمخالفينو بنسټيزو اډو او يا لنډمهاله مرکزونو ته لېږدول کېدل. ورپسې به دغه مالونه دکاروانونو په مرسته ټاکلو ځايونو ته وړل کېدل. خو په هغو ځايونو کې چې شوروي او افغاني پوځونه به په کې ډېر وينې او کارنده وو ،هلته به کاروانونه اړ وو چې خپله لاره بدله او دهغوی له ځنګ نه تېر شي. ځرنګه چې د ا. د.ج. خاورې ته دوسلو او مهماتو رسول يوه ستونزمنه او له خطر نه ډکه دنده وه ،نو له همدې امله به دهغې په بدل کې مجاهدينو ته ډېرې پيسې ورکول کېدې.

د وسلو دغه کاروانونه د خپل جوړښت او موخو له پلوه ډول ډول وو. ځينو به يې د وسلو سترې جوپې پر ۲۵-۱۰۰ څارويو او يا ګاډو باندې لېږنده او لنډمهاله مرکزونو او ډيپوګانو ته رسولې چې د ۸۰ په شاوخوا کې کسانو له خوا به يې ساتنه کېده. خو دمالونو له ارزښت سره سم به دساتونکو په شمېر کې هم زياتوالى راته . ځينې کاروانونه به دياغيانو له هغو ډلو سره يو ځاى استول کېدل چې د پاکستان يا ايران په روزنيزو مرکزونو کې به يې زده کړه او روزنه پايته رسولې وه. خو ددغو کاروانونو جوړښت به دومره پراخ نه و. کله به چې لږه وسله لېږل کېده ،نو کاروان به هم ورسره هماغومره کوچنى و.

ياغيانو به ډېر ځلې { له داسې چلول نه هم کار اخيسته چې } دکاروان تر خوځېدو وړاندې به يې دکېدوالو او سوداګرو په بڼه دلارو او ګودرونو او له ويالو ،خوړونو او درونه د تېرېدو دکېدون او ځرنګوالي جاج اخيسته او دغه راز به يې د سيمو له اوسېدونکو نه د پوښتنې له لارې د ماينونو دشته والي او دحکومتي او شوروي ډلو ډلګيو دپوستو د پرېوت ځايونه او آن د الوتکو د الوتنو ځرنګوالي ځانته معلوماوه. سربېره پردې دقاچاق وړونکو ګاډو له چلوونکو ،کوچيانو او موټر سايکل سپرو کشافانو نه به هم دلارو دمعلومولو په برخه کې ګټيل اخيستل کېده. دغه راز دلارې په اوږدو کې د دولتي پوستو او ماينونو دشته والي دمعلومولو په موخه به يې يو شو څاروي له ځان نه مخکې هغه لوري ته وړل لېږل.

ناویلي دې پاتې نه شي چې یاغیانو له پاکستان او ایران نه دافغانستان خاورې ته دوسلو او مهماتو دلېږلو لپاره لږ تر لږه له سلو لارو نه گټه اخیستله چې هغه بیا پخپل وار د هواد بېلو بېلو ولایتونو او سیمو ته غځېدلې وې. که څه هم دکاروانونو دغه لارې نه وای بندې شوې، نو په افغانستان کې دسم (عادي) ژوند د شرطونو منځته راتلل ناشوني کار و، ځکه دمخالفینو وسله والو ډلو چې یوازې له بهر نه یې پراخه مرستې تر لاسه کولې، په دې توگه کولای شول د ا. خ. د. گ. د رژیم پر خلاف خپلو ورانکاریو ته داوږده وخت لپاره دوام ورکړي.

خو څرنگه چې شوروي پوځي قوماندانۍ پر دې خبرې ښه پوهېده، نو له همدې امله یې په دې اړه وړنده (مناسب) گامونه او چتول. دساري په توگه شوروي پوځي قوماندانۍ د ۱۹۸٤ کال په پیل کې د «زاوېسه» (۱) (منډو) تر شفرې نوم لاندې یو پلان جوړ کړ چې دهغه له مخې اټکل شوی و، دکاروانونو ټولې لارې باید وتړل شي او په دې توگه مجاهدین په پر له پسې توگه د وسلو او مهماتو له بهېدونکو چینو نه بې برخې شي. له دغه پلان سره سم ۱۱ موټرېزه کنډکونو، دکشف ۳ کنډوکونو، دځانگړو دندو ۸ کنډکونو او یوه ټولي او دکشف ۱۱ ټولیو او ٦۰ ډلگیو چې یوه وخت کې یې د ۱۸۰ لارنیونو (کمینونو) وس درلود جگړه ییزې دندې، پر مخ بیولې. خو په حقیقت کې به هره ورځ ایله ۳۰-٤۰ لارنیونې تر سره کېدې.

تورنجنرال لرچینسکي پر ۱۹۸٤ کال له کاروانونو سره دجگړې د پایلو په باب دخپل یوه رپوټ په ترڅ کې داسې څرگندونې کړې وې: «هغو ټولگیي او ډلې ډلگۍ، چې د ٤۰ اردو دقوماندانۍ له خوا دجوړ شوي پلان دپلي کولو لپاره ځانگړې شوي وو د ۱۹۸٤ کال د اپرېل پر ۱۵ مه یې د «منډو» په سیمه

---

(۱)- دغه ویی (کلیمه) په روسي ژبه کې د «پلو» (مخ پټوونکې) او «لړې» (غبار) په مانا کارول کېږي، خو دلته یې پر «منډو» ژباړل پر ځای ایسي (ژ.).

کې خپلې جګړه ییزې دندې پیل کړې.

ددغې سیمې دجوړولو موخه له پاکستان نه د ا.د.ج. خاورې ته د کاروانونو پر لارو د باندېونو د تلو راتلو، ننوتلو او پرسېړيو، وسلو، مهماتو او مادي تخنیکي وسیلو باندې دهغوی د سمبالېدو مخنیوی او ځپل دي. دجګړه ییزو عملیاتو ددغې سیمې سور (پسور) او پراختیا له ۱۰۰ نه تر ۳۰۰ کیلو مترو او اوږدوالی یې تر ۱۰۰۰ کیلو مترو پورې رسېږي. {....}.

دجګړه ییزو عملیاتو ټوله سیمه دځانګړو دندو دټولګیو (چې د پورته بهلو شوو ځواکونو زړی او بنسټ جوړوي) له پربوت (موقعیت) سره سمه د مسوولیت پر سیمو وېشل شوې او ٤ مي -۸ ډوله ترانسپورتي -جګړه ییزې څرخکۍ او ٤ مي -۲٤ ډوله جګړه ییزې څرخکۍ دهرکنډک په واک کې ورکړل شوې دي. دجګړه ییزو عملیاتو دترسره کولو لپاره دهرو پنځلسو کیلومترو په واټن توپچي ځواکونه هم ګمارل کېږي. سربېره پر دې د کاروانونو پر لارو دماینونو داېښودلو لپاره هم د ماین ایښودلو یوه ځانګړې ډلګۍ او دغه راز د «ریالیا -٥» په نوم سیمو د پولو دڅارلو لپاره د سیګنال (غږ) د وسیلو یو ټولی ددغو کنډکونو په واک کې ورکړ شوی دی. {...}.

خو د ا. د. ج. وسله وال ځواکونه عملاً له کاروانونو سره جګړه نه کوي او یاخو هغوی په دې اړه موږ ته هېڅ ډول معلومات نه راکوي، په داسې حال کې چې دهغوی ۲٤ کنډکونه له پاکستان سره د پولې دساتنې دنده په غاړه لري. ددغو ځواکونو د پلیو فرقو، کوماندو د لواګانو او توپچي ټولګیو ډلې ډلګۍ چې د «منډو» په سیمه کې پر دندې بوختې دي پارچاو او ناکارنده دي، ځکه زموږ دمعلوماتو له مخې کاروانونه ډېر ځلې د همدغو پوله ساتونکو ټولګیو او پوستو د پربوت د سیمو له څنګ نه تېرېږي. دبېلګې په توګه پلې ۲٥ مه فرقه او په تېره ٥۹ پلې غونډ ببدو د کاروان پر لارې پروت دی او کاروانونه له ۱۰ نه تر ۳۰ کیلو مترو په واټن دهغه له څنګ نه تېرېږي، خو د «الماس» (د ا.د.ج. کې دلوی پوځي سلاکار داداري دمخابرې موظف، لیکوال) او پراتیفي

نوکریوال ته آن ددغو کاروانونو دشمېر اوتګ لوري په باب هم معلومات نه ورکول کېږي. »

په دې ترڅ کې د ۱۹۸۵ کال په پسرلي کې دځانګړو دندو دهغو کنډکونو په شمېر کې چې دافغانستان - پاکستان پولې په ترټولو خطرناکو سیمو کې ځای پر ځای شوي و ډېروالی راغی . دځېل جوړښت ( تشکیل ) له پلوه له هغو نه دوه لواګانې جوړې شوې چې درستیز توبونه یې په جلال آباد او لښکرګاه کې پراته وو . زما په ګومان دا د ٤٠ اردو تر ټولو جنګیالي ټولګي وو ،ځکه چې په هغو کې له پوځي اوفزیکي پلوه تر ټولو تکړه اوغښتلي سرتېري اوافسران راغونډ شوي وو . سربېره پردې د هغوی دسمبالتیا او وسلو کچه هم ډېره لوړه وه . هرې لوا او غونډ ته د هغو د مسوولیت سیمه ور په ګوته شوې وه چې په هغو کې به یې دکشف او کاروانونو دله منځه وړلو دندې سرته رسولې.

که څه هم چې دځانګړو دندو ځینو ډلو ډلګیو نږدې هره میاشت یو - دوه کاروانه له منځه وړل ،خو دهمدغو ټولګیو د پوځیانو او دکشف دڅارګرنو د رپوټونو له مخې { ددغو عملیاتو په ترڅ کې به } افغانستان ته دتلونکو کاروانونو له ډلې نه یوازې ۱۲-۱۵ په سلو کې له منځه وړل کېدل. په را وروسته کې دهرې لوا لپاره دځرخکیو ځانګړې ډلګۍ جوړې شوې او د ځانګړو دندو ډلو د پوځیانو دیسانت او راښکته کول به هم دځرخکیو له لارې سرته رسېدل. خو له نېول شویو تدبېرونو سره سره په افغانستان کې د شوروي پوځونو دشته والي په ټول پړاو کې د دولتي پولو دبندولو دنده په بشپړه توګه ترسره نه شوه ، په داسې حال کې چې داکار دجګړې په ټول بهیر کې یوه له ډېرو مهمو دندو څخه ګڼل کېده.

# « دسپیڅلي جګړې » ( جهاد ) د ترسره کېدو بنې

دیاغیانو زیاتې ډلې اوټولګي تر ډېره ځایه په کلیو کې دملکي کسانو په منځ کې پراته وو . خو هغو ډلو چې تل به په اډو کې پرتې وې او دهغوساتنه به یې کوله په ختمینو کورونو ، کلاګانو ، سمڅو ، ترځمکې لاندې غارونو او کېږدیو کې استوګنه درلوده .

دافغاني مخالفینو دمشرتابه په اند د پارتیزاني جګړې له بنو او لارو چارو نه دګټې اخیستنې او دهغې دغوره کولو دارتیاسته دیاغیانو په منځ کې په پوره شمېر د داسې سم سیده ،روزل شوواو سمبالو وسله والو ډلو په نشتوالي کې بنخه وه چې کولی یې شولی له حکومتي او په تېره شوروي پوځونو سره په بریالۍ توګه مخامخ او ښکاره جګړه وکړي .

{ خو له دې سره سره دمخالفینو } دوسله والو ډلو شمېر او جوړښت به دهغوی په منځ کې له اینبودل شویو دندو او موخو سره سم ټاکل کېده ، دهغوی تر ټولو کوچنۍ ډله له ۱۵ - ۵۰ تنو نه جوړه شوې وه . دغه ډلې به په لږ څه لویو ټولګیو کې چې شمېر به یې تر ۲۰۰ تنو پورې رسېده را ټولېدې . نوموړی ټولګي به بیا پخپل وار په سترو ډلو کې چې دغړو شمېر به یې تر ۵۰۰ - ۶۰۰ او یا ډېرو کسانو پورې رسېده راټولېدې چې دا ډول ډلې { دهواد } په ځو سیمو کې پرتې وې .

هو ، د یاغیانو د چمتووالي او روزنې کچه خورا لوړه او کال په کال به لا پسې ښه کېده . هغوی دورانکارو او ترهګرو عملیاتو د ترسره کولو لپاره په تېره د ورو ډلو په بڼه په بریالۍ توګه جنګېدل . خو کله چې خبره د داسې لویو سیمو

دنیولو لپاره عملیاتو ته ورسپده چې هلته به یوازې دحکومتي پوځونو گارنیزیونونه پراته وو ، نو په دې برخه کې دیاغیانو له لاسه هېڅ هم نه وو پوره او همدلته به دهغوی نه ورتیا په بشپړه توگه را په ډاگه شوه.

دلته په دې اړه دهغه یوه په زړه پورې لاسوند رالېږدول پرځای گڼم چې د ۸۰ یمو کلونو په منځ کې دیاغیانو دجگړو په باب دشوروي پوځي کار پوهانو دارزونو څرگندونه کوي:

دپلیو ځواکونو دجگړه ییز چمتو والي دلوېې پاسوالۍ شننیز ( تحلیلي ) یادښت (پټ) .... دیاغیانو د جگړې په بڼو او لارو چارو (تاکتیکونو) کې دهر کال په تېرېدو سره نرمښت او هوښیاري ترسترگو کېږي. هغوی تل دهېواد پوځي - سیاسي حالت او دافغاني او شوروي پوځونو دجگړه ییزو عملیاتو د تاکتیک ځانگړتیا په پام کې نیسي ، دغه تاکتیکونه څېړي او ځانونه له هغو سره سم چمتو او سمبالوي او دغه راز دوسله والې جگړې په بڼو کې په پرله پسې توگه بدلون راولي.

له بله پلوه مجاهدین دافغانستان په بېلو بېلو سیمو کې دجگړې له بېلا بېلو بڼو او لارو چارو نه گټه اخلي. د بېلگې په ډول که دهېواد په مرکزي او شمالي ولایتونو کې هغوی په بنسټیزه توگه له وړو ډلو ( ۱۰-۱۵ تنو ) .... نه گټه اخلي ، خو د پاکستان پولې ته په څېرمه پرتو سویل ختیزو ولایتونو کې یې بیالوی باندونه پر جگړې اخته دي او په دغو سیمو کې دپرتو دولتي مرکزونو دلاندې کولو هڅې ترسره کوي.

... اوس پارتیزاني جگړې ډېره پراختیا موندلې او بېلابېلې بڼې یې غوره کړې دي . دښمن په دې برخه کې تر ډېره ځایه له ناڅاپي والي ، پټو هلو ځلو ، یو لاس والي او چټکتیا نه گټه اخلي. هغوی اوس جگړه ییز عملیات په ډېرې کارندتیا سره پر مخ بیایي او هغه تر ډېره ځایه ماښام مهال دتیارې له خپرېدو سره سم چې نور له هوایي ځواک نه گټه اخیستنه ناشونې وي ترسره کوي.

باندونه هېڅکله هم دشوروي او افغاني پوځونو په باب د زور او هراړخیز

کشف او څار له‌سرته‌رسولو پرته عملیات نه کوي او دجګړه ییزو عملیاتو او پوځي سمبالتیا په کار کې آن زموږ دقوانداناو کلیشه‌یي توب، ناسمې شمېرنې او تر ټولو وروې تېروتنې هم په پام کې نیسي. هغوی دغه‌راز دشوروي او افغاني پوځونو د ساتندویه پوستو، ګارنیزیونونو اوتګ‌راتګ دلارو ژوره څارنه کوي او د کشف ډېره ښه‌څارګریزه شبکه‌لري. نوموړي یوبل ته دخبر ورکولو لپاره له‌غږیزو او روښنایزو سیګنالونو (لکه لاسي څراغونو، اور، هنداړې او نورو) نه‌کار اخلي او په‌دې برخه‌کې آن‌دسیمو له‌اوسېدونکو، شپنو او ماشومانو نه‌له‌ګټې اخیستنې څخه‌هم ډډه‌نه‌کوي. دا کار له‌نوموړیو سره مرسته کوي چې دهغوی دا ډو او راتلونکو دسیمو دکلابندۍ پر وخت خپل مهم پوځونه په‌ډېر ښه وخت کې دپوځونو له‌ګوزارونو وژغوري او پاتې ځواکونه‌یې (چې تر ټولو تکړه او زغمن جنګیالي وي) دلارنیونې او ماین اېښودنې دندې ترسره کړي. {...} دغه راز یاغیان ډېر ځلې د پوځونو د ورننوتلو کېدو په‌باب درپوټ په‌ترلاسه‌کولو سره داستوګنې له‌سیمو نه غرونو ته‌تښتي او یا خپلې وسلې پټوي او ځانونه دملکي کسانو په‌جامه‌کې تېروي. په داسې حالاتو کې هغوی څوتنه څارونکي او ۲ یا ۳ کسیزې ډلې دخپلې پرشاکېدنې لپاره په‌سیمه کې پرېږدي. {...}

پر وسلو او مهماتو باندې د باندونو په سمبالتیا کې هم اوس ښه‌والی منځته راغلی دی. دساري په توګه پخوا به‌یوازې سپکې وسلې، د. ش. ک. نومې ماشینګنې اوټانک ضد لاسي توغندي (ار. پ. ګ.) دهغوی په‌وا ک کې ورکول کېدل، خو په‌وروستیو وختو کې یاغیان هاوانونه، بې شالغته توپونه، د لېږد وړ هوایي ضد توغندي او میزایل ترلاسه کوي چې له هغو نه زموږ او افغاني پوځونو پرخلاف ګټه‌اخلي. {...}

... د ۱۹۸٤–۱۹۸٥ کلونو دمنې او ژمي په‌ترڅ کې زموږ دپوځونو پر خلاف د یاغیانو دجګړې په‌بنو او لارو چارو کې کوم ځانګړې بدلون نه‌اتکل کېږي اوټولې هڅې او هلې ځلې به‌یې تر ډېره ځایه لاندې ټکو ته مخامخ وي:

-{دهواد} په گوټ گوټ کې په پارتیزاني بڼه دجگړه ییزو عملیاتو پرمخ بیول لکه لارنیونه، ډزې، بریدونه، ماین ایښودنه، ورانکاري، وژنه او نور،

- دخورو ورو ځواکونو د یو موټي کولو پر بنسټ د باندونو د ادارې د یوه مرکزي سیستم جوړول،

- د پاکستان پولې ته څېرمه د پرتو سیمو دنیولو اوهلته د «لنډ مهالي حکومت» ترمشرۍ لاندې دتش په نامه «افغانستان د آزادو شوو سیمو» دجوړولو په موخه د سترو عملیاتو دترسره کولو لپاره دهواد په سویل ختیزو او ختیزو ولایتونو کې دګڼ شمېر ځواکونو راټولول،

- دپنجشیر او اندراب په درو کې دحالاتو دبیا پر ښو درولو لپاره دځواکونو او وسلو راټولول او ځای پر ځای کول،

- په پلازمېنې او دهغې په شاوخوا کې حالاتو دخرابولو او له پنجشېر او اندراب نه د {حکومتي} ځواکونو دپام اړولو په موخه د هېواد په پلازمېنه کې په پرله پسې توګه دیاغیانو دګڼ شمېر ډلو ساتل،

- په هوا او دغه راز هوایي ډګرونو کې زمونږ دهوایي ځواکونو پرخلاف دجګړې لپاره دځواکونو او وسیلو پیاوړي کول. په دې برخه کې له لېږدوړ هوایي ضد توغندیو نه د پراخې ګټې اخیستنې کېدون هم لرې نه ښکاري،

- دوسلو او مهماتو د کاروانونو په شمېر او له بهرنه دیاغیانو دنوو ډلو په لېږلو کې زیاتوالی راوستل،

- په پراخه توګه د باندونو وسله وال کول. په دې لړ کې به پرنوو او نومهالو وسلو لکه ستېنګر، بلوپایپ او نورو لرې واټن ویشتونکو لېږدوړ هوایي ضد توغندیو باندې دډلو سمبالولو ته چې دسم سیده اردو پرخلاف د بریالیو جګړه ییزو عملیاتو په پرمخ بیولو کې به له هغو سره مرسته وکړي ډېر پام واړول شي،

- دخلکو او ا. د. ج. دوسله وال پوځ دپوځیانو ترمنځ دپراخو او موخه والو (هدفمندو) تبلیغونو سرته رسول.

د ۱۹۸٤ کال اکتوبر

هو ، په درنو وسلو یا میزایلو د پوځونو د پرېوت او ګڼ مېشتو سیمو ویشتل ، دحکومتي ځواکونو پر پوستو او وړو ګارنیزیونونو باندې بریدونه ، لارنیونې (کمینونه) ، ماین ایښودنې ، دملي اقتصاد د پروژو له منځه وړل ، دګوندي – دولتي ادارو د استازیو او پوځیانو پر خلاف د ورانکارو او ترهګرو کړنو سرته رسول اودهېواد پر لویو لارو د مالونو دلېږدولو دمخنیوي په موخه ورانکاري. هغه بنسټیزې لارې چارې وې چې یاغیانو دجګړې په ترڅ کې ترې ګټه اخیستله.

دیاغیانو دمشرتابه په اند دلارنیونې هغه عملیات بهتر ګڼل کېدل ، چې ډېر اغېزمن او کارنده وو چې له جګړه ییزو عملیاتو نه دشوروي او افغاني ټولګیو د ډېرتر راستنېدلو پروخت به ترسره کېدل ، ځکه چې سرتېري به دغه مهال ډېر ستړي وو او خپله ویښتیا به یې له لاسه ورکړې وه.

که څه هم دافغانستان امنیتي اورګانونو پخپل وار د ترهګرو کړنو د مخنیوي لپاره کلکه هاندو هڅه کوله ، خو دتر هګرۍ (تروریزم) دجرړو ایستل ډومره اسان کار نه و. دې کار تر هرڅه وراندې لهزیاتو ځواکونو او وسیلو نه ګټې اخیستلو او پهفوق العاده او کارنده توګه د دندو سرته رسولو ته اړتیا درلوده.

**لاسوند (پټ)**

دکابل دشاوخوا په هغو سیمو کې چې داشرارو تر ولکې لاندې دي دافغانستان په اسلامي ګوند پورې تړلي یو شمېر «پارتیزاني» ډلې ځای پر ځای شوي چې هم دکابل دننه او هم دهغه په غاړو پیشکو کې پروزانکارو اوترهګرو کړنو بوختې دي. دغه ډلې دخپل (پرېوت او) جوړښت له پلوه په لاندې دریو سیمو کې سره راټولې شوې دي:

- د «بدر» ډلې سیمه (حوزه) چې ده سبز ، قره باغ او میر بچه کوټ په غېږ کې نیسي ،

- د « خیبر » سیمه چې سروبي ، بګرامي او چهار آسیاب په غېږ کې رانغاړي،

- د « طبوق » سیمه چې شکر دره ، پغمان او چاردهي غېږ کې نیسي...

دافغانستان د دولتي امنیت اورګانونو ( خاد ) پر ۱۹۸۱ کال د دغو ډلو د « مرکزي حوزې » له ۴۰۰ تنو څخه زیات غړي ونیول چې دهغوی په ډله کې ۱۲۵ تنه پوځیان ( ۱۷ تنه لوړ پوړي او ۴۷ تنه ټیټ پوړي افسران ) هم ګډ وو . دغه راز دنیول شویو کسانو په ډله کې ۲۴ تنه د پوځي ښوونځیو زده کوونکي ، ۳۷ تنه تېري ، ۴ تنه د خاد کارکوونکي ، ۲۸ تنه ښارندویان، ۵ تنه د سترې محکمې کارکوونکي ، یو تن د کابل ولایت د ښارنوالۍ کارکوونکی ، ۱۱ تنه دکابل دښوونځیو اولوړو زده کړو د موسسو ښوونکي او استادان ، ۱۰ تنه محصلان او نور هم ګډ وو. سربېره پر دې { د اسلامي ګوند } د بېلو بېلو کمېټو مشران لکه دوګړنیزې کمېټې مشر بسم الله ، دکارکوونکو ( مامورینو ) دکمېټې مشر مدیر نصرت او د کلتوري هغې مشر عبدالحی هم ونیول شول.

په ۱۹۸۲ کال کې دافغانستان اسلامي ګوند په ترهګرو ډلو پورې تړلي نور ۲۴ تنه چې هغوی هم « دمرکزي حوزې » غړي وو بند یان شول. دغه راز د ۱۹۸۳ کال په پای او د ۱۹۸۴ په پیل کې { ددغه ګوند } د « مرکزي حوزې » مشر عصمتي او دکمېټو مشران صمد او خالد هم ونیول شول چې په دې ډول داخل په تولیزه توګه { داسلامي ګوند } ۶۰ تنه غړي دقانون منګولو ته وسپارل شول . د « قاسم » ، « جلیل » او نورو له سرچینو نه رپوټ ورکول کېږي چې دمرکزي حوزې دمشرانو نیول کېدو وروسته { ددغې حوزې } جوړښتیا يي ( تشکیلاتي ) کړی بیا نه دي کارنده شوې ...

« په کابل کې د افغانستان اسلامي ګوند دمرکزي حوزې » پر پټو سازمانونو سربېره د احمد شاه مسعود او ... په څېر په سترو باندونو پورې تړلې ترڅمکې لاندې یو شمېر نورې ډلې هم په هلو ځلو او کارندتیا بوختې دي... »

د رپوټ سرچینه : د شوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دستر درستيز دکشف لويه پاسوالي اود ٤٠ اردو د رستيز وال دكشف څانگه ،کابل - ١٩٨٤ کال.

دمخالفينو د ورانکاريو په لړ کې يوه هم د ١٩٨٥ کال د جون پر ١٣ مه د شينډنډ دهوايي اډې پېښه وه چې دهغې په ترڅ کې دافغانستان دهوايي پوځ ١٩ جگړه ييزې الوتکې ( ١٣ ميگ - ٢١ او ٦ سو-١٧ ) له منځه لاړې او ١٣ نورې يې زيانمنې شوې. د دولتي امنيت وزارت د کار پوهانو له خوا په دې باب دترسره شويو پلټنو پايلو وښوده چې د هوايي اډې دساتونکو له ډلې نه څو تنو پوځيانو دافغانستان اسلامي گوند د انقلاب ضد ډلې له استازو سره لاس يو کړی و او هغوی يې پرې ينبي وو چې په الوتکو کې ماينونه ځای پرځای کړي. له دغو ماينونو نه هغه يو ماين چې نه و چاودلی هم وموندل شو.

خو په شينډنډ کې دمخالفينو دغه پټه ډله کشف او ونيول شوه چې په نيول شوو ٣١ کسانو کې ١٣ تنه افسران او ٨ تنه سرتېري هم گډ وو.

مخالفينو غوښتل چې په پراخه توگه له ترهگرۍ او ورانکاريو نه په گټې اخيستنې سره په هېواد کې دوېرې او دملکي خلکو په منځ کې دبې باورۍ فضا رامنځته ،د دولتي واکمنۍ پر خلاف بې باورې پياوړې او په هېواد کې دسمبنت ( نظم ) د ټينگولو او دخلکو د هوساينې او امنيت دساتلو په برخه کې دحکومت نه وړتيا په ډاگه کړي . دې کار دغه راز دسيمې اقتصادي کارندتيا کېدون هم له منځه وړ چې له دې امله دخلکو د ژوند کچه لا پسې ويجاړه او تيتېده او له واکمن رژيم نه دخلکو پر له پسې مخ اړونې ته زمينه برابرېده . له دې سره جوخت پر پرمختللو او اوسمهالو وسلو ،په تېره ستينگر توغنديو د مخالفينو د وسله وال کېدلو بهير ښه په زور کې و او په هغه کې هېڅ کمښت نه راته .

**رپوټ**

د ا. د. ج. کې پر جگړې اختـه ياغي ډلې دلېږدوړ هوايي ضد توغنديو ٣٤١ لاستونونه ( دستگاوې) چې په هغو کې ٤٧ ستينگره هم گډ دي . په واک

کې لري. په دې توګه د دغو توغنديو په شمېر کې د ۱۹۸۶ کال د همدې مودې په پرتله دوه ځلې زياتوالی راغلی دی.

{ په وروستيو وختو کې } د شوروي او افغاني هوايي ځواکونو پر الوتکو او څرخکيو د دغو توغنديو ډزې بېخي زياتې شوې دي. که له هغو نه پر ۱۹۸٤ کال ٦٢ پر ۱۹۸٥ کال ۱٤۱ ځله ګټه اخيستل شوې ده، نو پر ۱۹۸٦ کال دغه توغندی ۸٤۷ ځلې توغول شوي او ۲٦ الوتکې او څرخکۍ پرې لګېدلي دي. يوازې دروان کال په دريو مياشتو کې له دغو توغنديو نه ۸٦ ځلې ګټه اخيستل شوې چې ۱۸ الوتکې يې راغورځولې دي. ددې ترڅنګه دياغيانو له خوا دلېرې دوره هوايي ضد توغنديو نه د ګټې اخيستنې داغېزمنتيا کچه هم لوړه شوې ، داسې چې که د تېر کال دپايلو له مخې پرهوايي موخو د هغو د لګېدلو کېدون ۳ په سلو کې و، نو اوس هغه په سلو کې ۲۰ ته لوړ شوی دی . . . .

د رپوټ سرچېنه: د ٤۰ اردو درستيز ، کابل د ۱۹۸۷ کال داپرېل ۲۰ مه .

له دې سره جوخت دافغانانو دبېلابېلو پوړونو او پاړکو ( قشرونو او طبقو ) په منځ کې دمخالفينو د تبليغ او رواجولو د کارېنې او لارې چارې هم په پر له پسې توګه بدلېدې او له حالاتو سره سم به په هغو کې سمون راوستل کېده. په دې برخه کې مخالفينو له راډيويي خپرونو ، دچاپي پاڼو او له اسلامي او حکومت ضد منځپانګې نه د ډکو کسټونو له خپرولو او داسې نورو لارو چارو نه په کارنده توګه ګټه اخيسته. خو ددې ټولو کوښښونو او هڅو دمخنيوي لپاره د دولتي چار واکو هلې ځلې ښې لږ اغېزه وې.

د ياغيانو دشوروي ضد تبليغونو يوه تر ټولو اغېزمنه بڼه دا وه چې هغوی به د خپلو ترهګريو د ترسره کولو پر وخت د شوروي پوځيانو جامې اغوستې. ډېر ځلې به يې داسې هم کول چې تر ترهګرۍ ( ترور ) ، غلا ، لوټ او وژنو نه وروسته به يې دشوروي پوځيانو د جامو يوه نښه او دغه راز شوروي ورځپاڼې، پر روسي ژبه کسټونه ، دشوروي سپکو وسلو کارتوس او نور پر ځای پرېښودل ( ؟ )

سربېره پردې هغوی خپلې خواته دافغان اردو د پوځیانو د ورماتولو او حکومتي ضد دریغ ته د دوه زرو افغانانو د وراړولو لپاره هم په پراخه توګه له درغلۍ ، پر پیسو له راخپلولو ، وېرولو او لمسولو نه ګټه اخیسته .

له بله پلوه یاغیانو له کډوالو سره کار ته هم ډېر ارزښت ورکاوه . آن تردې چې د هغوی مشرانو به نه پرېښودل چې کډوال خپل هېواد ته بېرته راستانه شي او په کلکه یې په دې لار کې خنډونه جوړول. څکه د اووه ګونې تلوالې مشرانو د کډوالو مسالې ته د شخصي پانګې اچونې او خپلو هوسونو د پوره کولو د یوې ښې چینې په توګه کتل . پخپله د پاکستان او ایران حکومتونو هم د کډوالو له شتهوالي نه ډېره ګټه اخیسته . په تېره پاکستان خو له افغاني کډوالو سره له ترسره کېدونکو مرستو آن خپلې خزانې او د وسله وال پوځ دوسلو زېرمتونونه هم ډکول.

# پینځم پړاو

## له لوړو ژورو ډک لار

د ا. خ. د. ګ. او په تېره د هغه ولایتي او ولسوالیزو کړیو خورا اوږده کلونه عملاً د هېواد لپاره د ژوندني ارزښت وړ کارونو ترسره کولو ته شا اړولې وه او د ټولنیزو ستنو د پراختیا، خپلې خواته د بزګرو پرګنو د راړولو، اقتصادي ودې، غښتلو او جګړې ته د چمتو وسله والو ځواکونو د جوړولو او داسې نورو چارو لپاره یې هاندوهڅه نه کوله. د دې پرځای د ا. خ. د. ګ. مشرانو تر ډېره ځایه «د خپلو د ننني و ستونزو» او ارولو، یانې په ګوند او دولت کې ځان، خپلوانو، خپلو ډلو او قامیانو ته د لوړو او «ګټېندویه» څوکیو ترلاسه کولو ته پښې اړم کړې وې. څرګنده خبره ده چې له دې امله د هېواد په ګڼ شمېر سیمو کې د وګړو د ژوند کچه نه یوازې لوړه او نښه نه شوه، بلکې هغه ورځ تر ورځې راټیټه او ویجاړه هم شوه.

داشان حالت بې له شکه د خلکو د ناخوښۍ او مخالفت او د مخالفینو له

لیکو سره دهغوی دمخ پر زیاتېدونکې یوځای کېدنې سبب ګرځېده ،چې له دې کبله دا .خ.د.ګ. دواکمنۍ سیمه په پر له پسې توګه مخ پر تنګېدو وه . له همدې امله به د چارواکو دغه اعلامیې هم چې هغوی ګواکې دهېواد د خاورې پر زیاته برخه ولکه لري تل درواغ راختې . آن تر دې چې مسکو ته لېږل کېدونکو رپوټونو به هم له دې خبرې نه پرده پورته کوله.

له کابل نه رپوټ ( پټ)

... اوس د ا.د.ج. له ۲۸٦ ولسوالیو اوعلاقه داریو نه یوازې ۵۰ یې دحکومت تر بشپړې ولکې لاندې دي او پرنورو ۱۵٦ هغو باندې په نیمګړې توګه یانې یوازې دهغو پرمرکزونو باندې واک چلوي. پاتې ۸۰ ولسوالۍ اوعلاقه دارۍ بیا د یاغیانو په ولکه کې دي.

د ا.د.ج. رښتینې حالت داسې دی چې آن د ولایتونو او ولسوالیو پر ښارونو هم حکومتي ځواکونه هسې تش په نامه او یوازې دورځې له خوا واکمن دي ،خو د شپې واکمني یې دیاغیانو په لاس کې ده ...

س. سوکولوف ،د ۱۹۸۳ کال جون

خو دوخت له تېرېدو سره سره په حالاتو کې دښه والي څه څرک نه لیدل کېده او ددوو کلونو له تېرېدو وروسته یې انځور آن له دې نه هم ډېر پیکه او تت و . دغه مهال کابلي واکمنو آن هغه څه هم یو په بل پسې له لاسه ورکول چې دوی خپلې بریاوې اولاسته راوړنې ګڼلې .

له کابل نه رپوټ ( پټ)

.... له دغو اعلامیو سره سره چې ددولتي واکمنۍ اورګانونه ګڼې ټول ولایتي مرکزونه په خپلې ولکې لري ،دا ډول خبرې په کړ ( عمل) کې له رښتیا نه ډېر واټن لري. برعکس په وروستیو وختو کې حالاتو لا زیاته خطرناکه بڼه غوره کړې چې پر ښارونو باندې پر له پسې ډزې ،ورانکارۍ اوترهګري یې روښانه نښه ده .{ ...} سمښت ( نظم) ساتونکو او امنیت سمبالوونکو اورګانونو تر اوسه ددې وس نه دی موندلی چې آن په ولایتي مرکزونو کې خپلې

دندي په‌سمه توگه ترسره کړي ...»

ورينيکوف ، د ۱۹۸۵ کال جون

البته په‌را وروسته کې هم په‌حالاتو کې چندان غوروالی او ښه والی رانه‌غی چې وا ک ته د نجیب‌الله تر رسېدو وروسته نو موږی آن پخپله هم دې خبرې ته د اشارې په‌ترخ کې ومنله چې د ۱۹۸٦ کال تر پایه د افغانستان له ۳۱-۳۵ زره کلیو نه یوازې ۸ زره کلي دحکومت تر ولکې لاندې وو ، او د واکمنۍ سیمه ییزو اورگانونو ته‌تاکنې خو ایله په ۳۷۰۰ کلیو کې چې هغه هم‌ښارونو ته‌څېر مه‌پراته وو ترسره شوې .

په ولس کې د ډاډ من تکیه ځای د نه‌درلودلو له‌امله د ا.خ.د.گ. مشرانو یوازې د اردو ، امنیتي اورگانونو او خپل قام او قبیلې پر ملاتړ تکیه کړې‌وه . په همداسې شرایطو کې وه‌چې کورنیو توکنیزو تضادونو لا پسې زور اخیست ، خو ژوروالی یې په‌سمه توگه‌نه‌ارزول ( ارزیابي) کېده . د وینا او کړ ترمنځ ښکاره واټن ، له‌واقعیت سره‌دچار‌واکو د شعارونو نه‌سمون اود هغوی‌دوه مخیز توب دخلکو دپرگنو دبې مینیتوب او بې‌توپیروالي دراپارولو او د ا.خ.د.گ. له‌خوا له‌پلي کېدونکو بدلونونو نه‌دهغوی د واټن نیولو سبب گرځېدل . له‌بله‌پلوه گوند د داسې یوه‌ژر بیورو کراتیک کېدونکي پوځي او گوندي - دولتي لاستون او ادارې له‌لارې خپلې چارې پر مخ بیولې چې تر ډېره ځایه ناکارنده اوبې‌واکه ( بې‌صلاحیته ) و او زیات شمېر نیول شوې پرېکړې به‌یې پخپله ماتولې ( سبوتاژ کولې ) .

له‌همدې کبله‌وه‌چې دشوروي اتحاد له پراخو او هراړخیزو پوځي او اقتصادي مرستو او دهېواد په‌بېلو بېلو سیمو کې دگڼ‌شمېر پوځي عملیاتو له ترسره کېدلو سره‌سره په افغانستان کې دیاغي غورځنگ لیکې نه‌یوازې نه کمزورې کېدې ، بلکې لا پسې پراخېدلې ، دساري په‌توگه ، که‌په ۱۹۸۱-۱۹۸۳ کلونو کې د افغانستان په‌خاوره کې دمجاهدینو د کارنده پوځي ډلو شمېر ٤٥ زره‌تنو ته رسېده ، نو پر ۱۹۸٦ کال هغه ۱۵۰ زره‌تنو ته

لوړ شو . سره له دې چې په دغه بڼه پراو کې دافغان - شوروي دګډو ځواکونو شمېر ۴۰۰ زره تنو ته رسېده ، خو هغوی دهېواد ایله ۲۰ په سلو کې خاوره په ډاډ منه توګه پخپلې ولکې کې درلوده چې هغه هم یوازې ښارونه او هغو ته غځېدلې لویې لارې وې ، نور نو دهېواد دکلیوالو سیمو غوڅه برخه د مجاهدینو داسلامي کمېټو تر پیاوړې کېدونکې اغېزې لاندې وه .

هو ، دګوند توټې توټېوالي او دهغه دمشرانو ځان غوښتنو دهېواد حالات داسې یوې کړکېچنې اونه اوارېدونکې پولې ته ورسول چې پخوا یې ګومان هم نه شو کېدای . تربګنیو او دخلق وپرچم ترمنځ پټې خپل منځي هاندوهڅې دځواکونو د له لاسه وړکولو له پلوه ګوند ته له مخالفینو سره د مخامخ جګړې پر پرتله زیات زیان رساوه . خو داسې برېښېده چې ګوندي چار واکو ته یوازې همدې خپل منځي هاندوهڅې ډېر ارزښت درلود ، ځکه دهغې له برکته یې لوړې څوکۍ اوزیات شته تر لاسه کول.

سربېره پردې په ګوندي مشرتابه کې دیووالي نه شتوالي پوځي جوړښت ته هم ډېر زیان رساوه او دهېواد او وسله وال پوځ د پاشلتیا سبب ګرځېده . همدا کار یو له هغو مهمو لاملونو څخه و چې دهغو له کبله د ا.خ.د ګ. ونه شو کړای د دومره اوږدو کلونو په ترڅ کې دافغاني ټولنې نور پاړکي خو لا څه چې آن خپل ډېر نږدې انډیوالان هم دځان پر شاوخوا راټول او له مخالفینو سره دهاندوهڅې اوجګړې لپاره سره یو موټې کړي.

دا.د.ج. مشرتابه نور هر څه پرځای پرې ښې وو او یکی یوه کار ته یې ښې اړم کړې وې او هغه دمخالفینو په وړاندې یوازې له پوځي لارې دجګړې پرمخ بیول وو . چې په دې برخه کې یې هم په بنسټیزه توګه یوازې پر شوروي پوځونو ډډه لګوله . خو دې شان چلند په یوازې سر نه شو کولای چې په مخکې پرتې هیلې او غوښتنې پوره او ترسره کړي. که څه هم چې دوخت په تېرېدو سره دشوروي اوافغاني پوځونو تجربه لا پسې ډېرېده او دمخالفینو له ډلو سره په جګړه ییزو عملیاتو کې یې بریالیتوبونه هم تر لاسه کول ( شوروي پوځونه په

افغانستان کې دخپل شتهوالي په بهیر کې له افغاني اردو سره په ګډه له ۴۰۰ نه زیات ډول ډول پوځي عملیات تر سره کړل ) ، خو له دې سره سره دیاغي غورځنګ په پراختیا کې هیڅ سربښت نه ترسترګو کېده .

له بلې خوا شوروي مشرانو هم یوبل ډېر مهم لامل په بشپړه او کره توګه نه وارزولی او هغه د یو لړ بهرنیو ټاکلو ځواکونو له خوا د ا .خ.د. ګ. له رژیم سره مخالفت وچې دغه مخالفت پخپل وار ډېر ټاکونکی و . خو البته دلته هم د ا.خ.د. ګ. او دهغه دمخالفینو ترمنځ دهاندوهڅې په پرتله دنړیوالو زبر ځواکونو تر منځ جګړه ډېره مهمه او ټاکونکې وه .هماغه وو چې شوروي مشرتابه « دافغانستان پر مسالې » باندې دنړیوالې ټولنې دزور دکمولو ، دامریکایانو دځېسترګي کولو او دافغانستان په پېښو کې د هغوی دچار او رول د په ګوته کولو لپاره ځینې وړاندیزونه ، تبلیغاتي منډې تړې او نور ځانګړي تدبیرونه ترلاس لاندې ونیول.

**لاسوند ( پټ)**

۰۰۰ ۱۱- د ا.د.ج. ته د امریکایي اوسېدونکو دننوتلو په باب له واشګټن نه دملګري دوبرینین ا.ف. درپوټ په اړه :

الف : دافغانستان په کورنیو چارو کې دامریکا دمتحدو ایالتونو دلاسوهنو په باب د « پراودا » یا « ایزویستیا » په ورځپاڼې کې یوه مقاله دخپرېدو لپاره چمتو کېږي . ( چې په هغې کې دامریکا اداري دمشرانو لمسونکو وینا وو ، پروسلو او مهماتو دافغاني انقلاب ضد کسانو سمبالولو ، قانوني واکمنۍ پر خلاف د هغوی د وړانکاریو ،اقتصادي ملاتړ او د ا.د.ج. خاورې ته دبانډونو په منځ کې دامریکایي اوسېدونکو یانې دورځپاڼو او مجلو دخبریالانو اونورو ننوتلو ته ګوته نیول شوې ده ) ،

ب: دترکستان د پوځي سیمې قوماندان او د ا.د.ج. کې لوی پوځي سلاکار ته دنده سپارل شوې چې دافغانستان په خاوره کې دې هغه امریکایي اوسېدونکي ونیسي چې دانقلاب ضد په یوې ډلې کې په هڅو بوخت دي ،

ت: دنیول شویو یاغیانو په ډله کې دې هغه کسان ډاګیز کړای شي چې په پاکستان کې دخپلې استوګنې پروخت یې دامریکا دڅارګرۍ له کارکوونکو سره اړیکې درلودل. له هغوی سره دې اړونده کار پر مخ یوړل شي او له هغې وروسته دې دا. د. ج. په کورنیو چارو کې دامریکا د لاسوهنو په اړه په کابل کې یو خبري کنفرانس جوړ شي...

د رپوټ سرچینه: دشوروي اتحاد کې جي بي، دشوروي اتحاد دووسله والو پوځونو ستر درستيز، د ۱۹۸۲ کال دسمبر.

په دې ترڅ کې په ګوند او دولت کې د پرچم اوخلق داړخونو د پلویانو ترمنځ نه تمېدونکې جګړه دملي، قبیلوي او کورنۍ، قامي لاملونو له کبله نوره هم ژوره بدله چې پخپل وار یې دوه اړخیزه بې باورې لا پسې پیاوړې او دپټې دښمنۍ فضا را منځته کوله.

ببرک کارمل چې په کړ (عمل) کې یې دټول غولوونې (عوامفریبی) لار خپله کړې وه دشوروي ګوندي سلاکارانو داداري له خوا چمتو شوې لیکنې یې د زړه له کومې لوستلې، خو د ا.خ.د.ګ. دیموکراتي والي لپاره یې یو پوټی هومره کار هم نه کاوه. د ګوندیانو د یووالي د اړتیا او دګډ دښمن (مخالفینو) دځپلو لپاره دډېل پالنې (فرکسیون بازۍ) دله منځه وړلو په باب دتزسونو له بیابیا اعلانولو سره سره پخپله ب. کارمل په پټه تر ټولو ستر ډل پال (فرکسیون باز) و او عملاً یې دګوندي - دولتي لاستون دپرچمي کولو لار خپله کړې وه. ددې تر څنګه هغه هڅه کوله چې [ګوندي] «یووالی» له مخامختیا (مقابلې) نه لاس اخیستلو ته د خلقیانو داړ ایستلو او پرچمي دریځ ته دهغوی د وراړولو له لارې سمبال کړي. (د ا.خ.د.ګ. مرکزي کمېټې په ۱۲ پلینوم کې دمرکزي کمېټې له اصلي او نوماندو (علی البدلو) ۳۶ تنه کل شویو غړو نه یوازې یوتن خلقي و). (؟)

خو دوخت په تېرېدو سره خلقیانو ته په ګوند کې دکارې چلند، جوړ جاړي (کومپرامایز) او رښتینې همکارۍ دهڅو نښتوالي، په پټه دهغوی له پښو

غورځول ، له مهمو شوکیو نه دهغوی دلرې کولو هلې ځلې اود هغوی د پر مختګ مخنیوی په بشپړه توګه ډاګیزه کېده او داشان چلندونه دهغوی دلا زیاتې غوسې سبب ګرځېدل .

پر دې ټکي باندې پوهېدلو چې له شوروي لورې تر ډېره ځایه یوازې پرچمیانو ته لومړیتوب ورکول کېږي ، دهغوی له ګڼ شمېر سره دشوروي اتحاد دغندلو او پړکولو او آن شوروي ضد روحیې ( انتي سویتیزم ) انګېرنه او احساس راپیدا کړل . په دې اړه خبره آن تر دې بریده رسېدلې وه چې هغوی ګومان کاوه شوروي اتحاد ګنې په لوی لاس له « خپلو دغو پاړکیزو (طبقاتي) ورونو » سره خیانت کوي .

له بله پلوه دهرې ورځې په تېرېدو سره دغه حقیقت هم لا پسې په ډاګه کېده چې د افغانستان دمشر په توګه د ب. کارمل ټاکنه یوه ستره تېروتنه وه . که څه هم هغه په ښکاره ځان ډېر کارنده ښوده ،ولایتونو ته یې ګڼ شمېر سفرونه کول ، د خلکو د بېلابېلو پاړکوله استازو سره یې لېدنې کتنې کولې ،خو دغو ټولو هلو ځلو هېڅ ډول پرمختګونه او بریاوې له ځان سره نه درلودې .

دهغو کسانو په وینا چې ب . کارمل یې ډېر ښه پېژانده ،نوموړی یوښوی (لشم) اوښاري روښانفکر و چې په ځان پسې دخلکو دبیولو او په هغو کې دده له خوا پر تبلیغېدونکو لیدونو باندې دباور پیدا کولو وړتیا یې نه درلوده . ګڼ شمېر کسانو داسې انګېرله چې پخپله مانۍ کې دګوښې کېدو له کبله هغه پر دې نه پوهېږي چې څه باید وکړي او له منځته راغلي حالت نه دوتلو لاره کومه ده . له هغه نه نور ببخي لودن ورک شوی و او ورپه غاړه شوو دندو او مسولیت یې هم اوږې ورکړوېې کړې وې.

سربېره پر دې کارمل د شرابو په څښلو کې هم زیاتی کاوه . یو . و . اندروپوف چې د نوموړي ملاتړ یې کاوه ، څو ځلې یې داخبره دهغه له غوږه تېره کړې وه ،خو ګټه او پایله یې هومره هم دلیدلو وړ نه وه . که څه هم داخبره نوره ببخي جوته شوې وه چې د ا .خ . د . ګ . عمومي منشي اړونده لورې ته دحالاتو

دا ړولو ورتيا نه لري ، خو چا دغه په لرې کولو کې بېړه نه کوله ، ځکه چې نوموړی پر دغې ځوکۍ دشوروي اتحاد دکې جي بي په لارښوونه « تاکل شوی و ».

له بله پلوه مسکو ته دافغانستان دحالاتو په باب رپوټونه هم له بېلو بېلو سرچينو نه ورکول کېدل ، او کله کله خو به په هغو کې ورکړل شوو ارزونو ښځې ژور توپير درلود. په دې اړه له يو شمېر رپوټونو را اخيستل شوې او غوره شوې بېلګې چې لاندې وړاندې کېږي د دې خبرې يو ه ثرګنده ننښه او پخلی ګڼل کېږي:

« د ا . د . ج . د پوځي - سياسي حالت له شننې نه په ډاګه کېږي چې {دهېواد} حالات دپخوا په څېر ستونزمن او ترينګلي دي . له بلې خوا د تېر شوي کال په ترڅ کې هم دکومو کړه او غوڅو بدلونونو د منځته راتلو څه څرک او پته نه لګېږي. دټولنيزو بدلونونو او انقلابي واکمنۍ د ټينګښت بهير خو ګرد سره په متې روان او {« هسې په تېله چالان دی »}.

د ا . خ . د . ګ . لارښوونکې کړۍ د ا . د . ج . داقتصادي او ټولنيزې ودې او انقلاب ضد د پوځي ماتې په اړه د دنده دترسره کولو وس او غوښتوالی نه لري. . . . سربېره پر دې دمشرتابه په لوړو کړيو او ګوندي سازمانونو کې د پرچم او خلق دپخوانيو اړخونو ترمنځ خپل منځي اختلافونه او ډغرې هم ځای ناځای ترسترګو کېږي . داخو لا څه چې ددغو اختلافونو لمنه وسله وال پوځ او دولتي لاستون ته هم ورغځېدلې او آن ګوند ته د نويو غړو دمنلو پروخت هم سر راپورته کوي . که دغو دمخنيوي لپاره غوڅ تدبيرونه ونه نيول شي ، نو په ځينو حالاتو او ځايونو کې بنايي نه ايليدونکې بنه غوره کړي.

په افغان اردو او ځارندوی کې دچارو دحالت شننه په ډاګه کوي چې په اوس وخت کې دهغو د پرسونل پوځي چمتووالی او سياسي روزنه په داسې کچه کې نه دي چې دغه ځواکونه دې وکولای شي د انقلاب ضد دځپلو او په هېواد کې د حالاتو دټيکاو ( عادي کولو ) دندې په بشپړه او خپلواکه توګه سرته

ورسوي. . . »

( دشوروي اتحاد دکی جي بي استازی ، د ۱۹۸۳ کال دجنوري ۲٦ مه ) .

لاسوند ( پټ )

دشوروي اتحاد د دفاع وزیر دشوروي اتحاد مارشال ملګري اوستینوف د ف. ته رپوټ درکوم . . . چې د ا. خ. د. ګ. کې ټپلو اله ( فرکسیوني ) هاندوهڅه دپخوا په څېر روانه ده . دغه جګړه په تېره بیا په کادري سیاست او په مرکز او سیمو کې دمشرتابه دپرچمي کولو د پیاوړتیا لپاره په هڅو کې بنه تراڅلا مومي . په دې مانا چې همدا اوس هم د ا. خ. د. ګ. پرتولو مهمو لاربنوونکو څوکیو پخوانیو پرچمیانو خپته اچولې ده . په ولایتونو ، ولسوالیو او علاقه داریو کې هم دمشرتابه واګي تر ډېره ځایه دګوند دهمدغه اړخ داستازو په لاس کې دي . سربېره پردې په خاد کې دپرچمیانو شمېر نږدې ۹۰ په سلو کې ، په وسله والو ځواکونو کې په سلو کې د ۳۰-۳۵ او په څارندوی کې په سلو کې د ۲۰-۲۵ په شاوخوا کې دی . په وروستیو وختو کې په ټینګار سره هڅه کېږي چې د وسله وال پوځ د ټولو لویو او وړو ټولګیو او څارندوی د مشرتابه په کړی کې دخلقیانو او پرچمیانو تله سره برابره شي .

ګومان کېږي چې دګوند دلا زیات پرچمي کولو په اړه لاربنوونې پخپله دملګري ببرک کارمل له خوا وړکول کېږي او دهغو پلي کېدل تر ډېره ځایه د سیاسي بیورو دغړي او د ا. خ. د. ګ. دمرکزي کمېټې دمنشي نور له خوا تر سره کېږي. . . . دګوند همدغه خپل منځي اختلافونه په هېواد کې د حالاتو دټینګېدو په بهیر کې تر ټولو مهم خنډ ګڼل کېږي . دګوندي مشرتابه د کړی . بنسټیزې هڅې او هلې ځلې دپخوا په څېر یوازې دګوند د دننني جګړې پر مخ بیولو ته اړم دي ، نه رغنده او جوړوونکي کارته . . .

د شوروي اتحاد د مارشال س . سوکولوف ، د ۱۹۸۳ کال جون .

**لاسوند ( پټ )**

. . . په وروستیو وختو کې ب. کارمل په خپل کړنده ( عملي ) کار کې په

گوند کې د يو والي د لازيات ټينګېدو او دګوندي او دولتي اورګانونو په کارندتيا کې دشتو نيمګړتياوو دله منځه وړلو لاره په غوڅه توګه په مخ کې نيولې ده .

ب. کارمل د ا .خ.د. ګ. دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو په غونډه کې په تېره له انقلاب ضد سره دجګړې په اړه دټوليز (عمومي) پلان دپلي کېدو دبهير دڅېړلو په ترڅ کې دوه ځلې د ا .د.ج. دمشرتابه پام له هغو کسانو سره دغوڅ اونه پخلا کېدونکي چلند اړتيا ته وراړاوه چې په پرګنو کې دجوړښتيا يي (سازماني) او سياسي کار دپر مخ بيولو او په ولسواليو او سيمه واليو کې د دولتي واکمنۍ دټينګېدو او پياوړي کېدو په اړه دګوند او حکومت لارښوونې او دېر کتيفونه په پام کې نه نيسي .

د ا . د.ج. دوزيرانو شورا په پراخې او پرانيستې ( سرخلاصې) غونډې کې هم د ب. کارمل وينا دګوندي کارندوالو ( فعالينو ) او دهېواد دمشرتابه او دولتي لاستون ( دستګاه) دهېواد پالونکې برخې له پراخ او مثبت غبرګون سره مخامخ شوه . ګڼ شمېر افغاني ملګري له موږ سره په خبرو اترو کې دانقلابي جوړونې دمهمو دندو د داشان پر ېکنده او غوڅې په ګوته کولو په اړه مثبت ليد ځرګندوي او هيله من دي چې دهغو پلي کېدل به دګوندي او دولتي لاستون په کار کې بنستيز ښه والی راولي او د ا .خ.د. ګ . کې د يو والي دټينګولو لپاره د ښو شرطونو له برابرولو سره به هم مرسته وکړي . . . .

تابيېف ،لومونوسف ،د ۱۹۸۳ کال دسمبر .

په افغانستان کې دحالاتو دلاخړېږ کېدو يو لامل دا هم وچې دګونديانو له خوا د ولسواکۍ ( ديموکراسۍ ) له ټولو لاپو شاپو سره سره هلته دپخوا په څېر د ا .خ.د. ګ. تر مشرۍ لاندې يوازې د يو ګونديز سيستم ليدا او دود پالل کېده . هغوی په عمل کې دګوند او که سپينه ووايو دهغه دمشرانو د زور واکۍ ( ديکتاتورۍ ) د ټينګولو لپاره هلې ځلې کولې .

له بله پلوه ،څرنګه چې دځوانانو ،ښځو او ټولګيزو ټولنو ( صنفي

اتحادیې) چې دمشرتابه کړی یې دګوندي چارواکو خپلوانو ډکې کړې وې او پلار وطنې ملي جبهې د ا.خ.د.ګ. دملاتړ کوونکو په توګه وده کوله ، نو له هسدې امله دهغو دندې او کړنې هم په لنډو تنګو اډانو (چوکاټونو) کې را چاپېره وې او دهېواد دحالاتو پر تېینګښت یې غوڅه او پرېکنده اغېزه نه ښندله . په داسې حال کې چې له ښارې مرکزونو نه آخوا دولتې واکمنی ترینګلی حالت درلود او دبزګرو زیاته برخه دمخالفینو تر ځواکمنې اغېزې لاندې وه ، دګوندي ځواک زیاته برخه ( تر ۷۰ په سلو کې ) په ښارونو کې راټوله (متمرکزه) وه او په کلیو کې خو کار ته اصلاً پام هم نه اړول کېده . دغه راز سره له دې چې افغانستان یو کرنیز (زراعتي) هېواد دی ، خو د ا.خ.د.ګ. د مرکزي کمېټې آن یوه پلینوم هم د بزګرو ربړې ته نه وځانګړې شوی او هغه یې ونه څېړله.

خو د ا. خ. د. ګ. سره په توپیر ، مخالفینو دبزګرو تر منځ کار ته ډېر ارزښت ورکاوه او له همدې امله یې تل نوي اونوي ملاتړ کوونکي تر لاسه کول. دا خبره سمه نه ده چې سړی ووایي ګوندي او دولتي چارواکي ګنې پردې خبرې نه پوهېدل . رښتیا خبره داوه چې په کلیوالو سیمو کې جوړښتیایي کار زیاتو خولو تو یولو او مېړانې ته اړتیا درلوده او ګوندي مشران خو هسې هم ډاډه وو چې هغوی ددغه کار له ترسره کولو پرته هم کولی شي د واک پرمنډه ( ښاخ) ناست پاتې شي او هغه هم دشوروي پوځي ټولګیو دشته والي او کارندتیا له برکته .

څرګنده ده چې دمخالفینو د وسله والوډلو پر خلاف دحکومتي او شوروي پوځونو جګړه ییز عملیات دافغانستان خلکو لپاره له زیاتو کړاونو سره مل وو ، ځکه هغه تر ډېره ځایه په هغو سیمو کې ترسره کېدل چې ملکي وګړو به په کې استوګنه درلوده او د هغو له امله دغو خلکو ته دسر زیات زیانونه رسېدل . که چېرې پر دغو عملیاتو دځواکونو نور برېنډ لوټ او تالان ، بې رحمه او زړه بوږنونکې هوایي بمباری او دتوپونو اوتوغندیو غونداري او ګوزارونه چې د مخالفینو د ډلو د کېدونکو ( احتمالي ) را ټولېدو پرځایونو به ترسره کېدل او

دملکي خلکو د وژنې ، کورونو او بشپړو کليو د ورانېدو او باغونو او اوبو لګولو د سيستمونو د ړنګېدو سبب ګرځېدل ور زيات کړو ، نو بيخي به په ډاګه شي چې د ا .خ. د. ګ. سره د خلکو اړيکي ولې ورځ په ورځ له تاو تريخوالي ډکېدل او که په « رژيم » کې څه لږه شان ساه هم چلېده ، نو هغه په حقيقت کې دشوروي پوځونو او د ا.د.ج. د پوځي وزارتونو د برچوبرکت و .

له بله پلوه دخپل ورتګ دلومړيو شپو ورځو په پرتله له شوروي پوځونو سره د خلکو په چلند او اړيکو کې بدلون هم کومه ناشاپي پېښه نه وه او لاملونه يې ګڼ شمېر وو چې ځينو ته يې ما ترمخه هم ګوته ونيوه . خو په دې ډله کې ځينې داسې لاملونه هم وو چې د شوروي سرتېرو او افسرانو له کړنو سره يې مخامخ تړاو درلود او هغه دا چې هغوی ډېر ځلې يو لړ له سپکاوي ډک کارونه تر سره کول ، لکه دهتيو او کورونو لوټ او تالان ، د باغونو او فصلونو لوټول او دخلکو دڅارويو تښتول او داسې نور . کله کله خو به يې دا کارونه آن له ځناورونه هم په بده بڼه ترسره کول. دساري په توګه کله به چې هغوی غوښتل مالتې راوشکوي ،نوونوته به په زغره والو ګاډو کې ورتلل اودځو دانو مالتو لپاره به يې بشپړې ځانګې را ماتولې او يا به يې ونې بېخي له بېخه را چپه کولې . دغه راز دکار وانونو دپلټلو په ترڅ کې نيول شوي مالونه ، کالي ، پيسې او نشه يي مادې به يې هم اړونده اورګانونو ته نه ورسپارل .

خو په همدې شان حالاتو کې په افغانستان او شوروي اتحاد کې له ګڼ شمېر پرمختيا پالو مشرانو سره داسې اند پيدا شو چې نورنو بايد حالات په دې ډول پاتې نه شي . نه يوازې پوځيانو ،بلکې دغو مشرانو ته هم نوره داخبره جوته شوې وه چې له پوځي لارې د افغانستان دکورنۍ ربړې اوشخړې اوارول ناشونی کار دی .

دغه ګروهه ( عقيده ) په هوواريزه توګه نه ،بلکې په پرله پسې ډول لا پسې پخېده چې اوس د داسې يوې ستراتيژۍ دمنځته راوړلو لپاره نومې لارې چارې او زياتي ( اضافي) چلندونه په کار دي چې وکړای شي دجګړې ورور وژونکی

اور مړ کړي. له هغه ډلي املـه داسي هڅي پيل شوي چي دغه ستونزه له سياسي او دخبرو اترو له لاري اواره شي. خوځيني ځواکونه ، په تېره په امريکا کي يو شمېر داسي ځواکونه وو چي دشوروي اتحاد لپاره ددغي جګړي اوږدېدل يې له خپلو ګټيو سره سم کار ګڼه .

# اندروپوف ته څه کول په کار و ؟

دامريکا دمتحدو ايالتونو د ولس مشر په توګه درونالدريګن له ټاکني وروسته دافغانستان دېښنو له املـه پر شوروي اتحاد په نړيوال ډګر کي زور لاپسي زيات کړای شو.

لويديز ژورناليست ستيون هيستلر « په افغانستان کي سيالي ( رقابت ) اوپخلاينه ، دترون راتلونکي به څنګه وي ؟ » په نوم په خپلي يوي مقالي کي په دې اړه داسي ليکلي وو : « [...] په رسمي توګه دافغانستان په باب دريګن د اداري سياست دې ته مخامخ و « چي هلته [ دشوروي ] پوځونو د وتلو په اړه ديوي ډېري وختي شوني ( ممکني ) سياسي پريکړي اوترون مخه ونيسي ».

په افغانستان کي د امريکايانو کړنو ته کره اوژورد کتنه په ډاګه کوي چي د هغوی سياست په حقيقت کي دې ته مخامخ و چي مجاهدينو ته تول هغه څه په واک کي ورکړي چي مجاهدين دجګړي پرمخ بيولو ته چمتو کوي ، نو ديوه ژمن ليک ( عهد نامي ) او ترون د لاسليک کېدو دشونتيا چانسونه لږ او کمزوري کړي. دامريکا دغه تګلاره دهغه هوداد دملي امنيت شورا په NSDD166 نومره لاربنوونه کي چي د ۱۹۸٦ کال په اپرېل کي دولس مشر له خوا لاسليک شوي ځلېدلي وه او په هغي کي غوښتنه شوي وه چي « له هري لاري چي کېدون ولري » بايد شوروي پوځونه [ په افغانستان کي ] وځنډول شي . ددې کار پايله داشوه چي کنګرس له افغانستان سره دمرستي له کړنلاري نه درايو په بشپړ يو والي ملاتړ څرګند اودغه مرسته حيرانونکي شمېر ته لوړه

شوه ...»

ددغـه پېژندل شوي ژورنالیست لهخوا وړاندې شوي لاملونه پهډاګه کوي چې لهافغـانستان نهدشوروي پوځونو د ایستلو پهاړهدیو . و . اندروپوف په ګډون دشوروي مشرانو هڅې ولې هغهمهال پایلمنې راونهختې .

پهدې ترڅ کې دملګرو ملتـونو دسازمـان سـرمنشي پېرېس د یکویلار د ۱۹۸۲ کال پهپیل کې دیېګو کور دویز دځپل مرستیال{ او دافغـانستان لپاره د ځپل ځانګړي استازي} په توګـه وټاکـه او نوموړي هم پهاپرېل کې کابل او ورپسې اسلام آباد تهسفر وکړ چې{ د افغـانستـان د لانجې دغوڅولو پهباب} دخبرو اترو له ۱۲ پړاوونو نهدلومړي پړاو دترسره کېدو لپاره لارهاواره کړي. هماغه وچې ددغو خبرو اترو لومړی پړاو د ۱۹۸۲ کال دجون پهمیاشت کې په ژنیو کې ترسره شو. خو پاکستان دخبرو اترو په بهیر کې دشوروي پوځونو دوتلو ، نړیوالو ضمانتونو ، کډوالو دبېرته ستنېدو اونورو مسالو ترڅنګ سم له لاسه دافغـانستان لهخوا له پاکستـان سره د دولتي پولې پهتوګـه« د ډیورنډ کرښې» دپه رسمیت پېژندلو غوښتنه د {سیاسي} اواري دترټولو مهم شرط پهتوګه وړاندې کړه .

کهڅههم افغان مشرتوب لهبهر نه دپوځي لاسوهنې دبندېدو لپاره دې ته چمتـو وچې دپولې دخبرې څېړلو تههم غاړه کېږدي ،خو پههېواد کې دیوه سـخت ملت پالونکي غـورځنګ لهرا پارېدلو نهیې اندېښنه درلوده ،ځکه دافغانستان پخواني یوهرژیم همهېڅکله د « ډیورنډ کرښه» د دولتي پولې په توګـه پهرسمیت نهوه پېژندلې ،څرنګه چې دپاکستـان لهخوا ددې خبرې راپورته کېدل دخبرو اترو پهبهیر کې داختلاف اوټکر مهم ټکی و ،نو لههمدې امله هغهپر تهلهکومې مثبتې پایلې پای تهورسېدې.

کور د ویز له پاکستـان سره دجون دمیاشتې دخبرو اترو دپایلو بر بنسټ د تړون داسې یو اوملیک ( مسوده) وړاندې کړ چې پههغه کې ویل شوي وو چې شـوروي اتحاد بهدخبرو اترو پهترڅ کې لهټاکل شوې نېټې سرهسم ځپل

پوځونه له ا. د.ج. نه‌وباسي . مسکو واک ته‌ديو . و. اندروپوف له‌رسېدو سره سم دې خبرې ته مثبت ځواب ووايه . دشوروي دولت نوي مشر د برژنف دجنازې دېنخولو دمراسمو په ترڅ کې په‌همدې موخه دپاکستان له‌ولس مشر ضياالحق سره ځانګړې خبرې اترې وکړې او دهغو په ترڅ کې يې نوموړي ته « د شوروي لوري دنوي له نرمښت نه ډک سياست او کړکېچ د ډېرژر اوارې پر اړتيا باندې دپوهېدو په باب » معلومات ورکړل. په‌ځواب کې له پاکستان نه‌غوښتنه شوې وه‌چې له ياغيانو سره له‌مرستې نه‌دې لاس واخلي.

همدا يورې ولاديميرويچ اندروپوف وچې دسياسي مشر تابه په‌ډله‌کې تر ټولولومړی پر خپلې تېروتنې او په « افغان‌جګړې » کې دشوروي اتحاد د ونډې او ګډون پر بې ګټې والي پوه‌شو او په‌ډېر کړاو او رنځ سره يې له دغې جګړې نه دپټېنې وتنې لارې چارې لټولې.

خو ب. کارمل بيا { په‌افغانستان‌کې } د شوروي لښکرو شته‌والي ته‌د داسې يوې وسيلې په توګه کتل چې دهغې تر شا په‌پټېدو سره يې کولی شول بې غمه ژوند وکړي ، خپلې ډلپالې چارې پرمخ بوځي او دواک له‌ټولو نعمتونو نه ګټه اوخوند واخلي . هغه‌داسې شمېرلې وه‌چې شوروي پوځونه به‌ديوه‌نا معلوم اوږده وخت لپاره په‌افغانستان کې دېره وي‌او د رژيم دساتنې دندې به پر مخ بيايي . څرنګه چې حکومتي ځواکونو نه‌غوښتل له‌مخالفينو سره جګړه‌وکړي ( څکه څرګنده نه‌وه‌چې حالات به په‌راتلونکي کې پر کوم لوري وده کوي ) ، نو نوموړي به‌تل دشوروي اتحاد له‌مشرتابه نه‌دهواد په‌بېلو بېلو سيمو کې دجګړه‌ييزو عملياتو دترسره کولو غوښتنه کوله او پوځي لاره يې له ياغيانو سره په‌هاندوهڅه کې يوازېنۍ شونې او ښنستيزه لار ګڼله .

هغه‌ته له دې پرته بل څه شی وربانې و ؟ څکه خلکو يې له‌سمونونو نه ګرد سره مخ اړولی‌وا او ده هم د وړاندې کولولپاره نور څه نه‌درلودل . خو له‌دې ټولو سره سره دکارمل هيلې بياهم يو پر بل پسې پلې کيدې . ددې کار پايله داشوه‌چې زموږ پوځونه ربښتيا هم د« وګړنيزې واکمنۍ » دپايښت د سمبالولو

لپاره پر یوه پرېکنده اود اسې یوه« اجیر » ځواک و اوښتل چې جګړه یې په پردي هېواد کې پر مخ بیوله ،خو لګښت اوپالنه یې دخپل دولت پر غاړه وه. او دا پخپله د « افغان جګړې » یو بل ضد ونقیض(پارادوکس) حالت و.

## شننیز ( تحلیلي) یادښت ( پټ)

دشوروي اتحاد دفاع وزیر دشوروي اتحاد دمارشال ملګری اوستینوف د.ف.ته رپوټ درکوم چې دانقلاب ضد ځواکونو پر خلاف دیوڵ عسلیاتو تر سرته رسولو وروسته په پوځي حالت کې دلیدلو وړ ښه والی راغلی دی. دتېرو پنځو میاشتو په ترڅ کې ۸۵ عملیات ترسره شوي چې له هغو نه ۵۱ یې د ٤٠ اردو او افغاني پوځ دټولګیو له خوا په ګډه او ٣٤ یې دافغاني ټولګیو له خوا په خپلواکه توګه ترسره شول. له دې ډلې نه په تېره د پنجشېر او هرات جګړه ییزو عملیاتو د پوځي حالت له ښه کېدو سره ډېره مرسته وکړه.

په پنجشېر کې د ١٩٨٤ کال دمې پر ١٨ مه زموږ د پوځونو ګوتو ته دیوڵ پټو لاسوندونو ورتللو داکار شونی کړ چې په کابل ( ګوندي – دولتي مرکزي لاستون او په دې ډله کې په خاد ،ښارندوی ،دفاع وزارت ) اودهېواد په ځینو نورو سیمو کې دافغانستان اسلامي جمعیت دښارګری یوه پراخه ځاله کشف او له منځه یووړل شي...

دروان کال دمې او په تېره جون په میاشتو کې خبرو اترو ته دچمتو والي لپاره دوسله والو ډلو په شمېر کې هم دلیدلو وړ زیاتوالی راغلی. اوس هغوی چمتو دي چې د ا.د.ج. حکومت په رسمیت وپېژني او له وسله والي جګړې نه لاس واخلي. ( دساري په توګه د ډلمشر جمعه خان پر ډلې ( ٧٠٠ تنه) سربېره په پنجشیر او اندراب کې نورې اته ډلې هم تسلیم شوې چې د غړو شمېر یې د ٦٠٠ تنو په شاوخوا کې دی ).

.... ستاسو له خوا له نیول شوې پرېکړې سره سم د پنجشېر او اندراب په دره کې د دولتي واکمنۍ دټینګېدو لپاره کار روان دی او دهمدې موخې لپاره

د ا .د.ج. پر مشرتابه هم زور اچول شوی چې خپلې دندې اوچارې لا پسې کارنده او خوځنده کړي...

دپوځونو له خوا ترسره شوو عملياتو وښوده چې نه يوازې دځلوېښتم اردو، بلکې دټولو وسله والو ځواکونو په جګړه ييز چمتووالي او تخنيکي سمبالتيا کې بايد لا زيات ښه والی راشي...

په همدې موخې د ا.د.ج. د دفاع له وزير ملګري قادر او د سياسي چارو له لوی پاسوال ملګري صادقي سره هم څو ځانګړې ليدنې کتنې ترسره شوې چې دهغو په ترڅ کې د دندو پر لا کارندتيا او دجګړه ييز وعملياتو دپايلو دڅېړلو او شنلو ، د هغو داغېزمنتيا دلوړولو لپاره دتدبيرونو دنيولو ،له پرسونل سره دسياسي روزنيز کار دپياوړي کولو ،{ له اردو نه } له تېښتې سره د هاندوهڅې او دافغان پوځ له ټولګيو او ډلو ډلګيو سره دنورې اړينې مرستې دترسره کولو لپاره پوځونو ته دسفر کولو پر اړتيا باندې ټينګار وشو...

دشوروي اتحاد دمارشال سوکولوف ،د ۱۹۸٤ کال جون.

له پورتني رپوټ نه په ډاګه کېږي چې شوروي لښکر ګنې بې له کومه خنډه ياغيانو پر بل پسې څپي او پوپناه کوي ،خو داخبره رښتينې نه وه .غواړم دې ټکي ته په ځانګړې توګه پام را واړوم چې آن د پنجشېر عملياتو هم چندان دليدلو وړ پايلې نه درلودې . ځکه مسعود وکړای شول چې زموږ پوځي قوماندانې تېر باسي او خپل پوځونه له مرګونو اوځپونکو ګوزارونو نه وژغوري،خو داخبره ډېره وروسته ډاګيزه شوه ( په دې اړه دهمدې کتاب په اتم پاړکي کې په تفصيل سره څرګندونې راغلې دي ).

سره له دې چې شوروي پوځونه يوه ګړۍ هم وزګار نه وو او د دمې تنده يې نه وه ماته شوې ،خو بيا به هم دجګړه ييزو عملياتو په اغېزمنتيا کې بنستيز ښه والی نه ترسترګو کېده.

دپليو ځواکونو دجګړه ييزچمتووالي دلويې پاسوالۍ دمشر رپوټ (پټ):

« .....د ٤٠ اردو پوځونو د ۱۹۸٤ کال داوړي د پنځو مياشتو په ترڅ کې

دخپل مسوولیت په سیمو کې د یاغیانو د ډلو دځپلو او دولتي واکمنۍ دټینګښدو لپاره دجګړه ییزو عملیاتو لړۍ ته دوام ورکړ. په همدې پړاو کې ۲۲ پلان شوي او ۱۹ ناپلان شوي عملیات اودغه راز ۲۰۸٤ پټې لارنیونې (کمینونه) او دکشف ۲٤۸ پروژې ترسره شوې {...} ».

| مهم تاپي (شاخصونه) | ۱۹۸۳کال مې - سپتمبر | ۱۹۸٤کال مې - سپتمبر |
|---|---|---|
| ۱- ترسره شوي عملیات : | . | . |
| له پلان سره سم | ۱۲ | ۲۲ |
| ناپلان شوي | ۱۰ | ۱۹ |
| ۲- دکشف پلې شوې پروژې : | . | . |
| پایلمنې اوبریالۍ | ۱٦۰(٪۸۸) | ۱۸۱(٪۷۲) |
| ۳- پټې لارنیونې (کمینونه) | ۲۸۰۰ | ۲۰۸٤ |
| پایلمنې اوبریالۍ | ۲٦۲(٪۹) | ۱۸۱(٪۸) |
| ٤- له منځه وړل شوي یاغیان | ۱۷٦۳۲ | ۱۸۱۸٤ |
| ٥- ترلاسه شوي وسلې : | . | . |
| سپکې وسلې | ٤۳۳٤ | ۳۸۳۹ |
| د.ش.ک. (دشکه) | ۹۸ | ۱٤٦ |
| ټانک ضدتوغندي (ار.پ.ګ) | ۱۲۹ | ۱۰۱ |
| هاوانونه | ۷۹ | ٤۲ |
| ز.ګ.او.بې شالغته توپونه | . | ٤٦ |
| دسپکو وسلو مهمات | ۱۷۷۲زره | ۲۳۰٥زره |
| ٦- دیاغیانو له خوا ترسره شوي بریدونه | ۲٦۱ | ۲٤٦ |
| پرکتارونو دزې | ۱۰۳ | ۸۱ |
| دپوځونو د پربوت پرځایونو دزې | ۱۱٦ | ۹٦ |
| دماینونو چاودېدل | ۳۸ | ٥۳ |
| ۷- زموږ پوځونو ته د سرر سېدلي زیانونه* | . | . |
| وژل شوي کسان | ٤۹۱/۷٤تنه | ۸۸٦/۱۱۱ |
| ټپیان | ۱۱۸۲/۱۷۹ | ۱۹٥۸/۲۳۳ |

* **یادونه:** په پورتني ټاپي کې افسران هم ګډ دي. ( مسکو ، د ۱۹۸٤ کال د سپتمبر ۲۲ مه ). سربېره پردې ٤٠ اردو د ۱۹۸٤-۱۹۸٥ کلونو دژمي په ترځ کې ۱۰ پلان شوې ، ۳ ناپلان شوي او ۱۹ ځانګړې پوځي عمليات او دغه راز د کشف ۱۲۰ پروژې او ۱٤٦٠ پټې لاربښوونې هم ترسره کړې دي .

له کابل نه رپوټ ( پټ )

دشوروي اتحاد د فاع وزير دشوروي اتحاد دمارشال ملګري سوکولوف س.ل. ته :

... دترکستان دپوځي سيمې ٤٠ اردو په افغانستان کې له انقلاب ضد سره دوسله والې جګړې ټولې ربړې او دروند پېټې پر خپلو اوږو وړي . له دې امله کېدای شي چې زموږ دټولګيو په شمېر کې آن د ډېر والي راوستلو اړتيا رامنځته شي ، په داسې حال کې چې داشان زياتوالی د وروستي ځل لپاره د ۱۹۸٤ کال په دسمبر او د ۱۹۸٥ کال په جنوري کې راوستل شو.

ټولو ته ښرګنده ده چې يوازې له پوځي لارې دغوبيې انقلاب دلانجې اواری ناشونی دی . دغه راز د نورو اغېزمنو ګامونو دنه شتوالي له کبله دجګړه ييزو عملياتو لمنه لا پسې پراخېږي چې دغه کار ګڼ شمېر ناوړه عواقب په ځان پسې لري.

منځته راغلی حالت په هېواد کې پر ځواکونو ، شونتياوو ( امکاناتو ) او دګوندي او دولتي بدلونونو د بنو او راتلونکو لارو چارو پر ټاکلو باندې دبيا کتنې غوښتنه کوي . زما په اند ډېره به ښه وای که چېرې يو ه واکمن ګوندي - دولتي کميسيون په افغانستان او دهغه په شاوخوا کې پوځي - سياسي حالات { له نږدې نه } څېړلي وای او داوسني رژيم دپايښت په پام کې نيولو سره سم يې داسې ټاکلې وړانديزونه ترسره کړي وای چې په هېواد کې د حالاتو د ودې له بدلون سره يې مرسته کړې وای ...

وړينيکوف ، کابل د ۱۹۸٥ کال جون .

معمولاً کله چې يو دولت دبل کوم هېواد په وړاندې خپله کړنلاره پر مخ

بیایي او یا د هغه ښکېلاک خیال لري اویاهم دمرستې لپاره پر دي هېواد ته خپلې لښکرې ورلېږي ، نو په دې اړه یوه داسې اوږد پراویزه کرنلاره اوستراتیژي په مخکې نیسي چې موخه یې د خپلو ملي گټو خوندي ساتل اوهلته دځان لپاره دیوې وړ واکمنۍ ټینگول وي . خو د ا.د.ج. کې دشوروي اتحاد کړنې په ډاگه کوي چې شوروي مشرتابه د افغانستان په اړه ورته ستراتیژي نه درلوده . دلته هر څه په حقیقت کې د ا.خ.د.گ. دفعالینو په واک کې ورکړل شوي وو چې د هېڅ کار د پرمخ بیولو وړتیا یې هم له ځانه ونه شوه ښودلی . که سپینه ووایم نو پخپله دشوروي ستراتیژیستانو هم څه خونده نه وه .

ښه نو په داسې شرایطو کې دڅه شي کول شوني وو ؟ یا خو په کار وه چې نور پوځونه لېږل شوي اوټول افغانان له تېغه تېر شوي وای او دهغوی په خاوره کې نور خلک مېشت شوي وای ، ځکه چې دافغانانو بدلون او په زور خپلې گروهې ( عقیدې ) ته دهغوی را اړول ناشوني و ، اویا باید له افغانستان نه زموږ پوځونه را ایستل شوي او د ا.خ.د.گ. اومخالفینو ته وړاندیز شوی وای چې د خپل هېواد د کورنیو ستونزو داوارولو لارې چارې پخپله ولټوي .

همدا دویمه لار له ډېرو خواو نه غوره وه ، خو لکه هغسې چې په لومړي سرکې گومان کېده پر هغې گام اوچتول هومره هم اسان نه وو . ځکه لکه څرنگه چې معلومه شوه د پوځونو درا ایستلو په باب تر آرینې ( اصولي ) پرېکړې وروسته هم نږدې څلور کاله وخت ته اړتیا وه چې دغه پرېکړه دې په عمل کې پلې شي ... حقیقت داو چې افغانستان ته د پوځونو لېږل له هغه ځای نه د هغوی دبېر ته را ایستلو په پرتله ډېر اسان و . که سپینه ووایم نو موږ دجگړې په داسې یوه تلک کې ننبتي وو چې له هغه نه مو په هېڅ ډول ځان نه شو ژغورلی .

ACKU

# له افغانستان نه دشوروي پوځونو د راایستلو کړنلاره

دافغانستان په کورنۍ لانجه کې د شوروي پوځونو دګډون له امله دشوروي اتحاد باور اوشان ته په نړیواله کچه آن د خپلو اندیوالانو په منځ کې هم ډېر زیان ورسېده. د ا. د. ج. کې د شوروي پوځونو دشتـه والي په اړه دشوروي مشر تابه د لیلونه ډېرو هغو دولتونو ته چې دغه هېواد یې په بېلابېلو نړیوالو غونډو او په هغې ډله کې دملګرو ملتونو دسازمان تر مشرۍ لاندې په جوړو شوو غونډو کې هم نبغ په نبغه د رایو په غوڅ ډېرښت غنده دمنلو وړ نه و. له دې سره جوخت دافغانستان دجګړې اغېزو ورو ورو دشوروي اتحاد په دننه کې هم سر راپورته کړاو په پردۍ خاوره کې دشوروي ځوانانو وژل کېدو نه یوازې دهغوی دخپلوانو ، بلکې ټولو رښتینو شوروي وګړو کرکه اومخالفت را وپاراوه.

واک ته تر رسېدو وروسته م. ګرباچوف هم په لومړي سرکې هڅه وکړه چې دافغانستان دحالاتو اوارولو ته یوازې له پوځي لارو وسیلو نه یوه چاره وسنجوي. له همدې امله « ګرباچوف د ۱۹۸۵ کال په جون کې ددې کار دنده په ځانګړې توګه جنرال میخایل زایځوف ته وسپارله ، او د خپرونو د وروستیو رپوټونو له مخې ، نوموړي ته یې یو ، دوه کاله وخت ورکړی وچې په افغانستان کې بري ته لاره پرانیزي.

خو دپنتاګون دهغه مهال دشنونکو په ګروهه شوروي رسمي لوړ مقاماتو آن د ۱۹۸٦ کال په مني کې {دافغانستان روان} پوځي حالات تر بیا کتنې لاندې ونیول. (۱)

---

(1) Galster S. Rivarly and Reconciliation in Afghanistan. What Prospects for the Accords?

رښتیا هم دسویل لوري دپوځونو دلوي قوماندان په توګه دسترجنرال م.م. زایځوف تر ټاکنې وروسته چې افغانستان هم دهغه دمسوولیت په سیمه کې راته ، نومورې ٤٠ اردو تهډېر زیات تګ راتګ کاوه اوهڅه یې کوله چې پخپله دجګړه ییزو عملیاتو لاربښوونه په غاړه واخلي. خو افغان جګړې زموږ دهغو یو شمېر پوځي مشرانو نهوړتیا چې په سوله ییزو شرایطو کې تر لوړو ځوکیو پورې رسېدلي وو ،خو جګړه یې هېڅکله په سترګو هم نهوه لیدلې. بېخي ډاګیزه کړه . لهبله پلوه پهجګړه ییزو حالاتوکې به د داشان قوماندانانو « نوښتونو » ډېر ځلي هسې بې ځایه زیانونه رامنځته کول.

خو لهدې ټولو خبرو سره سره له افغانستان نهدپوځونو درا ایستلو او له سیاسي لارو چارو د افغانستان دلانجې داوارولو کړنلاره د ١٩٨٥ کال له نیمایي نهرا په دېخوا پهمخ کې ونیول شوه.

واک ته لهرسېدو سم لهلاسي وروسته م. س. ګرباچوف دشوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو ته دندهورکړه چې دافغانستان پهاړه پر کړنلارې بیا لهسره کتنه وکړي. خو پهافغانستان کې منځته راتلونکې پېښې بیا هم دشوروي وګړو لهسترګو نهپټې ساتل کېدې او هغوی دېخوا په ځېر « دافغان جګړې » پهباب یوازې لههغهڅه نهخبرېدل چې دهېواد سیاسي مشرتوب یې دټولیزو خپرونو اوسنیو تهد خپرولو اجازه ورکوله.

**لاسوند**

**بیخي پټ**

**ځانګړې دوسیه**

دشوروي اتحاد د کمونیست ګوند مرکزي کمېټه

پهافغانستان کې دشوروي لږ شمېره ( محدودو ) ټولګیو د دندو پهاړه د ټولنیزو رسنیو پههکله دشوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې د ١٩٨٥ کال د جون د ٧ مې نېټې لهپ ٢٠٦/٢ لمبر پرېکړې سره سم د دفاع وزارت ( ملګري اخرومییف س. ف. ) ، دشوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت

( ملگری کورنیینکو گ. م. ) او دشوروي اتحاد کې جي بې ( ملگری کریوچکوف و .ا. ) دهغو معلوماتو یو لیست جوړ کړئ چې د ا.د.ج. کې دشوروي لږ شمېر پوځي ټولگیو د دندو په باب ښکاره خپرونو ته اجازه ورکوي ( لیست مل دی ).

دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې څانگې هم له نوموړي لیست سره خو ښاوی شونی گڼي او دټولیزو رسنیو (خپرونو) ته باید دنده ورکړ . شي چې په افغانستان کې د شوروي ټولگیو دشته والي په اړه په خپرونو کې له هغه نه گټه واخلي . په دې اړه ستاسو د خوښاوي هیله لرو .

دشوروي اتحاد کمونیست گوند د مرکزي کمېټې دبهرني سیاست دتبلیغ دڅانگې مشر ل . زمیاتین

دشوروي اتحاد دکمونیست گوند دمرکزي کمېټې د اداري اورگانونو دڅانگې مشر ن . ساوینکین .

**لاسوند**

**ملپانه ( پټه )**

**لومړۍ نسخه**

د س .اخرومییف ، گ. کور نیینکو او و . کریوچکوف لاسلیکونه

د ۱۹۸۵ کال دجولای ۲۵ مه

( دشوروي اتحاد کمونیست گوند دمرکزي کمېټې د ۱۹۸۵-٦-۷ مې نېټې له پ ۱۰٦/۲ لمبر پرېکړې سره سم ) دهغو معلوماتو لیست چې د ا.د.ج. کې دشوروي لږ شمېر پوځي ټولگیو د دندو په باب ښکاره خپرونو ته اجازه ورکوي :

۱- د ا.د.ج. په خاوره کې دشوروي لږ شمېر پوځي ټولگیو د دندو په اړه دې دهغو معلوماتو خپرولو ته د پخوا په څېر دوام ورکړ شي چې دخپرولو اجازه یې تر مخه ورکړ شوې او دهغو تر څنگه دې لاندې ټکي هم په گوته شي:

- په‌ساده (عادي) پوځي تولګيو پورې اړونده تولګيو او ډلو ډلګيو، د وړلو راوړلو دموټرلرونکي غونډ او په‌بمباريزو اوترانسپورتي هوايي ځواکونو پورې د اړونده تولګيو شته‌والى، پرته له‌دې چې په‌ټاکلو تولګيو او پوځي سيمو پورې دهغو تړلتيا او په‌جګړه ييز عمليا توکې يې ګډون ته‌ګوته نيول شوې وي.

- دجګړه ييز چمتو والي د نيول کېدو بهير، په‌لنډ مهالو بنار ګوتو کې د پوځي تولګيو مېشتېدل، دهغوى ورځنۍ چارې او دکنډک ترکچې د ا.د.ج. له‌وسله‌والو ځواکونو سره د ګډو تاکتيکي ازموينو ترسره کول.

- د ا.د.ج. دګوندي اودولتي مشرانو اونورو افغاني پلاوو له‌خوا دشوروي تولګيو ليدل او دګوندي - سياسي غونډو جوړول اودکلتوري پرګنيزو کارونو سرته‌رسول.

- {پرنښانونو او مډالونو} دشوروي پوځيانو وياړل، پرته له‌دې چې هغه پوځي کارندتيا په‌ګوته شي‌چې ددغې وياړنې سبب ګرځېدلې ده.

- دسيمو اوسېدونکو ته‌دمالونو د لېږدولو لپاره دالوتکو او ګاډو او دغه راز دکتارونو بدرګې او دجوړېدو په‌حال کې يو لړ پروژو ساتنې ته دځينو جګړه ييزو ډلو ډلګيو ځانګړي کېدل.

- له‌افغاني پوځيانو سره د ورلېږديدونکي پوځي تخنيک په زده کړه کې دمرستې لپاره دشوروي پوځي کارپوهانو شته‌والى او دندې.

- دزده کړې او ازموينو (تمرينونو)، تګ‌راتګ‌او ګرځېدنې (ګزمې)، په جلا توګه او د ا.د.ج. دوسله والو ځواکونو له پوځيانو سره په‌ګډه دخپلو او افغاني پروژو دساتنې اودفاع، دماين پاکولو، مال لېږدولو، دکتارونو د بدرګې، دجګړه ييزو ځرخکيو او الوتکو دورځنۍ (عادي) الوتنې اوځينې نورو چارو دترسره کولو په‌بهير کې دياغيانو له‌بريدونو نه‌دځان ژغورنې په موخه ديو شمېر شوروي پوځيانو، عملو او ډلګيو له‌خوا له‌ساده وسلو نه ګټه اخيستل.

- دخپلې پوځي دندې ، داشرارو د بريدونو د شنډولو او دافغانستان له خلکو سره د انترناسيوناليستي مرستې په اړه دخپلو دندو دترسره کولو په ترڅ کې دشوروي پوځيانو دتيپي کېدو يا وژل کېدو د يو گونو پېښو يادول ( په مياشت کې له يوې پېښې نه بايد زياتې نه وي) .

- دشوروي ډلو ډلگيو له خوا د تيلو دنل ليکې جوړېدل ، گتېه اخيستل ، ساتنه او دفاع او دهغوی ورځني چارې .

- دسيمې داوسېدونکو ، افغاني تېيانو او شوروي پوځي ناروغانو د درملنې ( تداوی) په برخه کې دشوروي پوځي روغتون روغتيايي مرستې .

- له ا. د.ج. سره دانتر ناسيوناليستي مرستې په بهير کې دمېړانې او اتلولۍ له کبله شوروي پوځيانو ته دشوروي اتحاد د اتل د لقب ورکول ، خو په دې ترڅ کې په جگړه ييزو عملياتو کې د هغو ډلو ډلگيو او ټولگيو گډون بايد ياد نه شي چې نومړو په کې دنده سرته رسوله.

- تر درملنې او رغېدو نه وروسته دوگړنيز اقتصاد د زيار ايستونکو له ليکو سره دهغو پوځيانو يو ځای کېدل چې د ا.د.ج. په خاوره کې يې دشوروي ټولگيو په ليکو کې دنده تر سره کوله او دسيمه ييزو شوروي او گوندي اورگانونو ، ټولنيزو ښېگنيو د ادارو اونورو موسسو دمشرانو له خوا د هغوی پالنه او پاملرنه .

۲- په مرکزي ، د پوځي سيمو ، جمهوريتونو ، ايالتونو او ولايتونو په خپرنيو ( نشراتي ) اورگانونو کې دې په سرباري توگه دغو خپرونو ته هم اجازه ورکړل شي:

- پر ځان اودهغوی له خوا پر ساتل کېدونکو پروژو او ودانيو باندې د ياغيانو دبريدونو دشنډولو او دغه راز له افغاني پوځونو سره دباندونو دځپلو او د ا.د.ج. ذ وگړو دساتنې لپاره دشوروي پوځي ټولگيو دعملياتو په اړه.

- دکنډک ترکچې دځواکونو د ټولو ډولونو لکه پليو ، هوايي ، لوژيستيکي ، انجينري او مخابرې دپوځونو د ډلو ډلگيو د ورځنيو چارو په

باب.

- دهغو شوروي پوځيانو چې د ا.د.ج. پهخاوره کې دپرتو ټولګيو په ليکو کې د دندې دترسره کولو پهترڅ کې معيوب شوي او دغهراز په افغانستان کې د وژل شوو کسانو د کورنيو دپالنې او هغوی ته دپاملرنې په باب.

- د ا.د.ج. پهخاوره کې دجګړه ييزو عملياتو پهترڅ کې دشوروي پوځيانو د سربښندنو ، ميړانو اواتلوليو او لهدې امله دهغوی د وياړلو پهباب معلومات ،

۳- دا.د.ج. پهخاوره کې پهجګړه ييزو عملياتو کې دټولي او لههغه نهپه لوړه کچهد شوروي پوځي ټولګيو دګډون ،دهغوی د جګړه ييزو تجربو او د پوځونو دځانګړو دندو پهباب دمعلوماتو اود جګړې لهډګر نهدمخامخ راپر تاژونو خپرولو ( سينمايي او تلويزيوني فلم اخيستلو ) تهپهښکاره خپرنيو اورګانونو کې دپخوا پهڅېر اجازه نهورکول کيږي.

٤- پهلومړۍ او دويمې مادو کې ديادو شوو ټکو پهباب دمعلوماتو خپرولو تهد پوځي کتون ( سانسور ) دلوېې پاسوالۍ او دپوځي سيمو ،پوځي اوسمندري ځواکونو دټولګيو دپوځي کتون لهاورګانونو نه دخوښاوي (موافقې) تر لاستهراوړلو وروسته اجازه کيږي.

٥- دشوروي او بهرنيو ليکونکو دهغو تبليغ ضد ليکنو خپرولو ته دې په پراخه توګه دوام ورکړ شي چې دلويديځ دخپرندو رسنيو له درواغو نهپرده پورته کوي.

و. ورنيکوف او و . کير پيچنکو ،د ۱۹۸۵ کال دجون ۱۹ مه .

دشوروي اتحاد کمونيست ګوند مرکزي کميټې هغه مهال پهشوروي اتحاد کې دپيل شوې « بيارغاونې » ( پېريسترويکا ) پهرڼا کې دافغانستان دکورنۍ شخړې د اوارولو لپاره نوې لارې چارې تر لاس لاندې ونيوې. په همدې لړ کې د ۱۹۸۵ کال پهاکتوبر کې پهمسکو کې دخبرو اترو په ترڅ کې

دلومـړي ځل لپـاره افـغـاني لوري تـه د ا. خ. د گ. پـه ژوند کـې د يولړ بدلونونو او اوښتونونو درامنځته کېدو پـه باب مخامخ څرگندونې او ځينې نوې او اصولي لارښوونې وشوې ،چې دشوروي مشرتابه پـه اند لـه هغو نـه کارنده گټې اخيستنې کولای شول گټورې پايلې پـه ځان پسې درلودلې وای .

پـه همدې ترڅ کې کابل چار واکي لـه افغانستان دشوروي لښکرو دايستلو پـه اړه د شوروي اتحاد لـه غوښتې پرېکړې نـه هم خبر کړای شول ، خو ورسره ورسره د ا.د.ج. وسلـه وال پوځ تـه د وسلو دلېږدولو پـه اړه د شوروي اتحاد پر ژمنو هم ټينگار وشو.

خو کلـه چې دغـه خبره راپورته شوه ، نو دهغې پـه وړاندې د افغاني لوري غبرگون ترډېره ځايـه منفي و . ب. کارمل چې مخ يې بې لـه دې هم توريخن و او لـه دې املـه يې څېره لا پسې توره او تيـاره شوه وويل : « کـه تاسو اوس { لـه افغانستـان نـه } ووځئ ،نو بل ځل بـه اړياست چې يو مليون سرتېري { هلتـه } ورولېږئ ».

خو دا ځل شوروي مشرتوب پر دې بريالی شو چې د ا.خ.د. گ. مشران دافغانستـان دکورنۍ لانجې دغوځولو لپاره د نويو لارو چارو دلټون پراړتيا « قـانع کـړي » هغـوی پـه پای کـې څرگنده کـړه چې دمنځتـه راغلي حـالت پرحسـاسيت ډېر ښـه پوهېږي او لـه همـدې املـه بـه دوړاندې شـويو ليـدونو اووړانديزونو د پلي کولو پـه لاره کې ډېر ژر کړنده ( عملي ) گامونـه اوچت کړي. ب. کارمل کـه څـه هم پـه خولې د وړاندې شـويو لارښوونو لـه املـه توده او د زړه لـه کومې مننـه وکړه ،خو پـه زړه کې لـه خپلې خبرې نـه وانـه وښت او يو ځل بيـا يې عمل پر ځای تشو خبرو تـه ښاخې بنده کړه .

خو ددې لپاره چې دشوروي اتحاد مرستې اوملاتړ لـه لاسـه ورنـه کړي ،نو «دلارښوونو دپلي کـولو » پـه نوم يې يو لړتدبېرونـه تر لاس لاندې ونيـول . لـه همـدې املـه د ا.خ.د. گ. د مـرکـزي کـمـېټـې پـه شـپاړلسم پلينوم (١٩٨٥-١١-٢٠) کې پرېکړه وشوه چې گوند دنوې ټولنې دجوړولو پـه لار

کې د لاربنوونکي چار ( رول ) په درلودلو سره سره باید ربنتیتې واک دهواد له نورو هغو سیاسي ځواکونو سره وویشي چې په دغه بهیر کې ونډې اخیستنې ته چمتو وي . خو په کړنه کې هېڅ هم دواک ویشلو ته زړه نه ښه کاوه او له همدې امله په دې اړه ټولې خبرې هسې تش د باد خورا ک شوې.

له بلې خوا د حکومتي وسله والو ځواکونو د پیاوړتیا لپاره هم کوم گام پورته نه شو . خو ددې لپاره چې دپوځي ماتو پړه د شوروي پوځي سلاکارانو پر غاړه وروا چوي ،نو ب . کارمل به بیا بیا هغوی ته ویل چې :« زموږ پوځي ټولګي ستاسو په چوپړ ( خدمت ) کې دي او تاسو کولی شئ پر هغو دخپلو دا پرخپر امر وکړئ ». خو له دې ټولو ژمنو او خبرو سره سره دیاغیانو د ډلو پرخلاف د وسله والې جگړې ټول دروند پېتې په ربنتینې توګه یوازې دشوروي لږه شمېر پوځي ټولګیو پر اوږ پروت و.

له همدې امله موږ یوازې د ۱۹۸۵ کال په ترڅ کې په افغانستان کې ۱۸۶۸ تنه له لاسه ورکړل چې په دې ډله کې د وژل شوو پوځیانو شمېر ۱۵۵۲ تنو ته رسېده ( چې ۲٤۰ تنه یې افسران وو ) او دهغو کسانو شمېر چې دجگړې په ډگر کې وژل شوي وو ۱۱۹٤ تنه و ( چې ۲۰۲ تنه یې افسران و ). البته دمړو په ډله کې نا پوځیان هم وو چې دهغوی شمېر ۳۰٦ تنو ته رسېده. سربېره پردې ۳٦ تنه دیاغیانو له خوا نیول شوي او ۳۷ تنه هم تري تم شوي وو.

خو شوروي مشر م . س . ګرباچوف د ۱۹۸٦ کال په فبروري کې دشوروي اتحاد کمونیست ګوند د اوه ویشتمې کنګرې برخه والو ته په ډاګه کړه چې له افغاني لورې سره په ګډه له افغانستان نه پړاو په پړاو دشوروي پوځونو د را ایستلو په باب یو پلان تر لاس لاندې نیول شوی چې دهغه پلې کېدل به سیاسي اواري ته تر رسېدو وروسته سم له لاسه پیل شي.

له همدې امله شوروي پوځي قوماندانی ته لاربنوونه وشوه چې که شونی وي نو دهغوی پوځونه دې په جگړه ییزو عملیاتو کې له مخامخ ګډون نه ډډه

وکړي ،خو له دې سره جوخت دې دحکومتي ځواکونو دپیاوړتیا لپاره یو لړ زیاتي تدبیرونه هم ترلاس لاندې ونیول شي.

خو دا. د.خ.گ. مشرانو او د ا.د.ج. حکومت په افغانستان کې د شوروي پوځونو دشته والي په ټول پړاو کې هڅه کوله چې وسله وال ځواکونه په لوی لاس کمزوري او د جگړه ییز چمتووالي کچه یې هم ټیټه وښیي ،له همدې امله هغوی تل کوښښ کاوه چې دمخالفینو په وړاندې د وسله والې جگړې دپرمخ بیولو لپاره دشوروي اتحاد له لږ شمېر پوځي ټولگیو څخه گټه واخلي.

## معلومات

دشوروي لږ شمېر ( محدودو ) ټولگیو په لیکو کې ۱۱۳ کنډکونه په دنده کې بوخت دي. له دې ډلې نه ۸۲ کنډک ( په سلو کې ۷. ٦۱) ساتندویه دندې پرمخ بیايي ،داسې چې ۲۳ یې دلارو ساتنه ، ١٤ یې دهوايي ډگرونو ، ۲۳ یې د پوځي او اقتصادي ودانیو او پروژو او ۲۲ دواکمنې دسیمه ییزو اورگانونو ساتنه کوي. دټول هېواد په کچه یوازې ٥١ کنډکه کېدای شي کارنده جگړه ییزو عملیاتو ته ځانگړي او ولېږل شي... درپوټ سرچینه : د ٤٠ اردو درستیزوال ،د ۱۹۸٦ کال دجولای لومړۍ.

# گرباچوف پر نجیب الله او دولتي امنیت ( خاد ) باندې تکیه کوي

د ټولنې په ژوند او خلکو ته د ا.خ.د.گ. له خوا په ورکړل شوو ژمنو کې درغنده او مثبتو بدلونونو نشتوالي ،داقصادي کړکیچ پیاوړتیا ،په هېواد کې دکورنیو سیاسي حالاتو ترینگلتیا او د ب. کارمل خانانو ته ورته او پخ چلند پرخپل عمومي منشي باندې دافغانستان دخلکو خو لاڅه چې آن پخپله دگوند د ګڼ شمېر غړو باور هم خلل منونکی او زیانمن کړ. دهرې ورځې په

تېرېدو سره ببخي په ډاګه کېده چې کارمل د ا.خ.د. ګ. په منځ کې نور خپل باور له لاسه ورکړی او ددې وس او وړتیا نه لري چې دهېواد حالات له ډب او ځپځپاندی ( بن بست ) نه راوباسي.

څرنګه چې دګوند او دولت په مشری کې د ب. کارمل لا زیات پاتې کېدو نوره څه ګټه اوراتلونکې نه درلوده ، نو له همدې امله دهغه دلرې کولو لپاره د یو لړ ګامونو اخیستل پیل شول. دلته خامخا دا پوښتنه راولاړېږي چې : «ښايي خبره به دومره په ب. کارمل کې نه ، بلکې هغې کړنلارې کې وه چې د ا.خ.د. ګ. د ا.د.ج. خلکو ته وړاندې کوله او دغه راز په هغو لارو چارو کې به وه چې ددغې کړنلارې د پلي کېدلو لپاره غوره شوې وې ؟ »

ربښتیا خبره دا وه چې شوروي پوځونه تر هغه مهاله نږدې شپږ کاله په افغانستان کې جنګېدل او هېڅ داسې یوه دنده نه وه چې هغوی یې ګټې دترسره کولو وس نه درلود ، خو بیا به هم ددې ټولو کارونو پایله د پخوا په څېر له نشت سره برابره وه.

لکه چې تر مخه مې هم وویل خبره ټوله په دې کې وه چې له پوځي برياوو سره سیاسي هغه نه وې جوګه او له بله پلوه دا خبره هم نوره ببخي په ډاګه شوې وه چې مور د افغانستان دخلکو لپاره هاندوهڅه نوره ګرد سره بایللې ده. همدلته وه چې دا پوښتنه را منځته شوه چې ښه نو څوک باید د ببرک کارمل ځای ونیسي ؟ خو په دې اړه دنوماندو ( کاندیدانو ) دلیست په وړاندې کېدلو کې څه تنګسیا نه وه.

له کابل نه رپوټ ( پټ )

د ا.د.ج. په لوړ مشر تابه کې دبدلونونو په اړه تورونه

په شوروي اتحاد کې دملګري ب. کارمل دځنډېدلو په اړه دلته د پوځي او ګوندي کادرونو په منځ کې داسې ګونګوسي راپیدا شوي چې ښایي نوموړی بېرته هېواد ته راستون نه شي او له خپلو څوکیو نه ګوښه کړای شي. ددې کار یو دلیل دا ګڼل کېږي چې د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې په اولسم پلینوم ،

دلاربښوونکو کادرونو په غونډه او دقبایلو په لوړي (عالي) جرګې کې دوېناو په ترځ کې چا اصلاً دنوموړی نوم هم په خولې وانه خیست. دغه راز د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو په غونډه کې پر ب. کارمل ښکاره نیوه کې چې دنجیب د ډلې (کشتمند ،نور او زېري (؟)) له خوا وشوې ددې کار بلهنبه او زیات ګټل کېږي.

خو ددې ټولو خبرو سربېره او هغه دادی چې ب.کارمل ځکه باید لرې شي چې دیوه تکړه رغاند او سازمان ورکوونکي وړتیا او ځانګړنې نه لري او دهغه ګوښه کېدل باید دبدلونونو د داسې یوه نوي پړاو پیلامه شي چې هېواد، شوروي اتحاد او په نړۍ کې دافغانستان دوستان ورته سترګې په لار دي.

دب. کارمل د ځای نیونکو په منځ کې د ملګرو نجیب الله اوسروري نومونه ډېر د ژبو پر سر دي. ددې دواړو له ډلې نه بیا لومړی نوم ځکه ډېر اورېدل کېږي چې نوموړی د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې تر ۱۶ م پلینوم نه وروسته عملاً په ګوند کې دویم کس شو. خو په دې اړه چې ملګری نجیب دې دا.خ.د.ګ. د مرکزي کمېټې عمومي منشي شي اندونه او لیدونه بېلابېل، ضد ونقیض او تر ډېره ځایه منفي دي. سربېره پردې دهغه د پلویانو او مخالفانو په ډله کې له خلقیانو پرته پرچمیان هم شته چې پر هغه باور نه لري او له هغه نه وېرېږي، که څه هم هغوی نوموړی یو «ځواکمن شخصیت» ګڼي. په خاد کې د هغه دندې او سابقې ته په بده سترګه کتل کېږي او په دې اړه وېل کېږي چې نوموړي د دولت په منځ کې بل دولت اوداسې یو اورګان جوړ کړی چې یوازې دهغه شخصي ګټې سمبالوي. دغه راز له واک نه دهغو ناوړه ګټې اخیستنو په باب هم ګونګوسي اورېدل کېږي چې خاد د نوموړي تر مشرۍ لاندې ترسره کړې دي.

پر نورو خبرو سربېره هغه پردې هم تورن دی چې همدا اوس دځرخي پله په زندان کې دپنځو زرو په شاوخوا کې خلقیان تر ډېره ځایه د بې بنسټه تورونو له امله بندیان دي. نوموړی پر خلقیانو باور نه لري او دهغوی په وړاندې به تل له

دښمنۍ نه‌له‌ډ ک چلند ځخه کار اخلي.

له‌بله پلوه په‌ملګري نجيب کې دسختو پښتون پلوه ملت پالونکو احساساتو شته‌والى هم له‌چانه پټ نه‌دى. له‌دې‌نه‌دا پايله اخيستل کيداى شي چې { دهيواد } شمال ياني اوزبکان، ترکمنان، نورتوکميز لږه کي او د تاجکانو يوه‌برخه خدايزده که‌په‌هغه پسې لاړه‌شي. او دا کار به‌بې له‌شکه د پوځ چې دنوموړو استازي د هغه د تر ټولو جنګيالي زړي جوړوي دکمزورتيا سبب شي. له‌قبايلوسره دهغه داړيکو دځرنګوالى په‌باب هم‌ډول ډول شکونه شته‌دي. ويل کيږي چې دپاکستاني قبايلو «؟» را پارونه کيداى شي په‌هيواد کې دکورنۍ جګړې د دوام سبب وګرځي او ځرنګه چې خلک له‌دغې جګړې نه ستړي شوي، نو کيداى شي چې هغوى دنجيب دځان غوښتونکو هلوځلو او دقبايلو له مسالې‌نه‌د ناوړه ګټې اخيستنې په‌لار کې دهغه دهځوله‌ملاتړ نه لاس واخلي.

دشوروي اتحاد په‌وړاندې دنوموړي دانګېرنو او احساساتو د رښتينوالي په‌باب هم‌ډول‌ډول شکونه ځرګنديږي. په‌دې اړه داسې ښلګو ته ګوته نيول کيږي لکه له‌خاد نه دشوروي پلوويانې داسې کسانو شړل چې شوروريانو ته‌ډېر نږدې وو، ويل کيږي چې د دولتي امنيت‌وزير دلومړي مرستيال په‌توګه دجنرال نجيب «دويم لمبر نجيب» ټاکل چې د «شوروي ضد» سړي په‌توګه پيژندل کيږي هم کومه‌ناځاپي خبره نه‌ده. پرځپله نجيب‌الله هم په‌شوروي اتحاد کې‌زده کړه‌نه ده کړې. دغه راز ويل کيږي چې هغه اشرافزى ( اشرازفزاده) دى، دامير عبدالرحمن له‌لمسى سره‌يې واده کړى او دخلکو پر ګټو نه‌پوهيږي. له بله‌پلوه هغه‌پوځي زده کړه هم نه‌لري چې‌دا کار د داسې يوه‌هيواد لپاره چې کورنۍ جګړه په‌کې روانه ده، ډېر ارزښت لري. له‌همدې امله‌خدايزده که نوموړى وکړاى‌شي چې‌سولې ته درسېدو لپاره ګوند، اردو او خلک سره‌يو موټى کړي.

ځينې ملګري بيا له‌نجيب‌الله‌سره په‌توپير د سروري ځانګړتيا او وړتيا

تهډېر ارزښت ورکوي ( هغه ډګروال اودتره کي په وخت کې دخاد (اګسا ،ژ.) مشرو . ترهغې وروسته له هېواد نه ووت او بيا له کارمل او نورو ملګرو سره يوځای بېرته وطن ته ستون شو . هغه د ا.خ.د. ګ. دمرکزي کمېټې د سياسي بيورو غړی و . نوموړی پر ۱۹۸۱ کال د سفير په توګه منګوليا ته واستول شو).

ويل کېږي چې هغه بهوکړای شي په ګوند کې يو والی ټينګ کړي ، ځکه چې تل يې له ډلپالنی سره مبارزه کړې ده . هغه لکه څنګه چې دپښتنو په منځ کې پېژندل کېږي ، هماغه شان يې د نورو ملي لړه کيو تر منځ هم پېژند خپور او آن د پوځيانو په منځ کې هم له باور نه برخمن دی . نوموړی ډېر سرسخته سړی دی.

سروري ته د داسې يو سړي په سترګه کتل کېږي چې د ګوندي او پوځي شخصيت ځانګړنې په کې راټولې او خوندي دي ، کولی شي پر حالاتو ډېر ژر پوه شي ، د انقلاب ضد پر خلاف دجګړې لارښوونه وکړي او دهېواد حالات دټينګتيا ( ثبات ) کچې ته ورسوي.

دسروري د تېروتنو په لړ کې هغو ځورونو او وهنو ټکونو ته ګوته نيول کېږي چې دده په وخت کې بهخا د ( اګسا ) بنديانو ته ورکولې او ګوا کې لاتر اوسه د خلکو له ياده نه دي وتلې.

زموږ په اند د ا.د.ج. په لوړ مشرتابه کې د بدلونونو د رامنځته کېدو دشونتيا ( امکان) په اړه تورونه ددغه مشرتابه دنه پايښت اولاس وپښو کېدو د ټوليز ( عمومي) حالت څرګندوی دي.

دياد ونې وړ ده چې دغې ترورتيا اولاس وپښې کېدنې په جګړه ييزو عمليا تو کې زموږ په ګډون کې دکمښت راوستلو او { له افغانستان نه } دشوروي پوځونو د پړاويزې وتنې په باب { دشوروي مشرتابه } تر ډاګيزو اعلاميو نه وروسته لا پسې زور اخيستی دی . دغه راز هغه له شته حالت نه دمخ پر زياتېدونکې ناخوښۍ او مثبتو بدلونونو ته { دخلکو} دسترګې په

لارتوب ښرگندویه هم ده.

د رپوټ سرچينه: دشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دکشف لويه پاسوالي، د ۱۹۸٦ کال اپريل.

خو دغه رپوټ گرد سره بې پاملرنې پرېښودل شو او د ا.خ.د.گ. دمرکزي کميټې په ۱۸ پلينوم کې (د ۱۹۸٦ کال مې) د ببرک کارمل پرځای نجيب الله د ا.خ.د.گ. د مرکزي کميټې دعمومي منشي په توگه وټاکل شو (البته له ب. کارمل سره دغه د لرې کېدو په اړه ترمخه لا اړونده کار شوی و. شوروي مشران هيله من وو چې واک ته دنجيب الله (۱) تررسېدو وروسته

(۱) محمد نجيب الله (نجيب) پر ۱۹٤۷ کال د پکتيا ولايت په يوې لېونډېر شتمنې کورنی کې زېږېدلی، په ځته پښتون او په مذهب سني مسلمان دی. پلار يې اختر محمد دخپل قام مشر او دافغانستان له پخوانې ولس مشر م. داود سره يې اړيکې پالل.

نجيب الله په تير احمدزی دی چې دا دپښتنو قامونو دغلزيو دونې يوه څانگه ده. نوموړی پر ۱۹٦٤ کال د کابل پوهنتون دطب په پوهنځي کې زده کړه پيل کړه او پر ۱۹٦٥ کال يې د ا.خ.د.گ. دپرچم داړخ غړيتوب ترلاسه کړ. پر ۱۹٦٦ کال د حکومتي ضد هڅو له کبله دوه ځلې بندي شو. پر ۱۹٦۷ کال په گوند کې دبېلتون تر پېښېدو وروسته يې دکارمل لارخپله کړه.

نوموړی دسياسي کارندتيا له کبله پر ۱۹٦۹ کال يو ځل بيا زندان ته واچول شو. پر ۱۹۷۰ کال د ا.خ.د.گ. دپرچم اړخ دکابل دښاري پټې کميټې دمنشي په توگه وټاکل شو. [ هغه له يو لړ لوړو ژوړو وروسته ] په پای کې پر ۱۹۷۵ کال دزېږداو زوکړې (نسايي او ولادي) د ډاکټر په توگه له کابل پوهنتون نه ووت. ترهغې وروسته يې څو کاله دهېواد په بېلو بېلو ولايتونو کې د ډاکټر په توگه دنده سرته رسوله. پر ۱۹۷۷ کال يې د ا.خ.د.گ. د سره يو ځای شوې مرکزي کميټې غړيتوب ترلاسه کړ. د ۱۹۷۸ کال تر کودتا نه وروسته د ا.د.ج. د انقلابي شورا غړی شو. دهماغه کال دجون پر مياشت دتره کي او امين د واکمنۍ له خوا د ا.د.ج. د سفير په توگه ايران ته واستول شو. هغه د ۱۹۷۹ کال په اوړي کې له سفارت نه ترگوښه کېدو وروسته يو گوسلاويا ته لاړ. دتگ دپروخت يې دسفارت له خزانې نه سل زره ډالر هم له ځانه سره يوړل. د ا.د.ج. ته د شوروي پوځونو ترورننوتو نه وروسته نوموړی هم بېرته هېواد ته راستون شو. پر ۱۹۸۰ کال د دولتي امنيت داورگانونو [خاد] مشرتوب ور په غاړه شو او له دې سره جوخت يې د انقلاب شورا غړيتوب هم ترلاسه کړ.

له ۱۹۸۱ کال نه را په دېخوا د ا.خ.د.گ. د مرکزي کميټې د سياسي بيورو او تر ۱۹۸۵ کال وروسته د ا.خ.د.گ. دمرکزي کميټې دمنشي په توگه وټاکل شو چې د دفاع وزارت، ملي امنيت او کورنيو چارو وزارت چارې يې پرمخ بيولې. نوموړی هوښيار، چالاک او پرزړه سخت سياسي شخصيت دی. سربېره پر دې هغه يو واک غوښتونکی او شهرت غوښتونکی سړی او پښتون ملت پالونکی (ناسيوناليست) هم دی. هغه دغه راز د افغاني ټولنې د «پښتونيزه کولو» دسياست پلوی دی او پخپل نږدې چاپېريال کې يوازې په پښتو ژبه خبرې کوي.

نجيب الله خپل همکاران د کارې وړتيا پر بنسټ نه، بلکې ده ته دشخصي وفادارۍ، خپلوۍ او سيمه والی له مخې ټاکي. هغه په انگريزي ژبې پوهېږي، کېن دی او درې لونې لري. مېرمن يې له يوې شتمنې کورنۍ ښځه ده.

ACKU

به په پای کې په هېواد کې دحالاتو دتېکېدو لپاره عملي گامونه واخيستل شي. له بله پلوه د ا.خ.د.گ. دکورني اوبهرني سياست په ډگر کې هم غوځو بدلونونو ته ژوره اړتيا ليدل کېده. همدا غه وچې نجيب الله دهمداسې يوې کړنلارې له پلي کولو سره چې موخه يې دافغانستان کورنۍ شخړې ته دپای ټکی ايښودل و، يانې د ملي روغې جوړې له نوې ستراتيژۍ سره خوښاوی وکړ.

څرنگه چې ببرک کارمل ترديې دمه د ا.د.ج. دانقلابي شورا دمشر او دا.خ.د.گ. دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو دغړي په توگه لا پر خپلو دندو پاتې و، نو له دې کبله نجيب الله نه شو کولی چې په پرانيستې لاس خپلې چارې پرمخ بوځي. له بلې خوا نوې کړنلاره هم دافغاني مشرتابه د گڼ شمېر غړو له ملاتړ نه برخمنه نه وه. آن تر دې چې د ا.خ.د.گ. د مرکزي کمېټې د سياسي بيورو نږدې يوه غړي هم دهغې په پلي کولو کې دنجيب الله ملاتړ نه کاوه. له همدې امله نجيب الله له شوروي مشرتابه نه هيله وکړه چې د ا.د.ج. کې دې د واک واگې په بشپړه توگه دهغه په لاس کې ورکړل شي.

دشوروي اتحاد کمونيست گوند دمرکزي کمېټې له يادښت نه

ببخي پېټ

ځانگړې دوسيه

دشوروي اتحاد کمونيست گوند مرکزي کمېټه

د ا.خ.د.گ. مرکزي کمېټې دعمومي منشي په توگه دنجيب تر ټاکنې نه وروسته دافغان مشرتابه او د ا.خ.د.گ. په کارندتيا کې ځينې مثبت بدلونونه دودې په حال کې دي. گوندي اورگانونه په خورا کارنده توگه خپلې چارې پرمخ بيايي، دتبليغ بنې او لارې چارې تر بيا کتنې او دخلکو پر پراخو پاړکو باندې د ژورې اغېزې بېلابېل اړخونه تر لټون اوڅېړنې لاندې نيول شوي دي. دافغان وسله والو ځواکونو په حالت او دهغو دجگړه ييزې وړتيا په کچه کې هم مثبت بدلونونه ترسترگو کېږي.

خو له دې ټولو کارونو سره سره ، دهېواد په پوځي ،سیاسي حالت کې لا تر اوسه د لیدلو وړ بدلون نه دی راغلی. خو ملګری نجیب حالات په ربښتیني ډول ارزوي او په خپل مخکې پر پرتو ستونزو هم ښه پوهېږي. ...

نجیب په ډاګه وویل چې دافغانستان له ۳۱-۳۵ زره کلیو نه یوازې اته زره کلي هسې په نوم دحکومت تر ولکې لاندې دي او دواکمنۍ سیمه ییزو اورګانونو ته ټاکنې خو تر دې نه هم په لږو یانې ټول ټال ۲۷۰۰ کلیو کې ترسره شوې چې هغه هم ښارونو ته څېرمه پراته وو. ملګري نجیب دغه راز ښرګنده کړه چې دانقلاب ضد په پوځي کارندتیا کې څه کمښت نه لیدل کېږي. دهغه په وینا دا. د. ج. په خاوره کې همداوس ۵۰۱۶ {مخالفې} ډلې چې ۱۸۳ زره تنه غړي لري پر جګړې بوختې دي. له دې ډلې نه ۸۰ زره تنه د انقلاب ضد تر ټولو کارنده جګړه ییز ځواک جوړوي. {...}

ملګرى نجیب همدا اوس د ملي روغې جوړې دکړنلارې اومخالفینو ته د شپږ میاشتني اوربند د وړاندیز په باب پر یوې پراخې اعلامیې غور کوي... ملګری نجیب دغه راز دسیاسي اوارې اوشوروي پوځونو د وتلو مسالې دملي روغې جوړې له تګ لارې سره غوټه بولي. ...

ملګری نجیب په دې پوهېږي چې تر دې دمه د ملي روغې جوړې لپاره ډېر لږ کار ترسره شوی. له دې نه جوتېږي چې نوموړی له دې مسالې سردد ربښتیني چلند د لټیون په اندا و فکر کې دی. خو هغه په دې برخه کې زموږ ملاتړ ته اړتیا لري....

و . چبریکوف ،ای. شیوارد نادزی ،س. س ،کولوف او ا .دوبرینین د ۱۹۸٦ کال د نومبر ۱۳ مه.

له دې سره جوخت نجیب الله وړاندیز وکړ چې له ب. کارمل او ځینې نورو نږدې انډیوالانو نه یې باید غوږونه ساړه او د ا. د. ج. د دفاع وزیر نظرمحمد او دبهرنیو چارو دوزیر ش. م. دوست څوکۍ دې م. رفیع او ع. وکیل ته وسپارل شي. په دې اړه و. کریوچکوف ته چې هغه مهال په افغانستان کې و ،لاربښوونه وشوه چې د ا .خ.د. ګ. د مرکزي کمېټې له عمومي منشي {نجیب} سره

وګوري او هغه ته دې دشوروي مشرتابه دالیدور ورسوي چې نوموړی دې کادري مسالې هماغه شان چې دی یې اړینه ګڼي پرمخ بیايي.

موده پس د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې فوق العاده پلینوم جوړ شو (د ۱۹۸٦ کال د سمبر) چې ملي پخلاینه او دوررور وژونکې جګړې بندول یې په رسمي ډول دخپلې نوې او اصولي کړنلارې په توګه اعلان کړل. شوروي حکومت هم هیله من و چې دغه کړنلاره به په افغانستان کې دسولې ټینګېدو او د ا.د.ج. نه دشوروي پوځونو وتلو ته لاره اواره او وړ شرطونه برابر کړي. له همدې امله دشوروي اتحاد د دفاع وزارت اوپراتیفي ډله چې مشري یې دشوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دستر درستیز دلومړي مرستیال سترجنرال و.ای. ورینیکوف په غاړه وه د ۱۹۸۷ کال دجنوري پر دویمه دپر له پسې کار لپاره کابل ته راغله. دغې ډلې په دارالامان کې د ٤۰ اردو درستیزتوب او د ا.د.ج. دفاع وزارت ته څېرمه په هغې ودانۍ کې واړول چې له انقلاب نه تر مخه په کې د کابل قول اردو قوماندان له خپلې کورنۍ سره یوځای استوګنه درلوده، په دغې ډلې کې دپوځونو دټولو ډولونو او بېلابېلو ادارو کارپوهانو پوځي شنونکو اونورو چاربوونکو غړیتوب درلود.

دشوروي پوځونو لاربښوونه، دافغانستان دوسله والو ځواکونو دپرېښو درولو په چارکې مرسته، دشوروي او افغاني پوځونو ترمنځ دګډو هڅو منځته راوړل، د ا.د.ج. د وسله وال پوځ له مشرتابه او په دې ډله کې دهغه له سر قوماندان سره هر اړخیزه مرسته، دملي پخلاینې د کړنلارې دپلي کېدو په بهیر کې ونډه او ګډون، د نه پخلاکېدونکو مخالفینو د ډلو دځپلو لپاره دمهمو عملیاتو د چمتو والي اوترسره کولو لاربښوونه او دمخالفینو له کورنیو ډلمشرانو سره داړیکو دټینګولو په کار او داسې نورو برخو کې دهېواد له مشرتابه سره مرسته دنوموړې ډلې بنسټیزې دندې ګڼل کېدې.

دشوروي اتحاد دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشر سترجنرال و.ای. ورینیکوف په حقیقت کې د ا.د.خ. کې د ټولو شوروي پوځي اورګانونو او

جوړښتونو لاربښوونه او قوماندانۍ په غاړه درلوده . هغه د کورنیو سترو ډلمشرانو او دغه شان د « اوه ګونې تلوالې » دځینو استازو له لارې دافغاني تولنې اومخالفینو له ښهلا ښهلو پاړکو او پوړونو سره اړیکې درلودل. سربېره پردې نوموړی د ا.د.ج. ، ٤٠ اردو او افغانستان دوسله والو ځواکونو له حالت نه هم ډېر ښه خبرو . دشوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشر دیوه سیاستوال او تولنیز شخصیت دځانګړنو په درلودلو سره په حقیقت کې په پوځي چارو کې د ا.د.ج. د وسله وال پوځ د سرقوماندان سلاکار و.

البته دچارو دښې اغېزمنتیا او ګټورتیا لپاره خو په کار داوه چې هغه مهال داسې یو واکمن لاربښوونکی اورګان منځته راغلی وای چې پراخه واکونه یې درلودای او مشري یې هم دساري په توګه دشوروي اتحاد د وزیرانو شورا د یوه مرستیال پر غاړه وای . خو داسې یوه اداره چا جوړه نه کړه او له همدې امله تولې مهمې پرېکړې په بنسټیزه توګه په مسکو کې دافغانستان لپاره دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو د کمیسیون په غونډوکې نیول کېدې چې دا کار یې له شکه دوخت له لاسه وتو او دچارو داغېزمنتیا او اوپراتیفي والي دکمښت سبب ګرځېده.

دلته یو بل ټکی هم دیادولو وړ ګنیم : هغې ډلپالې هاندوهڅې چې هغه وخت یې دا.دج. دواکمنې تولو پاړکو او پوړونو ته لمن غځېدلې وه ،زموږ استازي یې هم پر دغې ناروغۍ اخته کړل . آن تردې چې دا .د.ج. دوسله وال پوځ د ښهلا ښهلو ډولونو ( اردو ،کورنیو چارو او امنیت وزارتونو) تر منځ دشتو اختلافونو او تربګنیو له امله پخپله دشوروي استازیتوبونو او په اړونده وزارتونو کې دنوروشوروي سلاکارانو تر منځ هم دسیالۍ اولرې والي زړي را ټوکېدلي وو ، داسې چې هر یوه مشاور او سلاکار به د « خپل » وزارت او ادارې د ګټو دفاع کوله او په دې توګه به یې کله کله آن ګډ کار . . . او خپل دولت ته هم زیان رساوه . له بله پلوه دشوروي استازیتوبونو تر منځ واټن ا و د « پردي والي روحیې » په افغانستان کې دحالاتو پر ودې هم ناوړه اغېزه ښندله .

# شپږم پړاو

## ملي روغه جوړه که د ا .خ.د.گ. چل ول

دملي پخلاينې کړنلاره د ۱۹۸۷ کال دجنوري په نيمايي کې دپلي کېدو ډگر ته راووته. دافغانستان خلک چې له اوږدې جگړې نه ستړي شوي وو، په لومړي سر کې يې ددغې کړنلارې تود هرکلي وکړ. آخوا دهغې په رڼا کې دحکومتي ضد ځواکونو له يوې برخې سره هم دجگړه ييزو عملياتو دپرمخ بيولو دسموالي او معقولتيا په اړه ډول ډول پوښتنې او شکونه پيدا شول. دغه راز د بهرنيو مخالفينو دمشرانو په منځ کې هم اختلافونو او سياليو زور واخيست او په بېلابېلو گوندونو پورې د تړلو کورنيو ډلمشرانو او په بهر کې دهغوی دمشرانو ترمنځ تريگنې او لرې والی هم لا پسې پياوړی شول چې دې کار دمخالفينو سياسي او مذهبي بېلوالی ښه ترا ډاگيز او څرگند کړ. له بلې خوا د افغانستان د پخواني پاچا ظاهرخان په گډون په لويديزې اروپا کې ځينو کډوالو کړيو هم دملي پخلاينې له يو لړ ليدونو او الواکونو سره خپل خوښاوی

ښرګند کړ.

خو دغه نوبنت د ا.خ.د.ګ. له خوا پر ټولو ترسره کېدونکو کارونو باندې دخلکو د بې باورۍ ، دګوندیانو د کارندتیا د پښوالي ، مثبتو پایلو دنه شتوالي او دوخت دله لاسه ورکولو له امله په پر له پسې توګه دنجیب الله له ګوتو نه مخ پر ښوېدلو شو.

د ا.د.ج. حکومت داسې انګېرله چې پخپله دروغی جوړې او پخلاینې اندونه او مفکوره به وکړای شي ټول ملت سره یو موټی کړي، ځکه هغې ربنتیا هم د افغانستان دګڼ شمېر خلکو هیلو ته ځواب وایه. خو خبره پر همدې ځای پای ته نه رسېده ، بلکې دسولې دراوستلو لپاره لا زیاتو هلوځلو ته اړتیا وه. خلکو په حقیقت کې د رژیم دغو سوله خوښوونکو کارونو ته هم چې اوږده کلونه یې یوازې د زور نارې سورې وهلې ، دشک په سترګه کتل او ددولتي واکمنۍ مخالفینو خو پخپل وار ملي روغه جوړه بېدود ا.خ.د.ګ. دکمزورتیا نښه او دبشپړې تسلیمېدنې په لاره کې لومړی ګام ګاڼه.

له همدې امله وه چې دشپږو میاشتوتر تېرېدو وروسته شوروي پوځي کار پوهانو په افغانستان کې د روانو حالاتو او بهیر د شننې پر بنسټ خپلې پایلې په دې توګه وړاندې کړې :« دملي روغې جوړې تګلاره لا تر اوسه هیله منې پایلې له ځان سره نه لري . د ا.د.ج. حکومت له خوا دنوې تګلارې او دیاغیانو پر خلاف د پوځونو له خوا دجګړه ییزو عملیاتو د یو اړخیزې بندېدنې تر اعلان نه وروسته هم دانقلاب ضد په ورانکاریو کې د لیدلو وړ کوم کمښت منځته نه دی راغلی.{....}.

د ا.د.ج. کې دیاغیانو ډلې دپخوا په څېر په اوچته کچه کې دي او د ۱۹۸۷ کال دمې په پای کې یې شمېر ۳۷۸۵ ټولګیو اوډلو یانې ۷، ۱۳۳ زره تنو ته لوړ شو. {....} ددغو ډلو زیاته برخه ( ۷۰ په سلو کې ) په شمال ختیزو ، مرکزي ، ختیزو ، سویل ختیزو اوسویلي سیمو کې راټوله شوې چې د ډلو ډلګیو شمېر یې ۲۵۱۰ او دغړو شمېر یې څه د پاسه ۹۰ زره تنو ته رسېږي

چې دا پههېواد کې دیاغیانو دټول شمېر ۶۷ په سلو کې جوړوي. {...}».
لهبلې خوا دافغانستان اقتصادي حالت هم لا پسې ترینګلی کېده.

## معلومات

### دا.د.ج. داقتصادي حالت په باب

دافغانستان اقتصادي حالت ډېر زیات کړ کېچن دی، {...} دانقلاب ضد ورانکاري او د دفاعي چارو دلګښتونو زیاتېدل دهېواد د اقتصاد پرودې تر ټولو ناوړه اغېزه ښندي. د ۱۹۷۸ کال له اپریل نه په را وروسته پړاو کې یوازې دولتي سکټورته د رسېدلي زیان اندازه ۵۰ ملیارده افغانیو (نږدې یو ملیارد امریکایي ډالرو) ته رسېږي. ځانګړي (خصوصي) سکټور ته داوښتی زیان اندازه خو آن له ۴۵۰ ملیارده افغانیو نه هم ډېره ده (چې په دې ډله کې لهزرو نه زیاتې ورانی شوې صنعتي موسسې، دسوداګرۍ او مخابراتو پروژې، د ۲۷۰۰ په شاوخوا کې نړېدلي ښوونځي، کورونه او نور ګډ دي).

لهبله پلوه دهغو پیسو په اندازه کې چې په همدې پړاو کې دفاعي او امنیتي چارو ته ځانګړې شوې وې ۱۱ ځلې زیاتوالی راغلی او پر ۱۹۸۶ کال یې دهېواد د روانې بودجې دټولو لګښتونو ۶۰ په سلو کې برخه جوړوله. له همدې کبله دولتي بودجه هم په وروستیو کلونو کې تل په منځنۍ توګه له ۱۵ نه تر ۱۶ په سلو کې کنډو (کسر) سره مخامخ وه چې هغه به په کال کې د ۱۱ نیم - ۱۲ ملیارده زیاتي (إضافي) پیسو دچاپولو لهلارې سکښنده او جبران کېده. ددې کار پایله دا شوه چې د ۱۹۸۶ کال په پای کې دې ۹۰ ملیارده افغانۍ (چې د ۱۹۷۸ کـال په پرتله څلور ځلې زیاتې وې) په چلند (دوران) کـې واچول شي چې په دې ډول ملي پیسه په مخ نه نیول کېدونکې توګه بې ارزښته، پولي پړسوب زیات او دمهمو شیانو بیه ډېره لوړه شوه {...}.

دغه راز دسون دمادو او نرڅۍ خبره هم لهستونزو ډکه ده. دا.د.ج. کې د ډېرو سکرو لهشته پنځو کانونو نه ایله دوه یې دګټې اخیستنې وړ دي او دسکرو را ایستنه د ۱۹۷۸ کـال په پرتله چې ۲۱۸ زره ټنه وه اوس ۱۵۰ زره ټنو ته

رالوېدلې ده . دطبيعي غاز د را ايستلو هم هومره خونده نه شته . دساري په توگه پر ۱۹۸٦ كال ټول ټال ٦ , ۲ مليارده متر مكعبه غاز را ايستل شوي {...} دروانو حالاتو شننه او څېړنه په ډاگه كوي چې د ا.خ.د.گ. او د ا.د.ج. حكومت خدايزده كه په نږدې راتلونكي ( يونيم ، دوو كلونو ) كې وكولای شي دهېواد ستونزمن اقتصادي حالت سم او دوگړو دگڼ شمېر د ژوند كچه لوړه كړي او په دې توگه دخلكو زياته برخه خپلې خواته وروا ړوي. .. درېوټ سرچينه : دشوروي اتحاد دبهرنۍ سوداگرۍ د اړيكو وزارت ، كې جي بي اودشوروي اتحاد د دفاع وزارت ، ۱۹۸۷ كال .

خو په افغانستان كې شوروي استازو ډېره هڅه كوله چې اقتصادي ستونزې له منځه لاړې شي او د ملي پخلاينې كړنلاره پر شانه تلونكې بڼه غوره كړي . غواړم په دې اړه يوازې هغو وراندېزونو ته گوته ونيسم چې د ا.د .ج. گې دشوروي اتحاد د سفير اوشوروي استازيتوبونو د مشرانو له خوا د ۱۹۸۷ كال د اپرېل - مې په ترڅ كې وړاندې شوي وو :

د اپرېل ۱۷ مه : دشوروي مشرتابه دېرېكړو دپلي كولو په اړه دشوروي سلاكارانو د ډلو د هڅو او هلو ځلو د بنستيزو اړخونو په باب يويادښت وړاندې شو چې موخه يې د ا.د.ج. كې دشته رژيم ټينگښت اودشوروي پوځونو د وتلو لپاره د شرطونو چمتو كول دي . په دغه يادښت كې په هېواد كې دپېښو دكېدونكې ( احتمالي ) ودې دبېلو بېلو اړخونو په باب يو اوملېك ( طرحه ) او يو لړ څرگندونې او دغه راز دملي روغې جوړې د سياست په رڼا كې په افغانستان كې د دولتي اداري د سيستم په اړه ليدونه اوالواكونه هم وړاندې شوي دي.

د اپرېل ۲۵ مه : پر افغانستان باندې دپاكستان دوسله وال زور په اړه دغه وړانديزونه ترسره شول:

۱- په اسلام آباد كې دشوروي سفير او د ا.د.ج. دشارژدافير له لارې دې دپاكستان اداري ته له افغاني ياغيانو سره مرستو دبندولو او دپاكستان په

خاوره کې د هغوی د اډو دله منځه وړلو په اړه غوښتني ورسول شي.

۲- دپاکستان مشرتابه ته دې گوت ځنډنه وشي چې دا.د.ج. دخاورې له پاسه پرشوروي او افغاني الوتکو باندې د هوايي پوځي ځواکونو بريدونه به يې بدله پرې نښودل شي.

۳- د ياغيانو د اډو دساتنې لپاره د پاکستان د هوايي ځواکونو د کارندتيا په اړه دې په شوروي خپرونو کې زموږ رسمي دريځ د شوروي اتحاد د دفاع وزارت داعلاميې يا دهغه ديوه استازي دمرکې په بڼه خپور شي.

٤- په راتلونکي کې دې دور ته پښتو په اړه د ډله ييزو خپرونو په رسنيو کې بې له ځنډه غبرگون وښودل شي.

٥- دگډې پولې په سيمه کې دې د پاکستان دهوايي پوځ په وړاندې وسله وال غبرگون وښودل شي.

٦- دپاکستان د هوايي پوځ دنويو تېريو په وخت کې دې کله ناکله داسې ځوابيه بريدونه تر سره شي چې دفاعي بڼه ولري او په دې توگه د پاکستاني لوري چلندېې ځوابه پرې نه ښودل شي. {...}.

دمې لسمه: خپلې خوا ته دخلکو د پرگنو درا اړولو او داوسني رژيم او ا.خ.د.گ. دپياوړتيا په موخه دسياسي نوښت د خوځنده کولو په اړه له افغاني لوري نه د لاندينيو گامونو د پورته کولو لپاره دخوښاوي د څرگندولو غوښتنه شوې چې دشوروي استازو په مرسته په گوته شوي دي:

۱- له کينو ديموکراتيکو ډلو ( گوندونو) سره د ا.خ.د.گ. له خوا د گډ بلاک د جوړولو په اړه پرېکړه دې گړندۍ کړای شي. په دغه بلاک کې دگډون لپاره دې هغه گوندونه جوړ او غوره کړای شي چې د زيار کښو بزگرانو دگټو استازيتوب کوي.

۲- د ۱۹۸۷ کال دمې- جون په مياشتو کې دې په جلال آباد کې د اسلامي مخورو يوه سراسري جرگه جوړه او په هغې کې دې دملي روغې جوړې دسياست اسلامي بنستيز آرونه ملي پخلاينې ته د رسېدو د يوه مهم جوړونکي توکي په

توګه ومنل شي . په دغې جرګې کې دې دغه راز دانقلاب ضد په وړاندې د یوه اوښت ( الترناتيف ) په توګه د داسې یوه ځانګړي ګوند د جوړېدو کېدون اعلان شي چې تر ملي - هېواد پالونکو او اسلامي شعارونو لاندې به هاندوهڅه کوي.

۳- د ۱۹۸۷ کال په مې - جون کې دې دا.د.ج. دانقلابي شورا فوق العاده غونډه جوړه شي او په هغې کې دې دملي پخلاینې د سراسري لوړ کمیسیون د وړاندیز له مخې دافغانستان پروګرامي اسلامي جمهوریت، باندې دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت دنوم اړولو په باب پرېکړه وشي . انقلابي شورا دې هم پردولتي شورا واړوله شي.

٤- په ولایتونو او ولسوالیو کې دټلوالیزو ( ائتلافي ) اورګانونو د جوړولو کار ته دې ګرد سره دولتي او سراسري بڼه ورکړ شي.

٥- دا.د.ج. کې دملي مسالې د اوارې په اړه دستونزو څېړنه دې بنه ترا او په غور سره ترسره شي.

٦- د ۱۹۸۷ کال په مې - جون کې دې دا.د.ج. دبنسټیز ( اساسي ) قانون اوملیک د ټولیزې ( عمومي ) څېړنې لپاره خپور شي.

٧- دا.د.ج. دوسله وال پوځ دجګړه ییز چمتووالي او وړتیا د لوړولو په باب ګامونو ته دې په کارنده توګه دوام ورکړ شي.

٨- دملي روغې جوړې له بهیر سره دپخواني پاچا ظاهرخان دکارنده مل کولو لپاره هلوځلو ته دې دوام ورکړ شي.

دټلوالیز حکومت پر جوړولو دې لاس پورې کړای شي او دروان کال د مې - جون په میاشتو کې دې مخالفینو ته وړاندیز وشي چې دا.د.ج. په حکومت کې دغړیتوب لپاره دې خپل ٥-٦ تنه مهم اواغېزمن استازي ور وپېژني . {...}.

درپوټ سرچینه: دا.د.ج. کې دشوروي اتحاد سفارت ،د دولتي امنیت او کورنیو چارو په وزارتونو کې دشوروي اتحاد د استازیتوبونه ،دا.د.ج. کې

دلوی پوځي سلاکار اداره او دشوروي اتحاد د دفاع وزارت اوپراتیفي ډله ، د ۱۹۸۷ کال مې .

دنوې کړنلارې لهلومړنیو پایلو څخه څرګندېږي چې د ا.د.ج. مشرتابه د شوروي استازو اوسلاکارانو پر لارښوونو باندې پهتکیې سرهیو لړ نور زیاتې ګامونهاوتدبیرونه هم ترلاس لاندې نیولي وو.

لهبلې خوا شوروي حکومت هم دوسلو اوجګړهییز تخنیک دنووجوپو دلېږلو لهلارې لهافغانانو سرهخپلو مرستو تهدوام ورکاوه .

**لاسوند (پېټې پټ)**

دا.د.ج. کې شوروي سفیرته لارښووني ( چې دشوروي اتحاد کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د ۱۹۸۷ کال د فبرورۍ د ۱۲ مې په غونډه کې منل شوې دي) .

ځانګړې لمبر - ۱۳۱۱

« ملګري س . ع. کشتمند تهورشئ او {زمونږ} لهخوا پر سپارښتنې باندې پهتکیې سرهورته ووایئ چې په۱۹۸۸ کال کې د ا.د.ج. کورنیو چارو تهد اړتیا وړ مالونو د ورکړې پهباب دا.د.ج. دحکومت غوښتنه پهغور سره وڅېړل شوه . شوروي حکومت دا.د.ج. د کورنیو چارو وزارت د ټولګیو او ډلو ډلګیو دجګړهییز چمتو والي دلوړولو پهنیامت پرېکړه وکړهچې په ۱۹۸۸ کال کې ۱۲۵ ب.ت. ار . ۱۵۲ ډوله زغروال ګاډي ، ٤٥ ب . ار . د . ام ډوله دکشف زغروال ماشینونه ، ٦ د - ۳۰ الف ډوله ۱۲۲ ملي متري توپونه ، ۲۰ (۸۲ ملي متري) هاوانونه ، ۱۷٫۷۵ زرهسپکې وسلې ، ۱۲۸۸ مخابرې ، مهمات او نورشیان چې ټوله بیهیې ۵۲ ملیونه روبله کېږي د ا.د.ج. ته ولېږي {...} . »

خو د ملي پخلاینې دکړنلارې دپلي کېدلو پهبهیر کې ډېر ژر داسې ناوړه او منفي ښکارندو ( پدیدو ) ځان راڅرګند کړچې پهپر لهپسې توګه دهغو د دودې له امله د دغې کړنلارې موخه او منځپانګه ګرد سرهبې ارزښته شوه او له

هغـې نه يې يو پوچ او« تش منځی » شی جـوړ کـړ . دغـې کـړنلارې آن د ا.خ.د. گ. دګڼ شـمـېر غـړو ملاتړهم تر لاسـه نه شـو کړای او هغې ته يې د پرشاتګ ، کمزورتيـا د يوې نښې ،دررژيم دماتې د پيلامې او خپلو ګټو نه دګواښ په سترګه کتل . پخپله افغـان مشـرانو هم ډېر ځلې له ياغيـانو سره مرسته کوله او حکومتي ځواکونه به يې پر ناسمولارو بيول او دا ټول کارونه به يې دملي روغې جوړې په لاره کې هڅې نومولې.

خو ډېرې ورځې په تېرېدو سره جوتېده چې دملي پخلاينې کړنلاره په هغې بڼې چې دشـوروي اتحاد دکـمونيسـت ګوند مـشـرانو وړاندې کـړې وه او د ا. خ.د. ګ. فعالينو پلې کوله بې اغېزې ده او ګټه يې له خپلو نه پرديو (مخالفينو) ته ډېره رسېږي.

**لاسوند ( پټ )**

دشوروي اتحاد دفاع وزير ملګري سترجنرال يازوف د .ف. ته :

رپوټ درکـوم چې ... دملګري ا.ا. شـيـوار دنادزي ترکـتنې وروسـتـه ملګری نجيب الله له نوموړي نه هيله وکړه چې يوځل دې له ملګري لايق سره هم دخـبـرو اترو لپـاره وګـوري . د يادونې وړ ده چې دنجيب الله او لايق تر منځ اړيکي ډېر نېږدې دي . دوی دواړه ډېر ځلې دبېلابېلو مـسـالو دڅېړنې لپـاره پخوا تر دې چې يوه خبره سياسي بيورو يا د دفاع شورا ته وړاندې کړي ، يو وار پخپلو منځو کې سره کېني :

نجيب الله دوروستي يونيم کال په ترڅ کې څو ځلې لايق د ښکاره او برښنډو خبرو اترو لپاره ماته راولېږه چې نوموړی بې له شکه د دغو خبرو اترو د بهير او منځپانګې په باب نجيب الله ته رپوټ ورکوي.

په همدې لړ کې د جنوري پر لسـمـه هم له لايق سره يوه ليدنه کتنه ترسره شوه. په ښکاره خو هغه دګردېز- خوست په سيمه کې د حالاتو دڅېړنې په پلمه راغلی و ،خو په حقيقت کې يې غوښتل چې کابل ته د ا.ا. شـيـوارد نادزي دسفر د پايلو په باب دشوروي استازو له اندوليد نه ځان خبر کړي.

دکتنې په پيل کې مې دهېواد پر ګونډي او دولتي لاستون باندې د ا.ا. شيوارد نادزې دسفر د اغېزو په اړه زموږ دارزونو په باب لايق ته ثرګندونې وکړې. دخبرو په ترڅ کې لايق په دې اړه زموږ له پايلې اخيستنې (نتيجه ګيرۍ) نه ملاتړ څرګند کړ چې افغاني مشرتوب اوس په بشپړه توګه پردې پوه شوی چې له افغانستان نه دشوروي پوځونو د وتلو بهير ډېر ژر پيل کېدونکی دی اوداکار پخپل وار د رژيم او ا. خ.د. ګ. د دريځونو د پياوړي کولو او په هېواد کې دحالاتو دټيکاو او ټينګښت لپاره دغوځو ګامونو د اوچتولو اړتيا رامنځه کوي {...}. هغه ومنله چې په دې اړه بايد لاندې کارونه تر سره شي:

{...} ٥ - ټولې هڅې بايد اتو - نهو مهمو ولايتونو (کابل ،هرات ، کندهار ،پکتيا ،دخوست لويې ولسوالۍ ،ننګرهار ،جوزجان ،بلخ ،کندز) ته اړم او واړول شي او دغه راز دې دافغانستان لويديځ ،سويل او ځه ناځه ختيځ هم په کلکه توګه وساتل شي.

٦- دټولواليز حکومت پر جوړولو دې همدا اوس چې شوروي پوځونه لا په هېواد کې پراته دي لاس پورې شي. له دې امله په کار ده چې يو لړ بې سارې لارې چارې ولټول شي ،داحمد شاه مسعود او جلال الدين {حقاني} په څېر له مهمو ډلمشرانو سره اړيکي ټينګ او له هغوی سره دکار لپاره له ټولو شونتياوو (امکاناتو) نه ګټه واخيستل شي.

{...} لايق له دې ټولو ټکو سره خو بناوی وکړ ،خو په دې اړه يې شک څرګند کړچې احمد شاه {مسعود} او هغه ته ورته کسان خدايزده که {له موږ سره} دخبرو اترو دمېز ترشا کيني (افغاني ملګرو لا تر اوسه ددې کار ورانديز نه دې کړی) ،ځکه هغوی هيله من دي چې د ا.خ.د. ګ. کې د يو والي نشتوالي به پخپله دګوند دله منځه تلو سبب شي او په دې توګه به هغوی ته دواک ترلاسه کول نور هم اسانه شي ...

درپوټ سرچينه : دشوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتيفي ډلې دمشر رپوټ د ١٩٨٨ کال جنوري.

# د « نویو گوندونو » او « ځواکونو »

# دجبهې جوړیدل

د ۱۹۸۷ کال په نومبر کې دغه لاندې گوندونه بنکاره (علني) اودافغانستان جمهوریت دانقلابي شورا د مشرتابه پلاوي (ریسه هیات) دفرمان له مخې راجستر کړای شول:

دافغانستان دزیارکښانو انقلابي سازمان (سازا) ، دافغانستان د زیارکښانو سازمان (سزا) ، دافغانستان دخلکو اسلامي گوند (حاما) ، دافغانستان د بزگرانو علالت گوند (ا.ب.ع.گ.) او داسې نور . {...}

دشوروي اتحاد د دفاع وزارت داوپراتیفي ډلې مشر د پورتنیو گوندونو له ډلې نه څو ځلې دسازا له مشرانو سره لیده کاته او خبرې اترې وکړې . دغه راز له هغوی سره دپوځي ډلودسمبالتیا په برخه کې دوسلو او مهماتو مرستې هم کېدې او گډې همکارۍ ته د ورېللو لپاره ورسره خوځنده او اغېزمن کار پرمخ بیول کېده.

غواړم دلته { دبېلگې په توگه } په دې اړه دشوروي اتحاد دفاع وزیر ته دوراندې شویو رپوټونو له ډلې نه یوازې یوه ته گوته ونیسم.

« د روان کال دمې پر ۱۱ مه مې دسازا (افغانستان د زیارکښانو انقلابي سازمان) له مشرانو ملگرو کوشاني (دپلان جوړول وزیر) ، کاوه (دکانو او صنایعو وزیر) ، او بغلاني (دعدلیې وزیر) سره دهغوی دکلکې غوښتنې له امله وکتل .

دخبرو اترو په پیل کې مې دسازا مشرانو ته دشوروي پوځونو دوتلو په درشل کې دځو ولایتونو (ننگرهار ،کندهار) په ببلگه کې دهېواد د حالاتو په اړه معلومات ورکړل. دغه راز مې له مخالفینو سره په پوره زرورتیا د اړیکو

دتېنګولو اړتيا ، دهغه سازماني زړي (هستې) ايسته غورځولو ته چې دخلکو له ملاتړ نه برخمن نه وي او دولايتونو په مشرتابه کې ديو والي تېنګولو ته ګوته ونيوه.

دسازا مشرانو له دغو ارزونو سره خوښاوي ښرګند او پخپل واريې د هېواد دپوځي - سياسي حالاتو د ودې په اړه خپل ليد هم وړاندې کړ. {...}.

دسازا مشران پر دې باور دي چې د ا.خ.د.ګ. دهېواد په شمالي ولايتونو کې پر يوه رښتينې ځواک باندې دسازا له اوښتلو نه وېره لري او دسازا د وړانديزونو په باب د اړندو پرېکړونيول په لوی لاس ځنډوي. دساري په توګه دافغانستان په شمالي ولايتونو کې دسازا له پلويانو نه د ۹ غونډونو او ۱٤ کنډکونو دجوړېدو په اړه وروستۍ پرېکړه لا تراوسه نه ده نيول شوې. دولايتونو په کچه دکادرونو په ټاکنه کې هم دسازا ګټې په پام کې نه دي نيول شوي.{...}.

دسازا مشرانو دهېواد دولس مشر په توګه له نجيب الله نه خپل ملاتړ ښرګند او ټينګار يې وکړ چې تل به دولس مشر د دريځ دپياوړي کولو په اړه د ملګري ا.ا. شيوارد نادزي له هيلو سره سم چلند کوي. له دې سره جوخت هغوی ښرګنده کړه چې د ا.خ.د.ګ. کې ډلپالنه لا دوام لري او نجيب الله { په دې برخه کې } دهغه ديوې کمزورې ډلې مشري په غاړه لري. د ا.خ.د.ګ. جوړ اوسالم ځواکونه تل له سازا سره خبرې اترې پر مخ بيايي (خو هغوی په دې اړه دکوموکسانو نومونه وانه خيستل).

دسازا مشرانو له افغانستان نه دشوروي پوځونو تروتلو وروسته د هېواد دپوځي - سياسي حالاتو د کېدونکې (احتمالي) ودې په باب خپل ليد او ارزونه وړاندې کړه. دهغوی په اند دهېواد حالات به ډېر زيات کړکېچن شي. ښايي داغېز سيمو دېهلولو پرسر هم ورور وژونکې خونړۍ جګړه پيل شي. له همدې امله بايد له دغه لنډ مهال نه چې دشوروي لښکرو وتلو ته پاتې دی، تروسه وسه د سازا ډلو دپياوړي کولو لپاره د داسې يوه يوازينې ځواک په توګه

ګټه واخیستل شي چې د افغانستان په شمال کې دوګړنۍ واکمنۍ دریځونه خوندي وساتي. {...}

سازایي مشرانو دخبرو اترو په پای کې دسازا او شوروي اتحاد د کمونیست ګوند ترمنځ. دمخامخ اړیکو په ټینګولو ،د سازا د ۲۰ مې کالیزې په ځانګړې او د سازا لپاره دپیسو د ډاډ منو چینو په جوړولو کې دمرستې هیله وکړه. په همدې موخه { یې وغوښتل چې } د سوادګرۍ دیوه شرکت دجوړولو په برخه کې دې مرسته او له هغه سره دې ګټور اړیکي ټینګ کړای شي. دغه راز دې د سازا دخپرني اورګان لپاره هم یو بنسټ جوړ کړای شي.»

دواکمنۍ دټلوالیزو اورګانونو دجوړولو اوخپلې خواته دکینې اړخو ګوندونو او ډلو د راښکون په برخه کې د ا.خ.د.ګ. ګامونو ښایي هغه وخت ډېره ښه رښتیاینه موندلې وای ،که چېرې دغه ګامونه پر زور او دیکتې ولاړنه وای. که څه هم چې د ټلوالۍ په باب ټولې لارښوونې دشوروي اتحاد کمونیست ګوند د ګوندي سلاکارانو له خوا ورکول کېدې ، خو دغه سلاکاران پخپله په دې برخه کې بې واکه او بې تجربې وو ،ځکه هغوی د داسې یوه ګوند استازي وو چې د توتالیتار دولت منځته راوړونکي او ایډیولوګ ګڼل کېدل. نوموړي پخپله نه دولسواکۍ (ډیموکراسۍ) پرتکي پوهېدل او نه یې هم په دې برخه کې د عملي کار کومه تجربه درلوده. برعکس پخپله افغانستان دشوروي اتحاد کمونیست ګوند مشرانو ته دیو ډول ازمونځي او پولیګون بڼه غوره کړې وه.

باید ووایم چې په افغانستان کې خورا اوږده کلونه دشوروي ګوندي سلاکارانو یوه ډله د ا.خ.د.ګ. په اډانه (چوکاټ) کې پر دندې بوخته وه او دشوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې سیاست یې پلی کاوه. دشوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دګوندي سلاکارانو دغې ډلې د ۱۹۷۸ کال له نومبر نه د ۱۹۸۸ کال تر اکتوبر پورې په افغانستان کې دنده سرته رسوله. په دغه پېر کې ټول ټال ۳۱۶ تنه ګوندي سلاکاران او ٤٥ تنه نور هغه دټولنیزو پوهنو (اجتماعي علومو) په انستیتوت کې استادانو او

دځوانانو سازمان دسلاکارانو او ژباړونکو په توګه پر دندې بوخت وو.

سربېره پر دې ب. کارمل او نجیب الله هم دځان لپاره سیاسي سلاکاران درلودل چې د ا.خ.د.ګ. اوږد مهاله او ستراتیژیکه کړنلاره به یې ټاکله او د بېلابېلو غونډو لپاره به یې د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې عمومي منشیانو ته ویناوې جوړولې. {خو له دې ټولو سره سره} واک ته دنجیب الله تر رسېدلو وروسته دګوند په دننه کې خپل منځي جګړه نه یوازې کمزورې نه شوه، بلکې لا پسې توده او چټکه شوه.

د ا.خ.د.ګ. کې ډلپالنه دخلق او پرچم ترمنځ تر سیالۍ نه لوړه وه. دغه مهال پر پخوانیو «دودیزو» ډلو تېپلو سربېره ځینې نوې ډلې هم منځته راغلې چې د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو نږدې دهر غړي پر شاوخوا راټولې شوې او خورا کرغېړنې موخې یې په مخکې ایښې وې. اوس نو هرچېرته ملي لامل او فکتور بنه په زور کې و. دې کار ګوند لا پسې شاړ او لوغړن کړ.

دګوند غړو په ګوندي سازمانونو، ولایتي او ښاري ناحیه یي کمېټو، د ا.خ.د.ګ. په مرکزي کمېټې او دهغې په سیاسي بیورو او دارالانشا کې هم د نجیب الله له کړنو نه په ډاګه خپله ناخوښي ښرګندوله. هغوی نوموړې پر دې تورن کاوه چې «نه شي کولی» دجګړې په راتلونکې پړاو کې د ا.خ.د.ګ. تاکتیک اوستراتیژي «په سمه توګه» وټاکي، دندې په ګډوډ او ناڅرګند ډول په مخکې یوسي، په ګوند کې دچارو دحالت او دګوند د راتلونکي په باب ربښتیا نه وایي او دغه راز د ا.خ.د.ګ. دسیاسي ماتې کندې ته ورټېله کوي.

ددغو ځواکونو په ډله کې د ب. کارمل پلویان، له زندان نه راخوشي شوي امینیان او ځینې نور ډېر کارنده او خوځنده وو. خلقیانو هم چې د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د پېژندل شوي غړي او د ا.خ.د.ګ. د مرکزي کمېټې دمنشي ص.م. زېري پر شاوخوا راټول شوي وو، له کادري سیاست نه په ډاګه خپله ناخوښي ښرګندوله. نوموړي د ۱۹۸۸ کال په مې کې دشوروي

اتحاد کمونیست گوند مرکزي کمېټې ته یو ځانګړی لیک واستاوه چې دغه لیک وروسته د نجیب الله ګوتو ته ورغی.

په داسې شرایطو کې چې د ا.خ.د.ګ. په لیکو کې تربګنیو او غورځو پرځو زور اخیستی و، د امریکا متحدو ایالتونو مخالفو ګوندونو ته د خپلو مرستو لړۍ لا پسې چټکه کړه او په هغو کې یې د لیدلو وړ زیاتوالی راوست.

**مالومات**

پر ۱۹۸۷ کال له افغاني مخالفینو او کډوالو سره بهرنۍ مرستې (په ملیون ډالرو):

| هېواد | مخالفینو ته مخامخ مرسته | له افغاني کډوالو سره مرسته |
|---|---|---|
| - دامریکامتحده ایالتونه | ۷۰۰ | ۱۰۰ |
| - پاکستان | ۲۵ | ۱۰۰ |
| - ایران | ۱۰۰ | - |
| - سعودي عربستان | ۷۵۰ | ۷۵ |
| - نورعربي هېوادونه | ۱۰۰ | ۱۷۰ |
| - لویدیز هېوادونه | ۱۰۰ | ۵۰ |
| - جاپان | ۱۰ | ۱۰ |
| - چین | ۵۰ | ۲۰ |
| - د کډوالو د ملګرو ملتونو سازمان لوړ کمیسار | . | ۷۵ |
| - نور هېوادونه او سازمانونه | ۲۵۰ | ۲۵۰ |
| - ټوله مرسته | ۱۹۸۵ (۲۰۸۵ ژ) | ۸۵۰ |

یادونه : له هغو ۸۵۰ ملیونه ډالرو څخه هم چې کډوالو ته ځانګړي شوي وو ۳۵۰ ملیونه ډالر یې مخالفو سازمانونو ته ورکړل شول چې په دې توګه پر ۱۹۸۷ کال له ۲۸۳۰ (۲۹۳۵) ملیونه ډالرو ټولې بهرنۍ مرستې نه ۲۳۳۰ (۲٤۳۵) ملیونه ډالر د مخالفو ګوندونو د مشرانو په واک کې ورکړل شول.

ACKU

# اووم پارګی

## شوروي پوځونه بېرته خپل هېواد

### ته کډه باروي

د ۱۹۸۸ کال د اپرېل پر اومه په تاشکند کې د م. ګرباچوف او نجیب الله تر منځ له ترسره شویو خبرو اترو وروسته دشوروي اتحاد د فاع وزیر یوه لاربښوونه لاسلیک کړه چې په هغې کې ویل شوي وو : « دافغانستان او پاکستان تر منځ د ژنیو تړون دلاسلیک کېدو په حال کې دې د پوځونو وتل له ټاکل شوي پلان سره سم د ۱۹۸۸ کال دمې له ۱۵ مې نه د ۱۹۸۹ کال دفبروري تر ۱۵ مې پورې په دوو پړاوونو کې ترسره شي ... » البته دغه مهالوېش ترمخه لا د افغانستان لپاره دشوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې د سیاسي بیورو د کمیسیون په غونډه کې منل شوی و . تر دې دمه یانې د ژنیو تړون دلاسلیک کېدو تر مهاله په افغانستان کې د شوروي لښکرو شمېر ۱۰۳۰۰۰ تنو ته

رسېده .

شوروي پوځونه دوتلو دلومړي پړاو په ترڅ کې دافغانستان له دولسو ولايتونو څخه وايستل شول . په دې توگه د ۱۹۸۸ کال د مې له ۱۵ مې‌نه د اگست تر ۱۵ مې پورې ۵۲۰۰۰ تنه پوځيان ( دټولو پوځونو پنځوس په سلوکې ) خپل هېواد ته ستانه شول . خو دنجيب الله په غوښتنه له شمال اولوېديځ نه د پوځونو د وتلو د سيمو په لېست کې ځينې بدلونونه راوستل شول. داسې چې هغه د شينډنډ اوهرات پرځای په وروستی شېبه کې له کندز نه وايستل شول . ولس مشر دغه‌راز ټينگار کاوه چې په کندهار کې بايد څه ناڅه شوروي پوځونه پرېښودل شي. خو که چېرې دا کار شوی وای نو مونږ به اړ وای چې په کابل کې په پرتو پوځونو کې موزيات کمښت راوستی وای . دغه‌راز په کندهار کې پاتې شوي ټولگي به موهم له ډېر ناوړه حالت سره مخامخ کړي او هلته به مو د کړکېچ يوه چينه جوړه کړې وای . له همدې امله وه چې جنرال و . ورينيکوف له دې کار سره مخالفت وکړ.

له‌بله پلوه پخپله دژنيو تړون هم د درې واړو گډون کوونکو ( شوروي اتحاد ،متحده ايالتونو او پاکستان ) لورو له‌خوا گډوډ او ناخرگند چمتو شوی و. په دې مانا چې هر ځل او هرچاکولی شو هغه په هره بڼه او له‌خپلې خوښې سره سم واړوي اوتعبير يې کړي. دساري په توگه د واشنگټن او اسلام آباد په ليد ،مسکو په { دغو ژمنليکونو کې } په نامخامخ توگه دکابل له تسلېمېدلو سره خپله خوښه ښرگنده کړې وه . خو دمسکو له‌ليد ټکي ( نقطه‌نظر ) سره سم په‌هغو کې « داسې يوه خبره په‌هېڅ بڼه او هېچېر ته‌هم نه‌وه راغلې ».

امريکايان په‌دې ډاډه ووچې شوروي اتحاد به‌هېڅکله دا کارونه کړي چې خپل پوځونه په‌افغانستان جمهوريت کې پرېږدي .ځکه دشوروي په گټه وه چې خپل پوځونه پر ټاکلي وخت له افغانستان نه‌وباسي . او دالومړي ځل وچې لوېديځ د وروستيو کلونو په‌ترڅ کې دشوروي اتحاد په‌وړاندې دا ډول له سپکاوي نه ډک چلند خپل کړی و . ښکاره وچې امريکايان نور د شوروي

مشرانو پرغړندوالي او کمزورتیااو دغه راز پر له پسې يو اړخيزوتېريدونوته دهغوی پر چمتو والي باوري شوي وو.

که څه هم هغه مهال دسوسياليستي بلاک او شوروي اتحاد د له منځه تلو او ړنگېدو په باب څه ويل يوه تر وختــه وړاندې خبره وه ، خو بيا هم لويديزو شنونکو په دې اړه داسې وړاندوينه ( پيشگويي) کوله : « روسان غواړي چې دافغانستان راتلونکې مخکې تر مخکې وټاکي ، په دې مانا هغه څه چې هغوی دوسلې په زور ونه شوکړای ، هغه له سياسي لارو چارو ترلاسه کړي . له بلې خوا مسکو هڅه کوي چې په افغانستان کې خپله « کمزورتيا » پټه کړي ځکه ، لکه څنگه چې شوروي مشران اندېښنه لري ، دغه کمزورتيا کولی شي دننه په شوروي اتحاد کې قامي او توکميز بېلتون غوښتونکي راولمسوي او دغه راز دختيزې اروپا هېوادونه دې ته وهڅوي چې له مسکو نه دلاډېرې خپلواکۍ تگلاره غوره کړي . . » (١).

دافغانستان دچارو يوه بل پېژندل شوی لويديز کارپوه ج. يانسن تينگار کاوه چې : « گومان کېږي د شوروي پوځونو دوتلو عواقب به دمخالف اړخ يانې افغاني مجاهدينو ، پاکستانيانو او امريکايانو لپاره دومره وېرونکي اوزړه بوږنونکي وي چې په افغانستان کې د روسيې د سياست له ماتې نه به هم څو ځلې زيات وي ، آن تر دې چې کېدای شي پخپله دغه ماتې تر خپل سيوري لاندې روالي.

دژنيو دخبرو اترو په پای کې ببخي په ډاگه شوه چې روسان دهېڅ ډول شرطونو له وړاندې کولو پرته چمتو دي { چې افغانستان پرېږدي } . په دې توگه نو په پوره ډاډ سره ويلی شم چې کريملن نور دبرژنف له هغو دوکتورينونه لاس اخيستی ، چې دهغو له مخې هر هغه هېواد چې دکمونيزم لاره يې خپله

(1) Hughes John Sticking by Friends / the Christian Science Monitor. 1988 March 18.

کړې وي او په تېره بیا چې له شوروي اتحاد سره ګډه پوله ولري ،نو هغه باید هرو مرو کمونیست پاتې شي.{...} په هرحال ، دشوروي لښکرو وتل به په کلک ګومان دغه عواقب په ځان پسې ولري :

- دکابل حکومت اومجاهدینو تر منځ به اوږدې پوځي نښتې روانې وي ،

- له دې سره جوخت به دافغانستان دننه اوآن دکډوالو په مېشت غالو کې هم دمجاهدینو دبېلو بېلو ډلو تر منځ اوږدې اولا ډېرې خونړۍ جګړې دوام ولري،

- که چېرې مجاهدین بریالي او په کابل کې داسلامي بنسټ پالونکو یو رژیم جوړ هم کړي ،نو دا به شوروي اتحاد ته خولا پرېږده چې پخپله ټولو هغو هېوادونو لکه پاکستان ،امریکا او آن سعودي عربستان ته هم چې د مجاهدینو ملاتړ یې کاوه یوه لویه بلا اوکړاو وي .... » (۱).

بل شنونکي نایک دنزیګر په دې اړه بیا دا پوښتنه رامنځته کوله چې « آیا متحدو ایالتونو ربښتیا هم پتېیلې چې {دکابل} حکومت رانسکور او هلته مجاهدین بریالي شي ؟ ځکه که چېرې دا کار ترسره شي ،نو امریکایان به له هماغسې ګواښ سره مخامخ وي ، چې شوراګانې ( شوروي اتحاد ،ژ.) پرافغانستان ورننوتې و ، یانې دمخالفو ځواکونو برې به دبنسټ پالو د داسې ځواکمنو ډلو د برې مانا ولري چې ځینې یې لکه څومره چې له شوروي اتحاد نه کرکه لري ،امریکایي هم هماغومره بده ایسي .... » {...}

په همدې ترڅ کې مخالفینو وکړای شول چې دهېواد په شمال کې کندز ( د لنډوخت لپاره ) اوخان آباد ،تالقان اوبامیان لاندې کړي چې دهغوی دغه پوځي بریالیتوبونه دافغان مشرانو لپاره یوه بشپړه فاځاپي خبره وه . خو په پورتنیو ټولو حالاتو کې دحکومتي ځواکونو دماتې لامل دهغوی دټینګاو

---

(1) Jansen G. Adire Outlook// Middle East International. 1988 April 16 p. 12.

دکچې تیتوالی ، خیانت او مجاهدینو ته دځینو تولګیو ور اوښتل وو.

رپوټ ( پټ)

...{ ...} دښمن دافغانستان جمهوریت مشرانو ته ستر رواني - سیاسي او مالي زیان واړاوه خو دیاغیانو کړنې هم چې هتې یې چور ، دولتي اداري او موسسې یې تالان ، ډېر زیاتې مادي شتمنی یې لوټ او یوه زیاته اندازه پوځي لوښي لرګي ( سامان آلې) یې له ځانه سره یوړل او دغه راز د ۲۰۰ په شاوخوا کې نجوني یې هم وتښتولې دکندز داوسېدونکو دژوري کرکې اوکينې سبب ګرځېدلي دي. اشرارو ددې لپاره چې دخپلو کړغېړنو کړنو پرده پر حکومتي ځواکونو ور واچوي نو دنیول شویو ښاروندویانو پر یوې ډلې یې خپل سرې محکمه جوړه ، هغوی یې دهټیو پر لوټ وتالان تورن او وروسته یې دخلکو په مخکې دهغوی لاسونه پرې کړل.{....}

درپوټ سرچینه : د ۴۰ اردو درستیز توب ، کابل د ۱۹۸۸ کال اګست .

# له مخالفینو سره ستونزمنې خبرې اترې

دسباورځې دمسوولیت په پام کې لرلو سره (؟) مخالفینو نه غوښتل چې بې له ځنډه د واک واګې ترلاسه کړي ، بلکې غوره یې ګڼله چې له افغانستان نه دشوروي پوځونو تر بشپړ وتلو نه وروسته پړاو ته ځانونه چمتو کړي . له همدې امله کورنیو ډلمشرانو ته ویل شوي وو چې هېواد ته دستنېدو په لاره کې دې ۴۰ اردو ته خنډونه نه جوړوي.

په همدې شان حالاتو کې وه چې افغاني مشرانو له مخالفینو سره د اړیکو ټینګولو په موخه خپلو هڅو ته لا زور ورکړ. په دې ترڅ کې دهېواد ولس مشر ته ددې کېدون په لاس ورغی چې دمخالفینو له یو شمېر پېژندل شویو مشرانو لکه ب. رباني او سید احمد ګیلاني سره اړیکې ټینګ ، له ګ. حکمتیار سره پټ اړیکې لا پسې ژور او دافغانستان له پخواني پاچا ظاهر خان سره هم په

خبرو اترو کې څه ناڅه پر مختګ وکړي. په پای کې شوروي رسمي ډیپلوماتان هم له دغه بهیر سره جوګه شول او د « اوه ګوني تلوالې » له څینو استازو سره یې ګڼ شمېر لیدني کتني او خبرې اترې ترسره کړې.

سره له دې چې ددې کار لپاره ور شرایط منځته راغلي وو او شوروي پوځي ښکارګرو، آن پر ۱۹۸٦ کال د « اوه ګوني تلوالې » له یوه مشر سره نا رسمي اړیکي ټینګ کړي وو خو له بده مرغه پخوا له دغه شان اړیکو نه ګټه نه اخیستل کېده.

په دې لړ کې « د دویمې کچې » له یو شمېر داسې اغېزمنو ډلمشران لکه احمدشاه مسعود ، تورن اسماعیل ،جلال الدین ، سیدجګړن او عبدالبصیر سره خبرو اترو چې د دینې مخورو له خوا ورسره اړیکي نیول کېدل ډېر ارزښت درلود .

دافغانستان په جمهوریت کې شوروي پوځي سلاکارانو او استازو په دې برخه کې ، په تېره له مخالفینو سره داړیکو ټینګولو او خبرو اترو د پرمخ بیولو د لومړي پړاو دزمینې په برابرولو کې له افغاني لوري سره پرېکنده مرسته کوله.

ددغې مرستې یوه بېلګه داوه چې کورنیو ډلمشرانو ( قوماندانانو ) ته به یو لړ پوښتنې استول کېدې او په هغو کې به دنوموړو تر ولکې لاندې سیمو کې دسولې د راوستلو په اړه د یو لړ شرطونو د څېړلو وړاندیز کېده . دېېلګې په توګه داشان پوښتنې د نوامبر په میاشت کې جلال الدین حقاني ته هم واستول شوې .

لیک

« څېړلو وړ پوښتنې :

۱- دجمهوریت په اډانه کې دافغانستان په سوېل ختیځ کې د پښتنو قبایلو دخپلواکۍ د په رسمیت پېژندلو او له مرکزي واکمنۍ سره دهغوی د دوه اړخیزو اړیکو د آرونو ( اصولو ) په باب .

۲- د هېواد او ختیزو ولایتونو په سشرتابه لکه ملي شورا او حکومت کې جلال الدین او پښتنو قبایلو ته داستازیتوب د ورکړې په اړه .

۳- دافغانستان اسلامي گوند (خالص) د کارندتیا دقانوني کولو اود افغانستان دیوه خپلواک او قانوني گوند په توگه دهغه د راجستر کولو په باب.

٤- دپکتیا او پکتیکا ولایتونو او دخوست دلویې ولسوالۍ له خلکو سره دواکمنۍ دمرکزي اورگانونو له خوا د اقتصادي مرستو دسرته رسېدلو په اړه.

٥- په پورته یادو شوو ولایتونو کې داوربند اودکابل - گردېز - خوست دلارې د پرانیستلو په باب. دغه راز پر دغې لارې دموټروتگ راتگ ته داجازې ورکولو او دسیمې دقبایلي ځواکونو له خوا د هغې دساتنې په اړه.

٦- دافغانستان جمهوریت د وسله وال پوځ له خوا دقبایلو له پوځي ډلو سره دتخنیک، وسلو او مهماتو په برخه کې دپوځي مرستې په باب.

زما له خوا په درلېږل شویو پوښتنو باندې په افغانستان کې شوروي سفیر ورنځوف یو. م. او جنرال ورینیکوف و. اي. خبر دي او هغوی هم پخپل وار په دې اړه دهېواد له مشرانو سره خبرې اترې کړې دي. مشاور»

په دې توگه د دولتي واکمنۍ له خوا له مخالفینو سره د اړیکو ټینگېدلو او خبرواترو تر سره کېدلو ته خورا ښې شونتیاوې په مخکې پرتې وې. سربېره پردې شوروي مشرتابه هم د اروه گونې ټلوالې دمخالفو گوندونو له مشرانو سره داړیکو ټینگولو، له هغوی سره دخبرو اترو د ترسره کولو او دغه راز له د ا.خ.د.گ. سره مخامخ خبرو ته دهغوی دهڅولو په لار کې خپلې هڅې اوهلې ځلې لا پسې چټکې کړې.

ددې کار د پر مخ بیولو لپاره په بېلابېلو کچو دملي روغې جوړې نږدې ۱۵۰ کمیسیونونه جوړ شول. آن له احمد شاه مسعود سره دنجیب الله دکتنې د ترسره کېدو په اړه پوښتنې هم تر لاس لاندې نېول شوې وې (شوروي استازو تر مخه لا په دې اړه له مسعود سره اړیکې نیولې اواړونده خبرې اترې ترسره کړې وې). خو داچې دافغانستان اسلامي جمعیت - پنجشېر د ډلې مشر به په ډېره لوړه کچه د اړیکو ټینگولو او ودې ته زړه ښه کړي که نه، په دې اړه کوم داډمن ضمانتونه نه وو، ځکه مسعود دافغان مشرانو دنیت رښتینوالي ته چې

پخپلو مخامخ لاسوهنو يې ترمخه هم شوڅلي د پيل شوو رغنده خبرو اترو لړۍ شلولې وه ، دشک په سترګه کتل.

خو په هرات کې له سيد احمد ، په بغلان کې له سيد کيان [ سيد منصور نادري ،ژ.] او په تخار کې دسازا له لارې له صمد سره دافغانستان جمهوريت د مشرتابه اړيکي په برياليتوب سره د ودې په حال کې وو. ناڅاپي نه وه چې له افغانستان نه د شوروي لږشمېر پوځي ټولګيو دوتلو له پيل سره سم يو شمېر کورنيو ډلمشرانو سترګې په لار دريغ غوره او د شوروي او حکومتي پوځونو پر خلاف يې وسله والې نښتې په ټپه ودرولې. په دې توګه دشوروي قوماندانانو او دولتي اورګانونو له خوا دمخالفينو دوسله والو ډلو ډېرو اغيزمنو مشرانو سره تر سره شوو خبرو اترو دهېواد په بېلو بېلو سيمو کې دحالاتو په ښه کېدو کې مهم رول ولوباوه. ددې تر څنګه شوروي پوځي قوماندانۍ دمخالفينو په ليکو کې ټول بدلونونه تر څار لاندې نيولي وو اودهغو په اړه به يې ورنده (مناسبې) لارې چارې سنجولې.

**معلومات ( پټ)**

# دافغانستان په خاوره کې انقلاب ضد ځواکونه

دمخالفينو دهغو وسله والو ډلو شمېر چې دافغانستان جمهوريت په خاوره کې جنګېږي خورا زيات دی. اوس دياغيانو د ډلو ټول شمېر ٤٥٣٠ ته رسېږي چې ١٧٣ زره تنه په کې را ټول شوي ،خو له دې ډلې نه ١٩٢٠ ټولګي چې ٨٢،٣ زره ياغيان لري تر ټولو زيات کارنده دي. [...]

همدا اوس افغاني انقلاب ضد ٦٢ غونډونه جوړ کړي چې له هغې ډلې نه ٢٢ يې د پاکستان په خاوره او پاتې يې د پاکستان پولې ته څېرمه په سرحدي

سيمو (لكه كندهار ، پکتیا ، پکتیکا ، ننگرهار ، کونړ ، زابل) او ځينو نورو ولايتونو (هرات او بغلان) کې پراته دي. هره انقلاب ضد ډله دځان لپاره جلاغونډونه لري. دساري په توګه دافغانستان اسلامي ګوند ۴۰ غونډه او دافغانستان اسلامي جمعيت ۱۴ غونډونه لري.{...}

دشوروي پوځونو د وتلو دبهير له پيل نه را په دېخوا اوس د دولتي واکمنۍ تر ولکې لاندې سيمو لمنه مخ پر تنګېدو ده ، داسې چې دباميانو ، پکتيکا او کونړ ولايتونه په بشپړه توګه داشرارو تر ولکې لاندې راغلي دي . دغه راز دولتي واکمني اوس {دهېواد} له ټولو ۳۰۱۹۱ کليو نه يوازې د ۸۵۰۰ (۲۸ په سلو کې) په شاوخوا کې کلي ، ۲۲ ولايتي مرکزونه او دخوست ښار له ۲۹۰ ولسواليو او علاقه داريو څخه ۳۹ ولسوالۍ او علاقه دارۍ او د ۹۱ ولسواليو او علاقه داريو يو لړ مرکزونه تر خپلې ولکې لاندې لري. ولسواليو او سېمه واليو څخه ۳۹ ولسوالۍ او علاقه داريو او د ۹۱ ولسواليو او سيمه واليو يوازې مرکزونه تر خپلې ولکې لاندې لري.

درېوېم سرچينه : دافغانستان جمهوريت د دولتي امنيت وزارت ، دافغانستان جمهوريت دوسله وال پوځ د ستر درستيز دکشف پاسوالي ، د ۴۰ اردو درستيز ؛ دشوروي اتحاد کې جي بي او د شوروي اتحاد د وسله ولو پوځونو دستر درستيز دکشف لويه پاسوالي ، کابل د ۱۹۸۸ کال نومبر .

خو له دې ټولو خبرو سره سره هغه کورني اختلافونه او تريګنۍ چې دېخوا په ښېر يې د ګوندي او دولتي لاستون ستنې لړزولې دنجيب الله درژيم لپاره تر ټولو ستر ګواښ ګڼل کېده . ډلپالې (فرکسيوني) جګړې دشوروي پوځونو له وتلو سره ګام پر ګام (دواکمنۍ) په ټولو کچو کې زور اخيست . له بلې خوا هغې دودې په حال کې شخړې چې بنسټ يې پر توکميزو ستونزو ولاړ و دافغاني ټولنې په ښېر په ګوند کې هم له ټول ځواک سره سر راپورته کاوه . ددغې شخړې ستېه اوبنسټ په هغې پښتني لوړتيا غوښتنې کې ښخ و چې ريښې يې ګوند ته هم ورغځېدلې وې . کله چې تر مخه د ن.م. تره کي او په تېره ح. امين

په‌واکمنی کې د خلقیانو ډلې د پښتني کولو تګ لاره خپله کړې وه ،نو واک ته د نجیب الله تر رسېدلو وروسته په پرچم کې هم د ګوندي ،دولتي او پوځي مشرتابه د پښتني کولو کړون ( میلان) سر را پورته کړ.

دساري په توګه د ا.خ.د.ګ. د مرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د اصلي او نوماندو غړو ،وزیرانو شورا د غړو ،لوړ پوړو افسرانو ،جنرالانو او ... دلیدلو وړ اکثریت پښتانه‌وو ، همدا خبره دملي لږه‌کیو دهغو استازو چې دوسله وال پوځ په ښکتني او منځني پوړ کې یې د پوځیانو اکثریت جوړاوه داحتجاج او مخالفت سبب وګرځېده.

له‌بلې خوا د ا.خ.د.ګ. کې پر نورو ډلو تپلو سربېره د قامي ډلو تر منځ هم د مشرتابه او واکمنۍ پرسر جګړې زور واخیست . د داشان ډلو دشته والي په‌باب‌چې د نجیب الله ، کشتمند ،نور ،رفیع ،وکیل ،زېري ، لایق ، ګلابزوی ، تني ، کاویاني ،علومي او کاروال پر شاو خوا را ټول شوې وې ،هغه‌مهال سم سیده رپوټونه را رسېدل . دغو کسانو په‌دې موخه او اړه پخپلې کارندتیا کې دمخالفینو په‌ګډون د وګړو پر ښېلو ښېلو پاړکو او ډلو باندې تکیه کوله ، چې دې جګړې بې له‌شکه دګوند او وسله‌وال پوځ د پاشل کېدو . بهیر لا پسې چټک کاوه .

له‌بلې خوا د دولتي امنیت له‌ځانګړي ( خاص) ګارډ سره دولس مشر زیاته مینه‌هم داردو اوځارندوی دخلقي قوماندانانو د ناخوښۍ وړ ګرځېده . دا خبره له‌هېچا نه پټه نه‌وه‌چې نجیب الله تر ډېره ځایه‌د دولتي امنیت پر وزارت تکیه کوله‌او پراردو او ځارندوی یې باور نه درلود. داسې ګومان کېده چې ولس مشر ګنې داردو له‌پیاوړتیا نه وېره‌لري ،او دا په‌داسې حال کې چې نوموړی پر دې ښه پوهېده چې له‌اردو نه‌پرته د پوځي - سیاسي ستونزو اواری ناشونی دی.

له کابل نه رپوټ ( پټ)

دافغانستان جمهوریت د وسله‌وال پوځ دحالت په‌باب

په اوس وخت کې {دافغانستان} دوسله وال پوځ ټول شمېر چې له درې ډوله ځواکونو نه جوړ شوی د ۳۰۰ زره تنو په شاوخوا کې دی. په دې توګه چې د دفاع وزارت یې ۱۳۲ زره تنه، دکورنیو چارو وزارت یې ۱۰۰ زره، د دولتي امنیت هغه یې د ۸۰ زره تنو په شاوخوا کې او ځانګړې ګارډ یې ۱۱ نیم زره پوځیان لري. د وسله وال پوځ ټول دغه ډولونه په نوو او اوسمهالو (مډرنو) وسلو سمبال دي. {...}

... په ټولیزه توګه ویلی شو چې دافغانستان جمهوریت وسله وال ځواکونه پر ټولو اړتیا وړ شیانو بسیادي او که وغواړي، نو ددې وس لري چې د دیموکراتیک رژیم ساتنه وکړي...

ن.ایګوریچوف، و. ورینیکوف، و. زایخوف، م. سوشکوف، و. ایګوروف، د ۱۹۸۸ کال سپتمبر.

خو د وسله وال پوځ د درېو ډولونو جوړولو دولتي واکمني نه پیاوړې کوله، بلکې دا یو داسې سیاست وچې موخه یې په هېواد کې دناوړه حالاتو دمنځته راتلو پروخت پخپله د نجیب الله دامنیت سمبالول وو. ناشاپې نه وه چې نوموړي او د اردو کورنیو چارو وزارت دټولګیو په مرسته دکابل امنیت دلا پیاوړې کېدلو او دکابل ګارنیزیون دمشر دپلازمېنې دامنیت دمسول په توګه دکورنیو چارو دوزیر س.م. ګلابزوی د ټاکلو په باب دشوروي پوځیانو د وړاندیز په اړه پیکه اوغبرګون څرګند کړ. ددې پر ځای ولس مشر په بېړې سره دګارډ جوړولو ته چې باید پخپله دده او دولتي امنیت د وزیر تر ولکې او اغېزې لاندې وي، متې راونغاړلې. په لومړي سر کې هغه وویل چې دپلازمېنې دګارنیزیون مشري دی پخپله په غاړه اخلي، خو وروسته یې دځانګړي ګارډ قوماندان پر دغې څوکۍ وګماره. نوموړي دغه راز په کابل کې داردو د ځواکونو په کمزوري کولو هم پیل وکړ او لکه چې وروسته پر ۱۹۹۰ کال کې دش. تني د بغاوت پر وخت څرګنده شوه، نجیب الله دغه ګام په ډېره هوښیارۍ او وړاندلیدنې سره پوره ته کړی و.

... دروان کال پر اگست پر ۸ مه د سرقومانداني واریزه ( نوبتي ) غونډه جوړه شوه چې په هغې کې د هېواد په ټولو ولایتونو کې د پوځي - سیاسي او پراتیفي حالت پرڅېړلو ، دځینو پرېکړو پرنیولو او اړونده لارښوونو پر ورکولو سربېره نور دري ډېر مهم ټکي هم تر غور لاندې ونیول شول. . .

دریم : دکابل ښار دامنیت دلا پیاوړتیا په باب:

په دې اړه د کابل ښار د دفاع دلا پیاوړي کېدو لپاره دیولړ زیاتي ګامونو د اوچتولو خبره تر څېړنې لاندې ونیول شوه . له نجیب الله سره په دې اړه تر مخه یو لړ اوږدې خبرې اترې ترسره شوې وې . له ترلاسه شوي ژمنې سره سم د شوروي اتحاد د دفاع وزارت او پراتیفي ډلې « د پلازمېنې د اوسېدونکو دامنیت دسمبالولو او دکابل د دفاع او ساتنې دلا ښه کېدلو لپاره دځنډ نه منونکو تدبیرونو په باب » دافغانستان جمهوریت وسله وال پوځ د سرقوماندان د لارښوونې یو اوملیک چمتو کړ چې هغه دزیات غور لپاره د دفاع ، کورنیو چارو او دولتي امنیت وزیرانو ته واستول شو.

په دغه اوملیک کې تاکل شوې وه چې پخپله دولس مشر تر مشرۍ لاندې دې دکابل لپاره یو ګډه درستیز والي ( قرارګاه) جوړه او دکورنیو چارو وزیر ډګرجنرال ګلابزوی دې دهغه دلومړي مرستیال اود کابل ګارنیزیون قوماندان په توګه وټاکل شي. دغه راز دې دکابل ټول ځواکونه او وسیلې ، دکورنیو چارو وزارت د فرقې جوړښت ( تشکیل) او یو لړ نور ځواکونه هم چې له هغو نه ګټه اخیستل دکابل د دفاع اوساتنې له ښه کېدو او پیاوړتیا سره مرسته وکړای شي ، دنوموړي تر اوپراتیفي قومانداني لاندې راواستل شي .

خو د غور او څېړنې په بهیر کې په اوملیک کې ځینې منځته راغلي بدلونونه او زیاتونې د نجیب الله له خوا له خورا کلک منفي غبرګون سره مخامخ شوې . ولس مشر دکابل ګارنیزیون د قوماندان په توګه د ډګر جنرال ګلابزوی د ټاکنې اود هغه تر اوپراتیفي قومانداني لاندې دځانګړي ګارډ په ګډون په پلازمېنې

کې دتېلو پرتو پوځونو اوتېولګيو دراوستلو په وړاندې کلک مخالفت ښرګند کړ. نوموړي زياته کړه چې ګلابزوی غواړي {په کابل کې} يو دومره ستر{پوځي} لاستون ( دستګاه) جوړ کړي چې هغه ته ګرد سره اړتيا نه شته. نجيب الله دغه راز ښرګنده کړه چې دګارنيزيون دقوماندان دنده دی پخپله په غاړه اخلي. هغه وړانديز کوي چې دګرجنرالان ګلابزوی، تني او يعقوبي دخپلو مرستيالانو په توګه وټاکي.

په دې اړه چې د پورته ياد وشويو دندو ترسره کېدل به دکابل د دفاع او ساتنې داډ منتيا لا پسې لوړه کړي، دګلابزوی له ټولو دليلونو سره سره، نجيب الله له خپلې خبرې نه وانه وښت او ګلابزوی يې پخپل موتي کې دټولو ځواکونو اووسيلو د راټولولو پرهڅې ناتوان کړ.

دسرقوماندانۍ په غونډه کې دغه منځته راغلې شخړه يوځل بيا د ا.خ.د.ګ. د خلقيانو د اړخ پريوه مشرباندې دولس مشر د بې باورۍ او دهغه داغېزې او واک د راتنګولو په لاره کې دهڅې ښرګندونه کوي. ..

درپوټ سرچينه: دافغانستان په جمهوريت کې دشوروي اتحاد د دفاع وزارت او پراتيفي ډله، کابل، د ۱۹۸۸ کال اګست.

خو کله چې کړکېچ اوتاوتريخوالي پرهېواد، او بې زړه توب دګوندي دولتي لاستون پر يوې برخې خپل وزرونه غوړولي وو، نجيب الله له ځانه ټاکلی نرمښت او کلکوالی وښود. هغه وکړای شول چې د دفاع د وزير په توګه د شهنواز تني د ټاکلو اويوشمېر خلقيانو ته د جنرالۍ د پوړيو (رتبو) د ورکولو له لارې په ډېر ور مهال يو ښه مانور ترسره او ديوه څه وخت لپاره دګوند او دولت په مشرتابه کې حالات ټينګ کړي. خو داټول هسې سرسري ګامونه وو او هغو نه شوکولی په پوځ او ګوند کې د ډلپالنې ستونزه له منځه يوسي.

سره له دې چې د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې د ۱۹۸۸ کال د اکتوبر په پلينوم کې له کړکېچ نه دوتلو لپاره ځينې ګامونه پورته، په ګوندي، دولتي لاستون کې يو شمېر کادري ټاکنې اوبدلونونه رامنځته او په هېواد او ګوند

کې دحالاتو دښه کېدو په موخه یو لړ کلک تدبیرونه ونیول شول ، دساري په توګه زبری او رزمجو د ا.خ.د.ګ. د مرکزي کمېټې دسیاسي بیورو له غړیتوب نه واېستل شول . خو دغه ګام د بېلابېلو ځواکونو له لوري دول دول غبرګون سره مخامخ شو. آن تردې چې له پلینوم نه وروسته دې اندېښنې سر راپورته کړ چې که څه هم دمرکزي کمېټې غړو په سیاسي بیورو کې له اختلاف سره سره د ۱۹۸۸ کال د اکتوبر پر ۱۹ مه د رایو په ډېرښت له ولس مشر نه خپل ملاتړ څرګند کړ ، خود شهنواز تنې ، سید محمدګلابزوی ، ن. علومي ( د دویمې قول اردو قوماندان) ،ع. قادر ( د هوايي پوځي اوهوايي ساتنې قوماندان) او نورو په څېره کې د پوځي وزارتونو مشرتوب اود غه راز د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو غړی اودمرکزي کمېټې منشي میر صاحب کاروال هم دجوړښتیا یي ( تشکیلاتي) مسئلې دخپلو یانې له خپلو ځوکیو نه د زبري او رزمجو د لرې کولو له امله درایې ورکولو په ترڅ کې دنجیب الله په مخالفه لیکه کې ودرېد.

که څه هم نجیب الله ته نږدې ګوندیان په سیاسي بیورو کې دولس مشر دمخالفینو پرشته والي تر مخه لا شکمن وو ، خو د کاروال ،تنې او ګلابزوی تر منځ د پرله پسې اړیکو پرشتوالي باندې په پوهېدو سره دشوروي پوځونو تر وتلو .وروسته دهېواد د برخلیک په اړه دهغوی اندېښنه لا زیاته شوه . نومړو څرګندوله چې په روان حالت کې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو دمشرتابه دپیاوړتیا لپاره د لا غوڅو ګامونو پورته کولو ته اړتیا ده.

**لاسوند ( پټ)**

سترجنرال ملګري ورینیکوف و . اي. ته :

رپوټ درکوم چې . . . ستاسې له لارښوونې سره سم مې پر ۱۹۸۸-۱۰-۲۲ مه د دفاع له وزیر ډګرجنرال شهنواز تنې اود اردو دسیاسي چارو له لوی پاسوال ( رئیس) برید جنرال زیارمل سره وکتل . له دغو کتنو نه زما موخه د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې د ۲۶ پلینوم د پایلو په باب چې دروان کال د

اکتوبر پر ۱۹ مه‌جوړ شو د افغانستان جمهوریت د دفاع وزارت د مشرتابه د لید او دریځ معلومول و.

د ګرجنرال شهنواز تني د خپلو ارزونو په وړاندې کولو کې خورا ډېر احتیاط کاوه او له کلکو پوښتنو نه یې ځان پر څنګ تېراوه. هغه وویل چې دی دسیاسي چارو دلویې پاسوالۍ (ریاست) د مشر له لید او ارزونو سره په بشپړه توګه خوښ‌اوی لري او لاربښوونه یې وکړه چې له هغه سره یوځل وګورم. تني دخبرو اترو په ترځ کې ومنله چې له سیاسي بیورو نه د زېري او ظهور {رزمجو} دایستلو په اړه یې مخالفه‌رایه‌ورکړه، ځکه د هغوی پر خلاف وړاندې شوي دلیلونه ده ته د منلو وړ نه وو. تني زیاته کړه چې: «موږ په سیاسي بیورو کې ځیني غړي لرو لکه کشتمند او د اسې نور چې هېڅ کار نه کوي او هسې خوشې یې ویاړن (اعزازي) ځایونه او څوکۍ نیولي دي، خو نه پوهېږم موږ ولې دهغوی په باب څه نه وایو.» د ظهور په باب یې وویل چې موږ نیم کال ترمخه لومړی هغه د سیاسي بیورو نوماند او وروسته د هغې بشپړ غړیتوب ته راجګ کړ او ډېر ځوان او له ځواکه ډک کادر دی، خو اوس موږ نوموړی یوازې له دې امله وباسو چې د چانه خوښېږي (دحیرانتیا وړ ده چې خلقي شهنواز د پرچمي ظهور په باب اندېښنه څرګندوي).

{...} د کابل - حیرتان دلویې لارې دساتنې په اړه هغه څرګنده کړه چې دحکومت له خوا {په دې برخه کې} نیول شوي تدبیرونه د پوځونو د کمزورتیا له امله دېخوا په څېر نه شي کولی هیلهمنې پایلې (نتیجې) په ځان پسې ولري.

{...} شهنواز تني هڅه کوله ما پر دې باوري کړي چې یوازینی چاره ژر تر ژره له احمد شاه مسعود سره یوې ژمنې ته رسېدل دي او که چېرې هغه دروغ وایي او غواړي چې پر نن وسبا وخت تېر کړي (او په رښتیا د ژمن لیک هیله نه لري)، بیا نو په کار ده چې دشوروي پوځونو په زور دغه کار ته اړ کړای شي.

تني دخبرو اترو په پای کې داخبره هم وکړه چې: «احمدشاه رښتیا هم

هغومره ډېر زور او اغېزنه لري لکه څومره چې مونږ فکر کوو. دافغانانو اکثريت په هېڅکله هم هغه ونه مني او نه به دهغه ملاتړ وکړي. يوازې د پنجشير او د بدخشان ،تخار او کندز ،ولايتونو دسوېلي سيمو اوسېدونکي دهغه تر شا ولاړ دي. خو مونږ اړيو چې له نوموړي سره جوړ شو ، ځکه چې مونږ دکابل - حيرتان لارې ته ډېره اړتيا لرو . خو دا کار بايد دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګيو تر وتلو مخکې تر سره شي او دا ځکه چې وروسته بيا هغه هېڅ ډول روغې جوړې ته غاړه نه ږدي. »

خبرو کې ډېر سپين واو د ا.خ.د. ګ. دمرکزي کمېټې د اکتوبر پلينوم د پايلو په باب يې خپله انديښنه نه پټوله. نوموړي څرګنده کړه چې : « دوروستيو ۲-۳ کلونو په ترڅ کې دګوند په مشرتابه کې حالاتو دهغو کسانو په ګټه بدلون موندلی چې د لوړو څوکيو په درلودلو له واک نه هر ډول ناوړه ګټه اخيستنه او ډلپالنه کوي او له دې امله هېڅ ډول سزا هم نه ورکول کېږي. »

زيارمل زياته کړه چې دولس مشر واک يوازې د دولتي امنيت پرو زارت چلېږي او دکورنيو چارو وزارت او اردو يې له ولکې نه بهر دي. هغه څه چې د مرکزي کمېټې په پرېکړو پورې اړه لري ، نوهغو نه يوازې {دګوند} د ليکو يو والي پياوړی نه کړ ، بلکې برعکس په ګوند کې يې د رز واچاو ( لا پسې لوی او ارت کړ ). {....}

تورنجنرال سريبروف ، د ۱۹۸۸ کال د اکتوبر ۲۳ مه .

په افغانستان جمهوريت کې د شوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتيفي ډلې مشر پر دغه رپوټ داسې وکښل : « هيله کوم چې ملګرو ورنځوف يو .م. او زايڅوف و .پ. ته يې وړاندې کړئ . »

د ا.خ.د. ګ . دمرکزي کمېټې تر پلينوم وروسته سم له لاسه پخپله نجيب الله او پلويانو يې دهغه د ستې کلکولو ته متې راونغاړلې او دهمدې هڅو په لړ کې وه چې دکورنيو چارو وزير ګلابزوی دسفير په توګه شوروي اتحاد ته واستول شو او وطنجار دهغه پر ځای وګمارل شو. له بلې خوا ولس مشر ته دهغه

په استوګنځي کې دشوروي کارپوهانو په مرسته په ډېرې بېړې یو ډاډمن پټنځی او نورې خونې جوړې کړای شوې چې د یرغل او یا پر پلازمینې باندې د ډزو پروخت نجیب الله او دهغه کورنۍ پکې خوندي وي. البته دغه چارې له افغانستان نه دشوروي پوځونو تر وتلو .. وروسته هم روانې وې.

**لاسوند**

**بهځي پټ**

**ځانګړې دوسیه**

د شوروي اتحاد د وزیرانو شورا لاربښوونه

( د ۱۹۸۹ کال د نومبر پر لومړۍ نېټه دشوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو په غونډه کې منل شوې)

۱- هیله کوم چې دافغانستان جمهوریت حکومت له غوښتنې سره سم د ۱۹۸۹ کال په څلورمې برخې او د ۱۹۹۰ کال په لومړۍ برخې کې دافغانستان جمهوریت دولس مشر د استوګنې او کار د ودانیو د لا ښه سمبالولو لپاره دلاندې کارونو د سرته رسولو په برخه کې خپل خوښاوی څرګند کړئ:

د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې په پخوانۍ ودانۍ کې {د عمومي منشي} د دمې ( استراحت) خونه ، د ا.خ.د.ګ. د مرکزي کمېټې په نوې ودانۍ کې دسیاسي بیورو د منلو ( پذیرش) خونه او د غونډو تالار ، د استوګنځي (حرمسرای) په لومړي او دویم پوړ کې دولس مشر دکورنۍ د غړو د استوګنې کوټه او د ګلخانې په لومړي او دویم پوړ کې د ولس مشر دکار او منلو خونې ، د سرقوماندانانۍ دغونډو تالار ،خوړنځي او دمنلو کوچنی تالار دې پر ګولۍ نه تېرېدونکو ښیښو او نورو زغروالو بسیاینو ( تجهیزاتو ) سمبال او د میزایلو په وړاندې دولس مشر د استوګنځي د بامونو دفاعي ډاډ منتیا دې پیاوړې کړای شي...

ن. ریژکوف{ دشوروي اتحاد د وزیرانو شورا پاسوال ( ریس) ،ژ.} دخپلې ګوښه کېدو او بهرته دتګ په باب د خپرو شوو ګونګسیو په باب نجیب الله په

ډاګه ثرګنده کړه چې هغه غواړي « دهېواد لپاره په داسې برخلیک ټاکونکې شېبه کې پرخپلې څوکۍ پاتې شي او دوینې توېدو د بندولو لپاره به له هېڅ ډول هڅو اوهلوځلو نه ډډه ونه کړي . »

خو ښايي له دې امله چې له ح. امین سره په ورته برخلیک اخته نه شي نو خپل شخصي ځان ساتونکي یې ( چې دشوروي اتحاد د کې جي بي د نهمې پاسوالۍ غړي وو ) لرې اوپرځای یې د خپل کشر ورور احمدزي په مشرۍ ډېر نږدې او وفادار کسان وګمارل . خو کله چې د ۱۳۷۱ کال دغويي په میاشت کې مجاهدین پر کابل ورننوتل او ولس مشرد خپلو ګوندي ملګرو له خوا له واک نه ګوښه کړای شو ،نو د شوروي کار پوهانو په مرسته جوړ شوي پټنځي ونه شو کړای چې نجیب الله وژغوري.

شوروي پوځي قوماندانۍ د ۱۹۸۸ کال په اکتوبر کې دا .خ.د. ګ. دمرکزي کمېټې پلینوم د کار دپایلو او په افغانستان کې دحالاتو دودې دراتلونکې دڅېړلو په ترڅ کې مسکو ته دخپلو لیدونو په باب یو رپوټ ولېږه او هیله یې درلوده چې دخپلو راتلونکو دندو په اړه کره او څیرمنې ( دقیقې ) لارښوونې تر لاسه کړي.

له کابل نه رپوټ ( پټ )

دشوروي اتحاد دفاع وزیر ستر جنرال ملګري یازوف د .ت. ته :

رپوټ درکوم چې ... د ا .خ.د. ګ. دمرکزي کمېټې د ۲٦ پلینوم د کارپایلې دافغاني ټولنیزو کړیو دځانګړې حیرانتیا وړ وګرځېدې . { ... } . په دې ښه د پلینوم جوړولو اود غه راز دهغه دجوړېدو په درشل او بهیر کې د ځینو بې اغېزې کارملیانو نیولو وښوده چې دا .خ.د. ګ. دمرکزي کمېټې عمومي منشي نجیب الله دګوند او دولت لپاره په داسې یوې برخلیک ټاکو نکې شېبې کې ددې پرځای چې په هېواد کې د حالاتو د ټینګتیا د یوه ډاډمن ضمانت په توګه دټلوالیز حکومت د جوړولو په څېر دترټولو مهمې ستونزې پر اوارولو بوخت شي ، برعکس دخپلو شخصي دريځونو پیاوړي کولو ته یې پایښې

رابڼ وهلي دي.

اوس دافغانستان پوځي اونور مشران تربل هرڅه ډېر پر دوو خبرو زيات سوچ او فکر کوي:

لومړی: پلينوم يو ځل بيا په ډاګه کړه چې په ګوند کې يووالی نه شته او دجوړښتيايي ( تشکيلاتي) مسئلو د څېړلو نه پرځای والی خوبېخي کېدای شي چې په هغه کې دچاود د لا پراخېدو سبب شي. دپام وړ ده چې دجوړښتيا يي مسالو دڅېړلو په ترڅ کې د دولتي امنيت له وزير نه پرته د نورو پوځي وزارتونو وزيران او ګڼ شمېر قوماندانان دنجيب الله په مخالفه ليکه کې ودرېدل .دغه راز جوته شوه چې له دې امله نه يوازې دخلقيانو ،بلکې دپرچميانو يوې ټاکلې برخې هم دنوموړي ملاتړ ونه کړ.

دويم: په پلينوم کې د ټلواليز حکومت دجوړېدو دمسالې په اړه هيڅ ډول نوي اوز ياتي ګامونه وانه خيستل شول ،بلکې برعکس دغه خبره وړه او دويم کچيزه وګڼل شوه .{...}

که چېرې دنجيب الله له خوا ټاکلي اورغنده ګامونه اوچت نه شي ( ح. شرق ته د ټلواليز حکومت د جوړولو دنده ونه سپارل شي او د لومړي ګام په توګه د افغانستان دبهرينو چارو وزير وکيل له خپلې څوکۍ نه ګوښه او دهغه واکونه د افغانستان جمهوريت لومړي وزير ته ورنه کړل شي) ،نو بهير به وده ونه مومي او هرڅه به بېرته د ډب او ځپچپاندۍ بنه غوره کړي. زموږ په اند له دې نه پرته نور هر ډول ګامونه او په تېره پوځي لارې چارې خو خدايزده که وکړای شي په راتلونکو دريو مياشتو کې چې د شوروي پوځونو دوتلو پای ته پاتې دي کومې مثبتې پايلې په ځان پسې ولري.

دافغاني ټولنې دځينو ټولنيزو کړيو د ارزونو له مخې ،دنجيب الله د دريځونو پياوړي کولو په افغانستان کې دپراخ بنسټه ټلواليز حکومت د جوړېدو راتلونکی درانېږدې کېدلو پرځای لا پسې ځنډنی اولرې کړ. ځکه چې ترهېواد دننه او بهر کې ګڼ شمېر اغېزمن ځواکونه د ا.خ.د.ګ. پر شاوخوا او

په تېره د نجیب الله په ګډون د داشان حکومت دجوړېدو کېدون او شونتیا نه ويني . له همدې امله دولس مشر پر څوکۍ دنوموړي زيات پاتې کېدل غوره کار نه ښکاري، ځکه چې مخالفين او دهېواد د وګړو اکثريت هغه د ولس اوملت د لار ښود او مشر په توګه نه مني.

په افغانستان کې دمنځته راغلي حالت او شتو واقعيتونو له په پام کې نيولو سره سم موږ ته په کار ده چې دراتلونکي لپاره دکړنو او چلند بېلابېلې بڼې اولارې چارې تر غور اوڅېړنې لاندې ونيسو . که ستاسو خوښه وي ،نو شوروي استازو ته به په دې اړه وړ رپوټ او معلومات ورکړل شي... »

ورينيکوف ،کابل ،د ۱۹۸۸ کال اکتوبر .

دشوروي اتحاد پوځي مشر تابه د افغانستان دحالاتو په باب دغه شننه او ارزونه په پام کې ونه نيوله . خو په افغانستان کې دشوروي اتحاد د دفاع وزارت داوپرتيفي ډلې مشر سترجنرال و.اي. ورينيکوف { دخپل دغه رپوټ له امله } له نجيب الله سره خپل پټ پرې اودهغه باور يې له لاسه ورکړ . ( ګومان کېږي چې په کابل کې دشوروي اتحاد د يوې بلې اداري استازو دغه رپوټ دځانګړي باور له مخې ولس مشر ته وربښکاره کړی و. )

{ په دې ترڅ کې } دشوروي اتحاد دځينو جمهوريتونو ( ۱ ) او افغانستان دولايتونو ترمنځ مخامخ اړيکو دنوي خوځوان او تودوخې په لوري وده او پراختيا موندله . دشوروي اتحاد کمونيست ګوند دمرکزي کمېټې اوشوروي اتحاد وزيرانو شورا د ۱۹۷۸ کال د فبروري د ۲۶ مې او د شوروي اتحاد کمونيست ګوند دمرکزي کمېټې د ۱۹۸۷ کال دجولای د ۱۰ نېټې د پرېکړو

---

(۱) دپاملرنې وړ ده چې شوروي مشر تابه په خورا هوښيارۍ سره دبالتيک سمندرګي دغاړې درې شوروي جمهوريتونه (ليتوا، ليتوانيا او ايستونيا) چې په هغو کې دبېلتون غوښتنې روحيه په تل کې اړېته ډېره پياوړې وه ، له افغانستان سره دمخامخ اړيکو دټينګولو له بهير نه څنډې ته کړي وو. (ژباړن) .

له مخې دشوروي اتحاد د اړوندو جمهوريتونو وزيرانو شوراګانو ته اجازه ورکړه شوې وه چې د افغانستان له يولړ ولايتونو سره مخامخ اړيکي ټينګ کړي.
د دغو اړيکو وېش او څرنګوالی په لاندې ډول و:
- تاجکستان: دغرني بدخشان، کولاب او قرغان تپې ولايتونه { د افغانستان } دبدخشان، تخار او کندز له ولايتونو سره،
- ازبکستان: دتاشکند، سرخان دريا، سمرقند او فرغاني ولايتونه د سمنګانو، بلخ، بغلان او جوزجان له ولايتونو سره،
- ترکمنستان: دعشق آباد، چارجوی او مروی ولايتونه دهرات، فارياب او بادغيس له ولايتونو سره،
- دروسيې فدراتيف سوسياليستي جمهوريت د استراخان، اورنبورګ، سراتوف او چليا بينسک ولايتونه دفراه، ننګرهار، هلمند او کابل له ولايتونو سره،
- اوکراين: دخېرسون او خارکوف ولايتونه د نيمروز او پروان له ولايتونو سره،
- قزاقستان: دالما آتا، کاراګندا او چمکنت ولايتونه دکندهار، اورزګان او زابل له ولايتونو سره،
- قرغزستان: داوش او تالاس ولايتونه د باميان او وردګو له ولايتونو سره،
- ګرجستان د کاپيسا له ولايت سره،
- سپينه روسيه ( بلاروسيه ) : د مينسک او ګرودني ولايتونه دکونړ او لغمان له ولايتونوسره،
- آرمنستان د لوګر او غور له ولايتونو سره،
- آذربايجان د پکتيکا او پکتيا له ولايتونو او دخوست له لويې ولسوالۍ سره،
- ملداويا دغزني له ولايت سره،

– مسکو ښار د کابل له ښار سره.

په دې ترڅ کې په تېره دافغانستان له شمالي ولایتونو سره مخامخ اړیکو ته ډېر ارزښت ورکول کېده، ځکه فکر کېده چې که چېرې دنجیب الله رژیم له پښو پرېوزي او یا دهغه غړي او فعالین شمال ته کډه وکړي، نودا ډول اړیکي به بې له شکه له هغوی نه دملاتړ او دغه راز دشوروي اتحاد د اغېزې د خوندې ساتلو په برخه کې مرسته وکړي. خوزه پخپله په دې انداولیدوم چې حالات خدایزده که داشان بڼه غوره کړي، ځکه د نجیب الله نږدې ملګري ټول پښتانه وو او هغوی دافغانستان دشمالي ولایتونو دوګړو ترمنځ له ټینګو او پخو ستېو اودرېځونو نه بې برخې وو.

## معلومات

په افغانستان جمهوریت کې دشوروي لږشمېر پوځي ټولګیو هغه چوڼۍ او ګارنیزیونونه چې دشوروي پوځونو دوتلو په دویم پړاو کې به دافغانستان دوسله وال پوځ په واک کې ورکړل شي:

شوروي پوځونه په افغانستان کې په ۱۷۹ پوځي ښارګوټو (۳۲ ګارنیزیونونو) کې ځای پر ځای شوي وو. دهغوی د چوڼیو، استوګنځیو، سمبالتیاو او لوښو لګښت بیه ۶۹۹۳۶۲ زره روبلو ته رسېده. د ۱۹۸۸ کال دنومبر ترلسمې دشوروي پوځونو دیوې برخې د وتلو له امله ۵۷ چوڼۍ او استوګنځي چې ټوله بیه یې ۲۰۲۵۱۰ زره روبله کېږي دافغانستان وسله وال پوځ ته ورسپارل شوي دي.

اوس د ۴۰ اردو پوځي ټولګي په ۱۲۲ پوځي ښارګوټو (۱۷ ګارنیزیونونو) کې پراته دي چې دچوڼیو او استوګنځیو بیه یې د ۴۹۷ ملیونه روبلو په شاوخوا کې ده. {دغه چوڼۍ اواستوګنځي په لاندې سیمو کې پراته دي}:

## کابل گارنیزیون

دکابل په ۳۳ پوځي ښار گوټو کې ۹ . ۲۵ زره تنه پوځیان پراته وو {...} چې یوه برخه یې پخوا وتلې ده . دغه ښار گوټي له ۱۲۰۰ خونو او ودانیو نه جوړ شوي دي.

## باگرام گارنیزیون

دباگرام په ۱٤ پوځي ښارگوټو کې ۳ . ۹ زره پوځیان پراته وو {...} چې یوه برخه یې تر مخه وتلې ده . ددغه گارنیزیون په ځلورو ښارگوټو کې ۵۳۳ خونې او ودانۍ پرتې دي.

## پل خمري

دپلخمري په ۲۵ پوځي ښارگوټو کې ۷ . ٦ زره پوځیان پراته وو {...} چې یوه برخه یې پخوا وتلې ده . نوموړی گارنیزیون له ۳۷٦ ودانیو او خونو څخه جوړ شوی دی.

## حیرتان

دحیرتانو په ۱۸ پوځي ښار گوټو کې ٦ . ۲ زره تنه پوځیان پراته دي {...} چې د خونو او ودانیو شمېر یې ۱۸۸ ته رسېږي.

## چاریکار

دچاریکارو گارنیزیون له یوه پوځي ښارگوټي نه جوړ شوی چې ٤ . ۱ زره تنه پوځیان په کې پراته دي {....} او د خونو او ودانیو شمېر یې ٤۰ ته رسېږي.

## جبل السراج

دجبل السراج په گارنیزیون کې دوه پوځي ښارگوټي دي چې ۲٦۸۰ تنه پوځیان په کې استوگنه لري {...} او له ٦۳ ودانیو او خونونه جوړ شوی دی.

**يکاولنګ**

ددغه ګارنيزيون په دوو ودانيو کې ۷۰ تنه پوځيان پراته دي.{...}

**سالنګ**

نوموړی ګارنيزيون له يوه پوځي ښار ګوټي نه چې ۱۱ ودانۍ او خوني لري جوړ شوی او ۹۵ تنه پوځيان په کې استوګن دي.

**شاول**

دغه ګارنيزيون يو پوځي ښار ګوټي لري چې له ۳۳ خونو او ودانيو څخه جوړ شوی او ۲۷۰ تنه پوځيان په کې اوسيږي.

**دوشاخ**

د دوشاخ د ګارنيزيون په پوځي ښار ګوټي کې چې له ۲۱ خونو او ودانيو څخه جوړ شوی ۲۵۰ تنه پوځيان استوګنه لري.

**چاوګانی**

ددغه ګارنيزيون پوځي ښار ګوټي له ۱۷ خونو او ودانيو نه جوړ شوی او ۹۸۰ تنه پوځيان په کې اوسيږي.

**ايبک**

دنوموړي ګارنيزيون په ۱۹ ودانيو او خونو کې ۱۵۰ تنه پوځيان پراته دي.

تاشقرغان

ددغه ګارنيزيون په ٤٢ ودانيو او خونو کې ۳۰۰۰ تنه پوځيان استوګن دي.{...}

**شينډنډ**

په دغه ګارنيزيون کې ۸.٦ زره تنو پوځيانو استوګنه درلوده {...} چې يوه برخه يې پخوا وتلې ده. دښار ګوټو شمير يې ۲۳ او د ودانيو او خونو هغه يې ۱۷۵ دی.

**ادرسکن**

دنوموړي ګارنيزيون په ۲۲ خونو او ودانيو کې ٤٤۰ تنه پوځيان استوګن

دي . {....}

**هرات**

**دهرات گـارنيـزيـون په ٦٩ خـونو او ودانيـو کـې ۰ ۰ ۲۸ پوځـيـان اسـتـوگـنه لري. (...).**

**تور غوندۍ**

**ددغه گارنيزيون پوځي ښار گوټې له ٤٢ ودانيو اوخونو نه جوړ شوی چې ٥٤٠ تنه پوځيان په کې دېره دي {...}**

**دريوټ سرچينه :**

**د ٤٠ اردو درستيز توب ، کابل ، د ۱۹۸۸ کال نومبر .**

## {دافغانستان} دحالاتو په باب

## بيلابيلې ارزونې

دشوروي لښکرو د وتلو تر لومړي پړاو وروسته په افغانستان کې د منځته راغلي حالت په باب ارزونې او شننې گڼ ډوليزې او بېلابېلې وې . گڼ شمېر شنونکو هغه ته په ناهيلو سترگو کتل ، خوځينې بيا په دې باب ښه ليدي (خوش بين) و .

پخپله نجيب الله په دې اړه په دې گروهه و چې دهېواد حالات ښايي پر دوو ياني پوځي او سياسي لورو وده وکړي.

په لومړي حالت کې ښايي مخالفين ونه غواړي چې له دولتي واکمنی سره هيڅ ډول روغه جوړه وکړي ، دشوروي پوځونو تر وتلو وروسته دحکومتي ځواکونو پر خلاف پوځي عملياتو ته لازور ورکړي ، د ا .خ.د. گ. له منځه يوسي ، د واک واگي ترلاسه او په افغانستان کې يو « اسلامي جمهوريت» جوړ کړي . د حالاتو د ا ډول وده به افغانستان د ترکيې او ايران په څېر دولتونو

سره په یوه لیکه کې ودروي چې دا کار به دشوروي اتحاد په سویلي پولو کې دحالاتو دکړکېچ او خړپړتیا سبب شي .

په دویم حالت کې به شوروي اتحاد او افغانستان دامریکا د اداري او پاکستاني واکمنو دهلوځلو پرخلاف چې دژنیو پرژمنلیکونو سترګې پټوي دشوروي پوځونو دوتلو په مهالوېش کې د بدلون اعلان کوي او دهغوی دوتلو د دویم پړاو پیل کېدل به تربلې نېټې پورې وځنډوي . دا کار به بې له شکه د سیاسي اواري د دوام لپاره دښو شرایطو له منځه راتګ سره مرسته وکړي او حکومت به داده کړي چې له کورنیو مخالفینو سره دجوړجاړي د ترلاسه کولو لپاره نوې لارې چارې ولټوي . {...} له ولس مشر سره زما له خبرو اترو نه دغه پایلې ترلاسه کېدای شي:

- دکورني سیاست په ډګر کې دهېواد حالت مخ پرځوړ او خړ پړ تیا روان دی.

... په افغانستان او دهغه په شاوخوا کې دحالاتو له کره څېړنې سره سره نجیب الله له منځته راغلي حالت نه دوتلو اوپخپلو متو د اوسني رژیم د ساتلو لپاره کومې لارې چارې نه ویني ( که څه هم چې هغه وویل چې مسکو ته دیوه لیک پر چمتو کولو بوخت دی ) .

- دهرې ورځې په تېرېدو سره په ډاګه کېږي چې د ا.خ.د.ګ. هسې په نوم د هېواد پر حالاتو ولکه لري ، خوپه عمل کې دخلکو له ملاتړ نه بې برخې او له مخالفینو سره په جګړه کې له ماتې سره مخامخ دی . که حالات په همدې ډول دوام ومومي. نو دجوړ جاړي اوتلوالې د ترلاسه کېدو پر ځای بنایي اوسنی رژیم له پوځي ماتې اونسکورېدو سره مخامخ شي. له همدې امله ده چې دمخالفینو پر خلاف د هاندوهڅې په اړه دولس مشر په پلانونو کې هم پوځي لارو چارو او په تېره د ٤٠ اردو له ځواکونو نه ګټې اخیستنې ته دپخوا په څېر ډېر ارزښت ورکول کېږي... » ( په افغانستان جمهوریت کې دشوروي اتحاد دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې دمشر له رپوټ څخه ، د ۱۹۸۸ کال د سپتمبر ٥ مه ) .

آخوا د مجاهدينو او افغاني کډوالو استازو هم هغه کوله چې دهېواد د حالاتو د ودې په باب وړاندوينې او اټکلونه وکړي. د ساري په توګه احمدشاه مسعود «دافغانستان اسلامي جمعيت د شورا» په پنځمې غونډې کې په دې اړه داسې وويل: «... زموږ دښمنانو ونه شو کړای دهغو بېلابېلو ډلو ټپلو استازي چې له دوی سره نږدې اړيکي لري، خپل خواته ور واړوي . سربېره پردې دخلقيانو او پرچميانو تر منځ دښمني او تربګني نه يوازې له منځه لاړه نه شوه، بلکې اوس آن پخپله د پرچميانو په ليکو کې هم نورې ډلې ټپلې را پيدا شوي دي.

زموږ خلقي او پرچمي دښمنانو ونه کړای شول چې آن د روسانو د شتهوالي په پېر او پړاو کې سره يو موټی او بشپړ يو والی تر لاسه کړي.

... دپلار وطن ملي جبهې، اسلامي شورا، ملي روغې جوړې دکړنلارې او اساسي قانون تر نارو (شعارونو) اونورو مانورو لاندې خپلې خواته دخلکو او (په تېره په پکتيا کې) دقبايلو ديوې برخې او دغه راز دمجاهدينو دډلو دوراړولو لپاره زموږ د دښمنانو هڅه چې غوښتل يې په دې توګه نړۍ ته وښيي چې «وګورئ څومره خلک زموږ ملاتړ کوي!» خورا کلکه او پخه وه. خو حکومت په دې ټولو هلوځلو کې له ماتې سره مخ شو.

... ديادونې وړ ده چې پخپله اندروپوف (کله چې دشوروي اتحاد مشر و) او وروسته ګرباچوف په افغانستان کې دشوروي اتحاد له پوځي لاسوهنې سره مخالف و. خو تر هغې چې دافغانستان لانجه غوڅه نه شي، نو په روسيه کې روان بدلونونه، بيارغاونه او داسې نور او دغه راز په نړيوال سياسي ډګر کې دشوروي اتحاد بيا مخور کېدل به ناشونې وي.

... اوس چې زموږ دښمن ښځې کمزوری دی، نو زموږ مشران دخلقيانو او پرچميانو په څېر نه شي کولی پخپلو منځونو کې سره جوړ شي. داخو لا څه چې دوی نور خپل سياسي پت او مخورتيا هم بايللي دي.

... نن رباني را پاڅې او خپله تګلاره (پلاټفورم) وړاندې کوي. سبا حکمتيار را جګېږي د رباني خبرې رد وي او خپل وړانديزونه ډګر ته را وباسي. وروسته د

مجددي ( صبغت الله خان ) واروي او هغه خپلي اعلاميې خپروي او په دې توګه له سرې سره پوښتنه پیدا شي چې آیا نوموړی په دې پوهېږي چې افغانستان چېرته پروت دی ؟ {...}

اوس چې غليم په دفاعي حالت کې دی موږ نه شو کولی برید وکړو ... څکه موږ ته پته لګېدلې چې له لسو زرو تنو چې په جګړه ییزو عملیاتو کې باید ونډه واخلي ایله زر تنه دې کار ته زړه ښه کوي . پوځ شته ، وسلې شته ، مهمات شته ، غلیم شته ، خو جګړه ییز عملیات نه تر سره کېږي . که چېرې موږ پخ او ناکارنده نه وای ، نو اوس به مو په شمال کې ګڼ شمېر برپاوې درلودی ...

درپوټ سرچینه : دشوروي اتحاد :وسله والو پوځونو دستر درستیز دکشف لویه پاسوالي ، کابل ، ۱۹۸۸ کال.

دافغانستان دراتلونکې دولتي واکمنی په باب دافغانستان دپخواني پاچا ظاهر خان دزوم ع. نعیم هغه لیک چې دافغانستان جمهوریت دلومړي وزیر ح.شرق په نامه یې استولی و ، هم د پاملرنې وړ دی . نوموړی لیکي : « {...} . زما په اند په اوسنیو شرایطو کې تاسو ( شرق) دحکومت دمشر په توګه کولی شئ دسولې په ټینګښت او زموږ دګران هېواد دخپلواکۍ دبیا راژوندي کولو په لار کې دیوه مهم لامل په توګه رول ولوبوئ . په دې اړه غواړم لاندې څو ټکي وړاندې کړم :

۱- تاسې باید شوروي او نجیب پر دې باوري کړئ چې « ګوند » باید دافغانستان پرخلکو دخپل ویلاړ او ارادې له تپلو نه لاس واخلي او دغه راز « ګوند » باید په بشپړه توګه له دولت نه جلا او بېل وي .{...}

۲- له دې سره جوخت باید { اوسنی} اساسي قانون بدل او پرلمان هم له منځه یوړل شي ، څکه چې هغه ملي نه دي. دلنډ مهاله حکومت مشري باید داسې چاته وسپارل شي چې دخلتیانو او پرچمیانو په ګوند کې یې غړیتوب نه درلود اونه دهغوی پلوي او مینه وال وو . زما په اند ډاکټر علي احمد پوپل چې همدا اوس په کابل کې دی او تر هغه ځایه چې ماته پته ده له رژیم سره له اړیکو نه

تروسي وسې ده کوي او دغه راز ښاغلی عبدالله خان ملکيار چې دافغان ولس د زياتې برخې په منځ کې له ګرانښت نه برخمن دی ، په اوسنيو شرايطو کې ددې څوکۍ لپاره تر ټولو غوره نوماندان (کانديدان) دي ، (زما په اند که تاسو له رژيم سره همکاري نه کولای ،نو تاسې ګران وروره هم دغې څوکۍ ته يو ښه نوماند وئ.)

۳- دلنډ مهاله حکومت بنسټيزه دنده د اده چې افغان ولس اونړيواله ټولنه پردې باوري کړي چې دغه حکومت د «غويي له انقلاب» سره هيڅ تړاو نه لري او دژنيو په ژمنليکونو کې له ټاکل شوي مهالويش سره سم د شوروي لښکرو د وتلو غوښتنه کوي اودغه راز اوربند اعلان کړي . له دې سره جوخت اداري جوړښتيا (تشکيلات) هم بايد له هغو شوروي سلاکارانو نه پاکه کړای شي چې مهم ځايونه يې په لاس کې دي {...}.

٤- دلنډ مهاله حکومت له منځته راتلو نه وروسته بايد لويه جرګه جوړه شي {...}. په اوسنيو شرايطو کې د افغانستان پخواني پاچا دټينګاو (مقاومت) دنورو مشرانو په پرتله دافغان ولس دبېلابېلو پاړکو او پوړونو داکثريت له ملاتړ نه برخمن دی . دمرکزي کمېټې دځينو غړو{ښايي دښاغلي عزيز نعيم موخه به د داود خان دګوند مرکزي کمېټه وي ،ژ.} ناوړه موخواو د خلقيانو او پرچميانو جنايتونو دهغوی نيمګړتياوې ببخي داګيزه او دپاچا د پراو دګرانښت تله يې درنه کړه . له همدې امله ،زما په اند ، دلنډ مهاله حکومت د مشر په توګه به دپخواني پاچا نوماندي خورا غوره کار وي {...}.

څرنګه چې مخالفو ځواکونو ونه شو کړای دافغانستان جمهوريت پروسله وال پوځ باندې دمخامخ پوځي زور له لارې بر لاسي او مهمې برياوې تر لاسه کړي ،نو دهغوی مشرانو خپلې ټولې هلې ځلې په ګوندي اودولتي لاستون او پوځي ټولګيو کې لارې موندلو (نفوذ) ته اړم کړي . په دې ترخ کې پرملي

اوتوکمیز بنسټ باندې داغېزې دسیمو د وېشلو او منځته راوړ لو کېږون په خورا چټکۍ سره سر راپورته کړ. البته دغه ملي لامل ته د ایډیولوژیک او دیني هغو په ګډون پر نورو ټولو فکټورونو باندې لومړیتوب ور کول کېده. په همداسې حالاتو کې وه چې دافغانستان دشمال کورنیو ډلمشرانو له خپلو سیمو نه دپښتنو دشړلو لپاره دیو موټي کېدو لړۍ راپیل کړه.

# اتم پـپارگی

## له افغانستان سره مخه ښه

لکه څنگه چې تاکل شوې وه ،شوروي پوځونه باید څو میاشتې وروسته { په بشپړه توگه } له افغانستان نه وتلي وای .خو په دې ترڅ کې د افغانستان حالاتو گرد سره حیرانوونکې بڼه غوره کړې وه . سره له دې چې دغه هېواد ته { دشوروي اتحاد له خوا } د بېلابېلو وسلو جوپې ور روانې :ې ،خو اردو اود کورنیو چارو او دولتي امنیت وزارتونو نه یوازې بشپړتیا اوپیاوړتیا نه مونده ،بلکې برعکس لا پسې کمزوري کېدل . په همدې لړ کې وه چې دافغانستان جمهوریت دوسله وال پوځ درې واړو وزیرانو ( شهنواز تني ، گلابزوی او یعقوبي) د سپتمبر په میاشت کې مسکو ته سفر وکړ او له م. گرباچوف سره دلیدنې په ترڅ کې یې د ۲ , ۱ ملیارده روبلو په اندول د وسلو اوتخنیک د ترلاسه کولو غوښتنه وکړه . دافغاني لوري ټولې دغه غوښتنې ترڅېړنې وروسته په بشپړه توگه ترسره

شوې. لەدې پرتە دافغانانو نورې بېلابېلې هیلې او غوښتنې هم تر سره کېدې ، دساري پەتوگه دهېواد پەخورا مهمو سیمو کې داړتیا وړ معلوماتو دساتلو درې میاشتنۍ زېرمې جوړې شوې چې پەهغو کې ۹ ، ۸۵۰۶۱ ټنەډول ډول مالونه اومهمات زېرمەشول. دغەراز دشوروي اتحاد پەخاوره کې لە پرتو اډونه دهوايي ځواکونو دبمبارۍ او ار- ۳۰۰ ډلەتوغندیو (سکاد) دگوزارونو لەلارې هم لەافغانانو سره مرسته کېده. دغه گوزارونه بەپەتېره هغه وخت ترسره کېدل چې پە افغـانسـتـان کـې دپرتو شـوروي هوايي ځـواکـونو هوايي ډگرو نه بە داوبهوایزو (اقلیمي) شرايطو لەکبلەدگټې اخیستنې وړنەوو او زموږ یا افغاني پوځونو او گارنیزیونونو بەدیاغیانو دبریدونو لەامله مرستې او ملاتړ تەاړتیا درلوده. {خولەدې ټولو کارونو سرەسره} دشوروي لږشمېر پوځي ټولگیو له سرتېرو او افسرانو نه دافغاني مسوولو اولوړ پوړو چار واکو شکایتونەورځ تر ورځې زیاتېدل اوآن تر دې چې دشوروي پوځي سلاکارانو پەوړاندې دښکاره شکونو ځینې هم سر راپور تە کړ.

لە کابل نەرپوټ ( پټ)

دشوروي اتحاد دفاع وزیر سترجنرال ملگري یازوف د. ت. تە :

رپوټ درکوم چې ... پەورستیو وختو او پەتېره داگست پەمیاشت کې پە افغاني مشرتابەاوتر هرچانه مخکې پخپله پەنجیب الله کې دغه کړون ( مېلان) تر سترگو کېږي چې لە شوروي اتحاد نەزیاتې مادي اونورې مرستې تر لاسەاو دغه راز شوروي پوځیان دې تەاړ کړي چې د ٤٠ اردو لەځواکونو او وسیلو نە تر وروستۍ پولې پورې گټەواخلي. خو ددې ټولو کارونو ترسره کېدل نەیوازې دافغـاني دوسـتـانو دمننې او کـور ودانې وړنـه گـرځي ،بلکې هغـوی لا نورو اونورو غوښتنو اوشکایتونو تەهڅوي...

داخو لا څـه ،اوس چې کلە دافغـاني اردو ، کـورنیـو چارو اودولتي امنیت وزارتونو ټولگي لەځانه کمزورتیا وښیي ،نو کە نجیب الله بەپەدې اړه پخوا پە نا مخامخ ډول څەویل ،اوس خو ببخي پەډاگه او مخامخ وايي چې دا کار د ٤٠

اردو دبې غورۍ اوناځیزې مرستې له امله پهښ شوې .ددې ترڅنګه هغه هڅه کوي چې د افغان اردو د ټولګیو په دندو کې پر نیمګړتیاوو هم ځادر واچوي.{...}

دکورنیو چارو اودولتي امنیت وزیران هم په ځیرکۍ سره هڅه کوي چې دخپلو پوځونو شته حالت او جوړښتیایي څرنګوالی پټ کړي، په داسې حال کې چې اوس ( داحتمالي دندو له په پام کې نیولو سره ) دهغوی دځواکونو تخنیکي سمبالتیا په بشپړه توګه دمنلو ( قناعت) وړ ده . {...}.

دمهماتو په اړه باید ووایم چې نجیب الله دهغو په لګښت کې اصلاً هېڅ رای اوچورت هم نه وهي اونه په دې برخه کې دکوم آر او نورم پلوي کوي. {...} افغاني پوځیانو ( د دفاع ،کورنیو چارو او دولتي امنیت وزارتونو) ته د نجیب الله په خوښه او اجازه داخبره بېخي بې توپیره اوهېڅ ارزښت نه لري چې د جګړه ییزو دندو په ترڅ کې له یوه ځای نه بل ته د لېږد پروخت داستوګنې په پخوانیو ځایونو کې خپل ګڼ شمېر پاتې شوې وسلې ،مهمات ،تخنیک ،دسون مادې او نور ارزښتناک مالونه ددې پرځای چې له ځانه سره یې یوسي هملته یې له منځه وړي.{...}.

دپورتنیو ټکو او دنجیب الله دنورو کړنو له څېړنې او ارزونې نه سړی دې پایلې ته رسېږي چې په هېواد کې منځته راغلی حالت دنوموړي غښتلتیا او کلکوالی ورځ تر ورځې کمزوري کوي .{...}

ورینیکوف ، د ۱۹۸۸ کال اګست.

خو ددې لپاره چې دنجیب الله زړه لږ څه کرار او پرځان ډاډه شي ،نو د اکتوبر په میاشت کې وټاکل شوه چې دشوروي د ار- ۳۰۰ ډوله ( سکاد ) توغندیو یو کنډک ( مفرزه) افغانستان ته راورل شي . په لومړي سر کې دسکاد دګوزارونو نښې او موخې پخپله دولس مشر له خوا ټاکل کېدې. خبره داسې ده چې زه به له نقشې سره یوځای نوموړي ته ورتلم ،بیا به مې د افغانستان جمهوریت د وسله وال پوځ له ستر درستیز سره نښې اوټاپې ( کوردینات) ټاکل او دشوروي

اتحاد دفاع وزارت داوپراتیفي ډلې مشرته لهرپوټ نهوروستـه بهمې دغـه کـوردینات جنرال ن. کـومـاروف تـهچې ددغـه کنډک مـشـري يې پهغاړه وه ورکول.

کلهکله او پهتېره مـابـام مـهـال بهپرنامعلوم لوري دغـو توغـول شـوو توغندیو {د بې برېښنا} کابل پـه هسک (اسـمـان) کې رڼې ډیوې بلې او بوډۍ تال تهورته لیکې او لیندۍ (قوسونه) جوړې کړې، او کهڅه هم چې یوهلوري ته يې مرگ او ورانی لهځانه سره لېږداوه، خو بل لوري (گوندي چارواکو) تهبه يې د ړاک دخوند او مستۍ دشپوورڅو د لا اوږدېدو زېرې ورکاوه. {...}. خو څه وخت لا نهوتېر شوی چې دسکاډ دگوزارونو اوموخې ویشتلو واک ستر درستیز جنرال آصف دلاور تهوسپارل شو.

د ۱۹۸۹ کال په جنوري کې کابل تهدشوروي اتحاد د بهرنیو چارو د وزیر ا.ا. شیوارد نادزې دسفر په ترڅ کې {...} دافغانستان ولس مشر له نوموړي نه هیله وکړه چې د ار- ۳۰۰ او «اوراگان» توغندیو او دغـه راز د «بوراتینو» په نوم داوربلونکو (لوانداز) وسلو پهڅـېـر ځینې نوې وسلې او تخنیک دې افغانستان ته راولېږل شي او یا دې شوروي تولگي خپلې هغهموږ ته پرېږدي.

څرنگه چې ا.ا. شیـوارد نادزي د نجیب الله کلک مـلاتړی و {...}، نو دافغانستان جمهوریت د ولس مشر لهخوا گڼ شمېر وړاندې شوې غوښتنې دهغه په سپارښتنه ترسره شوې.

دشوروي اتحاد کمونیست گوند د مرکزي کمېټې لهیا دبنتونو څخه:

ببخي پټ

ځانگړې دوسیه

... ۳- افغـان لوري پخپـل واک کې د داسې ځـواکمنو وسلو درلودلو لکه ار - ۳۰۰ ډوله توغندیو او «اوراگان» تهډېر زیات ارزښت ورکوي. دپام وړ ده چې د داشان وسلو درلودل پخپلهلهرواني پلوه زموږ دوستان ډېر غښتلي کوي او هغوی تهپرخپلو متو او ځواک باندې ډاډ منتیا وربښي. {...}

ا. شیوارد نادزي، و. چبریکوف، ا. یاکوفلیف، د. یازوف، و. موراخوفسکي، و. کریوچکوف، د ۱۹۸۹ کال دجنوري ۲۳ مه، لمبر ۶۵ او. س.

په‌را وروسته کې خو پر دغو وسلو سربېره آن «لونا- ام» ډوله توغندي هم په‌سرباري توگه افغانستان ته‌واستول‌شول. دغه‌راز افغانستان ته‌دوسلو او پوځي تخنیک د لېږدولو لړۍ له هغه هېواد نه دشوروي پوځونو تروتلو وروسته هم‌روانه وه.

دشوروي اتحاد کمونیست گوند دمرکزي کمېټې له‌یادښتونو نه:

ښېځي پټ

ځانگړې دوسیه

(دشوروي اتحاد کمونیست گوند دمرکزي کمېټې دسیاسي‌بیورو د ۱۹۹۰ کال د مارچ د میاشتې د ۳۰ مې نېټې په‌غونډه کې ومنل‌شو)

دشوروي اتحاد کمونیست گوند مرکزي کمېټه

... په پوځي- صنعتي چارو کې دشوروي اتحاد وزیرانو شورا دولتي کمیسیون، دشوروي اتحاد دبهرنیو چارو وزارت، دشوروي اتحاد د پلان جوړولو دولتي کمېټه، دشوروي اتحاد د دفاع وزارت، دشوروي اتحاد د دولتي امنیت کمېټه (کې جي بي)، دشوروي اتحاد دکورنیو چارو وزارت او دشوروي اتحاد دبهرنۍ سوداگرۍ داړیکو وزارت خپل وړاندیز په‌دې ډول وړاندې کوي:

پر ۱۹۹۰ کال دې‌افغانستان ته‌د ار-۱۷ مې ډوله لاستون (دستگاه) لپاره د ۱۵۰ توغندیو، د «لونا-ام» د دوو لاستونونو، د ۸۶۵ زغره والو گاډو، د ۱۹۵ توپونو او هاوانونو، دهوایي ساتنې (مدافعې) د ۸۶۰ توپونو او لاستونونو، د ۱۰۰۰ اوربلوونکو (لوانداز و)، د ۹۶ زره په شاوخوا کې سپکو وسلو، د ۵۴ الوتکو او څرخکیو، دمهماتو، انجینري‌تخنیک، دلېږدولو (ترانسپورت) او مخابرې دوسیلو، له ۱۵۰۰ نه‌د ډېرو څوځلیزو

پراشوتې مالونو د سیتونو او لوژیستیکې او نورو مالونو دلیږدولو اودغه راز دې پر ۱۹۹۰ کال په شوروي اتحاد کې د نږدې ۸ . ۱ ملیاردو روبلو په ارزښت دهغو ګاډو اونورو ځانګړو وسیلو درغاوي اجازه ورکړل شي چې په پخوا شوروي اتحاد افغانستان ته لیږلي وو . . .

ل . زایکوف ، و . کریوچکوف ، یو . ماسلیو کوف ، ا . شیوارد نادزی ، د . یازوف ، او . بکلانوف ، اي . بیلواوسوف ، و . بکاتین ، ک . کاتیوشوف .

په دې ترڅ کې پر ۱۹۸۸ کال دبلخ په ولایت کې د «شمال» په نوم یوه ځانګړې اوپراتیفي ډله جوړه شوه . دغه راز دهیواد په بېلابېلو سیمو کې ۵ نوې فرقې جوړې او دسالنګ دساتلو لپاره هم یو شمېر نور ځانګړي ټولګي ځای پرځای شول . له بله پلوه دافغانستان خاوره د پوځ ډلو ( قول اردوګانو ) دقوماندانانو دمسوولیت پر سیمو وویشل شوه ، په دې توګه چې دکابل دسیمې امنیت دلومړي لمبر پوځ ډلې ، دکندهار هغه د دویم لمبر پوځ ډلې ، دلویدیځ دا د پلې ۲۱ مې فرقې او ۱۷ مې لوا په ګډون د ٤ لمبر پوځ ډلې په غاړه و او داسې نور .

د ۱۹۸۸ کال په مني کې په کابل کې دشوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت ، د شوروي اتحاد د دفاع وزارت ، دشوروي اتحاد د کې جي بي او دشوروي اتحاد د کورنیو چارو وزارت استازو دافغانستان دوسله وال پوځ د حالت په باب مسکو ته داشان رپوټ ولېږه : « { . . . } . . . د ګوند په خبر { دافغانستان } په وسله والو ځواکونو کې هم خپل منځي تربګني اواخ وډب دوام لري . دغه کار د افغانستان جمهوریت د وسله وال پوځ پرټول کادري سیاست ناوړه اغېزه ښندي ، داسې چې دکادرونو ټاکنه دنوماندو دکاري او شخصي وړتیا پر ځای په هغې یا دغې ډلې پورې دهغوی دتړلتیا له مخې ترسره کېږي . دافغانستان جمهوریت د دفاع وزیر تنی هم چې یوازې خلقیان او هغه هم د پکتیکا { پکتیا ، ژ . } ولایت اوسېدونکي چې نوموړی پخپله په خټه له هغې سیمې څخه دی دقوماندانانو په توګه ټاکي ، له دې شان چلند نه کار اخلي ( آن تردې چې هغه

په دې اړه دخپلو مرستيالانو خوښه اوليد هم په پام کې نه نيسي . )

د ا.خ.د. ګ. دمرکزي کمېټې د اکتوبر تر پلينوم وروسته اوس په وسله وال پوځ کې دګوندي اړخونو تر منځ جګړې اوتريګنيو ډېره ستونزمنه او خطرناکه بڼه غوره کړې ده . ولس مشر اندېښنه لري چې کېداى شي په وسله والو ځواکونو کې کار مليان له خلقيانو سره لاس يو او دپوځي کودتا په څېر دکومې وينلو بې او ماجرا هڅه وکړي. دنومورې په اند ، په داشان حالاتو کې په کار ده هغه کسان لرې کړاى شي چې له پښبلوبو ( ماجراغوښتونکو) سره يې لاسونه يو کړي.{...}.

دسيمه ييزو ځواکونو له ګڼ شمېر والي سره سره ( چې له ٤٢ زرو نه زيات غړي لري ) دهغوى جګړه ييزه وړتيا خورا کمزورې ده او ورسپارل شوې دندې نه ترسره کوي . ددغو ډلو ګڼ شمېر قوماندانان د وسله والو مخالفينو له ډلشرانو سره اړيکي لري او آن تر دې چې ډېر ځلې دهغوى سپارښتنې پلې کوي.

اوس ديوه داسې رښتيني ګواښ اوخطر احساس هم کېږي چې دشوروي پوځونو تر وتلو وروسته {دافغانستان} دسيمه ييزو ځواکونو يوه برخه بنايي د ياغيانو خوا ته ور واوړي .{...}. »

# د پوځونو د وتلو بهیر دې تم کړای شي

دافغانستان مشرانو نه غوښتل چې دشوروي پوځونو دوتلو په وروستي پړاو کې دې له خپلو وسله والو ځواکونو نه دنه پخلاکېدونکو مخالفینو پر خلاف په جګړه کې ګټه واخلي (ښایي هغه به یې سباورځې ته ساتل) . یو شمېر فکتونه او لاسوندونه ددې ښکارندوی دي چې هغوی په لوی لاس غوښتل ددې موخې لپاره په تېره د ۴۰ اردو له ټولګیو نه کار واخلي او په دې توګه « شورویان» په تېره بیا د احمد شاه مسعود د ډلو پر خلاف له اوږدو او پراخو جګړو سره مخامخ او هغوی نور هم په افغانستان کې وځنډوي . له بلې خوا افغان مشرانو له شوروي حکومت نه په وار وار غوښتنه کوله چې :« څرنګه چې پاکستان او دامریکا متحده ایالتونه د ژنیو تړون نه پلې کوي ، نو د پوځونو وتل دې هم تم کړای شي . »

له کابل نه رپوټ ( پټ)

دشوروي اتحاد دفاع وزیر ستر جنرال ملګري یازوف د .ت. ته :

رپوټ درکوم چې ... دافغانستان جمهوریت دولس مشر دکلکې غوښتنې له امله مې د سپتمبر پر ۴ مه د شوروي اتحاد د فاع وزارت داوپراتیفي ډلې په درستیز والي کې له نوموړي سره وکتل.

نجیب الله دخبرو اترو په بهیر کې وویل چې دښمنان په دې باب هسې خوشې ګونګوسې خپروي چې ولس مشر ګني د ۴۰ اردو له خوا تر سره کېدونکو مرستو ته دارزښت په سترګو نه ګوري او وایي چې شوروي پوځونه ګوا کې له جګړه ییزو

عملیاتو نه‌سر غړوي او دافغانستان جمهوریت له‌وسله‌والو ځواکونو نه‌غوځ ملاتړ نه کوي.

دافغانستان جمهوریت مشر توب اوس کلکې هڅې کوي چې دامریکا او پاکستان له‌خوا د ژنیو له‌تړون نه‌دسرغړونو په‌ځواب کې دشوروي پوځونو وتل وځنډوي او په‌دې توګه دغـوبي انقـلاب دبریاوو د له منځـتـه تلو مـخـه ونیسي....

خو زموږ ( ورینیکوف ،ژ.) په‌اند پوځونه باید په‌هېڅ ډول په‌افغانستان کې پاتې نه‌شي ،ځکه چې دا کار به‌بې له‌زیانه بله‌پایله ونه‌لري او {له‌دې امله به} شوروي اتحاد ته‌په‌نړیوال ډګر او دهېواد په دننه‌کې نه‌اټکل کېدونکي زیانونه پېښ شي...

ورینیکوف ،د ۱۹۸۸ کال سپتمبر.

ددغې کتنې په‌ترڅ کې دپوځونو د وتلو دځنډوولو په‌اړه د نجیب‌الله‌له‌خوا وړاندې شوی‌لیډ یوازې یو ازمایښتي او لومړنی ګام و. تر هغې وروسته دافغان‌مشرتابه له‌خوا ورته غوښتنې بېخي په‌وار وار او کلکه توګه وړاندې کېدې او داکار نه‌یوازې په‌لوړه کچه ، بلکې په‌افغانستان کې دشوروي اتحاد له‌استازو سره دشخصي اړیکو اوخبرو اترو او دغه راز افغانستان جمهوریت ته دشوروي پلاوو دسفر په‌ترڅ کې هم ترسره کېده . هرڅومره چې به‌د شوروي پوځونو دوتلو د دویم پړاو وخت رانږدې کېده ،هماغومره به‌د افغانستان له مشر تابه‌سره دخپل سبا او برخلیک اندېښنه هم زیاتېده . هغوی په‌کلکه توګه هلې ځلې کولې چې که‌وکړای شي شوروي پوځونه په‌افغانستان کې‌تم کړي.

**لاسوند ( پټ)**

... دافغانستان جمهوریت دفاع وزیر ډګرجنرال شهنواز تني دسږ کال د سپتمبر پر ۱۵ مه‌دلوی پوځي سلاکار د دفتر له‌مشر برید جنرال ل. ت. لیوچنکوسره چې له‌ده‌سره ډېر نږدې شخصي اړیکي لري وکتل او هغه ته‌یې داسې څرګندونې وکړې :

« داردو د سیاسي چارو لوی پاسوال برید جنرال زیارمل را نه کلکه هیله وکړه چې پوځیان باید دلویې جرګې دجوړولو خبره په بېړني توګه راپورته کړي او دغه لویه جرګه دې د دفاع وزیر ، داردو دسیاسي چارو د لوی پاسوال اونورو قوماندانانو په نوبت له شوروي اتحاد نه وغواړي چې خپل پوځونه دې د یو اوږده وخت لپاره په افغانستان کې پرېږدي .

زیارمل دغه راز وړاندیز وکړ چې د شوروي پوځي سلاکارانو او په تېره هغو تولګیو په شمېر کې دې زیاتوالی راشي چې ددغو سلاکارانو ساتنه کوي . شهنواز تني وویل چې ددغو وړاندیزونو په باب تر هرڅه وړاندې باید له شورویانو سره خبرې اترې وشي.

زموږ په اند د زیارمل داشان چلند یوازې دهغه خپل نوښت نه دی ، بلکې دا کار د هېواد دمشرتابه د کړۍ دګڼ شمېر دلیدونو او ګتیو ځرګندونه کوي. . . .

ورینیکوف ، د ۱۹۸۸ کال دسمبر .

آخوا [ افغان مشرانو ] دخپل بې زړه توب او اندېښمنو اټکلونو تر اغېزې لاندې مسکو ته بیا بیا له ترورتیا نه ډک ټلګرامونه استول . په هغو کې په تینګار سره هیله کېده چې دشوروي پوځونو یوه برخه دې په افغانستان کې پرېښودل شي ، او که چېرې شوروي اتحاد دا کار نه کوي ، نو لږ تر لږه دې خپل پوځونه یو څه وروسته له افغانستان نه وباسي. باید وویل شي چې دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند د سیاسي بیورو ځینو غړو او په تېره ا.ا. شیوارد نادزې هم د افغاني لوري له دې شان دریځ سره پوهاوی ( تفاهم ) درلود. خو دا کار دشوروي لږشمېر پوځي تولګیو دجنرالانو او افسرانو دحیرانتیا وړ ګرځېده ، ځکه دشوروي اتحاد د فاع وزیر پخپله د ژنیو تړون « دمنځته راوړونکو » له ډلې نه و ، چې د هغو له مخې شوروي پوځونه باید [ له ټاکلې نېټې سره سم ] له افغانستان نه ایستل شوي وای.

مبنایي هغه وخت به دې شان چلند اودریځ ځېنې لاملونه درلودل ، خو هغه څه چې هغه مهال نا معلوم او پټ وو ، ډېره موده وروسته جوت اوڅرګند شول .

دشوروي پوځونو د وتلو دويم پړاو بايد له منل شوي پلان سره سم په نومبر کې پيل شوی وای ، خو د نجيب الله په غوښتنه پرېکړه وشوه چې په مهالوېش کې بايد بدلون راشي . {...} خو کله چې کابل ته د ا.ا . شيوارد نادزي او و.کريوچکوف د سفر په ترڅ کې. نوموړو له نجيب الله او دغه راز م.ح. شرق ، ش. ن. تني ،ع. ف. يعقوبي ،م.ا. وطنجار ،ع.وکيل ،ف.خالقيار ،ن. علومي او سيد منصور نادري سره هم ليدني کتني او خبرې اترې وکړې ) دافغانستان جمهوريت مشرانو ټينګار وکړ چې لېتر لږه دکابل نړيوال هوايي ډګر او کابل - حيرتان دستراتيژيکي لويې لارې د ساتنې لپاره دې دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګيو له منځ نه پخپله خوښه يو شمېر پوځيان ( د ۱۲ زره تنو په شاوخوا کې ) پرېښودل شي نو حالاتو بيخي نوې بڼه غوره کړه . بې ځايه به نه وي که دلته هغه مهال ترسره شوو خبرو اترو ته يوه لنډه کتنه وکړو :

نجيب الله ( د افغانستان يو غوڼډ خدايزده که داحمد شاه {مسعود} د ياغيانو د اغېزې په سيمه کې ورنده ټينګاو وکړي . په دې اړه له شوروي مشرتابه نه هيله کوم چې په لنډ مهاله توګه د سالنګ په سيمه کې دشوروي پوځي ټولګيو دځاى پرځاى کېدو شونتيا ( امکان) وڅېړي .البته ددغو ټولګيو دنده به يوازې او يوازې دلارې ساتل وي او بس .{...}

دغه راز ښه به وای که دافغانستان پولو ته څېرمه پرتو شوروي هوايي ډګرونو کې يوه ټاکلې شمېر هوايي ځواک په پرله پسې توګه دنده سرته رسولای چې د افغانستان په دغې ياهغې سيمې کې د ترينګلي او ګواښمن حالت دمنځته راتلو پروخت به له هغه نه په اوپراتيفي توګه داشرارو پر خلاف ګټه اخيستل کېدای . له بله پلوه په کندهار کې داړتيا ور زېرمو دجوړولو ستونزه هم لا هماغسې نا اواره پاتې ده . ګومان کوم اوس حالات دې ته چمتو دي چې سړی دې دغه ښار ته دمالونو د يوه کتار دتېرولو هڅه وکړي. افغاني لوزی کولی شي چې د دې کار لپاره له ٤ مې او ٥ مې قول اردو ګانو نه دنېږدې ۲۰۰۰ تنو په شاوخوا کې ځيني ټولګي ځانګړي کړي . خو د شوروي ټولګيو له ونډې او

ګډون نه پرته دکتار تېرول ناشوني بريښي .

۱.۱. شيوارد نادزي : تر هغه ځايه چې ماته پته ده دکتار تېرول ګڼ شمېر پوځي تولګيو ته اړتيا لري. دغه راز په دې ترڅ کې له دښمن سره دوسله والو نښتو پېښېدل هم له کېدون نه لرې نه بريښي . خو موږ بايد په اوسني پړاو کې له بې ځايه مرګ ژوبلې او ځاني زيانونو نه ډډه وکړو . {...}

دشوروي اتحاد له خاورې نه دهوايي ګوزارونو دترسره کولو خبره ډېره زياته نرۍ اوحساسه ده . موږ پوهېږو چې تاسو به دشوروي له هوايي ملاتړ نه پرته له ستونزو سره مخامخ و اوسئ ، خو دشوروي پوځونو دشته والي په وخت کې دې کار باک نه کاوه ، خو دهغو وتلو وروسته دا کار بېخي بله بڼه غوره کوي. که چېرې موږ دا کار وکړو ، نو هغه به هرو مرو دامريکا او پاکستان له خوا له ورته چلند سره مخامخ شي اوناوړه نړيوال غبرګون به راوپاروي . ( ۱ ) دغه راز موږ اړينه بولو چې دکابل - حيرتان دلويې لارې دساتنې خبره دې هم ډېر ژور څېړل شي. څرګنده ده چې له دغې لارې نه دنه ګټې اخيستنې په حال کې د پلازمېنې د بسيا کولو د ستونزې له منځه وړل بېخي ناشونې کار دی. ..

( کابل د ۱۹۸۹-۱-۱۳)

---

(۱) (په دې اړه دامريکا داداري غبرګون هم دډېرې پاملرنې وړ دی . {...}.

دامريکا دبهرنيو چارو او دفاع وزارتونو او ملي امنيت شورا کاري ډلې هغه مهال دامريکا دمتحده ايالتونو ولس مشر ته په دې اړه د لانديني ګامونو د اوچتولو وړانديز کړی و :

۱۱- له مجاهدينو سره دې تر هغه وخته مرستو ته دوام ورکړل شي ، چې شوروي اتحاد دنجيب الله حکومت ته دپوځي تخنيک او بسياينو ( تجهيزاتو ) لېږل نه وي بند کړي .

- که چېرې شوروي اتحاد په افغانستان کې ديو لړ موخو دبمبارۍ لپاره پخپلې خاورې کې له پرتو هوايي ځواکونو نه ګټه واخلي ، نو په دې اړه دې « په ډاګه او غوڅه توګه غبرګون وښودل شي . »{...}

- په افغانستان کې دلنډمهاله حکومت دجوړولو لپاره د سلاکاري ( مشورتي) شورا دجوړېدو په وخت کې دې دظاهر خان دنوماندۍ له ملاتړ نه ډډه وشي او دغه ټينګه دې له « اوه ګوټي تلوالې » نه څرګنده شي . خو له دې سره جوخت دې دغه حکومت د په رسميت پېژندلو نوښت هم پخپله غاړه نه اخيستل کيږي... »

م.ح. شرق ( دافغانستان جمهوریت لومړی وزیر ) : پخوا موږ په دې اند وو چې زموږ هېواد ته د رسېدلي زیان سته ګنې په جګړې کې ښخه ده ، خو اوس موږ په دې باور یو چې شته اداري سیستم هم موږ ته له جګړې نه لږ زیان نه دی رسولی...

زموږ بودجه آن تر دې په بشپړه توګه نا رښتینې ده چې د وتې ( عاید ) دکورنیو چینو پر ځای دشوروي پروړیا مرستو ولاړه ده ... هو ، تاسو له موږ سره هر اړخیزې مرستې کوئ ، خو موږ له هغو نه سمه ګټه نه اخلو ، خلک پوښتنه کوي چې ولې داسې پېښېږي ... زموږ وسله وال ځواکونه نه شي کولی چې آن د مالونو دلېږدولو امنیت وساتي . دکابل لپاره دخوراکي مالونو درې میاشتنۍ زېرمې دشوروي اتحاد پولې ته په ځېرمو زېرمتونونو کې پرتې دي ، خوموږ نه شو کولای خوراکي مالونه پلازمېنې ته راولېږدوو.

ا.ا. شیوارد نادزي : تاسو باور وکړئ چې له افغانستان سره دمرستو ترسره کول زموږ لپاره هم دومره اسان کار نه دی . هغه غوړي ، بوره او اوړه چې موږ یې تاسو ته درلېږو هغه موږ له شوروي وګړو نه را اخلو ، {خو له بده مرغه } دغه شیان هغو کسانو ته نه رسېږي چې هغو ته اړتیا لري. له همدې امله ده چې دکابل - حیرتان د لارې ساتنه او دپلازمېنې دبسیا کولو لپاره دیوه هوایي پله جوړول لومړی درجه ارزښت پیدا کوي....

( کابل ، ۱۹۸۹-۱-۱٤ )

غ.ف. یعقوبي ( دافغانستان جمهوریت د دولتي امنیت وزیر ) : ترهغې چې احمد شاه مسعود پاتې وي ، نو دکابل - حیرتان لاره به همداسې بنده وي اونه یوازې پلازمېنې ، بلکې دهېواد نورو سیمو ته به هم دخوراکي او نورو اړتیاوړ مالونو درسولو ستونزه هم همداسې نا اواره پاتې وي . داچې اوسنی رژیم به پایښت ومومي او که له پښو به پرېوځي - دهمدې ستونزې په اواري پورې اړه لري.....

ا.ا. شیوارد نادزي : که داسې وګڼو چې دکابل ښار د خاور وپرتېلو ، دوه ی

او داسې نورو اړينو مالونو سمبال شي ، نو آيا بيا به هم د پلازمينې اوسېدونکي دکودتا ملاتړ وکړي ؟

غ.ف. يعقوبي : زما په اند خلک به دکودتا ننګه ونه کړي ، ځکه د کابل اوسېدونکي په دې پوهېږي چې دکودتا ترسره کېدو په حال کې {هرومرو} ګ .حکمتيار د واکمنۍ واګې ترلاسه کوي او نوموړی د پلازمېنې دبېلابېلو ټولنيزو پاړکو او پوړونو ( قشرونو ) په منځ کې آن يو پوټی ګرانښت هم نه لري...

( کابل ، ۱۹۸۹-۱-۱٤ )

ش . تنی ( د افغانستان جمهوريت د دفاع وزير ) : ياغيان خورا کارنده او په غوره کې دي ، هغوی غواړي چې د ژنيو د تړون په لاره کې خنډ شي او له همدې امله هڅه کوي چې دوګړنۍ واکمنۍ دراپرځولو لپاره خپل زور او ځواک ښکاره کړي. ګما په اند د هېواد پوځي - سياسي حالت ترينګلی او کړکېچن دی او دغه تاو تريخوالی به دوام او وده ومومي .

کابل ، ۱۹۸۹-۱-۱٤ ).

ع. وکيل ( د افغانستان جمهوريت د بهرنيو چارو وزير ) : په کار ده چې شوروي لوري دژنيو تړون له په پام کې نيولو سره په تېره دسلواغې تر ۲٦ مې وروسته دتوغنديو د ګوزارونو اوهوايي بمباريو له لارې زموږ له وسله وال پوځ سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي .... د باګرام او کندهار پرهوايي ډګرونو او دغه راز دحيرتان پر بندر باندې ولکه زموږ لپاره ژوندی ارزښت لري. احمد شاه مسعود به بې له شکه هڅه وکړي چې د شوروي پوځونو تر وتلو وروسته دسالنګ لاره بنده کړي .... ( کابل ، ۱۹۸۹-۱-۱٤ ){...}.

ښايي دهمدغو ليدنو کتنو او خبرو اترو اغېزه به وه چې ا.ا. شيوارد نادزې د جنورۍ پر ۱۵ مه په شوروي سفارت کې ديوې غونډې په ترځ کې وويل چې شوروي ټولګي دې دسلواغې ( دلوی ) ۲٦ مې نه وروسته هم په افغانستان کې پرېښودل شي :« دکابل کلابندۍ دمخنيوي لپاره په کار ده چې له يوه

تاکلي شمېر ساتندويه پوځ سره زموږ دکار پوهانو د پرېښودو او يا رالېږلو ځيلی (وريانتونه) وځېړل شي چې دکابل هوايي ډگر دساتنې او کارندتيا او دغه راز تېلو دنل ليکې په گډون دکابل- حيرتان دلويې لارې د بې ځنډه کارندتيا دسمبالولو دنده به پر غاړه ولري. په تېره د دغې لارې بندېدو ته خو بايد په هېڅ ډول هم اجازه ور نه کړل شي. موږ بايد په هر شان او بيه چې وي دغه لار وساتو. دا کار اوس زموږ تر ټولو مهمه دنده او موخه گڼل کېږي.

موږ بايد غور وکړو چې دا مفکوره په څه ډول پلې کړو او هغې ته داسې يوه ښه اوښنسټ ورکړو چې ټولنوال عامه افکار پر دې باوري شي چې زموږ چلند رښتيا هم ښېخي سم او پرځای دی {او دې کار له دې پرته بله لار نه درلوده}

زموږ پوځي مشرانو ته په کار ده پر داشان ځيليو او وريانتونو باندې غور وکړي چې د هوايي ډگر او لويې لارې دساتنې لپاره اړوند ټولگي ښه ده چې همدا اوس پرېښودل شي او که ٤٠ اردو دې لومړی په بشپړه توگه ووځي او داړتيا وړ پوځي ټولگي دې « د افغانستان حکومت له دويم ځلي غوښتنې سره سم» بيا وروسته {افغانستان ته} را ولېږل شي.

دغه راز موږ کولی شو دملگرو ملتونو سازمان ته هم وړانديز وکړو چې {لومړی دې هغه} دهوايي ډگر او لويې لارې ساتنه په غاړه واخلي او تر هغې وروسته به شوروي پوځونه په بشپړه توگه {له افغانستان نه} ووځي. کابل ته دنورو خوراکي مالونو د لېږدولو لپاره دې هم همدا اوس او هم د ٤٠ اردو تر وتلو نه وروسته يو هوايي پل جوړ شي. {...}

د ا. مسعود د ډلو پر خلاف بايد عمليات تر سره او هغو ته دې په ټولو سيمو کې داسې گوزار ورکړل شي چې د اوږد ه وخت لپاره ونه شي کړای بيا ځان راټول او دکابل - حيرتان د لارې په اوږدو او نورو سيمو کې د اړې او عمليات تر سره کړي.

زموږ هوايي ځواکونه اوس له پنجشېر او سويلي سالنگ نه پرته پر نورو ټولو سيمو بمباري کوي، خو لکه چې ماته رپوټ راکړ شو تاکل شوې ده چې په

دغو سیمو او سویلي سالنــــگ کې هم د ٤٠ اردو اوافغانستان جمهوریت د وسله والو ځواکونو له خوا دجنوري پر ٢٠ مه عملیات ترسره شي. دپوځیانو د معلوماتو له مخې شوروي پوځونه آن د جنوري پرلومړۍ او افغاني هغه د جنوري پر ٥ مه چمتو وو چې جګړه ییز عملیات پیل کړي ،خو لکه چې ماته پخپله هم روښانه شوه ، دا کار د نجیب الله د وړاندیز له امله چې غوښتل یې لومړی باید کابل ته لېتر لږه د اړتیا وړ اوړه اوځینې نور خوراکي مالونه ولېږدول شي وځنډول شو. » {...}

په افغانستان جمهوریت کې دشوروي اتحاد دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشر په شوروي سفارت کې له جوړې شوې غونډې نه وروسته یو شمېر شوروي جنرالان ، افسران او د ٤٠ اردو قوماندانې دشیوارد نادزي له خوا له غوره شوي دریځ نه خبره کړه . ددې خبر په اورېدو سره هغوی ټولو ډېر سخت منفي غبرګون څرګند کړ. آن تر دې چې د جنرالانو له منځ نه یوه ور غبر کړ :« داسې ښکاري چې دغو ... بیخي سد او عقل له لاسه ورکړی دی ». و . ورینیکوف ددې لپاره چې دهغوی راخوتېدلی ځوښ او احساسات لږ کېنوي وویل :« خبره دې پولې ته رارسېدلې چې هغوی ټول دپوځونو دپاتې کېدو پر پلوی یوې خوا ته او زه ایکي یوازې بلې خواته پاتې یم ..... » {...}

خو په افغانستان کې شوروي پوځي مشرتابه دشیوارد نادزي له دغه نوښت سره چورلټ منفي غبرګون وښود او په زغرده یې څرګنده کړه چې دې کار ته باید په هېڅ ډول اجازه ورنه کړ شي ( نه دخپلې خوښې دپوځیانو په بنه او نه هم دملګرو ملتونو د سازمان تر مشرۍ لاندې ).

له همدې امله دشوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې سیاسي بیورو دې ته اړ شوه چې په افغانستان کې دشوروي پوځونو دځینو ټولګیو دپاتې کېدو خبره دجنوري د ٢٤ مې په غونډه کې تر څېړنې لاندې ونیسي.

**لاسوند**

**بېخي پټ**

ځانګړې دوسيه

نومره ۱٤٦/٦

ملګرو ګرباچوف ، ريژکوف ، سليونکوف ، چبريکوف ، شيوارد نادزې ، ياکوفليف ، ماسليوکوف ، يازوف ، موراخوفسکي ، کريوچکوف ، بولدين او فالينو ته دپريکړه ليک ټول پاراګرافونه ، ګوستيف ته ۲ او ٦ ، ولکوف ته ٥ او کاتيو شوف ته ٦ پاراګرافه مخامخ دي.

دشوروي اتحاد کمونيست ګوند دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو د ۱۹۸۹ کال دجنوري د ۲٤ نېټې دغونډې له ۱٤٦ لمبر پروتوکول نه را اخيستنه .

له افغانستان نه دشوروي پوځونو دوتلو په اړه دتدبيرونو په باب

۱- له هغو ليدونو او وړانديزونو سره دې خوښاوي وشي چې دملګرو ا.ا. شيوارد نادزې ، و.م. چبريکوف ، ا.ن. ياکوفليف ، د ت. يازوف ، و.س. موراخوفسکي او و .ا. کريوچکوف له خوا د ۱۹۸۹ کال دجنوري د ۲۳ نېټې په يادښت کې وړاندې شوي دي ( يادښت مل دی ) .

۲- دشوروي اتحاد دپلان جوړولو دولتي کمېټه او دشوروي اتحاد د ماليې وزارت دې دشوروي اتحاد دبهرنيو چارو له وزات ، دشوروي اتحاد دفاع له وزارت او دشوروي اتحاد له کې جي بي سره په ګډه دحيرتان - کابل ذ لويې لارې د پرانيستې پاتې کېدو د اړتيا او پخپلو افغاني ځواکونو د دغې لارې سمبالتيا لګښت به تر يوه ټاکلي وخته زموږ پر غاړه وي ) له افغاني ملګرو سره د هراړخيزو مرستو دترسره کولو په اړه خپل وړانديزونه د ۱۹۸۹ کال دفبروري تر لومړۍ نېټې پورې وړاندې کړي.

۳- ملګري د .ت. يازوف ته دې دنده ورکړل شي چې دمنځته راغلي پوځي حالت دکره څېړنې او دکابل - حيرتان د ستراتيژيکي لارې د ساتنې په ګډون له افغاني لوري سره د دفاعي ستونزو د اوارولو په برخه کې دکړنده ( عملي ) مرستو د ترسره کولو لپاره کابل ته سفر وکړي .

٤- دشوروي اتحاد دفاع وزارت دې په افغانستان کې دپوځي حالت

داعلاتولو دبهلا بهلو بنو دځېړنې په برخه کې دافغانستان جمهوریت له ولس مشر سره مرسته وکړي.

۵- دشوروي اتحاد دفاع وزارت او دشوروي اتحاد د ملکي هوايي چلند وزارتونه دې پخپله خوښه اود تاکلي مادي ملاتړ په بدل کې دافغانستان دهوايي چلند په الوتکو یا هغو شوروي ترانسپورتي الوتکو کې چې افغاني لوري ته به په اجاره ورکړل شي له شوروي پیلوټانو نه دګټې اخیستنې خبره وڅېړي.

٦- دشوروي اتحاد د پلان جوړولو دولتي کمېټه ،دشوروي اتحاد د مالیې وزارت او دشوروي اتحاد د بهرنۍ سوداګرۍ وزارت دې له افغانستان سره د لا زیاتو اقتصادي مرستو دترسره کولو په اړه خپل وړاندیزونه د ۱۹۸۹ کال دفبروي تر ۱۰ مې پورې وړاندې کړي.

په دې اړه دې کابل ته دملګرو یو.د. ماسلیوکوف ،ب.اي. ګوستیف او ک. ف. کاتیو شوف پرسفر هم غور وشي.

۷- د افغانستان لپاره دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو کمیسیون دې د شوروي اتحاد کمونیست ګوند دمرکزي کمېټې له ټولیزې ( عمومي ) څانګې سره په ګډه افغانستان ته دشوروي پوځونو دلېږلو په اړه دپرېکړې په ګډون دهغه هېواد دحالاتو د ودې دټولو پړاونو اود غه راز د افغانستان دحالاتو د راتلونکې پرمختیا د ټولو شونو( ممکنو ) بنو او زموږ لپاره دهغو د وروستینو (عواقبو ) په باب د مستندو لاسوندونو په بنسټ یو جوړ شوی رپوټ دشوروي اتحاد کمونیست ګوند مرکزي کمېټې ته وړاندې کړي.

دمرکزي کمېټې منشي م. ګرباچوف.

**لاسوند**

**د ١٤٦ لمبر پروتوکول د ٦ توکي په اړه.**

**بېخي پټ**

**ځانګړې دوسیه**

دشوروي اتحاد دکمونيست گوند مرکزي کمېټه

لهافغانستان نهدشوروي پوځونو د وتلو پهاړه د تدبيرونو پهباب

... دملګري نجيب الله پهوينا کهچېرې لار { دکابل - حيرتان لويه لاره ، ژ.} دمې تر مياشتې پورې پرانيستې پاتې شي ، بيا نو د رژيم پاينښت شوی ويولئ . ښکاره دهچې افغاني دوستان نهشي کولې زموږ لهمرستې نه پرته ددغې لارې کارندتيا سمباله کړي...

پهدې اړه کېدای شي دغه بېلابېلې چارې پهپام کې ونيول شي:

لومړی : د هغه ستونزمن حالت لهامله چې ملکي وګړي ورسره لاس وګرېوان دي زموږ يوه فرقه يانې د ۱۲ زرو تنو پهشاوخوا کې پوځيان دې د حيرتان - کابل پهلاره کې پاتې شي. خو دا کار لهدې امله وړ نهايسي چې دهغه لهکبله پهملګرو ملتونو کې دا خبره را پورته کېدای شي چې موږ خپل پوځونه پهبشپړه توګه نهدي ايستلي . کهڅههم پاکستان دژنيو د تړون پهاړه خپلې ژمنې نهترسره کوي ، خو لهدې سره سره ګومان نه کېږي چې دملګرو ملتونو ګڼ شمېر غړي هېوادونه بهزموږ ملاتړ وکړي، ځکه دپوځونو خبره د هغو د زياتې برخې لپاره دستونزې زړی ګڼل کېږي.

دويم : پهکابل او نورو ښارونو کې دلوږې دګواښ لهامله دې پر ملګرو ملتونو غږ وشي چې دغو ښارونو تهد خوراکي او نفتي موادو دلېږدولو چاره دې پهچټکه توګه سمباله کړي او دلارې دکارنده ساتنې لپاره د ې دملګرو ملتونو پوځونهراولېږي.

دملګرو ملتونو د ځواکونو ترڅارسېدو دې زموږ پوځي ټولګي پخپلو ځايونو کې پاتې شي چې يوازې وګړو تهدخوراکي اونفتي مالونو درسولو په ځېر انساندوستهدندې بهپر مخ بيايي . لهدې سره جوخت دې داخبره ترسره شوې وګڼل شي چې شوروي پوځي ټولګي {لهافغانستان نه} وتلي او اعلان دې وشي چې دملګرو ملتونو دځواکونو ترڅارسېدو وروسته زموږ {پاتې} ټولګي همبې لهځنډه شوروي اتحاد تهستنېږي.

خو دا خبره لە دې امله ناشونې برېښي چې د ملګرو ملتونو د ځواکونو دلېږلو لپاره دامنيت شورا پرېکړې تەاړتيا ده او دا کار خدايزده کە ترسره شي.

دريم : لە پلان سره سم دې د فبرورۍ تر ۱۵ مې ( سلواغې تر ۲٦ مې ) زموږ ټول پوځونه را وايستل شي او پە دې اړه دې پە نړيواله کچه دشوروي اتحاد او افغانستان دحکومتونو اعلاميې خپرې شي . وروسته دې د افغانستان حکومت لە غوښتنې سره سم چې دنړۍ لە ټولو هېوادونو نە بە يې ترسره کړي {دغه هېواد تە} دملکي مالونو د لېږدولو دکتارونو بهير پيل او دهغو دساتنې دندە دې شوروي پوځي ټولګيو تەوسپارل شي. د داشان کتارونو لړۍ کېداى شي د شوروي پوځونو تر وتلو دوه اوونۍ وروسته پيل شي . تر هغې وختە دې عامە افکار پە پراخە توګە دې تە چمتو شي چې دمخالفينو کړنې چې د افغانستان د ښارونو وګړي لە لوږې نە پر مړينې ګواښوي وغندي . پە دې ډول دعامە افکارو دچمتو کېدو پە حال کې بە زموږ دټولګيو لەخوا د کتارونو بدرګې تە پە بشپړه توګە ديوه انساندوستە ګام پە سترګه وکتل شي.

خو پە دې ترڅ کې بە دلارې پە ځينو برخو کې وخت ناوخت ډزې او جګړې هم پېښېږي.

څلورم : ټول پوځونە دې د سلواغې تر ۲٦ مې لە افغانستان نە وايستل شي. دشوروي پوځي ټولګيو وتلو تە دې پە اړوندە اعلاميە کې رسمي بڼە ورکړل شي . خو د حيرتان- کابل دلارې پە اوږدو کې افغاني لوري تە دځينو پوستو د ورسپارلو پە پلمه دې يو شمېر شوروي ډلې ډلګۍ دسالنګ پە ګډون دلارې پە ځينو مهمو ځايونو کې پرېښودل شي . زموږ پە نوبت دې دغه کار تە ډېره لمن نە وهل کېږي او نە دې هم هغه تە ډېر ارزښت ورکول کېږي. يوازې دې دومره وويل شي چې لږ شمېر شوروي پوځيان لە دې املە دلته تم شوي چې افغاني لوري لاتر اوسە لە هغوى نە اړوندە پوستې نە دي تسليم کړي . او لکه چې پە دريمه ماده کې هم وويل شول تر هغې وروستە دې زموږ د پوځيانو پە بدرګه کابل تە د کتارونو تېرېدل پيل شي.

خو په پورته وړاندې شوو ټولو بېنو او څېلونو کې باید داټکي له پامه ونه غورځول شي چې { دلاري د ساتنې په اړه } دټولو عملیاتو په بهير کې به زموږ سم سیده ( منظم ) پوځي ټولګي ونډه لري ، له همدې امله نو دغه ټولګي باید پخپله خوښه دهغو پوځیانو له منځ نه جوړ شي چې یا همدا اوس په افغانستان کې پر پوځي چوپړ بوخت دي او یا هم دخپلې دندې تر سرته رسولو وروسته شوروي اتحاد ته ستانه شوي دي .{...}

۲- افغاني لوری غوښتنه کوي چې دشوروي پوځونو تر وتلو وروسته دې هم دشوروي اتحاد د هوایي پوځ له خوا زموږ له خاورې ( شوروي اتحاد ) نه دمخالفینو پر وسله والو ځواکونو باندې ګوزارونو او بمباریو ته دوام ورکړل شي . خو افغاني ملګرو ته ددې کار دستونزو په باب پراخه څرګندونې شوې او هغوی ته سلا ورکړ شوې چې ښه به وي که په منځته راغلو نویو شرایطو کې له خپلو هوایي ځواکونو نه دګټې اخیستنې پر شونتیا غور وکړي . که څه هم چې هغوی په دې اړه زموږ څرګندونو ته د پوهاوي سرخوځوي ، خو ورسره ورسره ټینګار کوي چې ښایي په ځینو ډېرو نریو شیبو کې له شوروي هوایي ځواک نه ګټې اخیستنې ته کلکه اړتیا را منځته شي . زموږ په ګومان دا خبره دټولو کورنیو او بهرنیو لاملونو دټولګې ( مجموعې ) له په پام کې نیولو نه پرته نه شي څېړل کېدای ...

ا . شیوارد نادزې ، و. چبریکوف ، ا. پاکوفلیف ، د . یازوف ، و. موراخوفسکي و . کریوچکوف ، د ۱۹۸۹ کال دجنوري ۲۳ مه ، لمبر او . س. / ٦٥ .

آخوا شوروي پوځي قوماندانۍ له افغانستان نه دشوروي پوځونو دوتلو په وروستي پړاو کې زیاتې هلې ځلې وکړې چې احمد شاه {مسعود} له دولتي واکمنۍ سره همکارۍ ته ور واړوي . خونوموړي ونه شو کړای له واکمن رژیم سره له نه پخلاکېدونکي دریځ نه لاس واخلي او دروغې جوړې لاره خپله کړي .

# « د پنجشیر له زمري » سره جګړه

{...} د دوست محمد خان زوی احمد شاه پر ۱۹۵۳ کال د پنجشیر ولسوالۍ د بازارک علاقه دارۍ دجنګلک په کلي کې زیږیدلی . {...} پر ۱۳۵۲ ( ۱۹۷۳ ) کال تر دولتي کودتا وروسته د « ځوانو مسلمانانو » پلویانو د داود رژیم د را نسکورولو او « اسلامي جمهوریت » دجوړولو په نیت په اردو کې دیوې کودتا هڅه وکړه ، خو دغه چلوټه ډیر ژر کشف او ګډون کوونکي یې پانسي شول ، او احمدشاه پر دې بریالی شو چې وتښتي . هغه د ۱۹۷٤ او ۱۹۷۵ کلونو په ترڅ کې دپنجشیر ولسوالۍ دبازارک په کلي کې بیا د بغاوت په چمتو کولو اوترسره کولو کې چې د ۱۹۷۵ کال دجولای پر ۲۱ مه ترسره شو کارنده ونډ واخیسته ، خو دخلکو دنه ملاتړ له کبله دغه اړودوړ ډیر ژر مات او پرشا وتمبېده . له همدې امله احمد شاه دمصر او لبنان په لوري دکډوالۍ لار په مخکې ونیوه او هلته د فلسطین دجګړه مارو ډلو له لیکو سره تر یوځای کېدو وروسته یې دجګړه ییزو او ترهګرو عملیاتو په ترسره کولو کې ونډه درلوده . هغه دغه راز دمنځني ختیځ ، لاتیني امریکا اوسویل ختیزې آسیا په هېوادونو کې دپارتیزاني جګړې د تجربې زده کړې ته هم پایښې رابډ وهلې . په همدې ترڅ کې وه چې د م . داود رژیم نوموړی دپوځي جنایتکار په توګه اعلان کړ . احمد شاه پر ۱۹۷۷ کال ( ۱ ) له ب . رباني ( دافغانستان اسلامي جمعیت ) سره چې په ختېه تاجک دی یو ځای شو . {...}

احمد شاه وکړای شول چې دښه لوري ورکولو او تبلیغاتي وړتیا وو ، دیني سابقې ( چې په یوه اسلامي هېواد کې ډېر رول لري ) او جګړه ییزې تجربې په

---

(۱) - دپاملرنې وړ ده چې شوروي اتحاد پرهمدې کال په افغانستان کې د خلق او پرچم ډلې هم دخپلو راتلونکو پلانونو لپاره سره یوځای کړې ، ژ .

درلودلو او دغه راز د تاجکانو له ملت پالونکو ولولو ( احساساتو ) اواسلامي وچتو بونو ( دوگمونو ) نه په خورا هوښیارۍ سره په گټې اخیستنې او د ب. رباني له شخصي ملاتړ نه په برخمنتیا سره د ۱۹۷۹ کال تر پایه په پنجشیر کې دافغانستان اسلامي جمعیت یوه ډله جوړه او دهغې مشري په غاړه واخلي.

دهغه په خپله وینا نوموړي په لومړي سر کې ټول تال شل تنه جنگيالي درلودل ،خو د تر هگرو عملیاتو له تجربې نه په گټې اخیستنې سره یې وکړای شول چې په دغې سیمې کې خپل ټول سیال ډلمشران چې دمشرۍ دعوه یې کوله ډېر ژر یو په بل پسې له منځه یوسي او په دې توگه هلته خپله بشپړه برلاسي تینگه کړي. له همدې امله وه چې احمد شاه د « مسعود » یانې « نېکمرغه » لنډ نوم ( تخلص) ځانته غوره کړ. {...}

داحمد شاه په اند په افغانستان کې دمنځته راغلي حالت پړه نه یوازې دشوروي اتحاد ،بلکې دامریکا او پاکستان پر غاړه هم ده ،ددې تر څنگه هغه په دې باور دی چې { په افغانستان کې } هیڅ یو رژیم هم نه شي کولی د شوروي اتحاد له ملاتړ او له هغه سره له دوستانه اړیکو نه پرته ژوند او دوام وکړي.

داحمد شاه د ډلو پر خلاف چې هغه وخت چا لا دومره نه پېژانده لومړي عملیات د ۱۹۸۰ کال په اپریل کې ترسره شول. دڅارگرۍ دمعلوماتو له مخې هغه مهال دپنجشیر په دره کې داحمد شاه د ډلې شمېر د زروتنو په شاوخوا کې وچې ټول دهمغه ځای اوسېدونکي وو. که څه هم دغه عملیات ډېر چټک وو او ټول تال یې څلور ورځې دوام وکړ ،خو یاغیانو ته یې د سر ډېرغټ زیان ورساوه اوهمدې کار مسعود دې ته اړ کړ چې دشوروي لېږشمېر پوځي ټولگیو له قوماندانۍ سره یو پټ خوښاوی لیک لاسلیک کړي. نوموړي په دغه خوښاوي لیک کې ژمنه کړې وه چې دشوروي او حکومتي پوځونو پر خلاف به له دښمنۍ نه ډک عملیات نه ترسره کوي. ددې کار په بدل کې له هغه سره ژمنه شوې و چې پر پنجشیر به هوایي بمباري نه کېږي ،دهغه کاروانونو ته به درې ته دننوتلو او له هغې نه دوتلو اجازه ورکول کېږي او دغه راز د افغانستان اسلامي گوند له

سیالو ډلو ټپلو سره د احمد شاه د ډلو د وسله والو نښتو پروخت بهٔ دهوایي بمباریو او توپچي گوزارونو له لارې له نوموړي نهٔ ننگه او ملاتړ کیږي.

ددغه خوښاوي لیک وخت د ۱۹۸۲ کال په مي کې پوره کېده ، خو دواړو خواو ددغه پړاو په بهیر کې خپلې ژمنې په ښه توگه تر سره کولې ، داسې چې احمد شاه دلارې په اوږدو کې دورانکارو عملیاتو ترسره کول په ټپه ودرول او خپل ټول زور یې په پنجشېر کې له انجینري پلوه د دفاعي ودانیو جوړولو او دخپلو ډلو پیاوړي کولو ته اړم کړ.

شوروي پوځي ځارگرۍ هم لاس ترزنې نهٔ وه ناسته او په دې پړاو کې له مسعود سره دخپلې همکارۍ پر ټینگولو او لا پیاوړتیا باندې بوخته وه. دساري په توگه ډگرمن اناتولي. خورا اوږد وخت داحمد شاه په استوگنځي کې تېر کړا و په دې ترڅ کې یې له هغه سره اړونده کار پر مخ بیوه. دغه رازیې نوموړی دشوروي ژوند له بنې او دمارکسیزم دبنسټ ایښودونکو له لیکنو سره هم بلد اوه. خو ښکاره ده چې ددې کار د پایلو له پاره لا ځه نا څه وخت ته اړتیا وه.

آخوا د ۱۹۸۲ کال دجنوري له پیل نه را په دېخوا د کې جي بې له لارې رپوټونه را رسېدل چې داحمد شاه ډلې د لارو په اوږدو او دغه راز نور ځایونو کې دشوروي او حکومتي پوستو پر خلاف ورانکاره عملیات ترسره کوي. هماغه و چې د ب . کارمل له کلکې غوښتنې سره سم په پنجشېر کې دنوو عملیاتو تر سره کولو ته چمتو والی پیل شو . په مسکو کې هم پرېکړه وشوه چې داحمد شاه ډلو ټپلو ته باید د ٤٠ اردو او افغانستان د وسله والو ځواکونو له خوا د گډو عملیاتو له لارې په پنجشېر او هغه ته په څېرمه سیمو کې ملاماتونکی گوزار ورکړل شي. {...} خو ددې لپاره چې دخپلې بشپړې ماتې مخه یې نیولې وي ، نو احمد شاه یو ځل بیا د ۱۹۸٤ ( کال داپریل تر ۲۱ مې ( د ۱۹٦۳ کال دغويي تر لومړۍ ) نېټې په پنجشېر کې داوربند په اړه دشوروي قوماندانۍ له وړاندیز سره خوښاوی وکړ ، او داد یې ورکړ چې نور به له دښمنۍ نهٔ ډک تبلیغ نهٔ کوي او

دغه راز یې ژمنه وکړه چې په پنجشیر کې به د شوروي او حکومتي ځواکونو پر خلاف عملیات هم نه ترسره کوي. برسېره پردې هغه لوز وکړ چې په خپله سیمه کې به د نورو گوندونو یاغیانو ته هم اجازه نه ورکوي چې ورته عملیات ترسره کړي او د خپل مسوولیت له سیمې نه د هغو دوسله والو ډلو او وسلو او مهمات د کاروانونو د تېرېدو مخه به هم نیسي او خپلو کلیو او کورونو ته د سیمې د خلکو د ستنېدو او کابل او یا نورو ولایتونو ته د وګړو د تګ راتګ مخه به نه نیسي.

که ربښتیا ووایم نو مسعود خپلې تولې ژمنې په بشپړه توګه پلې کولې او په پنجشیر کې یې پر شوروي او افغاني چونیو او ګارنیزیونونو باندې بریدونو ته هم هېڅکله اجازه نه ورکوله. {...}

شوروي پوځي ښارګر (جاسوس) ډګرمن اناتولي ت. {په پنجشیر کې} له ترسره شوو عملیاتو سره سره بیا هم د حکومت خوا ته د احمد شاه د را اړولو په باب خپل کار ته دوام ورکاوه. خو په همدې وخت کې د شوروي اتحاد د کې جي بي لومړۍ لوېې پاسوالۍ (ریاست) چې مشري یې د و.ا. کریوچکوف پر غاړه وه د احمد شاه د «رامولو» په اړه «خپله پروژه» پرمخ بیوله او د مرکز په لا ربښوونه د شوروي اتحاد د وسله والو پوځونو دستر درسیتز د کشف دلوېې پاسوالۍ د ښارګرۍ (ایجنتورۍ) یوه برخه هم چې په افغانستان کې په کار بوخته وه په همدې موخه د نوموړې پاسوالۍ په واک کې ورکړل شوه. خو د غو عملیاتو هېڅ کومه بریا له ځان سره نه درلوده. د اخو لا څه چې له سپارل شوي دندې سره تړ ډېره ځایه هسې یو تش اداري چلند په مخکې ونیول شو، د اسې چې د کې جي بي استازو به پوځي ښارګر پر بېلابېلو تېروتنو او ګناهونو تورنول او هغوی به بیا پخپل وار چکیستان (کې جي بي والا) پردې تورنول چې هسې خوشې د دوی په لاره کې خنډونه جوړوي. {...}

اوس د اوږدو کلونو تر تېرېدو وروسته سړی کولی شي په ډاګه ووایي چې د اموږ وو چې پخپلو ناسنجول شوو کارونو او چلندونو مو له احمد شاه نه دیوه مهم شخصیت په جوړولو کې مرسته وکړه او له هغه نه مو دولس په وړاندې د

ACKU

خلکو ، اسلام او آزادۍ دلارې یوا تل جوړ کړ .{...}

د ۱۹۸٤ کال په پیل کې دافغان مشرتابه له کلکې غوښتنې سره سم د دریېم ځل لپاره پرېکړه وشوه چې په پنجشیر کې دې پراخه پوځي عملیات ترسره شي. دغه مهال د مسعود دکسانو شمېر تر ۳۵۰۰ تنو پورې رسېده . له هغو ټولو تدبیرونو سره سره چې شوروي قوماندانۍ دعملیاتو د نقشې او پلانونو د پټ ساتلو لپاره نیولي وو ، دعملیاتو خبره بیا هم پټه پاتې نه شوه او مسعود په کابل کې د ځواکمن تکیه ځای او پراخې څارګریزې شبکې له برکته وکړای شول چې د حکومتي او شوروي ځواکونو له ټولو پلانونو نه دعملیاتو له پیله آن ۱۵ ( د احمد شاه په خپله وینا ۲٤ ) ورځې تر مخه معلومات او خبرتیا تر لاسه کړي.{...}

عملیات هغه وخت پیل شول چې په دره کې د یاغیانو نږدې یوتن هم نه و پاتې او له همدې امله وه چې د اخل د افغانستان اسلامي جمعیت د پنجشیر ډلو ته چندان زیان ونه رسېده.

داچې دشوروي اتحاد د هغه مهال دکې جي بي ځینې لوړ پوړي کار کوونکي ددغو عملیاتو دپلان درسوا کېدو اوله ماتې نه د احمد شاه د ژغورنې پېره پر پوځیانو وراچوي ، زما په اند داخبره کره او سمه نه ده ، بلکې هغوی پخپله باید د دغو عملیاتو دماتې پېره پر غاړه واخلي، ځکه دا پخپله دڅارګرۍ او هغو امنیتي اورګانونو چې دڅارګرې او څارګرۍ ضد چارو یانې استخباراتو او استخباراتو ضد مسوولیت پر غاړه لري دنده وه چې دعملیاتو د رسوا کېدو مخه یې نیولې اود هغو دپلان پټوالی یې سمبال کړی وای.

**د پام وړ معلومات ( پټ)**

احمد شاه د انقلاب ضد له ډېرو سترو او اغېزمنو ډلمشرانو څخه دی. {...}. هغه یو تکړه ، مړخېړی ، پټ کاری ، محتاط او واک خوښونکی سړی دی . د احمد شاه د نږدې چاپېریال له څېړنې نه سړی دې پایلې ته رسېږي چې هغه د خپلو کسانو په ډله کې پر هېچا هم باور نه لري. {...} آن تر دې چې له

يوه ځايه بل ته د تگ راتگ پروخت ترسلو تنو پورې ياغيان دهغه امنيت او ساتنې ته گمارل کېږي. نوموړى هميشني استوگنځي نه لري اوتل هغه بدلوي.

داحمد شاه د کارندتيا او استوگنې دځايونو دپټولو لپاره د سيمې دخلکو ترمنځ او دغه راز په بېلابېلو دولتي ادارو او د دولتي امنيت او دفاع د وزارتونو په گډون آن دگونديې - دولتي لاستون په ترټولو لوړو پوړونو کې دڅارگريزې شبکې له خوا ډول ډول گونگوسي خپرېږي. {...}

( د مسعود په باب له دوسيې نه ).

هو، احمد شاه دوسله والي جگړې په کلونو کې دگوندي او حکومتي اورگانونو په منځ کې دڅارگرى ( ايجنټورى ) يوه پراخه شبکه جوړه کړې وه. دغه راز د څارگرى ضد يوه اداره يې هم درلوده.

د مسعود له خوا د پرمخ بيول کېدونکي خپلواک سياست ستنې دزمرد و، لاجوردو او نورو گرانبيه تيږو او غميو پر اقتصادي بنسټ او هغو پوځي مرستو ولاړې وې چې دعربي هېوادونو او چين له خوا ورسره ترسره کېدې. {...}

دساري په توگه دافغانستان اسلامي جمعيت، پنجشېر ډلې په کال کې له ۲۰۰ مليونو افغانيو ( ٥ مليونه ډالرو ) نه پر زياته بيه زمرد په پاکستان کې پلورل. د لويديزو کارپوهانو د ښېرنو له مخې له دې لارې تر لاسه شوې گټه به کله نا کله آن لس ځلې هم لوړېده.

په ډېرو سختو غرنيو سيمو کې ددغو غميو درا ايستلو او کانونو د چولو لپاره به له جاپاني برمو او الو څخه کار اخيستل کېده. دغه راز دخينج د درې په کانونو کې د گرانبيه تيږو او غميو د را ايستلو د چارو مشري او لارښوونه د فرانسوي اولويديز المان د انجينرانو پر غاړه وه. د احمدشاه ياغيان پر زمردو سربېره د بدخشان ولايت دجرم په ولسوالى کې د لاجوردو په را ايستلو هم بوخت وو.

زموږ دمعلوماتو له مخې هغه پيسې چې مسعود په بهرنيو بازارونو کې

یوازې د زمردو د پلورلو له لارې تر لاسه کولې ( لوی پېرودونکی یې فرانسه ، پاکستان او هندو ) نوو وسلو ، مهماتو او جامو ته د افغانستان اسلامي جمعیت د پنجشېر د ډلې دنیمايي په شاوخواکې لګښت لپاره بس وې . {...}

له بله پلوه د سیمې له بزګرانو ، د دولتي امنیت او کورنیو چارو د وزارتو نو په ګډون د ګوندي - دولتي لاستون له کار کوونکو او په کابل کې د پنجشېر له اوسېدونکو نه ( یوازې له دې وروستیو کسانو نه دا تو ملیونو افغانیو په شاوخوا کې پیسې راټولې شوې وې ) د باج او بسپنو را ټولول بل هغه ورخ وچې دمسعود بودجه یې خړوبوله .

تر ۱۹۸٦ کال را هیسې د احمد شاه پر خلاف ستر پوځي عملیات تر سره نه شول او دا کار به تر ډېره ځایه یوازې دهوايي بمباریو او توپچي ګوزارونو په کچه ترسره کېده چې په غرنیو سیمو کې د هغو اغېزه د تېرو او پرخو له ماتولو نه پرته بل څه نه و . خو دغه مهال مسعود هم هغه پخوانی ساده ډلمشر نه و ، بلکې له هغه نه یو داسې سیاسي شخصیت جوړ شوی وچې د پېژند ( شهرت ) آوازې یې نه یوازې تر افغانستان د ننه ، بلکې د هغه تر پولو نه بهر هم خپرې وې .

سره له دې چې د غه مهال له مسعود سره هېڅ ډول ژمنلیک نه و لاسلیک شوی ، خو بیا هم هغه د ۱۹۸۷ کال د جنوري پر ۱۸ مه د افغانستان اسلامي جمعیت د پنجشېر ټولو ډلو ته لارښوونه وکړه چې د شوروي او حکومتي ځواکونو پر خلاف دې له لسوونکو پوځي عملیاتو نه ډډه وکړي .

د غه وخت هغه خپلې ټولې هڅې تر خپلې ولکې لاندې سیمو کې د خلکو استوګنې او ځای پر ځای کولو ، د بیا ودانولو چارو او ځینو اقتصادي او ټولنیزو ودانیو او پروژو ( لکه لارو ، ښوونځیو ، جوماتونو روغتونو او نورو ) جوړولو او دغه راز خلکو ته د سوله ییز ژوند د شرایطو برابرولو ته مخامخ کړې . د هغه دا شان چلند او سیاست په ربښتیا هم د د شوروي پوځي قوماندانۍ په ګټه و ، ځکه چې د هغه له امله زموږ د پوځونو د سرزیانونه کمېدل او په دغې سیمې کې یې د حالاتو له ټینګښتیا سره هم مرسته کوله . له همدې امله زموږ قوماندانۍ

مسعود ددې شان چلند لا زيات دوام ته هڅاوه. خو بلې خوا ته دې کار په کابل کې دچارواکو کينه را پاروله او هغه ته يې داحمد شاه او شوروي پوځيانو تر منځ د يوې پټې معاملې او چلوتې په سترګه کتل.

د ۱۹۸۸ کال په لومړۍ نيمايي کې له احمد شاه سره په پټه دلاسليک شوي تړون له امله (البته تردې دمخه په افغانستان کې د شوروي اتحاد دفاع وزارت داوپراتيفي ډلې مشر د ۱۹۸۷ کال په اکتوبر کې په کابل کې دمسعود له يوه نږدې ملګري او باوري استازي قدوس سره په پټه توګه کتلي وو) دهغه ډلو نه پر پوستو او ګارنيزيونونو او نه هم دتګ راتګ پروخت پر شوروي پوځونو ډزې کولې.

خو داحمد شاه د نه پخلاکېدونکي چلند اودريځ له په پام کې نيولو سره افغاني مشر تابه هڅه کوله چې په هره بيه چې وي بايد «د روسانو په مرسته» د مسعود پرخلاف عمليات ترسره شي. آن تردې چې دا خبره يې څو ځلې دافغانستان لپاره دشوروي اتحاد د کمونيست ګوند دمرکزي کمېټې دسياسي بيورو دکميسيون په وړاندې هم راپورته کړه. افغاني لوري به په دې اړه پخپله داحمد شاه پر له منځه وړلو ډېر ټينګار کاوه، ځکه دهغوی په اند کـه چېرې «زمرى (!)» ونه وژل شي، نو هغه به بيا ډېر ژر د خپلو وسله والو ډلو پوځي ځواکمنتيا په پښو ودروي او د ا.خ.د.ګ. رژيم ته به دېخوا په څېر کلک ګوابښ مخامخ کړي.

په دې ترڅ کې ماهم دشوروي پوځي قوماندانۍ په هغه بهير کې ونډه درلوده چې هڅه يې کوله له احمد شاه سره يوه خوښاوي او جوړ جاړي ته ورسيږي او دهغه له ډلو سره له جګړو او نښتونه ډډه وشي. له همدې امله هڅه کوم چې په دې اړه لږه څه رڼا واچوم:

د ۱۹۸۸ کال په پيل کې د شوروي اتحاد دهغه مهال د دفاع وزير د.ت. يازوف غوښتنه وکړه چې دفبروري - مارچ په مياشتو کې دې په پنجشېر او د تخار ولايت په سويلي سيمو کې عمليات چمتو او ترسره شي. خو په افغانستان

کې دشوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې د مشر تابه او ٤٠ اردو دقوماندانۍ په اند : لومړی خود اکار په ژمي کې شونی او کېدونکې نه و ، او دویم دا چې پخپله دمسعود د له منځه وړلو موخه خدایزده که ددې شان عملیاتو له لارې ترسره شوې وای .{....} . په پای کې ... دغه عملیات وځنډېدل . البته موږ په دې ترخ کې خپل ټول پام له مسعود سره د سوله ییزو خبرو اترو پر مخ بیولو ته اړولی و .

دپنجشېر جمعیتي مشرتابه په ژنیو کې د تړون تر لاسلیک نه وروسته له افغانستان نه دشوروي پوځونو د وتلو خبر د افغانستان په شمال او شمال ختیځ کې د « اسلامي دولت » د جوړولو لپاره دخپلو پراخو پلانونو د پلي کېدو په لاره کې دیوه مهم خنډ له منځه تلل و ګاڼه . له همدې امله مسعود د تر خپلې ولکې لاندې سیمې داوسېدونکو ( او په دې ډله کې دا ړونده پوځي ډلو داشرارو ) داکثریت د روحیې او هیلو له په پام کې نیولو سره دشوروي پوځونو پر خلاف جګړه ییز عملیات په ټپه ودرول .

ددې پر ځای هغه د کډوالو دمسالې له ټولو ستونزو سره سره په پراخه توګه هڅه کوله چې دهغوی د بېرته ستنېدلو بهیر تم نه شي ، ځکه نوموړي دغو کسانو ته دافغانستان اسلامي جمعیت - پنجشېر راتلونکي « اردو » ته دوربلونکو ( جلبیانو ) دشمېر دلا ډېرېدو او دغه راز په راتلونکي کې دوا ک پر سر دجګړې لپاره دیوې ښې زېرمې په سترګه کتل .

خود پېښو دا ډول پرمختیا دنجیب الله دزیاتې اندېښنې وړ ګرځېده او له همدې امله د احمد شاه پر خلاف د عملیاتو خبره هم یوځل بیا را پورته شوه . خو آیا دا کار زموږ په ګټه و ؟

## شننیز ( تحلیلي ) لاسوند

دافغانستان اسلامي جمعیت پنجشېر ډلې د کارندتیا دځینو اړخونو په باب:

داحمد شاه مسعود په مشرۍ دمخالفینو پنجشېرۍ ډله په دې وروستیو

وختو کې دافغانستان په مرکزي او شمالي ولايتونو کې دافغانستان اسلامي جمعيت ديوه خورا مهم او بنستيز ځواک په توګه ځان راڅرګندوي . ددغې ډلې د کارندتيا ( فعاليت ) بنستيز لوري په لاندې ډول دي :

- د اداري د سيمه ييزو اورګانونو له جوړولو سره يو ځای دخپلې ولکې دسيمو پراخول.

- دخپلو ځواکونو او وسلو دساتلو لپاره دشوروي پوځونو پر خلاف له غوڅو عملياتو نه ډډه اودافغانستان اسلامي جمعيت - پنجشېر دسيالو (افغانستان اسلامي ګوند) دډلو پرخلاف دوسله والې جګړې پياوړي کول. د ساري په توګه دافغانستان اسلامي جمعيت . پنجشېر ګډو ( متحدو ) ډلو ( د ۹۰۰ تنو په شاوخوا کې کسانو ) د ا.ش. مسعود په لارښوونه د روان کال د جولای په پای او داګست په پيل کې د کاپيسا اوپروان په ولايتونو کې دافغانستان اسلامي ګوند د ډلو پرخلاف (چې استاد فريد يې لوی ډلمشر دی ) غوڅ او کارنده جګړه ييز عمليات پيل کړل.

- دهېواد په بېلابېلو سيمو ( بدخشان ، بلخ ، بغلان ، نورستان او نورو ) کې خپلې خواته دافغانستان اسلامي جمعيت د وسله والو ډلو را اړول او د احمد شاه تر اوپراتيفي قوماندانۍ لاندې دهغوی راوستل.

- د دولتي واکمنۍ پر خلاف دافغانستان اسلامي جمعيت - پنجشېر دراتلونکي « اردو » دجګړه ييزې کارندتيا د لوژيستيکي سمبالتيا اوترخپلې ولکې لاندې سيمو د انجينري سمبالوونې په اړه د پلانونو پلي کول ( دګرانبيه تېرو د وړلو اوله پاکستان نه د وسلو او مهماتو د لېږدولو د وخت د رالنډولو لپاره د لارو پراخول اوبيا جوړول . ) {...}

- دسيمې له خلکو سره داړيکو پياوړي کول او دژوند دښه کېدو اوپر اړتيا وړ مالونو دهغوی د سمبالولو په برخه کې هغوی سره دهر اړخيزو مرستو سرته رسول.

ددې ټولو کارونو په لړکې په تېره د پنجشېر درې ته خورا ډېر ارزښت

ورکول کېږي . له همدې امله احمد شاه مسعود پخپله دروان کال د اګست پر دويمه هلته لاړ او د وروستيو کلونو په ترڅ کې د لومړي ځل لپاره په بازارک کې په خپل کور کې دېره شو. {...}

نوموړی په افغانستان جمهوريت کې له شوروي استازيتوبونو سره د پنجشېر د سوداګرو دمخامخ اړيکو پياوړتيا ته هم په ښه سترګه ګوري.

په کابل کې استوګن پنجشيريان چې د ا.خ.د.ګ. غړي او پوځيان هم په کې دي ، په سم سيده توګه په پنجشېر کې له احمد شاه سره ګوري او ناسته ولاړه کوي. تراوسه دهغوی پر خلاف هېڅ ډول له دښمنۍ نه ډک چلند نه دی ترسره شوی. د ترلاسه شويو رپوټونو له مخې دپنځو زرو په شاوخوا کې پنجشيری کورنۍ چې پخوا دخپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوې وې اوس غواړي چې بېرته خپلو کليو او باندو ته ستنې شي. که څه هم چې په سياسي ډګر کې د احمد شاه مسعود دريځ لا تر اوسه په بشپړه توګه نه دی ټاکل شوی، خو پښتني ضد کرکتر يې ښځي په ډاګه دی. {...}

پخپله د احمد شاه په وينا هغه له شوروي اتحاد سره په اړيکو کې نه يوازې کومه ستونزه نهويني، بلکې په ټوليزه توګه د مخامخ اړيکو د ټينګولو پلوی هم دی. خو د نوموړي په اند داسې يوه کار ته لا تر اوسه وړ شرطونه منځته نه دي راغلي او بايد د پېښو راتلونکې ودې ته سترګې په لار پاتې شو او دهغو له بهير سره سم ټاکلي ګامونه پورته کړو. له بله پلوه دادی نيم کال هومره کېږي چې احمد شاه دشوروي پوځونو پرخلاف کارنده عمليات نه ترسره کوي. {....}

مسعود اړ دی چې د افغانستان اسلامي جمعيت له مشر سره له درناوي نه ډک چلند وکړي، ځکه نوموړی تر دېره ځايه يوازې دهمده ( رباني .ژ. ) له لارې کولی شي چې بې له کومه ځنډه او خنډه له پاکستان نه وسلې او مهمات تر لاسه کړي.

... معقوله ده چې شوروي لوري د افغانستان اسلامي جمعيت د پنجشېر له مشر سره دمخامخ اړيکو د ټينګولو په اړه خپل کار ته نور هم دوام ورکړي، ځکه

که ددې پر خلاف داحمد شاه مسعود پراډو او ډلو باندې هوايي ګوزارونه ترسره شي، نو داکار به نه له پوځي او نه هم له سياسي پلوه کومې مثبتې پايلې په ځان پسې ولري او دشوروي پوځونو دوتلو په دويم پړاو کې به لا نورې ستونزې را منځته کړي....

(دشوروي اتحاد د وسله والو ځواکونو د ستر درستيز دکشف د لوي پاسوالۍ داستازي له رپوټ نه، د ۱۹۸۸ کال د اګست ۱۱مه).

پخپله دشوروي اتحاد دفاع وزارت د اوپراتيفي ډلې مشرتابه او د ٤٠ اردو قوماندانۍ هم داحمد شاه د ډلو پر خلاف د عملياتو پرنه ترسره کولو ټينګار کاوه او دا کار يې بې ګټې ګڼه.

**لاسوند (پټ)**

دشوروي اتحاد دفاع وزير سترجنرال ملګري يازوف د.ت. ته:

رپوټ درکوم چې...{...} احمد شاه په غوڅه توګه خپلو ډلوته ويلي چې دشوروي پوځونو پر خلاف جګړه ييز عمليات ونه کړي او ډلې يې هم دغه خبره پرته له ولې او څنګه نه پلې کوي. خو ددې ترڅنګه نوموړی د پخوا په څېر له دولتي واکمنۍ سره نه پخلاکېدونکې دښمنۍ ته دوام ورکوي، خو که حکومتي پوځونه پرې ډزې ونه کړي، نو هغه هم ټوپک ته لاس نه وروړي (چې دا کار پخپله دملي روغې جوړې له کړنلارې سره هوبهو سمون لري.)

زموږ په اند داخبره له کېدون نه لرې نه ده چې دنجيب الله او احمد شاه د نږدې کېدو په لاره شته خنډونه دې له منځه لاړ نه شي، خو ولس مشر په دې اړه پردې باور دی چې مسعود نور نه غواړي هېڅ ډول اړيکي ټينګ کړي{...}

په افغانستان جمهوريت کې دشوروي پوځي استازو په اند{...} د احمد شاه په اړه بايد غوڅ او بنسټيز خو تر هر څه وړاندې سياسي ګامونه پورته شي. خو نجيب الله له دې خبرې سره دخوښاوي ترڅنګه زياتوي چې په اوس وخت کې د رژيم لپاره رښتيني ګواښ د «اوه ګوني تلوالې» له لوري نه، بلکې داحمد شاه مسعود د ډلو له خوا مخامخ دی او له دې سره جوخت څرګندوي چې:

« ملگرو شیوارد نادزي ا.ا. او الکساندروف و.ا. ( داد کریوچکوف و.ا. تخلص و،ل.) دروان کال په پیل کې افغانستان ته دخپل سفر په ترځ کې روښانه کړه چې له احمدشاه سره دې خبرې اترې وشي، خو که چېرې نوموړی له هغو نه سر وغړوي، نو په کار ده چې پر ډلو يې غوڅ گوزارونه تر سره شي. » {...}

هغه ( ولس مشر ) دغه راز زیاته کړه چې دی داسې باوري لاسوندونه (اسناد) اومعلومات په واک کې لري چې له سي آی اې سره د احمد شاه له اړیکو نه پرده پورته کوي. نجيب الله وويل چې د دې تکي په پام کې نیولو سره سړی کولی شي د احمد شاه راتلونکې اوږد مهاله ( ستراتیژیکه) نقشه په ښه توگه ځانته معلومه کړي، په دې مانا چې نوموړی غواړي ۱٤ (په حقیقت کې ۱۲) شمالي ولایتونه له افغانستان بېل ،هلته امریکایان ځای پرځای او په دې توگه شوروي اتحاد له یوه واقعیت او فکت سره مخامخ کړي. نجيب الله ته مې په ځواب کې وويل چې سړی باید د هیڅ کار پېښېدل لرې و نه گڼي، خو داخبره باید په کره توگه وڅېړل شي ( په دې اړه مې شوروي سفیر ملگري ایگوریچوف ن. گ. اودشوروي اتحاد د کې جي بي استازي ملگري ريوين و.ا. ته هم رپوټ ورکړی دی.) {...}

د { مسعود } پرخلاف د ٤٠ اردو په گډون دعملیاتو په اړه باید ووایم چې{....} دهغو په ترڅ کې خدایزده که پخپله د احمد شاه د له منځه وړلو موخه تر سره شي، ځکه چې سړی باید په زوره او سمه توگه له دې نه خبروي چې هغه چېرته دی ، خو دا کار ځکه ناشونی بریښي چې د افغانستان دخارگری شبکه آن په تېرو اتو کلونو کې پردې ژندې نه ده بریالۍ شوې. له بله پلوه زموږ د پوځونو دا شان عملیات به د ژنیو له تړون ته یوه ځرگنده سرغړونه وگڼل شي. دغه راز دا کار به دشوروي اتحاد باور (پرستيژ) ته نه جبرانېدونکی زیان ورسوي او پخپله د هېواد په دننه کې به هم ناوړه غبرگون راوپاروي....

له پورتنیو ټکو نه سړی لاندې پایلې اخیستې شي:

۱- کورني مخالفین ( د چاخبره « دويم پوړ » او دهغوی د مشرانو له ډلې نه تو

هرچا وړاندې احمد شاه مسعود په اوسنيو حالاتو کې درژیم لپاره تر ټولو ستر ګواښ او خطر ګڼل کیږي. دا پایله کومه نوې خبره نه ده او د وروستیو دوو کلونو په ترڅ کې تل په ډاګه شوې ده.{...}

احمد شاه به د شوروي پوځونو د وتلو په وروستي پړاو کې او تر هغه وروسته خپلې ټولې هڅې او هلې ځلې دشمالي ولایتونو د نیولو لپاره لاپسې کارنده کړي. هغه به تر هرڅه وړاندې خپل ټول کوښښونه او هڅې د کابل - حیرتان لویې لارې ته متمرکز کړي.

۲ - هغه وخت چې له احمد شاه سره نږدې کېدل او پر هغه باندې خپل شرطونه منل شوني وو نور له لاسه وتلي او اوس هغه عملاً پر یوه نه ایل کېدونکي کس اوښتی دی. خو له هغه سره دارېکو د ټینګولو لپاره لا اوس هم ناوخته نه دی. له همدې امله افغان مشر تابه ته په کار ده چې هغه ته ډېرې زیاتې تېرېدنې وکړي او هر ډول جوړ جاړي ته غاړه کېږدي. نوموړی باید پر دې ډاډه شي چې شمالي ولایتونو ته د کور واکې ورکولو او نورو په ګډون د هغه ټول شرطونه منل کېږي.

۳ - کېدای شي په راتلونکي کې له احمد شاه نه یو داسې ستر سیاسي شخصیت جوړ شي چې شوروي اتحاد ته به په کار وي له هغه سره د همکارۍ اړیکي وپالي. له همدې امله زموږ لپاره په ګټه ده چې هغه زموږ اندیوال (متحد) وي نه غلیم.

د دغو ټکو له په پام کې نیولو سره شوروي اوپراتیفي اورګانونه باید ډېر ژر له نوموړي سره متمرکز اړیکې ټینګ کړي او له دې نه بله ښه خبره چېرته ده چې آن پخپله احمد شاه هم وایي چې په دې لاره کې هېڅ ډول خنډونه نه ویني.

ورینیکوف، د ۱۹۸۸ کال اګست.

مسعود د افغانستان په تاجک لړه کې پورې دخپلې تړلتیا له امله پردې خبرې پوهېده چې هغه خدایزده که هېڅکله هم په پلازمېنې کې چې د پښتنو تکیه ځای دی له پراخې اغېزې نه برخمن شي. هغه د خپلو ځواکونو (له ۱۰ زرو نه زیات) په مرسته چې د کابل - حیرتان د لویې لارې او باګرام دخورا مهمې

هوايي اډې په ښهر دهواد مهمو ژوندنيو ځايونو ته ښهرمه ځاى پرځاى و او دغه رازد ډېر ښه اوپراتيفي - ستراتيژيک پرېوت ( موقعيت) د درلودلو لهامله پردې ډاډه وچې هغه په هېواد کې د حالاتو دهر ډول ودې په حال کې کولى شي دغه مهمې سيمې لاندې او له دې لارې خپل شرطونه پر نورو ومني. هغه د ژنيو د تړون په پايله کې دمنځته راغلي حالت دريښتينې ښېرنې پر بنسټ د افغانستان جمهوريت په حکومت کې دکومو مهمو ځوکيو د ترلاسه کولو دعوه نه درلوده، خو دافغانستان اسلامي جمعيت - پنجشېر ډلې د سيمو پراخول يې خپله بنستيزه دند ګڼله.

له همدې امله احمد شاه د شوروي پوځونو د وتلوتر پيل وروسته په تېره دبغلان، تخار، بدخشان، کندز اوسمنګانو په شمالي ولايتونو کې دخپلې اغېزې د زياتولو، ترولکې لاندې سيمې د پراخولو او خپلې خوا ته دنورو اسلامي ګوندونو د ډلمشرانو د را اړولو په موخه خپلې هلې ځلې لا پسې چټکې کړې. ددې کار پايله داشوه چې د افغانستان اسلامي جمعيت- پنجشېر اوافغانستان داسلامي ګوند تر منځ دې ترولکې لاندې سيمو پر سرجګړه لا پسې سخته او ژوره شي. {...} دمخالفينو دوسله والو ډلو له خوا د کندز ولايت تر نيولو وروسته افغاني مشرتوب يوځل بيا له شوروي اتحاد نه وغوښتل چې دمسعود پر خلاف عمليات تر سره کړي، ځکه هغوى مسعود د دغه کار ديوازينې پړ په توګه ګرماوه. خو شوروي پوځي قوماندانى په دې اړه نور معلومات پهواک کې درلودل او له همدې امله يې {د عملياتو پرځاى} له نوموړي سره دخبرو اترو د پرمخ بيولو پر دوام ټينګار کاوه.

په همدې ترڅ کې دسترجنرال و. ورينيکوف له خوا احمد شاه ته يو ليک واستول شو چې په هغه کې راغلي وو: « ښاغلى احمد شاه مسعود! زموږ په اند اوس ددې وخت را رسېدلى چې په ګډه په دې باب فکروکړو چې دافغانستان د شمال او شمال ختيزو ولايتونو دخلکو لپاره دسولې راوستلو په لاره کې څه شى کولى شو؟ کېداى شوه چې په دغو ولايتونو کې د ادارې د جوړولو په اړه ديوې

پرېکړې په باب مو سلا مشوره سره کړې وای، که څه هم چې دا په بشپړه توګه یوه کورنۍ یانې دافغانستان دخلکو خبره ده. په دې لړ کې مو کولای شول چې دلومړي ګام په توګه مو دکندز ولایت د اداري په اړه ستاسو وړاندیزونه څېړلي وای او په دې توګه به په راتلونکې کې ددغه ښار او سېدونکو باندې د ۱۹۸۸ کال داګست پېښو ته دورته نورو درنو او غم لړلو پېښو د تکرارېدو مخه نیول شوې وای.

دساري په توګه زموږ په اند ددغه ولایت د والي په توګه کېدای شي داسې یو مخور، دخلکو له درناوي نه برخمن او ریښتینی مسلمان سړی وټاکل شي چې وکولای شي هلته سوله سمباله او دخلکو هوسایینه وساتي. په دې اړه کېدای شي د یولړ ټاګلو نوماندو (کاندیدانو) نومونه واخیستل شي.

خوموږ ددې کار وړاندیز پخپله تاسې ته کوو، ځکه تاسې دداسې یوه چا په توګه پېژنو چې نه یوازې په پنجشیر، بلکې دافغانستان په نورو ډېرو ولایتونو کې موهم د سولې دټینګولو لپاره زیاتې هڅې اوکوښښونه کړي دي، چې ۱۹۸۸ کال یې روښانه بېلګه ده.

هیله من یو دسولې لپاره ستاسې هڅې او زموږ پر موخو باندې چې په بشپړه توګه دسولې او هوسایینې څرګندویه دي ستاسې سمه پوهېدنه به تاسې ته اجازه درکړي چې دې لیک ته ډېر ژر ځواب ورکړئ. موږ له دې امله مخکې تر مخکې له تاسو نه مننه کوو. ښه به وي که ځواب ستاسې د داسې یوه باوري استازي په لاس راولېږئ چې موږ یې هم پېژنو.»

خو افغان مشر تابه بیا بیا هڅه کوله چې له منځته راغلي حالت نه د وتلو په تکل د دویمې فرقې له لارې داحمدشاه ډلې د شوروي پوځونو له ټولګیو سره ټکر ته ولمسوي او په دې توګه هغوی پخپلو منځو کې سره په جنګ واچوي. دساري په توګه د ۱۰۸ مې موټرېزه فرقې دقوماندان مرستیال په دې اړه داسې رپوټ ورکړ:

**لاسوند**

په افغانستان جمهوریت کې دشوروي اتحاد دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشر،
د ٤٠ اردو قوماندان، د ١٠٨ مې موټرېزه فرقې قوماندان او...ته:

رپوټ درکوم چې {...} په دغې فرقې کې شوروي استازي چې زموږ په موټرېزه غونډ کې استوګنه لري د دویمې فرقې پر مشر تابه هېڅ ډول اغېزه نه لري، ځکه نوموړي د دغو سلاکارانو امر ته غاړه نه ږدي او نه هم خپلې چارې له دوی سره ګډوي.

هیله کوم چې دویمه فرقه دسالنګ له خولې نه لرې کړئ، ځکه دغه هلته هېڅ ډول جګړه ییزې دندې سرته نه رسوي، بلکې دقوماندانانو کړنې یې آن له سالنګ نه دشوروي او افغاني کتارونو د تېرېدو لپاره منځته راغلې حالت هم له ګواښ سره مخامخ کوي.

د ګروال انتونتکو، ١٩٨٨-١١-١٠

موږ ډېره هڅه کوله چې له مسعود سره اړیکې ټینګ او نوموړی له دولتي واکمنۍ سره همکارۍ ته راواړوو. خو نجیب الله پردې خبرې باور نه درلود او په وار وار یې څرګندوله چې مسعود په هېڅ ډول له حکومت سرهمکارۍ ته زړه نه ښه کوي او ټینګاریې کاوه «چې کړه خوله یوازې په سوک سمېږي» نوموړي د مسعود پر خلاف دپوځي عملیاتو خبره په ټولو کچو دخپلو لیدنو کتنو په ترځ کې راپورته کوله.

په یاد مې دي چې نجیب الله د سپتمبر پر ٤ مه دشوروي اتحاد دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې له مشر سره دکتنې لپاره په ناڅاپي توګه زموږ ماڼۍ ته راغی. دخبرو اترو په ترځ کې هغه یوځل بیا د احمد شاه خبره را پورته او څرګنده یې کړه چې احمد شاه به له دولتي واکمنۍ سره هېڅ ډول خوښاوي ته غاړه کېنږدي او د ١٣٦٧ کال په سلواغه کې دشوروي پوځونو تر وتلو وروسته به دهېواد په شمالي او شمال ختیزو ولایتونو کې دخپلې اغېزې د پیاوړتیا لپاره پراخه جګړه ییز عملیات پیل کړي.

دنجیب الله په وینا « په اوس وخت کې د احمد شاه له خوا د کارنده جګړه ییزو

عملیاتو د نه تر سره کېدلو دلیل دادی چې نوموړی غواړي له دغې دمې نه د وسلو او مهماتو د زېرمه کولو ،دخپلو ځواکونو د نوي کولو او په خورا مهمو سیمو کې د هغو دځای پرځای کولو لپاره ګټه واخلي.

داګست په میاشت کې په سویلي سالنګ ،تخار او بدخشان کې د احمد شاه د ډلو کارنده کېدل دهغه د ځواکونو له ازمایښت نه پرته بل څه نه و.

دهېواد مهمو ځایونو اولارو ته څېرمه داحمد شاه دځواکونو د ستراتیژیک پرېوت او کورنیو مخالفینو د ډلمشرانو اوخلکو تر منځ دهغه دمخورتیا په پام کې نیولو سره په کار ده چې دمسعود خبره د شوروي پوځونو تر وتلو نه وړاندې یا دخبرو اترو او یا هم دهغه د له منځه وړلو له لارې سپینه اوغوڅه شي. . . »

ولس مشر داسې وښوده چې هغه ګني له احمد شاه سره داړیکو ټینګولو لپاره کوم چینلونه په واک کې نه لري. له همدې امله یې هیله وکړه چې که چېرې شوروي ملګري وکړای شي دخپلو چینلونو له لارې له مسعود سره اړیکې ټینګ او یا دشوروي اتحاد له نامه نه له هغه سره تړون لاسلیک کړي نو دی به د داسې یوه کار هر کلی وکړي.

دجنرال ورینیکوف له وړاندیز سره سم پرېکړه وشوه چې له احمد شاه سره د اړیکو لپاره دې ګډې هلې ځلې پیل شي. نوموړي ددغې کتنې په اړه په بل رپوټ کې یوځل بیا ټینګار وکړ چې :« زموږ په اند. . . . . د راتلونکي د سمبالتیا لپاره په کار ده چې له احمد شاه سره د اړیکو ټینګولو په لاره کې هڅې او کوښښونه لاپسې خوځنده او کارنده شي. خو دهغه پرخلاف جګړه ییز عملیات معقول کار نه برېښي. {. . .}. »

خو نجیب الله خپله خبره سربېت ته نه پرېښوده او دتولو لیدنو کتنو پروخت به یې بیا بیا هغه را پورته کوله او ټینګار به یې کاوه چې داحمد شاه کیسه باید دشوروي پوځونو تر وتلو نه وړاندې اودنوموړو په مرسته لنډه شي. {. . .}.

په کابل کې شوروي استازو هم په دې اړه په مسکو کې خپل مشرتابه ته رپوټ ورکړ او په هغه کې یې خپل لیدونه او وړاندیزونه په دې توګه وړاندې کړي

وو: « دروان کال د اکتوبر پر ٤ مه مود افغانستان جمهوریت له ولس مشر او د ا.خ.د.گ. دمرکزي کمېټې له عمومي منشي نجیب الله سره وکتل....
دکورني سیاست دڅنډ نه منونکو دندو د څېړنې په ترڅ کې مو څرګنده کړه چې اوس د دې وخت را رسېدلی چې هر یو باید خپلې هڅې او کوښښونه لا پسې اغېزمن او کارنده کړو. البته په دې لړ کې ځینې ګامونه هم اخیستل شوي چې احمد شاه ته دلیکونو لېږل او هزاره جاتو ته دافغانستان جمهوریت حکومت اوشوروي اتحاد دکې جي بې د استازو استول یې یو ثوبېلګې دي.
شوروي سفیر په دې لړ کې څرګنده کړه چې که اړینه وي، نو په پخوا کې {دافغانستان په پېښو کې} دمسولیت نه درلودلو له امله دی چمتو دی چې پخپله له احمد شاه سره داړیکو په لټه کې شي او زیاته یې کړه چې له مخالفینو سره پخپلو اړیکو کې بشپړه ازادي لري.
.... نجیب الله په خپل وار څرګنده کړه چې له پاتې څلورو میاشتو نه باید دڅلورو کلو هومره ګټه واخلو او د حالاتو په پام کې نیولو سره سم په هغو ځایونو کې چې اړتیا وي له ځواک او په نورو کې بیا باید له خبرو اترو او جوړجاړي څخه کار واخلو.
دهغه په اند له دې شان سیاست نه تر هر څه وړاندې له احمد شاه سره په چلند کې باید ګټه واخیستل شي. یوازې له احمد شاه سره دستونزې تر اوارولو وروسته کېدای شي چې دلویې لارې امنیت سمبال شي... »
ن. ا یګوریچوف ( دبهرینو چارو وزارت) ،و. ورینیکوف ( د دفاع وزارت) او و. زایکوف ( د کې جي بې) استازي ،د ۱۹۸۸ کال اکتوبر.
په دې ترڅ کې شوروي قوماندانانو له مسعود سره له پټو اړیکو نه په ګټې اخیستنې سره یولړ پوښتنې چې اړونده لاسلیکونه او په کابل کې دشوروي سفارت تاپه هم پرې لګېدلې وه د څېړنې لپاره نوموړي ته ور واستولې.

لیک

## له احمد شاه سره دځېنو ورېږ پوښتنې:

۱- د ګډ ( واحد ) افغـانسـتـان په اډانه کې د بدخشـان ، تخـار او بغـلان ولایتـونو او دغـه راز د پروان او کـاپیـسـا د ځینو برخـو په ګډون د تاجکو د استوګنې دسیمو پر بنسټ د تاجکانو دکور واکۍ ( خودمختاره تاجکستان ) دجوړولو اود دغې سیمې دځاني (خودي) اداري دبنو په اړه .

۲- د افغانستان دولس مشر په لاسنون ( دستګاه ) ، ملي شورا او کابینه کې د تاجکانو د استازیتوب اوځانګړو څوکیو په باب.

۳- دافغـانسـتـان د یوه حق برابري ( متسـاوي الحقوق ) او خپلواک ګوند په توګه د افغانستان اسلامي جمعیت په رسمیت پېژندل.

٤- دافغـانســتــان په وسله وال پوځ کې د ورګډولو له لارې دافغـانسـتـان اسلامي جمعیت د ډلو پر بنسټ د کور واکه تاجکستان دسم سیده (منظمو ) ځواکونو جوړول. دملي ( قـامي ،ژ. ) او سراسري دولتي ګټو پر بنسټ د دغـو ځواکونو د دندو ټاکل او په دې لړ کې دحیرتان – کابل دلارې ساتنه.

٥- دکـور واکـه تاجکسـتـان پـه اډانه کـې دسـولې ټینګول او د هغـه د وګړو دعادي ژوند دبیا راژوندي کولو لپاره د وړ ( مناسبو ) شرطونو منځته راوړول.

٦- دشمـال ختیزو ولایـتونو د اقصادي ودې دمسالو په اړه. د افغـانسـتـان حکومت له خوا په دې برخه کې داقتصادي ، مالي اونورو په ګډون دهر اړخیزو مرستو تر سره کول.

۷- داقتصادي ، طبي ، او نورو مرستـو دترلاسه کولو او دغه راز د سرحدي سوداګرۍ دودې لپاره د شوروي اتحاد دتاجکستـان جمـهوریت او کور واکـه تاجکستان تر منځ دمخامخ سودا ګریزو اقتصادي اوفرهنګي اړیکو ټینګول.

زما له خوا ددغو درلېږل شوو پوښتنو په باب په افغـانستان کې له شوروي سفیر یو.م. ورنځوف اوسترجنرال و.اي. ورینیکوف سره هم خبرې شوې او هغوی بیـا پخپل وار په دې اړه دهواد له مشر تابه سره پوهاوي ( تفاهم ) ته رسېدلي

دي.

( دغه پوښتني په سويلي سالنګ کې داحمد شاه ډله ډيوه ډلمشر ملاغوث له لارې نوموړي ته ولېږل شوې، ل.)

احمد شاه هم موږ ته پس په دې اړه خپل ځواب راولېږه او په هغه کې يې څرګنده کړې وه چې دی د دغو پوښتنو د ځېرلو لپاره خبرو اترو ته چمتو دی او په دې اړه آن ځينې نور وړانديزونه هم لري.

زموږ استازي شمالي ولايتونو ته له خپل سفر نه تر راستنېدو وروسته له احمدشاه سره د خپلو خبرو اترو په باب داوږدو معلوماتو په ترڅ کې داډ ورکړ چې مسعود د شوروي پوځي قوماندانی له دغو نوښتونو نه خوښي څرګنده کړه او چمتو دی چې دې ډول اړيکو ته په راتلونکي کې دوام ورکړي. {...}

خو هرکله به چې له مسعود سره د خبرو اترو په بهير کې لږ څه پرمختګ تر لاسه شو، نو{ حکومتي ځواکونو به دهغه پر خلاف} « يو ناڅاپه » لمسونکې ډزې او عمليات پيل کړل. البته داشان عمليات د ځينو نورو ډلمشرانو په اړه هم چې شوروي استازو به ورسره اړيکي نيول ترسره کېدل.

دساري په توګه کله چې دبدخشان ولايت دڅارندوی قوماندانی سلاکار ډګروال يو. ک. پلوګين د ۱۹۸۷ کال په پای کې ددغه ولايت دجمعيت له لوی ډلمشر ع. بصير سره اړيکي ونيول، نو دهغه پرخلاف هم ډول ډول لمسونې پيل شوې. {...}

دمسعود پر خلاف د عملياتو په اړه له مسکو نه له خورا کلکو لاربنوونو سره سره په افغانستان کې شوروي پوځي قوماندانان په دې باوروو چې داشان عمليات ګرد سره زموږ دهېواد په زيان دي. البته دا له دې امله نه چې دوی ګنې دهغو د ترسره کولو وس نه درلود، بلکې هغه يې يو بې ګټې او هسې خوشې کار ګڼه. پخپله د ٤٠ اردو قوماندان ب. ګروموف هم په دې اړه پردې ګروهه وچې داشان عمليات به دسرزيات زيانونه له ځان سره ولري. له همدې امله يې داحمد-شاه پر خلاف دعملياتو په باب آن دشوروي اتحاد د فاع وزير د.ت. يازوف په

تينګار اولاربښووني پسې هم چندان سرونه ګرځاوه. خو افغان مشرانو افغانستان ته د ا.ا. شيوارد نادزي دجنوري د مياشتې دسفر په ترځ کې يو ځل بيا او په ټينګار سره ډاډ ورکړ چې څه ډول يې ونه کړه چې داحمد شاه مسعود خبره بايد له افغانستان نه دشوروي پوځونو تربشپړې وتنې وړاندې غوڅه شي.

نجيب الله په دې اړه وويل چې {...} دافغانستان په اسلامي جمعيت پورې دتړلي احمدشاه مسعود له ډلې سره جګړه دخورا زيات ارزښت درلودونکې ده. ددې ټکي له په پام کې نيولو سره څرنګه چې د احمد شاه ځواکونه کولی شي دشوروي لښکروتر وتلو وروسته سم لاسي دسالنګ په سويلي برخه کې د حيرتان - کابل ستراتيژيکه لاربنده، کابل کلابند او په دې توګه په پلازمېنې کې يو بوږنوونکی حالت را منځته کړي، نوموړی په اوسني پړاو کې دحکومت يوازينی مهم دښمن او غليم ګڼل کېږي. {...}

... بايد ووايم چې دتېرو څلورو کلونو په ترځ کې دمسعود پر خلاف له څو ماتو ګوډو ګوزارونو نه پرته نور هېڅ ډول ستر عمليات نه دي تر سره شوي. ددې کار پايله داشوه چې هغه وکړای شول د ۱۱ زره تنو په شاوخوا کې ګوزاريز ( ضربتي ) ځواک جوړ کړي. البته له دغې ډلې نه دوه نيم زره تنه يوازې په پنجشېر کې ځای پر ځای شوي دي. بايد ومنو چې احمد شاه زموږ له پخوالي نه په ډېرې هوښيارۍ او پراخه توګه ګټه اخلي. {...}

ا.ا. شيوارد نادزي : داسمه ده چې داحمد شاه پر خلاف عمليات خورا ډېر وخت ځنډول شوي دي. سره له دې چې م.س. ګرباچوف درې مياشتې وړاندې مسکو ته دافغانستان جمهوريت دوسله وال پوځ له وزيرانو سره دغه خبره څرګنده کړې وه، خو نه پوهېږم چې ولې دغه کار تر اوسه نه دی ترسره شوی. {...} ښکاره خبره ده چې هسې کوچني او لنډ تنګ (محدود) ګامونه او تدبيرونه نه شي کولی د احمدشاه په اړه ستونزه اواره کړي... (کابل د ۱۹۸۹ کال دجنوري ۱۳مه). {...}.

که څه هم دشوروي پوځونو دوتلو په وروستي پړاو کې هېڅ ډول پوځي شخړو

او نښتو زمونږ په پلان کې ځای نه درلود، خو بیا هم دغه کار پر مونږ وتپل شو او په پای کې دغه عملیات دجنوري په میاشت کې تر سره شول.

هو، شوروي پوځي قوماندانې چې دوینې تویولو غوښتونکې نه وه تروروستی شېبې په دې هیله وه چې مسعود به له سد (عقل) نه کار واخلي او دخپلو خلکو په وړاندې به د مسولیت احساس وکړي، خو هغه تر ډېره ځایه دخپلې لویئ (تکبر) او دا.خ.د. ګ. له رژیم سره دنه پخلاتوب تر اغېزې لاندې راغلی و. البته په دې اړه ځینې نور لاملونه هم بې اغېزې نه وو (چې تر ټولو مهم یې دمسعود په وړاندې دنجیب الله او دا.خ.د. ګ. دنورو پښتنو مشرانو ژوره کرکه او داسې نورو وو). [...].

لکه چې تر مخه مې هم وویل ربښتیا خبره داده چې مونږ پخپله تر یوه ځایه له مسعود نه «ملي اتل» جوړ کړ. دا چې احمد شاه د یوه مسوول کس د خیانت له امله (چې تر اوسه یې پېژندنه ده جوته شوې) (؟) پر ۱۹۸٤ کال وکړای شول دشوروي قوماندانې دجګړه ییزو عملیاتو پلان تر لاسه کړي او دهغه له مخې خپلې ډلې او ځواکونه دجګړې له ډګر نه وباسي (دمسعود په وینا نومونږ دغه نقشه تراوسه له ځانه سره ساتلې ده) او په دې توګه دخپلې ماتې او ځپلو مخه ونیسي، داخبره په هېڅ ډول دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګیو دماتې مانا نه لري.*

داچې مونږ ونه شو کړای دافغانستان ستونزه هغسې چې مونږ غوښتل اواره کړو لامل یې دا وچې شوروي اتحاد پخپله په دغه وخت کې د «سړې جګړې» او د م.س. ګرباچوف د «بیا رغاوونکو هلوځلو، له امله ډېر ناوړه اوستونزمن حالت سره لاس وګرېوان و.

خو مونږ هیله من یو هغه معقول لیدونه او الواکونه (نظریې) چې احمد شاه

---

*ډېر خلک په دې باور دي چې دغه موضوع هسې دروسانو او مسعود تر منځ دخلکو اوحتی دهغه وخت د افغانستان دحکومت دغولولو یوه مصنوعي لوبه وه او لکه چې خپله لیکوال وایي غوښتل یې چې له هغه نه د راتلونکو سترو پلانونو دعملي کولو په لاره کې په اصطلاح «ملي اتل» جوړ کړي. وروستیو پېښو دا خبره په خپله ډاګیزه کړه. (ژ)

مسعود له شوروي اتحاد سره دهمکارۍ په باب بيا بيا څرګندول په راتلونکي کې هم دروسيې له دولت سره داړيکو په ډګر کې دهغه په عملي ګامونو واوړي، ځکه چې دا کار د دواړو هېوادونو دخلکو له ګټو سره سمون لري.*

## ژمی او پرسالنګ را اوښتل

{په افغانستان کې دشوروي پوځونو دځو ټولګيو دپاتې کېدو د وړانديز په اړه} په پای کې دافغانستان لپاره د شوروي اتحاد کمونيست ګوند د مرکزي کمېټې د سياسي بيورو دکميسيون په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د شوروي پوځونو هېڅ يو ټولګی دې هم په افغانستان جمهوريت کې نه ځنډول کېږي او هغه دې دژنيو له ژمنو سره سم پر ټاکل شوي وخت په بشپړه او سمه توګه راوايستل شي. {...}

له همدې امله د ۱۹۸۹ کال د جنوري له ۲۷ مې نه را په دېخوا دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګيو د وتلو بهير بيا دوام وموند، خو داځل {دسالنګ} لويه لار دهغوی پر مخ يوازې يوه لوري يانې له سويل نه دشمال په لوري پرانيستې وه... او په دې توګه شوروي پوځونو يو په بل پسې له زړه ته ور نږدې او ګران، خو پردي افغانستان نه وتل.

دشوروي اردو وروستی ټولګی دفبروري پر ٤ مه له کابل نه ووت. په دې لړ کې د ٤٠ اردو قوماندان تورنجنرال بوريس فسيوولود ووېچ ګروموف هغه وروستی شوروي پوځي وچې د ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ د ۱٥ مې پرسهار دآمو له سيند را واوښت، او په دې توګه دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګيو لپاره دغه درنه او زېښبونکې جګړه چې اوږده کلونه له شوروي وګړو نه پټه ساتل کېده پای ته ورسېده، خو هغې شوروي اتحاد ته هېڅ ډول وياړ ور په برخه نه کړ.

---

*او همدلته ده چې روسي جنرال خپله د زړه اصلي خبره کوي. راتلونکي روسي ستراتيژي همداسې وه. موږ په عملي بڼه وليدله. (ژ)

# نهم پارګی

## شورویان ووتل، خو مجاهدین

## په جګړې نه مړېږي

د افغانستان له خاورې نه د شوروي لښکر پوځي ټولګیو تر وتلو وروسته سم له لاسه په هېواد کې فوق العاده حالت اعلان شو. ددې ترڅنګه د افغانستان جمهوریت د دفاع لوړه (عالي) شورا جوړه او د حکومت په جوړښت کې هم ځینې بدلونونه راوستل شول.

خو بلې خواته مخالفینو هم له پوځي لارې د نجیب الله د رژیم د رانسکورولو لپاره خپلې هلې او کوښښونه لا پسې چټک او کارنده کړل. په دې لړ کې یاغیانو خپل ګڼ شمېر ځواکونه جلال آباد ته ښېرمه ځای پرځای کړل چې دغه تر لاندې کولو وروسته خپل «لېږنده (انتقالي) حکومت» هلته ور ولېږدوي. خو حکومتي ځواکونه پردې بریالي شول چې خپلې مورچلې ټینګې او جلال آباد پخپلې ولکې

کې وشاتي.

که څه هم دغه مهال شوروي لښکرې له افغانستان نه وتلې وې، خو جګړه هلته ښه په زور کې روانه وه او په ځینو سیمو کې خو یې آن له پخوا نه هم زیاته خونړۍ بڼه غوره کړې وه. په دې ترڅ کې د ۱۹۶۷ کال دسلواغې تر ۲۶ مې وروسته افغانستان ته د شوروي وسلو، مهماتو او نورو څانګړو مالونو لېږد دیوه لنډ وخت لپاره تم شو. خو جلال کوټ ته څېرمه دحالاتو د زیاتې خرابېدو تیا له امله نجیب الله دمارچ په لومړۍ لسمه کې له شوروي مشرتابه نه د مرستو د بیا ورلېږلو هیله وکړه او څرګنده یې کړه چې کېدای شي په دې توګه « د افغانستان دله لاسه وتلو » مخه ونیول شي.

له همدې امله د ۱۹۸۹ کال دمارچ پر ۱۲ مه دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو په غونډه کې پرېکړه وشوه چې دغه لېږدونې ( انتقالات ) دې بیرته پیل شي. څرنګه چې ددې کار مشري سترجنرال و.اي. ورینیکوف ته وسپارل شوه، نو له همدې امله به مونږ کله نا کله د دندو دسرته رسولو اوځینو نور چارو د سمون لپاره ترمز او حیرتانو ته سفر کاوه او هلته به مود دولس مشر له مرستیال م.رفیع او د افغانستان جمهوریت او شوروي اتحاد د اړونده وزارتونو او ادارو له استازو سره لیدنې کتنې کولې. {...}

خو د جلال آباد دجګړې په اړه غواړم ووایم چې دافغاني یاغیانو ګڼ شمېر ډلشرانو ددغو عملیاتو د ناکامۍ اوخپلې ماتې پړه پرهغو پاکستاني پوځي ټولګیو او ۱۷ پاکستاني جنرالانو وراچوله چې په دغه جګړې کې یې ګډون درلود. او اوس دشوروي سلاکارانو په باب.

**معلومات**

## په افغانستان کې دشوروي پوځي سلاکارانو په اړه:

د ۱۹۸۸ کال دجنوري تر لومړۍ نېټې ۱۰۰۷ شوروي کارپوهان چې له دې ډلې نه ۶۹٤ تنه یې سلاکاران وو، د افغانستان په اردو کې پر دندې بوخت وو. له افغانستان نه د ٤۰ اردو ټولګیو له وتلو سره سم د پوځي کار پوهانو په شمېر کې

هم کمښت راته. {...} دساري په توګه د ٤٠ لښکردوتلو په لومړي پړاو کې دشوروي پوځي سلاکارانو شمېر ٤٩٨ تنو ته راکوز کړای شو. اوس دافغانستان په اردو کې ٥٠٩ تنه پوځي سلاکاران او کارپوهان پاتې دي چې له هغوی نه ٣٢٠ تنه په کابل ګارنيزيون کې پر دندو بوخت دي. {...}

درپوټ سرچينه: په افغانستان جمهوريت کې دلوی پوځي سلاکار دفتر د ١٩٨٨ کال نومبر.

خود ١٣٦٧ کال د سلواغې تر ٢٦مې وروسته ټول شوروي پوځي سلاکاران دافغانستان له خاورې نه ووتل. يوازې د ٣٠ تنو په شاوخوا کې پوځي کارپوهان هلته پاتې وو چې مشري يې د ستر جنرال م.ا. ګارييف په غاړه وه. دغو کسانو د تخنيک دسختو بڼو او ډولونو د ورزده کولو او دغه راز افغانستان ته دخوراکي اونورو مالونو د لېږدونکو ترانسپورتي الوتکو دمنلو په برخه کې له افغانانو سره مرسته کوله.

ACKU

# دشهنواز تني بغاوت

په دې ترخ کې دکابل په مشرتابه کې اختلافونو او دواک پر سر جګړې لاپسې زور واخيست. دا.خ.د.ګ. (خلقي اړخ مشرانو تل ټينګار کاوه چې انقلاب خلقيانو بريالی کړی او په مورچلو کې هم دوی ډېره ونډه اخلي، خو پرچميانو يوازې دشوروي اتحاد په مرسته په هېواد او ګوند کې پر واک خېټه اچولې ده. هغوی شوروي استازي په دې تور نول چې هېواد يې ددې شان دريځ له امله « له خپلو پاړکيزو (طبقاتي) ورونو » سره ګنې خيانت کوي او اوس په يواړخيز ډول يوازې د پرچم په ملاتړ کې ولاړ دي.

په افغانستان کې دشوروي پوځونو شته والي تر يوه ځايه د خلقيانو د ښکاره يو څرګندو ډغرو مخه نيولې وه او په دې اړه يې ديوه پخلاکوونکي لامل ( فکتيور ) په توګه رول لوباوه. که څه هم له افغانستان جمهوريت نه دشوروي لږ شمېر پوځي ټولګيو تر وتلو وروسته دا.خ.د.ګ. د دواړو اړخونو غړي په ښکاره يو

څه وخت سره نږدې او یوموټی وو، خو پته جګړه په کې د پخوا په شان روانه وه او تربګنې یې هیڅکله هم ورکه نه شوه.

دافغانستان جمهوریت ولس مشر دخپلې ستې د پخولو لپاره هر ډول هڅې کولې چې دخلقیانو اغېز کمزوری کړي، آن تر دې چې د شوروي استازو د لاربښوونو په پام کې نه نیولو سره یې د ۱۹۶۷ کال په پای کې دهغوی په مشرانو پسې را واخیسته. په همدې لړ کې وه چې دافغانستان جمهوریت د دفاع وزیر ډګر جنرال شهنواز تنې یو شمېر پلوي جنرالان او افسران له ګ. حکمتیار سره دمخامخ اړیکو دلرلو او د دولتي واکمنۍ پر خلاف د ورانکارو هلوځلو د ترسره کولو په تورد دولتي امنیت وزارت د رپوټونو پر بنسټ ونیول شول. او کله چې د ۱۹۶۷ د کب پر ۱۵ مه د نیول شوو خلقیانو محکمه پیل شوه، نو داکار د شهنواز تني دښکاره پاڅون سبب وګرځېد.

هماغه وو چې دافغانستان جمهوریت دفاع وزیر له خپلو ملګرو سره یوځای دافغانستان جمهوریت دولس مشر نجیب الله د راپرځولو په موخه د کب پر ۱۶ مه په کابل کې پر یوې پوځي هڅې لاس پورې کړ، خو دغه کوښښ بریالی نه شو. ځرنګه چې دغه بغاوت په منډ (سملاسي) و، سم نه و سنجول شوی او له نهیلۍ نه ډک کار و، نو له همدې امله د نجیب الله پلوه ځواکونو له خوا ژر وځپل شو. البته پلاز مېنه دولس مشر په امر ترمخه لا د اردو له ټولګیو نه «پاکه شوې» او هلته دځانګړې ګارډ ډلې ډلګۍ ځای پر ځای شوې وې. له بلې خوا دغه مهال داردو پرځینو مهمو څوکیو هم یو شمېر پرچمیان ټاکل شوي وو چې په دې توګه نو هیڅ ډول چلوټې او دسیسې ته تیاری له هغوی نه پټ نه شو پاتې کېدای.

{تر دغه بغاوت نه} وروسته د افغان مخالفینو مشر توب هڅه وکړه چې دافغانستان جمهوریت د دفاع د پخواني وزیر ش. تني او د هغه د ملګرو له تجربې او شونتیاوو نه د دولتي واکمنۍ پر خلاف د وسله والې جګړې داغېزمنتیا د لوړولو لپاره پراخه ګټه واخلي.

شک نه شته چې تنی دافغانستان جمهوریت د وسله وال پوځ له ټولو ځواکمنو

او کمزور اړخونو او دښارونو او لویو لارو له دفاعي سیستم نه پوره خبرو. له بله پلوه یوزړور، غوڅ اوتکړه پوځي قوماندان او دعملیاتو په بهیر کې دپوځونو د لاربښوونې له پلوه دستري جګړه ییزې تجربې درلودونکی و. دغه راز دهغه پلویان (ن.م. مومند، ګ. حضرت، قادر اکا، حمزه اونور) هم دهواد په بېلو بېلو سیمو کې دټاکلي اغېز او پوځي پېژند او تجربې خاوندان وو.

له همدې امله داووه ګونې ټلوالې مشرانو هم دش. تني له یو لړ لاربښوونو نه ډېره ګټه واخیسته، چې له هغې ډلې نه دغه لاندې څو په تېره دیادونې وړ دي:
باید دمجاهدینو په لیکو کې یو والی ټینګ او دراتلونکي لپاره خپل پلانونه سره ګډ کړي، باید د دولتي ځواکونو پر خلاف دهېواد په بېلو بېلو سیمو کې هم مهاله او پراخه یرغلیز عملیات چمتو او ترسره شي، بایدد مجاهدینو دبېلا بېلو ګوندونو له شته ډلو او ټولګیو نه سم سیده ځواکونو ته ورته پوځي ټولګي او ډلې ډلګۍ (جزوتامونه) جوړ شي، هغو ډلمشرانو او مجاهدینو ته چې دافغانستان په خاوره کې له ځانه مېړانه او اتلولي ښیي باید پوځي پوړۍ (رتبې) ورکړل شي، دهغو افسرانو له تجربې نه چې دمجاهدینو له لیکو سره یوځای شوي دي بایدډېره ګټه واخیستل شي...

له بلې خوا دا هم دتني او دهغه دملګرو اغېزه وه چې له حکومتي ځواکونو نه دپوځیانو د تېښتې او خیانت بهیر لا پسې چټک شو. [ددې کارونو پایله داشوه چې] دمخالفینو وسله والې ډلې دې [د ۱۹۹۱ کال] دمارچ په پای کې دخوست په سیمه کې خپلې هڅې او عملیات لا پسې ګړندي او کارنده (فعال) کړي. یاغیانو پر ۱۳٦۷ کال دخپلو ناکامو هڅو پر خلاف دا ځل د برید او یرغل په ترسره کولو کې لوړه پوهه او هوښیاري له ځانه وښوده. البته دلته هم دشهنواز تني اغېزه چې نه یوازې ددغه ښار له دفاعي سیستم نه ښه خبرو، بلکې دخوست دساتونکو حکومتي پوځیانو په منځ کې هم له درناوي نه برخمن و، دیادولو وړ ده.

« داچې وسله والو مخالفینو پر جلال آباد باندې د ۱۳٦۷ کال دکب

دمیاشتې دیرغل پر خلاف داخل {په خوست کې} دوراوښتو کسانو ، سیمه ییزو اوسېدونکو اوقبایلو له وژلو او وهلو تکولو نه ډډه وکړه {....}، نو له دې نه داسې معلومېږي چې دغه عملیات په لوړه کچه دروزل شویو مسلکي پوځي کار پوهانو (شاید شهنواز تني) له خوا چمتو، پلان او ترسره شوي وي.»

درپوټ سرچینه: په کابل کې شوروي سفارت او په افغانستان جمهوریت کې دلوی پوځي سلاکار دفتر، د ۱۹۹۱ کال اپریل.

# له ډب ( بن بست) نه دوتلو په لټه کې

په داسې حالاتو کې چې وسله وال پوځ نور ستراتیژیک نوښت ، پرځان ویسا او دیاغیانو د سترو ډلو پر خلاف د پراخو یرغلیزو عملیاتو وس او وړتیا له لاسه ورکړې وه {...}، دهیواد مشرتابه دافغانستان دغوتې د پرانیستلو لپاره دبهرني سیاست په ډګر کې پر شوروي اتحاد له یوې خیزې تکیې نه د ډډې کولو او له لویدیځ اود سیمې له یو شمېر نورو هېوادونو سره دا ړیکو د ودې او پراختیا {نوښت} او لاره په مخکې ونیوه او په دې برخه کې یې خپلې هڅې لا پسې چټکې کړې.

البته له شوروي اتحاد سره پر اړیکو دبیا کتنې ترټولو ستر لامل هغه اقتصادي او سیاسي ستونزې وې چې زموږ هېواد (شوروي اتحاد ) ورسره مخامخ و او دهغو له امله له افغانستان سره زموږ په پوځي او نورو مرستو کې دلیدلو وړ کمښت راغی.

په همدې ترڅ کې وه چې د نجیب الله یو لړ وړاندیزونه چې په هغو کې دواکمن رژیم دپاتې کېدو په حال کې په افغانستان کې دسولې دټینګېدو اټکل شوی و، د ۱۹۹۱ کال په مارچ کې دامریکا ولس مشر ج. بوش، دامریکا د بهرنیو چارو وزارت ، کانګرس اودغه راز سناتور ای . کنیډي ته وړاندې شول. سربېره پر دې له امریکا سره د نږدې کېدو د لارو چارو دلټون او دامریکا اداري له اغېز منو

استازو سره داړیکو د بیا را ژوندي کولو او ټینګولو په موخه د ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان جمهوریت د دایمي استازیتوب په جوړښت کې هم بدلون راوستل شو. دساري په توګه په ملګرو ملتونو کې دافغانستان جمهوریت د دایمي استازي ع.م. سربلند پر ځای خدایداد بشر مل او سرور یورش دهغه د مرستیال په توګه وټاکل شول، چې دواړو په امریکا کې زده کړه کړې وه او په هغه هېواد کې له پرتو افغاني کډوالو کړیو سره یې تل اړیکي درلودل.

دهېواد په شمال کې دپښتني ضد احساساتو پیاوړتیا دمې په میاشت کې دافغانستان دشمال حالاتو دکړکېچ او خړپړتیا لاره په مخکې ونیوه، داسې چې وسله والو مخالفینو د حکومتي پوځونو د ولکې په سیمو کې د ګڼ شمېر ځواکونو (د ۵۰ زروتنو په شاوخوا کې کسانو) په راټولولو او دسیمې داوسېدونکو په ملاتړ د خپلې ولکې اوا غېز سیمو د پراخولو په موخه پراخه جګړه ییز عملیات پیل کړل چې دهغو په ترڅ کې یې وکړای شول چې دېر لنډ وخت کې د چمتال، قیصار، کوهستاناتو اوخان آباد سیمې ونیسي. دغه راز دمې پر ۱٤ مه هغوی دتخار ولایت دخواجه غار سیمه هم لاندې کړه. البته دیاغیانو خواته د ولتي امنیت د ۸٤٤ کنډک ور اوښتلو اوهغوی ته دخلو پوستو ور پرېښودلو دمجاهدینو له دغو بریالیتونو سره ډېره مرسته وکړه. له بله پلوه د پښتنو په سیمو کې له مخالفینو سره دجګړې ډګر ته دافغانستان دتوکمیزو لړه کیو د استازو دورلېږلو او لمنې دپراخولو په اړه د نجیب الله هڅو او پرېکړو هم په شمالي ولایتونو کې د حالاتو پر کړکېچن کېدو او پېچلتیا ټاکلې اغېزه وښندله.

دې کار نه یوازې په ټولنې او وسله وال پوځ کې قامي اړیکي ترینګلي او ترخه کړل، بلکې ددې سبب هم شو چې داوزبکو، تاجکو اوترکمنو ګڼ شمېر هغه قامي ډلې چې پخوا یې له دولتي واکمنۍ سره دهمکارۍ پروتوکولونه لاسلیک کړي وو، یو په بل پسې دمخالفینو لیکو ته ور واوړي.

دافغانستان جمهوریت دملي لړه کیو تر منځ دپښتني ضد احساساتو

پیاوړي کېدلو چې دهېواد د وګړو ستره نیمه (؟) برخه جوړوي دافغانستان دمشـرتابه د پښتني برخې کلکه اندېښنه راوپاروله. په همدې وخت کې دافغانستان جمهوریت دولس مشرپلویانو داخبره را پور ته کړه چې د وسله والو مخالفینو په ملتیا دکیڼ دیموکراتیک بلاک په لیکو کې چې د واکمن رژیم ډاډمن تکیه ځای ګڼل کېده، دیوې بلې پوځي کودتا ګواښ مخ پر پیاوړي کېدو دی.

دافغانستان د زیارکښانو انقلابي سازمان (سازا) اود افغانستان د فدایانو دسازمان په کینو ډلو پورې تړلي دهېواد د ملي لړه کیو استازي او دغه راز په وطن ګوند کې دهغوی پلویان هغه کسان وو چې نوموړنه یې د کودتاچیانو په ډله کې یادېدل.

له بلې خوا دغه مهال د احمد شاه مسعود د ډلو هڅې هم په خورا بریالیتوب سره پر مخ روانې وې. دغو ډلو چې «دپښتنو له اغېزنه» د شمالي ولایتونو «آزادولو (!)» ته یې متې رانغاړلې وې دتخار ولایت په ګډون یو شمېر سیمې لاندې او دبدخشان په لور یې دخپلې اغېزې د پراخولو لپاره هڅې پیل کړې. هغوی په پام کې درلوده چې په راتلونکي کې د کندز، بغلان، سمنګان، سرپل، جوزجان او فاریاب ولایتونه هم ونیسي او په دې توګه دافغانستان په شمالي برخه کې داسې یو خپلواک دولت جوړکړي چې له شوروي اتحاد سره به اوږده پوله ولري.

دا. مسعود په سیاست کې دا شان بدلون یوه نوې خبره وه، ځکه هغه تر دې دمه پر شمال ختیزو او شمالي ولایتونو باندې دبشپړې ولکې ټینګولو ته په راتلونکي کې له افغانستان نه دهغو له بېلولو سره مخامخ تړاو نه ورکاوه. احمد-شاه تل ځرګندوله چې که وکړای شي دغو موخو ته ورسیږي، نو دشوروي اتحاد په وړاندې به منځلاري دریځ غوره کړي.

خواوس احمد شاه مسعود پر دې ګروهه (عقیده) وچې د افغانستان دشخړې سوله ییز اواری یوازې هله شونی دی چې دافغانستان خاوره ووېشل (تجزیه)

شي او دهغې پر بهلو بهلو تونو د وسله والو مخالفينو بشپړه ولکه تينګه شي.
دمخالفينو دغه« واکمنۍ» به پر کابل باندې دواکمن رژيم له په پام کې نيولو پرته د خپلواکو اداري اوركانونو په څېر چلند کوي. نور نوموړي دغه ترس دخپلې هاندوهڅې د نوو موخو دسياسي ايډيولوژيکي منځپانګې ( محتوا ) زړی او بنسټ ګرځولی و. دیادونې وړ ده چې دغو هڅو آن د امريکا دمتحدو ايالتونو او پاکستان ملاتړ هم تر لاسه کړی و. له دې سره جوخت احمدشاه هڅه کوله چې دافغانستان په شمال کې دملي محورو ( لکه د اسماعيليه و مشر سيد منصور نادري،« د افغانستان دشمال دخلکو اسلامي اتحاد » په نوم ديوه پان ترکي سازمان دمشر آزاد بيګ ، ډګر جنرال دوستم اونورو ) ملاتړ هم را خپل کړي چې تر ٦٥ زره تنو وسله وال کسان يې په واک کې درلودل.

## د « زړې » ناروغۍ ګوزار

په هسدې وخت کې په وطن ګوند کې د کارمل ډلې د کارنده کېدو له امله دافغانستان جمهوريت دګوندي او دولتي مشرتابه په خورا لوړه کچه کې هم حالت دزياتې ترينګلتيا او تاوتريخوالي په لور روان و.
دې خبرې هغه وخت لا زور واخيست چې دوطن ګوند د مرکزي شورا پلينوم (د ۱۹۹۱ کال دجون ۱۱مه) هېواد ته د ا.خ.د. ګ. دمرکزي کميټې د پخواني عمومي منشي او انقلابي شورا دمشر ب. کارمل دبېرته راستنېدو خبره تر څېړنې لاندې ونيوه. د ب.کارمل له راستنېدو سره د نجيب الله خوښاوی چې په پلينوم کې يې څرګند کړ ددې سبب شو چې کارمليان دې خپلې تبليغاتي هلې ځلې نورې هم چټکې کړي.
اوس نو دافغانستان د پخواني مشر پلويانو خپل ملګري او انډيوالان دې ته رابلل چې« په افغانستان کې دربښتينو ولسواکيزو (ديموکراتيکو ) بدلونونو او ټولنيزو سمونونو (ريفومونو ) دسمبول په توګه » د ب. کارمل پر شاوخوا د ټول

ولس د راټولولو لپاره خپل ځواکونه نور هم سره یو موټي او نږدې کړي.
نجیب الله چې له منځته راغلي حالت او د محصلینو، روښنفکرانو او پوځي کړیو داستازو له ورانکاریو او دغه راز د م. بریالي تر مشرۍ لاندې د کارملیانو د مشرتابه کړۍ دهلوځلو له چټکتیا نه په اندېښنه کې و، د حالاتو په وده کې د نه کنترول کېدونکو بهیرونو د مخنیوي لپاره یې یولړ تدبیرونه ترلاس لاندې ونیول. نوموړي له همدې امله د جون پر ۱۷ مه د وطن ګوند د کارندویه (اجرائیوي) کمېټې او مرکزي شورا بې واریزه (غیرنوبتي) غونډې جوړې کړې چې په دغو کې له ګوندي او دولتي څوکیو نه د م. بریالي (د لومړي وزیر لومړي مرستیال او دوطن ګوند د مرکزي شورا د کارندویه شورا غړي) د ګوښه کولو او د پورته یادوشوو هلوځلو دلاربنوونکو اولوړي ورکوونکو د کړنو د پلټنو او ډاګیزه کولو لپاره چې دهېواد حالات یې دچاودنې پولې ته نږدې کړي وو، د یوه کمیسیون د جوړېدلو په اړه پرېکړې وشوې.
نجیب الله دوطن ګوند د مرکزي شورا په غونډه کې دخپلې وینا په ترڅ کې دب. کارمل پلویان پر دې تورن کړل چې دوطن ګوند د مشر د مرستیال س. لایق او دافغانستان جمهوریت د دفاع وزیر م. ا. وطنجار له خوا د پوځي کودتا د کېدو په اړه له دروغو ډک ګونګوسي خپروي. له دې سره جوخت نجیب الله په ګوند او په تېره په اردو کې (چې هلته د پوځ د ستردرستیز ستر جنرال م. ا. دلاور، په کندهار کې دولس مشر فوق العاده استازي ډګر جنرال ن. علومي، د دفاع وزارت دلومړي مرستیال او د کابل ګارنیزیون د قوماندان ستر جنرال م.ن. عظیمي، دختیز زون د مشر او جلال آباد ګارنیزیون دقوماندان ډګر جنرال م. ا. لودین او نورو په څېر کارملیانو مهمې څوکۍ په واک کې درلودې) دمنځته راغلي حالت له په پام کې نیولو سره د دولتي امنیت او کورنیو چارو وزارتونو ته دنده ورکړه چې د دغو کسانو تر منځ د اړیکو د ټینګېدو او دهڅو د ګډ پلان د جوړېدلو د مخنیوي لپاره دې ځیر من (دقیق) او ګډوډونکي تدبیرونه ترلاس لاندې ونیسي او دغه راز دې دهغوی « ورانکاره کارندتیا » تر خپلې ولکې

لاندې راولي.

دنجیب الله له خوا د پورته شوو ګامونو پایله داشوه چې دوطن ګوند په دننه کې دې دڅواکونو نوې ډلبندي رامنځته شي. په دې لړ کې کارملیانو له خلقیانو سره دنږدې کېدو او اړیکو ټینګولو په لاره کې هڅو ته زور ورکړ. هغوی ګوښښ کاوه چې د ۱۳٦۸ کال په کب کې تردولتي کودتا وروسته د نجیب الله د وهلو ټکولو له امله دخلقیانو له مرورتیا نه دځان لپاره ګټه واخلي.

دڅینو رپوټونو له مخې م. یریالي د خلقیانو استازو ته ډاډ ورکړی و چې له سیاسي ډګر نه دنجیب الله تر وتلو وروسته به د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې دسیاسي بیورو د پخوانیو غړو ص.م. زیري ، غ.د. پنجشیري او نورو په ګډون ټول خلقیان له زندان نه راخوشې او س.م. ګلابزوی به هم بېرته هېواد ته راستون کړای شي.

له بلې خوا د افغانستان جمهوریت په مشرتابه کې هم د نجیب الله او دهغه دنږدې چاپېریال اړیکي له څینو کسانو ( لکه دولس مشر له مرستیالانو ع.ح. محتاط ، م. رفیع او نورو ) سره چې ځانونه یې له رژیم سره په هسکاری کې ککړ نه بلل او له هغې امله یې په راتلونکې ټلوالیز (ائتلافي) حکومت کې دګډون دعوه درلوده له کړکېچ او تاوتریخوالي سره مخامخ وو.

په وطن ګوند کې ډلپالې هاندوهڅې او اختلافونو هغه وخت لا زور واخیست کله چې د ا.خ.د.ګ. دمرکزي کمېټې پخواني عمومي منشي ب. کارمل کابل ته ورستون شو ( ۱۹۹۱ د جون ۲۰مه) ، او دا هغه وخت و چې د نوموړي پلویانو نور واکمن ګوند دټوټې ټوټې کېدلو له مخامخ او ربتیني ګواښ سره مخامخ کړی و.

په اوري کې دمخالفینو دوسله والو ډلو پر خلاف په جګړه ییزو عملیاتو کې د سترو ماتو له امله په اګست کې دافغانستان دولس مشر په کارندتیا او ناسته ولاړه کې څرګند عصبانیتوب تر سترګو کېده[...] او دتخار ولایت له لاسه وتلو او هلته دپلې فرقې ځپل کېدو خو دهغه ناکراري او اندېښنه لا پسې زیاته کړه.

له همدې امله د نجیب الله په لاربښوونه د پلي ۵۵ غونډ د قوماندان تورنجنرال عبدالرشید تاتار په ګډون نور ۲۶ تنه قوماندانان چې په دغه ولایت کې یې دنده سرته رسوله ونیول شول. سربېره پردې د سازا مشران هم د تخار په ورسپارلو کې تورن وګڼل شول، ځکه د دغه سازمان ګڼ شمېر ډلو به د جګړې په پرېکنده شېبه کې یا له ډزو او جګړې نه ډډه کوله او یا به د احمد شاه مسعود لوري ته ور اوښتل.

له بلې خوا پر م. کوشاني سربېره چې د افغانستان جمهوریت پر ولس مشر یې ښکاره نیوه کې کولې د ب. کارمل پلویانو هم د پخوا په څېر د شغه پر خلاف له کارنده هاندوهڅې نه لاس نه اخیست. اغېزمنو کارملي چارواکو (پخپله ب. کارمل، دهغه ورور م. بریالي، دوطن ګوند د مشر مرستیال ن. کاوياني، دوطن ګوند د مرکزي شورا د کارندویه کمېټې غړي ن. ا. نور، م. ن. عظیمي، م. ا. دلاور، دهوایي ځواکونو او هوایي ساتنې قوماندان ډګر جنرال ع. فتاح، م. ا. لودین او نورو) په کلکه هلې ځلې کولې چې دهېواد دواکمنۍ په ټولو اورګانونو کې د خپلې ډلې ستېې او دریځونه نور هم پیاوړي کړي.

کارملیان دغو موخو ته د رسېدو لپاره په دې لټه کې وو چې د وطن ګوند په دننه کې له نورو سیاسي ډلو ټپلو او کیڼو دیموکراتیکو سازمانونو (لکه سازا، سزا او نورو) سره ګډه ژبه پیدا او اړیکي پیاوړي کړي. [خو نجیب الله هم هسې لاس تر زنې نه و ناست] او شوروي اتحاد ته د ډګر جنرال ن. علومي تر لېږلو وروسته یې په جلال آباد کې د کارملیانو مشر ډګر جنرال م. ا. لودین هم د دمې اودرملنې لپاره شوروي ته واستاوه. پر دې سربېره د نورو شلو تنو کارملي جنرالانو او لوړ پوړو پوځیانو د ګوښه کولو لیست هم جوړ شو. دغه راز نجیب الله په دې لټه کې وچې د دفاع وزیر دلومړي مرستیال او کابل ګارنیزیون دقوماندان په توګه له خپلې څوکۍ نه د نبي عظیمي او په جلال آباد، فیض آباد، کندهار او نورو ولایتونو کې هم د کارمل د پلویانو د ګوښه کولو لپاره ورنده لاسوندونه او بنسټیونه تر لاسه کړي. [...]

په دې ترڅ کې د ب. رباني په مشرۍ د مجاهدینو یوه پلاوي [د ۱۹۹۱] په نومبر کې شوروي اتحاد ته سفر وکړ او هلته یې دافغان لانجې د غوڅولو او له مجاهدینو سره دبندي شوروي پوځیانو د خوشې کولو په باب یو لړ خبرې اترې ترسره کړې. تر هغې وروسته د روسیې د ولس مشر مرستیال ا. روڅکوی هم پخپل وار ایران او پاکستان ته سفر وکړ او هلته یې له ځایي چارواکو سره یو لړ خبرې اترې او لیدنې کتنې وکړې. « پاکستان ته د روڅکوی دسفر په درشل کې هغه هېواد اعلان وکړ چې د روسیې دولس مشر مرستیال دروان کال د دسمبر له ۱۹-۲۱ مې پورې پاکستان ته سفر کوي. خو دافغان مخالفینو مشرانو په دې اړه څرګنده کړه چې له دې سفر نه دا. روڅکوی تر ټولو ستره موخه دشوروي اتحاد او مجاهدینو داستازو دهغه ګډ کمیسیون په غونډه کې ګډون دی چې مسکو ته دهغوی د پلاوي د سفر په ترڅ کې پرې خوښاوی شوی و. خو پاکستاني سیاسي کارپوهان بیا پر دې ګروهه وو چې د روسیې دولس مشر مرستیال به دافغانستان پر مسالې په بنسټیزه توګه د پاکستان له مشرتابه او دافغاني مخالفینو له ځینو مشرانو سره دلیدنې کتنې په ترڅ کې خبرې اترې کوي.

د پاکستان ولس مشر غلام اسحاق خان او دهغه هېواد لومړي وزیر نواز-شریف د سږ کال د دسمبر پر دریمه په اسلام آباد کې دافغاني مخالفینو دمهمو ډلو له مشرانو سره یو لړ خبرې اترې وکړې چې دهغو په ترڅ کې مسکو ته د مجاهدینو د پلاوي د سفر پایلې ګټورې وبلل شوې او یادونه وشوه چې د افغان لانجې دسوله ییز اواري لپاره د لارو چارو لټون ته دې په راتلونکي کې هم دوام ورکړ شي. له همدې امله په کار ده چې دروسیې دولس مشر دمرستیال نه راتلونکي سفر نه خورا زیاته ګټه واخیستل شي. [...]

دپاکستان د بهرنیو چارو وزارت سکرتر جنرال اکرم ذکي د روان کال د دسمبر پر لومړۍ نېټه په اسلام آباد کې دهغه وزارت د مشرتابه په غونډه کې څرګنده کړه چې پاکستان اوس تر بل هر وخت نه زیات دافغان شخړې غوڅېدلو

ته ډېره اړتيا لري، ځکه دهېواد مشرتوب غواړي چې په چټکه توګه دشوروي اتحاد دمنځنۍ اسيا له جمهوريتونو سره اړيکي ټينګ کړي. دهغه په اند په افغانستان کې د جګړې دوام اسلام آباد له دغو جمهوريتونو سره دښو اړيکو دټينګولو له کېدون نه بې برخې کوي. {...}

دافغانستان انقلاب ضد په «لېږنده حکومت» کې دبهرنيو چارو پالنوال (سرپرست) وزير ب. رباني د سږ کال د دسمبر پردويسه يو ځل بيا په ټينګار وکړ چې مجاهدين به دکابل رژيم پر خلاف له وسله والې جګړې نه تر بشپړې بريې او په هېواد کې دربښتيني اسلامي حکومت تر جوړېدو پورې لاس وانه خلي...»

درپوټ سرچينه: په پاکستان کې دشوروي اتحاد سفارت، د ۱۹۹۱ کال دسمبر.

د ۱۹۹۱ کال په پای کې شوروي اتحاد او د امريکا متحدو ايالتونو اعلان وکړ چې د ۱۹۹۲ کال د جنورۍ تر لومړۍ نېټې نه وروسته په همهاله توګه دنجيب الله حکومت او مجاهدينو ته دوسلو پر لېږلو بنديز لګوي. دغه اعلاميه دکابل رژيم له خوا له خورا کلک منفي غبرګون سره مخامخ شوه او هغه يې يو خيانت او دغه راز د خپلې ماتې پيلامه وګڼله.

د افغانستان جمهوريت د ډله ييزو رسنيو په خپرونو کې هم په دې اړه يو لړ ليکنې راخرګندې شوې چې په هغو کې د ۱۳۵۷ کال دغويي له انقلابه بيا له افغانستان نه دشوروي سرتېرو دوتلو تروخته پېښې « شنل او ځېړل » کېدې. په دغو ليکنو کې په تېره « د ورور وژنکې جګړې په اور بلولو او دافغانستان خلکو په غميزه کې » دشوروي اتحاد او د هغه د مشرانو پر زغم نه منونکي رول ځانګړی ټينګار کېده . سربېره پردې شوروي اتحاد په کې « د داسې يوه يرغلګر په توګه يادېده چې خپلو جيوپوليتيکي موخو ته درسېدو لپاره يې د نړيوالو حقوقو ټول نور مونه تر پښو لاندې کول. »

په دې لړ کې دافغانستان جمهوريت د ولس مشر وينا چې د ۱۹۹۲ کال په

جنوري کې یې دملي روغې جوړې د کړنلارې د پنځمې کالیزې په باب وکړه د دوه مخیتوب او منافقت تر ټولو لوړه څوکه او بېلگه وه. نجیب الله پخپله وینا کې وویل چې پر افغانستان د شوروي لښکرو راننوتل د افغان ولس د پاڅون او ملي غمیزې بنسټیز لامل او سبب و.

آخوا ته دمخالفو ځواکونو مشرانو پراخه هلې ځلې کولې چې د کابل پر رژیم [کورنی او] نړیوال زور زیات او په دې توگه نجیب الله او دهغه اندیوالان له واک نه گوښه کېدو ته اړکړي. هغوی په دې لاره کې ډول ډول او بې ساري گامونه اوچتول چې دادی دلته یې دیوې بېلگې یادونه کوو:

« « دلنډ مهاله حکومت » دمشر ص. مجددي له سپارښتنې سره سم د هغه یو استازي فیض محمد چې دمخالفینو دپټې شبکې چارې پر مخ بیایي کابل ته راغلی دی. د لوگر په ولایت کې یوه ډلمشر ص. مجددي ته په دې اړه په یوه ټلگرام کې لیکلي چې فیض محمد پر دې بریالی شوی چې د اردو ، دولتي امنیت او کورنیو چارو د وزارتونو د ۸۰ تنو لوړ پوړو پوځیانو او جنرالانو په باب معلومات تر لاسه کړي چې دیوې کودتا تر سره کولو لپاره په یوې ډلې (سازمان) کې سره راټول شوي دي. دغو کسانو په گډه یو ژمنلیک چمتو کړی او دهغه متن یې د ص. مجددي په نوم پېښور ته لېږلی چې په دې اړه خپل دریځ څرگند کړي.

ریوټرز رکول کېږي چې بنایي د افغانستان جمهوریت د وسله وال پوځ ټولگي او دغه راز « د افغانستان اسلامي گوند » د « ایثار » فرقې او « ابوبکر » د غونډ ځواکونه هم په دغه پلان کې دگډون او ونډې اخیستنې لپاره ور وبلل شي.

په پورته یادشوي لیک کې د لوگر ولایت د دولتي امنیت پاسوالۍ د مشر تورنجنرال عبدالواسع، دهوايي ځواکونو د درستیزوال تورنجنرال عبدالجمیل او دغه راز تورنجنرالانو حبیب گل ، غازي میر او محمد سردار نومونه ( چې پخپل وار د لومړۍ، اومې او یوولسمې پلیو فرقو مشران دي ) هم اخیستل شوي دي. په

ACKU

لیک کې دغه راز ویل شوي چې د پلان شوي برید په لړ کې به لومړی د لوګر له لوري پر کابل ګوزارونه تر سره کېږي او له هغه سره جوخت به کابل ګارنیزیون دننبار په دننه کې {خپله دنده} او عملیات پیلوي. {...}.

خو جنرال عبدالواسع چې دافغانستان جمهوریت د ولس مشر له نږدې چاپېریال سره پراخ اړیکي لري په دې اړه یې نجیب الله ته اړونده معلومات او رپوټ ورکړ چې نوموړي ورسره زیاته مینه او لېوالتیا وښوده او له هغې اصله یې ع. واسع ته سپارښتنه وکړه چې د ص. مجددي له استازو سره دې په دې اړه اړونده خبرې اترې ترسره کړي.

ص. مجددي د روان کال د نومبر پر دریمه په خپل ځوابیه تلګرام کې سپارښتنه کړې چې په دې باب د مخابرې له لارې له خبرو اترو څخه ډډه وشي او ټینګار یې کړی چې په راتلونکي کې دې رپوټونه یوازې د اړیکوالو (ارتباطي کسانو) له لارې ورلېږل کېږي.

د دغه او په دې اړه د نورو رپوټونو له څېړنې نه سړی دې پایلې ته رسېږي چې: د ص. مجددي او نجیب الله ترمنځ «تلواله» (ائتلاف) په آر او پرنسیپ کې یو شونی کار دی. دافغانستان جمهوریت ولس مشر او د هغه چاپېریال له ډېر نه د افغانستان لانجې د ایستلو په اړه د افغانستان د ملي ژغورنې جبهې د مشر له خوا تر مخه د یو لړ تر سره شوو وړاندیزونو په رڼا کې کولی شي چې دې کار ته غاړه کېږدي او دیوې «پوځي کودتا» له لارې په دولتي اداره کې اړونده او اړین بدلونونه منځته راولي. {...}. (په کابل کې د شوروي سفارت له معلوماتو نه، د ۱۹۹۱ کال نومبر).

خو د نجیب الله د ورکې سخته او ګوابنمنه سیلۍ {د لوګر پر ځای} د هیواد له شمال نه چې د توکمیزو تربګنیو چینه نوره را خوټېدلې وه، او ځان غوښتونکو او واک لېونیو سیاستوالو ترې ناوړه ګټه پورته کوله، را والوته. او دا ټیک هغه مهال و چې نور نو د پښتنو له خوا د پخوا په څېر د خپلو شرطونو د یکته په وسله وال پوځ کې د ملي لړه کیو د استازو له سدم جوړ شوي او سازمان موندلي

تېنګاو سره مخامخ وه. او دا ټول له دې نه را پيل شول چې نجيب الله هڅه وکړه په حيرتانو کې د دولتي امنيت وزارت. د ۷۰ يمې لوا قوماندان جنرال مومن (چې په ځته تاجک و) له خپلې څوکۍ نه ګوښه او پر ځای يې يو پښتون وټاکي. خو د مومن پلويانو چې د بېلابېلو پوځي ټولګيو او ډلو ډلګيو مشري يې پر غاړه وه، د افغانستان په شمال کې دافسرانو دليکو د پښتني کولو په اړه د هېواد دمشرتابه دکړنلارې په وړاندې په ډاګه خپل غبرګون ځرګند کړ.

د دې لپاره چې دمنځته راتلونکي کړکېچ مخه ونيول شي، نو نجيب الله، مومن او د ۵۳ مې او ۸۰ يمې فرقو مشران (ع. ر. دوستم او سيد منصور نادري) چې دملي لېږه کيو دګټو استازيتوب يې کاوه کابل ته وروغوښتل، خو نوموړو له دغې بلنې نه سر وغړاوه. [...]

حالات هغه وخت لا پسې ترينګلي او کړکېچن شول چې د افغانستان د وزيرانو شورا پخوانی پاسوال او د هزاره لږه کيو مشر س. ع. کشتمند د فبرورۍ پر اومه تر غرمې وروسته په کابل کې ديوه ترهګر بريد په پايله کې ټپي شو.

هغو ګونګوسي چې په دې پېښه کې دښکارګرۍ دلاس لرلو په باب خپاره شول د افغانستان په شمال کې بل شوي اور ته يې نور پسکې هم ورواهه او د هېواد حالات يې لا پسې له تاو تريخوالي نه ډک کړل. س. ع. کشتمند ورځ تر مخه د بي بي سي له خبريال سره په مرکه کې ويلي وو چې هېواد به هله يو موټی او په امن کې پاتې شي چې دلږه کيو حقونه په کې خوندي او پښتون مشرتوب واک له نورو سره ووېشي. هغه دغه راز پر ملګرو ملتونو غږ کړی و چې د دغو شرطونو دضمانت کوونکي په توګه رول تر سره کړي. البته د دولتي امنيت اورګانونو هم دافغانستان دشمال له ملي لږه کيو سره چې د ولس مشر نجيب الله د پښتني کولو له کړنلارې سره مخالف وو، د نوموړي د نږدې او کارنده اړيکو په باب يو لړ معلومات او لاسوندونه په واک کې درلودل.

اخوا دافغانستان اسلامي جمعيت مشر ب. رباني د پنجشېر د ډلې

قوماندان ا. مسعود ته لار ښوونه کړې چې د ۵۳ مې او ۸۰يمې پليو فرقو او د دولتي امنيت د ۷۰ يمې لوا دقامي ځواکونو له قوماندانانو سره اړيکي ټينګ او له هغوی سره د نجيب الله د رژيم په وړاندې ګډه جبهه جوړه کړي. خو د پښتنو د قامي ټولګيو قوماندانان هم غلي نه وو ناست او هغوی هم له مخالفينو سره د اړيکو د ټينګولو په لټه کې وو چې وکولای شي د توکميزو لړه کيو د هڅو اوعملياتو په وړاندې ورنده غبرګون او ټينګاو وښيي. په دې توګه د وروستيو پښنو پر مختيا په ډاګه کوي چې د ملي اوتوکميزو ريښو او ولوستيه له ايډيولوژيکي اوا سلامي هغو ډېره کلکه او پخه ده.

په دې ترڅ کې نجيب الله هم هڅه کوله چې د مخالفينو له پښتني ځواکونو سره ديوکېدو او پر قامي او ملي بنسټ دجوړجاړي دموندلو له لارې دهېواد له روان کړکېچ نه دوتلو يوه لار ومومي. له همدې امله نوموړی په دې لټه کې وچې په هېواد کې دوېش پلوو ( ښلتون غوښتونکو ) کوښښونو او احساساتو د مخنيوي او د پښتنو د برلاسی د ساتلو لپاره له ګ. حکمتيار سره يو خوښاوی او ترون تر لاسه کړي، چې په دې لړ کې له ګ. حکمتيار سره د نجيب الله د پلويانو د اړيکو په باب ځيني رپوټونه هم ترسترګو کېدل:

« د نجيب الله استازو د روان کال د فبرورۍ په پيل کې دافغانستان اسلامي ګوند له مشر ګ. حکمتيار سره چې په دې وروستيو ورځو کې د وردګو ولايت په ميدان ښار کې دی اړيکي ونيول. ددغو اړيکو اوليدنو کتنو نوښت د افغانستان جمهوريت د ولس مشر له خوا تر سره شوی او هغه هيله لري چې که په دې توګه وکولای شي ګ. حکمتيار د شخړې د ټولو اړخونو تر منځ دجوړجاړي ديوه ګډ خوښاوي ليک او ترون د لاسليک کېدلو له لارې دافغانستان دلانجې په اوارولو کې ګډون ته راستون او وهڅوي.

د نجيب الله استازو هڅه کوله چې دخبرو اترو په بهير کې د افغانستان اسلامي ګوند دمشر له ملي پالو ليدونو او احساسونو نه ګټه واخلي . هغوی ګ. حکمتيار ته وړانديز وکړ چې « د افغانستان د وېشل کېدو د رامنځته شوی

ګوابس د له منځه وړلو » او دهېواد په شمالي ولايتونو کې له پښتني ضد غورځنګ سره دمخامختيا او غبرګون لپاره په کار ده چې دافغانستان اسلامي ګوند د وسله والو ډلو په ګډون ټول پښتني ځواکونه سره يو لاس او يو موټی شي. په دې ترڅ کې نوموړو هغه ورته نوښت ته هم ګوته ونيوه چې پخپله ګ. حکمتيار دوه مياشتې تر مخه کابل ته ديوه رالېږلي استازي له خوا دهېواد چارواکو ته وړاندې کړی و.

دنجيب الله مرکچيانو دغه راز هڅه کوله چې دواکمنۍ په لېږنده ( عبوري ) جوړښتونو کې دافغانستان جمهوريت دولس مشر دګډون خبره هم تر څېړنې لاندې ونيسي، خو داسلامي ګوند مشر څرګنده کړه چې نه غواړي په دې باب خبرې اترې وکړي، ځکه هغه نيت نه لري چې په دې اړه خپل شخصي دريځ او دغه راز دخپل ګوند اندوليدو واړوي، او دا له دې امله چې اسلامي ګوند نه غواړي دافغانستان پخواني پاچا ظاهر خان، نجيب الله او په هغو پورې تړلي کسان په لېږنده حکومت کې ونډه واخلي.

ګ. حکمتيار موده پس دکابل سيمې د ډلمشرانو په غونډه کې څرګنده کړه چې تر سره شوو خبرو اترو ځکه ګټوره پايله ونه کړه چې نجيب الله په پر له پسې توګه« سرزوري » کوي او په هيڅ ډول چمتو نه دی چې له خپلې څوکۍ نه کوز شي. دميدان ښار په سيمه کې له ګ. حکمتيار سره دولس مشر د استازو له خواد تر سره شوو خبرو اترو په باب دګونګوسيو لمنه اوس ډېره پراخه شوې او دنجيب الله مخالفين غواړي چې له هغو نه دنوموړي د بې باوره کولو لپاره کارنده ګټه واخلي. {. . .}. »

( په کابل کې د روسيې سفارت له رپوټ نه، د ۱۹۹۲ کال فبروري. )

په دې ترڅ کې د شمال دملي ليږه کيو مشرانو د «شمال» په نوم ديوې ټولنې جوړېدل اعلان کړل او له مرکزي چارواکو نه يې وغوښتل چې هغه په رسميت وپېژني. خو نجيب الله هغوی ته دنه ځواب ورکړ او چمتو والی يې وښود چې د « شمالي والو » دغه غورځنګ به له پوځي لارې وځپي او دغه راز يې د پښتنو د يوه

سرحدي تولګي د جوړولو په باب هم لاربښوونه وکړه.

له بلې خوا مجاهدينو هم د افغانستان په شمالي سيمو کې خپلې هلې ځلې چټکې کړې {...} او په همدې ترڅ کې د بغلان ولايت د پلخمري په سيمه کې د کورنيو چارو وزارت اړوند د پښتنو د ۸۱ يم او ۹۰ يم قامي غونډونو او اسماعيليه و د ۸۰ يمې پلې فرقې تر منځ جګړې ونښتې. د اسماعيليه وقامي ډلو له خپل تول وس نه کار اخيست چې له دغه ولايت نه د پښتنو تغر تول کړي.

په دې لړ کې د فيض آباد (د مېمنې په ۴۰ کيلومترۍ کې) د پلې ۵۳ مې فرقې د ۵۱۱ مې لوا قوماندان ډګروال عبدالرسول په هغه ولايت کې تول پښتانه او په هغې ډله کې د کورنيو چارو وزارت د اوپراتيفي ۳۵ غونډ مشر هم د مشر تابه له ځوکيو نه لرې او سرتېري او افسران يې بې وسلې کړل.

پخپله د ۵۳ مې فرقې قوماندان ډګر جنرال دوستم بيا پخپل وار په فارياب کې د افغانستان اسلامي ګوند له لوی ډلمشر انجينر نسيم سره لاره جوړه او له هغه ولايت نه يې د پښتنو ښرلو ته پايښې رابد وهلې. په دې ترڅ کې د بلخ په ولايت کې د ۵۳ مې فرقې تولګيو وکولی شول چې مزار شريف او هوايي ډګر تر خپلې ولکې لاندې راولي.

د افغانستان اسلامي جمعيت ډلو هم له منځته راغلي حالت نه په ګټې اخيستنې سره د مزار شريف په لويديځ کې ځينې سيمې لاندې او يوه زياته اندازه سپکې او درنې وسلې په غنيست ونيوې. خو مجاهدينو د ۵۳ مې فرقې له تولګيو سره جګړه نه کوله. په دې ترڅ کې د ۵۳ مې فرقې پوځيانو د سيمې د پښتنو وګړو په وړاندې ځينې لاس غځونې هم وکړې.

ډګر جنرال ر. دوستم پر قامي بنسټ د وسله والې مخامختيا د پراختيا د مخنيوي لپاره خپلو تولګيو ته امر وکړ چې د کورنيو چارو وزارت ببلابېل تولګي او دغه راز د دولتي امنيت وزارت ۴۴ غونډ بې وسلې او په سيمه ييز مشر تابه کې پښتانه چارواکي بنديان کړي.

څرنګه چې حالاتو د تاو تريخوالي لاره غوره کړې وه، نو زموږ وروستي او د

تنه پوځي سلاکاران هم د اپریل پر ۱۲ مه له افغانستان نه راووتل. لکه څرنګه چې تورنجنرال و.و. لاګوشین راته وروسته کیسه وکړه نوموړی ورغ تر مخه نجیب الله خان ته وربللی او ورته ویلې یې وو چې شوروي پوځي سلاکاران باید بې له ځنډه له افغانستان نه ووځي، ځکه چې په ډېرو نږدې ورځو کې واک مخالفینو ته لېږدول کېږي او دې پخپله ایله که پنځه ورځې نور هم دهېواد ولس مشر وي.

نجیب الله زیاته کړه چې که څه هم شورویان خاینان دي، خودی خپله دنده ګڼي چې پوځي سلاکاران باید روغ رمټ خپلو کورونو ته ورولېږي. رښتیا هم کله چې د هوایي ډګر د ادارې له خوا د الوتکې د راالوتلو او بېرته تللو په لاره کې ببلا بېل خنډونه رامنځته شول، نو نجیب الله پخپله هوایي ډګر ته راغی او تاشکند ته د سلاکارانو په لېږلو کې یې مرسته وکړه.

په دې وخت کې د افغانستان دمشرتابه هغو استازو چې د لانجې په سوله ییز اوارې کې له منځلارو مخالفینو (؟) سره د پراخې همکارۍ غوښتونکي وو، پردې ټینګار کاوه چې واک باید د ا. مسعود ځواکونو ته ولېږدول شي. اودې لپاره چې د پلازمېنې دنیولو لپاره د ګ. حکمتیار پلانونه شنډ کړای شي، نو دنجیب الله د ګوښه کېدو په شرط له ع.ر. دوستم سره خوښاوي وشوچې له مزار شریف نه تر څلورو زرو تنو پورې قامي ځواکونه دهواله لار د کابل سویلي اوسویل لویدیزو سیمو ته راولېږدوي.

لکه څرنګه چې وروسته پېښو وښوده دایو ډېر پرځای اوګټور (؟) ګام و، ځکه که چېرته د دوستم د ۵۳ مې فرقې ځواکونه کابل ته نه وای را لېږدول شوي، نو کېدای شول چې د پلازمېنې حالت له ولکې نه وتلی او په دې توګه سخت دریځو ته دښار د نیولو لپاره ډېر ښه شرطونه برابر شوي وای.

**رپوټ:**

د کابل په سیمه کې منځته راغلی حالت دهېواد په روانو پېښو کې تر ټولو پرېکنده او ټاکونکی رول لوبوي. داحمد شاه مسعود تر مخامخ لارښوونې لاندې

دچاریکارو ، جبل السراج او باګرام دهوايي اډې د نیولو په اړه دمجاهدینو تر بریالیو عملیاتو نه وروسته اوس پر کابل باندې دمخالفینو دبشپړې ولکې ګواښ رامنځته شوی دی.

۱.مسعود غواړي چې د مجاهدینو د بریدونو له امله په افغان مشرتابه کې له منځته راغلې تر ورتیا اوزړه غورځېدنې نه په ګټې اخیستنې سره نجیب الله دې ته اړ کړي چې له واک نه لاس واخلي او په دې توګه د افغانستان اسلامي جمعیت- پنجشېر د « نظار شورا » پر بنسټ دلېږنده حکومت جوړېدلو ته لاره اواره کړي.

دمسعود دغه غوښتنه آن د اپرېل پر ۱٤ مه د وطن ګوند د مرکزي شورا دکارندویه کمېټې په سهارنۍ غونډه کې دف.مزد ک ، م. رفیع ، ع. وکیل او ن. کاوياني له خوا دافغانستان جمهوریت ولس مشر ته وړاندې شوې وه. له همدې امله دوطن ګوند مرکزي شورا د کارندویه کمېټې فوق العاده غونډه دنجیب الله له ګډون نه پرته د اپریل د ۱۵ /۱٤ پرشپې جوړه او په هغې کې پرېکړه وشوه چې دمخالفینو د سخت دریځه ډلو له خوا پر کابل باندې د یرغل دمخنیوي لپاره باید له ا. مسعود او ع. ر. دوستم سره اړیکي ټینګ شي. {...}.

درپوټ سرچینه : دروسيې سفارت ، کابل د ۱۹۹۲ کال اپرېل.

په همدې ترڅ کې په کابل کې یوه« لنډ مهاله پوځي شورا » جوړه شوه چې مشري یې دبهرنیو چارو د وزیر عبدالوکیل په غاړه وه. نوموړي دنجیب الله دمخالفینو د ډلې يو کارنده غړی و چې آن د جنوري - فبروري په میاشتو کې یې د نجیب الله دګوښه کېدو غوښتنه کړې وه اوهغه یې د افغانستان لانجې د سوله ییز اواري په اړه د ملګرو ملتونو دپلان دپلي کېدو په لاره کې یو ستر او مخنیوونکی خنډ او لامل باله.

اوس نو دهېواد د سیاسي مشرتابه واګې د داسې کسانو د یوې ډلې په لاس کې وو چې دجوړښتیايي او لاښوونکې کړی مشري یې د ع. وکیل له خوا ترسره کېده. « نوي مشرتابه » هڅه کوله چې له هزاره ډلو نه هم د کابل دټینګولو او له

احمد شاه سره د اړیکو د پراخولو لپاره ګټه واخلي.

# «د پنجشیر زمری (!)»

# پر کابل وردانګي

د اپریل د وروستیو لسو ورځو په ترڅ کې د افغانستان حالاتو بنسټیز بدلون وموند. چې د هیواد ټولو غاړو پیښکو ته په خورا چټکۍ سره د مجاهدینو د اغېز پراختیا یې مهمه بېلګه او ځانګړنه وه. په دې توګه «د افغانستان نوي مشرتابه» ته یوازې د کابل ولکه ورپاتې وه اوس. البته پخپله په پلازمېنه کې هم د افغانستان اسلامي جمعیت - پنجشېر او افغانستان اسلامي ګوند د ډلو د مخامختیا (مقابلې) ګواښ مخ پر زیاتېدو و. په دې لړ کې د افغانستان اسلامي جمعیت - پنجشېر ډلمشرانو د کابل ګارنیزیون له ځواکونو سره نږدې همکاري کوله.

له همدې امله وه چې د پنجشیر یو مجاهدینو له خوا د موخو له ورپه ګوته کولو سره سم به د حکومت توپچي ځواکونو په لوګر او د کابل په سویل لویدیز او لویدیزو سیمو کې د اسلامي ګوند د راټولېدو پر مرکزونو ځپونکي او مخنیونکي ګوزارونه کول.

احمد شاه مسعود د غږ راز اعلان وکړ چې د باګرام او مزار شریف په هوايي ډګرونو کې یې جګړه ییز ځواکونه او د بلخ ولایت په مرکز کې یې د سکاډ ډله ډلګۍ د بشپړې تیارسۍ په حال کې راوستي دي. د دې ترڅنګه نوموړي دا ډاد ورکړ چې د افغانستان نوی رژیم به یو لیبرال اسلامي حکومت وي (؟) په همدې ترڅ کې په کابل کې د ا. مسعود، ع.ر. دوستم، س.م. نادري او افغانستان اسلامي وحدت ګوند د استازو په ګډون یوګډ درستیز توب (قرارګاه) جوړ شو، او په خورا چټکۍ سره هڅه کېده چې کابل ته د مخالفینو د سخت درېځي برخي

د سترو ډلو اوټولګیو د ننوتلو ټولې شونې ( ممکنې ) لارې بندې او دهغو د تېرېدو مخه ونیول شي. له بلې خوا د ا. مسعود او ع. ر. دوستم ډلو دننه په ښار او د استوګنې په سیمو کې هم داسلامي ګوند دپلویانو د له منځه وړلو لپاره په پراخو عملیاتو او لټون لاس پورې کړ.

په دې لړ کې« دکابل جهادي شورا » دجوړېدو خبر هم خپورشو چې دمسعود ډلشرانو او دشمال دقامي ځواکونو یو شمېر استازو په کې ګډون درلود. خود مسعود دغه هڅې او له کابل نه دمجاهدینو په بېلابېلو ګوندونو پورې د یو شمېر تړلو وسله والو ډلو دایستلو کوښښونه ددغو ګوندونو داستازو دناخوښۍ او خپګان سبب شول اودا کار یې کابل ته د مجاهدینو دمهمو ګوندونو دمشرانو د ورتګ په درشل کې دهغوی د دریځونو د کمزوري کولو په لاره کې یوه هڅه وګڼله.

**معلومات**

دواکمنۍ د جوړېدونکو ټلوالیزو اورګانونو په تړښت ( ترکیب ) کې دمجاهدینو د بېلابېلو ډلو د استازیتوب دځرنګوالي پر سر د دغو ګوندونو د استازو ترمنځ اختلافونه دوام لري. {...} دساري په توګه ګ. حکمتیار پردې خبرې زور اچوي چې د ع.ر. دوستم د ملېشو ټولګي باید له پلازمېنې او د هېواد له مرکزي برخو نه وایستل شي. . . خو ص. مجددي یې په ځواب کې وایي چې { دا کار ځکه باید ونه شي چې } ع.ر. دوستم د نجیب الله د رژیم په رانسکورولو او واک ته دمجاهدینو تر رسېدو نه وروسته په کابل کې دخلقیانو د بغاوت په ځپلو کې خو راستر رول لوبولی دی. {...}

دمعلوماتو سرچینه : دروسیې سفارت ، کابل د ۱۹۹۲ کال مې.

خو په داسې حال کې چې په کابل کې د نوو جوړو شوو مرکزي اورګانونو له امله پلازمېنې ته دهېواد له بېلابېلو ولایتونو نه دپېژندنې {اومبارکۍ} رپوټونه او پیغامونه رسېدل، د افغانستان په ختیځ او سویل ختیځ کې دپښتنو د استوګنې یو شمېر ګڼ مېشتو سیمو په دې باب خوله پټه نیولې وه. له بلې خوا

گ. حکمتیار هم پر نیول شوو څوکیو باندې د ص. مجددي او ب. رباني واک په رسمیت نه پېژنده.

{ په همداسې حالاتو کې} د روسیې د بهرنیو چارو وزیر ا.و. کوزیروف د مې د میاشتې په نیمایي کې کابل ته سفر وکړ او هلته یې له ص. مجددي ، ب. رباني او س. ر. ګیلاني سره وکتل. دکتنې په ترڅ کې افغاني لوري له افغانستان سره د هر اړخیزو مرستو تر سره کولو د مسالو د څېړنې لپاره د روسیې د چمتووالي په باب د ا. ک وزیروف له څرګندونو نه خوښي څرګنده کړه ، خو ور سره جوخت یې په پوځي ډګر کې د همکارۍ په اړه زموږ د وزیر د وړاندیز له څېړلو نه ډډه وکړه.

**معلومات**

ص. مجددي او ب. رباني څرګنده کړه چې دوی له روسیې نه په افغانستان کې د شوروي لږ شمېر پوځي ټولګیو د شته والي په وخت کې هیواد ته د اوښتي زیان د غراماتو د غوښتلو په اړه د ځینو جهادي مشرانو غوښتې غوښتنې ردوي. دوی د غه راز وایي چې روسیه کولی شي د یوه ګاونډي او پخواني دوست په توګه د افغانستان په بیا ودانولو کې مهم رول ولوبوي. خو ص. مجددي دا ټکی هم ور زیات کړ چې تر هغې چې یو شمېر افغانان روسیې ته د دښمن په توګه کتل بس کوي خو را ډېر وخت به ونیسي.{...}

د رپوټ سرچینه: د روسیې سفارت ، کابل د ۱۹۹۲ کال مې.

هغه څه چې د نجیب الله د رژیم په ړنګېدلو پورې اړه لري، نو ربښتیا خبره دا ده چې دا د مجاهدینو پوځي بریې نه وچې نجیب الله او د هغه اندیوالان یې رانسکور کړل ، بلکې دا په ګوند کې د واک پر سر خپل منځي جګړه وه چې لومړی یې رژیم بنه بابسته او ورپسې یې چور لټ را وپرځاوه. او پایله یې دا شوه چې په پای کې دې د واک واګې د « منځلارو » مخالفینو او ملي لېږه کیو د استازو او د ودپالونکو لاس ته ورشي.

خو له هماغه پیل څخه ځوته وه چې داورۍ خدایزده که شړۍ شي، ځکه چې پوځي پښتنیز ځواګونه د اسلامي سخت دریځو او بنسټپالونکو تر ځنګ ولاړ وو او هغوی هېڅکله هم په دولت کې پر دویم کچیز رول بسنه نه کوله، ځکه یې نو هم د واک لپاره جګړې ته دوام ورکړ.

ACKU

# لسیم پیارګی

نیکمرغي دمېرانۍ له امله په ستاینې او جایزې کې نه ، بلکې پخپله په مېرانۍ کې ده باید ووایم چې دشوروي اتحاد مشر تابه په افغانستان کې دشوروي پوځي شته والي په اړه خپلې اورد پراویزې ( ستراتیژیکي ) موخې په سمه او څرګنده توګه نه وې ټاکلې. همدا خبره ددې سبب ده چې ګڼ شمېر کینه کښې او غم کرونکي نن په یوه خوله لګیا دي او وایي چې شوروي پوځونو د کورنۍ جګړې په بهیر کې دافغان حکومت تر څنګه د دربدو اوننګې له امله ګنې ماتې وخوړه.

خو دا ارزو نه ګرد سره پرځای او ربښتینې نه ده . او لکه چې دهرې جګړې ارزو نه ( ارزیابي ) وخت ته اړتیا لري، نو د افغان جګړې رول او ځای به هم پخپله وخت وټاکي . خو یوه خبره چې بېخي جوته ده هغه داده چې په افغانستان کې دجګړنو ( جنګېدلو ) پوځیانو برخلیک له نورو هغو نه ډېر تریخ را وخوت ، ځکه چې د افغانستان جګړه آن پخپله په شوروي اتحاد کې هم دبې نیاوه (غیرعادلانه) او جنایتکارې جګړې په توګه اعلان شوه. له بلې خوا شوروي لږ شمېر پوځي ټولګي وینې چې په افغانستان کې تر نهه کاله جګړې وروسته اوس هغو ته پخپل هېواد کې څوک دیوه توت هومره ارزښت هم نه

ورکوي. دا خولاځه چې ډله ییزه رسنۍ یې آن د یرغلګرې جګړې برخه وال، دملکي اوبې ګناه کسانو وژونکي، پر نشه یي مادو اخته او د «هېڅ» لپاره وژل شوي کسان بولي.

{خوزه بیا وایم چې} دا د سرتېرو پر ه اوګناه نه وه چې ویې نه شو کړای د ا.خ.د.ګ. چارواکي دبرچې په زور دواک پرځوکیو ټینګ کړي، ځکه چې د دغه یوه موټي ګوندیانو له خوا اعلان شوې سیاسي کړنلاره دافغانستان دخلکو لپاره دمنلو وړ نه وه، نو په داسې حال کې زموږ اردو څنګه کولی شول د ا.خ.د.ګ. درژیم دستراتېژیکي ماتې مخه ونیسي؟

هغه څه چې دمخالفینو د وسله والو ډلو پر خلاف په جګړه ییزو عملیاتو (ټول شمېریې ۴۲۰ ته رسېده) پورې اړه لري، نو ویلی شم چې ۴۰ اردو د جګړې په ټول پړاو کې دغه دنده په ټولیزه توګه په بریالۍ توګه سرته رسوله. دلته د ساري په توګه یوازې هغو جګړه ییزو عملیاتو ته ګوته نیسم چې د پنځمې موټریزه فرقې دقوماندان تورنجنرال ګ. پ. کاسپیروویچ تر مشرۍ لاندې پر ۱۹۸۵ کال د فراه په ولایت کې ترسره شول.

د ۴۰ اردو قوماندانۍ دهمدغه کال په سپتمبر کې رپوټ ترلاسه کړ چې په ایران کې دهزاره ګانو دیوه سم سیده کنډک روزنه پای ته رسېدلې او په پام کې ده چې هغه دغور ولایت ته راولېږل شي. دغه کنډک دنده درلوده چې د افغانستان دننه دهزاره ګانو یو کورواکه (خودمختار) جمهوریت جوړ کړي.

له هسدې امله دپنځمې فرقې قوماندان ته چې دایران په لوري د پرتو سیمو مسوولیت یې پر غاړه و، دنده ورکړ شوه چې دافغانستان خاورې ته د هزاره ګانو د دغه کنډک د راننوتو مخه ونیسي. سره له دې چې دغه دنده ډېره سخته وه، ځکه د پولې اوږدوالی ډېر اوډپوځې ځواکونو شمېر لږ و {...}، خو بیا هم دغه عملیات په بریالۍ توګه ترسره او دښمن ته د سر او وسلو زیات زیان ور واوښته. {....} ددغو عملیاتو په ترسره کېدو سره دهزاره ګانو د کورواکه جمهوریت دجوړېدو په لاره کې هڅې او کوښښونه هم عملاً له ماتې سره مخامخ شول.

# د پاملرنې پر ځای

## اسلامي بنسټ پالنه منځنۍ آسيا ته

### « راڅپېږي »

که سږي د پخواني شوروي اتحاد د منځنۍ آسيا په جمهوريتونو کې منځته راغلي حالت ته نوکی ځير شي، نو دافغانستان جګړه به ورته دهغه په رڼا کې تر ډېره ځايه ببخي بل شان تر سترګو شي. ځکه دغه حالت په افغان جګړې کې د کرل شوو زړو او تخمونو له ايبرې ( حاصل ) او پايلې څخه پرته بل څه نه دي. هو، دادی اوس دلته په منځنۍ آسيا کې هم تاکلو ځواکونو د اسلام توغ او جنډه راپورته کړي او سياسي واک ته د رسېدو لپاره د يوې وسلې په توګه ترې ګټه اخلي. اوهمدا افغاني مجاهدين اونور ډول ډول اسلامي سخت دريځي دي چې له دغو ځواکونو سره اوږه پر اوږه په دې کار کې مرسته کوي.

دساري په توګه دپاکستان ولس مشر ضيا الحق تر خپلې مړيني نه لږ وخت وراندې د افغانستان د راتلونکي د « تاکلو » په اړه د هڅو او کوښښونو په لړ کې خپلې موخې په ډاګه داسې ډلبندي کړې: « موږ ددې حق ګټلی چې په کابل

کې دې یو ډېر دوست رژیم تر ځنګ ولرو . مونږ به په هېڅ ډول اوبیه پرې نږدو چې هغه دې پخواني رژیم ته چې دهند او شوروي اتحاد تر اغېزې لاندې و اوزمونږ پر خاوره یې دعوه درلوده ورته وي. دا به په ریښتینې توګه یو اسلامي دولت او دپان اسلامیزم د بیا راژوندي کېدو د بهیر یو بشپړونکی توکی اوبرخه وي او تاسو به ګورئ چې دهغه (پان اسلامیزم) لمنه به یوه ورځ په شوروي اتحاد کې مېشتو مسلمانانو ته هم ورغځېږي. »

هو ، دا یوازې تش منځنې او بابېزې خبرې نه وې ، بلکې ډېر ژر په هغو پسې عملي ګامونه هم پورته شول او دادی افغان جګړه په ریښتیا هم منځنۍ آسیا ته راوځپېده.

په همدې لړ کې « دافغانستان دشمال دخلکو اسلامي اتحاد » په نوم سازمان هم پر ۱۹۸۸ کال جوړ شو چې په لومړي سر کې یې « دشوروي مسلمانانو آزادولو » او دمنځنۍ آسیا د دولتونو په ګډون د « آزاد ترکستان » د جوړولو اعلان وکړ او وروسته یې عملاً دې موخې ته درسېدلو لپاره ورانکاره هڅې پیل کړې ، او دهغو په ترڅ کې یې دخپلې کړنلارې د پلي کولو لپاره د روسي ضد تبلیغ له پراخولو ، ملي پالونکو ولولو له خپرولو ، دجنګیالیو د ډلو له جوړولو او داسې نورو لارو چارو نه ګټه اخیسته.

په همدې موخه پولې ته څېرمه دافغانستان په خاوره کې یو لړ اډې او د وسلو ، مهماتو ، ورانونکو کتابونو او پاڼو ، نشه یي مادو او نورو شیانو زېرمې هم جوړې شوې وې ، چې له هغو نه یوازې د ورانکارو او تر هګرو ډلو دسمبالولو لپاره ګټه اخیستل کېده ، بلکې د اوزبکستان ، تاجکستان او ترکمنستان سخت دریځو ته هم را استول کېدل.

آخوا ته د ۱۹۹۰ کال په فبروري کې دانګلستان « انډیپنډنټ » ورځپاڼې رپوټ ورکړ چې د انګلستان دبهرنیو چارو وزارت پرېکړه کړې دهغه پنځوس کلن لاسوند له خپرولو نه ډډه وکړي چې دشوروي اتحاد په سویلي جمهوریتونو کې دحالاتو دکړکېچن کولو لپاره دهغه هواد دڅارګرۍ پلانونه په کې خوندي دي.

ددغې پرېکړې له مخې، دهغو لاسوندونو له خپرولو سره په توپير چې د قانوني وخت له بشپړېدو سره سم بايد خپاره شي، ددې لاسوند پټوالی تر ۲۰۱۵ زېږدي (ميلادي) کال پورې ځنډول شوی دی. د نوموړې ورځپاڼې د رپوټ له مخې، په لاسوند کې وړاندېز شوی چې دانګلستان څارګرۍ دڅارګرو (ايجنټانو) په مرسته بايد په ارمنستان، آذربايجان، قزاقستان، اوزبکستان او تاجکستان کې {دروسانو په وړاندې} دمسلمانانو او ناروسي وګړو له دښمنۍ نه له ډکو احساسونو نه ګټه واخيستل شي.

په لاسوند کې دغه راز لاربښوونه شوې چې دافغانستان او ايران له هغو سرحدي اوسېدونکو نه چې دشوروي اتحاد د ورته سيمو له وګړو نه يې دومره توپير نه کېږي بايد په خورا پراخې او اوږدې سيمې کې دناکراريو دراپارولو لپاره ګټه واخيستل شي.

د ورځپاڼې خبريال په دې اړه پوښتي چې آيا ددغه لاسوند د پټوالي د وخت اوږدول پخپله ددې مانا نه لري چې دانګلستان څارګري يا سي آی اې دشوروي خاورې په دغو سيمو کې دلمسوونکو څارګرو يوه پراخه شبکه په واک کې لري؟

{دغه راز دهمدې لړۍ ديوې کړۍ په توګه} د ۱۹۹۰ کال په پای کې {دتاجکستان} دځنګانو په سيمه کې د وهابي مسلمانانو يوه پټه غونډه جوړه شوه چې په هغې کې په منځنۍ آسيا کې دواک د ترلاسه کولو لپاره دهاندوهڅو د پيل کولو په باب دپرېکړې تر څنګ روسيه د اسلام د دښمنې په توګه وګڼل شوه.

معلومات

دپاکستان څارګرې پر دې خبرې زيات زور اچوي چې د ا. مسعود او دافغانستان دشمال دخلکو اسلامي اتحاد د مشر آزاد بېګ تر منځ دې (مرکزيې په پښتور کې دی) نږدې اړيکي ټينګ شي. {د دوی دواړو} د همکارۍ په لومړي پړاو کې دشوروي وګړو په ګډون دخلکو تر منځ د تبليغي کار پر پياوړتيا ځانګړې ټينګار کېږي. له همدې امله دتخار ولايت دفرخار په ولسوالۍ کې د «فرهنګي ټولنې» په نوم يو ګډ سازمان هم جوړ شوی چې په هغه کې دمنځنۍ

آسیا دخلکو دکلتور ، ادبیاتو اوهنر په برخه کې کارپوهان پرکار بوخت دي.

دغه راز د آزاد بیګ دله هڅه کوي چې خپلې خواته د را اړولو او شوروي اتحاد ته دوسلو ، مهماتو ، تبلیغاتي کتابونو ، پیسو او نشه يي مادو د لیږلو په موخه د پلې فرقې او دافغانستان جمهوریت دسرحدي ځواکونو له اوزبکو ، ترکمنو او تاجکو پوځیانو سره هم خپله راشه درشه او اړیکي لا پسې ټینګ اوګټور کړي. البته دغو کسانو ته دهغوی دهمکارۍ او ترسره کړي کار په بدل کې دبرې زیاتې پیسې ورکول کیږي. . .

درپوټ سرچینه: دافغانستان جمهوریت د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه او دشوروي اتحاد د وسله والو ځواکونو د ستر درستیز دکشف لویه پاسوالي ،
د ۱۹۹۱ کال جنوري.

دشوروي تاجکستان د کې جي بې مرستیال ا. بیلواوسوف { دهمدغه کال} دجولای په پای کې دتاس له خبریال سره په یوې مرکې کې په ډاګه کړه چې « په تاجکستان کې د اسلامي بنسټ پالنې دمفکورې داغیزې پیاوړتیا د پاکستاني ځارګرۍ د هغو هڅو له کارنده کیدو سره نیغ په نیغه تړاو لري چې دمنځنۍ آسیا په جمهوریتونو کې یې دټولنیزو - سیاسي حالاتو دکړکیچن کولو او له شوروي اتحاد نه دهغو د رابیلولو لپاره د « م. کرنلارې » په نوم پالیسي تر لاس لاندې نیولې ده. »

د نوموړي په وینا ، کې جي بې هغه سهال په دې اړه ځینې داسې انکار نه منوونکي فکتیونه په واک کې درلودل چې د پاکستان ځارګرۍ د دغو موخو لپاره دافغانستان له وسله والو مخالفینو نه ګټه اخلي.

دساري په توګه { دتاجکستان } دتخته بازار د سرحدي غوند پوځیانو یوازې د یوه کال ( ۱۹۹۱ ) په ترڅ کې د ۶۰۰ تنو په شاوخوا کې چې ٤۰ په سلو کې یې وسله وال و { دشوروي اتحاد خاورې ته دتیریدو پروخت } ونیول.

خبره داسې وه چې د آزاد بیګ له لاربښوونې سره سم دمعلم په نوم دهغه یوه ډلمشر ( چې دفاریاب ولایت دعاشور پهلوان په ډلې پورې یې اړه درلوده او په

ختیه ترکمن و) آن د ۱۹۹۱ کال په پیل کې لا د بنو روزل شوو کسانو شه ډلې جوړې کړې وې چې دهغو دنده شوروي اتحاد ته د وسلو ،نشه یي مادو او ورانوونکو کتابونو تېرول وو. دغو کسانو د اندخوی ولسوالۍ په سیمه کې د افغان- شوروي له پولې نه د تېرېدو لپاره له ځو بېلابېلو لارو نه ګټه اخیسته.

په دې توګه نو دوسلو او نشه یي مادو سوداګري د تاجکستان په سرحدي سیمو کې د مافیایي ډلو لپاره پر یوې ګټورې چارې او دندې واوښته.

له بلې خوا د ۱۹۹۳ کال د جنوري په پای کې په پېښور کې د اسلامي هېوادونو داستازو یوه غونډه جوړه شوه چې په هغې کې هم « له خپلو تاجکستاني ورونو سره په « سپېڅلي جګړې » کې « د مرستې په باب » ځېنې لارې چارې تر څېړنې لاندې ونیول شوې. په غونډې کې پرېکړه وشوه چې دهغوی د جنګیالیو ډلو مشري دې هغو افغانانو ته ورسپارل شي چې دشوروي اردو پر خلاف د پارتیزاني جګړې په ترڅ کې یې ښه تجربه تر لاسه کړې ده. دغه راز لویدیځ ته د لېږدول کېدونکو نشه یي مادو د ګټې یوه برخه دې د وسلو او پوځي لوښو لرګیو د پېرودلو لپاره د تاجک مخالفینو په واک کې ورکړل شي. »

په همدې لړ کې وه چې دبدخشان ،کونړ او ننګرهار په ولایتونو کې داپینو څو لابراتورونه هم د تاجکانو په واک کې ورکړل شول. خو د پان اسلامیستانو ګټې یوازې په تاجکستان او منځنۍ آسیا کې را چاپېره ( محدودې) نه دي، بلکې تر دې هم تېرې کوي.

پر ۱۹۹۳ کال د تاجکستان د ملي امنیت د کمېټې له خوا دیوه ورکړل شوي رپوټ له مخې د افغانستان د کندوز او تخار په ولایتونو کې د تاجکي مخالفینو د پوځي روزنې څو مېشت ځالي جوړ شوي وو چې په هغو کې پر تاجکو جنګیالیو سربېره افغان مجاهدین او د « ګروهي ( عقیدې) د لارې مبارزین » هم روزل کېدل.{....}

له بله پلوه د روسیې څارګرېزه اداره هم یو لړ معلومات په واک کې لري چې د افغاني مجاهدینو او تاجکستاني مخالفو جنګیالیو ګډ ځواکونه هڅه کوي چې

دټولو تاجک مېشتو سیمو په ګډون دپارسي ژبو یو اسلامي دولت جوړ کړي.{...}

هو، له شوروي اتحاد نه په راپاتې جیو پولیټیکي خاورې کې دمنځته راغلي حالت (جنګیالي ملت پالنې ،سخت دریځتیا ،نه پخلاینې ،خونړیو جګړو، دجنایتونو د پریمانۍ اوداسې نورو) له امله اوس زموږ دوسله والو ځواکونو پراوړو نوري درنې اوسرباري دندې هم رالوېدلې دي. دا خو لا څه چې د امریکا متحدو ایالتونو د دفاع وزارت دڅارګرۍ د معلوماتو له مخې دپخواني شوروي اتحاد په خاوره کې کېدای شي چې ۱۲ پوځي شخړې پېښې شي.

له بله پلوه یوازې دخاورې او پولو پر سر لانجه دخپلواکو دولتونو دټولنې اوپخپله د روسیې فدراتیف دننه دهغه دجمهوریتونو تر منځ د پوځي شخړو دپېښېدو لپاره دباروتو یوه ډېرۍ ګڼل کېږي. او داچې توکمیزې (اتنیکي) پولې له اداري هغو سره سمون نه لري، دا خبره پخپله په دې برخه کې ترټولو ناوړه رول لوبوي. له همدې امله دخپلواکو دولتونو د ټولنې پر درېیمې برخې خاورې چې ټوله سیمه یې د ۷ ملیونه مربع کیلومترو په شاوخوا کې ده او نږدې ۳۰ ملیونه وګړي په کې استوګنه لري، پر دغه بنسټ ۱۸۰ سرحدي شخړې په مخکې پرتې دي. همدا اوس دروسیې دننه ۷ په سلوکې کورواکه جمهوریتونه دشتو پولو دبدلون غوښتونکي دي. له بلې خوا د خپلواکو دولتونو دټولنې دننه هم ایله ۲۰ په سلو کې پولې له نړیوالو حقوقي نورمونو سره برابرې دي.

غـــواړم ثرګنـــده کړم چې دروسیې فدراتیف وچې پولې د پخواني شوروي اتحاد هغو په پرتله ۳۰۰۰ کیلومتره زیاتې اوږدې دي او دهغو پر سر دشخړو دپېښېدو کېدون هم لوړ شوی دی. دساري په توګه دنږدې ګاونډیو شمېر هېوادونو تر مخه لا زموږ پرخلاف دخاورې دعوه را پورته کړې او ځینې نور دهغې راپورته کولو ته تیاری نیسي (لکه د بالتیک دغاړې جمهوریتونه، فنلنډ او نور). له بله پلوه دملي پالو او بېلتون غوښتونکو سازمانونو نا قانوني هلوځلو او کوښښونو هم چې له وسلې نه پر ګټې اخیستنې ولاړ دي اوموخه یې د

روسيې اوخپلواکو دولتونو د ټولنې دکورنيو حالاتو ترينګلي کول او دځمکنۍ بشپړتيا زيانمن کول دي دېره پياوړتيا موندلې ده.

لکه چې وليدل شول د شوروي اتحاد د ولتي جوړښت چې دلينن د ملي تيورۍ دآرونو پر بنسټ ولاړ و خپل پايښت ونه شو ساتلی ، اوښايي دهغه د له منځه تلو اوړنګېدو لامل به هم په همدې کې نغښتی و. او د روسيې دولت سره له دې چې په دغو آرونو کې يې څه ناڅه نوې ساه پوکړې، خو بيا هم په هغو پسې شتي او تينګ نښتی دی او له همدې امله ګڼ شمېر شنونکي او کار پوهان په دې باور دي چې روسيه خدايزده که په راتلونکي کې پر ملي بنسټ د سختو شخړو دمنځته راتلو مخه ونيولای شي. ځکه د روسيې فدراتيف داسې يو ګڼ توکميز ا و څو ملتيز دولت دی چې له ۲۰ نه زيات توکميز - دولتي واړه جوړښتونه او له ۱۰۰ نه ډېر ملتونه او قامونه يې پخپله غېږه کې رانغاړلي دي.

ځکه نو په داسې يوې ګڼ توکميزې ټولنې کې له سم تلل شوي ملي سياست نه پرته ، چې تر اوسه يې په روسيه کې څه څرک او پته نه ليدل کېږي دکړنو ديووالي سمبالتيا تر ټولو ستونزمنه دنده ګڼل کېږي.

له بله پلوه ګڼ شمېر شخړې او لانجې پر ديني بنسټ اودغه راز له ديني اختلافونو او ټکرونو اوديني پراختيا غوښتنې نه هم را ولاړېږي. اسلامي بنسټ پالنه چې سخت دريځوالی او تېری يې څرګندې ځانګړنې دي ، په دې لړ کې په سم سيده اوجوته توګه سر راپورته کوي اوکورني او بهرني اوړ پکي څواکونه هم ترې د روسيې فدراتيف په دننه کې د ديني دښمنۍ داوربلولو لپاره کارنده ګټه اخلي. همدا اوس په منځنۍ آسيا کې داسلامي سخت دريځو جنګياليو کړنې په دې برخه کې تر ټولو ستر ګواښ ګڼل کېږي.

که څېرې په منځنۍ آسيا کې دبنسټ پالو جنګياليو هڅې په کلکه په پام کې ونه نيول شي ،نو هغه ورځ لرې نه ده چې د « سپېڅلې جګړې » خپرېدونکې لمنه به پخپله د روسيې خاورې ته هم راوغځېږي.

که پخوا چا دافغان بنسټ پالو جنګياليو په دې څرګندونو پسې چې

غواړي« سپېڅلی جهاد » دپخواني شوروي اتحاد د منځنۍ آسيا جمهوريتونو ته ور ولېږدوي او دسمرقند او بخارا دسپېڅلو اسلامي ځايونو د آزادولو او هلته دشريعت دپلي کولو لپاره له کفارو سره په جګړه کې له خپلو مسلمانو ورونو سره مرسته وکړي، هومره سرنه ګرځاوه ، نو اوس هغه دی دشوروي اتحاد له ړنګېدو اوهلته د خپلواکو دولتونو له منځته راتلو نه وروسته دغه خبرې پر واقعيت بدلې شوې.

دا خو لا څه چې په زور د اسلام د خپرولو او دهغه په وړاندې د ټينګاوکوونکو ځواکونو دځپلو په موخه د خپلواکو دولتونو ټولنې د اسلام مېشتو سيمو په ګډون ګاونډيو هېوادونو ته دجهاد دروح د پراخولو لپاره د افغاني اسلامي سخت دريځو جنګياليو کوښښونه د منځنۍ آسيا هېوادونو او روسيې لپاره د ترټولو سترګواښ بڼه غوره کړې ده.

بايد له پامه ونه غورځول شي چې د اسلام مخکينۍ ليکه نه يوازې په سويل (منځنۍ آسيا ،ژ. ) ،بلکې دلته نږدې په منځنۍ ولګا ،اورال اوسايبريا يانې د روسيې په منځ او زړه کې پرته ده. له همدې امله د يوشمېر څېړونکو په اند د روسيې فدراتيف په سويلي او ختيزو پولو کې به نور لسګونه کاله هم يو لړ بابسته ( لړزان) او په پر له پسې توګه خپل سياسي لوري بدلوونکي هېوادونه پراته وي چې دوخت په تېرېدو سره به يا له منځه ځي او يا به دروسيې پر خلاف په پوځي سياسي ټولنو او بلاکونو کې ورګډېږي. چې ځينې بېلګې يې همدا اوس زموږ دسترګو په وړاندې پرتې دي.

دغه راز دا خبره هم له ياد لرې نه ښکاري چې ښايي افغانستان په راتلونکي کې دنړدې ختيځ دهغو نړيوالو ترهګرو (تروريستانو ) ،اسلامي بنسټ پالونکو اونورو ورانکارو پرپتنځي واوړي چې دمزدورو کسانو په توګه يې له افغاني مجاهدينو سره يوځای جګړه کوله او غواړي چې د افغانستان له خاورې نه خپلو هېوادونو ته د « سپېڅلې جګړې » د ور پراخولو اود اسلام د دښمنانو پر خلاف د ترهګرو کړنو د تر سره کولو لپاره ګټه واخلي.



ACKU

باید ومنو چې په منځنی آسیاکې منځته راغلی حالت تر ډېره ځایه د شوروي اتحاد د پخواني مشرتابه دلنډلیدو کړنو پایله ده، په دې مانا چې دشوروي پخوانیو مشرانو پخپلو کړنو سره پخپله هغه گواښ ته لاره اواره کړه، چې ژوره اندېښنه یې ترې درلوده او دمخنیوي لپاره یې افغانستان ته خپلې لښکرې وروليږلې.

د افغانستان جگړې تجربې وښوده چې که پر شخړې اخته لوري داسې عاقلانه تېرېدنو او جوړجاړي ته چې تر ډېره ځایه دهغوی د گټو څرگندویه وي، گډې هڅې ونه کړي او دغه راز د جگړه ییزو عملیاتو د بندولو کلکه هیله ونه لري، نو ملي روغه جوړه به هېڅکله هم د بریالیتوب مخ ونهویني.

******

په مزار شریف کې دحضرت (ع) د زیارت په مخکې تل په سلگونو سپینې کوترې راټولې وي. په دې اړه خلک وایي چې هره کوتره چې دې جوماټ ته را والوزي او پر سپېڅلي زیارت یې وزرې ولگېږي، نو بڼکې یې سم له لاسه سپینېږي.

هو داخبره کټ مټ داسلام له سوله خوښونې او زغمناکۍ سره تړاو لري، ځکه سپینه کوتره پخپله د سولې نښه او سمبول دی. رښتیا خبره خو داده چې د سخت دریځوالي او بنسټ پالنې سته هېڅکله هم په اسلام کې ښخه نه ده، بلکې دا کارونه دهغه چا له لاسه دي چې داسلام پر پوله هم نه دي تېر شوي او له هغه نه یوازې واک ته د رسېدو لپاره ناوړه گټه اخلي.

خوزه د زړه له کومې هیله او باور لرم چې په افغانستان کې به د اسلام ځلانده او رښتیني ارزښتونه ډېر ژر بریالي او په پای کې به په دغه لرغوني او ځورېدلي هېواد کې سوله او کراري راشي.

# ضمیمې

## لومړی ضمیمه:

### په افغانستان کې دشوروي پوځي استازو لیست

۱- دشوروي اتحاد دفاع وزارت داوپراتیفي ډلې مشران:

- دشوروي اتحاد مارشال سرگي لیونیدوویچ سوکوف له ۱۹۷۹ نه تر ۱۹۸۵ پورې.

- ستر جنرال والنتین ایوانوویچ ورینیکوف، له ۱۹۸۵ نه تر ۱۹۸۹ پورې.

۲- د ٤۰ ځانگړې اردو قوماندانان:

- برید جنرال یوري ولادیمیروویچ توخارینوف، د ا. د. ج. ته دشوروي لږ شمېر پوځي ټولگیو له ننوتو نه تر ۱۹۸۰-۹-۲۰ پورې.

- برید جنرال بوریس ایوانوویچ تکاچ، له ۱۹۸۰-۹-۲۳ نه تر ۱۹۸۲-۵-۷.

- برید جنرال ویکتور فیودروویچ ایرماکوف، له ۱۹۸۲-۵-۷ تر ۱۹۸۳-۱۱-٤.

- برید جنرال لیونید ایفستافیوویچ گنرالوف، له ۱۹۸۳-۱۱-٤ تر ۱۹۸٤-٤-۱۹.

- برید جنرال ایگورنیکو لاپوویچ رادیونوف، له ۱۹۸۵-٤-۱۹ تر ۱۹۸٦-٤-۳۰.

- برید جنرال ویکتور پتروویچ دوبینین له ۱۹۸٦-٤-۳۰ تر

۱-٦-۱۹۸۷.

-برید جنرال بوریس فسیولودویچ گروموف له ۱۹۸۷-٦-۱ تر ۱۵-۲-۱۹۸۹.

۳- شوروي لوی پوځي سلاکاران ،لوي پوځي مشاورین او دافغانستان په وسله والو ځواکونو کې دپوځي کارپوهانو د ډلو مشران:

- تورنجنرال ایوان سیمیونوویچ بونداریخ له ۱۹۷۲ نه تر ۱۹۷۵ پورې.

- برید جنرال لیف نیکولایوویچ گاریلوف له ۱۹۷۵ نه تر ۱۹۷۹ پورې.

- ډگر جنرال سلطان کیکیزوویچ موگامیتوف (محمدوف) له ۱۹۷۹-۱۹۸۰.

-ستر جنرال الکساندر میخایلو ویچ مایوروف له ۱۹۸۰-۱۹۸۱.

-ستر جنرال میخایل ایوانوویچ سروکین له ۱۹۸۱-۱۹۸٤.

- ستر جنرال گریگوري ایوانوویچ سلمانوف له ۱۹۸٤-۱۹۸٦.

-ډگر جنرال ولادیمیر اندرییوویچ وستروف له ۱۹۸٦-۱۹۸۸.

- ډگر جنرال میخایل میخایلوویچ سوڅکوف له ۱۹۸۸-۱۹۸۹.

- ستر جنرال محمود احمد ویچ گارییوف( دافغانستان جمهوریت د وسله وال پوځ د سر قوماندان دپوځي سلاکار په توگه) له ۱۹۸۹-۱۹۹۰.

- ډگر جنرال بوریس پتروویچ شیین له ۱۹۸۹-۱۹۹۰.

- ستر جنرال نیکولای فیودروویچ گراچوف له ۱۹۹۰-۱۹۹۱.

- برید جنرال بوریس سرگییوویچ پیر فیلیف له ۱۹۹۱-۱۹۹۲.

**اوومه نښلونه:**

## دافغانستان دکینو دیموکراتیکو سازمانونو

## په باب معلومات

**-د افغانستان د زیارکښانو انقلابي جمعیت:**

دغه ډله پر ۱۹٦۸ کال پر خلق اوپرچم باندې د ا.خ.د.گ. دویشل کېدو

پروخت منځته راغله. {...} دغو شمېر يې د ۲ زرو تنو په شاوخوا کې دی چې له دريمې برخې نه زيات يې همهاله د ا.خ.د.گ. غړي هم دي. ددغه سازمان په سلو کې له نوي نه زيات غړي پښتانه {...} اومشر يې ظاهر افق دی (چې له ۱۹۶۷ کال نه را په دېخوا د ا.خ.د.گ. غړی و.) ددغې ډلې ايډيو لوژيکه او سياسي تگلاره (پلاټفورم) په بنسټيزه توگه د ا.خ.د.گ. له کړنلارې او تگلارې سره څه توپير نه لري او دشوروي اتحاد له سياست نه ملاتړ کوي. سربېره پر دې هغه د افغانستان له خلکو سره دشوروي اتحاد انترناسيوناليستي مرستو ته هم د درناوي په ستر گو گوري.

د يادونې وړ ده چې د ا.خ.د.گ. له ليکو سره له يوځای کېدو او په تېره د ملي روغې جوړې د کړنلارې تر اعلانېدو نه وروسته د ۱۹۸۷ کال په نيمايي کې د ا.خ.د.گ. دسياسي نوښتونو په وړاندې د ظ. افق او د افغانستان د زيارکښانو انقلابي جمعيت د يو شمېر نورو کادرونو په چلند او اړيکو کې بدلون راغی. داسې چې دډلې غړو ته لاربښوونه وشوه. چې خپله سازماني کارندتيا او فعاليت بايد بيا له سره پيل کړي.

د افغانستان دزيارکښانو انقلابي جمعيت د پخوانيو مشرانو لاربښوونې ددې سبب شوې چې دغه ډله دې خپل يو لړ جوړښتيايي (تشکيلاتي) اورگانونه بيا پر پښو ودروي او دلومړنيو سازمانونو غونډې دې بيا له سره پيل کړي. ددغو غونډو په ترڅ کې په هېواد کې له منځته راغلي حالت نه سرتکول کېږي او دغه راز دهېواد دمشرتابه پر روانو پرېکړو هم نيوه کې کېږي.

**- د افغانستان دځوانو کارگرانو مخکښ:**

دغه ډله چې پر ۱۹۸۰ کال د صوفي شناپر مشرۍ جوړه شوې د ا.خ.د.گ. سره ژور اختلافونه لري. نوموړی سازمان له زور تنو نه زيات غړي لري چې په سلو کې شل يې همهاله د ا.خ.د.گ. غړي هم دي. {...}

دغه ډله له خپلې تاکلې سياسي خامۍ او ايډيو لوژيکي ناځلميتوب سره سره دخپلې کارندتيا په لومړيو کلونو کې له شوروي اتحاد سره دسياسي او

اقتصادي سوداګریزو اړیکو دودې او پیاوړتیا غوښتونکی وه. {...}.

خو بلې خواته دافغانستان دځوانو کارګرانو دمخکښ سازمان ترټولو کارنده اووتلو چاروا کو په خپل تبلیغ کې « دهېواد دګوندې - دولتي لاستون او ټولنیز - سیاسي ژوند د پښتنې کولو دکړنلارې دپلي کوونکي په توګه » د نجیب الله غندلو او بې باوره کولو ته غبرګې پښې اړم کړې وې.

سربېره پردې د دغې ډلې مشرانو په هېواد کې « د افغانستان د فدرالي جمهوریت » دجوړېدو او دهغه په اډانه کې دلنډ مهاله حکومت ، بنسټ اېښودونکو ( موسسینو ) د شورا او « ګډې ملي جبهې » د منځته راتلو په اړه خپلو وړاندیزونو ته په کلکه ټکی واهه او پر دې ګروهه او باور وو چې دغه اورګانونه باید په هېواد کې دشتې ملي شورا او نورو دولتي ادارو ځای ونیسي. {...}

دغې ډلې په لنډ مهاله حکومت کې دغړيتوب لپاره دخپل سازمان پر غړو سربېره په تېره د احمد شاه مسعود او سید جګړن د نوماندی یادونه کوله او دغه راز یې په پام کې درلوده چې په پورته یادو شوو اورګانونو کې د اوسني حکومت یو شمېر هغه غړې هم د ګډون لپاره وړاندې کړي چې د افغانستان دځوانو کارګرانو مخکښ له کړنلارې نه ملاتړ کوي.

**- دافغانستان دزیارکښانو انقلابي سازمان:**

دغه سازمان پر ۱۹۷۷ کال د ط. بدخشي تر مشرۍ لاندې د « ملي ستم » دملت پاله( ناسیونالیست) سازمان له پخوانیو غړو نه چې په حقیقت کې د افغانستان دشمال دخلکو یانې تاجکو ، اوزبکو ، ترکمنو او هزاره ګانو استازي ووجوړ شو. محبوب الله کوشاني ، بشیر بغلانی ، اسحاق کاوه او سخي غیرت ددغې ډلې مشران او وتلي کادرونه دي. {...}

ددغې ډلې په خپرونو او پتو پانو کې په افغانستان کې دمنځته راغلي حالت دکره او ژورې څېړنې څه څرک نه تر سترګو کېده او هغه تر ډېره ځایه یوازې د ا.خ.د.ګ. دسیاست پر غندلو او خپلې خوا ته دملي لړه کیو دپام

اومينې درا اړولو په باب پر غولوونکو نارو ( شعارونو ) ډکې وې.

• لنډه داچې دافغانستان د زيارکښانو انقلابي سازمان کارندتيا له ملي زبېښ( ستم) نه ورته په ميراث درا پاتې ناسيوناليستي منځپانګې ښکارندويه ده.

ددغې ډلې مشرانو د ا.خ.د. ګ. سره ديوځاى کېدو په اړه دخبرو اترو په بهير کې دخپلو مخکينيو شرطونو په توګه پر لاندې غوښتنو ځانګړې ټينګار کاوه:

پرلرغوني خراسان باندې د افغانستان دنوم اړول ، پر قامي او توکميز (ملي) بنسټ باندې دخپلواکو ولايتونو ( فدراتيفونو ) جوړول اودافغانستان د زيارکښانو انقلابي سازمان ( سازا ) غړو ته { د افغانستان} په شپږو شمالي ولايتونوکې د ګوندي او دولتي چارو او واکمنۍ ورسپارل.

**- دافغان ملت دژغورنې سازمان ( سنما - سازمان نجات ملت افغان)**

دغه ډله پر ۱۹۸٦ کال دکارمليانو له {...} خوا جوړه او دهېواد د اوسني مشرتابه دمخالفينو يوه برخه ګڼل کېږي . د ا.خ.د. ګ. {يو شمېر} غړي چې په ولايتي ګوندي سازمانونو اودولتي اورګانونو کې پرلوړو ځوکيو ناست دي په دغې ډلې کې غړيتوب لري.

نوموړي سازمان دغه بنستيزې موخې په مخکې ايښې دي:

-دافغانستان داوسنې رژيم رانسکورول او ب. کارمل ته د واکمنۍ د واګو سپارل.

- په پاکستان کې دافغاني انقلاب ضد له مشرانو سره دجوړجاړي لپاره دلارو چارو لټون.

ددغو سازمان دغړو ټول شمېر د ۳۰۰ تنو په شاوخوا کې دى {...} چې تر ټولو ځواکمنې او کارنده ډلې يې د کونړ ، فراه اوهرات په ولايتونو کې پر کار بوختې دي.

**- د افغانستان دخلکو ملي اتحاد:**

دغه سازمان د ا.خ.د.گ. تر اتلسم پلینوم نه وروسته جوړ او د ب. کارمل پلویان په کې راټول شوي دي. {...}. ددغې ډلې مشرتوب په پاکستان کې له انقلاب ضد گوندونو سره هم اړیکي لري. دسازمان چارې د ا.خ.د.گ. دمرکزي کمېټې غړي او دمرکزي کمېټې د فرهنگي چارو دکمېټې مشر ډاکټر خدایداد بشرمل پرمخ بيايي.

تر بشرمل نه وروسته چې د ب. کارمل له ډېرو کلکو پلویانو څخه دی، د ا.خ.د.گ. دمرکزي کمېټې غړي او دلوړو زده کړو وزير برهان غياثي ددغې ډلې دويم لارښوونکی کس دی. {...}.

ددغه سازمان غړو کارنده هڅه کوله چې دملي روغې جوړې د کرنلارې په اړه دگوند د پرېکړو د پلي کېدو او په هېواد کې دټلواليز (ائتلافي) حکومت د جوړېدو مخه ونيسي.

د رپوټ سرچينه: دا.خ.د.گ. مرکزي کمېټه، په افغانستان کې شوروي سفارت، په افغانستان کې جمهوريت کې شوروي استازيتوبونه، د ٤٠ اردو درستيزتوب ١٩٨٧-١٩٨٨ کلونه

**دولسمه نښلونه:**

«ومنل شوه»

دافغانستان جمهوريت ولس مشر او دافغانستان جمهوريت د وسله وال پوځ سر قوماندان نجيب الله، د ١٩٨٩ کال دجنوري ٣١مه (لاسليک)

دافغانستان جمهوريت وسله وال پوځ لپاره داړتيا وړ مالونه ددرې مياشتينيو فوق العاده زېرمو دجوړولو طرزالعمل

**دکميسيون جوړښت:**

پاسوال: دا.ج. (افغانستان جمهوريت) دولس مشر مرستيال رفيع. (لاسليک)

دپاسوال مرستيالان: دا.ج. دفاع وزير ډگر جنرال شهنواز تنی. (لاسليک)

د ا.ج. د دولتي امنيت وزير ډگر جنرال يعقوبي . (لاسليک)

دا.ج. دکورنيو چارو وزير. جنرال وطنجار ( لاسليک)

**دکميسيون غړي:**

دلوژيستيک په چارو کې دا.ج. د دفاع وزير مرستيال بريد جنرال فتح. ( لاسليک)

د .ا.ج. دفاع وزارت دوسله تون پاسوال تورنجنرال ذهين ( لاسليک)

دلوژستيک په چارو کې د ا.ج. کورنيو چارو مرستيال وزير بريد جنرال معشوق ( لاسليک)

د لوژستيک په چارو کې دا.ج. د دولتي امنيت وزارت مرستيال بريدجنرال فرين ( لاسليک)

دا.ج. دهوايي پوځ او هوايي ساتنې لوی قوماندان تورنجنرال قادر (لاسليک )

دا.ج. دفاع وزارت د انجينري چارو پاسوال تورنجنرال ايوب ( لاسليک )

د ا.ج. کورنيو چارو وزارت د وسله تون پاسوال تورنجنرال محمد جان (لاسليک)

دا.ج. دوسله وال پوځ دستر درستيز دمخابرې پاسوال تورنجنرال علي جان ( لاسليک)

د ا.ج. دفاع وزارت دکيميا څانگې پاسوال ډگر وال محمد ناظم ( لاسليک)

پورتنی طرزالعمل په افغانستان جمهوريت کې دلوی پوځي سلاکار او د شوروي اتحاد دکورنيو چارو وزارت او کې جي بې داستازيتوبونو د مشرانو په گډون چمتو شو.

په افغانستان جمهوريت کې لوی پوځي سلاکار ډگر جنرال سوڅکوف م.م.

( لاسليک ) د ۱۹۸۹ کال دجنوري ۱٤ مه .

د ا.ج. کورنيو چارو په وزارت کې دشوروي اتحاد دکورنيو چارو وزارت د استازيتوب مشر بريد جنرال ايگوروف و . د.

(لاسليک ) د ۱۹۸۹ کال دجنوري ۱٤ مه.

دا.ج. ، دولتي امنيت په وزارت کې د شوروي اتحاد دکې جي بې داستازيتوب مشر تورنجنرال زايخوف و. پ.

(لاسليک) د ۱۹۸۹ کال د جنوري ۱۷ مه .

د شوروي اتحاد د وسله والو ځواکونو دستر درستيز داوپراتيفي ډلې مشر بريد جنرال گاپوننکو ا. گ.

( لاسليک) د ۱۹۸۹ کال دجنوري ۱۵ مه .

PROPERTY OF ACKU 8830



ددې کتاب ژباړن ښاغلی محب الرحمن دجلات خان زوی دی اوپه ۱۳۴۰ لمریز کال دننګرهار دهسکې مېنې په سناخېل نومي کلي کې زېږېدلی دی. لومړنی ښوونځی یې دهسکې مېنې په "سپین غرلېسه" کې ولوست ، منځنی زده کړې یې د جلال آباد په ښار کې په "ننګرهارلېسه" کې ترسره کړې اوپه ۱۳۶۳ لمریز کال دکابل پوهنتون دژبواوادبیاتو پوهنځي دروسي ژبې اوادبیاتو له څانګې فارغ شو.

له پوهنځي څخه تر فراغت وروسته یې لومړی په "باختراژانس" کې دنده ترسره کړې ده اوبیا دکابل پوهنتون دژبو اوادبیاتو په پوهنځي کې داستاد په توګه وټاکل شو.

محب الرحمن له څلورو کالو راهیسې په جرمني کې دپردېسۍ ژوند تېروي.

ARIC
B
4-3842
LIA
8830

دجنرال لياخوفسکي په دغــه کتــاب کــې دلومــړي ځل لپــاره، پرافغانســتان دروس دسره پوح ديرغل دپيلېدنې تول پټ اسناد رابرسېره شوي دي

دغه راز په دې کتاب کــې دلومــړي ځل لپاره هغه خورامهم سند پــه بشــپړه تــوګه راوړل شــوي دي چــې دروســانو دپــلان اوتوطيــې پربنســټ داحمدشــاه مسعودپه وسيله دافغانستان دخوشــمالي ولايتونو دتجزيې خاينانه طرحه په کــې وړاندې شوې وه

د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه - جرمني
VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER AFGHANISCHEN KULTUR E.V
دخپرونو لړ: (۱۲)

ACKU